مَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا

رسول الله ﷺ چه تاسو ته د څه حکم کوی هغه اخلی او د څه نه مومنع کوی د هغے نه منع شی

پښتو

صحیح مسلم شریف

تالیف

لِلإمَامِ أبِی الحُسَینِ مُسلِم بنِ الحَجَّاج بنِ مُسلِم القُشَیرِیِّ النَّیسَابُورِیِّ رحمه الله



پښتو ترجمه

مولوی حضرت علی ابن حاجی هادی عفی عنه



فیضی کتب خانه
محله جنگی پشاور
فون: 091-2566505

" وما آتكم الرسول فخذوه وما نهكم عنه فانتهوا "

رسول الله (ﷺ) چه تاسو ته د څه حکم کوی هغه اخلئ او د څه نه مو چه منع کوی د هغې نه منع سئ.

صحيح مسلم

مع

شرح نووی

☆☆☆ **تالیف** ☆☆☆

ابو الحُسَين مُسلم بنِ الحَجّاج القشيری رح

٢٠٤هـ ـــــ ٢٦١هـ

پښتو مترجم

مولوی حضرت علی ابن حاجی هادی

فون: ۲۵۶۶۵۰۵ ۰۹۱

موبائل: ۰۳۳۳۹۱۹۴۸۴۶

ناشر: **فیضی کتب خانه قصه خوانی پشاور**

ذ کتاب نوم ← صحیح مسلم مع شرح نووی

پښتو

مصنف ـــــــــ ابو الحسین مسلم بن الحجاج القشیریؒ

مترجم ـــــــــ مولوی حضرت علی ابن حاجی هادی

زیر اهتمام ـــــــــ عبد الاکبر : 0333=9194846

محله جنګی پشاور

الناشر : فیضی کتب خانه

ph: 091=2566505

★★★★★ فهرست مضامين صحيح مسلم جلد څلورم ★★★★★

★★★★★ فهرست مضامین صحیح مسلم جلد څلورم ★★★★★

★★★★★ فهرست مضامین صحیح مسلم جلد څلورم ★★★★★

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب النكاح

دنكاح مسئلې.

نكاح په لغت كښې مطلق پيوست كيدو اوميلاويدو ته ونيلې شي. اوكله عقد ته هم ونيلې شي اوكله جماع ته هم اوزهرى رحمه الله ونيلې دى چه اصل دنكاح دعربو په كلام يعنى خبرو كښې جماع ده، اوكوږدنې ته چه كوم نكاح ونيلې شى په دې وجه چه نكاح دجماع سبب دې، اوابوالقاسم زجاجى رحمه الله وئيلې دى چه جماع اوطى دواړه په اصل كښې نكاحونه دى، اوابوعلى فارسى يوه باريكه خبره ونيلې ده چه عرب وائى "نَكَحَ فُلَانٌ فُلَانَةً" نو هلته دامراد شو چه عقد اوكړو فلانى سړى دفلانئ ښځې سره.

اوهركله چه وائى "نَكَحَ فُلَانٌ امْرَأَتَهُ" نودامعنى راځى چه جماع اوكړه فلانى سړى دخپلې ښځې سره، ځكه چه دخپلې ښځې داقرينه دلالت كوى چه دلته عقد مراد نۀ دې بلكه خاص جماع مراد ده، اودفقهاؤ په نكاح كښې درې قولونه دى. يو جماعت ونيلې دى چه نكاح حقيقةً عقد دې اومجازاً جماع ده، دقاضى ابو طيب شافعى رحمه الله اومتولى وغيره اودقاضى حسين رحمه الله دشافعى ملګرو نه اوپه قران عزيز اواحاديث نبوىﷺ كښې اكثردغه شان راغلې دى. دوئم داچه حقيقةً جماع ده اومجازاً عقد دې اودا دامام ابو حنيفه رحمه الله قول دې. اودريم قول دادې چه دواړه حقيقت دى په اشتراك سره.

بَابُ اسْتِحْبَابِ النِّكَاحِ لِمَنِ اسْتَطَاعَ.

باب: دنكاح مستحب كيدل دهغه چاد پاره چه طاقت لرى.

(۳۳۹۸) عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ كُنْتُ امْشِىْ مع عَبْدِاللهِ بِمِنًى فَلَقِيَهُ عُثْمَانُ فَقَامَ مَعَهُ يُحَدِّثُهُ فَقَالَ لَهُ عُثْمَانُ يَااَبَاعَبْدِالرَّحْمٰنِ اَلَاتَزَوَّجُكَ جَارِيَةً شَابَّةً لَعَلَّهَا تُذَكِّرُكَ بَعْضَ مَامَضٰى مِنْ زَمَانِكَ قَالَ فَقَالَ عَبْدُاللهِ لَئِنْ قُلْتَ ذَاكَ لَقَدْقَالَ لَنَارَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَامَعْشَرَالشَّبَابِ مَنِ اسْتَطَاعَ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَاِنَّهُ اَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَاَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَاِنَّهُ لَهُ

وجآء [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دعلقمه رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه زه دعبدالله رضی الله عنه سره په منی کښے روان وم. پس دعبدالله رضی الله عنه سره حضرت عثمان رضی الله عنه میلاؤشو او دهغوی رضی الله عنه سره اودریدو اوخبرے نے شروع کړے. نو حضرت عثمان رضی الله عنه هغوی رضی الله عنه ته اووے چه اے ابوعبدالرحمن !زه ستاسو نکاح دیوداسے ځوانے جینئ سره اونهٔ کړم چه هغه تاسوته ستاسو دتیرشوی عمرنه څه یاد تازه کړی. نو عبدالله هغوی رضی الله عنه ته اووے چه کچرے تهٔ دا وائے نو مونږ ته رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه اے دځوانانو ټولیه !څوك دچه ستاسو نه دنکاح دفرج طاقت لری یعنی نان نفقه ورکولے شی نو پکار دی چه نکاح اوکړی ځکه چه هغه سترګولره بنه ښکته کوی اوفرج لره دزناوغیره نه بچ کوی اوڅوك چه طاقت نهٔ لری (ددے خرچ) نو روژے دی نیسی. دا دهغه دپاره لکه چه خصی کول دی.

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه څوك دښځے دنان نفقے طاقت لری اوځوان هم وی نو دهغه دپاره ضروری ده چه نکاح اوکړی اودا امر په طریق داستحباب دے. اوداکثر علماؤ دغه قول دے. داؤد ظاهری رحمه الله اودهغه دموافقینو نه علاوه چاهم نکاح ته واجب نهٔ دی وئیلے. اودامام احمد رحمه الله په یو روایت کښے هم دغه شان دی چه هرکله دزناویره وی نو دغه وخت نکاح کول یاوینځه اخستل ضروری دی. اوقران مجید هم دغه منطوق دے. چه سړی له اختیار دے که وینځ اخلی یانکاح کوی. اودغه دجمهورو مذهب دے.

(۳۴۰۰) عن عبدالله رضی الله تعالی عنهُ قال قال لنا رسُوْلُ الله صلّے اللهُ علَیْه وَسلَّم یامعْشرَ الشُّبَابِ من استطاع منکُمُ الْبآء ة فلیتزوّ ج فانَّهٗ اغضُّ للبصرو احصنُ للفرْ جِ ومنْ لَمْ یسْتطِعْ فعلیْه بِالصَّوْمِ فانَّهٗ لهٗ وجآءٌ. [بخاری، ترمذی، نسائی.]

ترجمه: دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوکړو چه اے دځوانانو ټولیه! ستاسو نه چه څوك دخرچے طاقت لری هغه دی نکاح اوکړی. ځکه چه نکاح سترګولره ښکته کوی اوفرج (یعنی شرمګاه) لره دزناوغیره نهٔ بچ کوی.

اوخوك چه طاقت نه لرى هغه دى روژے نيسى چه لګه داد هغه دپاره خصى كول دى۔

(۳۴۰۱) عن عبدالرحمن ابن يزيد قال دخلتُ انا وعمّى علقمةُ والاسودُ على عَبدِاللهِ ابنِ مَسعُودٍ رَضى اللهُ تعالى عنهُ قال وانا شابٌّ يَومئذٍ فذكر حديثًا رَأيتُ انّهُ حدّث به من اجلى قال قال رَسُولُ اللهِ صلّى اللهُ عليه وسلّم بمثلِ حديث ابى مُعاوية وزاد لَم البث حتّى تزوّجتُ. [راجع: ۳۴۰۰]

ترجمه: دعبدالرحمن بن يزيد رضى الله عنه نه روايت دے چه زۀ اوزماتره علقمه رضى الله عنه اواسود رضى الله عنه دعبدالله بن مسعود رضى الله عنه خواله لاړو، اوزۀ په دغه ورځو په ځوانئ كښې وم، نوعبدالله رضى الله عنه يوحديث بيان كړو يعنى دغه كوم چه پورته تيرشو ،اوزۀ پوه شوم چه هغوئ رضى الله عنه ځمادپاره دغه حديث بيان كړو اوپه روايت كښې داهم زياته ده دابومعاويه رضى الله عنه دروايت نه چه عبدالرحمن رضى اللهٔعنه اووے چه بياماپه نكاح كښې څه ليټ والے اونۀ كړو اونكاح مې اوكړو۔

(۳۴۰۲) عن عبدِاللهِ قالَ دخلنا عليهِ وانا احدثُ القومِ بمثلِ حديثِهِم ولم يذكُر ولَم البث حتّى تزوّجتُ.

[راجع. ۳۴۰۰]

ترجمه: مضمون هم دغه دے كوم چه پورته تېرشو، مګرپه دے كښے داذكرنشته دے چه بياماپه نكاح كولو كښې څه وخت نه دے تيركړے اونكاح مې كړے دے۔

(۳۴۰۳) عن انسٍ رَضى اللهُ تعالى عنهُ انّ نفرًا مّن اصحابِ النّبىِّ صلّى اللهُ عليهِ وسلّم سالُوا ازواج النّبىّ صلّى اللهُ عليه وسلّم عن عملهِ فى السّرّفقال بعضُهم لاأتزوّجُ النّساءَ وقال بعضُهم لآاكلُ اللحمَ وقال بعضهم لاانام على فراشٍ فحمدَاللهَ واثنى عليه فقال مابالُ اقوامٍ قالوا كذا وكذا لكنّى اُصلّى وانامُ واصومُ وافطرُ واتزوّجُ النّساءَ فمن رغب عن سُنّتى فليس منّى. [نسائى]

ترجمه: دحضرت انس رضى الله عنه نه روايت دے وائى چه دنبى ﷺ څوصحابه رضى الله عنهم دنبى كريم ﷺ دبيبيانو رضى الله عنهن نه دهغوئ ﷺ دخفيه عبادت دحال تپوس اوكړو يعنى كوم عبادت چه به حضرت ﷺ په كور كښې كولو، اوبيايو دهغوئ رضى اللهٔعنه نه اووے چه زه به چرته دښځوسره نكاح نۀ كوم چاووے زۀ به چرته غوښه نۀ خورمه چاووے زۀ به چرته په بستره باندے نۀ اوده كيږمه، پس حضرت ﷺ دالله جل جلاله تعريف اوثنا اووئيله

يعني خطبه يې اولوستله. او اوې فرمائيل چه څه حال دے دهغه خلقو چه داسے وائي څما خو دا حال دے چه مونځ هم کوم يعني دشپے. او اوه کيږم هم او روژه هم نيسم او افطار هم کوم او دبنځو سره نکاح هم کوم پس څوك چه څما د طريقے نه په رغبتي کوي هغه زما دامت نه نۀ دے.

فائده: يعني چا چه سنتو لره په اهانت سره پريخودل، يائے ددے نه غوره څه بل کار اوګنړو او پريخودل ئے هغه د حضرت ﷺ دامت نه بهرشولو، ځکه چه درسول الله ﷺ دفضيلت نمه منکر اوګرځيدو ،اوکه په دغه وجه ئے پرے نۀ خودل نوپه ده باندے څه ملامتيا نشته دے، بلکه څنګه چه دنورو روايتونو نه معلوميږي، عرض دحضور ﷺ داقول دجوامع الکلم نه دے چه په زرګونو بدعاتو او محدثاتو لره رد کونکے دے او دخاوندانو دبدعت قطع جيد (يعني څټ) دپاره توره پريکونکے او دسنتو دتابعدارو دپاره روښانه دليل دے.

(۳۴۰۴) عَنْ سَعْدِابْنِ اَبِیْ وَقَّاصٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ رَدَّ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم عَلٰی عُثْمَانَ ابْنِ مَظْعُوْنِ التَّبَتُّلَ وَلَوْاَذِنَ لَہٗ لَاخْتَصَیْنَا. [بخاری ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: په دے حديث کښے اشاره ده چه هغه خلقو به پخپله رائے سره خصي کيدو لره جائز ګنړلو، بيا چه هر کل جناب رسول الله ﷺ اجازت ورنۀ کړو نو هله ددے حرام والے ثابت شو او هغوئ رضی الله عنه هغه خپل رائے لره پريخودو، اودقيامته پورے به دامت دصالحانو خلقو هم دګه طور او طريقه وی چه هرکله درسول الله ﷺ حديث هغوئ ته ميلاويږي نو که خپل رائے وی ياد چاامام مجتهد پير وشهيد رائے وی هغے ته به سلام کوی او درسول الله ﷺ په حديث به عمل کوی، او څوك چه په دے طريقه باندے نه دي هغه دسلف صالحينو رحمه الله په مذهب باندے نۀ دی، اودسړی خصی کولو ته امام نووی رحمه الله حرام ليکلی دی خواه که هغه په وړوکوالی کښے وی ياپه لوائے والی ککښے وی.

او امام بغوی رحمه الله وئيلے دی چه دغه شان کوم څناور چه حرام دی دهغوئ خصی کول هم حرام دی او کوم څناور په حلال دی هغوئ له په وړوکوالی کښے خصی کول روادی، او ورستو بيا حرام دی (والله اعلم).

باب ندب من رای امراة فوقعت فی نفسه الی ان یاتی امراته اوجاریته فیواقعها۔

باب: څوک چه یوه ښځه اووینی اورغبت ئې ورته په زړه کښې پیداشی نودخپلې ښځې یاوینځې سره دی جماع اوکړی۔

(۳۴۰۷) عن جابر ان رسول الله صلی الله علیه وسلم رای امراة فاتی امراة زینب وهی تمعس منیئة لها فقضی حاجته ثم خرج الی اصحابه فقال ان المراة تقبل فی صورة الشیطان وتدبر فی صورة شیطان فاذا ابصر احدکم امراة فلیات اهله فان ذلک یرد فی نفسه [ابوداود، ترمذ]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه درسول الله ﷺ په یوه ښځه باندے نظرپریوتو۔ نو حضرت ﷺ دخپلے بی بی حضرت زینب رضی الله عنها خواله تشریف راوړو۔ او هغے رضی الله عنها یوه څرمنه دپخولو دپاره (یعنی دباغت دپاره) مښله بیا حضرت ﷺ دهغے رضی الله عنها نه خپل حاجت پوره کړو اوبیادخپلوصحابه و رضی الله عنهم په طرف را اووتو۔ اواوئے فرمائیل چه ښځه کله مخے ته راځی نو دشیطان په شکل کښے راځی اوکله چه ځی نودشیطان په شکل کښې ځی پس هرکله چه څوک یودتاسو نه یوے ښځے ته اووینی نو هغه له پکار دی چه دخپلے بی بی خواله ورشی. یعنی صحبت اوکړی په دے عمل سره به دهغه دزړه خیال ختم شی۔

(۳۴۰۹) عن جابر بن عبدالله ان النبی صلی الله علیه وسلم رای امراة فذکر بمثله غیر انه قال فاتی امراته زینب رضی الله تعالی عنها وهی تمعس منیئة ولم یذکرتدبر فی صورة الشیطان

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دے دغه مضمون مگر په دے کښې دانشته چه ښځه کله ځی نودشیطان په شکل کښې ځی

فائده: ددے حدیث دمخه مستحب دی چه هرکله سړے یوه ښځه اووینی اوورته شوق دشهوت اوشی نودخپلے بی بی خواله دی راځی اوکوروالے دی کوی. اوداسے دی اوگنړی چه کوم څه ددے ښځے سره دی هغه زمادښځے سره هم دی۔

اودښځے دشیطان په صورت کښے راتلل دادی چه داشهوت بازئ اوزناته شوق پیداکوی

او(به زړه کښې) دجماع دخوند یادغوړځوی. اودا اثردشیطان دے. اوحضرت ﷺ صحابه کرامو رضی الله عنهم سره په غرض دتعلیم دا امربیان کړو اوددے نه معلومه شوه چه که سړے دخپلے ښځے سره دورځې جماع کوی نو څه ګناه نۀ دے. اوښځې له داضروری دی چه داکه په څه کارکښے مشغوله وی خو هغه دی پریږدی اودخاوند په بلنه باندے دی حاضریږی ځکه چه هرکله دسړی شهوت په بدن کښې حرکت اوکړی اواونۀ وځی نوویره ده چه دهغه زړه اوبدن ته نقصان اورسی (اوهم په دے وجه) نے اکثرنظر کمزورے کیږی. الله جل جلاله دی تمامومسلمانانو رونړو اوبیبیانولره ددے نیکو دحاصلولو توفیق ورکړی. اودبدۍ اونافرمانۍ نۀ نۀ دی نے اوساتی (آمین).

(۳۴۰۹) عَنْ جابرٍ قالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰہُ علیہ وسَلَّم یقُوْلُ اِذا احدُکُمْ اَعْجبتْہُ الْمرْاۃُ فوقعتْ فِیْ قلْبِہ فلیعمدْ الی امْراتہ فلْیُواقعْھا فانّ ذٰلکَ یرُدُّ ما فِیْ نفْسہ.

ترجمه : دجابر رضی الله عنه نه روایت دے چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی نے وو هرکله چه چاته یوه ښځه ښه معلومه شی اودهغه په زړه کښے دهغے خیال راشی نوپکار ده چه دخپلے ښځے سره جماع اوکړی چه په دے سره به دهغه دزړه خیال ختم شی.

باب نکاحِ الْمتْعة وبیانِ انّہٗ اُبیح ثُمّ نُسخ ثُمّ ابیح ثُمّ نُسخ واسْتقرّ تحْریْمہٗ الی یوم الْقِیٰمۃِ.

باب: دمتعے دحلال کیدو یادحرامیدو یادحلالیدو یادحرامیدو یادقامته پورے دحرام باتے کیدو بیان.

(۳۴۱۰) عَنْ عبْدِاللّٰہ رضی اللّٰہُ تعالی عنْہُ کُنَّانغْزُوْمع رسُوْلِ اللّٰہ صلّے اللّٰہُ علیہ وسلّم لیس لنانسآء فقُلْنا اَلانسْتخْصیْ فنھانا عنْ ذٰلِکَ ثُمّ رخّص لنااَنْ ننْکِح الْمرْاۃَ بالثّوْب الی اجلٍ ثمّ قرا عبْدُاللّٰہ یاایُّھا الّذِیْن اٰمنُوْا لاتُحرِّمُوْا طیّبٰتِ مااحلّ اللّٰہُ لکُمْ ولاتعْتدُوْا اِنّ اللّٰہ لایُحِبُّ الْمُعْتدِیْن. [بخاری ،]

ترجمه : دعبدالله رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه مونږ په جهاد کښې وو درسول الله ﷺ سره اوزمونږ سره ښځے نۀ وی پس مونږ اووئیل چه ایا مونږ ځان خصی کړو پس حضرت ﷺ مونږ ددے نه منع کړو. اواجازت نے راکړو مونږ ته چه دیوے کپړے په بدل دمعلومے مدے پورے

دبنځې سره نکاح اوکړئ. بیاعبدالله رضی الله عنه داایت اولوستو چه الله تعالی فرمائی چه اے مؤمنانو! مهٔ حراموئ پاکو څیزونو لره په ځان باندې کوم چه الله تعالی ستاسودپاره حلال کړے دی. اوحدنه مهٔ تیروځئ. بیشکه الله تعالی دحدنه دتیریدونکو سره دوستی نهٔ کوی.

(۱۱ ۳۴) عَنْ اِسْمَاعِيْلَ ابْنِ اَبِيْ خَالِدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ وَقَالَ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيْنَا هٰذِهِ الْاٰيَةَ وَلَمْ يَقُلْ قَرَءَ عَبْدُاللهِ.

ترجمه: اسماعیل بن ابوخالد رضی الله عنه ددغے په مثل روایت کړے دے وائی چه بیائے په مونږ باندے داایات اولوستو اودائے نهٔ دی وئیلے چه عبدالله رضی الله عنه دا ایات اولوستو.

فائده: نکاح متعه دادے چه چه دیوے مقرر شوے مدے پورے په یو مهرباندے دیوے ښځے سره نکاح اوکړی اوددغه مدے نه پس هغه نکاح ختم کړے شی اوښځه بغیرد طلاق نه دهغه دنکاح نه بهراوګنړلے شی، علامه مازری رحمه الله وئیلے دی چه په شروع داسلام کښے دانکاح جائز وو بیاپه صحیح احادیثو سره ددے منسوخ کیدل ثابت شولو اوددے په حرام والی باندے اجماع منعقد شوله.

مترجم: بیا چه دچاپه نزد اجماع مقبوله ده هغه ددے په حرمت باندے اجماع لره په سند کښں راوړی اودچاپه نزد چه اجماع حجت نهٔ دے، هغوئ ددے احادیثو نه استدلال کوی اوحال د دواړو دغه یودے (انتهی) . سوا دیو مبتدعه ګروپ نه چه هغوئ ددے په حرمت باندے مخالفت نهٔ دے کړے، اودغه مبتدعه ګروپ ددغے منسوخ احادیثواوددے ایت نه استدلال کړے دے، چه الله تعالی فرمائیلی دی: "فَمَااسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ فَاٰتُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ" اوداِبن مسعود رضی الله عنه په روایت کښں دی "فَمَااسْتَمْتَعْتُمْ بِهٖ مِنْهُنَّ اِلٰى اَجَلٍ مُّسَمًّى" اوداِبن مسعود رضی الله عنه داقراء ت شاذ دے، ددے رتبه نهٔ دحدیث برابر ده نهٔ لازم العمل ده.

اوامام زفرونیلے دی چه چامتعه نکاح اوکړو دهغه نکاح همیشه دپاره اوشولو، یعنی بیابغیرد طلاق ورکولو نه هغه نکاح نهٔ شی ماتیدے، لکه دمدے ذکرقابل اعتبار پاتے نه شو، دغه شان نورفاسد شرطونه داعتبار لائق نهٔ دی. مازری رحمه الله وئیلے دی چه په صحیح مسلم کښے راغلے دی چه حضرت ﷺ په خیبرکښی دمتعے نه منع اوفرمائیله اوپه بل روایت کښں راغلے دی چه حضرت ﷺ دمکے دفتح په ورځ دمتعے نه منع اوفرمائیله ،په دے کښں بعضوته

شك راغے حالانکه په دے کښې تعارض نشته دے ځکه چه حضرت ﷺ بار بار ددے نه منع فرمائیلے ده، ځکه چه ددے نهي (منع والے) مشهور کړے شي اوتولو ته اورسي اوچاچه نهٔ وی اوریدلی هغه نے هم واؤري، بیاچه هرراوي په کوم وخت اوریدلی دی په هغه وخت نے ورله نهي بیان کړے ده، عرض په دے کښې دتعارض ګنړلو والاخطا ده.

اوقاضي عیاض وئیلے دی چه یوجماعت دجواز حدیث لره دصحابو رضي الله عنهم دیوجماعت نه روایت کړے دے .اومسلم رحمه الله دهغوئ نه ذکرکړے دے اوداابن مسعود اوابن عباس .اوجابر اوسلمه بن اکوع اوسبره بن معبد جهني رضي الله عنهم دروایتونواوپه دے تولو روایتونوکښې دهغے جواز په سفرکښې ذکردے نهٔ په حضرکښې. اوپه وخت دضرورت نهٔ چه بے دضرورت نهٔ اوظاهره ده چه دعربو ملك ګرم دے اودجهاد په سفرونوکښې دښځو دځان سره ساتل مشکل دی.

اودابن عمر رضي الله عنه په روایت کښې تصریح ده چه ددے (متعے) جواز په شروع داسلام کښې وو، لکه چه دلوږے نه دبدحاله دپاره دمردارے جواز دے، اوددے په شان نوراوداابن عباس رضي الله عنهما نه په دے شان روایت دے اوامام مسلم رحمه الله ددے اباحت دسلمه بن اکوع رضي الله عنه نه په روز اوطاس کښې روایت کړے دے، اودسبره دروایت نه دفتح مکے په ورځ اوهغه دواړه یوشان دی، بیاپه دغه ورځ حرمت هم اوشولو، اودحضرت علي رضي الله عنه په روایت کښې دمتعے تحریم دخیبر په ورځ راغلے دے، اوهغه دفتح مکے نه مخکښې دے، اوحضرت علي رضي الله عنه نه دمسلم نه علاوه په نوروکتابونو کښې مروي دے، چه ددے نه رسول الله ﷺ دتبوك په غزی کښې منع فرمائیلی ده، ددے روایت څوك متابع نشته، بلکه دادراوي غلطي ده.

اودغے حدیث لره امام مالك رحمه الله په موطاء کښې اوسفیان ابن عیینه اوعمري نهٔ په واسطه دیوجماعت روایت کړے دے اودغه صحیح دے امام ابوداؤد رحمه الله دربیع بن سبره رضي الله عنه نه دهغوئ دپلار په واسطه روایت کړے دے چه دمتعے نهي په حجة الوداع کښې شوے ده، اوپه دے باب کښې چه کوم روایتونه مروي دی په دغه ټولو کښې داصحیح ترد ے

اوډسبره رضی الله عنه نه ددے اباحت هم په حجة الوداع کښې مروی شوے دے. بیاپه دغه ورځ دقیامته پورے رسول الله ﷺ دمتعے حرمت فرمائیلے دے. دحسن بصری رحمه الله نه مروی دی چه هغوی رحمه الله وئیلے دی چه متعه سوا دعمرهٔ قضاء نه چرته حلاله نهٔ وه. اودسبره رضی الله عنه جهنی نه هم دغه مروی دی اوامام مسلم رحمه الله دسبره رضی الله عنه په روایتونوکښې دوخت تعین نهٔ دے بیان کړے. مګرمحمد بن سعید دارمی رضی الله عنه اسحاق بن ابراهیم اودیحیی بن یحیی رضی الله تعالی عنه په روایت کښے دمکے دفتح ورځ ذکرده، اومحدثینو وئیلے دی چه روایت داباحت دحجة الوداع په ورځ ذکرکول خطا دی. ځکه چه په دغه ورځوکښې نهٔ ضرورت وو نهٔ غربت یعنی دښځونه جدائی. اوزیاتو خلقودښځوسره حج کړے وو. صحیح داده چه په حجة الوداع کښے دمتعے نهی شوے ده. لکه څنګه چه په زیاتو روایتونوکښې راغلے دی. اوپه دغه ورځ حضرت ﷺ ددے نهی تجدید اوکړو چه ټول مسلمانانو ته ورځ جمع شوی دی چه ددے نهی نه په ښه شان سره واقف شی اوحاضرین غائبینوله خبرورکړی، اوداځکه چه دین په دغه ورځ تمام شو اوشریعت کامل شولو. پس دے نهی لره ئے هم په دغه ورځ دتازه کولو په طور سره بیان اوفرمائیله چه ټولو ته اورسی لکه څنګه چه ئے دحلالواوحرامو په دغه ورځ ارشاد اوفرمائیلو، اوپه دغه ورځ ئے دمتعے ابدی یعنی همیشه قطعی حرمت دقیامته پورے بیان اوفرمائیلو.

اوقاضی عیاض رحمه الله وئیلے دی چه ددے هم احتمال دے چه ددے تحریم په خیبر.عمره قضاء، اودفتح مکے په ورځ. اوپه ورځ داوطاس په دے مقاماتوکښې ئے نهی په طور دتجدید وی. ځکه چه دخیبر په ورځ ددے دتحریم حدیث ډیرصحیح دے. اوپه دے کښې څه طعن نشته دے. اوددے راویان ډیرثقه اومضبوط دی. مګردسفیان رحمه الله په روایت کښې چه کوم داذکردے چه حضرت ﷺ دمتعے اودخرو دغوښے نه دخیبر په ورځ منع فرمائیلے ده نوددے متعلق ځنے محدثینو رحمهم الله وئیلے دی چه ددے نه مراد دادے چه دمتعے حرمت ئے بیان کړے دے اودهغے وخت ئے نهٔ دے بیان کړے.اودخرو دحرام والی وخت ئے دخیبرورځے ته وئیلے دے.

نودخرو حرام والے (یعنی دغوښے خوړلو) خاص دخیبر په ورځ شوے دے. اودمتعے دحرام

والي وخت راوي نۀ دے بيان کړے اوپه دے صورت کښې په دواړو روايتونو کښې اتفاق راتلے شي.

• اوداقول اشبه بالصحت دے، ځکه چه دمتعے حرام والے په مکه کښې شوے دے اودخرو دغوو حرام والے خاص په خيبر کښې شوے دے.

قاضي عياض رحمه الله وئيلے دي چه اولي هغه دے کوم چه مونږ اووے چه په دغه ځايونو کښې دحرام والي صرف تکرار شوے دے. مګردلته يوه خبره باقي پاتے شوه اوهغه دا چه دمتعے اباحت چه دعمرة قضاء، دمکے دفتح په ورځ ،اوداوطاس په ورځ شوے دے نوپه دے کښې داا حتمال دے چه ددے اباحت په نظر دضرورت دحرام والي نه پس شوے وي. اوبيائے هميشه حرام والے دقيامته پورے راغے، اوکيدے شي دامے وي چه حضرت ﷺ متعے لره دخيبر په ورځ حرامه کړه اوپه عمرة قضاء کښے دفتح مکے په ورځ نے بيادضرورت دپاره مباح کړه. اوبيائے دمکے دفتح کيدو په ورځ هميشه دپاره حرام اوفرمائيله. اوبيائے دمکے دفتح کيدوپه ورځ هميشه دپاره حرام اوفرمائيله، اوپه دے کښې د حجة الوداع حرمت ساقط کيږي. ځکه چه هغه دسبره رضي الله عنه جهني نه مروي دے. اومعتبرو مضبوطو راؤيانو دهغوئ رضي الله عنه نه ددے اباحت دفتح مکے دورځے روايت کړے دے، اوپه حجة الوداع کښې چه کوم دهغوئ رضي الله عنه نه مروي دے هغه صرف حرام والے دے، غرض دهغوئ رضي الله عنه دروايت نه هغه خبره اخستلے کيږي، چه په هغے باندے جمهور رواه متفق دي، اودسبره رضي الله عنه نه سوا دنورو صحابه ؤ رضي الله عنهم روايتونه هم ددے موافق دي اوهغه خبره دغه ده چه دفتح مکے په ورځ دمتعے نهي راغلے ده، اودهغے تحريم چه کوم په حجة الوداع کښې شوے دے هغه صرف دتاکيد اواشاعت په غرض سره وو لکه څنګه چه پورته تيرشو.

اودحسن بصري رحمه الله کوم قول چه پورته تيرشوے دے چه متعه سوا دعمرة القضاء نه نوره چرته حلاله نۀ وه، نودامحض غلطه ده اودصحيح احاديثونه ددے خلاف ثابتيږي، چنانچه په کومو حديثو کښې چه ذکردے چه ددے حرام والے دخيبر په ورځ شوے دے هغه هم ددے قول راد دے، ځکه چه غزوۀ خيبر دعمرة القضاء نه مخکښے ده، اوکوم چه ددے اباحت په فتح مکه اوروز اوطاس کښے مروي شوے دے سره ددے چه دهغے هم روايتونه دسبره رضي الله

عنه جهني نه وارد شوی دی، اوددغه نورو روایتونو هم راوی دے. پس هغه اباحت ډیر صحیح دی، اوددغه نورو روایتونو هم راوی دے، پس اباحت ډیر صحیح دے، اوکوم چه دصحیح مخالف دهغوئ رضی الله عنه روایتونه دی هغه متروك دی.

اوځنو وئیلے دی چه متعه یوداسے ځز دے چه په دے کښے تحریم اواباحت اونسخ دوه ځله دے، دادقاضی عیاض رحمه الله تقریر دے. اوامام نووی رحمه الله وئیلے دی چه صحیح اومختار قول دادے چه په هغے کښ تحریم اواباحت دوه ځله شوے دے، اوهغه دا چه دخیبرنه مخکښ حلاله وه اوبیادخیبرپه ورځ حرامه شوه، ددے نه پس دفتح مکے په ورځ حلاله شوه. اودغه داوطاس ورځ ده، ځکه چه دادواړه متصل دی. اوبیادهغے په درئمه ورځ همیشه دپاره حرامه شوه. اودقیامته پورے حرامه پاتے شوه، اودانهٔ شی کیدے چه اباحت دی دخیبرنه دمخکښے سره خاص وی، اوحرمت ابدی دی دخیبر په ورځ وی، اودفتح په ورځ دی صرف تاکید دتحریم وی، بغیرددے نه چه دفتح مکے په ورځ اباحت شوے وی لکه ځنګه چه مازری رحمه الله اختیار کړے دی اوقاضی عیاض رحمه الله، ځکه چه هغه روایتونه کوم چه مسلم رحمه الله ذکرکړے دی صریح دلالت کوی چه دفتح مکے په ورځ مباحه شوه، اودهغے ساقط کیدل په څه شان له نهٔ شوکیدے. اودبار بار اباحت دوقوع څه مانع نشته دے.

اوقاضی عیاض رحمه الله وئیلے دی چه دعلماؤاتفاق دے چه متعه دیوے مقرر مدے پورے نکاح وو چه نهٔ په هغے کښ میراث رسیدو اونهٔ دطلاق ورکول ضرورت وو، بلکه صرف دمدے دختمیدو سره به جدائی راغله اونکاح به باقی پاتے نهٔ شو، اوددے (متعے) په حرام والی باندے اجماع منعقد شوے ده اودهغے نه پس دتمامو علماؤ سوا دفرقه مبتدعه روافضونه.

اوابن عباس رضی الله عنه هم مخکښے ددے داباحت قائل وو بیائے رجوع اوکړه او اوس په دے باندے دعلماؤ اتفاق دے چه که څوك نکاح متعه کوی نو هغه فاسد دے اوباطل دے خواه که دخول شوے وی یانهٔ وی شوے. دهغے په بطلان به حکم ورکولے شی، سوا دامام زفر رحمه الله نه چه دهغوئ رحمه الله قول پورته ذکرشو، اواصحاب مالك رحمهم الله اختلاف کړے دے چه آیاپه دے نکاح سره په جماع کونکی حدلازمیږی یانهٔ نودشافعیه ؤ رحمهم الله مذهب

دادے چه په دے باندے حدنشته ځکه چه دعقد شبهه ده اوقاضی عیاض رحمه الله وئیلے دی چه په دے باندے هم اجماع ده چه یوسړی نکاح اوکړه اوده په نیت کښ نشته دے چه دومره مده به دے ښځے لره ساتم نوددہ نکاح صحیح اوحلاله ده. اودانکاح متعه نهٔ دے نکاح متعه هغه دے چه په هغے کښ دیوے خاص مدے پورے شرط اولګولے شی. اودعقد په وخت ددغه مدے ذکراوکړے شی۔

امام نووی رحمه الله په شرح مسلم کښ بعینه دغه تقریر کړے دے اوپه دے زمانه کښے ځنے جاهلان چه لوئے علماء دی کم عقلو خلقو لره په القاء وسواس پشان دخناس په حلال والی دمتعے اوریدوسره بربادہ وی اودهغوئ په حق کښے میلوجوړیږی، اومشرب روئ دتحقیق نهناخبره ئے په جاهلت کښ اوری، الله جل شانه دی دهغوئ دفریب اوزور نه نورانی مؤمنان بچ کړی آمین یارب العلمین۔

امام مسلم رحمه الله وئیلے دی چه مونږ ته دغه حدیث ابوبکر بن شیبه رضی الله عنه روایت کړے دے، هغوئ رضی الله عنه ته وکیع رضی الله عنه هغوئ رضی الله عنه ته اسماعیل رضی الله عنه په دغه سند سره اوپه دے کښ ئے وئیلے دی چه مونږ خلق ځوانان وو، نو مونږ عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ اے مونږه خصیان کیدے شو، اودائے نهٔ دی وئیلے چه مونږ جاهد کولو۔

(۳۴۱۳) عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِاللهِ وَسَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ قَالَا خَرَجَ عَلَيْنَا مُنَادِىْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْاَذِنَ لَكُمْ اِنْ تَسْتَمْتِعُوْا يَعْنِىْ مُتْعَةَ النِّسَآءِ. [بخاری]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله عنه اوسلمه بن اکوع رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه مونږه باندے درسول الله ﷺ آواز کونکے را اووتو اوهغے آواز اوکړو چه رسول الله ﷺ تاسو ته دښځو سره دمتعه کولو اجازت درکړے دے۔

(۳۴۱۴) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ الْاَكْوَعِ وَجَابِرِابْنِ عَبْدِاللهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَانَا فَاَذِنَ فِى الْمُتْعَةِ. [راجع: ۳۴۱۳]

ترجمه: دسلمه بن اکوع رضی الله عنه اوجابر بن عبدالله نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ

زمونږ خواله تشریف راوړو اومونږ ته ئے دمتعے اجازت راکړو

(۳۴۱۵) عَنْ عَطَآءٍ قَدِمَ جَابِرُ ابْنُ عَبْدِاللهِ مُعْتَمِرًا وَجِئْنَاهُ فِي مَنْزِلِهِ فَسَالَهُ الْقَوْمُ عَنْ اَشْيَآءَ ثُمَّ ذَكَرُوْا الْمُتْعَةَ فَقَالَ نَعَمْ اسْتَمْتَعْنَا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ.

ترجمه: دعطاء رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه جابر بن عبدالله رضی الله عنه دعمرے دپاره راغے. اومونږ ټول دهغوئ رضی الله عنه منزل ته دملاقات دپاره لاړو. اوخلقو دهغوئ رضی الله عنه نه دډیرو خبرو تپوسونه اوکړل بیائے دمتعے ذکراوکړو نو هغوئ رضی الله عنه اووے هاں مونږ درسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښں اودابوبکر رضی الله عنه اوعمر رضی الله عنه دخلافت په زمانه کښں متعه کړے ده.

فائده: مراد دادے چه کومو خلقو ته نسخ نه دے رسیدلے هغه خلقو به متعه کوله، اوکومو ته چه نسخ رسیدلے دے هغه دحرمت قائل شوی دی اوبچ شوی دی، غرض داچه دهغه خلقو متعه کول چاته چه دنسخ اطلاع نۀ ده شوے حجت نۀ شی کیدے، اګرکه هغوئ متعه دخپل عمردآخری ورځوپورے کړے وی، بلکه فعل اوقول به دهغه چامعتبروی یعنی حجت دے چاته چه درسول الله ﷺ یعنی په حجة الوداع کښے نسخ دمتعے رسیدلے دے، اوددے نه خلور میاشتے پس آنحضرت ﷺ انتقال اوفرمائیلو، اوپه دغه اخری حکم باندے چه دهغے نه پس بیا چرته اباحت نۀ دے، شوے ځکه چه ددے نه پس حضرت ﷺ رحلت اوفرمائیلو رجوع کول ضروری اوعمل کول لازم دی.

اوځنې خلقوته چه کوم داخیال عارض شوے دے چه دمتعے حلت خوقطعی دے، اوددے حرمت ابدی ظنی دے اوظنی قطعی لره منسوخ کولے نۀ شی. چنانچه مقبلی وئیلے دی چه جمهورو ددے څه معقول جواب نۀ دے ورکړے. خو مونږ دهغے په جواب کښں وایو چه مونږ منلی دی چه ددے تحلیل قطعی دے ځکه چه دقران نه مستفاد دے. اومنصوص دالله جل جلاله کتاب دے. اوهغه ایت چه دهغے نه دحلت استفاده کیږی لکه داچه قطعی المتن دے مګرپه دوه وجهو سره قطعی الدلالت نۀ دے اول داچه په دغه ایت کښں داستمتاع نه په نکاح صحیح مراد اخستلے شی. دوئم: داچه هغه ایت عام دے اوعما ظنی الدلالت وی اوددے نه

علاوه یوه خبره داده چه امام ترمذی رحمه الله دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت کړے دے چه هغوی رضی الله عنه فرمائیلی دی. متعه دهغے پورے وه چه دا آیت نازل شوے نهٔ وو. "اَلاَّ اَزْوَاجِهِمْ اَوْمَامَلَکَتْ اَیْمَانُهُمْ" غرض ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل چه هرفرج ددے دوه و نه سوا حرام دے. یعنی بی بی به وی په نکاح صحیح سره یابه وینځه وی ددے نه سوا ټولے حرامے دی، اوداحدیث دلالت کوی چه دمتعے تحریم دقران نه شوے دے. لکه څنګه چه ددے تحلیل تاسو دقران نه کړے وو، پس نسخ دقطعی نه قطعی شولو.

(۳۴۱۶) عَنْ جَابِرِبْنِ عَبْدِاللهِ یَقُوْلُ کُنَّا نَسْتَمْتِعُ بِالْقُبْضَةِ مِنَ التَّمْرِوَالدَّقِیْقِ الْاَیَّامَ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَبِیْ بَکْرٍ حَتّٰی نَهٰی عَنْهُ عُمَرُفِیْ شَاْنِ عَمْرِوبْنِ حُرَیْثٍ.

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله عنه نه روایت دے چه مونږ به متعه کوله یعنی دښځو سره دڅه ورځو دپاره یو موټے کهجورے اواوړه به موورکړل درسول الله ﷺ اوابوبکر رضی الله عنه په زمانه کښے تردے پورے چه حضرت عمررضی الله عنه دهغے نه منعه اوکړه دعمروبن حریث په قصه کښې.

فائده: حضرت عمر رضی الله عنه منع اوکړه یعنی هغه نسخ لره کوم چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلے وو چه حجة الوداع کښې چه هغه رضی الله عنه ته رسیدلے نهٔ وو، هغوی رضی الله عنه ته اورسوو اودغه درسول الله ﷺ آخری حکم وو اوددے حکم نه پس خلوږ میاشتے بعد حضرت ﷺ انتقال اوفرمائیلو.

(۳۴۱۷) عَنْ اَبِیْ نَضْرَةَ قَالَ قُلْتُ عِنْدَجَابِرِبْنِ عَبْدِاللهِ فَاَتَاهُ اٰتٍ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ وَابْنُ الزُّبَیْرِاخْتَلَفَا فِی الْمُتْعَتَیْنِ فَقَالَ جَابِرٌ فَعَلْنَا هُمَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ نَهَانَا عَنْهُمَا عُمَرُفَلَمْ نَعُدْلَهُمَا.

[راجع: ۳۰۲۵]

ترجمه: دابونضره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ دجابر رضی الله عنه سره وم چه یو سړے راغے اواوئے وئیل چه ابن عباس رضی الله عنهما اوابن زبیر رضی الله عنه په دواړو متعو(یعنی حج تمتع اودښځو متعه) کښې اختلاف کړے دے پس جابر رضی الله عنه اووے چه مونږ درسول الله ﷺ په زمانه کښے دواړه متعے کړے دی بیا دهغے دواړو نه حضرت عمر رضی

الله عنه منع کړل، ددے نه پس مونږه دواړومتعه نۀ ده کړے۔

(۳۴۱۸) عَنْ إِيَاسِ ابْنِ سَلَمَةَ عَنْ أَبِيْهِ قَالَ رَخَّصَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ أَوْطَاسٍ فِي الْمُتْعَةِ ثَلَاثًا ثُمَّ نَهَى عَنْهَا.

ترجمه: داياس بن سلمه رضی الله عنه دخپل پلار نه روايت کړے دے چه جناب رسول مقبول ﷺ په عام اوطاس کښې درے ځله دمتعے رخصت ورکړے دے اوبيائے منع فرمائيلے ده۔

فائده: په دے حديث کښې تصريح اوشوله چه متعه دفتح مکے په ورځ مباح شوله اودغه داوطاس ورځ ده، اواوطاس په طائف کښې ديوے درے يعنی ميدان نوم دے اودفتح مکے اوطاس ورځ دغه يوه ده۔

(۳۴۱۹) عَنْ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ أَنَّهُ قَالَ أَذِنَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُتْعَةِ فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَرَجُلٌ إِلَى امْرَأَةٍ مِنْ بَنِي عَامِرٍ كَأَنَّهَا بَكْرَةٌ عَيْطَاءُ فَعَرَضْنَا عَلَيْهَا أَنْفُسَنَا فَقَالَتْ مَا تُعْطِيْنِيْ فَقُلْتُ رِدَائِيْ وَقَالَ صَاحِبِيْ رِدَائِيْ وَكَانَ رِدَاءُ صَاحِبِيْ أَجْوَدَ مِنْ رِدَائِيْ وَكُنْتُ أَشَبَّ مِنْهُ فَإِذَا نَظَرَتْ إِلَى رِدَاءِ صَاحِبِيْ أَعْجَبَهَا وَإِذَا نَظَرَتْ إِلَيَّ أَعْجَبْتُهَا ثُمَّ قَالَتْ أَنْتَ وَرِدَاؤُكَ يَكْفِيْنِيْ فَمَكَثْتُ مَعَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَ عِنْدَهُ شَيْءٌ مِنْ هٰذِهِ النِّسَاءِ الَّتِيْ يَتَمَتَّعُ فَلْيُخَلِّ سَبِيْلَهَا. [ابو داود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دسبره جهنی رضی الله عنه نه روايت دے چه مونږ ته رسول الله ﷺ دمتعے اجازت راکړو نوزۀ اويوسړے دواړه را اووتو اودبنی عامر قبيلے يوه ښځه مواوليده چه سمه لکه ځوانه اوښه وه چه دصراحئ پشان دنګه غړئ ئے وه، پس مونږ خپل ځان هغے ته پيش کړو، هغے اووے ماله به څه راکوئ؟ مااووے زماڅادر حاضردے، اوزماملګری اووے زماڅادر (هم) حاضردے، اوزما دملګری څادر ځما دڅادرنه ښه وو مګرزۀ دهغه په نسبت ښه ځوان وم هرکله چه به هغے زمادملګری څادر ته کتل نو هغه به ئے خوښيدو. اوهرکله چه به ئے ماته اوکتل نوزۀ به ئے خوښ شوم بيا هغے اووے چه تۀ اوستاڅادر ځماقبول دے. اوزۀ دهغے سره درے ورځې پاتے شوم، بيارسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دچاسره داسے ښځه وی چه دهغے سره ئے متعه کړے وی هغه دې پريږدی۔

(۳۴۲۰) عَنِ الرَّبِيْعِ ابْنِ سَبْرَةَ أَنَّ أَبَاهُ غَزَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتْحَ مَكَّةَ قَالَ فَأَقَمْنَا بِهَا خَمْسَ

عشرة ثلاثین بین لیلة ویوم فاذن لنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فی متعة النساء فخرجت انا ورجل من قومی ولی علیه فضل فی الجمال وهو قریب من الدمامة مع کل واحد منا برد فبردی خلق واما برد ابن عمی فبرد جدید غض حتی اذا کنا باسفل مکة اوباعلاها فتلقتنا فتاة مثل البکرة العنطنطة فقلنا هل لک ان یستمتع منک احدنا قالت وماذا تبذلان فنشر کل واحد بردة فجعلت تنظر الی الرجلین ویراها صاحبی ینظر الی عطفها فقال ان برد هذا خلق وبردی جدید غض فتقول برد هذا لاباس به ثلاث مرار اومرتین ثم استمتعت منها فلم اخرج حتی حرمها رسول الله صلی الله علیه وسلم. [راجع: ۳۴۱۹]

ترجمه: دربیع بن سبره رضی الله عنه نه روایت دے چه دهغوئ رضی الله عنه پلار په فتح مکه کښے درسول الله ﷺ په ملګرتیا رکښے جهاد اوکړو اووائی چه مونږ په مکه کښے پنځلس یعنی شپے اوورځے یو ځائے کړے دیرشد ورځ پاتے شو اومونږ ته جناب رسول الله ﷺ دښځوسره دمتعے کولو اجازت راکړو اوزۀ اویوسړے زما دقوم دواړه را اووتو اوزۀ دهغه نه په ښکلوالی کښں زیات وم، اوهغه بدشکلئ ته نزدے وو. اوزمونږ دهریو ملګری سره څادر وو. اوزما څادر زوړوو اوزمادتره دځوئ څادر نوے اوتازه وو. تردے پورے چه هرکله مونږ دمکے نه ښکته یاپورته طرفته اورسیدو، نومونږ ته یوه اوږدو زلفو والاځوانه (جینئ) میلاؤشوه دصراحئ پشان دنګے غړئ والا یعنی ځوانه ښکلے ښځه. نومونږ هغے ته اووے چه ایا تاته په مونږ کښں دیوکس سره متعے کولو ته رغبت شته؟ هغے اووے تاسو خلق به څه ورکړئ؟ نوپه مونږ کښں هریو خپل څادر خورکړو نو هغے ددواړو څادروپه طرف اوکتل اوزملګری هغے ته دسرنه دخپوپورے په غور سره کتل، بیا هغه اووے چه دده څادر زوړدے،اوزما څادر نوے اوتازه دے. اوهغے به وئیل چه دده چپه څادر می څه پرواه نشته. درے ځله یادوه ځله دغه خبرے اترے اوشوے غرض دا چه ما دهغے سره متعه اوکړه اوزۀ لادهغے دخوانه را اوتے نۀ وم چه رسول الله ﷺ متعه حرامه کړه.

(۳۴۲۱) عن الربیع ابن سبرة الجهنی عن ابیه قال خرجنا مع رسول الله صلی الله علیه وسلم عام الفتح الی مکة فذکر بمثل حدیث بشر وزاد قالت وهل یصلح ذاک وفیه قال ان برد هذا خلق مح.

[راجع: ۳۴۱۹]

ترجمه: ربیع بن سبره جهنی رضی الله عنه خپل پلار رضی الله عنه نه روایت کړے دے چه

مونږ د رسول الله ﷺ سره مـلـگری د فتح مکې په کال را اووتو. اوباقی روایت په شان د حدیث بشر دے او په دے کښې دا زیاتـه ده چه هغه ته نے اووے "عجیبه خبره ده داهم چرته کیدے شی. او په دے روایت کښې داهم دی چه دغه ملگری اووے چه دده څادر پخوانے شلیدلے کم قیمته دے.

فائده : ددے روایت نه داهم معلومه شوه چه په متعه کښې به گواه شاهد هم نهٔ وو اونهٔ پکښې دولی ضرورت وو.

(٣٤٢٢) عَنِ الرَّبِيعِ ابْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ اَنَّ اَبَاهُ حَدَّثَهُ اَنَّهُ كَانَ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَااَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ قَدْ كُنْتُ اَذِنْتُ لَكُمْ فِي الْاِسْتِمْتَاعِ مِنَ النِّسَآءِ وَاِنَّ اللهَ قَدْ حَرَّمَ ذٰلِكَ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَمَنْ كَانَ عِنْدَهُ مِنْهُنَّ شَيْءٌ فَلْيُخَلِّ سَبِيْلَهَا وَلَاتَاْخُذُوْا مِمَّا اٰتَيْتُمُوْهُنَّ شَيْئًا. [راجع : ٣٤١٩]

ترجمه : ربیع بن سبره جهنی رضی الله عنه دخپل پلار نه روایت کړے دے چه هغوئ رضی الله عنـه د رسول الله ﷺ سره وو، پس حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اے خلقو! ماتاسو ته د ښځو سره د متعے کولو اجازت درکړے وو، او اوس الله تعالی متعے لره دقیامت دورځے پورے حرامه کړے ده، پـس د چاسره چه په متعـه کښـے څوک وی نـو پـکـار ده چه هغے لره پریږدی او کوم څیز چه تاسو هغوئ له ورکړے وی هغه تری نه واپس مهٔ اخلئ.

(٣٤٢٣) عَنْ عَبْدِالْعَزِيْزِ ابْنِ عُمَرَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَائِمًا بَيْنَ الرُّكْنِ وَالْبَابِ وَهُوَ يَقُوْلُ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ نُمَيْرٍ. [راجع : ٣٤١٩]

ترجمه : دعبدالعزیز بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے په دغه اسناد سره چه هغوئ رضی الله عنه وئیلی دی چه ما رسول الله ﷺ لره اولیدو چه هغوئ ﷺ د رکن او باب کعبے په مینځ کښے ولاړ وو او فرمائیلو ئے حدیث په مثل د حدیث دابن نمیر یعنی کوم چه ددے نه مخکښے تیر شو.

فائده : په دے حدیث کښې د رسول الله ﷺ دناسخ او منسوخ دواړو ذکر دے، او حرام والے همیشه د متعے پکښې دقیامته پورے ذکر دے او ددے حدیث دمخه د هغه راؤیانو دقول تاویل ضرور اوشولو چا چه وئیلے دی چه مونږ دابوبکر رضی الله عنه او عمر رضی الله عنه دوخته پورے متعه کړے ده. او هغه تاویل داسے دے چه هغوئ رضی الله عنه ته به ددے دمنسوخ کیدو خبر نهٔ وو رسیدلے، او ددے نه ثابته شوه چه کوم مهربه ښځے ته په متعه کښے ورکړے شو هغه به

دهغې ملکيت شو، بيابه ترې دهغې اخستل روانئ وو اګرکه دمتعې دمودې تماميدو نه به نې مخکښې هغه پريخوده.

(٣٤٢٤) عنْ عَبدالْملک ابْن الرَّبيْع ابْن سبْرة الْجهنيّ عنْ ابيه عنْ جدّه رضی اللهُ تعالٰی عنْهما قال امرنا رسُوْلُ الله صلّی اللهُ عليْه وسلّم بالْمُتْعة عام الْفتْح حيْن دخلْنا مكّة ثمّ لمْ نخْرُجْ حتّٰی نهانا عنْها.

[راجع: ٣٤١٩]

ترجمه: عبدالملك بن ربيع بن سبره جهنی رضی الله عنه دخپل پلار نه هغوئ رضی الله عنه دهغه دنيکه رضی الله‌عنهم نه روايت کړے دے چه سبره رضی الله عنه وائی چه حکم راکړو مونږ ته رسول الله ﷺ دمتعې دفتح مکې په کال کښې هرکله چه مونږه په مکه کښې داخل شو بيا رااوتو مونږه دهغې نه تردې پورې چه منع شو مونږ دمتعې نه.

(٣٤٢٥) عنْ رَبيْعِ ابْن سَبْرة يُحدّثُ عنْ ابيْه سبْرة رضی اللهُ تعالٰی عنْهُ انّ النّبيَّ صلّی اللهُ عليْه وسلّم عام فتْح مكّة امرَ اصْحابهُ بالتّمتُّع منَ النّسآءِ قال فخرجْتُ انا وصاحبٌ لّی منْ بنیْ سُليْم حتّٰی وجدْنا جاريةً مّنْ بنیْ عامرٍ كانّها بكْرَةٌ عيْطآءُ فخطبْناهآ الٰی نفْسها وعرضْنا عليْها بُرْديْنا فجعلتْ تنْظُرُ فترانیْ اجْمل منْ صاحبیْ وترٰی بُرْد صاحبیْ احْسن منْ بُرْدیْ فامرتْ نفْسها ساعةً ثمّ اخْتارتْنیْ علٰی صاحبیْ فكُنّ معنا ثلٰثًا ثمّ امرنا رسُوْلُ الله صلّی اللهُ عليْه وسلّم بفراقهنّ. [راجع: ٣٤١٩]

ترجمه: ربيع بن سبره رضی الله عنه دخپل پلار سبره رضی الله عنه نه روايت کوی، چه نبی ﷺ دفتح مکې په کال کښې خپلو اصحابو رضی الله‌عنهم ته دښځوسره دمتعې کولو حکم وركړو، هغوئ رضی الله عنه وائی چه بيازهٔ اوزمايو ملګرے دقبيله بن سليم نه دواړه را اووتو، تردې پورې چه مونږه دقبيله عامريوه ځوانه ښځه اوموندہ چه سمله لکه ځوانه اوښه وه، پس مونږ هغې ته دمتعې پيغام ورکړو. اوپه متعه کښې موورته خپل څادرونه پيش کړل، اوهغې اوليدل اوماته به ئې زمادملګری نه زيات په مينه کتل، اوزمادملګری څادر ته به ئې زمادڅادرنه ښه کتل اوهغې په خپل زړهٔ کښې يو ساعت مشوره اوکړه اوبيا هغې زهٔ غوره کړم، زمادملګری نه سوا نورې دمتعې ښځې زمونږ خلقو سره د درې ورځوپورې پاتې شوې، بيارسول الله ﷺ مونږ ته حکم اوکړو دهغې دپريخودلو.

(۳۴۲۶) عَنْ سَبْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ نِكَاحِ الْمُتْعَةِ. [راجع : ۳۴۱۹]

ترجمه: دسبره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دمتعے دنکاح نه.

(۳۴۲۷) عَنْ سَبْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى يَوْمَ الْفَتْحِ عَنْ مُتْعَةِ النِّسَآءِ.

[راجع : ۳۴۱۹]

ترجمه: دسبره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دفتح مکے په ورځ دښځو دمتعے کولو نه.

(۳۴۲۸) عَنْ رَبِيْعِ ابْنِ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ عَنْ اَبِيْهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ اَخْبَرَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُتْعَةِ زَمَانَ الْفَتْحِ مُتْعَةِ النِّسَآءِ وَاَنَّ اَبَاهُ كَانَ تَمَتَّعُ بِبُرْدَيْنِ اَحْمَرَيْنِ. [راجع : ۳۴۱۹]

ترجمه: ربیع بن سبره رضی الله عنه دخپل پلار نه روایت کړے دے چه رسول الله ﷺ دفتح مکے په ورځو کښې دمتعے نه منع اوفرمائیله دښځو دمتعے نه، اود هغوئ رضی الله عنه پلار سبره رضی اللہ عنه متعه کړے وه، (یعنی مخکښې دمنع والی نه) په دوه ؤ سرو څادرونو باندے.

(۳۴۲۹) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ اَخْبَرَنِیْ عُرْوَةُ ابْنُ الزُّبَيْرِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَامَ بِمَكَّةَ فَقَالَ اِنَّ نَاسًا اَعْمَى اللهُ قُلُوْبَهُمْ كَمَا اَعْمٰى اَبْصَارَهُمْ يُفْتُوْنَ بِالْمُتْعَةِ يُعَرِّضُ بِرَجُلٍ فَنَادَاهُ فَقَالَ اِنَّكَ لَجِلْفٌ جَافٍ فَلَعَمْرِیْ لَقَدْ كَانَتِ الْمُتْعَةُ تُفْعَلُ فِیْ عَهْدِ اِمَامِ الْمُتَّقِيْنَ يُرِيْدُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ ابْنُ الزُّبَيْرِ فَجَرِّبْ بِنَفْسِكَ فَوَاللهِ لَئِنْ فَعَلْتَهَا لَاَرْجُمَنَّكَ بِاَحْجَارِكَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَاَخْبَرَنِیْ خَالِدُ ابْنُ الْمُهَاجِرِ ابْنِ سَيْفِ اللهِ اِنَّهُ بَيْنَا هُوَ جَالِسٌ عِنْدَ رَجُلٍ جَاءَهُ رَجُلٌ فَاسْتَفْتَاهُ فِی الْمُتْعَةِ فَاَمَرَهُ بِهَا فَقَالَ لَهُ ابْنُ اَبِیْ عَمْرَةَ الْاَنْصَارِیُّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ مَا هِیَ وَاللهِ لَقَدْ فُعِلَتْ فِیْ عَهْدِ اِمَامِ الْمُتَّقِيْنَ قَالَ ابْنُ اَبِیْ عَمْرَةَ اِنَّهَا كَانَتْ رُخْصَةً فِیْ اَوَّلِ الْاِسْلَامِ لِمَنِ اضْطُرَّ اِلَيْهَا كَالْمَيْتَةِ وَالدَّمِ وَلَحْمِ الْخِنْزِيْرِ ثُمَّ اَحْكَمَ اللهُ الدِّيْنَ وَنَهٰى عَنْهَا قَالَ ابْنُ شِهَابٍ اَخْبَرَنِیْ رَبِيْعُ ابْنُ سَبْرَةَ الْجُهَنِیُّ اَنَّ اَبَاهُ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَدْ كُنْتُ اسْتَمْتَعْتُ فِیْ عَهْدِ النَّبِیِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنِ امْرَاَةٍ مِنْ بَنِیْ عَامِرٍ بِبُرْدَيْنِ اَحْمَرَيْنِ ثُمَّ نَهَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُتْعَةِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَسَمِعْتُ رَبِيْعَ ابْنَ سَبْرَةَ يُحَدِّثُ ذٰلِكَ عُمَرَ ابْنَ عَبْدِ الْعَزِيْزِ وَاَنَا جَالِسٌ. [راجع : ۳۴۱۹]

ترجمه: دابن شهاب زهری رضی اللہ عنه نه روایت دے وائی چه خبر راکړے دے ما له عروه بن

زبیر رضی الله عنه چه عبدالله بن زبیر رضی الله عنه اودریدو په مکه کښې (یعنی دخطبې لوستلو ته اولاړے ونیل چه دځنې خلقو زړونه الله تعالی تیاره کړي دی لکه څنګه چه ئے دهغوئ سترګے ړندے کړے دی.) (داهغوئ رضی الله عنه دابن عباس رضی اللهعنه په طرف اشاره اوکړه چه هغه په آخری عمرکښې ړوند شوے وو اوهغوئ رضی الله عنه ته دمتعے نسخ رسیدلے نۀ وو څکه به ئے دجواز فتوی ورکوله. بیائے رجوع اوکړه هرکله چه ورته نسخ معلوم شوله) چه دمتعے دجواز فتوے ورکوی. اوهغوئ رضی الله عنه طعن کولو په یو سړی باندے. (یعنی په دغه ابن عباس رضی اللهعنه باندے) په دے آواز اوکړو هغوئ رضی اللهعنه ته یو سړی (یعنی ابن عباس رضی اللهعنه) اوورته ئے اووے چه تۀ کم فهم .بے ادبه اوکم عقل ئے. اوقسم دے زماپه روح چه متعه به کولے شوه په زمانه دامام المتقین کښې یعنی دجناب رسول اللهﷺ په زمانه مبارکه کښې پس ابن زبیر رضی الله عنه هغوئ رضی اللهعنه ته اووے. چه ته په خپل ځان ازموده اوکړه بیاګوره، په الله جل جلاله می دی قسم وی کچرے تامتعه اوکړه (یعنی دمتعے سره دی صحبت اوکړو) نو بیشکه زۀ به تالره ستاسو په دغه ګټو سره اوولم . (یعنې لکه څنګه چه زناکار ویشتلے شی) ابن شهاب ونیلے دی چه خالد بن مهاجرین سیف الله رضی الله عنه ماته خبرا راکړے دے چه زۀ دیو سړی سره ناست وم چه یوبل سړے راغے اوهغه دمتعے دفتوے تپوس اوکړو نو هغوئ حکم اوکړو دمتعے نوابی عمره انصاری رضی اللهعنه اووے. نړ اودریږه، هغوئ رضی الله عنه اووے ولے؟ په الله جل جلاله می دی قسم وی چه ماکړے ده دامام المتقین په زمانه کښې. بیاابن ابی عمره رضی اللهعنه اووے چه په اول داسلام کښې جائز وه دهغه چاد پاره چه هغه به دحدنه زیات پے قراره شولکه څنګه چه دلوږے نه پے تابه ته مرداره اووینه اودسوږ غوښه وغیره دقوت لایموت دپاره حلاله ده بیاالله جل جلاله خپل دین مضبوط کړو اوددے نه ئے منع اوفرمائیله ابن شهاب زهری رضی اللهعنه وئیلے دی چه خبر راکړے دے ماله ربیع بن سبره جهنی رضی الله عنه چه هغوئ ته دهغوئ پلار وئیلے دی چه مامتعه کړے وه دنبی ﷺ په زمانه مبارکه کښې دبنی عمار دیوے ښځے سره په دوو سرو څادرونو باندے بیامنع کړو مونږ ددے نه رسول الله ﷺ یعنے دمتعے نه. وئیلے دی ابن شهاب رضی الله عنه اووریدلی دی

مادربیع بن سبره رضی الله عنه نه چه هغه روایت کوئ دے حدیث لره دعمر بن عبدالعزیز نه اوزۀ ناست وم۔

(۳۴۳۰) عَنْ عُمَرَبْنِ عَبْدِالْعَزِيْزِ قَالَ حدثني الرَّبِيْعُ ابْنُ سَبْرَةَ الْجُهَنِيُّ عن ابيه رضي اللهُ تعالى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُتْعَةِ وقال اَلَا اِنَّها حرامٌ من يومِكُم هذا الى يوم الْقِيٰمَةِ وَمَنْ كَانَ اَعْطٰى شَيْئًا فَلَا يَأْخُذْهُ. [راجع : ۳۴۲۹]

ترجمه: دعمربن عبدالعزیز رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه روایت کړے دے ماته ربیع بن سبره جهنی رضی الله عنه اوهغوئ دخپل پلار رضی الله عنه نه چه رسول الله ﷺ منع اوفرمائیله دمتعے نه، اواوئے فرمائیل چه خبر شئ متعه دنن ورځی نه حرامه ده قیامته دورځی پورے، اوچاچه ورله څه ورکړے دی یعنے دمتعے په مهرکښ هغه دی ترے واپس نۀ اخلی۔

(۳۴۳۱) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَآءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ اَكْلِ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاِنْسِيَّةِ. [بخاری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دمتعے دښځونه اودبار ورونکو ښهری خرو دغوښو خوړلو نه۔

(۳۴۳۲) عَنْ مَالِكٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ وَسَمِعَ عَلِيَّ ابْنَ اَبِيْ طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ لِفُلَانٍ اِنَّكَ رَجُلٌ تَائِهٌ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْل حَدِيْثِ يَحْيٰى عَنْ مَالِكٍ. [راجع : ۳۴۳۱]

ترجمه: دمالك رضی الله عنه نه په دغه اسناد سره روایت شوے دے چه حضرت علی رضی الله عنه اوفرمائیل چه ته یو سړے خطا شوے ئے دنیغے لارے نه،رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دمتعے نه وراندے هغه مضمون ذکردے کوم چه پورته حدیث کښ تیرشولو۔

(۳۴۳۳) عن عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْهُ اَنَّهُ سمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُما يُلَيِّنُ فِيْ مُتْعَةِ النِّسَآءِ فَقَالَ مَهْلًا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهُمَا يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاِنْسِيَّةِ. [راجع: ۳۴۳۱]

ترجمه: دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے چه هغوئ دابن عباس رضی الله عنه نه اوریدلی دی چه جائز کوله ئے دښځو متعے لره نو هغوئ رضی الله عنه اووے چه اودریږه اے ابن

عباسه رضی الله‌عنه ! ځکه چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دمتعے نه دخیبر په ورځ اودبار ورونکو خرودغوښے (دخوړلو) نه۔

(۳۴۳۵) عَنْ عَلِيِّ ابْنِ اَبِيْ طَالِبٍ يَقُوْلُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ مُتْعَةِ النِّسَآءِ يَوْمَ خَيْبَرَ وَعَنْ اَكْلِ لُحُوْمِ الْحُمُرِ الْاِنْسِيَّةِ. [راجع : ۳۴۳۱]

ترجمه : دعلی بن ابی طالب رضی الله عنه نه روایت دے چه ده اوفرمائیل ابن عباس رضی الله عنهما ته چه منع کړے ده رسول الله و دمتعے ښځونه اودبو جه وړونکو خرو دغوښے نه۔

فائده : ددے روایتونو نه حرام والے دبو جه وړونکو خرو دغوښے هم معلوم شولو، اودغه مذهب دے زمونږه اومذهب دے دتمامو علماؤ، مگریو گروپ دسلفوددے دحلال والی قائل دے، چنانچه دابن عباس رضی الله‌عنهما اودجناب حضرت عائشے صدیقے رضی الله‌عنها اوبعضے سلفو نه ددے اباحت مروی دے، اودهغوئ نه ئے حرام والے هم مروی دے، اودامام مالك رحمه الله نه ئے کراهت اوحرام والے مروی دے۔

بَابُ تَحْرِيْمِ الْجَمْعِ بَيْنَ الْمَرْاَةِ وَعَمَّتِهَا فَخَالَتِهَا فِى النِّكَاحِ۔

باب: دے په بیان دحرام والی دجمع کولو په مابین دښځے او اودوریرو دهغے اودخورزو اوترور یانو دهغے په نکاح کښے۔

(۳۴۳۶) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَايُجْمَعُ بَيْنَ الْمَرْاَةِ وَعَمَّتِهَا وَلَابَيْنَ الْمَرْاَةِ وَخَالَتِهَا. [بخاری ، نسائی]

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه نۀ دی جمع کوی څوك يوه ښځه اودهغے دپلار خورلره اونۀ يوه ښځه اودهغے دمور خور په یو نکاح کښے۔ (یعنی دښځے ترور یانے)۔

فائده: الف ـ یعنی دچاپه نکاح کښے چه یوه ښځه ده، نوداسرے به ددغے ښځے ددواړه طرفنه تروریانے لکه دهغے دپلار خور اودمور خوربه نۀ نکاح کوی۔

(۳۳۳۸) عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول لاتنكح العمة علابنت الاخي ولابنت الاخت على الخالة. [بخاري، ابوداود، نسائي]

ترجمه: دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے وائي چه مادرسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چه فرمائيلي ئے وو چه دترور سره به ئے نكاح نۀ شي كولے هركله چه ئے وريره دهغے په نكاح كښې وي اودخورزے سره به ئے نكاح نۀ شي كولے هركله چه ئے خاله دهغے په نكاح كښے وي.

ف: دغه مذهب دے دتمامو علمائے كرامو رحمهم الله چه حرام دي جمع كول دوريرے اوترور اوخورزے اوخاله په نكاح كښے. برابره خبره ده كه ترور حقيقي وي لكه دپلار خور ياخاله حقيقي وي لكه دمور خور ياپه رشته كښے وي لكه دبنځے دنيكه خور يادونيكه خوريادترنيكه خور يادڅلورم نيكه خور داټولے تروريانے حرامے دي، هركله چه هغه ښځه دچاپه نكاح كښے وي.

اودغه شان درشتے ترور هغه ده چه دناني يعني دمور دمور خورزه وي، اوددوئ په حرام والي باندے اجماع ده، دعلمائے كرامو مګريويوټولے مبتدعه دخوارجو شيعه ګانو نه ددے خلاف كړے دے اودغه ګروپ ددے ايت نه احتجاج كړے دے. "وَاُحِلَّ لَكُمْ مَاوَرَاءَ ذٰلِكُمْ" اوجمهورو احتجاج كړے دے ددغه حديثونه اوتخصيص كړے دے جمهورو دعموم قران دهغه خبر احاد نه ځكه چه رسول الله ﷺ دوحي مبين يعني ظاهره ونكے دے، اودغه شان حرام دي دملك يمين نه جمع كول ددے ټولو په وطي كښے لكه څنګه چه حرام دي په نكاح كښے. اودغه حكم دے دټولو ښځو. چه دچاجمع كول په نكاح كښے منع دي هغوئ په وطي كښے دملك يمين نه هم منع دي.

(۳۳۳۹) عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه يقول نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم ان يجمع الرجل بين المرءة وعمتها وبين المرءة وخالتها قال ابن شهاب فرى خالة ابيها وعمه ابيها بتلك المنزلة. [راجع: ۳۳۳۸]

ترجمه: دابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے وائي چه منع كړے ده رسول الله ﷺ جمع كولو ديوسړي په مينځ دښځے اودپلار دخور دهغے كښې اوپه مينځ دښځے اودمور دخور دهغے كښې.

اوابن شهاب رضی الله عنه ونیلی دی چه مونږ پیژنو چه دبنځې دپلار دترور یعنی ـمور دخور اودبنځې، دپلار دپلار دخور هم دغه حکم دے۔

(۳۴۴۲) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم لایخطب الرجل علی خطبة اخیه ولایسوم علی سوم اخیه ولاتنکح المرأة علی عمتها ولاعلی خالتها ولاتسئل المرأة طلاق اختها لتکتفی صحفتها ولالتنکح فانما لها ماکتب الله لها۔ [ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی یو سړے دی دنکاح پیغام (یعنی خبر) نه لیګی دخپل رورد پیغام دپاسه (یعنی هرکله چه یو سړی پیغام لیږلے وی نو چه دکومے پورے دجینۍ دکور دطرفنه دنۀ ورکولو خبرنۀ وی راغلے دهغے پورے دی بل بنده هلته پیغام (یعنی قاصد) نۀ لیږی۔) اونۀ به بولی کوی دخپل وروریه بولۍ باندے اونه به په نکاح کښے راتلے شی یوه ښځه دخپلو دوارو دطرفنه تروریانو دپاسه اونۀ به طلاق غواړی یوه ښځه دخپلے بنے ددے دپاره چه راتوئ شی دے ته هغه څه چه دهغے چه رکابی کښے دی، (یعنی چه دهغے دحصے نان نفقه ماته میلاؤشی) اوپکار ده چه په نکاح کښے راشی، اوڅه چه الله جل جلاله دهغے په قسمت کښے لیکلی دی هغه دهغے دی، (یعنی دادی نۀ وائی چه فلانۍ ښځه ستاپه نکاح کښ ده هغے له طلاق ورکړه نوزۀ به درسره نکاح اوکړم۔)

(۳۴۴۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْه وَسَلَّم اَنْ تَنْکِحَ الْمَرْأَةُ عَلٰی عَمَّتِهَا اَوْخَالَتِهَا اَوْتَسْئَلَ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ اُخْتِهَا لِتَکْتَفِیْ مَافِیْ صَحْفَتِهَا فَاِنَّ اللّٰه رَازِقُهَا۔

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ ددے نه چه په نکاح کښے راوستے شی یو ښځه دهغے دمور دخور یادپلار دخوردپاسه، اومنع ئے کړے ده ددے نه چه طلب کړی یوه ښځه طلاق دخپے خور چه را واړوی ځان ته هغه څه چه دهغے په لوښی کښے دی اوا لله تعالی دهغے رازق دے۔





بَابُ تَحْرِيْمِ نِكَاحِ الْمُحْرِمِ وَكَرَاهَةِ خِطْبَتِهٖ۔

باب: دمحرم نکاح حرام دہ اوپیغام ورکول ئې مکروه دي۔

(۳۴۴۶) عَنْ عُثْمَانَ ابْنِ عَفَّانَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ لَا يُنْكَحُ وَلَا يَخْطُبُ۔ [ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دعثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت دے. وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلي دي چه نکاح دې نهٔ کوي محرم خپل اونهٔ دې نکاح کوي دبل چاداونهٔ دې خطبه ورکوي (یعنې دنکاح پیغام دې هم نهٔ ورکوي)۔

(۳۴۴۷) عَنْ نُبَيْهِ ابْنِ وَهْبٍ قَالَ بَعَثَنِيْ عُمَرُ ابْنُ عُبَيْدِاللّٰهِ ابْنِ مَعْمَرٍ وَكَانَ يَخْطُبُ بِنْتَ شَيْبَةَ ابْنِ عُثْمَانَ عَلَى إِبْنِهٖ فَأَرْسَلَنِيْ إِلَى أَبَانَ ابْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ عَلَى الْمَوْسِمِ فَقَالَ أَلَا أُرَاهُ أَعْرَابِيًّا أَنَّ الْمُحْرِمَ لَا يَنْكِحُ وَلَا يُنْكِحُ أَنْبَأَنَا بِذٰلِكَ عُثْمَانُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ۔ [راجع: ۳۴۴۶]

ترجمه: دنبیه بن وهب رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه زه عمر بن عبید الله رضی الله عنه اولیږلم اوهغه پیغام لیږلو دشیبه دلور سره دخپل ځوئ دنکاح نو هغوئ رضی الله عنه زهٔ دابان بن عثمان رضی الله عنه خواله اولیږلم اوهغه دحجاج حاکم وو، هغوئ رضی الله عنه ماته اوفرمائیل چه تالره زه ناپوهه ګنړم ځکه چه محرم نه خپل نکاح کولے شي اونهٔ دبل نکاح کولے شي. اوخبرراکړے دے ددے مونږ ته عثمان رضی الله عنه دجناب رسول الله ﷺ نه په دے شان سره۔

(۳۴۵۰) عَنْ نُبَيْهِ ابْنِ وَهْبٍ أَنَّ عُمَرَ ابْنَ عُبَيْدِاللّٰهِ ابْنِ مَعْمَرٍ أَرَادَ أَنْ يُنْكِحَ ابْنَهُ طَلْحَةَ بِنْتَ شَيْبَةَ ابْنِ جُبَيْرٍ فِي الْحَجِّ وَأَبَانُ ابْنُ عُثْمَانَ يَوْمَئِذٍ أَمِيْرُ الْحُجَّاجِ فَأَرْسَلَ إِلَى أَبَانَ إِنِّيْ قَدْ أَرَدْتُ أَنْ أُنْكِحَ طَلْحَةَ ابْنَ عُمَرَ فَأَحَبَّ أَنْ تَحْضُرَ ذٰلِكَ فَقَالَ لَهٗ أَبَانُ أَلَا أُرَاكَ عِرَاقِيًّا جَافِيًا إِنِّيْ سَمِعْتُ عُثْمَانَ ابْنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَنْكِحُ الْمُحْرِمُ۔ [راجع: ۳۴۴۶]

ترجمه: هم دغه مضمون دے کوم چه دنبیه رضی الله عنه نه پورته روایت شولو مګرپه دے کښې دازیاته ده چه ابان اووے چه زهٔ تالره عراقي دعقل نه خالي وینمه۔

فائده: مسلم رحمه الله اختلاف ذکرکړے دے چه نبي ﷺ چه دمیمونے رضی الله

عنها سره هرکله نکاح کوو نو هغویٰ ﷺ حلال وو یامحرم؟ اوعلماؤ اختلاف کړے دے، چه محرم له نکاح روادے یانهٔ دے؟ نو دمالك اوشافعی اواحمد اودجمهورو علماؤ رحمهم الله اوصحابه ؤ رضی الله عنهم قول دے چه دمحرم نکاح صحیح نهٔ دے، اوددے باب په روایتونو باندے ئے اعتماد کړے دے.

اوابو حنیفه رحمه الله اوکوفیانو وئیلے دی چه نکاح دمحرم جائز اوصحیح دے دمیمونے رضی الله عنها دحدیث نه اوجواب ورکړے دے جمهورو دمیمونے رضی الله عنها دحدیث چه نبی ﷺ دهغے سره سره نکاح په داسے حال کښے کړے دے چه هرکله هغویٰ ﷺ حلال وو اوصحیح روایت دغه دے .اودے لره روایت کړے دے اکثروصحابه ؤ رضی الله عنهم درسول الله ﷺ نه.

اوقاضی عیاض رحمه الله وغیره وئیلے دی. چه داحرام په حالت کښ نکاح کول دحضرت ﷺ دمیمونے رضی الله عنها سره دهیچانه روایت نشته سوا دابن عباس رضی الله عنه نه، اوحضرت میمونه رضی الله عنها اوابورافع رضی الله عنه وغیره نور روایت کوی چه نکاح کړے دے حضرت ﷺ دهغویٰ رضی الله عنها سره په داسے حالت کښے چه حضرت ﷺ حلال وو، اوهغویٰ ﷺ ددے قیصے نه ښه واقف وو ځکه چه میمونه رضی الله عنه خوپخپله بی بی ده اوخاص دهغے رضی الله عنها نکاح دے.

اوابورافع رضی الله عنه دابن عباس رضی الله عنهما نه اضبط دے، اودویم جواب ئے داورکړے دے چه دابن عباس رضی الله تعالی عنهما دقول یوتاویل داهم کیدے شی، اونکاح ئے اوکړو دهغے رضی اللهعنها سره کله چه حضرت ﷺ په حرم کښے وو اواګرچه حلال وو، اوخوك چه په حرم کښے وی هغویٰ ته هم محرم وئیلے شی، اګرکه په احرام کښے نهٔ وی اودالغت شائع اومعروف دے، ځکه خودعربو یوشاعر وائی، "قَتلوا ابن عَفَّانَ الْخَلِیْفَةَ مُحْرِمًا" یعنی قتل ئے کړو ابن عفان لره اوهغه رضی الله عنه محرم وو یعنی دمدینے په حرم کښے وو.

غرض دا چه مذهب دحنفیانو په څووجهو سره مردود دے اول دا چه نصوص قطعیه دشارع علیه السلام نهٔ خلاف دے، ځکه چه صراحتًا نبی ﷺ فرمائیلی دی چه محرم نه خپل

نکاح کولے شی نهٔ دبل۔ دویم داچه دجمهور علماؤ سلف اوخلف مخالف دے۔ دریم داچه پخپله دکومے بی بی رضی الله عنهجا نکاح شوے دے دهغے رضی اللهٔعنها دروایت نهٔ خلاف دے۔ خلورم داچه نهی دمحرم دنکاح قولی ده. اوجواب دهغے دفعل نه مستنبط دے، اوقول مقدم دے چه دخپل ځان اونورو دپاره یوشان دے. پخلاف دفعل چه په دے کښ ګمان ددے هم دے. چه کیدے شی دحضترت ﷺ دخصائصو نه وی. غرض داچه ددے وجے نه مسئله دحنفیانو سراسرباطله ده، ددے ټولو روایتونو مطلب دادے چه محرم داحرام په حالت کښے نهٔ په پخپله نکاح کولے شی نهٔ پخپل په ولایت سره دبل نکاح کولے شی کوم چه ولایت کاصه وی. لکه ځنګه چه خپلوانو ته وی یاولایت عامه وی لکه چه بادشاه ته کیږی. اودغه پوخ قول دے، اوهرکله چه دامعلومه شوه نوپوه شه چه کچرے هرچاچه داحرام په حالت کښے نکاح اوکړو په خپل ولایت سره یاپخپله ئے خپل نکاح اوکړو نو هغه باطل دے، تردے پورے چه که ښځه خاوند حلال هم وی اووکیل په هغوی کښے محرم وی بیا هم نکاح باطل دے نووی رحمه الله په اختصار سره.

(۳۴۵۱) عن ابن عبّاسٍ رَضِیَ اللهُ تعالی عَنهُما اَخبَرَهُ اَنّ النّبیَّ صَلّے اللهُ عَلَیهِ وسلّم تزوّج وهُوَمُحرمٌ زَادَ ابنُ نُمیرٍ فحدّثتُ به الزُّهریَّ فَقالَ اَخبرَنِیْ یَزِیدُ ابنُ الاَصمّ رَضِیَ اللهُ تعالی عنهُ انّهُ نکحهَا وهُوَحَلالٌ.

[بخاری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ نکاح اوکړه اوهغوی ﷺ محرم وو (یعنی په حرم کښے وو) اوابن نمیر پکښں دازیاته کړه وائی چه بیاماز هری رضی الله عنه ته بیان کړو دغه حدیث نو هغوی رضی الله عنه اووے خبراکړے دے ماله یزید بن اصم رضی الله عنه چه حضرت ﷺ نکاح اوکړو اوهغوی ﷺ حلال وو۔

فائده: غرض داچه دابن عباس رضی الله عنهما په مقابله کښں دیزید رضی الله عنه اوداصحابو رضی الله عنهم روایتونه راغلل اوپه دواړو کښے تعارض اوپیږندلے شو اوپه دے سره هغه ساقط کړلے شو، اواحادیث قولی درسول الله ﷺ واجب العمل پاتے شو، اومذهب حنفیه بے دلیله کړے شو۔

(۳۴۵۳) عن یزید ابن الاصم قال حدثتنی میمونة بنت الحارث رضی الله تعالی عنها ان رسول الله صلی الله علیه وسلم تزوجها وهو حلال قال وکانت خالتی وخالة ابن عباس رضی الله تعالی عنهما. [ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دیزید بن اصم رضی الله عنه نه روایت دے وای چه ماته میمونے بنت حارث رضی الله عنها پخپله بیان فرمائیلے دے، چه دهغوی رضی الله عنها سره نکاح اوکړو رسول الله ﷺ اوهغوی ﷺ حلال وو اومیمونه رضی الله عنها زما اودابن عباس رضی الله عنهما دواړو ترور وه۔

فائده: ولے حنفیه ؤ رونړو لرپه غوره سره خیال اوکړئ. چه دبنځے اوخاوند خبره دی نۀ قبلیږی اودنورو په خبره باندے دی عمل وی داځنګه خبره ده، اونصوص قطعیه درسول الله ﷺ چه کوم ناکح دے دهغوی مخالفت دی اوکړے شی اومیمونے رضی الله عنها چه پخپله منکوحه ده دهغے تکذیب دی اوکړے ش، اودابن عباس رضی الله عنهما قول دی مقبول وی داسراسر دانصاف نه خالف اوبنکاره ظلم اواعتساف دے۔

بَابُ تَحْرِيمِ الْخِطْبَةِ عَلٰے اَخِيهِ حَتّٰى يَأْذَنَ اَوْيَتْرُكَ۔

باب: دیوروړ دپیغام دپاسه ترڅوپورے چه هغه جوابی شوے نۀ وی دهغے پورے پیغام ورکول روانۀ دی۔

(۳۴۵۴) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال لایبع بعضکم علی بیع بعض ولایخطب بعضکم علی خطبة بعض. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی بیعه دی نه بنائی بعضے ستاسو نه په بیعه دبعضے نوروباندے. اونۀ دی پیغام ورکوی بعضے ستاسو نه دبعضے نوروپه پیغام باندے۔

فائده: یعنی یو(مسلمان) رور یو څیز چرته خرڅ کړو نوبل لره دالازم نۀ دی چه دهغه څیز واپس کړی اوخپل پرے ورخرڅ کړی دغه چه یو کس یوے بنځے ته سغام دنکاح اولیږو

نو دکومې پورې چه هغې ده پیغام رد کړې نۀ وی د هغې پورې بل سړې دی ورپسې سوال جواب نۀ لیږی، او دا احادیث د پیغام په حرامیدو باندې واضح دلیلونه دی. او د علماؤ ددې په حرامیدو باندې ددې وجې نه اجماع راغلې چه که دغه وخت هغې ښځې اول یغام قبول کړې وی، او ددې دپاسه پرې بل سړې نکاح اوکړی نو دا سړې ګنهګار شو مګر نکاح نې صحیح دې، او فسخ کیږی به نۀ، او دغه ..... مذهب دې دشافعی رحمه الله او جمهورو علماؤ ،او داؤد ظاهری رحمه الله وئیلی دی، چه نکاح ئې فسخ دې او دامام مالك رحمه الله نه دوه روایتونه دی، او دیو مالکی جماعت قول دې چه مخکښې ددخول نه فسخ کیږی او ددخول نه ورستو نۀ فسخ کیږی.

(۳۴۵۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَایَبِعِ الرَّجُلُ عَلٰی بَیْعِ اَخِیْهِ وَلَایَخْطُبُ عَلٰی خِطْبَةِ اَخِیْهِ اِلَّا اَنْ یَّأْذَنَ لَهٗ. [ابن ماجه]

ترجمه: دابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دې وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی، چه نۀ دې خر وسوی یو سړې دبل په بیعه دپاسه اونۀ دې دنکاح پیغام ورکوی دبل دنکاح دپیغام دپاسه مګر هله چه اجازت ورکړی هغه ړومبی پیغام والا چاته، او دا روایت دعبیدالله رضی الله عنه اونافع رضی الله عنه نه په دغه سند سره مروی شوې دې.

فائده: په دې باندې اتفاق دې. چه هرکله اول پیغام ورکونکې دوئیم لره اجازت ورکړی یا هغه په څه خبره ستومانه شی او ددغه ښځې دغوښتلو نه قلار شی نو بیا بل لره پیغام ورکول یعنی دغې ښځه ته دغوښتلو دپاره قاصد لیږل روا دی.

(۳۴۵۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یَّبِیْعَ حَاضِرٌ لِّبَادٍ اَوْیَتَنَاجَشُوْا اَوْیَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلٰی خِطْبَةِ اَخِیْهِ وَلَاتَسْئَلِ الْمَرْءَةُ طَلَاقَ اُخْتِهَا لِتَکْتَفِیَ مَافِیْ اِنَآئِهٖ اَوْمَا فِیْ صَحْفَتِهَا زَادَ عَمْرٌوفِیْ رِوَایَتِهٖ وَلَایَسُمِ الرَّجُلُ عَلٰی سَوْمِ اَخِیْهِ. [بخاری ، ابو داود ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دې وائی چه نبی ﷺ منع فرمائیلې ده ددې نه چه ښهر والا دی مال خرخ کړی دکلی والا. او منع ئې فرمائیلې ده ددې نه چه په خپلو کښې مکر فریب کوی او ددې نه چه پیغام دنکاح ورکړی څوك دخپل زور په پیغام باندې، یا خرخ اوکړی څوك

دخپل رورپه بيعه باندے، اونۀ دی طاق غواړی يوه ښځه دخپلے خور په حق کښے ددے دپاره چه راتوئ کړی ځان ته هغه څه چه دهغے په رکابی کښے دی. زياته کړے ده عمرو رحمة الله عليه پخپل روايت کښے اوبولی دی نۀ کوی خوك دخپل رورپه بولئ باندے.

فائده : کلی والا چه هرکله راځی نوپه ښهرکښے په ارزان قيمت څيزونه خرڅوی. په دے کښے دښهر والاؤ فائده ده، اوښهر والا چه هرکله په هغوئ باندے څه څيز خرڅوی نو هغه خو چونکه دښهردنرخ نه واقف وی نوخپله نفع کوی اوګرانے خرڅوی، په دے کښ ديونفع اودډيرو نقصان وی، ځکه ددے نه حضرت ﷺ منع اوفرمائيله.

اولاړ هياپن دادے چه په دهوکه دروغه باندے ځان ديوشی خريدار جوړکړی دزيات قيمت لګولو دپاره چه بل هغه لره خريدار اوګنړی اوقيمت زيات اداکړی اودهوکه شی ددے نه هم حضرت ﷺ منع اوفرمائيله اويوبنده په يو څيزباندے قيمت اوښائی اوتۀ پرے بولی اوکړے نوپه خپلو کښ به نفسانيت يعنی کينه اوحسد پيداشی، باقی شرح پورته تيره شوله.

(۳۴۶۴) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ شُمَاسَةَ اَنَّهٗ سَمِعَ عُقْبَةَ ابْنَ عَامِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَلَی الْمِنْبَرِيَقُوْلُ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْمُؤْمِنُ اَخُوالْمُؤْمِنِ فَلَايَحِلُّ لِلْمُؤْمِنِ اَنْ يَّبْتَاعَ عَلٰی بَيْعِ اَخِيْهِ وَلَايَخْطُبُ عَلٰی خِطْبَةِ اَخِيْهِ حَتّٰی يَذَرَ. [ابن ماجه]

ترجمه : دعبدالرحمن بن شماسه رضی الله عنه نه روايت دے چه هغوئ رضی الله عنه دعقبه بن عامر رضی الله عنه نه اوريدلی دی چه هغوئ رضی الله عنه په منبرباندے وئيلو چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه مؤمن بنده دمؤمن رور دے، پس روانۀ دی يو مؤمن لره چه څه خرڅ کړے ديو مؤمن په بيعه باندے، اونه داروا دی چه خطبه اوکړی، يعنی سوال جواب وراوليږی ديورور دسوال جواب دپاسه دکومے پورے چه هغه پريخودے نۀ وی.

فائده : درور په قيد سره داخبره رنړه شوه چه دکافرپه پيغام باندے مسلمان پيغام ورکولے شی، مثلا نصرانيه ښځے له يهوديه ښځے لره چاکافرپيغام اوليږونوبل مسلمان دے ښځے لره پيغام ليږلے شی، په خلاف ددے چه ړومبے پيغام ورکونکے مسلمان وی.

بابُ تحریمِ نکاحِ الشِّغارِ وبطلانِہٖ۔

باب دشغار دنکاح بطلان

(۳۴۶۵) عن ابنِ عمر رضی اللہ تعالیٰ عنہما انّ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم نہی عنِ الشِّغارِ والشِّغار ان یُزوّجَ الرّجلُ ابنتہٗ علیٰ ان یُزوّجہٗ ابنتہٗ ولیس بینہما صداق۔ [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ،نسائی ، ابن ماجہ]

ترجمہ: دحضرت ابن عمر رضی اللہ عنہما نہ روایت دے وائی چہ رسول اللہ ﷺ منع فرمائیلے ده دشغار دنکاح نہ او هغه دا وو چه یو سړی به خپله لور بل ته په دے اقرار سره واده کوله چه هغه به هم خپله لور ده ته واده کوی او مهر به د دواړو نۀ وی۔

(۳۴۶۸) عن ابنِ عمر رضی اللہ تعالیٰ عنہما انّ النبیّ صلی اللہ علیہ وسلم قال لاشغار فی الاسلام.

ترجمہ: دابن عمر رضی اللہ عنہما نہ روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی شغار نشته دے په اسلام کښے۔

(۳۴۶۹) عن ابی ھریرۃ رضی اللہ تعالیٰ عنہ قال نہی رسولُ اللہ صلی اللہ علیہ وسلم عنِ الشِّغارِ زادَ ابنُ نمیرٍ والشِّغارُ ان یقولَ الرّجلُ زوّجنی ابنتک واُزوّجک ابنتی اوزوّجنی اُختک اُزوّجک اُختی.

[نسائی ، ابن ماجہ]

ترجمہ: دابو هریره رضی اللہ عنہ نہ دغه مضمون روایت شوے دے او دابن نمیر رضی اللہ عنہ په روایت کښے دا دی چه شغار دادے چه سړے چاته اووائی چه ته خپله لور ماته واده کړه زۀ به خپله لور تاته واده کړم، یا ماته خپله خور واده کړه چه زۀ خپله خور تاته واده کړم۔

فائده: غرض دا چه په دغه نکاح کښے به په ښځولوئے ظلم کیدلو چه د دواړو مفت خورو خوواده اوشولو او دښځو غریبانو مهر اوو هلے شو، او دا په اجماع دامت منع دی، او دامام احمد لو اسحق او دابی عبیده نه خطابی رحمهم اللہ نقل کړے دی چه کچرے څوك اوس هم دا نکاح اوکړی نو باطل دے، او امام مالك رحمه اللہ فرمائیلی دی چه مخکښے ددخول نه هغه فسخ کیږی، او په یو روایت کښے دی چه مخکښے ددخول نه فسخ دے نۀ ورستو، او یو جماعت

ونیلی دی چه نکاح ئے صحیح دے اومهرمثل لازمیږی په دواړوباندے اوداقول دحنفیه ؤ رحمهم الله دے۔

(۳۴۷۰) عَنْ عُبَیْدِاللهِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَمْ یَذْکُرْ زِیَادَةَ ابْنِ نُمَیْرٍ [راجع: ۳۴۶۹]

ترجمه: دعبید الله نه په دغه اسناد سره هم دغه مضمون روایت دے، اودابن نمیر رضی الله عنه زیات کړے شوے مضمون په دے کښې نشته دے۔

بَابُ الْوَفَاءِ بِالشُّرُوْطِ فِی النِّکَاحِ۔

باب دنکاح دشرطونو پوره کولو بیان۔

(۳۴۷۲) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَحَقَّ الشُّرْطِ اَنْ یُوْفٰی بِهٖ مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوْجَ هٰذَا لَفْظُ حَدِیْثِ اَبِیْ بَکْرٍ وَابْنِ مُثَنّٰی غَیْرَ اَنَّ ابْنَ مُثَنّٰی قَالَ الشُّرُوْطِ.

[بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دعقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دټولو شرطونو نه زیات دپوره کولو مستحق هغه شرطونه دی چه په هغے سره تاسوفرجونو لره حلال کړے دی، یعنی دنکاح شرطونه اودابن مثنی رضی الله عنه په روایت کښې دشروط لفظ دے۔

فائده: دعلماؤ په نزد ددے نه هغه شرطونه مراد دی چه هغه دنکاح منافی یعنی منع کونکی نهٔ وی، بلکه دمقاصدو دنکاح نه وی، لکه خوش خلقی کول دښځوسره، یاددستور موافق نان نفقه ورکول اویاداچه کپړه ورکول، اودښځے دطرفنه دقبلېدو شرط دادے چه بے دسړی داجازت نه دکور نه بهرنهٔ وتل. اوچه داسے شرط نهٔ وی چه په هغے کښې دچاشرعی حق اووهلے شی، اوخلاف دشریعت نه نهٔ وی، مثلاً کچرے ښځه داشرط لګوی چه دقبرونو زیارت له به ځم. اوهلته به شیرینی وغیره خورم، یابه په محرم کښې دتعزیت کونکو لیدوله ځم، نوداسے شرط پوره کول هیڅکله ضروری نهٔ دی که چرے داسے په زرګونو شرطونه ولے نهٔ وی، ځکه چه په حدیث کښې راغلے دی، کوم شرط په کتاب دالله یعنی قران پاك کښې نهٔ وی هغه باطل دے۔

بَابُ اسْتِيْذَانِ الثَّيِّبِ فِى النِّكَاحِ بِالنُّطْقِ وَالْبِكْرِ بِالسُّكُوْتِ۔

باب دیوځل نکاح شوې ښځې اجازت ورکول په ژبه سره دی اودناواده شوې جینۍ په سکوت سره۔

(۳۴۷۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاتُنْكَحُ الْاَیِّمُ حَتّٰی تُسْتَاْمَرَ وَلَاتُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتّٰی تُسْتَاْذَنَ قَالُوْا یَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَكَیْفَ اِذْنُهَا قَالَ اِنْ تَسْكُتَ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه دیوځل نکاح شوے زنانه نکاح نۀ کیږی دکومے پورے چه دهغے نه اجازت اخستے شوے نۀ وی، اودناواده شوے جینئ هم نکاح نه کیږی دکومے پورے چه دهغے نه اذن اخستے شوے نۀ وی، خلقو عرض اوکړو یارسول الله ﷺ! دناواده شوے نه به اذن څنګه اخستے شی، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اذن دهغے چپ پاتے کیدل دی۔

فائده: دیوځل نکاح شوے نه مراد دادے چه دوړومبی نکاح نه پس مطلقه وی یاکنډه وی، اودباکرے نه مراد هغه جینئ ده چه نکاح ئے هډوشوے نۀ وی۔

(۳۴۷۵) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا تَقُوْلُ سَاَلْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْجَارِیَةِ یُنْكِحُهَا اَهْلُهَا اَتُسْتَاْمَرُ اَمْ لَا فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ تُسْتَاْمَرُ فَقَالَتْ عَآئِشَةُ فَقُلْتُ لَهُ فَاِنَّهَا تَسْتَحْیِیْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذٰلِكَ اِذْنُهَا اِذَاهِیَ سَكَتَتْ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دجناب حضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها نه روایت دے فرمائی مادرسول الله ﷺ نه پښتنه اوکړه چه یوه جینۍ داسے وی چه دهغے نکاح دهغے کور والا کوی (یعنی ولی خلق) نوایا ددے نه به هم اجازت اخستے شی؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه هاں اجازت به اخستے شی، بیا هغوئ رضی الله عنه اوفرمائیل چه که هغه شرم کوی، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه اجازت دهغے دادے چه چپ پاتے شی (یعنی په ژبه سره هاں، هوں ،وئیل ضروری نۀ دی۔

(۳۴۷۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْاَیِّمُ اَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِیِّهَا

وَالْبِكْرُ تُسْتَاذَنُ فِیْ نَفْسِهَا وَاِذْنُهَا صُمَاتُهَا قَالَ نَعَمْ : [ابو داود ، نسائی ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه : دابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے فرمائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه بیوه ښځه په خپل نکاح کښے دخپل ولی نه زیات حق لری، اودجینئ یعنی باکرے نه دی دهغے په نکاح کښ اجازت اخستے شی اواجازت دهغے چپ پاتے کیدل دی۔

(۳۴۷۸) عَنْ سُفْيَانَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ الثَّيِّبُ اَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ يَسْتَاذِنُهَا اَبُوْهَا فِیْ نَفْسِهَا وَاِذْنُهَا صُمَاتُهَا وَرُبَّمَا قَالَ وَصَمْتُهَا اِقْرَارُهَا. [راجع : ۳۴۷۶]

ترجمه : دسفیان رضی الله عنه نه په دغه سند سره روایت چه حضرت ﷺ اوفرمائیل بیوه دخپل ځان زیاته حقداره ده دخپل ولی نه (یعنی دنکاح اختیارمنده ده) اودجینئ یعنی باکرے نه به دهغے پلار دهغے دذات دپاره اجازت اخلی، اواجازت دهغے چپ پاتے کیدل دی، اوبعضے وخت راوی وئیلے دی چه دهغے چپ پاتے کیدل لکه چه اقرار کول دی۔

فائده: ددے روایتونو معنے شافعی اوابن لیلے اواحمد اواسحق رحمهم الله وغیره نورو دغه ورکړے ده چه دناواده شوے جینئ نه په نکاح کښے اجازت اخستل ضروری دی، اوموٰمر به دے، اوکه ولی ئے پلار یانیکه وی نو اجازت اخستل ترے مستحب دی، اوکه بغیرداجازت نه ئے نکاح اوکړو نو هم صحیح دے، ځکه چه پلار اونیکه ته شفقت کامله دے، پس هغوئ چرته هم دخپل بچی نقصان نهٔ غواړی، اودپلار نیکه نه سوا دبل ولی بغیرداجازت نه نکاح کول درست نهٔ دی، اواوزاعی رحمه الله اوابو حنیفه رحمه الله وئیلے دی، چه اجازت واجب دے، دهرے نلواده شوے بالغے جینئ نه اودپیغلے نه اجازت اخستل دهغے چپ پاتے کیدل دی، لکه څنګه چه داحادیثو نه معلومه شوے ده، اوکچرے پیغله جینئ نهٔ وی دهغے نه په ژبه سره اجازت اخستل ضروری دی۔

بَابُ جَوَازِ تَزْوِيْجِ الْاَبِ الْبِكْرَ الصَّغِيْرَ۔

باب پلار له روادی چه دوړے جینئ ناواده شوے نکاح اوکړی۔

(۳۴۷۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ تَزَوَّجَنِیْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَا بِنْتُ سِتِّ سِنِيْنَ وَبَنٰی بِیْ وَاَنَا بِنْتُ تِسْعِ سِنِيْنَ قَالَتْ فَقَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ فَوُعِكْتُ شَهْرًا فَوَفَا شَعْرِیْ جُمَيْمَةً فَاَتَتْنِیْ اُمُّ رُوْمَانَ وَاَنَا

علٰی اُرْجُوحَةٍ ومعی صواحبی فصرخت بی فاتیتها وما ادری ماترید بی فاخذت بیدی فاوقفتنی علی الباب فقلت هه هه حتی ذهب نفسی فادخلتنی بیتا فاذا نسوة من الانصار فقلن علی الخیر والبرکة وعلی خیر طائر فاسلمتنی الیهن فغسلن رأسی واصلحتنی فلم یرعنی الا ورسول الله صلی الله علیه وسلم ضحی فاسلمتنی الیه. [بخاری]

ترجمه: دجناب عائشے صدیقے رضی الله عنها نه روایت دے دمسلمانانو مور فرمائی چه نکاح اوکړه زماسره رسول الله ﷺ اوزهٔ دشپږو کالو وم. اوبو ځائے شو زماسره چه زهٔ دنهو کالو وم. اوفرمائی چه بیازهٔ مدینے ته راغلم اوهلته په ماتبه راغله دیوے میاشتے پورے اوبیاز ماویښته دغوږونو پورے لوئے شول (یعنی ورستو ددے نه چه په مرض کښے ختلی وو) بیا درومان مور څماخواله راغله (دادجناب عائشے صدیقے رضی الله عنهما مور ده) اوزهٔ په ټال ناسته وم اوزماسره زمالګرے هم دے اوهغوئ رضی الله عنهن ماته آواز اوکړو اوزهٔ دهغوئ خواله راغلم. اوزهٔ نه پوهیدم چه ماولے راغواړی، پس هغوئ رضی الله عنهن زمالاس اونیوو اوزهٔ ئے په دروازه کښے اودرولم اوماهاه هاه کولو. (لکه څنګه چه دچاساه راولاړشی) تردے پورے چه زماساه بے واره کیدل بند شولو. اوزه هغے رضی الله عنها یو کور ته بوتلمه. اوهلته دانصارو یو څو ښځے وے اوهغوئ اووے الله جل جلاله دخیراوبرکت اوکړی اوتالره دی حصه وی دخیرنه. غرض داچه زماموررزهٔ هغوئ ته اوسپارلم اوهغوئ زماسروینځلو اوسنبال ئے کړم اوماته نوره څه ویره نهٔ ده محسوسه شوے. چه دڅاښت په وخت کښ رسول الله ﷺ راغے اوزهٔ ئے هغوئ ﷺ ته اوسپارلم.

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه دورے جینئ نکاح درست دے بغیر داجازت نه اوپه دے باندے اجماع ده. دمسلمانانو چه پلار کچرے په وړوکوالی کښے نکاح کړے دے نوورستو دبلوغ نه جینئ ته دفسخ کولو اختیار نشته دامام مالك رحمه الله اوشافعی رحمه الله اودتمامو فقهاؤ دحجاز په نزد، اواهل عراق وئیلے دی چه ورستو دبلوغ نه هغے ته دفسخ کولو اختیار دے، اوپلار. نیکه نه سیوا نورو ولیانو ته نکاح کول دجینئ دماشوم والی په حالت کښے روانهٔ دی. دامام شافعی اوثوری اومالك اوابن ابی لیلے اواحمد اوثور رحمهم الله اوجمهورو

په نزد، بلکه دغه خلفو وئیلي دي چه کچرې دې خلفو نکاح وکړه نو صحیح به دې.

او اوزاعي اوابو حنیفه اونورو فقهاؤ رحمهم الله وئیلي دي چه ټولو ولیانو لره روا دي چه په وړوکوالي کښې نکاح اوکړي. مګر هرکله چه هغه پیغله شي نو هغې ته دفسخ کولو اختیار شته. مګر دابویوسف رحمه الله په نزد اختیار نشته دې او دجمهورو معنی دې چه وصیت شوې پردې سړي به په وړوکوالي کښې نکاح نه کوي. اوشافعي رحمه الله اودهغه ملګرو وئیلي دي چه مستحب دي چه مخکښې دبلوغ نه نکاح ونه کړي ځکه چه کیدې شي داسې نۀ وي چه دخاوند په دام کښې اونښلي.

اوداحدیث دحضرت عائشې رضي الله عنها خلاف نۀ دې ځکه چه که څه مصلحت ظاهرنه وي نو څه ضرورت نشته دې مخکښې دبلوغ نه دانکار کولو اوکوم ځائې کښې چه څه مصلحت وي هلته څه باک نشته دې. ځکه چه پلار نه هم حکم دې چه دځپل اولاد دخیرخواهي به کوي. باقي پاتې شوزفاف یعني یو ځائې کیدو وخت. کچرې متفق سي خاوند اودجیني ولي نودوړوکوالي سره هم یو ځائې بدل روادي. اوکچرې اختلاف يې وي نودهمد اوابوعبید رحمهما الله قول دې چه دنهو کالو په جینئ باندې ضم کیږي سي نو ځائې کیدو دپاره اونه ددې نه په وړه باندې اوامام مالك رحمه الله اوشافع رحمه الله وئیلي دي چه اصل حد دهغې دادې چه هغه طاقت دجماع لري اوداطاقت دسخو سره جدا جدا وي. اوپه دې کښې دڅه کلونو قید نشته دې، اودغه صحیح دې. اوپه دې روایت کښې دجناب عائشې صدیقې رضی الله عنه نۀ څه دحد مقرر تیانشته دې اونه دهغې رضی الله عنها نه منع ذکرشوې ده چه دنهو کالو نه په کم عمر کښې منع دې یاددې نه په زیاته کښې نشته.

اوداودي وئیلي دي چه جناب دمؤمنانو مور حضرت عائشې رضی الله عنها به خوانه شوې وه په نهو کالو کښې. اوپه ځنې روایتونو کښې اووه کاله هم راغلي دي دنکاح دحضرت عائشې رضي الله عنها نو تطبیق په دې کښې داسې دې چه دسپرو کالو سره څه زیات شوي و نو چرته نې کال فرمائیلي دې اوریاتوالي نې حذف کړې دې. اوچرته نې اووه فرمائیلي دي اوکمې نې پورې شمار کړې دې.

اوددے حدیث نہ معلومہ شوہ چہ دناوے سنگارہ ول مستحب دی اوجمع کیدل دښځو هم ځکه چه په دے کښے دنکاح اعلان هم کیدے شی، اوډښځوپه میلاویدو سره دغے ناوے ته خوشحالی اومحبت حاصلیږی، اوهغے ته دکوروالی طریقے هم ښائی، اوددے حدیث نه ثابته شوه چه کوروالے دښځواوصحبت دورځی هم درست دے لکه څنگه چه دشپے دے۔

(۳۴۸۰) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ زَوَّجَنِیَ النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَابِنْتُ سِتِّ سِنِیْنَ وَبَنٰی بِیْ وَاَنَا بِنْتُ تِسْعٍ۔

ترجمه: دجناب عائشے صدیقے رضی الله عنها نه روایت دے فرمائی چه زماسره عقد اوکړو رسول الله ﷺ کله چه زه دشپږوکالو وم، اوهم بستری ئے اوکړه څماسره کله چه زه دنهوکالو وم۔

(۳۴۸۱) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَهِیَ بِنْتُ سَبْعِ سِنِیْنَ وَزُفَّتْ اِلَیْهِ وَهِیَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِیْنَ وَلُعَبُهَا مَعَهَا وَمَاتَ عَنْهَا وَهِیَ بِنْتُ ثَمَانَ عَشْرَةَ۔

ترجمه: دحضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها نه روایت دے چه عقد اوکړو دهغوئ رضی اللهٔعنها سره رسول الله ﷺ هرکله چه داوه ؤ کالو وه، اوهمبستری ئے اوکړه هرکله چه دنهوکالو وه، اوگوډئ دهغوئ رضی الله عنها دهغوئ سره وے، اووفات اوموندو رسول الله ﷺ هرکله چه دهغوئ رضی اللهٔعنها عمراتلس کاله وو۔

فائده: په دے حدیث کښے دهغوئ رضی الله عنها دوېرے کم عمرئ بیان دے، چه دنینزکو پورے ورسره وے،اوددے حدیث نه گوډئ لوبول درست شول، اوپه بل روایت کښے راغلی دی چه حضرت ﷺ هغه گوډئ اولیدے اومنع ئے، اونهٔ فرمائیله اوپه دے کښ تربیت کیدے شی دجینکو اودکورنی دضروریاتو په ښه طریقه چلولو ورته په دے سره پوهه حاصلیږی۔

اوداهم احتمال دے چه کیدے شی داخاص وی دهغه احادیثونه چه په هغے کښ دتصویرونو ساتل منع دی، اوداهم احتمال دے چه دادگوډو قیصه دتصویرونو دحرامیدونه مخکښ وی اوبیا چه هرکله تصویرونه حرام شول نو هغه گوډئ هم حرامے شوے. یاچه په هغے

کوډئ باندے څه تصویرنۀ وی خو صرف لرګی ئے په یوه چرړه کښے کړے وی ۔والله اعلم بالصواب۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ التَّزَوُّجِ فِیْ شَوَّالٍ وَالدُّخُوْلِ فِیْهِ۔

باب دعقد اوزفات یعنی همبستریٔ دوړوکی اخترپه میاشت کښے مستحب کیدل۔

(۳۴۸۳) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَ تَزَوَّجَنِیْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ شَوَّالٍ وَبَنٰی بِیْ فِیْ شَوَّالٍ فَاَیُّ نِسَآءِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَانَ اَحْظٰٓی عِنْدَهُ مِنِّیْ قَالَ وَکَانَتْ عَآئِشَةُ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا تَسْتَحِبُّ اَنْ تُدْخَلَ نِسَآءُهَا فِیْ شَوَّالٍ. [ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه عقد اوکړو زماسره رسول الله ﷺ دوړوکی اخترپه میاشت کښے، اوهم بستری ئے اوکړه زماسره دوړوکی په میاشت کښ پس هغه کومه بی بی وه درسول الله ﷺ چه زیاته خوښه ئے وه ځمانه (یعنی نۀ وه) اوجناب عائشے رضی اللہ عنها به داغوره ګنړله چه دهګے دقبیلے دښځوسره دی دوړوکی اخترپه میاشت کښے همبستری اوکړے شی، اوونیلے دی مسلم رحمه الله چه روایت کړے دے مونږ ته ابن نمیر رضی الله عنه اوهغوئ رضی الله عنه ته خپل پلار اوهغوئ رضی اللہ عنه ته سفیان په دغه اسناد سره اونۀ ئے دی ذکرکړی په دے کښے چه جناب عائشے رضی اللہ عنها به غوره ګنړله چه دهغے دقبیلے دښځوسره دی په شوال کښے همبستری اوکړے شی۔

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه دشوال یعنی وړوکی اخترپه میاشت کښے عقد اوهمبستری کول مستحب اومبارك دی، اوځنے جاهلان شرك شعار چه ددے نه منحوس دی هغه پخپله منحوس مکهی چوس بلکه متیاپوس دی اودهغوئ عقیده دجاهلیت دښښونه ده۔





باب ندب من اراد نکاح امرأة الی ان ینظر الی وجهها وکفیها قبل خطبتها۔

باب ځوک چه دیوې ښځې سره دنکاح اراده لري نوهغوئ لره مستحب دي چه دهغې مخ اوورغوي دلاسونو اووینې۔

(۳۴۸۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللہ تعالٰی عَنْهُ قَالَ کُنْتُ عِنْدَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَاهُ رَجُلٌ فَاَخْبَرَهُ اَنَّهُ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَظَرْتَ اِلَیْهَا قَالَ لَا قَالَ فَاذْهَبْ فَانْظُرْ فَاِنَّ فِیْ اَعْیُنِ الْاَنْصَارِ شَیْئًا. [نسائی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے وای چه زۀ دنبی ﷺ سره وم چه یو سړے راغے اوحضرت ﷺ له ئے خبر ورکړو چه ده عقد کړے دے دانصارو دیوې ښځې سره، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا هغه لیدلې هم ده؟ هغه رضی الله عنه اووے نۀ. حضرت ﷺ اوفرمائیل چه لاړشه اوهغه اووینه ځکه چه .ځکه چه دانصارو دزنانه ؤ په سترګو کښې څه وی (یعنی عیب)

(۳۴۸۶) عن ابی هریرة رضی اللہ تعالی عنه قال جاء رجل الی النبی صَلَّی اللّٰهُ علیه وَسَلَّمَ فقال انی تزوجت امرأة من الانصار فقال له النبی صلی الله علیه وسلم هَلْ نظرت اِلَیْهَا فَاِنَّ فِیْ عُیُوْنِ الْاَنْصَارِ شَیْئًا قال قد نظرت الیها قال علی کم تزوجتها قال علی اربع اواق فقال له النبی صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ علی اربع اواق کانما تنحتون الفضة من عرض هذا الجبل ماعندنا مانعطیک ولکن عسی ان نبعثک فی بعث تصیب منه قال فبعث بعثا الی بنی عبس فبعث ذاک الرجل فیهم. [راجع: ۳۴۸۵]

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے، وائی چه یو سړے دنبی ﷺ خواله راغے اواوئے وئیل چه مادانصارو دیوې ښځې سره عقد کړے دے. حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل تا به هغه لیدلے هم وه ځکه چه دانصارو په سترګو کښې څه عیب هم وی هغه سړی اووے مالیدلې ده حضرت ﷺ اوفرمائیل به څومره مهر باندے؟ هغه اووے په څلور اوقیه سپینو زرو باندے .حضرت ﷺ اوفرمائیل په څلور اوقیه ؤ باندے. لکه چه تاسو خلق ددے غرنه سپین زرکنئ؛

اوراوړئ، (يعنى هركله چه تاسو دومره زيات مهرمقرره وئ) اوز مونږ سره نشته دے چه مونږ ئے تاسوله دركړو مګراوس مونږ ديولښكرسره تالره ليږو چه په هغے كښے به تاته دغنيمت حصه ميلاؤشي اوقبيله بنى عبس په طرف حضرت ﷺ لښكر اوليږلو اودهغے سره ئے هغه سړے هم اوليږلو.

فائده : يعني دانصارو دښځو سترګے كيدے شي چه وړے وي يانه هغے كښ شين والے وي، اودے حديث نه معلومه شوه چه دخيركواهي دپاره داسے خبره كول روا دي اوپه غيبت كښ داخل نۀ دي، كوم چه منع دے.

اوداهم معلومه شوه چه دكومے ښځے سره دنكاح اراده وي دهغے ليدل مستحب دي اودغه مذهب دے زمونږ اودمالك اوابوحنيفه رحمهم الله اوتمامو كوفيانو اوجماهير علماؤ اوكوم خلق چه ددے مخالف دي هغوئ په خطاء باندے دي، اومذهب دمالك اواحمد رحمهم الله اوجمهورو دادے چه په ليدوكښے ددغه ښځے رضا ضروري نۀ ده، بلكه دغفلت يعني بے پروايئ په وخت ك،بے ناكح يعني نكاح كونكے هغے لره ليدے شي اوزمونږ دملګرو په نزد مستحب دي چه مخكښے دپيغام وركولو نه هغے لره اووينى، ددے دپاره چه ورستو دپيغام وركولو نه څه دناخوښئ صورت پيدانۀ شي، اوداهم زمونږ دملګرو په نزد مستحب دي. اوكچرے نكاح كونكے ئے پخپله نۀ شي ليدے نوڅوك معتبره ښځه دي وراوليږي چه هغه ئے پخپله اووينى اوده لره خبر وركړي۹ اوداچه كوم حضرت ﷺ اوفرمائيل چه تاسولكه چه سپين زر په غركښ كنئ اوراوړئ، دالكه حضرت ﷺ ددغه سړي په نسبت دمهرزياتوالے مكروه اوګڼړو څكه چه هغه مفلس وو ددے نه معلومه شوه چه مهردسړي دحيثيت موافق مقرره ول پكار دي، اونيت ئے داداكولو ايخودل پكار دي، نۀ داسے لكه څنګه چه زمونږ په ملك كښ دجاهلانو عادت دے، چه سوه من چربي دماشي چوڼ چوڼ ګاډي په مهركښے كدي داسخت جهالت اوحماقت دے، دغه شان مضمون دے دنووي رحمه الله سره دلنهوالي اولږشان تغير.

۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷

بَابُ الصَّدَاقِ وَجَوَازِ كَوْنِهِ تَعْلِيْمَ قُرْاٰنٍ وَخَاتَمَ حَدِيْدٍ وَغَيْرِذٰلِكَ۔

باب د مهر بیان او په تعلیم قران او مهر ایخودلو کښې داوسپنې د ګوتې وغیره بیان۔

(۳۴۸۷)عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدِ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَتِ امْرَأَةٌ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جِئْتُ اَهَبُ لَكَ نَفْسِيْ فَنَظَرَ إِلَيْهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَعَّدَ النَّظَرَفِيْهَا وَصَوَّبَهُ ثُمَّ طَأْطَأَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأْسَهُ فَلَمَّا رَأَتِ الْمَرْءَةُ أَنَّهُ يَقْضِ فِيْهَا شَيْئًا جَلَسَتْ فَقَامَ رَجُلٌ مِّنْ اَصْحَابِهِ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنْ لَّمْ تَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ فَزَوِّجْنِيْهَا فَقَالَ فَهَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ فَقَالَ لَاوَاللّٰهِ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ فَقَالَ اذْهَبْ إِلٰى اَهْلِكَ فَانْظُرْهَلْ تَجِدُ شَيْئًا فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَا وَاللّٰهِ مَاوَجَدْتُ شَيْئًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انْظُرْوَلَوْخَاتَمٌ مِنْ حَدِيْدٍ فَذَهَبَ ثُمَّ رَجَعَ فَقَالَ لَاوَاللّٰهِ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَلَاخَاتَمٌ مِنْ حَدِيْدٍ وَّلٰكِنْ هٰذَا إِزَارِيْ قَالَ سَهْلٌ مَّالَهُ رِدَآءٌ فَلَهَا نِصْفُهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَاتَصْنَعُ بِإِزَارِكَ إِنْ لَّبِسْتَهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْهَا مِنْهُ شَيْءٌ وَإِنْ لَّبِسَتْهُ لَمْ يَكُنْ عَلَيْكَ مِنْهُ شَيْءٌ فَجَلَسَ الرَّجُلُ حَتّٰى إِذَاطَالَ مَجْلِسُهُ قَامَ فَرَاٰهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُوَلِّيًا فَاَمَرَبِهٖ فَدُعِيَ فَلَمَّا جَآءَ قَالَ مَاذَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْاٰنِ قَالَ مَعِيْ سُوْرَةُ كَذَا وَسُوْرَةُ كَذَا عَدَّدَهَا فَقَالَ تَقْرَءُهُنَّ عَنْ ظَهْرِقَلْبِكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ اذْهَبْ فَقَدْمَلَّكْتَهَا بِمَامَعَكَ مِنَ الْقُرْاٰنِ هٰذَا حَدِيْثُ ابْنُ اَبِيْ حَازِمٍ وَّحَدِيْثُ يَعْقُوْبَ مُقَارِبُهُ فِي اللَّفْظِ۔ [بخاری]

ترجمه: د سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ له یوه ښځه راغله اوعرض ئے اوکړو چه یارسول الله ﷺ زۀ ددے دپاره حاضره شوے یم چه خپل ځان تاته هبه کړمه (په دے کښې ددے ایت طرفته اشاره ده "وَامْرَاَةً مُّؤْمِنَةً اِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ اِنْ اَرَادَ النَّبِيُّ اَنْ يَّسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُوْنِ الْمُؤْمِنِيْنَ" یعنی کچرے یوه مومنه ښځه اوبخښی خپل ځان نبی ﷺ ته کچرے نبی ﷺ اراده اوکړی د هغے سره دنکاح اوداخاص دی تالره نه نورو مؤمنانو لره (اوددے نه جواز دهبے خاص د حضرت ﷺ دپاره ثابت شو) بیارسول الله ﷺ هغے ته دخپونه واخله دسره پورے بنه په غورسره اوکتل اوبیائے سرمبارك ښکته کړو، او هرکله چه ښځے اولیدل چه حضرت ﷺ څه حکم اونۀ کړو نوکیښناسته، اوبو اصحابی رضی الله عنه پاسیدو اوعرض

ئے اوکړو چه یارسول الله ﷺ ! کچرے تاسو ﷺ ته ددے حاجت نۀ وی نوز ماسره ئے عقد اوکړئ، حضرت ﷺ اوفرمائیل ستاسره څه شته؟ هغه عرض اوکړو چه نشته دے په الله قسم دے اے دالله جل جلاله رسوله ﷺ ! حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه تۀ خپل کورته لاړشه اواوګوره کیدے شی که څه دته میلاؤشی، بیا هغه لاړو اوواپس راغے اوعرض ئے اوکړو چه په الله جل جلاله قسم دی ماخو څه اونه موندل ،بیاحضرت ﷺ اوفرمائیل چه لاړشه اوګوره اګرکه دوسپنی کړئ هم وی، هغه بیالاړو اوواپس راغے اوعرض ئے اوکړوچه یارسول الله ﷺ دوسپنے هغه کړه هم نشته دے، مګرداز ماتهبند یعنی لنګ شته دے، سهل رضی الله عنه وائی چه دهغه غریب سره څادرهم نۀ وو پس نیم دهغے نه ددے ښځے شو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ستاتهبند به ستاڅه کاراوباسی چه کچرے ته هغه واغوندے نوپه هغے باندے به څه نۀ وی، اوکچرے هغے واغستو نوپه تاباندے به څه نۀ وی، بیا هغه سړے کیېنناستو (یعنی خفه شوے) تردے پورے چه څه وخت کیېنناستو نوبیاپاسیدو اورسول الله ﷺ ورته چه اوکلت نو هغه پستنه روان وو، نو حضرت ﷺ حکم اوکړو او هغه ئے را اوغوښتو هرکله چه راغے، نو حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه تاته څه قران یاد دے ؟ هغه عرض اوکړو چه ماته فلانے فلانے سورت یاد دے، اوهغه سورتونولره شمارکړل، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه ته دغه قران دخپلو یادو نه لوستلے شے؟ هغه عرض اوکړو چه هاں !حضرت ﷺ اوفرمائیل چه څه ماداستامملوك کړله، (یعنی په نکاح می کړه درته) چه عوض دهغه قران کښی کوم چه تاته یاد دے (یعنی داسورتونه دے ښځے ته یاده وه داستامهر دے) داروایت دے دابن ابی حازم اودیعقوب رضی الله عنه دروایت الفاظ هم دے ته نزدے نزدے دی۔

(۳۴۸۸) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ بِهٰذَا الْحَدِيْثِ يَزِيْدُ بَعْضُهُمْ عَلٰى بَعْضٍ غَيْرَ اَنَّ فِيْ حَدِيْثِ زَآئِدَةَ قَالَ انْطَلِقْ فَقَدْزَوَّجْتُهَا فَعَلِّمْهَا مِنَ الْقُرْاٰنِ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه : دسهل بن سعد رضی الله عنه نه په څوسندونو سره دغه مضمون روایت شوے دے زیاتوالے کړے بعضے ددوی نه په بعضونورو باندے، اودازائده په روایت کښے داسے دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل څه ماستاعقد ددے سره اوکړو اوتۀ دے ته داقران اوښایه (یعنی کوم چه

ناته یاد دي)

فائده : سبحن الله ! ددې حدیث نه کمال دساده ګئ اوبې تکلفئ داصحابو رضی الله عنهم معلوم شولو ، اوخصوصیت درسول الله ﷺ کوم چه په ایت کښې پورته ذکرشو چه بغیر دمهرنه دهغوئ نکاح درست دې . اود حضرت ﷺ نه سیوا کچرې بل څوك بغیر دمهرنه نکاح اوکړی نومهرمثل به پرې راځی .

اوحضرت ﷺ چه کوم دهغې طرفته اوکتل ددې نه معلومه شوه چه ناکح لره یعنی څوك چه دنکاح اراده لری هغه له لیدل دهغې ښځې روا دی . اوددې نه معلومه شوه چه ښځه کچرې یونیك اوصالح سړی ته دخپل ځان دنکاح کولو دپاره عرض اوکړی نودامستحب دی اودادتمام امت دعالمانو اوفاضلانو دپاره عما اودصالحینو دپاره عام دی . اوددې نه داهم معلومه شوه چه هرکله څوك سوال کونکې داسې سوال اوکړی چه ستانه دهغې پوره کیدل نۀ شی کیدې نوچپ پاتې کیدل پکار دی ، چه هغه سوال کونکې په دې پوه شی چه ددیسوال دپوره کیدو ددې نه امکان نشته ، غرض داچه چپ کیدل دجواب ورکولو نه اولی دی ځکه چه په جواب ورکولو کښې خفګان راځی .

اوددې نه داهم معلومه شوه چه دښځې دنکاح په وخت ددې خبرې تپوس کول ضروری نۀ دی چه هغه په عدت کښې ده یانۀ ده ، اوحضرت ﷺ چه کوم دوسپنې دګوتمۍ پیداکولو اووې ددې نه معلومه شوه چه دمستحب داده چه دنکاح په وخت دمهرذکر اوکړې شی ځکه چه په دې کښې دجدایئ ویره باقی نۀ پاتې کیږی . اودښځې پرې تسلی کیږی . اودښځې دپاره نفع هم ده ځکه چه که چرې مخکښې دصحبت نه طلاق ورکړې شی نونیم مهر به دې ته میلاویږی .

اومعلومه شوه چه مهرلږ اوډیر هم کیدې شی خو چه په هغې ناکحین راضی شی ، ځکه چه دوسپنې ګوته دکښې نه کمه ده . اودغه مذهب دې دشافعیه ؤ رحمهم الله اودجمهورو علماؤ دسلف نه دخلف پورې ، اودغه قول دې دربیعه اوابوالزناد اوابن ابی ذئب اویحیی بن سعید اولیث بن سعد اوثوری اواوزاعی اودمسلم بن خالد زنجی اوابن ابی لیلی اود داؤد رحمهم الله اودتمام اهل حدیث فقهاؤ اوداین وهب چه دمالك ملګرونه دی .

اوقاضي عياض رحمه الله وئيلي دي چه دامذهب دكافه علماؤ دے يعنى د حجاز والاؤ اودمصر والاؤ اوكافيانو اوشاميانو وغيره نورو چه دناوے اوچنغول راضي كيدل شرط دى په هغه مهرباندے خواه كه يوه لخته ياد چپلو يوه جوړه يادوسپنے كړه يادتانبے پيسه ولے نۀ وى۔

اومالك رحمه الله وئيلي دى چه دڅلورو دينارو نه كم نۀ وى چه هغه نصاب سرقه دے۔

اوقاضي عياض رحمه الله وئيلي دى چه امام مالك رحمه الله په دے قول كښے يواځى دے اوابو حنيفه رحمه الله اودهغوئ ملګرو وئيلي دى چه دكمونه كم دهغے حددوه سوه درهمه دے چه تقريباپاؤ كم درڅو روپو ته نزدے كيږى اوابن شبرمه رحمه الله وئيلي دى چه كم ازكم پنځه درهمه دى چه دغلانصاب دے دغل نه دلاس پريكولو ددے دواړو په نزد اونخى دڅلوپنځو درهمونه كم مكروه ګنړلي دى، اويو څل ئے لس درهمه هم وئيلي دى داتمام مذهبونه سيوا دهغه مذهب اول نه كوم چه مونږ دجماهير سلف نه نقل كړے دے ددے صريح اوصحيح حديث دمخه مردودو اوباطل دے۔

اوددے نه معلومه شوه چه يوه كړى هم دوپسنے په مهر كښے كافي كيږى،اونۀ شى مقابل كيدے رائے دهيڅاونه قول دهيڅ چادرسول الله ﷺ دقول اوفعل سره۔

دقران په تعليم باندے اجرت اخستل درست دى :

پس هيڅكله مؤمن تابعدار دسنتولره دهغه قولونو په طرف نظركول نۀ دى پكار چه هغه درسول معصوم ﷺ مخالف وى اودغه اصحابى رضى الله عنه چه كوم عرض اوكړو چه په الله قسم دے يارسول الله ددے نه معلومه شوه چه بے ضرورته اوبغيردطلب نه هم قسم كوړل درست دى صرف دخبرے دتاكيد دپاره، اوددے نه ثابته شوه چه دمفلس نكاح كول درست دى، اوددے نه ثابته شوه چه تعليم دقران مهرمقررول درست دى، اونفع اخستل په تعليم باندے روا دى، اودا دواړه حكمه جائز دى. اودغه مذهب دے دامام شافعي رحمه الله اومجتهدينو ،محدثينو اومتبعين سنت۔

اودغه قول دے دعطاء اوحسن بن صالح اواسحاق رحمهم الله وغيره نوروته ،اومردود دے قول دهغه خلقو چه هغه ددے نه منع كوى، اودے حديث دهغوئ قول رد كړے دے، اودغه

شان بل حدیث چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دے چه دتولو نه زیات مستحق داجرت اخستلو دالله جل جلاله کتاب دے، اوقاضی عیاض رحمه الله وئیلے دی اجرت اخستل دقران په تعلیم باندے دتمامو علماؤ په نزد روا دی سیوا دابو حنیفه رحمه الله نه، اوداقول دابو حنیفه رحمه الله دحدیث مخالف اودرد دطرد قابل دے، چه په څه شان التفات دهغے په طرف نهٔ شی کیدے۔

(۳۴۸۹) عَنْ اَبِیْ سَلَمَةَ ابْنِ عَبْدِالرَّحْمٰنِ اَنَّهٗ قَالَ سَاَلْتُ عَآئِشَةَ زَوْجَ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَمْ کَانَ صَدَاقُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ کَانَ صَدَاقُهٗ لِاَزْوَاجِهٖ ثِنْتَیْ عَشْرَةَ اُوْقِیَةً وَّنَشٌّ قَالَتْ اَتَدْرِیْ مَاالنَّشُّ قَالَ قُلْتُ لَاقَالَتْ نِصْفُ اُوْقِیَةٍ فَتِلْکَ خَمْسُ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَهٰذَا صَدَاقُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِاَزْوَاجِهٖ. [ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابوسلمه رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه هغوئ دحضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها نه تپوس اوکړو، چه درسول الله ﷺ دبیبیانو رضی الله عنهن مهرڅه وو؟ هغوئ رضی الله عنها اوفرمائیل چه دولس اوقیه سپین زر چه پنځه سوه درهمه وو، (چه دهغے نه موجوده یوسل یودیرش روپئ اوڅلو آنے جوړیږی) دامهروو درسول الله ﷺ دخپلو بیبیانو رضی الله عنهن دپاره۔

(۳۴۹۰) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَاٰی عَلٰی عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ عَوْفٍ اَثَرَصُفْرَةٍ قَالَ مَاهٰذَا قَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنِّیْ تَزَوَّجْتُ امْرَاَةً عَلٰی وَزْنِ نَوَاةٍ مِّنْ ذَهَبٍ قَالَ فَبَارَکَ اللّٰهُ لَکَ اَوْلِمْ وَلَوْبِشَاةٍ. [بخاری، ترمی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دزیړوالی اثر(نخے) په عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه باندے اولیدے اوائے فرمائیل داڅه دی؟ هغوئ رضی الله عنه عرض اوکړو چه یارسول الله ﷺ مادیوے ښځے سره نکاح کړے دے دکهجورو دیوے ډکے تو کرئ سرو زرو په مهرباندے، حضرت ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی دی ئے ستادپاره مبارك کړئی ولیمه اوکړه اګرکه یوه بزه وی۔

درسول الله ﷺ دمهریان

فائده : هغه اثروو دڅه خوشبوئ نهٔ دزعفرانو چه هغه سړولره لګول حرام دی،

اوښځولره درست دی، اوځنو وئیلی دی چه دواده دځلمی دپښاره درست دی اویقین دے چه هغه ډیرلږ وی ځاځکے ځاځکے یاددغے دپاره حضرت ﷺ منع نۀ ده فرمائیلے لکه څنګه چه ئے دزعفرانو نه منع فرمائیلی ده اوداهم احتمال دے چه کیدے شی هغه (نښے) په کپړو کښے وے دهغوئ رضی اللہ عنه دیارانو دادے چه په جامه زعفران درست دی اوامام مالك رحمه الله دے لره دمدینے دعلماؤ نه نقل کړے دی اودغه مذهب دے دابن عمر رضی اللہ عنه وغیره اودشافعی رحمه الله اوابو حنیفه رحمه الله په نزد سړوله روانه دی۔

ذ نواة د لفظ تحقیق اود ولیمے بیان۔

دنواة وزن کوم چه په حدیث کښے راغلے دے، د نواة نه مراد یاخودکهجور توکرئ ده یایو معروف وزن دے لکه اوقیه وغیره اوځنووئیلی دی چه دنواة وزن دسرو زرو پنځه درهمه دی، اوقاضی عیاض رحمه اؤ وئیلے دی چه دزیاتوعلماؤ داقول دے، اواحمد بن حنبل رحمه الله فرمائیلی دی چه هغه ددے درهم دے اودیودرهم درئمه حصه اوداهم یوقول دے چه مراد ددے نه دکهجورو توکرئ ده، اوامام نووی رحمه الله وئیلے دی چه دسرو زرو ددغه پنځه درهمو قول صحیح دے۔

اوحضرت ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی دی تاسوله برکت درکړی ددے نه دواده ځلمے ته دبرکت دعاکول مستحب شولو، اودولیمے دعوت سنت مستحبه شولو، اوامام مالك رحمه الله اوداؤد وغیره نورو ورته واجب وئیلے دی ددے حدیث دظاهرنه،اوددے په وخت کښے قاضی رحمه الله وئیلے دی چه مستحب دی ورستو ددخول نه (یعنی ورستو دکوروالی نه) اودیو مالك جماعت نه منقول دی چه ولیمه دعقد (یعنی نکاح) په وخت مستحب ده، اودطاقت لرونکو دپاره مستحب دی چه دیو بزے نه کمه ولیمه نۀ کوی، اوپه دے باندے اجماع ده چه ددے څه مقدار معین نشته دے بلکه هرڅه غله چه دی ولیمه پرے صحیح اودرستیږی۔

اودحضرت صفیے رضی اللہ عنها ولیمه بغیردغوښے نه شوے وه، اودحضرت زینب رضی الله عنها په ولیمه کښے درسول الله ﷺ صحابه رضی الله عنهم کرام په غوښه اوډوډئ سره ماړه شوی وو،اودولیمے تکرار د دوه ورځونه زیات مکروه دے۔

(٣٤٩٣) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ عَبْدُالرَّحْمٰنِ ابْنُ عَوْفٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ رَاٰنِیْ رَسُوْلُ

اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَىَّ بَشَاشَةُ الْعُرْسِ فَقُلْتُ تَزَوَّجْتُ امْرَاةً مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ كَمْ اَصْدَقْتَهَا فَقُلْتُ نَوَاةً فِيْ حَدِيْثِ اِسْحٰقَ مِنْ ذَهَبٍ.

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه وئیلے دی چه رسول الله ﷺ په ماباندے دواده خوشحالی ده اوماورته عرض اوکړو چه مانکاح کړے ده دانصارو رضی الله عنهم دیوے ښځے سره، حضرت ﷺ اوفرمائیل څه مهر دی مقرر کړے دے ماعرض اوکړو چه یونواة دسرو زرو نه.

فائده: دنواة تحقیق اوس پورته تیرشولو.

(۳۴۹۷) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَزَا خَيْبَرَ قَالَ فَصَلَّيْنَا عِنْدَهَا صَلٰوةَ الْغَدَاةِ بِغَلَسٍ فَرَكِبَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَكِبَ اَبُوْطَلْحَةَ وَاَنَارَدِيْفُ اَبِيْ طَلْحَةَ فَاَجْرٰى نَبِيُّ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ زُقَاقِ خَيْبَرَ وَاِنَّ رُكْبَتِيْ لَتَمَسُّ فَخِذَ نَبِيِّ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَانْحَسَرَ الْاِزَارُ عَنْ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاِنِّيْ لَاَرٰى بَيَاضَ فَخِذِ نَبِيِّ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا دَخَلَ الْقَرْيَةَ قَالَ اللّٰہُ اَكْبَرُ خَرِبَتْ خَيْبَرُ اِنَّا اِذَا نَزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ قَالَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ قَالَ وَقَدْ خَرَجَ الْقَوْمُ اِلٰى اَعْمَالِهِمْ فَقَالُوْا مُحَمَّدٌ قَالَ عَبْدُالْعَزِيْزِ وَقَالَ بَعْضُ اَصْحَابِنَا وَالْخَمِيْسُ قَالَ اَصَبْنَاهَا عَنْوَةً وَجُمِعَ السَّبْيُ فَجَآءَ دِحْيَةُ رَّضِيَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ يَانَبِيَّ اللهِ اَعْطِنِيْ جَارِيَةً مِّنَ السَّبْيِ فَقَالَ اذْهَبْ فَخُذْ جَارِيَةً فَاَخَذَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ رَّضِيَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا فَجَآءَ رَجُلٌ اِلٰى نَبِيِّ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَانَبِيَّ اللهِ اَعْطَيْتَ دِحْيَةَ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ سَيِّدَةَ قُرَيْظَةَ وَالنَّضِيْرِ لَاتَصْلُحُ اِلَّا لَكَ قَالَ ادْعُوْهُ بِهَا قَالَ فَجَآءَ بِهَا فَلَمَّا نَظَرَ اِلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُذْ جَارِيَةً مِّنَ السَّبْيِ غَيْرَهَا قَالَ وَاَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا فَقَالَ لَهٗ ثَابِتٌ يَّا اَبَا حَمْزَةَ مَآ اَصْدَقَهَا قَالَ نَفْسَهَا اَعْتَقَهَا وَتَزَوَّجَهَا حَتّٰى اِذَا كَانَ بِالطَّرِيْقِ جَهَّزَتْهَا لَهٗ اُمُّ سُلَيْمٍ فَاَهْدَتْهُ لَهٗ مِنَ اللَّيْلِ فَاَصْبَحَ النَّبِيُّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَرُوْسًا فَقَالَ مَنْ كَانَ عِنْدَهٗ شَيْءٌ فَلْيَجِئْ بِهٖ وَبَسَطَ نِطَعًا قَالَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيْئُ بِالْاَقِطِ وَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيْئُ بِالتَّمْرِ وَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيْئُ بِالسَّمْنِ فَحَاسُوْا حَيْسًا فَكَانَتْ وَلِيْمَةَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [بخاری، ابوداود، نسائی،]

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ جهاد اوکړو جیه خیبر باندے اومونږ خلقو دسحرمونځ په ډیره تیره کښ اداکړو، اونبی ﷺ سورشولو اوسور شولو

اوبـو طـلحه رضی الله عنه اوزهٔ دابو طلحه رضی الله عنه ردیف وم. اوروان شو نبی ﷺ دخیبر په کـو خـو کښې اوز مـازنـګـون دنبی ﷺ په دورون سره لګیدلو، اوتهبند درسول الله ﷺ دهغوئ ﷺ دورون نـه بیـرتـه شـو ے وو اومابه دهغوئ ﷺ دورون سپین والے لیدلو، بیا چه هرکله ښهر تـه دننه لاړو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل الله اکبر خراب شولو خیبر مونږ چه کله کوزیږو دیوقوم پـه غـولـی کښې نوبدیږی حال دویریدونکو خلقو، دے ایت لره "اِنَّـآاِذَا اَنْزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ" نه داخره پـورے ،اوپـه دے کښې دهـغـه ځـائـے خلق خپلو خپلو کارونو ته اووتل اوهغوئ اووے چه محمد ﷺ راغے، اوعبدالعزیز رضی الله عنه وئیلے دی چه زمونږ خلقو داهم اووے چه لښکرهم راغے، راوی وئیـلے دفـی چـه عـرض داچـه مـونـږ واخستـو خیبـر لـره په جبر اوقهرسره، اوقیدیان خلق مـوجـمـع کـړل، اووحیـه رضی الله عنه راغے اوعرض ئے اوکړو چه یارسول الله ! ددغه قیدیانو نه یـوه وینـځـه مـاتـه راکـړئ،، حـضـرت ﷺ ورتـه اوفـرمائیل چه لاړشه اویوه وینځه ترے واخله، هغوئ رضی الله عنه صفیه رضی الله عنها دحیی لور واخستله، اویوسړے راغے هغه اووے چه اے دالله جل جلاله نبی ﷺ. تاسو وحیه رضی الله عنه له دحی لور ورکړه چه هغه دبنی قریظه (قبیـلے) سردار دے اودبنی نضیر (قبیلے) اوهغه دبل چالائقه نۀ ده سیوا ستانه، نو حضرت ﷺ اوفـرمـائیـل چـه را اوغـواړئ هـغوئ رضی الله عنه لره سره دهغے وینځے، راوی وای چه بیا هغه دهـغـے سـره راغـے، بیاچه هرکله حضرت ﷺ هغے لره اولیده نووحیه رضی اللهعنه ته ئے اووے چه ته یوه بله وینځه دقیدیانو نه واخله ددے نه علاوه ، راوی وائی چه بیاحضرت ﷺ آزاده کړه صـفـیے رضـی الله عـنهـا لـره اونـکـاح ئے ورسره اوکړو، بیاثابت هغوئ ته اووے چه اے ابو حمزه رضـی الله عـنـه ! دهـغـے مهـرئے څه مقرر کړو؟ هغوئ رضی الله عنه اووے دغه مهروو چه هغه رضی الله عنها ئے آزاده کړه اونکاح ئے پرے اوکړو، تردے پورے چه دغه وخت هغوئ په لاره کښې وو نـوسـنـګـار کړه هغے رضی الله عنها لره ام سلیم رضی الله عنها اوحضرت ﷺ ته ئے په شپه کښې پیـش کړه، اوسحرله رسول الله ﷺ دواده ځلمے جوړشوے وو، بیاحضرت ﷺ اوفرمائیل چـه دچـاسـره هـرڅـه چـه وی، (یـعـنـی دخوراك دقسمونونـه) هغـه دی راؤړی اودځـرمنے یـودسـتـرخـوان ئے خـور کـړو اوچـاپنیـرراؤړل شـروع کـړو (دماستو وچولو سره جوړیږی)

او چاکهجورے راوړے او چاغوړی راوړل دے تولو لره ئے په منبلو سره بنه میلاؤ کړل، او دا ولیمه شوه د رسول الله ﷺ۔

فائده : خیبر یانو ونیلے دی محمد ﷺ والخمیس یعنی محمد اولښکر راغے، اوخمیس لښکر ته په دے وجه وائی چه د هرلښکرپنځه ټکړے وی یوه مقدمه چه هغه مخکښے روانه وی۔ دوئمه ساقه چه هغه ورستو راروانه وی۔ دریئمه میمنه چه داښی طرفته وی۔ اوڅلورمه میسره چه داګس طرفته وی۔ پنځمه قلب چه په مینځ کښ وی اوحاکم هم په دغے کښ وی۔

دصفیے رضی الله عنها نوم څنے وائی چه زینب وو بیادقید نه پس چونکه حضرت ﷺ په قیدیانو کښ وانړوله ددے وجے نه صفیه رضی الله عنها شولو (یعنی انړولے شوے) اوحضرت ﷺ چه هرکله دصفیے رضی الله عنها شرافت اوحسن جمال اوحسب نسب اوکتلو نواوئے فرمائیل چه بله وینځه واخله، په دے کښے لوئے مصلحت دا وو چه کیدے شی دا دوحیه رضی الله عنه سره نشوز اواغراض اوتکبر اوکړی یانو دصحابه رضی الله عنهم دوحیه رضی الله عنه سره حسد اوکړی، غرض ددے تولو فسادونو ختمول په دے کښ وو چه حضرت ﷺ هغے لره په خپل خدمت کښے اوساتله اوددے حدیث نه دتنقیل اجازت ثابت شولو، اوتنقیل دادے چه دلښکریانو نه یوکس ته دغنیمت دحصے نه زیاته په طور دانعام ورکول۔

اوآزاده ئے کړه اونکاح ئے ورسره اوکړه، ددے په معنو کښے اختلاف دے یوه داده، چه هغے لره ئے تبرعا خاص دالله جل جلاله درضا دپاره آزاده کړے وه، اودهغے رضی الله عنها په رضامندئ سره ئے بغیردمهرنه په نکاح کړے وه، اودادحضرت ﷺ دخصائصونه وه چه هغوئ رضی الله عنها ته بغیردمهرنه نکاح نکاح کول جائز وو چه نۀ دعقد په وخت ئے دمهرضرورت وو اونۀ دعقد نه پس په خلاف دنورو خلقو چه هغوئ له درست نۀ دی، اودامعنيء محققینو وئیلے دی اونورو خلقو وئیلے دی چه شرط ئے اوکړو دهغوئ رضی الله عنها سره چه مونږ ﷺ به تا آزاده کړو اوتۀ به زمونږ سره نکاح اوکړے، غرض دا چه په دے شرط سره چه هرکله هغوئ رضی الله عنها ازاده شوه نودشرط پوره کول ضروری شولو۔

اودعلماؤ په دے کښې اختلاف دے چه اوس کچرے څوك خپله وینځه آزاده کړی په دے شرط باندے چه دهغے سره به نكاح كوی اوداشرط صحیح نۀ دے اودامام مالك اوشافعی اوابو حنیفه رحمهم الله اومحمد بن حسن رحمه الله دغه قول دے اودزفرهم. چنانچه امام شافعی رحمه الله وئیلے دی چه کچرے ده په دے شرط باندے آزاده کړه او هغے داشرط قبول کړو نو آزاده شوه اوپه دغه بنځه باندے لازم نۀ دی چه ددغه سړی سره نكاح اوكړی. بلكه بنځے له ضروری ده چه خپل قیمت اداکړی ځکه چه هغه په خپله آزادئ باندے مفت راضی شوے نۀ ده. بیاکچرے هغه راضی شوه اوپه څه قدرے مهرباندے په نکاح شوه، نوپه بنځه باندے دقیمت اداکول ضروری دی اوپه سړی باندے مهر اداکول کوم چه مقرر شوے وی خواه که لږ وی یاډیر. اوکه دهغے په قیمت باندے ئے نکاح کړے وو اوقیمت دواړو ته معلوم وو نو مهرصحیح دے نۀ دخاوند په ذمه مهراداكول شته اونۀ دبنځے په ذمه اوكه قیمت معلوم نهوی نوپه دے کښې دوه قولونه دی، اول داچه مهرئے صحیح شولو لکه څنګه چه دمعلوم په صورت کښے وو. دوئم قول دادے چه دامهرصحیح نۀ دے بلکه نكاح صحیح دے اومهرمثل لازم دے اودغه قول صحیح دے اوجمهورهم ددے په طرف تلی دی.

اوسعید بن مسیب رحمه الله اوحسن اونخعی اوزهری اوثوری اواوزاعی اوابویوسف اواحمد اواسحاق رحمهم الله وئیلے دی چه جائز دی داپه دے شرط باندے چه دده سره به نكاح كوی، اودده دغه آزادول ددے مهركیدے شی، اولازم دی په دغه بنځه باندے چه ددے سړی سره نكاح اوكړی، اودامهرصحیح دے په ښا هر نظرددے حدیث اودغه مذهب زمایه نزد زیات صفاغوره اوقوی دے.

(۳۴۹۹) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ الَّذِیْ یُعْتِقُ جَارِیَتَهٗ ثُمَّ یَتَزَوَّجُهَا لَهٗ اَجْرَانِ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دحضرت ابوموسی رضی اللہعنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوك چه آزاده كړی خپلے وینځے لره اوبیادهغے سره نكاح اوكړی هغه له دوچند ثواب دے.

(۳۵۰۰) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنْتُ رِدْفَ اَبِیْ طَلْحَةَ یَوْمَ خَیْبَرَوَقَدَمِیْ تَمَسُّ قَدَمَ رَسُوْلِ اللّٰهِ

صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَاتَيْنَا هُمْ حِيْنَ بَزَغَتِ الشَّمْسُ وَقَدْ اَخْرَجُوْا مَوَاشِيَهُمْ وَخَرَجُوْا بِفُؤُسِهِمْ وَمَكَاتِلِهِمْ وَمُرُوْرِهِمْ فَقَالُوْا مُحَمَّدٌ وَالْخَمِيْسُ قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرِبَتْ خَيْبَرُ اِنَّا اِذَا اَنْزَلْنَا بِسَاحَةِ قَوْمٍ فَسَآءَ صَبَاحُ الْمُنْذَرِيْنَ قَالَ وَهَزَمَهُمُ اللّٰهُ وَقَعَتْ فِيْ سَهْمِ دِحْيَةَ جَارِيَةٌ جَمِيْلَةٌ فَاشْتَرَاهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعَةِ اَرْؤُسٍ ثُمَّ دَفَعَهَا اِلٰی اُمِّ سُلَيْمٍ تُصَنِّعُهَا وَتُهَيِّئُهَا قَالَ وَاَحْسِبُهُ قَالَ وَتَعْتَدُّ فِيْ بَيْتِهَا وَهِيَ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ قَالَ وَجَعَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيْمَتَهَا التَّمْرَ وَالْاَقِطَ وَالسَّمْنَ فُحِصَتِ الْاَرْضُ اَفَاحِيْصَ وَجِيْئَ بِالْاَنْطَاعِ فَوُضِعَتْ فِيْهَا وَجِيْئَ بِالْاَقِطِ وَالسَّمْنِ فَشَبِعَ النَّاسُ قَالَ وَقَالَ النَّاسُ لَا نَدْرِيْ اَتَزَوَّجَهَا اَمِ اتَّخَذَهَا اُمَّ وَلَدٍ قَالُوْا اِنْ حَجَبَهَا فَهِيَ امْرَاَتُهُ وَاِنْ لَمْ يَحْجُبْهَا فَهِيَ اُمُّ وَلَدٍ فَلَمَّا اَرَادَ اَنْ يَرْكَبَ حَجَبَهَا فَقَعَدَتْ عَلٰی عَجُزِ الْبَعِيْرِ فَعَرَفُوْا اَنَّهُ قَدْ تَزَوَّجَهَا فَلَمَّا دَنَوْا مِنَ الْمَدِيْنَةِ دَفَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدَفَعْنَا قَالَ فَعَثَرَتِ النَّاقَةُ الْعَضْبَآءُ وَنَدَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَدَرَتْ فَقَامَ فَسَتَرَهَا وَقَدْ اَشْرَفَ النِّسَآءُ يَقُلْنَ اَبْعَدَ اللّٰهُ الْيَهُوْدِيَّةَ قَالَ قُلْتُ يَا اَبَا حَمْزَةَ وَقَعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِيْ وَاللّٰهِ لَقَدْ وَقَعَ قَالَ اَنَسٌ وَشَهِدْتُ وَلِيْمَةَ زَيْنَبَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَاَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا وَكَانَ يَبْعَثُنِيْ فَاَدْعُو النَّاسَ فَلَمَّا فَرَغَ قَامَ وَتَبِعْتُهُ فَتَخَلَّفَ رَجُلَانِ اسْتَاْنَسَ بِهِمَا الْحَدِيْثُ لَمْ يَخْرُجَا فَجَعَلَ يَمُرُّ عَلٰی نِسَآئِهِ فَيُسَلِّمُ عَلٰی كُلِّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ سَلَامٌ عَلَيْكُمْ كَيْفَ اَنْتُمْ يَا اَهْلَ الْبَيْتِ فَيَقُوْلُوْنَ بِخَيْرٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ وَجَدْتَ اَهْلَكَ فَيَقُوْلُ بِخَيْرٍ فَلَمَّا فَرَغَ رَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ فَلَمَّا بَلَغَ الْبَابَ اِذَا هُوَ بِالرَّجُلَيْنِ قَدِ اسْتَاْنَسَ بِهِمَا الْحَدِيْثُ فَلَمَّا رَاٰيَاهُ قَدْ رَجَعَ قَامَا فَخَرَجَا فَوَاللّٰهِ مَا اَدْرِيْ اَنَا اَخْبَرْتُهُ اَمْ اُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ بِاَنَّهُمَا قَدْ خَرَجَا فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ فَلَمَّا وَضَعَ رِجْلَهُ فِيْ اُسْكُفَّةِ الْبَابِ اَرْخَی الْحِجَابَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ هٰذِهِ الْاٰيَةَ لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ اِلَّا اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ. [راجع: ۳۴۸۵]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایرت دے چه زهٔ دابو طلحه رضی الله عنه ردیف وم دخیبر په ورځ اوقدم به زما درسول اللهﷺ دقدم سره لګیدو، بیا هر کله چه نمر را او ختو نو مونږ داهل خیبر خواه ته اورسیدو۔ اودغه خلقو کتهونو لره راویستلی وو۔ اوهغوئ خپلے کدالئ اوتوکرئ اوبهاوړئ واخستے اووتل۔ اوداے ئوئیل چه محمد ﷺ او خمیس (یعنیدواړه راغلو) راوی وائی چه جناب رسول اللهﷺاوفرمائیل خراب شولو خیبر اوهر کله چه مونږ کوزیږودیو قوم په غولی کښی نودویریدلو خلقو ډیر بدانجام جوړیږی۔ اوالله‌تعالی هغوئ له

شکست ورکړواود دحیه رضی الله عنه په حصه کښې یوه ښکلې وینځه راغله۔او واخسته هغې لره رسول الله ﷺ داوه سړوپه بدله کښې اوبیائې هغې لره ام سلیم رضی الله عنه ته اوسپارله چه هغه رضی الله عنها دهغې رضی الله عنه لره سنبال کړی اودحضرت ﷺ دپارهغې رضی الله عنه لره تیاره کړی۔ اوراوی وائی چه زه ګمان کوم چه حضرت ﷺ ددې وجې نه هغوی رضی الله عنها ته اوسپارله چه هغه رضی الله عنها دهغوی رضی الله عنه په کورکښې عدت پوره کړی (یعنی دیوحیض سره چه دهغوئ رضی الله عنه استبراء اوشی کوم چه دوینځې حکم دے)اوداصفیه رضی الله عنه لوروه دحیی اورسول الله ﷺ دهغوئ رضی الله عنه ولیمه اوکړه په کهجوره اوپنیر اوغوړو سره ، اوپه زمکه کښې ئې څوډوغلې اوکنېتلې، (ډوغلې ئې څکه اوکنستلې چه غوړی ددسترخوان نه آخوا دیخوا اونۀ بهیږی) اوپنیراوغوړی ئې راوړل اوپه هغې کښې ئې واچول اوخلقوښه په مړه ګیډه اوخوړلو اوخلقو اووے چه مونږ پوهه نۀ یو چه حضرت ﷺ دهغوئ رضی الله عنها سره نکاح اوکړه یائے هغې لره ام ولد جوړه کړه، بیاخلقو اووے چه کچرے حضرت ﷺ دے لره پټه کړه نوداأوګنړئ چه دهغوئ ﷺ بی بی ده، اوکه پټه ئې نۀ کړه نوپوه شئ چه ام ولد ده، بیاچه هرکله حضرت ﷺ سوریدلو نوپه هغوئ رضی الله عنها باندے ئې پرده اوکړله اوهغه رضی الله عنها داوښ په کناتو باندے کیښناسته نوخلق پوهه شو چه نکاح ئې ورسره کړے ده ، بیاچه هرکله مدینې ته نزدے اورسیدل نوزر زر شړلو رسول الله ﷺ اوښانو لره، اومونږ زر زر شړلو، چه په دے کښې عضباء اوښې تندك اوخوړلو، (دادرسول الله ﷺ داوښې نوم دے) اورسول الله ﷺ اوصفیه رضی الله عنها اوغورځیدله، بیاحضرت ﷺ پاڅیدو اوپه هغوئ رضی الله عنها باندے ئې پرده اوکړله،اوښځوورته کتلو اوویئیل ئې الله دی لوے کړی یښنودی ئې لره، راوی وائی مااووے چه اے ابوحمزه ولې رسول الله ﷺ اوغورځیدو؟ اوانس رضی الله عنه وائی چه زۀ دمؤمنانو دمورحضرت زینب رضی الله عنها په ولیمه کښې هم حاضروم اوحضرت ﷺ خلقولره په ډوډئ اوغوښه سره آسوده کړی اوماړه کړی وو ،اوزۀ به حضرت ﷺ لیږلم چه خلق دعوت ته رااوغوړم بیاچه هرکله حضرت ﷺ دخور ولونه فارغ شولو نواودریدو اوزۀ دهغوئ ﷺ نه ورستو شوم اودوه کسان دهغوئ رضی الله عنها په حجره

کښے پاتے شول (یعنی کوم ځائے چه زینب رضی اللہ عنها وه) او هغوئ رضی اللہ عنها په خبرو سره کیښنولے وه او هغه رااونۀ وته، بیا حضرت ﷺ دخپلو بیبیانو رضی الله عنهن حجروته تللو اوپه هره یوه باندے به ئے سلام کولو اوفرمائیل به ئے چه اے دکور خاوندانو تاسو څنګه یئ؟ هغوئ رضی الله عنها به ونیل چه اے دالله جل جلاله رسوله ﷺ! مونږ په خیریت سره یو اوتاسو ﷺ خپله بی بی څنګه اومونده؟ حضرت ﷺ اوفرمائیل چه په خیرسره ده، بیا چه هرکله حضرت ﷺ دټولو دخیراوعافیت نه اوزګار شولو، نوواپس شولو اوزۀ هم دهغوئ ﷺ سره واپس شوم اوهرکله چه دروازے ته را اورسیدونواوئے کتل چه هغه دوه کسان موجود دی، اوپه خبرو کښں مشغول دی، بیا چه هرکله دے دواړو اوکتل چه حضرت ﷺ واپس شو نو اودریدل اوبهر را اووتل، بیا په الله جل جلاله قسم دے ماته یاد نۀ دی چه ما حضرت ﷺ ته خبرورکړو یا په هغوئ ﷺ باندے وحی نازله شوه چه هغه دوه کسان لاړو. اوحضرت ﷺ واپس راغے (یعنی دزینب رضی الله عنها حجرے ته) اوزۀ هم دهغوئ ﷺ سره راغلم، بیا چه هرکله حضرت ﷺ ددروازے په چوکاټ باندے خپه کیښوده نو پرده ئے اوکړه زمااودخپل ځان په مینځ کښے، اوداایت مبارك نازل شولو، چه مه داخلیږئ تاسو دنبی ﷺ په کور کښں مګر هرکله چه تاسو ته دهغوئ ﷺ دطرفنه اجازت اوشی۔

(۳۵۰۱) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ صَارَتْ صَفِيَّةُ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا لِدَحْيَةَ فِیْ مَقْسَمِهٖ وَجَعَلُوْا يَمْدَحُوْنَهَا عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَيَقُوْلُوْنَ مَارَاَيْنَا فِی السَّبْیِ مِثْلَهَا قَالَ فَبَعَثَ اِلٰی دَحْيَةَ فَاَعْطَاهُ بِهَا مَآ اَرَادَ ثُمَّ دَفَعَهَا اِلٰی اُمِّیْ فَقَالَ اَصْلِحِيْهَا ثُمَّ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ خَيْبَرَ حَتّٰی اِذَا جَعَلَهَا فِیْ ظَهْرِهٖ نَزَلَ ثُمَّ ضَرَبَ عَلَيْهَا الْقُبَّةَ فَلَمَّا اَصْبَحَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ عِنْدَهٗ فَضْلُ زَادٍ فَلْيَاْتِنَا بِهٖ قَالَ فَجَعَلَ الرَّجُلُ يَجِيْئُ بِفَضْلِ التَّمْرِ وَفَضْلِ السَّوِيْقِ حَتّٰی جَعَلُوْا مِنْ ذٰلِكَ الْحَيْسِ وَيَشْرَبُوْنَ مِنْ حِيَاضٍ اِلٰی جَنْبِهِمْ مِنْ مَّآءِ السَّمَآءِ قَالَ فَقَالَ اَنَسٌ فَكَانَتْ تِلْكَ وَلِيْمَةَ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَانْطَلَقْنَا حَتّٰی اِذَا رَاَيْنَا جُدُوْرَ الْمَدِيْنَةِ هَشَشْنَآ اِلَيْهَا فَرَفَعْنَا مَطِيَّنَا وَرَفَعَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَطِيَّتَهٗ قَالَ وَصَفِيَّةُ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا خَلْفَهٗ قَدْ اَرْدَفَهَا قَالَ فَعَثَرَتْ مَطِيَّةُ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصُرِعَ وَصُرِعَتْ قَالَ فَلَيْسَ اَحَدٌ مِّنَ النَّاسِ يَنْظُرُ اِلَيْهِ وَلَا اِلَيْهَا حَتّٰی قَامَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ فَسَتَرَهَا قَالَ فَاَتَيْنَاهُ فَقَالَ لِ نُضُرُ قَالَ فَدَخَلْنَا الْمَدِيْنَةَ فَخَرَجَ جَوَارِیُ نِسَآئِهٖ يَتَرَائَنَ وَيَشْتَمِنَ بِصَرُعَتِهَا.

ترجمه: دانس رضی الله عنه نه روایت دے چه هغوئ رضی الله عنه وائی چه صفیه رضی الله عنها، ددحیه رضی الله عنه کلبی په حصه کښې راغلې وه، اوخلقو دهغې صفتونه درسول الله ﷺ په مخکښې شروع کړل اووئیل ئے چه مونږ په قیدیانو کښې ددے برابر یو ښځه هم نۀ ده لیدلې، پس حضرت ﷺ دحیه رضی الله عنه ته قاصد اولیږو اودهغې رضی الله عنها په بدله کښې څه چه هغوئ رضی الله عنه غوښتل حضرت ﷺ ورکړو اوصفیه رضی الله عنها ئے دهغوئ رضی الله عنه نه واخسته اوزماموره ته ئے ورکړه (یعنی ام سلیم رضی الله عنها ته) او ورته ئے اوفرمائیل چه داسنبال کړه، وائی چه بیارا اووتو رسول الله ﷺ دخیبرنه تردے پورے چه هرکله خیبر شاته پاتے شو نو کوز شو اودهغوئ رضی الله عنها دپاره ئے خیمه اولګوله بیا چه هرکله سحر شو نورسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دچاسره دحاجت نه سوا توښه وی هغه زما خواله راوړئ، پس چاکهجورے چه دحاجت نه چه کومے زیاتے وے راوړل شروع کړو چاستوان راوړل شروع کړو تردے پورے چه دګډے وډے غلے یو ډهیرے جوړ شو، اوټولو خلقو دهغې نه خوړل شروع کړو، اواوبه به ئے څښلے خپلے یوے ډډے ته چه کوم حوض و دباران داوبو دهغې نه، انس رضی الله عنه وائی داولیمه وه درسول الله ﷺ په صفیه رضی الله عنها باندے، وائی چه بیامونږ لاړو تردے پورے چه اولیدل مونږه دمدینې دیوالونه اومشتاقه شو مونږ دهغې، اومونږ خپلے سورلئ تیزے کړے، اورسول الله ﷺ هم خپله سورلئ په منډه کړه اوصفیه رضی الله عنها دهغوئ ﷺ سره شاته ناسته وه، پس درسول الله ﷺ اوښے ټکره اوخوړه اورسول الله ﷺ ارتاؤشولو اوهغه رضی الله عنها هم اوغورځیده، اوڅاڼنده په دغه وخت نۀ دهغوئ ﷺ په طرف کتلو اونۀ دصفیے رضی الله عنها په طرف تردے پورے چه اودریدو رسول الله ﷺ اوهغه رضی الله عنها ئے پټه کړله، بیامونږ خلق راغلو نو حضرت ﷺ اوفرمائیل مونږ ته څه تکلیف نۀ دے رارسیدلے، بیامونږ په مدینه کښې داخل شولو، اوچو کرياد (یعنے وینزے دحضرت ﷺ دبیبیانو رضی الله عنهن را اوتے اوصفیے رضی الله عنها ته ئے کتل اودهغې په

غور څیدو ئے ملامت وئیلو۔

فائده : په پورته روایتونو کښے چه کوم راغلے دی چه صحابه کرامو رضی الله عنهم اووے چه که چرے حضرت ﷺ صفیه رضی الله عنها پته کړه نو پوه شه چه بی بی ئے ده، ددے نه مالك رحمه الله مذهب وغیره نورو استدلال کړے دے، چه نکاح بغیرد ګواهانو نه هم روا دے، چه هرکله ئے اعلان اوکړے شی، ځکه چه کچرے حضرت ﷺ دصفیے رضی الله عنها په نکاح باندے ګواه نیولے وے نو صحابه کرامو رضی الله عنهم به واقف وو، اودامذهب دے دیو جماعت دصحابه ؤ رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله چه نکاح بغیرد ګواهانو نه روا دے هرکله چه دهغے نه پس اعلان اوکړے شی، اودغه مذهب دے دز هری اومالك اودا هل مدینه ؤ رحمهم الله چه هغوئ اعلان ته شرط وئیلے دے نهٔ ګواهانو ته۔

اودصحابه کرامو رضی الله عنهم دیو جماعت اوتابعینو وینا ده چه شرط دنکاح ګواهی ده نهٔ اعلان ،اودامذهب دے داوزاعی اوثوری اوشافعی اوابو حنیفه اواحمد رحمهم الله وغیره اودے ټولو خلقوګواهی د دوه عادلانو شرط کړے ده پخلاف دابو حنیفه رحمه الله چه دهغوئ رحمه الله په نزد د دوه فاسقانو په ګواهئ هم نکاح صحیح کیږی، اوپه دے باندے دامت اجماع ده چه کچرے په خفیه ئے نکاح اوکړو بغیرد ګواهئ نه یعنی نه ئے اعلان اوکړو اونهٔ ئے ګواهی نونکاح صحیح نهٔ شولو۔

اوکه چرے په پته ئے نکاح اوکړو مګردوه پکښ ګواهان شول نودجمهورو په نزد صحیح دے، په خلاف دامام مالك رحمه الله چه هغه ورته صحیح نهٔ وائی۔

بَابُ زَوَاجِ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَنُزُوْلُ الْحِجَابِ وَاِثْبَاتِ الْوَلِيْمَةِ۔

باب دے په بیان دزینب رضی الله عنها دنکاح اودپردے دنزول اودولیمی بیان۔

(۳۵۰۲) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهٰذَا حَدِيْثُ بَهْزٍ قَالَ قَالَ لَمَّا انْقَضَتْ عِدَّةُ زَيْنَبَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى

عَنْهَا قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِزَيْدٍ فَاذْكُرْهَا عَلَيَّ قَالَ فَانْطَلَقَ زَيْدٌ حَتّٰى اَتَاهَا وَهِيَ تُخَمِّرُ عَجِيْنَهَا قَالَ فَلَمَّا رَاَيْتُهَا عَظُمَتْ فِيْ صَدْرِيْ حَتّٰى مَا اَسْتَطِيْعُ اَنْ اَنْظُرَ اِلَيْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَهَا فَوَلَّيْتُهَا ظَهْرِيْ وَنَكَصْتُ عَلٰى عَقِبِيْ فَقُلْتُ يَا زَيْنَبُ اَرْسَلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَذْكُرُكِ قَالَتْ مَا اَنَا بِصَانِعَةٍ شَيْئًا حَتّٰى اُوَامِرَ رَبِّيْ فَقَامَتْ اِلٰى مَسْجِدِهَا وَنَزَلَ الْقُرْاٰنُ وَجَآءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ عَلَيْهَا بِغَيْرِ اِذْنٍ قَالَ فَقَالَ وَلَقَدْ رَاَيْتُنَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَطْعَمَنَا الْخُبْزَ وَاللَّحْمَ حِيْنَ امْتَدَّ النَّهَارُ فَخَرَجَ النَّاسُ وَبَقِيَ رِجَالٌ يَتَحَدَّثُوْنَ فِي الْبَيْتِ بَعْدَ الطَّعَامِ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاتَّبَعْتُهُ فَجَعَلَ يَتَتَبَّعُ حُجَرَ نِسَآئِهٖ يُسَلِّمُ عَلَيْهِنَّ وَيَقُلْنَ يَا رَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ وَجَدْتَ اَهْلَكَ قَالَ فَمَا اَدْرِيْ اَنَا اَخْبَرْتُهُ اَنَّ الْقَوْمَ قَدْ خَرَجُوْا اَوْ اَخْبَرَنِيْ قَالَ فَانْطَلَقَ حَتّٰى دَخَلَ الْبَيْتَ فَذَهَبْتُ اَدْخُلُ مَعَهُ فَاَلْقَى السِّتْرَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ وَنَزَلَ الْحِجَابُ قَالَ وَوُعِظَ الْقَوْمُ بِمَا وُعِظُوْا بِهٖ زَادَ ابْنُ رَافِعٍ فِيْ حَدِيْثِهٖ لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ اِلَّا اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نَاظِرِيْنَ اِنَاهُ اِلٰى قَوْلِهٖ وَاللهُ لَا يَسْتَحْيِ مِنَ الْحَقِّ. [نسائی]

ترجمه: دانس رضی الله عنـه نـه روایت دے دبهز راوی نه چه هرکله پوره شولو عدت دزینب رضـی الله عـنها (یعنے دزید رضی الله عنه دطلاق ورکولو نه پس) نورسول الله ﷺ زید رضی الله عـنـه تـه اوفـرمـائيـل چه دهغے سره ځماذکر اوکړه، اوزید رضی الله عنه لاړو تردے پورے چه دهغے خواته اورسیدو اوهغے دخپلو اوړو نه خمیر جوړولو زید رضی الله عنه وائی چه ما هرکله هغه رضی الله عنها اولیده نوزما په زړهٔ کښے دهغے برائی تردے پورے راغلے چه مادهغے طرفته کتـلے نهٔ شو ځکه چه رسول الله ﷺ هغه رضی الله عنها یاده کړے وه، (داکمال دایمان خبره وه، اوډیر دخوشقسمتئ خبره وه چه دزید رضی الله عنه په زړهٔ کښے په دے خیال سره چه رسول الله ﷺ دے تـه پیـغـام راکړے دے دومـره قـدر اوعـظـمـت اوهیبت پریوتو چه کتلے ئے ورته نهٔ شو (افسـوس دے چـه ددے زمـانے خـلـقـوته درسول الله ﷺ دحدیثودلوئے والی اوعظمت هډو څه خیـال نـهٔ راځـی اوبے تـکـلـفه ددروغو په تاویلونو کښے لګیا دی، اوداخیال نهٔ کوی چه دا خاص دهغه ژبے ترجمان وحی نه وتلے دے دچاپه شان کښے چه "وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى" نازل دے) غـرض داچـه ماورته شاکړه اوپه پوندو باندے را اوګرځیدم، اوعرض می اوکړو چه اے زینب رضـی الله عنها رسول الله ﷺ پیغام رالیږلے دے اوهغوئ ﷺ تایاده وی (یعنی دنکاح پیغام ئے

راکړے دے) هغوئ رضی الله عنها اوفرمائیل چه زهٔ یو کار هم نهٔ دکومے پورے چه می دخپل پروردګارنهٔ مشوره اخستے نهٔ وی (یعنی استخاره می نهٔ وی کړے) اوپه دغه وخت هغوئ رضی الله عنها خپل مانځه په ځائے باندے اودیره (واه دمسلمانانو مور الله جل جلاله دی په تلباندے رحمت اوکړی) ران نازل شو اورسول الله ﷺ دهغے رضی الله عنها خواته بغیرداجزت نه داخل شولو (یعنی دا ایات نازل شو "زَوَّجْنٰكَهَا لِكَيْلَا يَكُوْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ حَرَجٌ فِيْٓ اَزْوَاجِ اَدْعِيَآئِهِمْ" یعنی واده کړه مونږ زینب رضی اللہ عنها تاته ددے دپاره چه مؤمنانو نه حرج نه وی دخپلو پالونکو بیبیانو سره په نکاح کولو کښے هرکله چه هغوئ ﷺ خپل حاجت دهغوئ رضی الله عنها نه پوره کړی) راوی وائی ماخپلو تولو خلقوته کتل چه رسول الله ﷺ په مونږ دوډئ اوغوښه اوخوړه تردے پورے چه ورځ را اوخته اوخلق دخوراك سكاك نه پس بهر را اووتو اوخوتنه سړی دننه پاتے شو چه هغوئ رضی اللہ عنهم دخوړلو سخلونه پس په کورکښے خبرے کولے، اورسول الله ﷺ را اووتو اوزهٔ هم دهغوئ ﷺ وریسے را اووتم، اوحضرت ﷺ به دخپلو بیبیانو رضی الله عنهن حجروته تللو اوبه هغوئ رضی الله عنهن به ئے سلام کولو، اوهغوئ رضی الله عنهن به عرض کولو چه یارسول! تاسو خپلے بی بی رضی اللہ عنها لره څنګه اوموندہ، (یعنی زینب رضی اللہ عنها لره) بیاراوی وائی چه زهٔ نه پو هیږم چه هغوئ ﷺ ماخبر کړو یا هغوئ ﷺ زهٔ خبرکړم چه هغه خلق لاړو بیاحضرت ﷺ تشریف یوړو تردے پورے چه داخلشو په کور کښے اوزهٔ هم دهغوئ ﷺ سره دننه تلم چه هغوئ ﷺ زمااوبه خپل مینځ کښے پرده اوکړه اودپردے ایت نازل شولو اوخلقوته نصیحت اوکړے شو اوابن رافع رضی الله عنه دا هم زیاته کړے ده په خپل روایت کښے چه دا ایات نازل شو "لَاتَدْخُلُوْا" نه رآخره پورے یعنی مهٔ داخلیږئ په کورونو دنبی ﷺ کښں مګر هله چه اجازت اوشی تاسو ته دخوړلو اومهٔ انتظار کوئ دهغے دپخولو تردے پورے چه الله پاك فرمائی الله شرم نهٔ کوی په حقه خبره کښں۔

فائده: ددے حدیث مبارك نه دسنتو تابعداروته خومسئلے معلومے شوے، اوداچه یوسړے دسابقه خاوند په ذریعه سره ښځے ته دنکاح پیغام لیږلے شی، که دامعلومه وی چه هغه

پـه دے سره نۀ خفه کیږی لکه څنګه چه دزید رضی الله عنه حال وو۔ دوئمه دامعلومه شوه چه داصحابـو رضـی الله عنهـم پـه زړۀ کنبـے لوئے عظمت وو درسول الله ﷺ چه صرف یو اځے په پیـغـام ورکـولـو سـره دزیـد رضـی اللهعنه په زړۀ کنبے دزینب رضی اللهعنها هیبت اوادب ځائے اونیـوۀ، اودغـه شـان عظمت پکار دے هرمؤمن لره چه هرکله دحضرت ﷺ قول وفعل اوتقریر اوری چـه زړۀ ئے درزیږی اوسـوا د درود سـلام نه نے نورڅه په زړۀ کنبے نۀ راځی، اوکچرے داسے کار نۀ وی نوتش دایمان نوم دے۔

دریمه داچه داستخارے مونځ مستحب دے چه هیڅوك دی هم یو غټ کار بغیرددے نه نـۀ کـوی، اودعـا داسـتـخارے په حدیثو کنبے راغلی ده هغه دی لولی چه الله تعالی په هګے کنبں بـرکـت واچـوی ،اوپه بخاری کنبے روایت شوی دی چه رسول الله ﷺ به مونږ ته په هرکار کنبے استخاره ښودله۔ څلورم داچه دلے پالك هلك حکم دغیردے اودهغه ښځه په شان دغیرښځے ده، چه پالونکی دهغے سره نکاح درست دے هرکله چه سابقه خاوند ورله طلاق ورکړی۔

پـنـځـم فـضیلت ددویم نکاح ثابت شولو چه الله تعالی پخپله دهغے بانی مبانی اوقاضی لاثانی شولو۔ ،

شپږم : فـضـیـلـت دمـؤمنانو دمور حضرت زینب رضی الله عنها ثابت شولو چه دهغے نـکـاح الله تـعـالـی پـخپله دآسمانونو نه اوچت په عرش کنبے اوتړلو اوجبرئیل امین دهغے خبر راؤړو، اوجناب دمؤمنانو مور رضی الله عنها به اکثرپه دے فخرکولو۔

اووم : داثابتـه شـوه چـه درسول الله ﷺ نـکـاح بغیردګواهانو اوبغیر دولی نه صحیح دے، ځـکـه چـه دحـضـرت ﷺ دعوے ته دګواه ضرورت نشته دے ځکه اصدق الصادقین دے، اودغـه مـذهـب صـحـيـح دے دشـافـعـيه ؤ ،اوحضرت ﷺ پخپله ولی دے دتمامو مؤمنانو سرو اوښځو داخاصه وه دحضرت ﷺ۔

(۳۴۰۳) عَنْ اَنَسٍ وَّفِیْ رِوَایَةِ اَبِیْ کَامِلٍ سَمِعْتُ اَنَسًا رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ مَارَأَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوْلَمَ عَلٰی امْرَأَةٍ وَقَالَ اَبُوْ کَامِلٍ عَلٰی شَیْءٍ مِّنَ النِّسَآئِهٖ مَآاَوْلَمَ عَلٰی زَیْنَبَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَاِنَّهٗ ذَبَحَ شَاةً. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دے وائي چه ما نۀ دے ليدلے رسول الله ﷺ لره چه ديوے ښځے وليمه ئے داسے کړے وي لکه د زينب رضي الله عنها چه ئے کړے وه، حضرت ﷺ د هغوئ رضي ا عنها دپاره يوه بزه ذبح کړے وه.

(۳۵۰۴) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ مَاۤاَوْلَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى امْرَاَةٍ مِّنَ النِّسَاۤئِهٖ اَكْثَرَ اَوْاَفْضَلَ مِمَّا اَوْلَمَ عَلٰى زَيْنَبَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَقَالَ ثَابِتُ الْبُنَانِيُّ بِمَاۤاَوْلَمَ قَالَ اَطْعَمَهُمْ خُبْزًا وَّلَحْمًا حَتّٰى تَرَكُوْهُ.

ترجمه: دپورته مضمون په شان مضمون دے، صرف دومره خبره زياته ده چه اوئے خورله په خلقو ډوډئ او غوښه تردے پورے چه ئے نۀ شوه خوړے پريخوده ئے.

(۳۵۰۵) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَيْنَبَ بِنْتَ جَحْشٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا دَعَا الْقَوْمَ فَطَعِمُوْا ثُمَّ جَلَسُوْا يَتَحَدَّثُوْنَ فَقَالَ فَاَخَذَ كَاَنَّهٗ يَتَهَيَّاُ لِلْقِيَامِ فَلَمْ يَقُوْمُوْا فَلَمَّا رَاٰى ذٰلِكَ قَامَ فَلَمَّا قَامَ قَامَ مَنْ قَامَ مِنَ الْقَوْمِ زَادَ عَاصِمٌ وَابْنُ عَبْدِالْاَعْلٰى فِيْ حَدِيْثِهِمَا قَالَ فَقَعَدَ ثَلَاثَةٌ وَاِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاۤءَ لِيَدْخُلَ فَاِذَا الْقَوْمُ جُلُوْسٌ ثُمَّ اِنَّهُمْ قَامُوْا فَانْطَلَقُوْا قَالَ فَجِئْتُ فَاَخْبَرْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُمْ قَدِانْطَلَقُوْا قَالَ فَجَاۤءَ حَتّٰى دَخَلَ فَذَهَبْتُ اَدْخُلُ فَاَلْقَى الْحِجَابَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهٗ قَالَ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَاتَدْخُلُوْا بُيُوْتَ النَّبِيِّ اِلَّا اَنْ يُّؤْذَنَ لَكُمْ اِلٰى طَعَامٍ غَيْرَ نٰظِرِيْنَ اِنٰهُ اِلٰى قَوْلِهٖ اِنَّ ذٰلِكُمْ كَانَ عِنْدَاللّٰهِ عَظِيْمًا. [بخاری]

ترجمه: د انس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دے وائي چه هر کله نکاح اوکړو نبي ﷺ د زينب رضي الله عنها بنت جحش سره نو خلق ئے راوغوښتل او غله ئے پرے اوخوروله، بيا هغه (خلق) کيښناستل خبرے ئے کولے، پس حضرت ﷺ به تيار شولو لکه چه دے اودريږي، بيا هم هغه خلق نۀ پاڅيدو، بيا چه هر کله حضرت ﷺ اوليدل (چه دوئ نۀ پاڅي) نو حضرت ﷺ پاڅيدلو او د هغه خلقو نه څه خلق پاڅيدو، او عاصم او ابن عبدالاعلى رضي الله عنهما په خپلو روايتونو کښے داخبره زياته کړے ده چه درے سړي د هغوئ نه ناست پاتے شول، او نبي ﷺ تشريف راوړو چه دننه راشي، نو اوئے ليدل چه خلق ناست دي بيا هغه خلق پاڅيدو اولاړو، او زۀ راغلم او حضرت ﷺ ته مي خبرورکړو چه هغوئ لاړو، او حضرت ﷺ راغے او په کور کښے

داخل شولو، پس زۀ هم دهغوی ﷺ سره کورته داخلیدم نو حضرت ﷺ زما اوپه خپل مینځ کښے پرده اوکړه، اوالله تعالی جل جلاله دا ایات نازل کړو (اے ایمان والاؤ مهٔ داخلیږی په کورنو دنبی ﷺ کښں مګر هرکله چه اجازت میلاؤ شی تاسوته دخوراك كولو، اوانتظار مۀ کوئ دهغے دپخیدو د"عِنْدَاللهِ عَظِيْمًا" پورے ،یعنی پوره آیت د"عِنْدَاللهِ عَظِيْمًا" پورے نازل شولو۔

(۳۵۰۲) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مٰلِكٍ قَالَ اَنَا اَعْلَمُ النَّاسِ بِالْحِجَابِ لَقَدْ كَانَ اُبَيُّ ابْنُ كَعْبٍ يَسْئَلُنِيْ عَنْهُ قَالَ اَنَسٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَصْبَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرُوْسًا بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَ وَكَانَ تَزَوَّجَهَا بِالْمَدِيْنَةِ فَدَعَا النَّاسَ لِلطَّعَامِ بَعْدَ ارْتِفَاعِ النَّهَارِ فَجَلَسَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَلَسَ مَعَهُ رِجَالٌ بَعْدَمَا قَامَ الْقَوْمُ حَتّٰى قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَشٰى فَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتّٰى بَلَغَ بَابَ حُجْرَةِ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا ثُمَّ ظَنَّ اَنَّهُمْ قَدْ خَرَجُوْا فَرَجَعَ وَرَجَعْتُ مَعَهُ فَاِذَاهُمْ جُلُوْسٌ مَكَانَهُمْ فَرَجَعَ فَرَجَعْتُ الثَّانِيَةَ حَتّٰى بَلَغَ حُجْرَةَ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَرَجَعَ فَرَجَعْتُ مَعَهُ فَاِذَاهُمْ قَدْقَامُوْا فَضَرَبَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُ السِّتْرَ وَاُنْزِلَ اٰيَةُ الْحِجَابِ. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه زۀ دټولو نه زیات دپردے دنازلیدو په باره کښے واقف یم، اوابی بن کعب رضی الله عنه به ځمانه تپوس کولو بیاانس رضی الله عنه وائی چه سحر کړو رسول الله ﷺ چنغول جوړ شوے دزینب رضی الله عنها بنت جحش سره اودهغے سره ئے نکاح کړے وو حضرت ﷺ په مدینه کښے اوخلق ئے دخوراك دپاره را اوبللو کله چه ورځ رااوختـه نو حضرت ﷺ هم کیښناستو اوڅه خلق هم دهغوئ ﷺ سره ورستو ددے نه چه ټول خلق لاړو اوهغه خلق تردے پورے ناست وو چه رسول الله ﷺ پاځیدو اولاړو، اوزۀ هم دهغوئ ﷺ سره لاړم تردے پورے چه دحضرت عائشے رضی الله عنها دروازے ته اورسیدو بیائے خیال اوکړو چه هغه خلق به تلی وی، اوحضرت ﷺ واپس شو اوزۀ هم دهغوئ ﷺ سره واپس شوم نو څه ګورو چه هغه خلق بیاهم په هغه ځائے ناست دی، حضرت ﷺ بیا واپس شو اوزۀ هم په دویم ځل واپس شوم تردے پورے چه دحضرت عآئشے رضی الله عنها حجرے ته اورسیدو،اوبیاواپس شو اوۀ هم واپس شوم پس څه ګورو چه هغه خلق تلی دی، اوحضرت ﷺ زما اوپه خپل مینځ کښے پرده واچوله ،داایت دپردے نازل شو۔

فائده : دا د رسول الله ﷺ د اخلاقو کمال وو چه باوجود ددے چه حضرت ﷺ ته دهغوی رضی الله عنهم د کیښناستو سخت تکلیف او رسیدو مګر په ژبه ئے دانه فرمائیل چه تاسو پاڅئ. او الله خبر چه داسے تکلیفونه به هغوی ﷺ ته څو ځله میلاؤ شوی وی، او هغوی ﷺ به چپ وو تردے پورے چه پروردګار د هغے پخپله بندوبست اوکړو.

(٣٥٠٧) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ تَزَوَّجَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ بِاَھْلِہٖ قَالَ فَصَنَعَتْ اُمِّیْ اُمُّ سُلَیْمٍ حَیْسًا فَجَعَلَتْہُ فِیْ تَوْرٍ فَقَالَتْ یَااَنَسُ اذْھَبْ بِھٰذَا اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَقُلْ بَعَثَتْ بِھٰذَا اِلَیْکَ اُمِّیْ وَھِیَ تَقْرَءُکَ السَّلَامَ وَتَقُوْلُ اِنَّ ھٰذَا لَکَ مِنَّا قَلِیْلٌ یَارَسُوْلَ اللّٰہِ قَالَ فَذَھَبْتُ بِھَآ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ اِنَّ اُمِّیْ تُقْرِئُکَ السَّلَامَ وَتَقُوْلُ اِنَّ ھٰذَا لَکَ مِنَّا قَلِیْلٌ فَقَالَ ضَعْہُ ثُمَّ قَالَ اذْھَبْ فَادْعُ لَنَا فُلَانًا وَّفُلَانًا وَمَنْ لَقِیْتَ وَسَمّٰی رِجَالًا قَالَ فَدَعَوْتُ مَنْ سَمّٰی وَمَنْ لَقِیْتُ قَالَ قُلْتُ لِاَنَسٍ عَدَدَ کَمْ کَانُوْا قَالَ زُھَاءَ ثَلَاثِ مِائَۃٍ وَقَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَا اَنَسُ ھَاتِ التَّوْرَ قَالَ فَدَخَلُوْا حَتّٰی امْتَلَاَتِ الصُّفَّۃُ وَالْحُجْرَۃُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لِیَتَحَلَّقْ عَشَرَۃٌ عَشَرَۃٌ وَلْیَاْکُلْ کُلُّ اِنْسَانٍ مِّمَّا یَلِیْہِ قَالَ فَاَکَلُوْا حَتّٰی شَبِعُوْا قَالَ فَخَرَجَتْ طَآئِفَۃٌ وَّدَخَلَتْ طَآئِفَۃٌ حَتّٰی اَکَلُوْا کُلُّھُمْ فَقَالَ یَااَنَسُ ارْفَعْ قَالَ فَرَفَعْتُ فَمَا اَدْرِیْ حِیْنَ وَضَعْتُ کَانَ اَکْثَرَ اَمْ حِیْنَ رَفَعْتُ قَالَ وَجَلَسَ طَوَائِفُ مِنْھُمْ یَتَحَدَّثُوْنَ فِیْ بَیْتِ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وَرَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ وَّزَوْجَتُہٗ مُوَلِّیَۃٌ وَّجْھَھَا اِلَی الْحَآئِطِ فَثَقُلُوْا عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلٰی نِسَآئِہٖ ثُمَّ رَجَعَ فَلَمَّا رَاَوْا رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ قَدْ رَجَعَ ظَنُّوْا اَنَّھُمْ قَدْ ثَقُلُوْا عَلَیْہِ قَالَ فَابْتَدَرُوا الْبَابَ فَخَرَجُوْا کُلُّھُمْ وَجَآءَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ حَتّٰی اَرْخَی السِّتْرَ وَدَخَلَ وَاَنَا جَالِسٌ فِی الْحُجْرَۃِ فَلَمْ یَلْبَثْ اِلَّا یَسِیْرًا حَتّٰی خَرَجَ عَلَیَّ وَاُنْزِلَتْ ھٰذِہِ الْاٰیَۃُ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وَقَرَاَھُنَّ عَلَی النَّاسِ یٰٓاَیُّھَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُیُوْتَ النَّبِیِّ اِلَّآ اَنْ یُّؤْذَنَ لَکُمْ اِلٰی طَعَامٍ غَیْرَ نٰظِرِیْنَ اِنٰہُ وَلٰکِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ فَادْخُلُوْا فَاِذَا طَعِمْتُمْ فَانْتَشِرُوْا وَلَا مُسْتَاْنِسِیْنَ لِحَدِیْثٍ اِنَّ ذٰلِکُمْ کَانَ یُؤْذِی النَّبِیَّ اِلٰی اٰخِرِ الْاٰیَۃِ قَالَ الْجَعْدُ قَالَ اَنَسٌ اَنَا اَحْدَثُ النَّاسِ عَھْدًا بِھٰذِہِ الْاٰیَاتِ وَحُجِبْنَ نِسَآءُ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ. [بخاری تعلیقا، ترمذی، نسائی]

ترجمه: د انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه نکاح اوکړو رسول الله ﷺ

او داخل شو دخپلې بی بیّ خواته، او ځما مور ام سلیمؓ څه ملیده (یعنی چُری)جوړه کړه، او په خانك کښې ئې کیښوده، او اوئې وئیل چه اې انسهٔ! دایوسه درسول اللهﷺ په خدمت کښې حاضر کړې (ددې نه ثابته شوه چه نوی دواده ځلمی له غله لیږل چه هغه ته په ولیمه کښې مددشی مستحب دی) او عرض اوکړه چه دا زما مور ستاسو په خدمت کښې رالیږلې دی او سلام ئې عرض کړې دې او عرض کوی چه ستاسو په جناب کښې داډیره لږه هدیه ده زمونږ دطرفنه اې دالله رسوله! انسؓ وائی بیا ما هغه رسول اللهﷺ ته اورسوله! او هغویٰ ته م عرض اوکړو چه زما مور ستاسو په خدمت کښې زهٔ رالیږلې یم او سلام ئې وئیلې دې او عرض کوی چه دا زمونږ دطرفنه ستاسو په جناب مبارك کښې ډیره لږه شان هدیه ده، حضرتؐ لو فرمائیل چه کیږده، او اوئې فرمائیل چه لاړشه او فلانې فلانې سړې زما خواته راوله او څوك چه درسره میلاویږی هغه هم راوله، او دڅو کسانو نومونه ئې واخستل پس ما هغه هم راوبلل دکومونومونه چه حضرتؐ اخستی وو، او په لاره کښې چه څوك میلاؤ شو هغه هم، ما انسؓ ته اووې چه بیا هغویٰ اِووې چې درې سوؤ ته نزدې وو، او ماته رسول اللهﷺ او فرمائیل چه اې انسؓ! هغه طباق دننه راغلو تردې پورې چه صُفه او حجره دواړه ډك شولو (صفه هغه ځائې چه دکوره بهر دمیلمنو دپاره جوړشی چه هغې ته بیټك وئیلې شی) بیا رسول اللهﷺ او فرمائیل چه دلسو لسو کسانو حلقه دجوړولې شی (یعنې چه هغه خوراك اوکړی بیا به نورلس کیښنی) او پکاره ده چه هر سړې دخپلې مخې ته خوری(یعنی دغلې سوکه دننهٔ ماتوی چه برکت ددغه ځائې نه نازل شوې دې) او هغه خلقو ددې پورې او خوړه چه ټل ماړه شول، او یو ګروپ به خوړه هغه به تلو او دیم به راتلو تردې پورې چه تولو خلقو اوخوړه، بیائې ماته او فرمائیل چه انسهٔ اوچته کړه، او ما چه دغه لوښې او چتوؤ نو داراته نهٔ معلومیده چه هر کله چه ما دالوښې ایخودغله په کښې زیاته وه یا چه کله ما اوچت کړو په دې کښې غله زیاته وه، او ځنې خلق په خوړوخبروناست وو درسول اللهﷺ په کور کښې، او رسول اللهﷺ ناست وو او دهغویٰ بی بی صاحبه (یعنی دمؤمنانو مور زینب رضی الله تعالی عنها) ددیوال طرفته مخ کړې ناسته ده، او دهغه خلقو کیښناستل حضرتؐ ته ناخوښه شو او حضرت را اووتو او خپلو بیبیانوؓ ته ئې

سلام اوکړو او بیا واپس راغے. بیا چه کله دغه خلقو رسول اللهﷺ اولیدو چه په دوئ باندِ مونږ
بوج شولو نو زر دروازے تـه لاړل او بهـر اوو تـوتـول، او رسـول اللهﷺ راغے تـر دے پورے چه
حضرت پرده جوړه کړه او کورته داخل شولو، او زهٔ په حجره کښے ورته ناست وم، بیا به لږ شان
ساعت شوے وو چه حضرت زما طرفته را اووتو او دا ایاتونه نازل شولو، او رسول اللهﷺ بهر ته
د یـا ایُّهـا الـذیـنَ نـه واخـلـه دآخره پورے، جعد کوم چه راوی دے هغوئ وائی چه انسؓ وئیلے دی
دهر څه مخکښے دایتونه ما اوریدلی دی، او ماته رارسیدلی دی، او په پرده کښے او سیدل شروع
کړو بیبیانوؓ درسول اللهﷺ.

فائده: پـه دے حدیث کښے لویه معجزه ده درسول اللهﷺ چه دیریادوه کسانو په غله
کښے درے سوه کسان ماړه او آسوده شول، او لوئے فضیلت دے پکښں دمؤمنانو دمور زینبؓ چه
دیردے أیت ددے دعقد په زمانه کښے نازل شو.

(۳۵۰۸) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا تَزَوَّجَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ زَیْنَبَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَهْدَتْ لَهُ اُمُّ سُلَیْمٍ حَیْسًا فِیْ تَوْرٍ مِّنْ حِجَارَةٍ فَقَالَ اَنَسٌ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اذْهَبْ فَادْعُ لِیْ مَنْ لَقِیْتَ مِنَ الْمُسْلِمِیْنَ فَدَعَوْتُ لَهُ مَنْ لَقِیْتُ فَجَعَلُوْا یَدْخُلُوْنَ عَلَیْهِ فَیَاکُلُوْنَ وَیَخْرُجُوْنَ وَوَضَعَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَدَهُ عَلَی الطَّعَامِ فَدَعَا فِیْهِ وَقَالَ فِیْهِ مَا شَآءَ اللّٰهُ اَنْ یَقُوْلَ وَلَمْ اَدَعْ اَحَدًا لَقِیْتُهُ اِلَّا دَعَوْتُهُ فَاَکَلُوْا حَتّٰی شَبِعُوْا وَخَرَجُوْا وَبَقِیَ طَآئِفَةٌ مِّنْهُمْ فَاَطَالُوْا عَلَیْهِ الْحَدِیْثَ فَجَعَلَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَسْتَحْیِیْ مِنْهُمْ اَنْ یَّقُوْلَ لَهُمْ شَیْئًا فَخَرَجَ وَتَرَکَهُمْ فِی الْبَیْتِ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰی یَا اَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا لَا تَدْخُلُوْا بُیُوْتَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلَّا اَنْ یُّؤْذَنَ لَکُمْ اِلٰی طَعَامٍ غَیْرَ نَاظِرِیْنَ اِنَاهُ قَالَ قَتَادَةُ غَیْرَ مُتَحَیِّنِیْنَ طَعَامًا وَّلٰکِنْ اِذَا دُعِیْتُمْ فَادْخُلُوْا حَتّٰی بَلَغَ ذٰلِکُمْ اَطْهَرُ لِقُلُوْبِکُمْ وَقُلُوْبِهِنَّ. [راجع: ۳۵۰۷]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه هر کله نکاح او شوه نبیﷺ
دزینبؓ سره نو ام سلیمؓ دهغوئ دپاره ملیده(یعنی چُوری) په هدیه کښں او لیږله دګټے په یو
لوښی کښں، اوانس رضی الله تعالی عنه وئیلے دی چه نبیﷺ ماته او فرمائیل چه لاړشه کوم
مسلمان چه تاته میلاویږی هغه راوله، پس ماته چه څوك میلاویدل هغه م راوستلو او هغه
خلق تهول راتللو او خوراك به ئے خورلو او وتل به، او نبی کریمﷺ خپل مبارك لاس په غله

باندِ کینبنودو او دُعائے اوکړه او او لوستل ئے په هغے باندِ څه چه الله غوښتلو ، او ماهم چه څوك راتـه میـلاویدو هیڅوك م پرے نهٔ ښودو ضرور م راویستلو. او تولو ښه او خوړه تردے پورے چه ماړه شـول او بـا هـر تـه اووتـل او یو ګروپ د هغوئ نه ناست پاتے شولو. او ډیرے اوږدے خبرے ئے شروع کـړے، او نبی ﷺ به د هغوئ نه شرمیدلو چه هغوئ ته څه او وائی بیا حضرتؓ را اووتو او هغوئ ئے پکور پریخودل او الله تعالی هغه ایتونه نازل کړلو کوم چه پورته ذکر شولو.

بَابُ الْاَمْرِ بِاِجَابَةِ الدَّاعِیْ اِلٰی دَعْوَةٍ.

باب: د دعوت قبلولو بیان.

(۳۵۰۹) عَنِ ابْـنِ عُـمَـرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دُعِیَ اَحَدُکُمْ اِلَی الْوَلِیْمَةِ فَلْیَاْتِهَا. [بخاری ،ابوداود]

ترجمة : دعبـدالله بـن عـمـر رضـی الله تـعـالـی عـنـهـمـا نـه روایت دے وائی چـه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه چاته دولیمے دعوت ورکړے شی نو ضرور دِ راځی۔

(۳۵۱۰) عَنِ ابْنِ عُـمَـرَ رَضِـیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا دُعِیَ اَحَدُکُمْ اِلَی الْوَلِیْمَةِ فَلْیُجِبْ قَالَ خَالِدٌ فَاِذَا عُبَیْدُ اللهِ یُنْزِلُهُ عَلَی الْعُرْسِ.

ترجمة : دعبـدالله بـن عـمـر رضـی الله تـعـالـی عـنـهـمـا نـه روایت دے وائی چـه رسول الله ﷺ فـرمـائیـلـی دی هر کله چه تاسو کښ څوك دولیمے طرفته را اوغوښتے شی نو پکار ده چه قبول ئے کړی، راوی وائی چه عبیدالله ددے نه دنکاح دولیمے مراد اخلی۔

فائده: نـووئ وئیلے دی چه دعوت دخوړلو په فتحَ دَدال دے او دعوت دنسب له کسرَ دال دے، او داقـول دے دجـمـهـورو عربو، او دولیمے په دعوت کښے تلل مامور به، خو بالاتفاق دے، مګر داامر دوجب دپاره دے یاداستحباب دپاره په دے کښ اختلاف دے، او اصح مذهب دشافعیه ؒ دادے چـه هغه فرض عین دے په هر سړی باندِ چاله چه دعوت ورکړے شی، مګر دومره ده چه حاضری هلته کښے معاف کیدے شی په سبب د هغه عذرونو کوم چه خلق ذکر کوی۔

او د ویم قول دا دے ، چه هغه فرض کفایه دے۔ او دریم قول د ادے چه مستحب دے ، او دا حکم د دے نکاح د ولیمے ، او باقی دعوتونه کوم د دے نه علاوه دی چه په هغے کښ دوه قولونه

دی ، اول دعوتونه کوم د دے نه علاوه په هغے کښ دوه قولونه دی ،، اول دا چه هغه په شان د ولیمے دی ، دویم دا چه مستحب دی او قبلول د هغے دَ استحباب نه زیات یعنی مخکښے نهٔ دی ، او قاضی عیاض اتفاق علماو په دے بانډِ ذکر کړے دے چه واجب دی قبلول د ولیمے ، او د دے سوا د امام مالکؒ او جمهورو قول دے چه اجابے د دے واجب نهٔ دے او دَ اهل ظاهرو قول دے چه اجابت د هر دعوت واجب دے خوابښ که دعوت د ولیمے وی یا علاوہښ د دے نه وی ، او دغه د څنو سلفو قول دے ، او هغه عذر چه د بلونکی په مال کښ (د حرام والی) شبه وی ، یا خاص د غنیانو دعوت وی ، یا هلته یو داسے سړے وی چه هلته په حاضریدو سره ایذا یعنی ضرر جوړیږی ، همنشنی به د ده په معامله کښے ضرور کوی ، یا بلونکی د دے د پاره دعوت ورکړے وی چه د ده نه په څه ظلم کښے مدد واخلی ، یا هلته څه منکرات لکه شراب وغیره یا ناچ رنګ یا فرش حریر یا د سروزرو یا د سپینو زروئے لوښی وی ، چه په دے عذورونو سره د دعوت نهٔ قبلولو روا دی ، او هم دغسے د هغه دعوتونو قبولول ضروری نهٔ دی ، چه په هغے کښ نذر د غیرالله وی ، لکه د لوئے پیر یولسمه توښه د عبدالحق صاحب یا کندوری چه په دے کښ اکثر نذر د غیرالله وی۔

((۳۵۱۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللہ تَعَالٰی عَنْهُمَا قال قال رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ائْتُوا الدَّعْوَةَ اِذَا دُعِیْتُمْ. [ابوداود]

ترجمة: د ابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څښی تاسو دعوت له هر کله چه اوغوښتے شئی۔

(۳۵۱۳) عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا کَانَ یَقُوْلُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دَعَا اَحَدُکُمْ اَخَاهُ فَلْیُجِبْ عُرْسًا کَانَ اَوْ نَحْوَهُ. [راجع : ۳۵۱۲]

ترجمة: د نافع نه روایت دے چه ابن عمر رضی الله عنهما د نبی ﷺ نه روایت کولو چه هر کله اوغوړی څوك خپل رور لره نو پکار ده چه قبوله کړی د هغه بلنه که د وادښ وی یا د بل څه کار د دے په شان وی۔

(۳۵۱۶) عَنْ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللہِ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ

وَسَلَّمَ اَجِيْبُوْا هٰذِهِ الدَّعْوَةَ اِذَا دُعِيْتُمْ لَهَا قَالَ وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ يَأْتِي الدَّعْوَةَ فِي الْعُرْسِ وَغَيْرِ الْعُرْسِ وَيَأْتِيْهَا وَهُوَ صَائِمٌ. [بخاری]

ترجمة: د نافع نه روایت دے وائی چه ما د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه اوریدلی دی چه ونیل ئے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل قبلوئ تاسو دعوت لره هر کله چه اوبللے شی، او عبدالله رضی الله تعالے عنه به دعوت له راتللو که ولیمه به وه خواه یا که غیر ولیمه اګر که روژه داربه وو.

(۳۵۱۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنْ دُعِيْتُمْ اِلٰى كُرَاعٍ فَاَجِيْبُوْا.

ترجمة: دابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی کچرے تاسو او غوښتے شئ دبزے دنوك (یعنی سوه) په طرنو هم ئے قبلوئ.

فائده: یعنی طعام هر څنګه قبلول ضروری دی مګر چه دحلالو وی.

(۳۵۱۸) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دُعِيَ اَحَدُكُمْ اِلٰى طَعَامٍ فَلْيُجِبْ فَاِنْ شَآءَ طَعِمَ وَاِنْ شَآءَ تَرَكَ وَلَمْ يَذْكُرِ ابْنُ مُثَنّٰى اِلٰى طَعَامٍ. [ابوداود]

ترجمة: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، هر کله چه څوك دطعام په طرف او بللے شی نو رادشی بیائے خوښه خپله ده که خوری یا نۀ خوری او دابن مثنی په روایت کښے دخوراك لفظ نشته دے.

فائده: ددے نه معلومه شوه چه په دعوت کښے حاضریدل ضروری دی او دخوړلو اختیار دے، که خوری یا نۀ خوری.

(۳۵۲۰) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دُعِيَ اَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ فَاِنْ كَانَ صَآئِمًا فَلْيُصَلِّ وَاِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ.

ترجمة: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه چاته دعوت ورکړے شی نو قبلوی دئے، کچرے روژه ئے وی نو دُعاء او کړی او که روژه ئے نۀ وی نو اودخوری.

فائده : دفلیصل معنے ځنو داسے وئیلے ده چه دعاد اوکړی دصاحب دعوت دپاره او دغه قول قوی دے او ځنو وئیلے دی چه مونځ د اوکړی یعنی نفل چه دکور دخاوند په کور کښے برکت شی۔

(۳۵۲۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ کَانَ یَقُوْلُ بِئْسَ الطَّعَامُ طَعَامُ الْوَلِیْمَةِ یُدْعٰی اِلَیْهِ الْاَغْنِیَآءُ وَیُتْرَکُ الْمِسْکِیْنُ فَمَنْ لَّمْ یَاْتِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَی اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ. [بخاری، ابوداود، ابن ماجه]

ترجمة : دابـو هریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه نا کاره خوراك دهغه دولیمے خوړل دی چه په هغے کښے مالدار رابللے شی او مسکینان نۀ راغواړی خو څوك چه دعوت ته حاضر نۀ شولو هغه نافرمانی اوکړه دالله پاك او دهغه درسول ﷺ۔

(۳۵۲۲) عَنْ سُفْیَانَ قَالَ قُلْتُ لِلزُّهْرِیِّ یَا اَبَابَکْرٍ کَیْفَ هٰذَا الْحَدِیْثُ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْاَغْنِیَاءِ فَضَحِکَ فَقَالَ لَیْسَ هُوَ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْاَغْنِیَاءِ قَالَ سُفْیَانُ وَکَانَ اَبِیْ غَنِیًّا فَاَفْزَعَنِیْ هٰذَا الْحَدِیْثُ حِیْنَ سَمِعْتُ بِهٖ فَسَاَلْتُ عَنْهُ الزُّهْرِیَّ قَالَ حَدَّثَنِیْ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ الْاَعْرَجُ اَنَّهٗ سَمِعَ اَبَا هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِیْمَةِ ثُمَّ ذَکَرَ بِمِثْلِ حَدِیْثِ مَالِکٍ. [راجع : ۳۵۲۱]

ترجمة : دسفیانؒ نه روایت دے وائی چه ما د زهریؒ نه تپوس اوکړو چه دا حدیث څنګه دے چه بد تر د ټولو خوراکونو نه خوراك د غنیانو دے؟ پس خندل ۔ او هغویؒ اووے چه هغه طعام بد تر نۀ دے ، لو سیفان وائی چه ځما پلار امیر و ځکه ما ته په دے حدیث سره لویه پریشانی جوړه شوه هر کله چه ما واوریدو او ما دَ زهریؒ نه تپوس کړونو هغویؒ اووے چه ما ته عبدالرحمن اعرجؒ وئیلے دی چه هغویؒ د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه اوریدلی دی چه وئیلے ئے وو چه بد تر خوړل د هغه ولیمے خوړل دی ، بیا ئے روایت اوکړو په شان د روایت د مالكؒ یعنی کوم چه پورته تیر شو چه هغے ته به مالداران راغوبنتے شی او مسکینان به نۀ شے راغوبنتے۔

(۳۵۲۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِیْمَةِ یَمْنَعُهَا مَنْ یَّاْتِیْهَا وَ یُدْعٰی اِلَیْهَا مَنْ یَّاْبَاهَا وَ مَنْ لَّمْ یُجِبِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَی اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ وَرَسُوْلَهٗ.

ترجمة: د ابـو هریره رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه بد تر طعام د هغه ولیمے د طعام دے چه څوك هغے ته راځی هغه منع کوی ، او څوك چه نۀ راځی په

هغوئ پسے څی راغواړی نے . او څوك چه پس دعوت سره نۀ راځی غے هغه نافرمانی اوکړه د ا عزوجل او د هغه د رسول الله ﷺ .

فائده : يعنی داسے خلق نه راغواړی چه هغوئ ته په دروغه اووائی او په رښتيا راشی . او د داسے خلقو په خوشامندو پسے ګرځی راګرځی په هغه په راتلو کښے مل نخرے کوی پوزه چونړه وی ، يو تر مفے غله خوری او د بل پرے د احسنا نه احسان خيژوی.

بَابٌ لَا تَحِلُّ الْمُطَلَّقَةُ ثَلَاثًا لِمُطَلِّقِهَا حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ يَطَأُهَا ثُمَّ يُفَارِقُهَا وَ يَنْقَضِىَ عِدَّتُهَا .

باب د طلاق ثلاثه بيان .

(٣٥٢٦) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ جَآءَتِ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اِلَى النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِىْ فَبَتَّ طَلَاقِىْ فَتَزَوَّجْتُ عَبْدَ الرَّحْمٰنِ ابْنَ الزُّبَيْرِ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَ اِنَّمَا مَعَهُ مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ اَتُرِيْدِيْنَ اَنْ تَرْجِعِىْ اِلٰى رِفَاعَةَ لَا حَتّٰى تَذُوْقِىْ عُسَيْلَتَهُ وَ يَذُوْقَ عُسَيْلَتَكِ قَالَتْ وَ اَبُوْبَكْرٍ عِنْدَهُ وَ خَالِدُ بْنُ سَعِيْدٍ بِالْبَابِ يَنْتَظِرُ اَنْ يُؤْذَنَ لَهُ فَنَادٰى يَا اَبَا بَكْرٍ لَا تَسْمَعُ هٰذِهٖ مَا تَجْهَرُ بِهٖ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ . [بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمة: د جناب عائشے صديقے رضی الله تعالی عنها نه روايت دے وائی چه د رفاعةؓ ښځه د نبی ﷺ په خدمت کښے حاضره شوه ، او عرض ئے اوکړو چه زۀ د رفاعةؓ په نکاح کښں وُم . او هغه ماته درے طلاق راکړل . بيا ما د عبدالرحمن بن زبيرؓ سره نکاح اوکړو . او د هغه سره څه نشته دے سوا د کپړے د ځنے په شکل (يعنی د جماع قالن بۀ دی) پس رسول الله ﷺ نری غوندې اوخندل (د هغے په خبره بانډ چه د شوم خبره څنګه په اسانه کوی) او حضرتؐ اوفرمائيل چه اراده لرے چه د رفاعةؓ په نکاح کښں بيا راشے دا خبره چرته هم نۀ کيږی د کومے پورے چه تا د دغه خاوند د جماع خوند څکلے نۀ وی او هغه ستا د جماع خوند څکلے نۀ وی جناب عائشه صديقه رضی الله تعالی عنها فرمائی چه ابوبکرؓ د حضرتؐ په خواه کښے وو . او خالد بن سعيدؓ

په دروازه کښے منتظر ولاړ وو چه که اجازت اوشی چه زه هم دننه راشم ، پس خالدؓ آواز لوکړو چه اے ابوبکرؓ! تاسو اورئ نهٔ چه دا د رسول الله ﷺ په مخکښے څه چغے وهی۔

(۳۵۲۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْمَرْأَةِ یَتَزَوَّجُهَا الرَّجُلُ فَیُطَلِّقُهَا فَتَزَوَّجَ رَجُلًا اٰخَرَ فَیُطَلِّقُهَا قَبْلَ اَنْ یُدْخَلَ بِهَا اَیَحِلُّ لِزَوْجِهَا الْاَوَّلِ قَالَ لَا حَتّٰی یَذُوْقَ عُسَیْلَتَهَا.

ترجمة: د جناب عائشے رضی الله عنها نه روایت دے ، فرمائی چه د رسول الله ﷺ نه چا تپوس اوکړو چه د یوے ښځے سره چا نکاح اوکړو او طلاق ئے ورکړو (یعنی درے طلاق مغلظنں) او بیا هغے د بل سړی سره نکاح اوکړواو هغه هم طلاق ورکړو مخکښں دَ دخول نه . نو ات دا په اول خاوند باندِ حلاله شوه ؟ حضرتؐ اوفرمائیل نهٔ د کومے پورے چه ئے د هغے شهد نهٔ وی څکلی یعنی دوئیم خاوند۔

(۳۵۳۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ طَلَّقَ رَجُلٌ اِمْرَأَتَهٗ ثَلٰثًا فَتَزَوَّجَهَا رَجُلٌ ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ اَنْ یَدْخُلَ بِهَا فَاَرَادَ زَوْجُهَا فَسُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِکَ فَقَالَ لَا حَتّٰی یَذُوْقَ الْاٰخِرُ مِنْ عُسَیْلَتِهَا مَا ذَاقَ الْاَوَّلُ. [بخاری ،نسائی]

ترجمة: د جناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه یو سړی خپلے ښځے له درے کرته طلاق ورکړو . بیا د هغے ښځے مخکښے دَ دخول نه طلاق ورکړی . او وړومبی خاوند ئے اراده اوکړه چه بیا د دے سره نکاح اوکړی ، او د رسول الله ﷺ نهٔ ئے معلومات اوکړو نو حضرتؐ ورته اوفرمائیل نهٔ شی کیدے د کومے پورے چه دویم خاوند دَ هغے نه د جماع خوند نهٔ وی موندلے لکه څنګه چه وړومبی خاوند موندلے وو۔

فائده: دغه مذهب دے د ټولو اصحابوؓ او تابعینوؒ او کوم چه د دوئ نه پس تیر شوی دی ، چه چا درے طلاق ورکړو خپلے ښځے ته او د هغے د بل سره نکاح اوکړو بیا چه هر کله دویم خاوند د جماع کولو نه پس طلاق نهٔ وی ورکړی تر هغے پورے دَ اول خاوند په نکاح کښے نهٔ شی راتلے ، او کوم قول چه د دے خلاف دے شاذ او ګیر مقبول دے ، او دا احادیث مخصص دی ایت حتی تنکح زوجا غیره۔

بَابُ مَا يُسْتَحَبُّ أَنْ يَقُوْلَهُ عِنْدَ الْجِمَاعِ.

د جماعت په وخت کښې د عا بیان.

(۳۵۳۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ اَنَّ اَحَدَهُمْ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَّأْتِيَ اَهْلَهُ قَالَ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَ جَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَاِنَّهُ اِنْ يُّقَدَّرْ بَيْنَهُمَا وَلَدٌ فِيْ ذٰلِكَ لَمْ يَضُرَّهُ شَيْطَانٌ اَبَدًا. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمة: د ابـن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے ، وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ، چه کـه چرے ستاسـو نـه څوك دَ جـمـاع د ارادے پـه وخـے د بسم الله نه دَ مَا رَزَقتنا پورے اووئی نو کـچرے د الله د دے پـه تقدیر کښے بنلك لیکل دے نو هغه ته به شیطان ضرر نهٔ شی ورکولے ، او مـعـنـی د دے دا ده چـه شـروع کوم په نوم د الله سره ی الله بچ کړے مونړه لره د شیطان نه او لرے اوساتے شیطان لره د هغه اولاد نه چه ته ئے په مونړه عنایت کوے.

(۳۵۳۴) عَنْ مَّنْصُوْرٍ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ جَرِيْرٍ غَيْرَ اَنَّ شُعْبَةَ لَيْسَ فِيْ حَدِيْثِهٖ ذِكْرُ بِسْمِ اللهِ وَفِيْ رِوَايَةِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ عَنِ الثَّوْرِيِّ بِسْمِ اللهِ وَفِيْ رِوَايَةِ ابْنِ نُمَيْرٍ قَالَ مَنْصُوْرٌ اُرَاهُ قَالَ بِسْمِ اللهِ. [راجع : ۳۵۳۳]

ترجمة: دمنصورؒ نه هم دغه شان روایت دے مګر دشعبهؒ په روایت کښ دبسم الله لفظ نشته دے، او دعبدالرزاق په روایت کښ شته دے، او دابن نمیر په روایت کښ دی چه منصورؒ وئیلے دی چه زهٔ خیال کوم چه هغوئ بسم الله وئیلے ده.

بَابُ جَوَازِ جِمَاعِهٖ امْرَأَتَهٗ فِيْ قُبُلِهَا مِنْ قُدَّامِهَا وَمِنْ وَّرَائِهَا مِنْ غَيْرِ تَعَرُّضٍ لِلدُّبُرِ.

په قُبل کښې د جماع کولو جواز نه په دُبر کښې.

(۳۵۳۵) عَنِ ابْنِ الْمُنْكَدِرِ سَمِعَ جَابِرًا رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ كَانَتِ الْيَهُوْدُ تَقُوْلُ اِذَا اَتَى الرَّجُلُ امْرَاَتَهٗ مِنْ دُبُرِهَا فِيْ قُبُلِهَا كَانَ الْوَلَدُ اَحْوَلَ فَنَزَلَتْ نِسَآؤُكُمْ حَرْثٌ لَّكُمْ فَاْتُوْا حَرْثَكُمْ اَنّٰى شِئْتُمْ. [ابن ماجه]

ترجمة : دابـن مـنـکـدرؒ نـه روایت دے هـغـه اوریـدلی دجابر رضی الله عنه نه چه هغه وائی چه دیهودو قول وو چه کوم سړے جماع اوکړی دخپلے ښځے سره په قبل کښے دشادطرفنه نو ماشوم

شیرنګ پیداکیږی (چه یو څیز ورته دوه ښکاری) په دے باند دا ایات نازل شو چه ښځی ستاسو پټی دی پس خپل پټی ته راتله کویٔ د کوم طرفنه چه غواړیٔ (یعنی راتله کویٔ پټی ته او کو هی ته مه ورځیٔ او پټے هغه دے چه چرته تخم اوکرے او راوخیژی . نه هغه چه کوم ځائے تخم منانع کیږی).

(۳۵۳۷) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللہُ تعالیٰ عَنْهُ بِهٰذَا الْحَدِیْثِ وَ زَادَ فِیْ حَدِیْثِ النُّعْمَانِ عَنِ الزُّهْرِیِّ اِنْ شَاءَ مُجَبِّیَةً وَاِنْ شَاءَ غَیْرَ مُجَبِّیَةٍ غَیْرَ اَنَّ ذٰلِکَ فِیْ صِمَامٍ وَّاحِدٍ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمة: د جابر رضی الله تعالی عنه نه دغه مضمون روایت کړے شوے دے مګر د نعمانؒ په روایے کښے دا زیات والے دے چه د زهریؒ نه مروی دے چه سړے غوړی ښځی لره پړم مخے څملوی او جماع کوی یا که غواړی سید هائے څملوی مګر جماع به په یو سوری کښں کوی یعنی په قبُل کښں۔

فائده: د دے احادیثونو په نظر سره د قراٰن په حکم سره چه الله تعالی فرمائی خپل پټی ته راتله کویٔ اتفاق کړے دے ، هغه تمامو علماؤ چه د هغویٔ اتفاق معتبر ګنړلے شوے دے ، چه په دُبر کښں جماع کول حرام دی سوا د قبل نه خواه که حالت د حیض وی خواه که طهر ، او په ډیرو حدیثونو کښں په دُبر کښے د جماع کولو بدوالے راغلے دے۔

چنانچه په یو روایت کښں راغلے دی شه ملعون دے هغه کس چه هغه د خپلے ښځے خواله ورشی د هغے په دُبر کښں ، او شافعی ملګرو فرمائیلی دی چه وطی په دُبر کښں مطلقاً حرام دی ، خوا که د سړی سره وی یا د ښاروی سره په هیڅ یو حالت کښں هم درست نهٔ دی۔

بَابُ تَحْرِیْمِ امْتِنَاعِهَا مِنْ فِرَاشِ زَوْجِهَا .

باب دے په دے بیان کښں چه ښځے لره روانهٔ دی چه خاوند د جماع نه منع کوی .

(۳۵۳۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا بَاتَتِ الْمَرْاَۃُ هَاجِرَةً فِرَاشَ زَوْجِهَا لَعَنَتْهَا الْمَلٰئِکَةُ حَتّٰی تُصْبِحَ. [بخاری]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی چه هر کله ښځښ د شپے د خپل خاوند بستره پریږدی او ځانله اوده شی نو فرښتے په دغه ښځے د سحره پورے لعنت وائی.

فائده: یعنی بغیر د شرعی عذر نه چه د هغه د بسترے نه جدا وسیږی . او په حیض کښے د بسترے نه جدا اوسیدل ضروری نهٔ دی ځکه چه خاوند لره د حیض په حالت کښ هم د نوم نه د پورته پورے د مباشرت او ښکلولو اختیار شته دے . بیا د هغه د بسترے نه د جدا اوسیدو څه معنے شوه.

(۳۵۲۹) عن شعبة بهذا الاسناد وقال حتی ترجع.

ترجمه: د شعبهٔ نه دغه مضمون مروی دے په دے کښ داد ی چه لعنت کوی په هغے باندِ فرښتے تر دے پورے چه هغه واپس د خاوند بسترے له راشی.

(۳۵۳۰) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم و الذی نفسی بیده ما من رجل یدعوا امراته الی فراشها فتابی علیه الا کان الذی فی السمآء ساخطا علیها حتی یرضی عنها.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے وای چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ، چه قسم دے په هغه پروردګار چه څما روح د هغه په لاس کښے دے چه یو سرے داسے نشته چه هغه خپله ښځښ خپلے بسترے طرفته رااوغواړی او هغه انکار اوکړی مګر هغه پروردګار چه هغه د اسمان د پاسه دے په دے باندې په غصه کښ وی د کومے پورے چه هغه (خاوند) د دے ښځے نه راضی شوے نهٔ وی.

(۳۵۳۱) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا دعا الرجل امراته الی فراشه فلم تاته فبات غضبان علیها لعنتها الملئکة حتی تصبح. [بخاری ، ابوداود ،]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله سړے اوغواړی ښځے لره په خپله بستره باندِ او هغه رانهٔ شی او سړے غصبښ شی په دے باندِ د فرښتے لعنت کوی په دے (ښځے) باندِ د سحره پورے.

بَابُ تَحْرِيْمِ اِفْشَاءِ سِرِّ الْمَرْاَةِ.

د ښځې راز ښکاره کول حرام دي.

(۳۵۴۲) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِالْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ اَشَرِّ النَّاسِ عِنْدَاللّٰهِ مَنْزِلَةً یَّوْمَ الْقِیٰمَةِ الرَّجُلُ یُفْضِیْ اِلٰی امْرَاَتِهٖ وَ تُفْضِیْ اِلَیْهِ ثُمَّ یَنْشُرُ سِرَّهَا. [راجع: ۳۵۴۲]

ترجمه: د ابو سعید خدری رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د تولو نـه زیات بد په خلقو کښې د الله تعالی په نزد هغه سړے دے چه څګه د خپلې ښځې خواله ورشي او هغه د ده خواله راشي یعني صحبت اوکړي او بیا د هغې راز ظاهِر کړي.

(۳۵۴۳) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ اَعْظَمِ الْاَمَانَةِ عِنْدَ اللّٰهِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ الرَّجُلُ یُفْضِیْ اِلٰی امْرَاَتِهٖ وَ تُفْضِیْ اِلَیْهِ ثُمَّ یَنْشُرُ سِرَّهَا وَقَالَ ابْنُ نُمَیْرٍ اِنَّ اَعْظَمَ [راجع: ۳۵۴۲]

ترجمه: د ابو سعید خدری رضِیَ الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه لوئے امانت د الله تعالی په نزد دا دے د قیامت په ورځ چه سړے د خپلې ښځې سره صحبت اوکړي او ښځښ د سړي سره، او بیا هغه د هغې راز ښکاره کړي، (یعني په امانتونو کښې خیانت اوکړي).

فائده: د دے حدیثونو نـه معلومه شوه چه د صحبت په وخت چه څه بے تکلفی او ساده لوحی د دواړو طرفونو نه په وقوع کښې راځي، او ناموزون حرکات او سکنات ناز مشحون مخې ته راځي د هغې ظاهرول حرام دی ځکه دا خلاف مروت او اخلاقِ حیاء دی.

بَابُ حُکْمِ الْعَزْلِ.

د عزل بیان.

(۳۵۴۴) عَنِ ابْنِ مُحَیْرِیْزٍ اَنَّهٗ قَالَ دَخَلْتُ اَنَا وَ اَبُوْ الصِّرْمَةِ عَلٰی اَبِیْ سَعِیْدٍ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ، فَسَئَلَهٗ اَبُوْ الصِّرْمَةِ فَقَالَ یَا اَبَا سَعِیْدٍ هَلْ سَمِعْتَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَذْکُرُ الْعَزْلَ فَقَالَ نَعَمْ غَزَوْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ غَزْوَةً بِالْمُصْطَلِقِ فَسَبَیْنَا کَرَآئِمَ الْعَرَبِ فَطَالَتْ عَلَیْنَا الْعُزْبَةُ وَ رَغِبْنَا فِیْ الْفِدَآءِ فَاَرَدْنَا اَنْ نَّسْتَمْتِعَ وَ نَعْزِلَ فَقُلْنَا نَفْعَلُ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَیْنَ اَظْهُرِنَا لَا نَسْئَلُهٗ

فسألنا رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال لا عليكم الا تفعلوا ما كتب الله خلق نسمة هي كائنة الى يوم القيمة الا ستكون. [بخاري، ابوداود]

ترجمه: د ابن محيريز نه روايت دے چه زهٔ د ابو صرمه دولړه د ابو سعيد رضى الله تعالى عنه حواله لاړو او ابو صرمه د هغوئ نه تپوس اوكړو چه تا چرته د رسول الله ﷺ نه د عزل د ذكر كولو مطابق څه اوريدلى دى؟ هغوئ اووے ها مونږه د جهاد كړے دے د رسول الله ﷺ سره د بنى مطلق (يعنى په هغے ته د مريسيع غزا وائى) او د عربو د لويو شريفو كورنو ښځے قيد كړے وے او مونږ ته د مودو پورے دَ ښځو نه جدا پاتے كيدل پريوتو . او خواهش لوكړو مونږ چه د هغه ښځو په بدله كښې د كفارونه څه مال واخلو او اراده اوكړه مونږ چه د هغوئ نه نفع هُم لوچته كړو(يعنى انزال بهر اوكړو) د دے د پاره چه حمل ئے نهٔ شى . بيا مونږ لووے مونږ عزل كوؤ . او جناب رسول الله ﷺ زمونږ په مينځ كښې موجود دے . او مونږ د هغوئ نه تپوس نهٔ كوؤ چه دا څه خبره ده بيا مونږ د هغوئ اوفرمائيل چه تاسو كچرے نهٔ كوئ نو هم څه خرج نشته لو الله تعالى چه د كوم روح پيدا كول د قيامته پورے ليكلى دى نو هغه به ضرور پيدا كيږى.

(٣٥٤٦) عَنْ اَبِىْ سَعِيْدِ الْخُدْرِىِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَخْبَرَهُ فَقَالَ اَصَبْنَا سَبَايَا فَكُنَّا نَعْزِلُ ثُمَّ سَأَلْنَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ لَنَا وَ اِنَّكُمْ لَتَفْعَلُوْنَ وَ اِنَّكُمْ لَتَفْعَلُوْنَ وَ اِنَّكُمْ لَا تَفْعَلُوْنَ مَا مِنْ نَسَمَةٍ كَائِنَةٍ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ اِلَّا هِىَ كَائِنَةٌ. [راجع: ٣٥٤٤]

ترجمه: د ابو سعيد خدرى رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه مونږ ته څه قيد يانے ښځے ميلاؤ شوے نو مونږ عزل شروع كړو . نو حضرتؐ اوفرمائيل تاسو دا خامخا كوئ تاسو دا خامخا كوئ او كه تاسو دا نهٔ كوئ نو كوم روح چه پيدا كيدونكے دے د قيامته پورے هغه ضرور پيدا كيږى.

(٣٥٤٧) عَنْ مَّعْبَدِ ابْنِ سِيْرِيْنَ عَنْ اَبِىْ سَعِيْدِنِ الْخُدْرِىِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قُلْتُ لَهُ سَمِعْتَهُ مِنْ اَبِىْ سَعِيْدٍ قَالَ نَعَمْ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا عَلَيْكُمْ اَلَّا تَفْعَلُوْا فَاِنَّمَا هُوَ الْقَدَرُ.

ترجمه: معبد بن سيرين د ابو سعيد خدرى رضى الله تعالى عنه نه روايت كوى وائى چه ما هغوئ ته اووے چه اوريدلى دى تا د ابو سعيد رضى الله تعالى عنه نه . هغوئ اووے ها

فرمائیلي دي رسول الله ﷺ تاسو کچرې عزل نۀ کوئ نو څه خرج نشته دے ، ځکه چه دا خو د تقدیر خبره ده (یعني حمل کیدل نۀ کیدل).

(۳۵۴۹) عن عبد الرحمن ابن بشر ابن مسعود ردّهٔ الی ابي سعید الخدري رضي الله تعالیٰ عنه قال سُئل النبيّ صلی الله علیه وسلم عن العزل فقال لا علیکم الا تفعلوا ذاکم فانما هو القدر قال محمد وقوله لا علیکم اقرب الی النهي [نسائي]

ترجمه: د عبدالرحمن بن بشر بن مسعودؓ نه دغه مضمون مروي دے کوم چه پورته تیر شو او محمدؒ وئیلي دي چه د حضرتؐ د دے فرمائیلو نه چه څه خرج نشته دے که عزل نۀ کوئ نهي وتلې ده . (یعنې نۀ کول اولی دي.

(۳۵۵۰) عن عبد الرحمن ابن بشر الانصاري قال فردّ الی ابي سعید الخدري رضي الله تعالیٰ عنه قال ذکر العزل عند النبيّ صلی الله علیه وسلم فقال وما ذاکم قالوا الرجل تکون له امرأة ترضع فیصیب منها و یکره ان تحمل منه والرجل تکون له الامة فیصیب منها و یکره ان تحمل منه قال فلا علیکم الا تفعلوا ذاکم فانما هو القدر قال ابن عون فحدثت به الحسن فقال والله لکان هذا زجر [راجع: ۳۵۴۹]

ترجمه: عبدالرحمن بن بشر انصاريؒ د ابو سعید خدريؓ نه روایت کړے دے چه د رسول الله ﷺ په خواه کښې د عزل ذکر اوشو نو حضرتؐ اوفرمائیل تاسو دا ولې کوئ؟ اصحابوؓ عرض اوکړو چه بعضې وخت د سړي سره یوه ښځه وي او پئی ورکوي او هغه د هغې سره کورولت کوي او ویریږي که دے ته حمل اوشي او یا که د چا سره وینځه وي او هغه د هغې سره صحبت کوي او زانۀ غواړي چه د دے د حمل اوشي . نو حضرتؐ اوفرمائیل چه پرواه ده کچرې تاسو عزل نۀ کوئ؟ ځکه چه حمل کیدل نه کیدل په تقدیر سره دي . ابن عون وائي چه ما دا روایت حسن ته بیان کړو نو هغوئ اووې چه په الله قسم په دے حدیث کښې زټنه ده په عزل کولو سره .وئیلي دي مسلمؒ او روایت کړے دے ما ته حجاج بن شاعر هغوئ سلیمانؒ هغوئ ته حمادؒ هغوئ ته ابن عونؒ او ابن عون وئیلي دي چه بیان کړو ما د محمدؒ نه په واسطې د ابراهیمؒ حدیث د عبدالرحمن بن بشرؒ یعني حدیث دغول نو هغوئ اووې ما ته هم روایت کړےدے عبدالرحمن بن بشرؒ دا حدیث.

(۳۵۵۲) عنْ مَعْبد ابن سيرين قال قُلنا لابیْ سعيْدٍ رَّضِيَ اللهُ تعالى عَنْهُ هلْ سمعتَ رسُوْل الله صلَّے اللهُ عليْه وسلَّم يذْكُرُ فیْ الْعزْلِ شيْئًا قال نعمْ و ساق الْحديْث بمعْنى حديْث ابْنِ عوْنٍ الى قوْله الْقدرُ.

ترجمة: د معبدؒ نه روايت دے وائي چه ما د ابو سعيدؓ نه تپوس اوکړو چه تاسو د رسول الله ﷺ نه د عزل کولو ذکر کولو متعلق اوريدلی دی؟ نو هغویٔ دغه حديث بيان کړو کوم چه پورته تير شو.

(۳۵۵۳) عنْ ابیْ سعيْد الْخدْرِیّ رضِیَ اللهُ تعالى عنْهُ قال ذُكر الْعزْلُ لرسُوْل الله صلّے اللهُ عليْه وَسلَّم فقال ولِم يفْعلُ ذلكَ احدُكُمْ فانَّهُ لَيْستْ نفْسٌ مَّخْلُوْقَةٌ الَّا اللهُ خالقُها. [بخاری تعليقا، ابوداود، ترمذی]

ترجمة: د ابو سعيد خدری رضی الله تعالى عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله ﷺ نه د عزل په باره کښے تپوس اوشو نو حضرتؐ اوفرمائيل چه ولے د منئی د تمامو اوبو نه ماشم جوړی (يعنی که يوه قطره هُم اورسيده نو د بچی دَ پيدا کيدو د پاره پوره ده بيا به تاسو د کومے پورے بچ کيږئ) او کوم څيز چه الله تعالى پيدا کول غواړه هغه څوك نۀ شی منع کولے.

(۳۵۵۴) عنْ جابر رَّضِی اللهُ تعالى عنْهُ انّ رجُلا اتى رسُوْل الله صَلَّے اللهُ عليْه وسلَّم فقال امَّ لیْ جاريَةٌ هی خادمُنا و سانيتُنا و انا اطُوْف عليْها و انا اكْرهُ انْ تحْمِل فقال اعْزِلْ عنْها انْ شئْتَ فانَّهُ سياْتيْها ما قُدّر لها فلبث الرّجُلُ ثُمّ اتاهُ فقال انّ الْجارية قد حبلتْ فقالَ قدْ اخْبرْتُكَ انّهُ سياْتيْها ما قُدّر لها. [ابوداود]

ترجمة: د جابر رضی الله تعالى عنه نه روايت دے دے وائی چه يو سړے د حضرت ﷺ خواله راغے. او اوئے وئيل چه زما يوه وينځه ده. چه هغه زمونږ د کور کاروبار کوی او اوبه راوړی لو زه د هغے سره صحبت کوم حضرتؐ اوفرمائيل کچرے غواړے مو عزل کوه ځکه چه راځی به کوم چه د هغے په تقدير کښ ليکلی دی. بيا څه لږه موده پس هغه سړے راغے او عرض ئے اوکړو چه هغه حامله شوه حضرتؐ اوفرمائيل چه ما تا ته د مخکښے نه خبر درکړے وو چه بهر راځی کوم چه د هغے په تقدير کښے وی.

فائده: يعنی چا لره چه پيدا کول دی هغه به ضروری وی. تاسو خو زر واره غزل اوکړئ.

(۳۵۵۵) عنْ جابر ابن عبْد الله رضی اللهُ تعالى عنْهما قال سالَ رجُلُ النّبیّ صلّے اللهُ عليْه وَسلَّم فقال انَّ

عِنْدِیْ جَارِیَةٌ لِّیْ وَاَنَا اَعْزِلُ عَنْهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ ذٰلِکَ لَمْ یَمْنَعْ شَیْئًا اَرَادَهُ اللهُ تَعَالٰی قَالَ فَجَآءَ رَجُلٌ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ الْجَارِیَةَ الَّتِیْ کُنْتُ ذَکَرْتُهَا لَکَ حَمَلَتْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَا عَبْدُاللهِ وَرَسُوْلُهٗ.

ترجمة: ترجمه د دت حدیث دغه وړاندِ تیره شوے قیصه ده ، مګر په دے کښے داسے دی چه هر کله هغه خبر ورکړو چه هغه وینځه حَامِله شوه نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل ، چه زهٔ د الله (ج) بنده او د هغه رسول یَمْ.

فائده: یعنی ما چه کومه خبره کړے وه هغه اوشوه دا د الله د بزرګئی او دهغه درسول کیدو برکت دے، دے نه معلومه شوه چه هر کله دبنده یو تشخیص برابر راشی نو دالله دبندګئ فخر ؤکوی او په خپل حُسنِ تشخیص او حسنِ رائے دِ فخر نهٔ کوی.

(۳۵۵۹) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْاٰنُ یَنْزِلُ زَادَ اِسْحٰقُ قَالَ سُفْیَانُ لَوْ کَانَ شَیْئًا یُنْهٰی عَنْهُ لَنَهَا عَنْهُ الْقُرْاٰنُ. [بخاری ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دجابر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه مونږ عزل کولو او قراٰن نازِ لیدلو او داسحٰق په روایت کښے دا هُم دی چه سفیان وائی چه کچرے عزل بدوے نو په قراٰن کښے به ددے نهی نازله شوے وه.

(۳۵۶۰) عَنْ عَطَاءٍ قَالَ سَمِعْتُ جَابِرً یَقُوْلُ لَقَدْ کُنَّا نَعْزِلُ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ .

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ به دَ رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښے عزل کولو.

(۳۵۶۱) عَنْ جَابِرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنَّا نَعْزِلُ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَبَلَغَ ذٰلِکَ نَبِیَّ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ یَنْهَنَا عَنْهُ.

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ به درسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې عزل کولو، او حضرت ﷺ ته خبر اورسیدو، او هغوئ مونږ منع نهٔ کړو.

فائده: غرض ددے روایتونو نه جواز دعزل سره دکراهت ثابت شواو کراهت ددے دپاره دے چه په دے کښے دنطفے ضائع کیدل دی.

بَابُ تَحْرِيمِ وَطْئِ الْحَامِلِ الْمَسْبِيَّةِ

څومره قيدي ښځه چه حامله وي دهغې سره دصحبت

(۳۵۶۲) عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ أَتٰى بِامْرَأَةٍ مُجِحٍّ عَلٰى بَابِ فُسْطَاطٍ فَقَالَ لَعَلَّهُ يُرِيدُ أَنْ يُلِمَّ بِهَا فَقَالُوا نَعَمْ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ أَلْعَنَهُ لَعْنًا يَدْخُلُ مَعَهُ قَبْرَهُ كَيْفَ يُوَرِّثُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ كَيْفَ يَسْتَخْدِمُهُ وَهُوَ لَا يَحِلُّ لَهُ. [ابوداود]

ترجمه: دابو الدرداء رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ تیر شو دیوے خیمے په دوازه باندِ او هلته ئے یوه ښځه اولیده چه حمل زیږولو ته نزدے وه، نو حضرتؐ او فرمائیل چه کیدے شی هغه سړے ددے سره اراده دجماع لری (یعني دچا سره چه ده) خلقو اووے ها ںں! حضرتؐ او فرمائیل ! ما غوښتله چه ده لره داسے لعنت اوکړم چه هغه لعنت دقبر پورے دده سره وی، دے څنګه ددے ماشوم وارث جوړیدے شی، حالانکه هغه دے لره حلال نهٔ دے، او دے ماشوم له غلام څنګه جوړوی، حالانکه هغه ده لره حلال نهٔ دے۔

فائده :یعنی دکومے پورے چه دانښځه حامِله ده نو ددے سره جماع حرامه ده ، بیا کچرے ددے نه دشپږو میاشتو نه مخکښې ماشوم پیداشو، نو اوس شك پریوتو چه دا هلك دهغه مسلمان دے دچاسره چه په قید کښې ده، یا دهغه کافر دے دچاسره چه دا ښځه وه دقید نه مخکښې، بیا په تقدیر دا چه هغه ماشوم ددے مسلمان شو. دادواړه به دیو بل وارِثان وی. یا په تقدیر چه په ددے کښې قرابت نهٔ دے شوے، او په دے صورت کښے به ددے ماشوم نه خدمت دغلامانو په شان اخستل رواوی. نو په دے صورت کښے که چرے ده ددے هلك سره په بچی او نیوؤ او وارث ئے او ګرځوو. نو غیر لره ئے خپل وارث او ګرځوؤ۔

او په دغه وړمبی صورت کښے کچرے غلام ئے جوړ کړی او دمیراث نهٔ ئے محرمه کړ، نو۔ خپل هلك ئے محرم کړلو او خپل بچے ئے غلام او ګرځوؤ، عرض دا چه ددے خرابیٔ نه دبچ کیدو دپاره دا ضروری ده چه دحمل دزیږیدو پورے ددے سره صحبت حرام او ګرځولے شی چه دیودماشوم بل ته نسبت او نهٔ شی۔

او ونیلے دی مسلم او دغه روایت بیان کړے دے مونږ ته ابوبکرؒ بن شیبهؒ هغویٔ ته یزیدؒ،

او وئیلې دی مسلم علیه الرحمة چه دا روایت کړی مونږ ته محمد بن بشارؒ هغوئ ته ابوداوؒد دے دواړو روایت کړے دے دشعبهؒ نه په دغه سند سره.

باب جواز الغیلة و هی وطیءُ المُوضع و کراهة العزل۔

د عزل د کراهت او د غلیے د جواز په بیان کښې.

(۳۵۶۴) عَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ الْاَسَدِيَّةِ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْها انها سمعت رَسُوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم يَقُوْلُ لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اَنْهٰى عَنِ الْغِيْلَةِ حَتّٰى ذَكَرْتُ اَنَّ الرُّوْمَ و فارسَ يصنعون ذٰلك فلا يضرُّ اولادهُمْ و اما خلف فقال عَنْ جُدَامَةَ الْاَسَدِيَّةِ رَضِيَ اللهُ تعالى عنه قالم مُسْلِمٌ و الصحيح ما قاله يحيى بالذال غَيْرَ مَنْقُوْطَةٍ. [ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د جدامهؓ لور د وهوب نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل چه فرمائیلو نت ما غوښته چه د غلیے نه منع اوکړم. بیا ما ته ریاد شولو چه د روم او فارس (خلق) غیله کوی او د هغوئ اولاد ته ضرر نهٔ رسیږی مسلمؒ فرمائیلی دی چه جدامه په بے نقطے دال سره صحیح دے۔


فائده: غیله د پئ ورکونکے زنانه سره جماع کولو ته وئیلے شی او اکثر د پئ ورکولو په ورځو کښے په جماع کولو سره پئ کمیږی، او کچرے حمل او نیوے شی نو پئ پیوسی کیږی او ماشوم دهغے په خوراك سره نرے او کمزورے کیږی. مگر حضرتؐ ددے نه منع نهٔ ده کړے ځکه چه ضرورددے یقینی نهٔ دے. چنانچه فارس او روم والاته ددے نه څه نقصان نشته ، او دجماع نه په منع کولو کښے دسړی نقصان یقینی دے چه غریب به دکومے پورے صبر کوی.

(۳۵۶۵) عَنْ جُدَامَةَ بِنْتِ وَهْبٍ اُخْتِ عُكَّاشَةَ رَضِيَ اللهُ تعالى عنها قالت حَضَرْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وَسَلَّمَ فِيْ اُنَاسٍ وَهُوَ يَقُوْلُ لَقَدْ هَمَمْتُ اَنْ اَنْهٰى عَنِ الْغِيْلَةِ فَنَظَرْتُ فِي الرُّوْمِ وَفَارِسَ فَاِذَاهُمْ يُغِيْلُوْنَ اَوْلَادَهُمْ فَلَا يَضُرُّ اَوْلَادَهُمْ ذٰلِكَ شَيْئًا ثُمَّ سَئَلُوْهُ عَنِ الْعَزْلِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذٰلِكَ الْوَأْدُ الْخَفِيُّ زَادَ عُبَيْدُ اللهِ فِيْ حَدِيْثِهِ عَنِ الْمُقْرِئِ وَهِيَ وَاِذَا الْمَوْءُدَةُ سُئِلَتْ. [راجع: ۳۵۶۴]

ترجمه: دجدامه لور دوهب خوردعکاشه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے دغه مضمون کوم چه مروی شولو. بیا دادی چه خلقو دحضرتﷺ نه دعزل په باره کښے تپوس اوکړو نو

حضرتْ او فرمائيل چه دا وأد خفي دے. دعبيدالله په روايت كښے دى دمقرى نۀ چه حضرتْ او فرمائيل دغه ده هغه مَوْءُده چه دهغے به سوال كيږى په قيامت كښ.

فائده: دَ وأد معنى دجينوك ژوندئ خخول دى لكه څنګه چه دعربو دجاهلانو عادت وو يعنى دستورووو. موؤدة هغه ژوندئ خښے شوے جينكئ دى. نو حضرتْ عزل ته وأد او فرمائيلو ځكه چه هغه هُم لكه چه ضائع كول دى داولاد ځكه چه اولاد دنطفے نه پيدا كيږى، او چاچه نطفه ضائع كړه هغه چه لكه خپل اولاد ضائع كړو، لكه څنګه چه خلق وائى دتخم ضائع كول دبوټو ضائع كول دى.



كِتَابُ الرَّضَاعِ

دپیو ورکولو مسئلې

(۳۵۶۸) عَنْ عُمْرَةَ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا أَخْبَرَتْهَا أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ عِنْدَهَا وَأَنَّهَا سَمِعَتْ صَوْتَ رَجُلٍ يَسْتَأْذِنُ فِي بَيْتِ حَفْصَةَ قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ هٰذَا رَجُلٌ يَسْتَأْذِنُ فِي بَيْتِكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُرَاهُ فُلَانًا لِعَمِّ حَفْصَةَ مِنَ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ يَارَسُوْلَ اللهِ لَوْكَانَ فُلَانٌ حَيًّا لِعَمِّهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ دَخَلَ عَلَيَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ إِنَّ الرَّضَاعَةَ تُحَرِّمُ مَا تُحَرِّمُ الْوِلَادَةُ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعمرةؒ نه روايت دے چه حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها هغې ته خبرورکړے دے چه رسول اللهﷺ دهغې خواله تشريف وړے وو چه جناب عآئشے صديقے رضی الله تعالی عنها ديوسړی آوازواوريدو چه هغه دحفصے رضی الله تعالی عنها په دروازه بانډِ ددننه راتلو اجازت غوښتلو ، نو عآئشے رضی الله عنها عرض اوکړو چه يا رسول الله! خوك ستاسو په كور بانډِ ددننه راتلو اجازت غواړی نو حضرتؐ او فرمائيل چه زما خيال دے چه دا فلانے سړے دے، رضاعی تره دحفصےؓ ، نو عآئشےؓ عرض اوكړو چه يارسول الله! كچرے فلانے سړے (يعن زما تره) ژوندے وے. نو ولے زما كورته به راتلو ؟ حضرتؐ او فرمائيل چه هاں! په رضاعت سره هم دغه شان حرمت ثابتيږی لكه په ولادت سره۔

(۳۵۶۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يُحَرِّمُ مِنَ الْوِلَادَةِ. [راجع : ۳۵۶۸]

ترجمه : دحضرت عآئشے رضی الله تعالی عنها نه روايت دے چه ماته رسول اللهﷺ ارشاد او فرمائيلو چه څه په ولادت سره حراميږی هغه په رضاعت سره هم حراميږی۔

(۳۵۷۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ أَفْلَحَ أَخَا أَبِي الْقُعَيْسِ جَآءَ يَسْتَأْذِنُ عَلَيْهَا وَهُوَ عَمُّهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ بَعْدَ أَنْ أُنْزِلَ الْحِجَابُ قَالَتْ فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ فَلَمَّا جَآءَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي صَنَعْتُ فَأَمَرَنِي أَنْ آذَنَ لَهُ عَلَيَّ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دجناب عآئشے رضی الله تعالی عنها نه روايت دے، هغهٔ خبر وركوی چه افلحؓ دابو

القعیسؓ رور زمونږه دروازے له راغے او ددننه راتلو ئے اجازت او غوښتلو او هغهٔ دهغوئ رضاعی تره وو، ورستو ددے چه دپردے حکم نازل شوے وو، پس ما هغوی له اجازت ورنهٔ کړو بیا چه هر کله جناب رسول اللهﷺ راغے، پس ما هغوئ ته خبر ورکړو حضرتؐ ماته حکم اوکړو چه ده لره خپل کورته دراتلو اجازت ورکړه۔

(۳۵۷۲) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ اَتَانِیْ عَمِّیْ مِنَ الرَّضَاعَةِ اَفْلَحُ ابْنُ اَبِی الْقُعَیْسِ فَذَکَرَ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ مَالِکٍ وَزَادَ قُلْتُ اِنَّمَا اَرْضَعَتْنِیْ الرَّجُلُ قَالَ تَرِبَتْ یَدَاکِ اَوْ یَمِیْنُکِ .

[نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دجناب عـآئشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هغوئ وائی زمونږ خواله افلح بن ابو القعیس راغے، او بیائے دا پورته مضمونه روایت کړلو، او په دے کښ دا خبره زیاته ده چه جناب عـآئشے رضی اللہ تعالی عنها عرض اوکړو چه په ماخونے ښځے پئ خوړولی، حضرتؐ او فرمائیل ستا په دواړو لاسونو کښ یائے او فرمائیل چه په ښی لاس کښے خاورے ډکے شه۔ دا فرمائیل دغصے او بد دعا په وجه نهٔ وو بلکه دعربو یوه دستوری خبره ده، لکه څنګه چه دلته چاته نادان او بے عقله وئیلے شی۔

(۳۵۷۳) عَنْ عُرْوَةَ اَنَّ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَخْبَرَتْهُ اَنَّهُ جَآءَ اَفْلَحُ اَخُوْ اَبِی الْقُعَیْسِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَسْتَاْذِنُ عَلَیْهَا بَعْدَ مَا اُنْزِلَ الْحِجَابُ وَکَانَ اَبُوْ الْقُعَیْسِ اَبَا عَآئِشَةَ مِنَ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ وَاللّٰهِ لَا اٰذَنُ لِاَفْلَحَ حَتّٰی اَسْتَاْذِنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاِنَّ اَبَا الْقُعَیْسِ لَیْسَ هُوَ اَرْضَعَنِیْ وَلٰکِنْ اَرْضَعَتْنِیْ امْرَاَتُهُ قَالَتْ عَآئِشَةُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَلَمَّا دَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اَفْلَحَ اَخَا اَبِی الْقُعَیْسِ جَآءَ نِیْ یَسْتَاْذِنُ عَلَیَّ فَکَرِهْتُ اَنْ اٰذَنَ لَهُ حَتّٰی اَسْتَاْذِنَکَ قَالَ قَالَتْ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِئْذَنِیْ لَهُ قَالَ عُرْوَةُ فَبِذَالِکَ کَانَتْ عَائِشَةُ تَقُوْلُ حَرِّمُوْا مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا تُحَرِّمُوْنَ مِنَ النَّسَبِ.

ترجمه : دعـروهؓ نـه روایت دے چه جنـاب عآئشے صدیقے رضی الله تعالی عنها او فرمائیل چه افلحؓ دابو القعیسؓ رور راغے، او زمانه ئے اجازت غوښتلو ورستو دپردے دنازلیدلو نهٔ، او ابو القعیسؓ دهغوئ رضاعی پلار وو(یعنی دعآئشے) نو عآئشے رضی الله عنها نو عآئشے رضی

الله تعالی عنها او فرمائیل چه زه افلحؓ ته اجازت دهغې پورې نۀ ورکوم دکومې پورې چه مې دجناب رسول الله ﷺ نه دحکم تپوس کړې نۀ وی، ځکه چه ابو القعیسؓ خو په ما پئ نۀ دی خنبلی پی: خو دهغوئ ښځې په ما خنبلی دی بیا چه هر کله جناب رسول اللهﷺ تشریف راؤړو نو ما عرض اوکړو چه یا رسول الله! دابو القعیس رور راغلے وو او ځما خواله دراتلو اجازت ئې غوښتلو، پس ما هغوئ له اجازت ورکول بدګڼړلو دکومې پورې چه مې ستاسو نه تپوس نۀ ووکړے، حضرتؐ او فرمائیل چه هغوئ ته اجازتورکړه، عروهؒ وئیلې دی چه ددې دپاره حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها فرمائیلو چه حرام اوګڼړئ په رضاعت سره کوم څیز چه حرامیږی په نسب سره.

(۳۵۷۴) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ جَآءَ اَفْلَحُ اَخُوْا اَبِی الْقُعَیْسِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَسْتَاْذِنُ عَلَیْهَا بِنَحْوِ حَدِیْثِهِمْ وَفِیْهِ فَاِنَّهُ عَمُّکِ تَرِبَتْ یَمِیْنُکِ وَ کَانَ اَبُو الْقُعَیْسِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ زَوْجَ الْمَرْاَةِ الَّتِیْ اَرْضَعَتْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا .

ترجمه : دز هریؒ نه په دغه اسناد سره دغه مضمون روایت شوے دے او په دے کښې دومره خبره زیاته ده چه حضرتؐ اوفرمائیل چه هغه خو ستاسو تره دے ستا په ښی لاس کښې خاؤرے ډکے شه! او ابو القعیسؓ خاوند وو دهغه ښځې کومې چه په جناب حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها پئ خوړولی وو.

(۳۵۷۸) عَنْ عَآئِشَةَ قَالَ اسْتَاْذَنَ عَلَیَّ عَمِّیْ مِنَ الرَّضَاعَةِ اَبُو الْجَعْدِ فَرَدَدْتُهُ قَالَ لِیْ هِشَامٌ اِنَّمَا هُوَ اَبُو الْقُعَیْسِ فَلَمَّا جَآءَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَخْبَرْتُهُ ذٰلِکَ قَالَ فَهَلَّا اَذِنْتِ لَهُ تَرِبَتْ یَمِیْنُکِ اَوْ یَدُکِ .[نسائی]

ترجمه : دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه اِجازت او غوښتو زما خواله دراتلو زما رضاعی تره چه کنیت ئې ابو الجعدؒ وو. پس ما هغوئ له اجازت ورنۀ کړو، هشام وئیلې دی چه ابو الجعدؒ هم دغه ابو القعیسؓ دے. بیا چه هر کله رسول اللهﷺ تشریف راؤړو نو ما هغوئ ته خبر ورکړو. حضرتؐ او فرمائیل چه تاسو هغوئ لره دراتلو اجازت ولې ورنه کړو ستا په ښی لاس کښې خاؤرے ډکه شه یائې او فرمائیل په لاس کښې.

(۳۵۷۹) عَنْ عَآئِشَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ عَمَّهَا مِنَ الرَّضَاعَةِ يُسَمّٰى اَفْلَحُ اسْتَأْذَنَ عَلَيْهَا وَحَجَبَتْهُ فَاَخْبَرَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهَا لَا تَحْتَجِبِيْ مِنْهُ فَاِنَّهُ يَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا يَحْرُمُ مِنَ النَّسَبِ .[بخاری]

ترجمه: د حضرت عائشې رضي الله تعالى عنها نه روايت دې هغوئ خبر ورکوی چه د هغې رضاعي تره د هغوئ نه دَ(دننه راتلو)اجازت او غوښتو چه دده نو افلحؓ وو. او ما د هغوئ نه پرده اوکړه، او رسول اللهﷺ م خبر کړو، حضرتﷺاو فرمائيل تهٔ د هغوئ نه پرده مه کوه ځکه چه په رضاعت سره حراميږی هغه څه چه حراميږی په نسب سره.

فائده : ددې ټولو احاديثو په نظر سره دامت اجماع ده په دې باندِ چه پئ ئې حراموی لکه څنګه چه ئې ولادت حراموی ، يعنی پئ ورکونکې دپئ خوړونکی مور جوړيږی، او په دې کښې نکاح هميشه دپاره حراميږی، او پئ خوړلو والا لره ليدل د هغې حلاليږی او خلوت او سفر کول د هغې سره درست کيږی، او ددې نه سِوا نور احکام دمور والئ پرې نهٔ جاری کيږی.

يعنې دمور پشان داد هلك (ماشوم)وارثه کيدې نهٔ شي، نه هلك د هغې وارث کيدې شي ، او نهٔ ديو نفقه په بل باندِ واجبيږی په شان دمور او نه د هلك ګواهی په دې باندِ منع کيدې شی او نه په رضاعي مور باندِ قصاص ساقط کيږی کچرې دپئ ورکولو په موقع بچې او وژنی ، غرض دا چه په دې حکمونو کښې هغه دواړه په شان دپردودی، او په دې شان اجماع ده چه حرام والې دنکاح خوريږی په موضعه او په اولاد درضيع کښې او په رضيع او په اولادِ موضعه کښې او په دې حکم کښې رضيع لکه دمرضعې اولاددې، او په دې شان دمرضعې خاوند دچا په صحبت سره چه دا پئ شِوی وو خواه کښې خاوند نکاحی وی يا دملك يمين په لاره وی هغه دَرضيع پلار کيدې شي، دغه مذهب دې دکافه علماؤ، او د هغه اولاد درضيع خور او رور جوړيږی، او دمرضعې دخاوند رور دپئ خوړونکی تره جوړيږی او د هغوئ خوئندې درضيع ترور يا ې جوړيږی، او درضيع اولاد دمرضعې دخاوند اولاد جوړيږی، او خاص په دې کښې اهل ظاهرو او ابن عليه زمونږ خلاف کې دې چه هغوی وئيلې دی چه حرمت درضاع نهٔ ثابتيږی درضيع او دمرضعې دخاوند په مينځ کښې.

او مازريؒ دې قول لره نقل کړې دې دابن عمرؓ او جناب عآئشې صديقې رضی الله عنها

نه او هغوی او ستدلال کړے دے ددے آیت مبارکه نه. و اُمَّهٰتُکُمُ اللّٰتِیْ اَرْضَعْنَکُمْ وَاَخَوٰتُکُمْ مِنَ الرَّضَاعَةِ " او په دے آیت مبارکه کښے الله تعالی ذکر نهٔ دے کړے دبلے لور او دبلے ترور لکه څنګه نے چه په نسب کښے ذکر کړے دے. او جمهورو دهغه داحادیث صحیحه صریحه واضحه نه استدلال کړے دے او ظاهریه وله ئے دا جواب ورکړے دے چه اګر که خداوند تعالی په دے آیات مبارکه کښے ذکر نهٔ دے کړے مګر دهغه نبی ئے وضاحت کړے دے. او نبی مبین یعنی داحکامو ښکاره کونکے دے لکه څنګه چه قراٰنِ پاك مبین دے۔

تشریح: وئیلے دی مسلمؒ او روایت کړے دے مونږ ته زبیرؒ او هغوی ته یحیی قطانؒ. اووئیلے دی مسلمؒ چه بل روایت کړے دے مونږ ته محمد بن یحییؒ هغوی ته بشرؒ دے تولو روایت کړے دے دشعبهؒ هغویغ ته علی بن مسهرؒ هغوی ته سعیدؒ دے دوارو ته قتادهٔ دهمام په سند سره، مګر دشعبهؒ حدیث ددغه ځاے پورے دے چه حضرتؐ او فرمائیل هغه زما رضاعی وریره ده، او دسعیدؒ په روایت کښے داهم ده چه حرامیږی په رضاعت سره هغه څه چه حرامیږی په نسب سره، او دبشرؒ په روایت کښ دادی چه اوریدلی دی ما دجابر بن زیدؒ نه۔

(۳۵۸۱) عَنْ عَلِیٍّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَالَکَ تَنَوَّقُ فِیْ قُرَیْشٍ وَّ تَدَعُنَا فَقَالَ وَ عِنْدَکُمْ شَیْءٌ قُلْتُ نَعَمْ بِنْتُ حَمْزَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِیْ اِنَّهَا ابْنَةُ اَخِیْ مِنَ الرَّضَاعَةِ. [نسائی]

ترجمه: د حضرت علی راضی اللّٰهُ عنہُ نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله! څه وجه ده چه تاسو رغبت اوخواهش لرئ د قریشو د ښځو او مونږ خلقو لره پریږدوئ؟ حضرتؐ اوفرمائیل ولے ستاسو سره څوك شته؟ ما اووے چه هاں خمزهٔ لور حضرت ﷺ اوفرمائیل هغوی په ما حلاله نهٔ ده ځکه چه هغوی ما رضاعی وریره ده۔

(۳۵۸۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اُرِیْدَ عَلَی ابْنَةِ حَمْزَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ اِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِیْ اِنَّهَا ابْنَةُ اَخِیْ مِنَ الرَّضَاعَةِ وَیَحْرُمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا یَحْرُمُ مِنَ الرَّحِمِ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه نبی ﷺ ته عرض

اوکړے شو چه تاسوٌ نکاح اوکړئ د حمزهٌ د لور سره حضرتٌ ده څکه چه هغوئ چه ما حلاله نهٔ ده څکه چه هغوئ زما وریره ده رَضاعی او په رضاعت سره حرامیږی هغه څیز چه حرامیږی په نسب سره۔

(۳۵۸۵) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَقُوْلُ قِیْلَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَیْنَ اَنْتَ یَا رَسُوْلَ اللهِ عَنِ ابْنَةِ حَمْزَةَ اَوْ قِیْلَ اَلَا تَخْطُبُ بِنْتَ حَمْزَةَ ابْنِ عَبْدِالْمُطَّلِبِ قَالَ اِنَّ حَمْزَةَ اَخِیْ مِنَ الرَّضَاعَةِ.

ترجمه: د ام سلمه رضی الله تعالی عنها بی بی د رسول الله ﷺ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ ته عرض اوکړے .... شو چه تاسوٌ ته د حمزهٌ د لور څه خیال نشته دے؟ یا ورته اووئیلے شو چه تاسوٌ د حمزی لور د پیغام ولے نهٔ لیږئ؟ نو حضرتٌ اوفرمائیل چه حمزهٌ څما رَضاعی رور دے۔

باب تحریم الربیبة وأخت المرأة :

باب : د ښځے د لور او د ښځے د خور د حرمت بیان :

(۳۵۸۶) عَنْ اُمِّ حَبِیْبَةَ بِنْتِ سُفْیَانَ قَالَتْ دَخَلَ عَلَیَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهُ هَلْ لَکَ فِیْ اُخْتِیْ بِنْتِ اَبِیْ سُفْیَانَ قَالَ اَفْعَلُ مَاذَا قُلْتُ تَنْکِحُهَا قَالَ اَوَ تُحِبِّیْنَ ذٰلِکَ قُلْتُ لَسْتُ لَکَ بِمُخْلِیَةٍ وَ اَحَبُّ مَنْ شَرِکَنِیْ فِی الْخَیْرِ اُخْتِیْ قَالَ فَاِنَّهَا لَا تَحِلُّ لِیْ قُلْتُ فَاِنِّیْ اُخْبِرْتُ اَنَّکَ تَخْطُبُ دُرَّةَ بِنْتَ اَبِیْ سَلَمَةَ قَالَ اِبْنَتَ اُمِّ سَلَمَةَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ لَوْ اَنَّهَا لَمْ تَکُنْ رَبِیْبَتِیْ فِیْ حَجْرِیْ مَا حَلَّتْ لِیْ اِنَّهَا بِنْتُ اَخِیْ مِنَ الرَّضَاعَةِ اَرْضَعَتْنِیْ وَ اَبَاهَا ثُوَیْبَةُ فَلَا تَعْرِضْنَ عَلَیَّ بَنَاتِکُنَّ لَوْ لَا اَخَوٰتِکُنَّ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د ام حبیبهٌ لور د ابو سفیانٌ نه روایت دے وائی چه نبی ﷺ زما خواله تشریف راؤړو او ما عرض اوکړو چه تاسو زما خور دَ ابو سفیانٌ لور نهٔ غواړئ؟ حضرتٌ اوفرمائیل چه بیا به زهٔ څه کوم؟ ما اووے تاسوٌ د هغوئ سره نکاح اوکړئ (ام حبیبهٌ ته دغه وخت دا مسئله معلومه نهٔ وه چه د دوو خوئندو جمع کول په نکاح کښے منع دی) بیا حضرتٌ اوفرمائیل چه ستا دسے کار خوښ دے؟ ما اووے چه زهٔ داوره ګنړم چه ستا د نکاح په خیر کښ د زما سره شریکه وی او هغه د زما خور وی، حضرتٌ اوفرمائیل چه هغه په ما حلاله نهٔ ده ، ما اووے چه ما ته خبر رارسیدلے

دے چه تا پیغام ورکړے دے د ابو سلمیٰؓ لور له ، حضرتؐ اوفرمائیل چه د ام سلمهٔ لور؟ ما اووے هاں ، حضرت اوفرمائیل کچرے هغے زما په غیږه کښں فرورش موندے هم نهٔ وے بیا هم په هغه ما باندِ حلاله نهٔ وه ځکه چه هغه زما وریره ده درضاعت نه اوپنی ځکولی دی په ما او د هغے په پلار (یعنی ابو سلمهٔ) ثوُ بیتےٌ ، پس تاسو خلق ما ته د خپلو لونړو او خوښندو پیګام مهٔ راکوئ.

فائده: د دے حدیث نه داؤ د ظاهری استدلال کړے دے چه ربیبه د کومے پورے چه د هغے دَ مور دَ خاوند په غیږه کښں پرورش اونهٔ مومی د هغے پورے نهٔ حرامیږی ، یعنی اګر که چا د یوے ښځے سره نکاح اوکړو ، او د هغے سره یوه لور د رومبی خاوند نه شته او دے نکاح ، او د هغے سره یوه لور دَ رومبی خاوند نه شته او دے دویم خاوند ئے د هغے لور پرورش اونهٔ کړو نو هغه جینئی په ده حلاله ده مګر د تمامو علماو مذهب د دے نه خلاف دے چه هغه ټول د حرمتِ ربیبه قائیل دی خوا که دغه دویم خاوند ئے د هغے په لور پرورش کړے وی یا نهٔ وی ، او داچه کوم الله تعالی فرمائیلی دی((وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِیْ فِیْ حُجُوْرِكُم))او حرامے دی پتاسو باندِ هغه جینکئی ستاسو د بیبیانو چه هغوئ تاسو په خپله غیږه کښے پاللی دی د دے جواب دغه ټولو علماؤ دا ورکړے دے چه دا قید " فِیْ حُجُوْرِكُمْ" په اعتبار داکثر احول دے ، او حرمت دَ داوړو یو شان دے ، خواه که په حجورو کښں وی یا نهٔ وی لکه "وَلَا تَقْتُلُوْا اَوْلَادُكُمْ مِنْ اَمْلَاقٍ" (او مه قتلوئ خپل اولا لره دمفلسئ دویرے نه) چه قید دَ مِنْ اِمْلَاقٍ په اعتبار داکثر احوال دے چه دعربو خلقو به دمفلسئ دویرے نه قتل کولے دامرادنهٔ دے چه هر کله داملاق ویرهٔ وی نو قتل ئے راوادے.

او ثوبیه وینځه وه دابولهب هغے مخکښے دحلیمے سعدیٔؓ نه جناب رسول اللهﷺ ته پئ ورکړی وو ، او دا حدیث محمول دے په دے باندِ چه هغه خلقو ته ددغه وخته پورے جمع کول دَدوه خوښندو معلوم نهٔ وو چه حرام دی ، او دغه شان حرمت دربیبے معلوم نهٔ وو او دغه شان چا چه ترغیب ورکړو حضرتؐ ته دحمزهٔ دلور نکاح هغے ته دا معلومه نهٔ وه چه رضاعی وریره حرامه ده ، یا داورته معلومه نهٔ وه چه حمزهٔ دحضرتؐ رَضاعی رور دے ، او دواړودیوے دا پئ ځنبلی دی (نوویؒ).

(۳۵۰۹) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِاِسْنَادِ ابْنِ اَبِیْ حَبِیْبٍ عَنْهُ نَحْوَ حَدِیْثِهٖ عَزَّةَ غَیْرَ یَزِیْدَ ابْنِ اَبِیْ حَبِیْبٍ .[راجع:

[۳۵۸٦

ترجمه: ترجمه کښې هم دغه حديث دے صرف ديزيد بن حبيب په روايت کښې دعره نوم ذکر دے په بل يو کښې نشته.

باب المصة ولا المصتان :

باب : يوځل يا دوه ځله پی چوسل حرمت نۀ راولی :

(۳۵۹۰) عَنْ عَآئِشَةَ رضی اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قَالَا لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَالْمَصَّتَانِ. [ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دجناب عآئشے صديقے رضی الله تعالی عنها نه روايت دے چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی چه حرمت درضاعت نۀ ثابتيږی په يو ځل يا دوه ځله پی څکلو سره.

(۳۵۹۱) عَنْ اُمِّ الْفَضْلِ قَالَتْ دَخَلَ اَعْرَابِيٌّ عَلٰی نَبِيِّ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِيْ بَيْتِيْ فَقَالَ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ اِنِّیْ كَانَتْ لِیْ امْرَاَةٌ فَتَزَوَّجْتُ عَلَيْهَآ اُخْرٰی فَزَعَمَتْ امْرَاَتِیَ الْاُوْلٰی اِنَّهَا اَرْضَعَتِ امْرَاَتِیَ الْحُدْثٰی رَضْعَةً اَوْ رَضْعَتَيْنِ فَقَالَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُحَرِّمُ الْاِمْلَاجَةُ وَالْاِمْلَاجَتَانِ.

ترجمه: دام الفضل رضی الله تعالی عنها نه روايت دے وائی چه دباندے يو سړی دنبی کريمﷺ خوا له راغے او عرض اوکړو چه اے دالله نبیؐ! زما يوه ښځه وه او دويم نکاح م اوکړو، پس رومبی ښځے اووے چه مادے دوئيمے لره يو ځل يادوه ځله پیٔ ورکړے دی، نو حضرتﷺ لو فرمائيل چه په يو ځل يا دوه ځله راؤلو سره حرمت نۀ راځی.

(۳۵۹۲) عَنْ اُمِّ الْفَضْلِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَجُلًا مِّنْ بَنِیْ عَامِرِ ابْنِ صَعْصَعَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ يَانَبِیَّ اللّٰهِ هَلْ تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ الْوَاحِدَةُ قَالَ لَا. [راجع: ۳۵۹۱]

ترجمه: دام الفضلؓ نه روايت دے وائی چه يو سړی دحضرتﷺ نه تپوس اوکړو چه اے دالله تعالی نبی! ولے حرمت راتلے شی په يو ځل يا دوه ځله پیٔ روؤلو سره؟ حضرتؐ او فرمائيل نۀ.

(۳۵۹۳) عَنْ اُمِّ الْفَضْلِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا حَدَّثَتْ اَنَّ نَبِیَّ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قَالَ لَا تُحَرِّمُ الرَّضْعَةُ اَوِ الرَّضْعَتَانِ اَوِ الْمَصَّةُ اَوِ الْمَصَّتَانِ. [راجع: ۳۵۹۱]

ترجمه: دام الفضل رضی الله تعالی عنها نه روايت دے وائی چه حضرتﷺ فرمائيلی دی په

یو ځل یا دوه ځله سره پئ راولو سره حرمت نۀ راځی۔

(۳۵۹۶) عَنْ اُمِّ الْفَضْلِ رَضِیَ اللّٰهُ تعالٰی عَنْهَآ سَالَ رَجُلٌ النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اَتُحَرِّمُ الْمَصَّةُ فَقَالَ لَا.[راجع : ۳۵۹۱]

ترجمه: دام الفضل رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی دنبی ﷺ نه یو سری تپوس اوکړو چه په یو ځل پئ ځنبلو سره حرمت راځی؟ نو حضرتؐ او فرمائیل چه نۀ راځی۔

باب التحريم بخمس رضعات :

باب : په پنځو ځلو پيو څکلو سره د حرمت بيان :

(۳۵۹۷) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ كَانَ فِيْمَآ اُنْزِلَ مِنَ الْقُرْاٰنِ عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُوْمَاتٍ يُحَرِّمْنَ ثُمَّ نُسِخْنَ بِخَمْسٍ مَعْلُوْمَاتٍ فَتُوُفِّیَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِیَ فِيْمَا يُقْرَءُ مِنَ الْقُرْاٰنِ.[ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دجناب عائشے صدیقے رضی اللّٰہ تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه په قراٰن کښے نازل وو چه لس ځله څکل دپیُو حرمت کول دی، بیا منسوخ شولو او دا اولوستلے شو چه پنځه ځله پئ حنبل دحرمت سبب دے او وفات شولو رسول اللهﷺ او په قراٰن کښے لوستلے شولو۔

فائده:ددے روایت مطلب دادے چه دپنځه رضعاتو قراءت په آخروخت کښ منسوخ شـولو، مگر زمانه دهغے دنسخ دحضرت ﷺ وفات ته ډیره نزدے وه، ځکه ددے دنسخ کیفیت چاته معلوم شولو او چاته معلوم نۀ شولو، او دنسخ دمشهور کیدو نه ورستو بیا ټول اجماع اوکړه چه دے لره په قراٰن کښ نۀ دی لوستل پکار، او نسخ په درے قسمه دے۔

یو دا حکم او تلاوت دواړه منسوخ شی. دویم دا چه تلاوت منسوخ شی نۀ حکم، مثال اول دلسو رضعاتو معلومات دی چه حکم او تلاوت دهغے دواړه منسوخ شولو، او مثال ددویم قسم خمس رضعات ے چه حکم ئے باقی دے او تلاوت ئے منسوخ دے او په دے شان دے اَلشَّيْخُ وَالشَّيْخَةُ اِذَا زَنَيَافَارْجُمُوْهَا چه حکم درجم باقی دی او تلاوت ددے اٰیت منسوخ ـ

او دریم قسم دادے چه حکم دهغه منسوخ کړے شی او تلاوت دهغه باقی پاتے شی، او داهم په قراٰن کښے ډیر دی او ددے قسم نه دی" وَالَّذِيْنَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُوْنَ اَزْوَاجًا وَصِيَّةً لِّاَزْوَاجِهِمْ

"الایة، چه حکم ددے منسوخ دے او تلاوت ئے باقی دے، او دعلماؤ په دے کښ اختلاف دے ۰ چه حرمت درضاعت دکوم مقدار نه ثابتیږی پس دجناب عائشے صدیقےؓ او امام شافعیؒ او دهغوئ دملګروخو قول دے چه دپنځه و ځلو نه په کم کښ رضاعت نه ثابت کیږی، او دجمهور علماؤ قول دے چه په یو ځل کښے هم ثابتیږی، او دے قول لره ابن منذرؒ دحضرت علیؓ او ابن مسعودؓ او ابن عمرؓ او ابن عباسؓ او عطاءؒ او طاؤسؒ او ابن مسیبؒ او حسنؒ او زهریؒ او قتادةؒ او حکمؒ او حمادؒ، او مالکؒ او زاعیؒ او ثوریؒ او ابو حنیفه رضی الله عنهم نه نقل کړے دی۔

او ابوثورؒ ، اوابو عبیدؒ او ابن منذرؒ او داودؒ ونیلے دی چه په دریو ځلو سره ثابتیږی او ددے نه په کم کښے نهٔ ثابتیږی، اوس واؤرئ چه شافعیؒ او دهغوئ موافقینو دجناب عائشےؓ ددے روایت نه تمسك کړے دے، او دشافعیه ؤ په رَدْ کښے چه چادحدیث المصته والمصتان جواب ورکړے دے هغه جواب محض ضعیف او مردوددے او صحیح داده چه دعدد شرط کول ضروری دی (النووی بالاختصار)۔

(۳۵۹۸) عَنْ عَمْرَةَ اَنَّهَا سَمِعَتْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا تَقُوْلُ وَهِیَ تَذْکُرُ الَّذِیْ یُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ عَمْرَةُ فَقَالَتْ عَآئِشَةُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا نَزَلَ فِیْ الْقُرْاٰنِ عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُوْمَاتٌ ثُمَّ نَزَلَ اَیْضًا خَمْسٌ مَعْلُوْمَاتٍ .

ترجمه: دعمره رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هغه دحضرت عَائشے صدیقے رضی الله عنها نه اوریدلی دی چه هغه ذکر کولو دهغه رضاعت چه په هغه سره حرمت ثابتیږی پس عائشے رضی الله تعالی عنها او فرمائیل چه په قرآن مجید کښے لس واره پیٔ رَوَل نازل وو بیا پنځه واره رَوَل نازل شو۔

باب رضاعة الکبیر :

د ویر عمر والا د رضاعت بیان :

(۳۶۰۰) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ جَاءَتْ سَهْلَةُ بِنْتُ سُهَیْلٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ اَرٰی فِیْ وَجْهِ اَبِیْ حُذَیْفَةَ مِنْ دُخُوْلِ سَالِمٍ وَهُوَ حَلِیْفُهٗ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَرْضِعِیْهِ فَقَالَتْ وَکَیْفَ اُرْضِعُهٗ وَهُوَ رَجُلٌ کَبِیْرٌ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ

وسلم وقال قد علمت انه رجل کبیر زاد عمر وفی حدیثه وکان قد شهد بدرا و فی روایة ابن ابی عمر فضحک رسول الله صلی الله علیه وسلم. [نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دجناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه سهلۃ لور دسهیل درسول اللهﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله! زه دَ ابو حذیفه رضی الله تعالی عنه په مخ کښے څه خفګان وینمه هر کله چه سالم زما کورته راځی او هغه دهغوی حلیف دے. نو حضرتؐ او فرمائیل چه ته په سالم پئ اوڅکوه. هغوی اووے چه زه په ده پئ څنګه اوڅکوم؟ هغه خو ځوان سړے دے، پس حضورﷺ په نرئ خندا کښے اوفرمائیل چه زهٔ پوه یم چه هغه ځوان سړے دے، او دعمرو په روایت کښں دا زیاته ده چه هغه په بدر کښں هم حاضر شوے وو، او دابن ابو عمرو په روایت کښے دی چه جناب رسول اللهﷺ نری غونډِ او خندل.

(۳٦۰۱) عن عائشة رضی الله تعالی عنها ان سالما مولی ابی حذیفة رضی الله تعالی عنهما کان مع ابی حذیفة رضی الله تعالی عنهما واهله فی بیتهم فاتت یعنی بنت سهیل رضی الله تعالی عنها النبی صلی الله علیه وسلم فقالت ان سالما قد بلغ ما یبلغ الرجال وعقل ما عقلوا وانه یدخل علینا وانی اظن ان فی نفس ابی حذیفة رضی الله تعالی عنه من ذلک شیئا فقال النبی صلی الله علیه وسلم ارضعیه تحرمی علیه ویذهب الذی فی نفس ابی حذیفة فرجعت فقالت انی قد ارضعته فذهب الذی فی نفس ابی حذیفة رضی الله تعالی عنه. [نسائی]

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه سالم دابو حذیفۃ غلام دابو حذیفه سره دهغوی په کور کښے اوسیدولو، او دسهیل لور درسول اللهﷺ خواله راغله (یعنی دحذیفۃ ښځه) او عرض ئے اوکړو چه سلم حدد بلوغ ته اورسیدو او دسړو په خبرو پوهیږی. او هغه زمونږ کورته راځی، اوزهٔ خیال کوم چه دابو حذیفۃ په زړهٔ کښے دده نه کراهت ددے پس حضرتﷺ هغے ته او فرمائیل چه ته په سالم پئ او څکوه چه ته په هغوئ بانډِ حرامه شے، او هغه کراهت کوم چه دابو حذیفۃ په زړهٔ کښے دے هغه به ختم شی، بیا هغه واپس دحضرتﷺ خواله راغله، او عرض ئے اوکړو چه ما په هغوئ پئ اوڅکول او دابو حذیفه رضی الله عنه کراهت ختم شولو.

(۳۶۰۲) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَخْبَرَتْهُ اَنَّ سَهْلَةَ بِنْتَ سُهَیْلِ ابْنِ عَمْرٍو رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا جَآءَتِ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ سَالِمًا مَوْلٰی اَبِیْ حُذَیْفَةَ مَعَنَا فِیْ بَیْتِنَا وَقَدْ بَلَغَ مَا یَبْلُغُ الرِّجَالُ وَعَلِمَ مَا یَعْلَمُ الرِّجَالُ قَالَ اَرْضِعِیْهِ تَحْرُمِیْ عَلَیْهِ قَالَ فَمَکَثْتُ سَنَةً اَوْ قَرِیْبًا مِّنْهَا لَا اُحَدِّثُ بِهٖ رَهْبَتُهُ ثُمَّ لَقِیْتُ الْقَاسِمَ فَقُلْتُ لَهٗ لَقَدْ حَدَّثْتَنِیْ حَدِیْثًا مَّا حَدَّثْتُهٗ بَعْدُ قَالَ مَا هُوَ فَاَخْبَرْتُهٗ قَالَ فَحَدِّثْهُ عَنِّیْ اَنَّ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَخْبَرَتْنِیْهِ. [راجع : ۳۶۰۱]

ترجمه: دجناب حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے (چه هغے قاسم بن محمد) لره خبر ورکړے دے چه سهلهؓ بنت سهیل بن عمر رضی اللّٰہ تعالی عنهما دنبی ﷺ خواله راغله او عرض ئے اوکړو چه یا رسول الله ! سالم غلام دابو حذیفهؓ زمونږ په کور کښے زمونږ سره وو، او هغه بالغ شو او دسړو په خبرو پو هه شو نو حضرتؐ او فرمائیل تهٔ په سالم پئ او څکوه (ابن ابی ملیکه چه دحدیث راوی دے) هغوئ وئیلے دی چه ما دیو کال پورے دا روایت چا ته بیان نهٔ کړواو ددے نه م ویره کوله، (یعنی زهٔ په دے ویره یدم چه خلق په دے باندِ څه اعتراض او نهٔ کړی) بیا زهٔ دقاسم سره میلاؤ شوم او ما هغه اووے چه تا ماته یو حدیث بیا کړے وو چه هغه تر اوسه پورے ما چاته نهٔ دے بیان کړے، هغوئ اووے هغه څه دے؟ ما ورله خبر ورکړو نو هغوئ اووے چه ته اوسل زمانه روایت کوه، او وایه چه حضرت عآئشے رضی الله تعالی عنها ماته خبر راکړے دے، (یعنی قاسم ته ئے خبر ورکړے دے).

(۳۶۰۳) عَنْ زَیْنَبَ بِنْتِ اُمِّ سَلَمَةَ قَالَتْ قَالَتْ اُمُّ سَلَمَةَ لِعَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اِنَّهٗ یَدْخُلُ عَلَیْکِ الْغُلَامُ الْاَیْفَعُ الَّذِیْ مَا اُحِبُّ اَنْ یَّدْخُلَ عَلَیَّ قَالَ قَالَتْ عَآئِشَةُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا مَالَکِ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ قَالَتْ اِنَّ امْرَاَةَ اَبِیْ حُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَتْ یَدْخُلُ عَلَیَّ وَهُوَ رَجُلٌ وَفِیْ نَفْسِ اَبِیْ حُذَیْفَةَ مِنْهُ شَیْءٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَرْضِعِیْهِ حَتّٰی یَدْخُلَ عَلَیْکِ. [نسائی]

ترجمه: زینب لور دام سلمهؓ نه روایت دے وائی چه ام سلمهؓ جناب حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها ته اووے چه ستاسو سره غلام ایفع (یعنی داسے هلك چه هغه خوانئ ته نزدے دے) راځی کوم چه زهٔ نهٔ غوره کوم چه زما خواله ړاشی. نو جناب عآئشے صدیقے رضی اللّٰہ تعالی

عنها ورته او فرمائیل چه ولې تا سو لره درسول الله ﷺ پیروی بنه نۀ ده؟ او حالانکه دابو حذیفه ښځې عرض اوکړو چه یا رسول الله! سالم زما خواله راځی او هغه ځوان سړے دے دابو حذیفهؓ په زړۀ کښې دهغه په راتلو سره کراهت دے نو رسول الله ﷺ ورته او فرمائیل چه تۀ په هغه پئ او څکوه چه هغه ستا خواله راتله کوی۔

(۳۶۰۵) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ تَقُوْلُ اَبٰى سَآئِرُ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُدْخِلْنَ عَلَيْهِنَّ اَحَدًا بِتِلْكَ الرَّضَاعَةِ وَقُلْنَا لِعَآئِشَةَ وَاللهِ مَا نَرىٰ هٰذَا اِلَّا رُخْصَةً اَرْخَصَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِسَالِمٍ خَآصَّةً فَمَا هُوَ يُدَاخِلُ عَلَيْنَا اَحَدٌ بِهٰذَا الرَّضَاعَةِ وَلَا رَآئِنَا. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: ام سلمهؓ دنبی کریم ﷺ بی بی فرمائیلی دی چه دنبی ﷺ تمامو بیبیانوؓ په انکار کړے دے نه چه په دغه طریقه پئ ځنبلو والاؤ دهغوئ کورته راشی، او جناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها ته به ئے وئیل چه مونږ خوداګنړو چه داخاص رخصت وو درسول الله ﷺ دسالمؓ دپاره او رسول الله ﷺ زمونږ په مخکښ داسے پئ څکونکے څوك نۀ دے راوستے او نۀ ئے مونږ دچاپه مخکښ کړے یو۔

درضاعت دمودے بیان

فائده: په دے مسئله کښے دعلماؤ اختلاف دے، او دجناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها او داود دمذهب دادے چه درضاعت حرام والے ثابتیږی بالغ ته په پیو ورکولو سره هم لکه چه څنګه ثابتیږی ماشوم ته په پیو ورکولو سره، او استدلال کړے دے هغوئ ددے حدیث نه، او دتمام جهان علماؤ دصحابه کرامؓ نه واخله دتابعینو او تبع تابعینو وغیره نورو ددے خلاف کړے دے او ټولو ترا وسه پورے دغه وئیلے دی چه حرمت نۀ راځی، خو هله چه په دوه کالو کښ دننه پئ ورکړے شی نو حرمت ثابتیږی۔

او امام زفرؒ وئیلے دی چه ددرے کالو پورے او دامام مالك نه دوه کاله او څه ورځی روایت دے، او جمهور علماؤ استدلال کړے دے دالله تعالی ددے قول نه چه فرمائی " وَالْوَالِدٰتُ يُرْضِعْنَ اَوْلَادَهُنَّ حَوْلَيْنِ كَامِلَيْنِ لِمَنْ اَرَادَ اَنْ يُّتِمَّ الرَّضَاعَةَ " یعنی میاندے به پئ ورکوی خپلو بچو لره دوه

کاله پوره هغه څوك چه لراده کالری دپیو دمدے دتمامه ولو۔

او استدلال کړے دے دغه جمهورو دهغه حدیث نه چه په مسلم کښے مخکښ راغی چه رضاعت دمجاعت نه دے، او تمام احادیث مشهور او حدیث سهلهٔ لره هغوئ یقیناً خاص ګنړلے دے دسهلهٔ سره، او ددے وجے نه چه خلاف کړے دے دجناب عائشے صدیقےؓ تمامو پاکو بیبیانوؓ درسول اللهﷺ، پس مذهب دجمهور علماؤ صحیح او قوی دے دقرآن او حدیث دمخه،

او مذهب حنفیه ردکړے شوے دے دنص قرآن نه "چه دحَولَيْنِ كَامِلَيْنِ "په ځائے دوه نیم کاله وئیلے دی، او داحادیث صحیحه په نظر سره هم ردد ے، او مذهب دجناب عائشے صدیقے رضی الله عنها شاذ دے، او رسول اللهﷺ چه کوم حکم ورکړو چه ته سالمؓ باندِ پیئ او څکوه، په دے کښ قاضی عیاضؒ وئیلے دی چه کیدے شی چه هغوئ په څه لوښی کښے پیئ لوشلی وی او په هغه ئے څکولی وی، او کیدے شی دحضورﷺ هم دغه مراد وو چه په دے کښ دتی راؤدلو حاجت هم رانه غے، او دے خبرے ته نووی هم غوره وئیلے ده، او دویم احتمال دا هم دے چه کیدے شی چه مسه کول دبدن په قدر دحاجت دضرورت په وخت کښ جائز وی، لکه څنګه چه په حالت دځوانئ کښ ښئ ځپل جائز دی۔

باب انما الرضاعة من المجاعة

باب : د رضاعت د لوږے نه د ثابت کیدو بیان :

(۳۶۰۶) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ وَعِنْدِيْ رَجُلٌ قَاعِدٌ فَاشْتَدَّ ذٰلِكَ عَلَيْهِ وَرَأَيْتُ الْغَضَبَ فِيْ وَجْهِهٖ قَالَتْ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنَّهٗ اَخِيْ مِنَ الرَّضَاعَةِ قَالَتْ فَقَالَ انْظُرْنَ اِخْوَاتَكُنَّ مِنَ الرَّضَاعَةِ فَاِنَّمَا الرَّضَاعَةُ عَنِ الْمَجَاعَةِ. [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دجناب عائشے صدیقے رضی الله عنها نه روایت دے فرمائی چه رسول اللهﷺ زمونږ کورته راغے، او زما په خواه کښے یو سړے ناست وو، نو حضرت خفه شو او په مخ باندِ ئے ما غصه اولیده او ما عرض اوکړو چه یا رسول الله! دا زما رضاعی رورد ے حضرتؐ او فرمائیل لږ غور کوه په په رضاعی رونړو کښ ځکه چه رضاعت هغه معتبر دے چه هغه دلوږے په وخت کښ وی یعنے درضاعت په ورځو کښ وی یعنی په دوه کالو کښے دننه۔

باب: جواز وطیء المسبیة بعد الاستبراء وان کان لها زوج انفسخ نکاحه بالسبی.

باب: پس د استبراء نه د قیدی ښځې سره صحبت کول روا دی ، اګر څه د هغې خاوند هم موجود وی او یوائې په قیدو کیدو سره د نکاح ماتیدو بیان.

(۳۶۰۸) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ حُنَیْنٍ بَعَثَ جَیْشًا اِلٰی اَوْطَاسٍ فَلَقُوْا عَدُوًّا فَقَاتَلُوْهُمْ وَ ظَهَرُوْا عَلَیْهِمْ فَاَصَابُوْا لَهُمْ سَبَایَا فَکَاَنَّ نَاسًا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَحَرَّجُوْا مِنْ غِشْیَانِهِنَّ مِنْ اَجْلِ اَزْوَاجِهِنَّ مِنَ الْمُشْرِکِیْنَ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ فِیْ ذٰلِکَ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنْ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ اَیْ فَهُنَّ لَکُمْ حَلَالٌ اِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُهُنَّ. [ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: د حضرت ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ د حنین په ورځ لښکر اولیږلو او هغوئ د دشمن سره مقابل شو او د هغوئ سره اوجنګیدو او غالب لرلو راغلو، او د هغوئ ښځې ئې قید کړے راوستے ، پس د رسول الله ﷺ ځنې ملګرو د هغوئ سره صحبت کول بد ګڼړلو په دې وجه چه د هغوئ خاوندان مشرکین موجود وو پس الله تعالی دا آیت نازل کړو وَالْمُحْصَنٰتُ یعنے حرمایے دی ښځې خانودانو والا مګر کومے چه ستاسو په ملك کښ چه هغه پتا سو حلالے دی هر کله چه د هغوئ عدت تیر شی.

فائده: یعنی چه یو حیض ئے راشی چه یقین او شی چه حمل ئے نشته دے. چه دیو بچے ته او نۀ لګی.

(۳۶۱۱) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَصَابُوْا سَبْیًا یَوْمَ اَوْطَاسٍ لَهُمْ اَزْوَاجٌ فَتَخَوَّفُوْا فَاُنْزِلَتْ هٰذِهِ الْاٰیَةُ وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ اِلَّا مَا مَلَکَتْ اَیْمَانُکُمْ. [ترمذی]

ترجمه: دابو سعید رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه څه ښځې په قید کښے په لاس راغلے دغازیانو داوطاس په ورځ او د هغوئ خاوندان وو(یعنی په کفارو کښے) او اصحابو ددوئ

دصحبت نه ویره کوله، پس داآیت نازل شووالمُحْصَنٰتُ ...... الخ۔

دوینځې داستبزاء بیان

اوطاس طائف ته نزدې یو ځائے دے، او ددے حدیث نه معلومه شوه چه خاوندانو والا ښځې دکفارو چه هر کله دغازیانو په لاس راشي او قید شي نو دهغوئ نکاح مات شولو۔ اوس چه دچا په ملك کښې راشي نو ورستو دیو حیض نه دهغوئ سره صحبت بلاتردود، خطر روایے ۔ او که دقید په وخت هغه حامله وی نو دحمل دزیږولو نه پس ورسره صحبت روادے۔

او معلومه شوه چه مذهب دشافعیؒ او کوم خلق چه علماؤ نه دهغوئ موافق دی دادے، چه قیدی ښځه دبت پرستو یا دهغه مشرکانو چه دهغوئ سره آسمانی کتاب نشته دے دغه ښځه چه ترڅو پورے مسلمانه شوے نۀ وی صحبت درسره روانۀ دے، او دا ښځې کومے چه داوطاس په غزا کښې په لاس راغلې دے داهم دعربو دمشرکانو دے چه اهل کتاب نۀ وو، پس ځکه شافعیؒ او دهغوئ موافقین دهغوئ تاویل کوی چه مراد ددے نه دادے چه صحابهؓ ته چه کوم دهغوئ په صحبت کښې تأمل راغے نو ورستو دإسلام راوړلونه راغے۔

او په دے کښې هم دعلماؤ اختلاف دے چه یوه وینځه دیو مسلمان په نکاح کښې وه او هغه خرڅه کړه نو اوس خریدار لره دهغې سره صحبت روادے او دهغه نکاح مات شوے دے یانۀ دے؟ ابن عباس رضی اللّٰہ عنهما فرمائی چه مات شو ځکه چه اللّٰه تعالی " وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ " عام فرمائیلے دے، او دباقی علماؤ مذهب دے چه نکاح باقی دے او دا́ت خاص دهغه ښځو دپاره دے چه هغه په قید کښې راغلی وی نۀ دهغه چاد پاره چه هغه په معرض بیع کښې راشی۔

بَابُ الْوَلَدِ لِلْفِرَاشِ وَتَوَقِّى الشُّبُهَاتِ۔

بَابُ: ماشوم دښځې دخاوند یا دمالك دے او دشبهاتونه دبچ کیدو بیان۔

(۳۶۱۳) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتِ اخْتَصَمَ سَعْدُ ابْنُ أَبِي وَقَّاصٍ وَعَبْدُ ابْنُ زَمْعَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فِي غُلَامٍ فَقَالَ سَعْدُ هٰذَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ابْنُ أَخِيْ عُتْبَةَ ابْنِ أَبِيْ وَقَّاصٍ عَهِدَ إِلَيَّ أَنَّهُ ابْنُهُ أُنْظُرْ إِلٰى شَبَهِهٖ وَقَالَ عَبْدُ ابْنُ زَمْعَةَ هٰذَا أَخِيْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وُلِدَ عَلٰى فِرَاشِ أَبِيْ مِنْ وَّلِيْدَتِهٖ فَنَظَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى شَبَهِهِ فَرَاَى شَبَهًا بَيِّنًا بِعُتْبَةَ فَقَالَ هُوَ لَكَ يَا عَبْدُ الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ وَاحْتَجِبِيْ مِنْهُ يَاسَوْدَةُ بِنْتَ زَمْعَةَ قَالَتْ فَلَمْ يَرَ سَوْدَةَ قَطُّ وَلَمْ يَذْكُرْ مُحَمَّدُ ابْنِ رُمْحٍ قَوْلَهُ يَاعَبْدُ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دجناب عـائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه سعدٌ ابن ابی وقاص او عبدٌ بن زمعه دواړو جګړه او کړه په یو هلك بانذِ سعدٌ عرض اوکړو چه یا رسول الله! دا هلك زما درور بچے دے چه نوم زما درور عتبه بن ابی وقاصٌ دے او هغوئ ماته وئیلے وو چه دا زما فرزند دے ، او تاسو په ده کښِ شباهت اوګورئ. او عبدالله بن زمه اووے چه یارسول الله! دا هلك زما رور دے زما دپلار په تمبو کښِ دهغه وینځې دګیدے نه پیدا شوے دے.

پس رسول الله ﷺ هغه هلك اولیدو چه په ښه شان دعتبه سره مشابه دے او اونے فرمائیل ، چه اے عبدٌ! هلك دهغه چادے چه دچاپه بستره بانذِ پیدا وی او زنا کار له بے نصیبی او محرومی ده یا ګټے ، او اے سودهٌ دزمه لور تهٔ دده نه پټیږه ، بیا سودےٌ هغه لره چه ته اونهٔ لیدو ، او دمحمد بن رمحٌ په روایت کښے دیا عبدلفظ نشته دے.

فائده: فراش هغه ښځے ته وئیلے شی چه دهغے سره صحبت اوکړے شی خواه که په نکاح سره وی یا په ملك یمین سره، عرض دا چه هر کله چه ددا سے ښځے نه هلك وی په داسے موده کښِ دهغے دخاوند سره یا دهغے دمالك سره ممکن وی نو دهغه به تصور کولے شِی، او ټول احکام دبچی به په ده بانذِ جاری کیږی چه پلار ځوئ به دواړه دیو بل وارثان وی خواه که هغه دخپل پلار مشابه وی یانهٔ وی.

او هغه موده چه په کومے کښِ الحاق ممکن دے شپږ میاشتے دی، یعنی دکوم وخت نه چه ددے دواړو میل جول شوے دے خواه که په نکاح سره وی یا په ملك یمین سره، ددے نه شپږ میاشتے پس چه کوم هلك وی هغی به دهغه سری تصور کولے شی دچاسره چه دا ښځه ده.

او فراش دښځے په دے شان کیږی چه کچرے هغه کنده ده نو صرف په عقد نکاح سره فراش کیږی او په دے بانذِے اجماع نقل کړے ده مګر شرط دادے چه ورستو دثبوت دفراش نه امکان دوطی وی، او کچرے ورستو دفراش دثبوت نه امکان دوطی (یعنی کور والی) نهٔ وی مثلاً سړے په مغرب کښے دے او ښځه په مشرق کښے ده او یو پکښِ خپل وطن نهٔ دے

پریخودې، بیا شپږ میاشتې پس یادهغې نه ورستو هلك پیدا شو نو هغه به ددغه سړي سره ملحق نۀ وي یعنې دهغه به ورته نۀ شي وئیلې، دا قول دې دامام مالك او شافعي او تمامو عالمانو۔

مګر ابو حنیفه علیه الرّحمه ددې نه خلاف کړې دې چه هغوئ دصحبت دامکان شرط نۀ دې لګولې مګر صرف عقددنکاح ئې په دې امر کښې کافي ګڼړلې دې. تر دې پورې چه دهغوئ قول دې چه کچرې طلاق ورکړې شویوې بنځې ته دعقد نه پس او دکور والي کیدل هیڅ کله ممکن نۀ وو، او هغې بنځې شپږ میاشتې پس ماشوم او زیږه وو، نو ماشوم ددغه طلاق ورکونکي دې، او دغه مذهب زیات کمزورې او بې دلیله دې او ظاهر الفساد او بین البطلان، او په دې حدیث کښې دهغوئ څه دلیل نشته ځکه چه دا فرمائیل دهغوئ چه بچې دفراش دې او زاني لره محرومي ده په اعتبار دغالب احوال ده، عرض دبنځې حکم خودغه دې۔

او وینځه دامام شافعيؒ او امام مالك په نزد فراش کیږي په جماع سره، او صرف په ملك سره نۀ کیږي، تردې پورې چه کچرې دمودې پورې په ملك یمین کښې پاتې شي، او مالك دهغه ددې سره جماع نۀ کوي او نۀ اقرا کوي دجماع کولو، نو ماشوم ددې وینځې به دهغه سره ملحق کولې نۀ شي۔

او هر کله چه ئې کوروالې اوکړو نو هغه فراش شوله، بیا اوس چه کوم هلك اوشي په دغه موده کښې چه الحاق دهغه ممکن وي هغه به ملحق کولې شي۔ او دابو حنیفه رحمه الله علیه قول دې چه هلك به ددې دآقاسره ملحق نۀ وي. دکومې پورې چه داسې هلك نۀ وي چه هغه مالك هغه ته خپل او نۀ وائي، بیا چه هر کله داسې هلك یو او شولو، اوس چه څومره اولاد ئې کیږي نو تول به دده ګڼړلې شي، مګر هر کله چه هغه دیونه انکار اوکړي۔ (نوويؒ)

(۳۶۱۴) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ غَيْرَ اَنَّ مَعْمَرًا وَّ ابْنَ عُيَيْنَةَ فِيْ حَدِيْثِهِمَا الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ وَلَمْ يَذْكُرْ لِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ. [بخاري، ابوداود، نسائي، ابن ماجه]

ترجمه: دز هريؒ نه په هغه اسناد سره دا روایت مروي شوې دې مګر معمر او ابن عیینهؒ په خپلو حدیثو کښې وئیلې دي چه بچې دفراش دې، او دزاني ذکرئې نۀ دې کړې۔

فائده: په دے حدیث کښے دعبد بن زمعۃ چه رسول اللهﷺ ماشوم لره دزمعه سره ملحق کړولو، او دا محمول دے په دے باندِ چه معلومه شوه چه هغه ښځه فراش وه دزمعۃ او دا ثبوت کیدے شی چه دزمعه دا قرارنه شوے وی چه هغه په خپل ژوند کښے ونیلے وی، یا حضرت ته معلومه وه، او په دے حدیث کښے دلیل دے دشافعیؒ او مالك په ابو حنیفۃ باندِ ځکه چه دزمعۃ یو وروے ځوئ ددغه وینځی نه ددے هلك نه سِوا بل نۀ وو، پس معلومه شوه چه شرط لګول دیو داسے هلك چه دهغه الحاق مالك کړے وی لکه ځنګه چه دابو حنیفۃ قول دے باطل دے۔

باب الْعَمَلِ بِإِلْحَاقِ الْقَائِفِ الْوَلَدَ.

باب دقائف دخبرے اعتبار کول دبچی په الحاق کښې

(۳۶۱۷) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَيَّ تَبْرُقُ أَسَارِيْرُ وَجْهِهِ فَقَالَ أَلَمْ تَرَىْ إِنَّ مُجَزِّزًا نَظَرَ آنِفًا إِلٰى زَيْدِ ابْنِ حَارِثَةَ وَأُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ إِنَّ بَعْضَ هٰذِهِ الْأَقْدَامِ لَمِنْ بَعْضٍ. [بخاری، ابو داود، نسائی]

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه رسول اللهﷺ ځما خواله خوشحاله خوشحاله راغے، چه مخ مبارك ئے پرقیدلو، او اوئے فرمائیل چه تا اولیدل چه مجزز (دادقیافه پیژندونکی نوم دے) اوس اوکتل دزید بن حارثۃ او اسامه بن زیدؓ په طرف او اوئے ونیل چه ددغه خلقو خپے داسے دی چه دیو بل دجزؤ نه دی۔

(۳۶۱۸) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَ دَخَلَ عَلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ مَسْرُوْرًا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ أَلَمْ تَرَىْ أَنَّ مُجَزِّزًا الْمُدْلِجِيَّ دَخَلَ عَلَيَّ فَرَاٰى أُسَامَةَ وَزَيْدًا وَعَلَيْهِمَا قَطِيْفَةٌ قَدْ غَطَّيَا رُءُوْسَهُمَا وَبَدَتْ أَقْدَامُهُمَا فَقَالَ إِنَّ هٰذِهِ الْأَقْدَامَ بَعْضُهَا مِنْ بَعْضٍ. [بخاری، ابو داود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه زما خواله یوه ورځ رسول اللهﷺ تشریف راوړو او ډیر خوشحاله وو، او اوئے فرمائیل چه اے عائشےؓ! ولے تا اونۀ لیدو چه مجزز مدلجی زما خواله راغے، او اسامۃ او زیدؓ دواړو ته ئے اوکتل او دواړو یو څادر په

دے شان پَسَر کړے وو(یعنی اغوستے وو) چه سرئے پټ وو او خپے ئے ښکاریدے نو هغویٔ اووے دا خپے دیو بل دجُزنه دی(یعنی یو دپلار نه دی بل دځوئ نه)۔

(۳۶۲۰) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ بِمَعْنٰی حَدِیْثِهِمْ وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ یُوْنُسَ وَکَانَ مُجَزِّزٌ قَائِفًا ۔

ترجمه: دز هریؒ نه په دغه سند سره دا مضمون مروی شوے دے، او په دے کښ دادی چه مجزز قیافه شناس وو۔

فائده : مازریؒ وئیلے دی چه دجاهلیت خلقه به داسامهٔ په نسب کښے طعن او بدگمانئی کوله، ځکه چه اسامهٔ (درنگ نه)ډیر تور وو، او زیدؓ تك سپین وو، او دا روایت کړے دے ابو داؤد داحمد بن صالحؒ نه، بیا چه هر کله دغه قیافه شناس اووے چه اسامهٔ دزیدؓ ځوئ دے دمختلف رنګ باؤجود، او دجاهلیت خلقو به دهغوئ په وینا باندِ اعتماد کولو، نو حضرتؐ خوشحاله شو، ځکه چه دهغه خلقو طعن لرے شو او بدگمانی لرے شوه۔

او داحمد بن صالحؒ نه سوا نورو خلقو داسے وئیلے دی چه زیدؓ تك سپین وو، او داسامهٔ مور ام ایمنؓ وه او دهغه نوم برکت وو او هغهٔ حبشه توررنګے وه، او قاضی عیاضؒ وئیلے دی دا برکت لوروه دمحصن بن ثعلبه والله اعلم ۔

او دعالمانو اختلاف دے دقائف په قول قبلولو کښے، پس ابو حنیفهٔ او دهغویٔ ملګرو او ثوریؒ او اسحٰقؒ وئیلے دی چه په الحاق ولد کښ دقائف قول معتبر نهٔ دے، او شافعیؒ او جمهورو عالمانو وئیلے دی چه معتبر دے، او دامام مالك مشهور قول دے چه دوینځو په اولاد کښے معتبر دے، او دآزادو ښځو په اولاد کښ معتبر نهٔ دے، او یو روایت دامام مالك نه داسے هم دے چه په دواړو کښ معتبر دے۔

او دلیل دامام شافعیؒ دمحزز قائف دغه روایت دے، او دا دهغویٔ په تمامو مخالفینو باندِ حجت دے، ځکه چه دجناب رسول اللهﷺ خوشحالیدل صفا دلیل دے چه حضرتﷺ دهغویٔ قول لره معتبر ګنړلے دے، او اتفاق دے دهغه خلقو کوم چه قائف لره معتبر ګنړی په دے باندِ چه قائف عادل وی، او په دے کښ اختلاف دے چه یو قول پوره دے یاددوه ضرورت دے، صحیح داده چه یو قول پوره دے او دا حدیث هم په دے باندِ دلیل دے، او دغه قول دے دقاسم

مالکیؒ۔

او امام مالك وئیلي دي چه د دوه و کیدل ضروري دي، او دحنبلي ملګرو دشافعيؒ هم دغه قول دے ، مګر دا حدیث په هغوئ باندِ حجت دے، او داضروري ده چه قائف دِخبر دار او تجربه کار وي ،او صورت دالحاق ولد او ضرور دقائف چه دے، چه مثلاً یوه وینځه یو سړي واخسته، او مخکښے دیو حیض راتلونه اخستونکي دهغے سره صحبت اوکړو، او بائع هم یعني خرڅونکي هم ورسره په دغه طهر کښے صحبت کړے وو، او دغه وینځے شپږ میاشتے پس یا ددے نه په زیاته باندِ ماشوم او زیږوو، دمشتري دصحبت نۀ، او دڅلورو کالو دننه دبائع دصحبت نه، بیا دقائف په طرف مونږ رجوع اوکړه، او هغه دیو سره ملحق کړو نو هغه ماشوم دهغه شولو، او چرے ده ته شك وو او دواړو دے هلك ته وے چه زمونږ نۀ دے نو هغه به ځوانئ ته ورسیدو پورے پاتے کړے شي بیا چه ئے کوم طرفته مخه اوکړه دهغه به ګڼړلے شي۔

او که قائف ددواړو سره ملحق کړو نو دعمرؓ بن خطاب او مالك او شافعيؒ مذهب دغه دے چه هغه به ځوانئ پورے پریخودے شي بیا چه ئے کوم طرفته میلان وو دهغه طرف په تصور کولے شي، او ابو ثورؒ او سحنونؒ وئیلي دي چه هغه به د دواړو بچے تصور کولے شي، او ماجه شونؒ او محمد بن سلميؒ وئیلي دي چه دکوم یا شباهت پکښ زیات موندے شو دهغه به تصور کولے شي، او کوم خلق چه دقائف قول معتبر نۀ ګڼړي هغوئ هلك ته متنازع فیه وائي چه د دواړو سره دملحق کړے شي او دواړه سري دهغه پلاران تصور کړے شي او دا قول دابو حنیفهؒ دے۔

او دغه شان کچرے دوه ښځے په خپلو کښے دیو بل سره جنګ کوي نو هغوئ به هم دواړوه د دغه ماشوم میاندے ګڼړلے شي، او ابو یوسف علیه الرحمه وئیلي دي، چه د دواړو سره سره خودملحق کړے شي خو ددوه ښځے کچرے جګړه کوي نو صرف دیوے سره به ملحق کولے شي او اسحٰقؒ وئیلي دي چه په دے دواړو کښ خسنړے او غور څلے شي۔

بَابُ قَدْرِ مَاتَسْتَحِقُّهُ الْبِكْرُ وَالثَّيِّبُ مِنْ اِقَامَةِ الزَّوْجِ عِنْدَهَا عَقْبَ الزِّفَافِ

باب : دجینۍ او ښځې سره دواده دروسته شپې نه پس دخاوند دپاتې کیدو بیان

(۳۶۲۱) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا تَزَوَّجَ اُمَّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا وَّ قَالَ اِنَّهُ لَيْسَ بِكِ عَلٰى اَهْلِكِ هَوَانٌ اِنْ شِئْتِ سَبَّعْتُ لَكِ وَاِنْ سَبَّعْتُ لَكِ سَبَّعْتُ لِنِسَآئِيْ. [ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے، فرمائی چه رسول الله ﷺ چه هر کله دهغوئ سره نکاح اوکړو نو حضرت درے ورځے دهغوئ سره پاتے شو او بیاے او فرمائیل چه ته خپل خاوند ته څه سپکه نۀ یې کچرے تۀ غواړے نو زۀ به یوه هفته ستاسره یم، او جچرے یوه هفته ستاسره پاتے شوم نو دخپلو ټولو ښځو سره به یوه هفته تیروم او بیا به ددے ټولونه ورستو ستا نمبر راځی۔

(۳۶۲۲) عَنْ اَبِيْ بَكْرِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تَزَوَّجَ اُمَّ سَلَمَةَ وَاَصْبَحَتْ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهَا لَيْسَ بِكِ عَلٰى اَهْلِكِ هَوَانٌ اِنْ شِئْتِ سَبَّعْتُ عِنْدَكِ وَاِنْ شِئْتِ ثَلَّثْتُ ثُمَّ دُرْتُ قَالَتْ ثَلِّثْ. [راجع: ۳۶۲۱]

ترجمه: ابوبکرؓ دعبدالرحمٰنؓ دفرزند نه روایت دے، چه جناب رسول الله ﷺ چه هر کله نکاح اوکړو دام سلمه سره او دهغه سره ئے شپه تیره کړه نو اوے فرمائیل چه ته دخپل کور والا په نظر کښے سپکه نۀ ئے، کچرے ستاسره یم، او که ستا خوښه وی نو درے ورځے، او بیا به دوره کوم، هغوئ عرض اوکړه چه درے ورځې اوسیږه۔

(۳۶۲۳) عَنْ اَبِيْ بَكْرِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تَزَوَّجَ اُمَّ سَلَمَةَ فَدَخَلَ عَلَيْهَا فَاَرَادَ اَنْ يَّخْرُجَ اَخَذَتْ بِثَوْبِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنْ شِئْتِ زِدْتُكِ وَحَاسَبْتُكِ بِهٖ لِلْبِكْرِ سَبْعٌ وَّلِلثَّيِّبِ ثَلَاثٌ. [راجع: ۳۶۲۱]

ترجمه: دابوبکر بن عبدالرحمٰنؒ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ چه هر کله دام سلمهؓ سره نکاح اوکړو، او دهغې خواله راغے او اراده ئے اوکړه چه اوځم نو هغوئ حضرت ﷺ او نیوو، نو حضرتﷺ ورته او فرمائیل چه کچرے ته غواړے نو زهٔ به ستا سره زیات پاتے شم او دهغے مودے حساب به ساتم لو دجینئ ښځے سره اوه ورځې اوسیدل پکار دی، او دځه وخت تیر شوے ښځې سره درے ورځې.

(۳۶۲۴) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ حُمَيْدٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ. [راجع: ۳۶۲۱]

ترجمه: دعبدالرحمن بن حمیدؒ نه دغه روایت په دغه سند سره مروی شوے دے.

(۳۶۲۵) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا ذَكَرَتْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا وَذَكَرَ اَشْيَآءَ هٰذَا فِيْهِ قَالَ اِنْ شِئْتِ اَنْ اُسَبِّعَ لَكِ وَاُسَبِّعَ لِنِسَآئِيْ وَاِنْ سَبَّعْتُ لَكِ سَبَّعْتُ لِنِسَآئِيْ.

[راجع: ۳۶۲۱]

ترجمه: ام سلمه رضی الله تعالی عنها روایت ذکر کړے دے چه هر کله رسول الله ﷺ دهغوئ سره نکاح اوکړو او په هغے کښے ئے دخو څیزونو ذکر اوکړو چه یو پکښې دا هم وو چه اوئے فرمائیل چه کچرے ته غواړے نو زه به داوه ورځو پورے ستا سره او سیرم ، او کچرے ستا سره اوه ورځے پاتے شوم نو دنورو بیبیانوؓ سره به هم اوه اوه ورځے اوسیږم.

(۳۶۲۶) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اِذَا تَزَوَّجَ الْبِكْرَ عَلَى الثَّيِّبِ اَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا فَاِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ عَلَى الْبِكْرِ اَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا قَالَ خَالِدٌ وَلَوْ قُلْتُ اِنَّهُ رَفَعَهُ لَصَدَقْتُ وَلٰكِنَّهُ قَالَ السُّنَّةُ كَذٰلِكَ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے فرمائی چه هر کله دپیغلے سره نکاح کوئ او مخکښے ددے نه په نکاح کښے بله ښځه وی نو ددغے پیغلے سره به داوه ورځو پورے پاتے کیږی او ورستو ددے نه به بیا نمبر مقرر کړی) او هر کله چه دیو ځل واده شوے ښځے سره نکاح کوی او پیغله جینئ دده په نکاح کښ وی نو دهغے سره به ورومبئ درے ورځی پاتے کیږئ، خالدؒ وئیلے دی چه کچرے زهٔ ددے روایت ته مرفوع او وایم نو هم به رښتیا وی، مگر انسؓ وئیلے دی دا امر سنت دے.

فائده: ام سلمه رضی الله تعالی عنها درے ورځے اوسیدل دحضرتؐ غوره او فرمائیل څکه چه دا درے ورځے مجرانه یعنی جاری کیدنه وی او خاص دهغوئ دپاره اوسیږی، او دحضرتؐ به بیا زریوه یوه شپه دتولو بیبیانو سره پاتے کیدل او بیا دام سلمهؓ خواته به راتلل وی او اوه ورځے ئے څکه غوره نۀ کړے ددے دپاره چه اوه۷ اوه۷ ورځے پس چه بیا حضرت تشریف راوړی، نو ډیره موده به په جداولاالی کښے تیره شی او ددے حدیث نه معلومه شوه چه دنوے ناوے حق کچرے پیغله جینئ وی نو اووه ورځے دے، ددے نه پس به بیا خاوند برابر نمبر دیوے ورځے مقرر کړی۔

او کچرے ثیبه وی(یعنی یو ځل وراندِ واده شوی وی) نو دهغے حق ددے خاوند سره وړومبئ درے ورځے دی، او ثیبے ته اختیار دے چه که خاوند لره درے ورځے ساتی نو قضانۀ دے، او بیا به نمبر دیوے یوے ورځے وی، او کچرے اوه ورځے ئے اوساتی نو دهغے به قضاوی، یعنی خاوند به اوه اووِ ورځے دهرے یوے ښځے سره وی، او دغه مذهب دے دشافعیؒ او دهغوئؒ موافقینو لکه امام مالك او احمدؒ او اسحٰقؒ او ابوثورؒ او ابن جریرؒ چه دی، او دغه قول دے دجمهور علماؤ ددغه حدیثو دمخه، او ابو حنیفهؒ ددے خلاف کړے دے مگر دا احادیث په هغه باندِ درد کولو دپاره کافی دی۔

بَابُ الْقَسْمِ بَيْنَ الزَّوْجَاتِ وَبَانِ أَنَّ السُّنَّةَ أَنْ تَكُوْنَ لِكُلِّ وَاحِدَةٍ لَيْلَةٌ مَعَ يَوْمِهَا .

باب: دبیبیانو دبرابرئ بیان .

(۳۶۲۸) عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ كَانَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْعُ نِسْوَةٍ فَكَانَ إِذَا قَسَمَ بَيْنَهُنَّ لَا يَنْتَهِيْ إِلَى الْمَرْأَةِ الْأُوْلٰى إِلَّا فِيْ تِسْعٍ فَكُنَّ يَجْتَمِعْنَ كُلَّ لَيْلَةٍ فِيْ بَيْتِ الَّتِيْ يَأْتِيْهَا فَكَانَ فِيْ بَيْتِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَمَدَّ يَدَهُ إِلَيْهَا فَقَالَتْ هٰذِهِ زَيْنَبُ فَكَفَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدَهُ فَتَقَاوَلَتَا حَتّٰى اسْتَخَبَتَا وَأُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَمَرَّ أَبُوْبَكْرٍ عَلٰى ذٰلِكَ فَسَمِعَ أَصْوَاتَهُمَا فَقَالَ اُخْرُجْ يَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الصَّلٰوةِ وَاحْثُ فِيْ أَفْوَاهِهِنَّ التُّرَابَ فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ عَائِشَةُ الْآنَ يَقْضِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلٰوتَهُ فَيَجِيْئُ أَبُوْبَكْرٍ فَيَفْعَلُ بِيْ وَيَفْعَلُ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وَسَلَّمَ صَلوتَهُ اَتَهَا اَبُوْبَكْرٍ فَقَالَ لَهَا قَوْلًا شَدِيْدًا وَّ قَالَ اَتَصْنَعِيْنَ.

ترجمه: د انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه د نبی ﷺ نهٔه بیبیانے وے او حضرتؐ چه به هر کله په هغوئ کښے برابری کوله نو دَ رومبنئ بی بی خواله به ئے په نهٔمه ورځ تشریف ورلو. او د بیبیانوؓ دا قاعده وه هغے په کور کښے به جمع کیدلے . یوه ورځ حضرتؐ د بی بی عائشے صدیقت رضی الله تعالی عنه په کور کښ وو او بی بی زینبؓ راغله او حضرتؐ د هغے په طرف لاس مبارور اوږد کړو او هغوئ عرض اوکړو چه زینبؓ ده پس حضرت لاس رابنکودو. او د بی بی عائشےؓ او په زینب په مینځ کښے تکرار شروع شو تر دے پورے چه دَ دوارو آوازونه اوچت شول ، او دَ مانځه تکبیر اوشولو ، او ابوبکرؓ د هغویؓ په خواه کښے تیر شولو ، او د ابوبکرؓ د هغویؓ په خواه کښے تیر شولو او عرض ئے اوکړو چه یارسول الله ! تاسو مانځه تَ راوځئ او هغویؓ په خله کښ خاؤرے واچوئ، پس نبی صَلے اللهُ علیه وسلم را اووتو، او جناب عائشے صدیقے رضی الله عنها وئیلو چه اوس به نبی ﷺ مونځ اوکړی نو حضرت ابوبکرؓ به راشی او په ما باند بهٔداسے او هغسے خفه وی . بیا چه هر کله حضرتؐ مونځ ادا کړلو ، نو ابوبکرؓد هغویؓ خواله راغے او هغوئ ته ئے ډیرے سختے خبرے اوکړے او اوئے فرمائیل چه ته داسے کوے .(یعنی د حضرتؐ په مخکښے وښے او آواز اچتوے).

فائده:په دے حدیث کښے څو فائدے دی.

اول دا چه مستحب دی خاوند د پاره چه د هرے یوے ښځے په نمبر کښ به د هغے کور ته ځی ، او دا غوره دی ، او کچرے خپل کور ته هره یوه په نمبر نمبر غواړی نو روا دی.

دویم دا چه د کومے ښځے نمبر نهٔ وی نو خاوند لره په دغه شپه د هغے کور ته تلل منع دی،او دَ شافعیؒ په نزد حرام دی . مګر په ضرورت لکه چه سکرات د مرګ وی یا بل سخت ضرورت وی.

دریم دا چه لاس غزول د رسول اللهﷺ په دے خیال سره وو چه حضرتؐ دا ګنړله چه دا محترمه عائشهٔ ده چه د هغے نمبر وو،او د شپے وخت وو او په کورونو کښے رنړا نهٔ وه ، بیا چه هر کله حضرتؐ ته معلومه شوه چه دا هغهٔ نهٔ ده نو لاس ئے واپس رابنکودو، د دے نه تقوئ لو

بـنـدګی د حـضـرتؐ معلومَه شوه،او ځنو وانیلی دی چه داسے اتفاق به کله کله د بیبیانوؓ په رَضا مندیٔ سره کیدولو۔

څلورم دا چه د جناب ماب ﷺ ښکلی اخلاق او ملاطِفت د دے نه معلوم شولو چه حضرتؐ د هغویؓ پـه آوازاوچتـولـو بـاندِ زوروونه کړه، او ابوبکرؓ په کوم اوفرمائیل چهِ دَ دویٔ په خله کښے خاورے واچوه،دا داسے خبره ده لکه چه خلق وائی په دے خبره باندِ خاورے واړوه۔

پـنـځـم دا چـه پـه دے سـره فضیلت دَ ابوبکر صدیقؓ ثابت شولو،او نظر کول د هغویؓ دَ صلح په امور کښے۔

شپږم دا چـه مـعـلـومـه شـوه چـه روا دے پـه طـور د مـصـلحت یو حکم ورکولو د خپل ملګری خپل غوره سردار ته ، او نهُه بیبیانے د رسول الله ﷺ کومے چه د هغویؐ دَوفات نه پس پاتے وے دا دی (۱)جناب عـآئشے صدیقے چه دِتِولو نه زیاته فقیهه او د رسول الله ﷺ خوښه وه، (۲) او حـفـصـهؓ او (۳) سـودهؓ (٤)زیـنـبؓ (٥) ام حبیبـهؓ (٦) ام سـلمهؓ (۷) میمونهؓ (۸) جویریهؓ (۹) صفیه رضی الله تعالی عنهن۔

بَابُ جَوَازِ هِبَتِهَا نَوْبَتَهَا لِضَرَّتِهَا

بَابُ خپل نمبر خپلے بنِ ته دهبه کولو بیان

(۳٦۲۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ مَا رَأَیْتُ امْرَاَةً اَحَبَّ اِلَیَّ اَنْ اَکُوْنَ فِیْ مِسْلَاخِهَا مِنْ سَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ مِنِ امْرَاَةٍ فِیْهَا حِدَّةٌ قَالَتْ فَلَمَّا کَبِرَتْ جَعَلَتْ یَوْمَهَا مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِعَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ جَعَلْتُ یَوْمِیْ مِنْکَ لِعَائِشَةَ فَکَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقْسِمُ لِعَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا یَوْمَهَا وَیَوْمَ سَوْدَةَ.

ترجمه: دجـنـاب عـائـشـے صـدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے ، فرمائی چه ما یوه ښځه داسے نـهٔ ده لیـدلے چـه آرزوکوم زه دهغے پشان دجسم کیدو سودےؓ نه مخکښ ، هغه یوه داسے ښـځه وه چه دهغه په مزاج کښ ډیره ګرمی وه، بیا چه هر کله هغویٔ بوډیٔ شوله نو خپل نمبر ئے عـآئشےؓ تـه ورکړو، او عـرض ئے اوکړو چه یا رسول الله! ما خپل وار عآئشے رضی الله تعالی عنها ته هبه کړو پس حضرتؐ به دجناب عائشے رضی الله تعالی عنها سره دوه ورځے اوسیدو یوه

دهغې خپله ورځ، او یوه دحضرت سورے رضی الله عنها په ورځ کښ۔

فائده: جناب عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها فرمائیلی دی چه زۀ دهغویٔ په جسم کښے وے، مراد ددے نه دادے چه زۀ آرزوکوم چه دهغے پشان تیزی او ګرمی زما په مزاج کښ وے، او په دے کښ لکه هغویٔ دسودۃ وصف بیان فرمائیلے او مدح ئے کړے وه، او ددے حدیث نه خپل نمبر ورکول خپلے بنے ته جائز شولو، او داهم روادی چه نمبر خپل زوج ته ورکړی یعنی خاوند ته ورکړی چه هغه کومه غواړی او هغے ته ئے ورکړی۔

(۳۶۳۰) عَنْ هِشَامٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ اَنَّ سَوْدَةَ لَمَّا کَبِرَتْ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ جَرِیْرٍ وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ شَرِیْکٍ قَالَتْ وَکَانَتْ اَوَّلَ امْرَاَةٍ تَزَوَّجَهَا بَعْدِیْ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دهشام نه په دغه اسناد سره دغه مضمون مروی دے، او دشریک په روایت کښے دا زیاته ده چه جناب عائشے صدیقے او فرمائیل چه سودۃ رومبیٔ بی بی وه چه دهغه سره زما نه پس حضرتؐ نکاح کړے وو۔

(۳۶۳۱) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ کُنْتُ اَغَارُ عَلَی اللَّاتِیْ وَهَبْنَ اَنْفُسَهُنَّ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَقُوْلُ وَتَهَبُ الْمَرْاَةُ نَفْسَهَا فَلَمَّا اَنْزَلَ اللهُ تَعَالٰی تُرْجِیْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِیْ اِلَیْکَ مَنْ تَشَآءُ وَمَنِ ابْتَغَیْتَ مِمَّنْ عَزَلْتَ قَالَتْ قُلْتُ وَاللهِ مَآاَرٰی رَبَّکَ اِلَّا یُسَارِعُ لَکَ فِیْ هَوَاکَ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه مابه په هغه ښځو باندِ ډیر غیرت خوړلو چاچه به خپل ځان رسول اللهﷺ ته هبه کولو او مابه وئیلو چه ښځه خپل روح ولے هبه کوی بیا چه هر کله دا آیت نازل شولو دترجیٔ نه واخله دا خره پورے یعنی چاله چه تهٔ غواړے اے نبیؐ! لرے کوۀ ئے دځان، او چاله چه غواړے ځائے ورکوه دځان سره دهغویٔ نه، نو ما حضرتؐ ته اووے چه قسم دے په الله پاك باندِ چه زۀ وینم چه هغه الله تعالی ستاسو دخواهش موافق زرحکم فرمائیلے دے۔

(۳۶۳۲) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّهَا کَانَتْ تَقُوْلُ مَا تَسْتَحْیِیْ امْرَاَةٌ تَهَبُ نَفْسَهَا لِرَجُلٍ حَتّٰی اَنْزَلَ اللهُ تُرْجِیْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِیْ اِلَیْ مَنْ تَشَآءُ فَقُلْتُ اِنَّ رَبَّکَ لَیُسَارِعُ لَکَ فِیْ هَوَاکَ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه : دحضرت عـائشے رضی اللّٰہ تعالی عنها نه دغه مضمون مروی دے خو ددے په شروع کښې داده چه ښځو لره شرم نهٔ ورځی چه هبه کوی ځان خپل لره دیو سړی دپاره۔

(۳۶۳۳) عَنْ عَطَآءٍ قَالَ حَضَرْنَا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا جَنَازَةَ مَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَرِفَ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا هٰذِهٖ زَوْجَةُ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِذَا رَفَعْتُمْ نَعْشَهَا فَلَا تُزَعْزِعُوْا وَلَا تُزَلْزِلُوْا وَارْفُقُوْا فَاِنَّهٗ كَانَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعٌ فَكَانَ يَقْسِمُ لِثَمَانٍ وَلَا يَقْسِمُ لِوَاحِدَةٍ قَالَ عَطَآءٌ اَلَّتِيْ لَا يَقْسِمُ لَهَا صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيِّ ابْنِ اَخْطَبَ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دعطاء رضی الله عنه نه روایت دے چے مونږ حاضر شو دابن عباس رضی الله تعالی عنه سره په سرف کښې دبی بی میمونهٌ په جنازه کښې چه درسول اللهﷺ بی بی وه نو ابن عباس رضی الله تعالی عنهما او فرمائیل چه خیال ساتئ دا بی بی صاحبه ده درسول اللهﷺ پس هر کله چه ددے جنازه مبارکه او چته کړی نو خوزوئ را خوزوئ ئے مهٔ، او په ډیره نرمئ سره ئے وړئ او خبره دا چه درسول الله نه بیبیانے وے په هغوئ کښے داته ؤ دپاره نمبر مقرر وو او دیوے دپاره نهٔ وو، او عطاءؒ وئیلے دی چه هغه صفیهٌ وه۔

فائده: عطاءؒ ته وهم شوے دے، چه حقیقت کښے هغه بی بی دچا چه نمبر نهٔ وو جناب سودهٌ وه، لکه څنګه چه په پورته روایتونو کښں تیر شو، او علماؤ په دے کښے اختلاف دے، چه هغه بی بیؓ څوك وه چاچه خپل ځان رسول الله ته هبه کړے وو، زهریؒ وئیلے دی چه حضرت میمونه رضی الله تعالی عنها وه، او چا وئیلے دی چه ام شریك وه او چا وئیلے دی چه زینبؓ بنت خزیمه وه۔

(۳۶۳۴) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ قَالَ عَطَاءٌ وَكَانَتْ اٰخِرُهُنَّ مَوْتًا مَاتَتْ بِالْمَدِيْنَةِ .[راجع:۳۶۳۲]

ترجمه : دابـن جـریجؒ نـه په دغه سند سره روایت دے چه عطاء وئیلے دی هغوئ دټولو نه په آخر کښے وفات شوه وه ، او هغوئ په مدینه کښے وفات موندلے وو۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ نِكَاحِ ذَاتِ الدِّيْنِ

بَابُ: ددینداره سره دنکاح کولو دخوره والی بَیانَ

(۳۶۳۵) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْاَةُ لِاَرْبَعٍ لِمَالِهَا

وَلِحَسَبِهَا وَلِجَمَالِهَا وَلِدِيْنِهَا فَاظْفِرْ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاکَ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلی دی دښځې سره په څلور خبرو نکاح کولے شي، دهغې دمال دپاره دهغې دحسن دپاره، او دحسب (یعني شریف خاندان دپاره) او ددین دپاره، پس ته دیندارہ بانډ فتح حاصلوه ستا لاس دخاورو ډك شي۔

فائده: ددے حدیث نه مراد دادے چه دخلقو عادت دادے چه دمال او حسن او حسب نسب طلب. کونکی وی پس دیندار بنده لره لازم دی چه ددے تولو خصلتونو نه دین مقدم او گنړی چه په صحبت کښے دهغه صحبت نیك حاصل شي، او الله تعالی دهغه دینت په برکت سره حسن خلق او حسن معاشرت هم عنایت کړی او په سبب دنیکی ددنیا وی فتنے او دینوی فتنے نه په حفاظت کښے پاتے شي۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ نِكَاحِ الْبِكْرِ.

بَابُ: دپیغلے سره دنکاح مستحب کیدو بیان.

(۳۶۳۶) عَنْ عَطَاءٍ أَخْبَرَنِيْ جَابِرُ ابْنُ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَقِيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا جَابِرُ تَزَوَّجْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ بِكْرٌ أَمْ ثَيِّبٌ قُلْتُ ثَيِّبٌ أَمْ ثَيِّبٌ قُلْتُ ثَيِّبٌ قَالَ فَهَلَّا بِكْرًا تُلَاعِبُهَا قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ إِنَّ لِيْ أَخَوَاتٍ فَخَشِيْتُ أَنْ تَدْخُلَ بَيْنِيْ وَبَيْنَهُنَّ قَالَ فَذَاکَ إِذًا إِنَّ الْمَرْأَةَ تُنْكَحُ عَلٰى دِيْنِهَا وَمَالِهَا وَجَمَالِهَا فَعَلَيْکَ بِذَاتِ الدِّيْنِ تَرِبَتْ يَدَاکَ.

ترجمه: دعطاء رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماته جابر خبر راکړے دے، چه ما نکاح اوکړو درسول اللهﷺ په زمانه کښے ، او زۀ دحضرتؐ سره میلاؤ شوم ، نو حضرتؐ او فرمائیل چه اے جابرؓ! تا نکاح اوکړو، ما اووے هاں! حضرتؐ اوفرمائیل دکنډے سره کښ دپیغلے سره؟ مااووے دکنډے سره، حضرتؐ او فرمائیل دپیغے سره دولے نه کوۀ چه هغه ستا سره لوبے کولے او تا دهغے سره لوبے کولے، ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهؐ! زما یو څو خوئندے دی پس زما دا خیال وو چه چرے داسے اونۀ شي چه هغه ښځه (یعنی پیغله) ماته دهغوئ په پرورش کے مانع شي، حضرتؐ او فرمائیل چه کچرے دا دخیال وی نو خیر دے، بیائے او فرمائیل چه دښځے سره نکاح کولے شي دهغے ددین دپاره، دمال دپاره ، دحسن دپاره، پس ته دین رومبے کوه ستا په

دوارو لاسو نو کښې خاوړے دې شه۔

(۳۶۳۸) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ عَبْدَ اللهِ هَلَكَ وَ تَرَكَ تِسْعَ بَنَاتٍ اَوْ قَالَ سَبْعَ فَتَزَوَّجْتُ امْرَاَةً ثَيِّبًا فَقَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَا جَابِرُ تَزَوَّجْتَ قَالَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَبِكْرٌ اَمْ ثَيِّبٌ قَالَ قُلْتُ بَلْ ثَيِّبٌ يَا رَسُوْلَ اللهِ قَالَ فَهَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ اَوْ قَالَ تُضَاحِكُهَا وَتُضَاحِكُكَ قَالَ قُلْتُ لَهُ اِنَّ عَبْدَ اللهِ هَلَكَ وَتَرَكَ تِسْعَ بَنَاتٍ اَوْسَبْعَ وَاِنِّيْ كَرِهْتُ اَنْ اٰتِيَهُنَّ اَوْ اَجِيْئَهُنَّ بِمِثْلِهِنَّ فَاَحْبَبْتُ اَنْ اَجِيْئَ بِامْرَاَةٍ تَقُوْمُ عَلَيْهِنَّ وَتُصْلِحُهُنَّ قَالَ فَبَارَكَ اللهُ لَكَ اَوْ قَالَ لِيْ خَيْرًا وَّفِيْ رِوَايَةِ اَبِي الرَّبِيْعِ تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ وَتُضَاحِكُهَا وَتُضَاحِكُكَ. [بخاری ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه مخکښې دغه مضمون مروی دی په آخِر کښې ئے دی چه ما حضرت ﷺ ته عرض اوکړو چه عبدالله رضی الله تعالی عنه وفات او موندلو (دا دجابر رضی الله تعالی عنه پلار دے داحد په جنګ کښې شهدی شوے دے) او نهه یا اووه لونړه ئے پاتے شولے، نو ماته دا غوره نۀ ښکاریده چه زۀ دهغوئ همزولی یوه جینئ واده کړم او ما دا غوښتله چه داسے ښځه په نکاح واخلم چه هغه ددوئ خدمت کوی او خبرئے اخلی پس حضرت ﷺ ورته او فرمائیل دتالره برکت ورکړی، یا یوه بله دُعا خیرے او فرمائیله۔

(۳۶۳۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَكَحْتَ يَا جَابِرُ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ اِلٰى قَوْلِهِ امْرَاَةٍ تَقُوْمُ عَلَيْهِنَّ وَتَمْشُطُهُنَّ قَالَ اَصَبْتَ وَلَمْ يَذْكُرْ مَا بَعْدَهُ.[بخاری]

فائده: ددے حدیث نه فضیلت دپیغلے دنکاح ثابت شولو، او جواز دخپلے ښځے سره دلوبو او خندلوااو موندے شو، او که څه مصلحت نورنۀ وی نو پیغله دکنډے نه غوره ده۔

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه دغه مضمون مروی دے په دے کښې ددے ځائے پورے ذکر دے چه ما داسے ښځه اوکړله چه هغه دهغوئ خدمت کوی او هغوئ له سرګو منز کوی او حضرتؐ او فرمائیل چه ډیر ډ ښه اوکړو، او ددے نه دورستو ذکر نشته تشریح به صفه ۱۸۷ ۔

(۳۶۴۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزَاةٍ فَلَمَّا اَقْبَلْنَا تَعَجَّلْتُ عَلٰى بَعِيْرٍ لِّيْ قَطُوْفٍ فَلَحِقَنِيْ رَاكِبٌ خَلْفِيْ فَنَخَسَ بَعِيْرِيْ بِعَنَزَةٍ كَانَتْ مَعَهُ فَانْطَلَقَ

بَعِیْرِیْ کَاَجْوَدِ مَا اَنْتَ رَاءٍ مِّنَ الْاِبِلِ فَالْتَفَتَ فَاِذَا اَنَا بِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا يُعْجِلُكَ يَا جَابِرُ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ حَدِيْثُ عَهْدٍ بِعُرْسٍ فَقَالَ اَبِكْرًا تَزَوَّجْتَهَا اَمْ ثَيِّبًا قَالَ قُلْتُ بَلْ ثَيِّبٌ قَالَ هَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ ذَهَبْنَا لِنَدْخُلَ فَقَالَ اَمْهِلُوْا حَتّٰى نَدْخُلَ لَيْلًا اَيْ عِشَاءً كَيْ تَمْتَشِطَ الشَّعِثَةُ وَتَسْتَحِدَّ الْمُغِيْبَةُ قَالَ وَقَالَ اِذَا قَدِمْتَ فَالْكَيْسَ الْكَيْسَ. [بخاری]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه مونږ په یو جهاد کښې د رسول الله ﷺ سره ملګری وو بیا چه هر کله واپس راروان شو نو ما خپل اوښ په تلوار شړلو هغه سست وو، پس سور بنده زما دشا د طرفنه راغے او څما اوښ ئے په خپله لختے سره یو ګذار ورکړو کومه چه د هغوئ سره وه، او څما اوښ داسے روان شو چه لیدونکی به د هغے نه غوره نهٔ لیدو او ما چه شاته اوکتل نو هغه رسول الله ﷺ وو، او حضرتؐ او فرمائیل چه اے جابرهٔ په تا څه تادی ده؟ ما عرض اوکړو چه یا رسول الله زما نوے نوے واده شوے دے، حضرتؐ، حضرتؐ او فرمائیل چه دکنډی سره کښې دپیغلے سره ما اووے دثبیه یعنی کنډے سره حضرتؐ او فرمائیل چه دپیغلے دولے نهٔ کوؤ چه تا د هغے سره لوبے کولے او هغے ستا سره، بیا چه هر کله مونږ مدینے ته راغلو، نو روان وو چه داخل شو حضرتؐ او فرمائیل چه اودیږئ تر دے پورے چه شپه راشی یعنی د ماسختن وخت د دے دپاره چه سر ګومنز کړی خفه وینستو والا، او وینته داسترے لرے کړی هغه ځوك چه خاوندئے بهر تلے وی، بیا حضرتؐ او فرمائیل چه کله ورشے ته نو بیا خو جماع ده جماع ده (یعنی دامت دزیاتوالی دپاره نهٔ صرف دخوند دپاره).

(۱۳۶۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ خَرَجْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزَاةٍ فَاَبْطَاَبِيْ جَمَلِيْ فَاَتٰى عَلَيَّ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِيْ يَا جَابِرُ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ مَا شَاْنُكَ قُلْتُ اَبْطَاَبِيْ عَلَيَّ جَمَلِيْ وَاَعْيٰى فَتَخَلَّفْتُ فَنَزَلَ فَحَجَنَهُ بِمِحْجَنِهِ ثُمَّ قَالَ ارْكَبْ فَرَكِبْتُ فَلَقَدْ رَاَيْتُنِيْ اَكُفُّهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَتَزَوَّجْتَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ اَبِكْرًا اَمْ ثَيِّبًا فَقُلْتُ بَلْ ثَيِّبٌ قَالَ فَهَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ قُلْتُ اِنَّ لِيْ اَخَوَاتٍ فَاَحْبَبْتُ اَنْ اَتَزَوَّجَ امْرَاَةً تَجْمَعُهُنَّ وَتَمْشُطُهُنَّ وَتَقُوْمُ عَلَيْهِنَّ قَالَ اَمَا اِنَّكَ قَادِمٌ فَاِذَا قَدِمْتَ فَالْكَيْسَ الْكَيْسَ ثُمَّ قَالَ اَتَبِيْعُ جَمَلَكَ؟ قُلْتُ نَعَمْ فَاشْتَرَاهُ مِنِّيْ بِاُوْقِيَةٍ ثُمَّ قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدِمْتُ بِالْغَدَاةِ فَجِئْتُ الْمَسْجِدَ فَوَجَدْتُهُ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ فَقَالَ

اَلْاٰنَ حِیْنَ قَدِمْتَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ فَدَعْ جَمَلَکَ وَادْخُلْ فَصَلِّ رَکْعَتَیْنِ قَالَ فَدَخَلْتُ فَصَلَّیْتُ ثُمَّ رَجَعْتُ فَاَمَرَ بِلَالًا اَنْ یَّزِنَ لِیْ اُوْقِیَۃً فَوَزَنَ لِیْ بِلَالٌ فَاَرْجَحَ فِی الْمِیْزَانِ قَالَ فَانْطَلَقْتُ فَلَمَّا وَلَّیْتُ قَالَ ادْعُ لِیْ جَابِرًا فَدُعِیْتُ فَقُلْتُ اَلْاٰنَ یَرُدُّ عَلَیَّ الْجَمَلَ وَلَمْ یَکُنْ شَیْءٌ اَبْغَضَ اِلَیَّ مِنْهُ فَقَالَ خُذْ جَمَلَکَ وَلَکَ ثَمَنُهٗ.

[راجع:۱٦٥٧]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایتے دے چه زهٔ دجناب رسول الله ﷺ سره او وتم په یو جهاد کښے، او ما اوښ په قلاره روان وو، او جناب رسول الله ﷺ زما خواله راغے او اوئے فرمائیل اے جابرؓ! ما اووے هاں حضرتؐ او فرمائیل ستا څه حال دے؟ ما اووے چه زما اوښ حصاریږی او ستړے شوے دے ځکه زهٔ ورستو پاتے شوم، پس حضرتؐ راکوز شو او حضرتؐ دخپلے کړی کونے په لرګی سره هغه لره یو ګذار ورکړو، بیائے او فرمائیل سورشه، زهٔ سور شوم او چه څان ته مے اوکتل چه زما اوښ دومره تیز شوے وو چه مابه هغه رامنع کؤو په درسول الله ﷺ نه مخکښں نهٔ شی بیا حضرتؐ او فرمائیل چه تا نکاح کړے دے؟ ما عرض اوکړو چه هاں! حضرتؐ او فرمائیل چه پیغله دِکړے ده یا کنډه؟ ما عرض اوکړو چه کنډه حضرتؐ او فرمائیل چه دپیغلے سره دولے نهٔ کؤو، چه تا دهغے سره لوبے کولے او هغے ستا سره، ما عرض اوکړو چه زما خو خوئندے دی، ځکه مَا دا غوښتله چه دداسے ښځے سره نکاح اوکړم چه هغه هغوئ ټولے په جمع ساتی، (یعنی خفان له ئے نهٔ ورکوی) او دهغوئ سر ګومنزه وی او خدمت ئے کوی، نو حضرتؐ او فرمائیل چه تهٔ خپل کورته اورسے نو جماع او جماع ده، بیائے او فرمائیل چه تهٔ خپل اوښ خرخوے؟ ما اووے چه هاں! بیا حضرتؐ هغے لره دیو او قیه سپینوزرو په عوض کښے واخستو، بیا رسول الله ﷺ راغے، او زهٔ په دوئمه ورځ سحوراورسیدم او جماعت ته راغلم. اوحضرتؐ مے دجماعت په دروازه کښے اولیدو نو حضرتؐ او فرمائیل تهٔ راغلے؟ ما عرض اوکړو هاں! حضرتؐ اوفرمائیل اوښ دلته پریږده او جماعت ته لاړشه دوه رکعته مونځ اداکړه، (ددے نه ثابته شوه چه دسفر نه په راتلو سره مخکښں جماعت ته تلل او دوه رکعته مونځ اداکول سنت دی) بیا زه لاړم او دوه رکعته مے اداکړو او راغلم، حضرتؐ بلال ته حکم اوکړو چه ماله یا او قیه سپین زر تول کړه، بیا هغوئ ښه درانه او تلل، او چه هر کله زما شاشوه روان شوم، نو

حضرت بیا را او غوښتم، او زما خیال شو چه اوس زما اوښ ماته واپس کوی او ددے نه زیات ماته دومره بل شے نا خوښه نۀ وو، نو ماته ئے او فرمائیل چه څه او خپل اوښ هم بوځه، او قیمت م هم تاته درکړو۔

(۳۶۴۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ كُنَّا فِیْ مَسِیْرٍ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَنَا عَلٰی نَاضِحٍ لِّیْ اِنَّمَا هُوَ فِیْ اُخْرَیَاتِ النَّاسِ قَالَ فَضَرَبَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوْ قَالَ نَخَسَهٗ اَرَاهُ قَالَ بِشَیْءٍ كَانَ مَعَهٗ قَالَ فَجَعَلَ بَعْدَ ذٰلِكَ یَتَقَدَّمُ النَّاسَ یُنَازِعُنِیْ حَتّٰی اِنِّیْ لَاَكُفُّهٗ قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَتَبِیْعُنِیْهِ بِكَذَا وَكَذَا وَاللّٰهُ یَغْفِرُ لَكَ قَالَ قُلْتُ هُوَ لَكَ یَا نَبِیَّ اللّٰهِ قَالَ اَتَبِیْعُنِیْهِ بِكَذَا وَكَذَا وَاللّٰهُ یَغْفِرُ لَكَ قَالَ قُلْتُ هُوَ لَكَ قَالَ وَقَالَ لِیْ اَتَزَوَّجْتَ بَعْدَ اَبِیْكَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ ثَیِّبًا اَمْ بِكْرًا قَالَ قُلْتُ ثَیِّبًا قَالَ فَهَلَّا تَزَوَّجْتَ بِكْرًا تُضَاحِكُكَ وَتُضَاحِكُهَا تُلَاعِبُكَ وَتُلَاعِبُهَا قَالَ اَبُوْ نَضْرَةَ وَكَانَتْ كَلِمَةً یَقُوْلُهَا الْمُسْلِمُوْنَ اِفْعَلْ كَذَا وَكَذَا وَاللّٰهُ یَغْفِرُ لَكَ. [بخاری، نسائی، ابن ماجه.]

ترجمه: دجابر رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه مونږ په یو سفر کښے درسول الله ﷺ سره وو او زۀ په یو اوښ راؤ رونکی اوښ بانډ سوروم، دټولو خلقونه ورستو، پس جناب رسول الله ﷺ هغه اووهو یائے او فرمائیل اوئے چلوؤ، زۀ ګمان کوم چه په یو داسے څیزئے اووهو کوم چه دهغوئ سره وو، بیا خو هغه دټولو خلقونه مخکښ اووتو (دا دحضرت معجزه وه) او زما سره به لګه جنګیدو او ما به غه لږه منع کړو، بیائے او فرمائیل تاسۀ دا په ما را خرسوئ په دومره قیمت بانډ الله دتا ابخښی، ما عرض اوکړو چه هغه ستا دے،بیائے او فرمائیل چه تا نکاح کړے دے دخپل پلار نۀ ورستو؟ ما اووے هاں! حضرت تپوس اوکړو چه کنډه دے کړے ده یا پیغله؟ ما اووے کنډه ده، حضرت او فرمائیل چه پیغله دولے نۀ کوله چه هغه سره لوبے کولے او تا دهغے سره، ابو نضره وائی چه دا دمسلمان تکیه کلام دے چه ته داسے اوکړه الله به تا او بخښی (غرض دا چه په دے شان حضرت هغوئ ته هم او فرمائیل)

بَابُ الْوَصِیَّةِ بِالنِّسَاءِ.

باب: دښځو سره دخوښ خلقئ کولو حکم.

(۳۶۴۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْمَرْاَةَ خُلِقَتْ مِنْ

ضِلَعٍ لَنْ تَسْتَقِیْمَ لَکَ عَلٰی طَرِیْقَۃٍ فَاِنِ اسْتَمْتَعْتَ بِھَا اسْتَمْتَعْتَ بِھَا وَبِھَا عِوَجٌ وَاِنْ ذَھَبْتَ تُقِیْمُھَا کَسَرْتَھَا وَکَسْرُھَا طَلَاقُھَا. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه ښځه دپښتئ د هډوکی نه پیدا شوے ده او هغه به چرته هم ستا سره په نیغه لاره نۀ ځی بیا کچرے تۀ د هغه نه کار اخلے نو اخله ترے او هغه به دغسے دکږے نه کړه وی او کچرے تۀ دے لره نیغه ول غواړے نو ماته به ئے کړے، او ماتول د هغے طلاق ورکول دی۔

فائده: یعنی دښځو په کج روئ او بد مزاجئ باندِ صبر کول ضروری دی، او دآدم علیه السلام دکسے پښتئ نه دحضرت حوا پیدائش دے، پس دپښتئ اکثر کوږ والے دے۔

(۳۶۴۴)عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ، عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ کَانَ یُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ فَاِذَا شَھِدَ اَمْرًا فَلْیَتَکَلَّمْ بِخَیْرٍ اَوْ لِیَسْکُتْ وَاسْتَوْصُوْا بِالنِّسَآءِ خَیْرًا فَاِنَّ الْمَرْاَۃَ خُلِقَتْ مِنْ ضِلَعٍ وَاِنَّ اَعْوَجَ شَیْءٍ فِی الضِّلَعِ اَعْلَاہُ اِنْ ذَھَبْتَ تُقِیْمُہٗ کَسَرْتَہٗ وَاِنْ تَرَکْتَہٗ لَمْ یَزَلْ اَعْوَجَ اسْتَوْصُوْا بِالنِّسَآءِ خَیْرًا.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه نبیﷺ فرمائیلی دی، څوک چه ایمان لری په الله باندِ هغوئ لره دا ضروری ده ، چه هر کله ورته یو کار مخکښے راشی نو ښه خبره دِ کوی که داسے نۀ شی کولے نو چُپ دکیښنی، او دښځو سره خیر خواهی کوئ ځکه چه هغه دپښتئ نه پیدا ده او په پښتئ کښے بیا پورته پښتئ دتولو نه زیاته کږه ده، بیا کچرے تۀ دا نیغه ول غواړے نو ماته به ئے کړے، او که داسے ئے پریږدے نو همیشه به کږه وی، خیرخواهی کوئ دښځو سره۔

(۳۶۴۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَفْرَکْ مُؤْمِنٌ مُؤْمِنَۃً اِنْ کَرِہَ مِنْھَا خُلُقًا رَضِیَ مِنْھَا اٰخَرَ اَوْ قَالَ غَیْرَہٗ. [ترمذی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه دشمنی دِ نه کوی یو مؤمن سرے دمؤمنے ښځے سره کچرے په هغے کښې ئے یوعادت خوښ نۀ وی نو دوئم به دِ خوښ شی، یا ئے ددے نه سوا نور څه او فرمائیل۔

(۳۶۴۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَۃَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ

أنثی زوجها الدهر .

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کچرے حوا نۀ وے نو یوے ښځے به دخپل خاوند خیانت نۀ کولو۔

(۳۶۴۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ اَحَادِیْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَوْ لَا بَنُوْ اِسْرَائِیْلَ لَمْ یَخْبُثِ الطَّعَامُ وَلَمْ یَخْنَزِ اللَّحْمُ وَلَوْ لَا حَوَّآءُ لَمْ تَخُنْ اُنْثٰی زَوْجَهَا الدَّهْرَ.

ترجمه: ابو هریره رضی الله تعالی عنه درسول اللهﷺ نه روایت کړے دے چه حضرتﷺ فرمائیلی دی کچرے بنی إسرائیل نۀ وے نو یوه غله به نه سخا کیده او یوه غوښه هُم، او کچرے حوا نۀ وے نو یوے ښځے به دخپل خاوند چرته هم خیانت نۀ وو کړے۔

فائده: حواته ئے حواء ځکه وئیلے ده چه هغه دهرحی مورده، او بنی اسرائیلو من او سلوی لره دیو وخت نه بل ته ساتل او هغه به سخا کیدل، او حوّا دمنع کړے شوے بوټی په خوړولو کښے ترغیب ورکړے وو چه دهغے اثرئے۔

(۳۶۴۹) عَنْ عُبَیْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدُّنْیَا مَتَاعٌ وَخَیْرُ مَتَاعِ الدُّنْیَا الْمَرْاَةُ الصَّالِحَةُ.

ترجمه: دعبید الله بن عمر رضی الله عنهما نه روایت دے، چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه دنیا دکار ویستلو څیز دے او بهتر دکار ویستلو څیز په دنیا کښے نیکو کاره ښځه ده۔

(۳۶۵۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الْمَرْاَةَ کَالضِّلَعِ اِذَا ذَهَبْتَ تُقِیْمُهَا کَسَرْتَهَا وَاِنْ تَرَکْتَهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَفِیْهَا عِوَجٌ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چه ښځه دپښتئ په شکل ده کچرے تۀ دے لره نیغه ول غوارے نو ماته به ئے کړے او که چرے پریږدے ئے نو ستا کار به او باسی او هغه ږهم دغه شان کږه وی۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼▼

کِتَابُ الطَّلاق

دطلاق مسائل

(۳۶۵۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّهُ طَلَّقَ امْرَاَتَهُ وَهِیَ حَائِضٌ فِیْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم فَسَالَ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ رَسُوْلَ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم عَنْ ذٰلِکَ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم مُرْهُ فَلْیُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِیَتْرُکْهَا حَتّٰی تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِیْضَ ثُمَّ تَطْهُرَ ثُمَّ اِنْ شَآءَ اَمْسَکَ بَعْدُ وَاِنْ شَآءَ طَلَّقَ قَبْلَ اَنْ یَّمَسَّ فَتِلْکَ الْعِدَّةُ الَّتِیْ اَمَرَ اللہُ اَنْ یُّطَلَّقَ لَهَا النِّسَآءُ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه هغوئ خپلے بی بی له طلاق ورکړو او هغه په حالت دحیض کښے وه درسول الله ﷺ په زمانه کښ، او حضرت عمر رضی الله عنه درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو، نو هضرتؐ او فرمائیل چه ده ته حکم اوکړه چه رجوع اوکړی او دهغے سره اوسیږی تر دے پورے چه دحیض نه پاکه شی، او بیا بیرته حیض راشی او بیا پاکه شی، بیا که غواړی طلاق دورکړی مخکښے ددے نه چه لاس پرے اولګوی، او دغه عدت دے دکوم په حساب سره چه الله تعالی دښځو دطلاق ورکولو حکم کړے دے۔

(۳۶۵۳) عَنْ عَبْدِ اللہِ اِنَّهُ طَلَّقَ امْرَاَةً لَّهُ وَهِیَ حَآئِضٌ تَطْلِیْقَةً وَّاحِدَةً فَاَمَرَهُ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اَنْ یُّرَاجِعَهَا ثُمَّ یُمْسِکَهَا حَتّٰی تَطْهُرَ ثُمَّ تَحِیْضَ عِنْدَهُ حَیْضَةً اُخْرٰی ثُمَّ یُمْهِلُهَا حَتّٰی تَطْهُرَ حَیْضَتِهَا فَاِنْ اَرَادَ اَنْ یُّطَلِّقَهَا فَلْیُطَلِّقْهَا حِیْنَ تَطْهُرَ مِنْ قَبْلِ اَنْ یُّجَامِعَهَا فَتِلْکَ الْعِدَّةُ الَّتِیْ اَمَرَ اللہُ اَنْ تُطَلَّقَلَهَا النِّسَآءُ وَزَادَ ابْنُ رُمْحٍ فِیْ رِوَایَتِهٖ وَکَانَ عَبْدُ اللہِ اِذَا سُئِلَ عَنْ ذٰلِکَ قَالَ لِاَحَدِهِمْ اَمَّا اَنْتَ طَلَّقْتَ امْرَاَتَکَ مَرَّةً اَوْ مَرَّتَیْنِ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اَمَرَنِیْ بِهٰذَا وَاِنْ کُنْتَ طَلَّقْتَهَا ثَلَاثًا فَقَدْ حُرِّمَتْ عَلَیْکَ حَتّٰی تَنْکِحَ زَوْجًا غَیْرَکَ وَعَصَیْتَ اللہَ فِیْمَآ اَمَرَکَ مِنْ طَلَاقِ امْرَاَتِکَ قَالَ مُسْلِمٌ جَوَّدَ اللَّیْثُ فِیْ قَوْلِهٖ تَطْلِیْقَةً وَّاحِدَةً. [بخاری ، ابوداود،]

ترجمه: دعبداللهؓ نه روایت دے چه هغوئؓ خپلے بی بی له دحیض په حالت کښے طلاق ورکړو، او حکم اوکړو رسول الله ﷺ هغه ته چه رجوع اوکړه او ساته هغے لره تردے پورے چه دحیض نه پاکه شی، او بیا حائضه شی دهغوئ سره په دوئم ځل او بیا هغے له مهلت ورکړے شی تردے

پورے چه پاکه شی ددوئم حیض نه، بیا کچرے اراده وی دطلاق ورکولو نو طلاق دور کړی هر کله چه هغه پاکه شی دجماع نه مخکښ، غرض دغه عدت دے دکومے چه الله تعالیٰ حکم کړے دے چه ددے په حساب سره ښځو له طلاق ورکولے شی، او ابن رمحؒ په خپل روایت کښ دا زیاته کړے ده، چه دعبدالله نه به هر کله چه ددے مسئلے تپوس اوکړے شو، نو هغه به وئیلو چه تا خپلے ښځے له یو ی دوه طلاقه ورکړے دی (نو رجوع کیدے شی) ځکه چه رسول اللهﷺ ماته ددے حکم کړے وو، او کچرے تا درے طلاقه ورکړی وی نو هغه ښځه پتا باندِ حرامه شوه دکومے پورے چه هغے دبل سړی سره نکاح نۀ وی کړے علاوه ستانه، او نافرمانی اوکړه تا دالله دهغه طلاق په باره کښ کوم چه ئے ستا دښځے دپاره تاته خودلی وو، مسلم علیه الرحمة فرمائیلی دی چه په دے روایت کښے دیو طلاق لفظ کوم چه لیث وئیلے نه ئے وئیلے دے۔

(۳۶۵۴) عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنهُمَا قَالَ طَلَّقْتُ امْرَاَتِیْ عَلٰے عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم وَهِیَ حَائِضٌ فَذَکَرَ ذٰلِکَ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنهُ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم فَقَالَ مُرْهُ فَلْیُرَاجِعْهَا ثُمّ لِیَدَعْهَا حَتّٰی تَطْهُرَ ثُمّ تَحِیْضَ حَیْضَةً اُخْرٰی فَاِذَا طَهُرَتْ فَلْیُطَلِّقْهَا قَبْلَ اَنْ یُّجَامِعَهَا اَوْ یُمْسِکُهَا فَاِنَّهَا الْعِدَّةُ الَّتِیْ اَمَرَ اللّٰهُ اَنْ یُّطَلَّقَ لَهَا النِّسَآءُ قَالَ عُبَیْدُ اللّٰهِ قُلْتُ لِنَافِعٍ مَا صَنَعَتِ التَّطْلِیْقَةُ قَالَ وَاحِدَةٌ اعْتُدَّ بِهَا.

ترجمه: دعبدالله رضی الله عنه نه دغه مضمون مروی شوے دے صرف په آخر کښے ئے رازیاته ده چه عبیدالله دنافع نه تپوس اوکړو چه دهغه طلاق څه او شو(یعنی کوم چه ئے په حیض کښے ورکړی وو) هغوئ اووے چه په یو ځل طلاقو شمار کړلے شو۔

(۳۶۵۵) عَنْ عُبَیْدِ اللّٰهِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ وَلَمْ یَذْکُرْ قَوْلَ عُبَیْدِ اللّٰهِ لِنَافِعٍ قَالَ ابْنُ الْمُثَنّٰی فِیْ رِوَایَتِهٖ فَلْیَرْجِعْهَا وَقَالَ ابوبَکْرٍ فَلْیُرَاجِعْهَا. [نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دعبید الله نه په دغه سند سره دا مضمون مروی دے، او په دے کښ دعبید الله قول مذکور نۀ دے کوم چه په پورته روایت کښے وو۔

(۳۶۵۶) عَنْ نَافِعٍ اَنّ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنهُمَا طَلَّقَ امْرَاَتَهُ وَهِیَ حَائِضٌ فَسَاَلَ عُمَرُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنهُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اَنْ یُّرَاجِعَهَا ثُمّ یُمْهِلَهَا حَتّٰی تَحِیْضَ حَیْضَةً اُخْرٰی ثُمّ یُمْهِلَهَا حَتّٰی تَطْهُرَ ثُمّ یُطَلِّقَهَا قَبْلَ اَنْ یَمَسَّهَا فَتِلْکَ الْعِدَّةُ الَّتِیْ اَمَرَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ اَنْ یُّطَلَّقَ لَهَا النِّسَآءُ قَالَ فَکَانَ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ

تَعَالٰى عَنْهُمَا اِذَا سُئِلَ عَنِ الرَّجُلِ يُطَلِّقُ امْرَاَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ يَقُوْلُ اَمَّا اَنْتَ طَلَّقْتَهَا وَاحِدَةً اَوْ ثِنْتَيْنِ وَاِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَهُ اَنْ يُرَاجِعَهَا ثُمَّ يُمْهِلَهَا حَتّٰى تَحِيْضَ حَيْضَةً اُخْرٰى ثُمَّ يُمْهِلَهَا حَتّٰى تَطْهُرَ ثُمَّ يُطَلِّقَهَا قَبْلَ اَنْ يَمَسَّهَا وَاَمَّا اَنْتَ طَلَّقْتَهَا ثَلَاثًا فَقَدْ عَصَيْتَ رَبَّكَ فِيْمَآ اَمَرَكَ بِهٖ مِنْ طَلَاقِ امْرَاَتِكَ وَبَانَتْ مِنْكَ. [نسائي]

ترجمه: دنافع نه هم دغه مضمون مروی دے کوم چه پورته څو څله ترجمه شولو، صرف دومره خبره ئے په آخر کښے زیاته ده، چه عبدالله بن عمرؓ به وئیلو چه کچرے تا خپلے ښځے له درے طلاقه ورکړل، نو په طلاقو کښې تا دخپل رب نافرمانی اوکړه او هغه ښځه ستانه جُدا شوله۔

(۳۶۵۷) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ طَلَّقْتُ امْرَاَتِيْ وَهِيَ حَائِضٌ فَذَكَرَ ذٰلِكَ عُمَرُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَغَيَّظَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا حَتّٰى تَحِيْضَ حَيْضَةً مُسْتَقْبَلَةً سِوٰى حَيْضَتِهَا الَّتِيْ طَلَّقَهَا فِيْهَا فَاِنْ بَدَالَهٗ اَنْ يُطَلِّقَهَا فَلْيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا مِّنْ حَيْضَتِهَا قَبْلَ اَنْ يَمَسَّهَا قَالَ فَذٰلِكَ الطَّلَاقُ لِلْعِدَّةِ كَمَا اَمَرَ اللّٰهُ وَكَانَ عَبْدُ اللّٰهِ طَلَّقَهَا تَطْلِيْقَةً فَحُسِبَتْ مِنْ طَلَاقِهَا وَرَاجَعَهَا عَبْدُ اللّٰهِ كَمَآ اَمَرَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: هم هغه مضمون دے کوم چه پورته څو څله تیر شولو، په دے کښے دا ذکر دی چه رسول اللهﷺ په حیض کښے په طلاق ورکولو اوریدو سره غصّه او فرمائیله، او په آخر کښے دادی، چه عبدالله بن عمرؓ ددے نه رجوع اوکړه، څنګه چه حضرتؐ ورته حکم او فرمائیلو۔

(۳۶۵۸) عَنِ الزُّهْرِيِّ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهٗ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ فَرَاجَعْتُهَا وَحُسِبَتْ لَهَا التَّطْلِيْقَةُ الَّتِيْ طَلَّقْتُهَا. [نسائی]

ترجمه: دز هریؒ نه په دغه اسناد سره دا مضمون مروی شوے دے، او په دے کښں دادی چه دغه طلاقو لره ما به حساب کښے ساتلی دی۔

(۳۶۵۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّهٗ طَلَّقَ امْرَاَتَهٗ وَهِيَ حَآئِضٌ فَذَكَرَ ذٰلِكَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ يُطَلِّقْهَا طَاهِرًا اَوْ حَامِلًا. [بخاری، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه دغه مضمون مروی دے اوددے په آخر کښے دادی

چه حضرتؐ حکم ورکړو هغه ته چه رجوع اوکړه، بیا طلاق ورکړه هغې ته په حالت دطهر کښې یا په حالت دحمل کښې.

فائده : ددې روایت په وجه سره دامت اجماع ده، چه دحیض په حالت کښې طلاق ورکول حرام دی، بغیر دزنانه درضانه ، بیا کچرې چاورکړو نو سخت ګنګار شو، او طلاق پریوتل او ده ته درجوع کولو حکم شته دې لکه څنګه چه ذکر شولو، په دې روایت کښې، او حضرتؐ چه کوم درجوع حکم او فرمائیلو ددې نه صفا معلومه شوه چه طلاق پریوتل، او دا رجوع کول مستحب دی دشافعیؒ په نزد بانډِ واجب نهٔ دی، او دغه قول دې داوزاعیؒ اوبو حنیفةؒ او دتمامو کوفیانو او امام محمدؒ وغیره۔

لو دامام مالك په نزد واجب دی او حضرتﷺ چه کوم حکم ورکړو چه په طلاق کښې تا خیر اوکړه ددې طهر نه پس دبل طهر پورې نو ددې دپاره چه رجوع دطلاق دپاره واقع نهٔ شي لو مقصو داوو چه ديو وخته پورې ښځه دده سره پاتې شي، نو کيدې شي چه دطلاقو نه شرمنده شی او بيا دطلاقو نو بت رانهٔ شِي، او په دې موده کښې کيدې شي چه الله تعالی ئې په خپلو کښې اتفاق نصيب کړی، او په دې حديث کښې داوضاحت دې چه طلاق ډِ په داسې طهر کښې وی چه په هغې کښې ئې صحبت نهٔ وی کړې ، څکه چه په سبب دحمل عدت اوږد نهٔ شي۔

او دشافعيؒ ملګرو وئيلې دی چه طلاق ورکول چه په هغې کښې صحبت شوې وی حرام دی ددې حديث په روڼ سره، او دا چه ئې کوم او فرمائيل چه بيا که غواړی طلاق دورکړی او که غواړی او دئې ساتی، ددې نه معلومه شوه چه په طلاقو ورکولو کښې ګناه نشته مګر کراهت دې۔ چنانچه په مشهور حديث کښې راغلی دې چه ابغض حلال دالله تعالی په نزد طلاق ورکولو دی، او دا چه ئې کوم او فرمائيل چه دغه عدت دې دکوم دپارهِ چه الله تعالی دطلاق ورکولو حکم او فرمائيلو ددې نه استدلال کړې دې شافعيه ؤ، او مالك په دې بانډِ چه اقراء دعدت اطهاردی څکه چه حضرتؐ حکم ورکړې دې، او دا په ښه شان سره معلومه شوه چه الله تعالی په حيض کښې دطلاق ورکولو حکم نهٔ دې کړې بلکه حرام کړی ئې دی۔

او دلُغتُ دَ خاوندانو او دفقهې او داصولو اجماع ده، چه دَ اقْرَاْنه طهر او حيض دواړه مراد

کیدے شی، او په قرآن کښې چه کوم راغلے دی "وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْءٍ" په دے کښې دابو حنیفهؒ او بعضو قول دے چه مراد ددے نه حیض دے او دغه مروی دی عمرؓ او علیؓ او ابن مسعودؓ نه، او دغه یو روایت دے دامام احمدؒ نه، او دشافعیؒ او مالك قول دے چه مراد ددے نه طهر دے دهغوئ په نزد عدت تمامیږی په دوه طهره کامل او ددریم طهر په شروع سره، او دا چه ئے کوم دا اخیر په روایت کښے او فرمائیل چه طلاق ورکوه په حالت دطهر کښې، یا په حالت دحمل کښے ددے نه جائز شو حاملے ته طلاق ورکول چه دهغے حمل معلوم شوے وی او دغه مذهب دے دشافعیؒ۔

او ابن منذر وئیلے دی چه دغه قول ددے دزیاتو علماؤ لکه طاؤسؒ او حسنؒ او ابن سیرینؒ وغیره نوروهم، او بعضے ملکی علماؤ وئیلے دی چه په حالت دحمل کښے طلاق ورکول حرام دی، او په یو روایت کښې دحسن بصری نه مکروه هم راغلے دی۔

(۳۶۶۱) عَنِ ابْنِ سِيْرِيْنَ قَالَ مَكَثْتُ عِشْرِيْنَ سَنَةً يُحَدِّثُنِيْ مَنْ لَا اَتَّهِمُ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ طَلَّقَ امْرَاَتَهُ ثَلٰثًا وَهِيَ حَائِضٌ وَّاُمِرَ اَنْ يُّرَاجِعَهَا فَجَعَلْتُ لَا اَتَّهِمُهُمْ وَلَا اَعْرِفُ الْحَدِيْثَ حَتّٰى لَقِيْتُ اَبَا غَلَّابٍ يُوْنُسَ ابْنَ جُبَيْرٍ الْبَاهِلِيَّ وَكَانَ ذَاثَبَتٍ فَحَدَّثَنِيْ اَنَّهُ سَاَلَ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَحَدَّثَهُ اَنَّهُ طَلَّقَ امْرَاَتَهُ تَطْلِيْقَةً وَهِيَ حَائِضٌ فَاَمَرَ اَنْ يُّرَاجِعَهَا قَالَ قُلْتُ اَفَحُسِبَتْ عَلَيْهِ قَالَ فَمَهْ اَوَاِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ .

[بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابن سیرینؒ نه روایت دے وائی چه دشلو کالو پورے ماته یو سړی روایت کولو چه ابن عمرؓ خپلے ښځے له دحیض په حالت کښے درے طلاقه ورکړل او ما دغه راوی لره مهتم نهٔ گنړلو، بیا هغه روایت اوکړو چه حضرت ﷺ ورته حکم اوکړو چه دغے ښځے ته رجوع اوکړه، او ما دده دے روایت لره نه مهتم کړو او نهٔ م دے حدیث لره په ښه طریقه گنړولو (چه صحیح څه دے) تر دے پورے چه زهٔ دابو غلاب یونس بن جبیر باهلی سره میلاؤ شوم او هغه پوخ سړے وو، پس هغوئ ماته بیان اوکړو چه ما دابن عمرؓ نه تپوس اوکړو؟ نو هغوئ اووے چه ما یو طلاق ورکړی وو او هغه حائضه وه، او ماته درجعت حکم اوشو بیا ما دابن عمرؓ نه تپوس اوکړو (دا قول دے دیونسؒ) چه هغه طلاق هم تاسو په حساب کښې او ساتل (یعنی کچرے دوه طلاق ورکړئ نو

دهغے سره به یو ځائے درے پوره شی) هغوی اووے ولے نه دی ساتلی هغه عاجز شو یا احمق شولو(دا عبدالله خپل ځان ته پخپله اووے) یعنی که دغه طلاق لره نهٔ شمارم نو حماقت دے۔

(۳۶۶۳) عَنْ اَيُّوبَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيْثِ فَسَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَاَمَرَهُ اَنْ يُّرَاجِعَهَا حَتّٰى يُطَلِّقَهَا طَاهِرًا مِّنْ غَيْرِ جِمَاعٍ وَقَالَ يُطَلِّقُهَا فِي قُبُلِ عِدَّتِهَا.[راجع: ۳۶۶۱]

ترجمه: دابو ایوبؒ نه دغه مضمون په دے سند سره مروی شوے دے، دهغے په اخیر کښں دادی چه حضرتﷺ او فرمائیل، رجوع اوکړه او بیا طلاق ورکړه په طهر کښں بغیر دجماع نه او لوئے فرمائیل چه طلاق ورکړه په شروع دعدت کښں۔

فائده: ددے حدیث نه هم صفا معلومیږی چه اقراء دَ عدت طهرونه دی، او هر کله چه په طهر کښے ئے طلاق ورکړو ددغه وخت نه عدت شروع شو ځکه چه طلاق ورکول په حیض کښں حرام دی، او که په حیض کښں چا طلاق ورکړو نو هغه حیض خو بالاجماع په عدت کښں نهٔ شماریږی، او عدت هله شروع کیږی چه هر کله په طهر کښں طلاق ورکړی پس ددغه طهر نه دعدت شمار ضروری دے۔

امام مسلم علیه الرحمة وئیلے دی چه روایت کړے دے ماته دا حدیث محمد بن رافع هغوئ ته عبدالرزاقؒ هغوئ ته ابن جریجؒ هغوئ ته ابوزبیرؒ هغوئ ته عبدالرحمٰن بن ایمن چه دعروه آزاد کړے غلام دے چه هغه دابن عمرؓ نه تپوس کولو او ابو الزبیرؒ اوریدلو، او وراند هغه روایت دے کوم چه پورته په سند دحجاج ذکر شو او په دے کښے څه مضمون زیات دے، امام مسلمؒ فرمائی چه خطا شوے ده دراوی نه چه وئیلے دی چه غلام دے دعروه او په حقیقت کښے هغه دعزه ازاد کړے غلام دے۔

(۳۶۶۴) عَنْ يُونُسَ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا رَجُلٌ طَلَّقَ امْرَاَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَقَالَ اَتَعْرِفُ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَاِنَّهُ طَلَّقَ امْرَاَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ فَاَتٰى عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَالَهُ فَاَمَرَهُ اَنْ يُّرَاجِعَهَا ثُمَّ تَسْتَقْبِلَ عِدَّتَهَا قَالَ فَقُلْتُ لَهُ اِذَا طَلَّقَ الرَّجُلُ امْرَاَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ اَتَعْتَدُّ بِتِلْكَ التَّطْلِيْقَةِ قَالَ فَمَهْ اَوْ اِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ.[راجع: ۳۶۶۱]

ترجمه: دیونس بن جبیرؓ نه روایت دے وائی چه ما دابن عمر نه تپوس اوکړو چه یو سړی خپلے ښځے له طلاق ورکړے دی په حیض کښې نو هغوئ او فرمائیل چه اے ته عبدالله بن عمرؓ پیژنے هغه هم خپلے ښځے ته په حیض کښې طلاق ورکړی وو، بیا حضرتِ عمر رضی الله تعالی عنه دنبی کریم ﷺ خواله لاړو او تپوس ئے اوکړو نو حضرتؐ حکم اوکړو چه هغے ته درجوع اوکړی او بیا دسرنه عدت شروع کړی بیا مَا دهغوئ نه تپوس اوکړو چه هر کله چا په حیض کښې طلاق ورکړو نو هغه طلاق به هم شمارلے شی، هغوئ اووے، چه چُپ شه، ولے هغه عاجز شوے دے یا کم عقل شوے دے چه هغه دے لره نۀ شماری (یعنی ضرور به شماریږی).

بَابُ طَلَاقِ الثُّلَاثِ.

ددریے ؤ طلاقو بیان.

(۳۶۷۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ کَانَ الطَّلَاقُ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبِیْ بَکْرٍ وَّسَنَتَیْنِ مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ طَلَاقُ الثُّلَاثِ وَاحِدَةً فَقَالَ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اِنَّ النَّاسَ اسْتَعْجَلُوْا فِیْ اَمْرٍ کَانَتْ لَهُمْ فِیْهِ آنَاةٌ فَلَوْ اَمْضَیْنَاهُ عَلَیْهِمْ فَاَمْضَاهُ عَلَیْهِمْ. [ابو داود، نسائی]

ترجمه: د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه طلاق د رسول الله ﷺ په زمانه کښې او دَ ابوبکرؓ د خلافت په زمانه کښے او د حضرت عُمرؓ د خلافت په زمانه کښے هم دَ دوه کالو پورے دغه شان وو چه هر کله به چا په یو ځائے درے طلاقه ورکولو نو هغه به یو شماریدلو، بیَا حضرت عمرؓ اووے چه خلقو تا دی کول شروع کړو په دے کښے په کومے کښې چه هغوئ ته مهلت میلاؤ وو پس مونږ دے لره کچرے جاری کړو نو مناسب ده بیا هغوئ جاری کړلو. (یعنی حکم ئے اوکړو چه څوك په یو ځائت درے طلاقه ورکړی، نو درے واړه بَه واقع کیږی).

(۳۶۷۴) عَنْ اَبِی الصَّهْبَآءِ قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَتَعْلَمُ اَنَّمَا کَانَاتِ الثُّلَاثُ تُجْعَلُ وَاحِدَةً عَلٰی عَهْدِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبِیْ بَکْرٍ وَّ ثَلَاثًا مِنْ اِمَارَةِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا نَعَمْ. [راجع:۳۶۷۳]

ترجمه: د ابو الصهباء نه روایت دے وائی چه ما ابن عباس رضی الله عنهما ته اووے، چه تا ته معلومه ده چه درے طلاقه معلومه ده چه درے طلاقه به یو گنړلے شو د نبی ﷺ په زمانه کښے، او د ابوبکر رضی الله تعالی عنه په خلافت کښ، او د عمر په امرت کښ هم د دریو، کللو پورے نو ابن عباس رضی الله تعالی عنهما اووے هاں ما ته معلومه ده۔

(۳۶۷۵) عَنْ اَبِی الصَّهْبَآءِ قَالَ لِابْنِ عَبَّاسٍ هَاتِ مِنْ هَنَاتِکَ اَلَمْ یَکُنِ الطَّلَاقُ الثَّلَاثُ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَبِیْ بَکْرٍ وَّاحِدَةً فَقَالَ کَانَ ذٰلِکَ فَلَمَّا کَانَ فِیْ عَهْدِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ تَتَابَعَ النَّاسُ فِی الطَّلَاقِ فَاَجَازَهُ عَلَیْهِمْ.

ترجمه: دَ ابو الصهباءٓ نه روایت دے، وائی چه ما ابن عباسؓ ته اووے چه ورکړه دَ خپلے عطے نه ولے نهٔ وو درے طلاقه د رسول الله ﷺ په زمانه کښے، وړاند هغه مضومون دے کوم چه پورته تیر شولو۔

فائده: کوم سړی چه خپلے ښځے ته اووے چه په تا باندِ طلاقه دی درے، نو په دے کښ د عالمانو اختلاف دے، دامام شافعیؒ او مالکؒ د ابو حنیفهؒ او احمدؒ او د جمهورو عالمانو قول دے چه درے واړه دے چه نهٔ پریوزی په ده باندِ مګر یو طلاق، او دا یو روایت دے دَ حجاج بن ارطای نه او دَ محمد بن اسحقؒ نه او دغه مذهب قوی او صحیح دے د دے احادیثو په رو سره او ابن قیم رحمة الله علیه او محقیقینو محدیثینو هم دے لره اختیار کړے دے۔

بَابُ: وُجُوْبِ الْکَفَّارَةِ عَلٰی حَرَّ اِمْرَاَتَهُ وَلَمْ یَنْوِ الطَّلَاقِ.

د کفارے واجبیدل په هغه چا باندِ چه هغه خپلے ښځے ته اووے چه ته په ما حرامه ئے او نیت ئے د طلاقو نهٔ وو.

(۳۶۷۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍؓ اَنَّهُ کَانَ یَقُوْلُ فِی الْحَرَامِ یَمِیْنٌ یُکَفِّرُهَا وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍؓ لَقَدْ کَانَ لَکُمْ فِیْ رَسُوْلِ اللهِ اُسْوَةٌ حَسَنَةٌ. [ ]بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: د عبدالله ابن عباسؓ نه روایت دے چه هر کله څوک خپلے ښځے ره اووائی چه ته په ما حرامه ئے نو دا قسم دے چه په دے کفاره ورکول ضروری دی او حضرت ابن عباس رضی الله

تعالی عنهما وئیلے دی چه بیشکه ستاسو د پاره ښه نمونه ده په رسول الله ﷺ کښں۔

(۳۶۷۸) عَنْ عُبَيْدِ ابْنُ عُمَيْرٍ يُخْبِرُ اَنَّهُ سَمِعَ عَآئِشَةَ تُخْبِرُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَمْكُثُ عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَيَشْرَبُ عِنْدَهَا عَسَلًا قَالَتْ فَتَوَا طَيْتُ اَنَا وَ حَفْصَةُ اَنَّ اَيَّتَنَا مَا دَخَلَ عَلَيْهَا النَّبِيُّ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلْتَقُلْ اِنِّىْ اَجِدُ مِنْكَ رِيْحَ مَغَافِيْرَ اَكَلْتَ مَغَافِيْرَ فَدَخَلَ عَلٰى اِحْدٰىهُمَا فَقَالَتْ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا عِنْدَ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ وَّلَنْ اَعُوْدَلَهُ فَنَزَلَ لِمَ تُحَرِّمُ مَا اَحَلَّ اللّٰهُ لَكَ اِلٰى قَوْلِهِ اِنْ تَتُوْبَا لِعَآئِشَةَ وَ حَفْصَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا وَ اِذَا اَسَرَّ النَّبِيُّ اِلٰى بَعْضِ اَزْوَاجِهِ حَدِيْثًا لِقَوْلِهِ بَلْ شَرِبْتُ عَسَلًا. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه :د عبید بن عمیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هغوئ د جناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه اوریدلی دی چه نبی ﷺ به د زینبؓ سره د حصاریدو او د هغے سره به ئے شهد څښلو پس بی بی عآئشه رضی الله تعالی عنها وائی چه ما او د حفصےؓ مشوره اوکړه چه په مونږ کښے د چا خواله حضرت تشریف راوړی نو هغه به ورته عرض اوکړی چه ما ته ستا د خوانه د مغافیرو بدبوئ محوسیږی ، پس حضرتؐ چه ډیوے خواله هر کله راغے نو هغےؓ حضرتؐ ته دغه شان اووے ،او حضرتؐ اوفرمائیل چه ما خو د زینبؓ په کور کښے شهد څښلے دے او اوس به چرته هم نه څښمه بیا دا آیت نازل شو دَ لِمَ تحرّم نه دَخره پورے یعنی اے نبیّ ولے حرامو ته په ځان هغه څیز چه هغه الله (ج)ستا د پاره حلال کړے دے ، او اوئے فرمائیل چه کچرے توبه کړی دے ، او اوئے فرمائیل چه کچرے توبه کړی هغه دواړه نو زړونه د هغوئ کاږه شوی دی او مراد د هغوئ نه عآئشه او حفصهؓ دی ،او دا چه کوم اوفرمائیل چه نبیّ په پټه سره یوه خبره اوکړه دَ خپل یوے بی بی نه مراد د دے نه هغه خبره وه کومه چه حضرت ﷺ فرمائیلی وه چه ماشهد څښلی دی۔

(۳۶۷۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُحِبُّ الْحَلْوَآءَ وَالْعَسَلَ فَكَانَ اِذَا صَلَّى الْعَصْرَ دَارَ عَلٰى نِسَآئِهِ فَيَدْنُوْا مِنْهُنَّ وَ دَخَلَ عَلٰى حَفْصَةَ فَاحْتَبَسَ عِنْدَهَا اَكْثَرَ مِمَّا كَانَ يَحْتَبِسُ فَسَاَلْتُ عَنْ ذٰلِكَ فَقِيْلَ لِىْ اَهْدَتْ لَهَا امْرَاَةٌ مِّنْ قَوْمِهَا عُكَّةً مِّنْ عَسَلٍ فَسَقَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُ شَرْبَةً فَقُلْتُ اَمَا وَاللّٰهِ لَنَحْتَالَنَّ لَهُ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِسَوْدَةَ قُلْتُ اِذَا دَخَلَ عَلَيْكِ فَاِنَّهُ سَيَدْنُوْا مِنْكِ

فَقُوْلِی ﷺ لَهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَكَلْتَ مَغَافِرَ فَاِنَّهُ سَيَقُوْلُ لَكِ لَا فَقُوْلِی لَهُ مَا هٰذِهِ الرِّيْحُ وَكَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَشْتَدُّ عَلَيْهِ سَيَقُوْلُ لَكِ سَقَتْنِیْ حَفْصَةُ شَرْبَةَ عَسَلٍ فَقُوْلِی لَهُ جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ وَسَاَقُوْلُ ذٰلِكَ لَهُ فَلَمَّا دَخَلَ عَلٰى سَوْدَةَ قَالَتْ تَقُوْلُ سَوْدَةُ وَالَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ لَقَدْ كِدْتُ اَنْ اُبَادِيَهُ بِالَّذِیْ قُلْتِ لِیْ وَاِنَّهُ لَعَلَى الْبَابِ فَرَقًا مِّنْكِ فَلَمَّا دَنٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَكَلْتَ مَغَافِرَ قَالَ لَا قَالَتْ فَمَا هٰذِهِ الرِّيْحَةُ قَالَ سَقَتْنِیْ حَفْصَةُ شَرْبَةَ عَسَلٍ قَالَتْ جَرَسَتْ نَحْلُهُ الْعُرْفُطَ فَلَمَّا دَخَلَ عَلَیَّ قُلْتُ لَهُ مِثْلَ ذٰلِكَ ثُمَّ دَخَلَ عَلٰى صَفِيَّةَ فَقَالَتْ مِثْلَ ذٰلِكَ فَلَمَّا دَخَلَ عَلٰى حَفْصَةَ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَلَا اَسْقِيْكَ مِنْهُ قَالَ لَا حَاجَةَ لِیْ بِهِ قَالَتْ تَقُوْلُ سَوْدَةُ سُبْحٰنَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ لَقَدْ حَرَمْنَاهُ قَالَتْ قُلْتُ لَهَا اسْكُتِیْ قَالَ اَبُوْ اِسْحٰقَ اِبْرَاهِيْمُ حَدَّثَنَا اَبُوْ اُسَامَةَ بِهٰذَا. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه :د حضرت عائشے صدیقے رضی اللّٰہ تعالی عنها نه روایت دے چه د رسول اللّٰه ﷺ شیرینی اوشهد ډیر خوښ وو،پس هر کله چه به حضرتؐ د مازیگر مونځ اوکړو نو د خپلو بیبیانوؓ خواله به راتلو او هرے یوے ته به نزدے کیدو پس یوه ورځ د حضرت حفصےؓ خواله راغے او هلته دَ نورو ورځو نه زیات حصار شو، نو ما د حصاریدو د سبب تپوس اوکړو، معلومه شوه چه یوے بی بی له د هغے د قوم د طرفه د شهدو یو لوښے په ډالئی کښے راغلے وو، پس هغویٓ په جناب رسول اللّٰه ﷺ بانډِ شهد څښلی دی (ځکه حصار شو)پس مَا اووے چه په اللّٰه(ج)قسم زهٔ به هغویٓ ته یوه حیله کوم،او ما سودےٓ ته دا خبره اوکړه او ورته م اوویت چه هر کله حضرت ستاسو خواله راشی او تا ته نزدے شی نو ته ورته اووایه چه یا رسول اللّٰه!ولے مغافیر خوړلی دی نو حضرتؐ به اوفرمائی چه نهٔ،بیا تهٔ هغویٓ ته اووایه چه بیا د بدبوئی څنگه ده ؟ او د رسول اللّٰه ﷺ عادت وو چه هغویٓ به ډیر نفرے کوؤ په خپل ځان کښں د بدبویَئی موندلو نه، بیا به حضرتؐ تاسو ته دا اووائی چه په ما بانډِ حفصےٓ شهد څښلی دی، پس بیا تهٔ هغویٓ ته اوویه چه کیدے چه هغه مَچو د عرفطرِ دَ وے نه شهد اخستے وی عرفط د هغے ونے نوم دےد کومے چیر چه مغافیر دی او زهٔ به هم هغویٓ ته دغسے وایم ، او اے صفےؓ ته ورته هُم دغه شان اووایَه۔ بیا چه هر کله حضرتؐ د سودےٓ خواله راغے ، نو سودهٔ فرمائی چه قسم دے په هغه اللّٰه چه څوک معبود نشته دے سِوا د هغوه نه چه نزدے وه چه د هغویٓ نه بهر وتلے وے او دغه خبره م

کړې وې کومه چه تا ما ته کړې وه اې عائشې او حضرتﷺ په دروازه کښې وو او دا تلوار کوم ځما په وینا کښې ستا د ویرې نه وو ، بیا چه هر کله نزدې شو رسول الله ﷺ نو سودې اووې چه الله رسوله ! ولې تا معافیر خوړلې دې ؟ حضرتؐ اوفرمائیل نه ، بیا سودې اووې چه دا بدبوئی د څه ده ؟ نو حضرتؐ اوفرمائیل چه په حفصې څه لږ شان شهد څکولې دې . بیا هغوئ اووې چه مچنی د عفط نه شهد اخستې دې ، بیا چه هر کله ځما خواله راغې نو ما هم حضرتؐ ته دغه شان اووې (دا مقوله د حضرت عائشې رضی الله عنها)بیا د صفیې خواله لاړو ، او هغوئ ورته هم دغه شان اووې ، بیا چه هر کله په دویم ځل د حفصې خواله لاړو نو هغوئ عرض اوکړو چه یَا رَسُوْلَ الله ! د هغې نه تا له شهد راؤړم نو حضرتؐ اوفرمائیل ما ته د هغې ضرورت نشته دې ، جناب عائشه صدیقې رضی الله تعالی عنها فرمائی چه سودې اووې چه سبحان الله! مونږ منع کړو حضرتؐ لره د شهد دَ څښلو نه ، جناب عائِشه رضی الله تعَالی عنها فرمائی چه ما هغوئ ته اووې چه چُپ‌شه ، ابو اسحاقؒ چه دَ هغه نو ابراهیمؒ دې وائی چه روایت کړې دې ما ته حسن بنم بشرؒ هغه ته اسامهٌ بعینه دغه مضمون۔

وئیلې دی مسلم علیه الرّحمی چه روایت کړې دې ما ته سوید بن سعیدؒ هغوئ ته علی بن مسهرؒ هغوئ ته هشام بن عروهٌ په دې سند سره دغه حدیث په شان دَ هغې۔

فائده: په دې حدیث کښ د دې ایت شانِ نزول معلوم شولو یا اَیُّهَا النَّبِیُّ لِمَ تُحَرِّمُ مَا اَحَلَّ اللهُ لَکَ او هر کله چه څوك خپلې ښځې ته اووائی چه ته په ما باندِ حرامه ئې ، نو مذهب دَ اِمامِ شافعیؒ دادې که چرې دَ طلاق نیت ئې کړې وی نو طلاق دې او که دَ ظهار نیت ئې کړې وی نو ظهار دې ۔او کچرې د تحریم یعنی حرامیدلو د هغې اِ اده ئې بغیر د طلاق او ظهار نه اوکړه نو کفاره د قسم پرې لازمیږی ، او دا به یمین پرې لاز میږی ، او دویم قول دا د چه په دې کښې څه نهٔ لازمیږی بلکه دا قول به د هغوئ لغوه وی۔

او قاضی عیاضؒ په دې مسئله کښ څوارلس مذهبونه نقل کړې دی چه امام نوویؒ هغې لره په تفصیل سره په شرح مسلم کښې بیان کړې دی ، او قاضی عیاضؒ وئیلې دی چه د تحریم د ایت په شان نزول بعضو وئیلې دی چه د ماریه قبطیه په تحریم کښ د دې نزول شوې دې

، او د حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه قصهد شهدو د څښلو ذکور ده ، لکه ښکه چه روایت شوه او الله پاك چه کومه او فرمائیله۔

د دے نه معلومه شوه چه ضرور به د حضرت ﷺ نه قسم صادر شوے وی ، پس دَ حجازی دا وئیل چه رسول الله ﷺ قسم نهٔ دت یاد کړے صرف دغه ئے فرمائیلی چه اوس به چرته هم داسے نهٔ کوم محض نا مقبول دی ، او د حضرت شافعیؒ او دَ هغویٔ د ملګرو په نزد دَ آیت معنی دا ده چه فرض کړے ده الله په تاسو بانډِ په تحریم کښے کفاره د یمین ، او د مسلم په یو روایت کښے پورته ذکر شوی دی چه شهد ئے د زینب رضی الله عنها سره څښلی وو ، او په دویم روایت کښے راغلو چه د حفصےؓ سره ، او روایت اول زیات صحیح دے او دغسے وئیلے دی نسائی او اصیلی او دا چه کوم په آیت کښے راغلے دی ، یعنی هر کله چه په پټه اوکړه نبی خپلے یوے بی بی ته خبره۔

مراد د دت نه دا اوفرمائیل دی د رسول الله ﷺ چه ما شهد څښلے دے ، او پس د دے به چرته نهٔ څښم ، او بی بی صاحبے ته ئے حکم اوکړو چه هیڅوك د دے نه مهٔ خبره وه۔ او د شیرنشی نهج مراد هر خوږ څیز دے ، او د شهد ذِکر د دے نه وروستو د اِظهارِ شرف د پاره دے ، ورنه هغه هم په شیرنشی کښے داخل دے ، او د دے حدیث نه استدلال کړے دے په دے بانډِ چه کوم سړی نبر ایخودے وی په ښځو کښِ هغه له روا دی چه د هر هغے ښځے کور ته داخل دشی د کومے چه نمبر نهٔ وی مګر جماع روانهٔ ده۔

بَابُ بَيَانِ تَخْيِيرَةِ مُرَاَتِهٖ لَا يَكُوْنُ طَلَاقًا اِلَّا بِنِيَّةٍ .

په اختیار سره د طلاق نهٔ واقع کیدل بیان مګر هر کله چه نیت ئے وی .

(۳۶۸۱) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا اُمِرَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِتَخْيِيْرِ اَزْوَاجِهٖ بَدَاءَ بِيْ فَقَالَ اِنِّيْ ذَاكِرٌ لَّكِ اَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ اَنْ لَا تَعْجَلِيْ حَتّٰى تَسْتَامِرِيْ اَبَدَيْكِ قَالَتْ قَدْ عَلِمَانِ اَبَوَىَّ لَمْ يَكُوْنَا لِيَاْمُرَانِيْ بِفِرَاقِهٖ قَالَتْ ثُمَّ قَالَ اِنَّ اللهَ قَالَ يَا اَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ اِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِيْنَتَهَا فَتَعَالَيْنَ اُمَتِّعْكُنَّ وَاُسَرِّحْكُنَّ سَرَاحًا جَمِيْلًا وَاِنْ كُنْتُنَّ تُرِدْنَ اللهَ وَ رَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ فَاِنَّ اللهَ اَعَدَّ

لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ اَجْراً عَظِيْمًا قَالَتْ قُلْتُ فِيْ اَىِّ هٰذَا اَسْتَامِرُ اَبَوَىَّ فَاِنِّيْ اُرِيْدُ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ قَالَتْ قَالَتْ ثُمَّ فَعَلَ اَزْوَاجُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ مَا فَعَلْتُ. [بخاری، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دجناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هر کله حکم او شو رسول اللهﷺ ته چه خپلو بیبیانو له اختیار ورکړه چه که هغوئ دنیا غواړی نو دنیا ډ واخلی او که آخرت غواړی نو آخرت ډواخلی، نو جناب رسول اللهﷺ رومبی ماته ددے بیانول شروع کړو، او اوئے فرمائیل چه زهٔ تاته یوه خبره کول غواړم، او تهٔ دهغے په جواب کښے تادی مه کوه، دکومے پورے چه ډخپل پلار مورنه مشوره اخستے نهٔ وی، بی بی عائشهٔ وائی چه حضرتؐ ته پته وه چه زما پلار مور به چرته ډرسول اللهﷺ دپریخود حکم ماته او نهٔ کړی، بیا حضرتؐ اووے چه الله تعالی فرمائی یَاَیُّهَا النَّبِیُّ، یعنے اے نبیؐ او وایه ته خپلو بیبیانو ته چه که هغوئ دنیا او دهغے زینت غواړی نو راځئ چه زهٔ تاسوته بر خورداری درکړم او په ښه شان سره تاسو رخصت کړم، او کچرے تاسو دالله او دهغه درسول رضا غواړئ او دآخرت کور غواړی نو بیشکه الله تعالی ستاسو نیك بختو دپاره لوئے ثواب تیار کړے دے، جناب عائشه صدیقه رضی الله عنها فرمائی چه ما عرض اوکړو چه په دے کښے کومه خبره ډاسے ده چه دهغے په بله کښی زهٔ دپلار مورنه مشوره واخلمه، زهٔ خو غواړم الله لره او دهغه رسول لره او دآخرت کور لره، بیا تمامو بیبیانو درسول اللهﷺ دغه شان خبره اوکړه لکه څنګه چه ما کړے وه۔

(۳۶۸۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَاذِنُنَا اِذَا كَانَ فِيْ يَوْمِ الْمَرْاَةِ مِنَّا بَعْدَ مَانَزَلَتْ تُرْجِىْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ وَتُؤْوِىْٓ اِلَيْكَ مَنْ تَشَآءُ فَقَالَتْ لَهَا مُعَاذَةُ فَمَا كُنْتِ تَقُوْلِيْنَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اسْتَاْذَنَكِ قَالَتْ كُنْتُ اَقُوْلُ اِنْ كَانَ ذٰلِكَ اِلَىَّ لَمْ اُوْثِرْ اَحَدًا عَلٰى نَفْسِيْ. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دجناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ به زمونږ نه اجازت غوښتلو هر کله چه په زمونږ نه دیوے ښځے په نمبر کښے هغوئ راتلل کولو، ورستو ددے نه داآیت نازل شولو "تُرْجِىْ مَنْ تَشَآءُ مِنْهُنَّ" یعنی ځانله جدا ساته تهٔ دهغوئ نه هغه چاله چه غواړے، نو معاذهٔ حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها ته اووے چه تاسو به څه

جواب ورکوو هر کله چه به حضرتؐ ستاسوؓ نه اِجازت غوښتلو هغویؓ اووے چه مابه وئیلو چه کچرے زما اختیاروے نو مابه په خپل ځان باندِ چالره نهٔ وو مخکښ کړی۔

فائده: یعنی هر کله چه به دیوے ښځے نمبر ختم شو او دهغے دخوانه به دبلے خوالهٔ تلو نو اجازت به ئے غوښتلو ، اوجناب عآئشے صدیقے رضی الله تعالی عنها فرمائیلی دی، چه کچرے ځما اختیار وے نو مابه حضرتؐ لره دخپل ځان نه سِوا دبل چاخواته نهٔ وو پریخودے، مگر الله تعالی په دے کښے حضرتؐ له اختیار ورکړه دے، او دا فرمائیل دجناب عآئشے صدیقے رضی الله تعالی عنها په دے خیال سره نهٔ وو چه هغے عیش او آرام غوښتله بلکه دآخرت دفائدو په نظر سره وو چه قرب او نزدیك دجناب دسالتمٰاب ﷺ ته نزدے کیدل وو، او سبب دنزول رحمت او دفورِ برکات اخروی او مشاهده انوار، وحی ده او ددے نه او دپورته حدیث نه په کوم کښے چه حضرتؐ تقدیم کړے دے دآخرت په غوښتلو کښے، لوے فضیلت او تقدم ثابت شولو دجناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها په تمامو بیبیانوؓ باندِ کومے چه دغه وخت موجود وے۔ وئیلے دی مسلم او بیان کړے دے مونږ ته دغه روایت حسن بن عیسیٰؒ او هغویٔ ته ابن مبارکؒ او هغویٔ ته عاصمؒ ددغه اسنادنه په شان ددے۔

(۳۶۸۴) عَنْ مُسْرُوْقٍ قَالَ قَالَتْ عَآئِشَةُ قَدْ خَيَّرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم فَلَمْ نَعُدَّهُ طَلَاقًا.
[بخاری ، ترمذی، نسائی ،]

ترجمه: دمسروقؒ نه روایت دے وائی چه حضرت عائشے رضی الله عنها فرمائیلی دی چه مونږ ته اختیار راکړو رسول الله ﷺ (یعنی هر کله چه هغویٔ مونږ ته اختیار راکړے وو) بیا هم مونږ هغے لره طلاق نهٔ گنړلو۔

(۳۶۸۵) عَنْ مُسْرُوْقٍ قَالَ مَا اُبَالِیْ خَيَّرْتُ امْرَاَتِیْ وَاحِدَةً اَوْ مِاَةً اَوْ اَلْفًا بَعْدَ اَنْ تَخْتَارَنِیْ وَلَقَدْ سَاَلْتُ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَقَالَتْ قَدْ خَيَّرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم اَفَكَانَ طَلَاقًا. [راجع : ۳۶۸۴]

ترجمه: دمسروقؒ نه روایت دے وائی چه زما ویره نشته کچرے زهٔ خپلے بی بی ته اختیار ورکړم یو ځل یا سل ځله یا زر ځله هر کله هغه ما غوره کوی، او ما خو دحضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه تپوس کړے دے چه هغویٔ فرمائیلی دی چه رسول الله ﷺ مونږ ته اختیار

راکړو نو ولے داطلاق شولو (یعنی دا طلاق نۀ دی)۔

(۳۶۹۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ دَخَلَ اَبُوْبَكْرٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَسْتَاْذِنُ عَلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم فَوَجَدَ النَّاسَ جُلُوْسًا بِبَابِهٖ لَمْ يُؤْذَنْ لِاَحَدٍ مِّنْهُمْ قَالَ فَاُذِنَ لِاَبِىْ بَكْرٍ فَدَخَلَ ثُمَّ اَقْبَلَ عُمَرُ فَاسْتَاْذَنَ فَاُذِنَ لَهٗ فَوَجَدَ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم جَالِسًا حَوْلَهٗ نِسَآئُهٗ وَاجِمًا سَاكِتًا قَالَ فَقَالَ لَاَقُوْلَنَّ شَيْئًا اُضْحِكُ النَّبِىَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ لَوْ رَاَيْتَ بِنْتَ خَارِجَةَ سَاَلَتْنِى النَّفَقَةَ فَقُمْتُ اِلَيْهَا فَوَجَاْتُ عُنُقَهَا فَضَحِكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم وَقَالَ هُنَّ حَوْلِىْ كَمَا تَرٰى يَسْاَلْنَنِى النَّفَقَةَ فَقَامَ اَبُوْبَكْرٍ رَّضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اِلٰى عَآئِشَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا يَجَاُ عُنُقَهَا وَقَامَ عُمَرُ اِلٰى حَفْصَةَ يَجَاُ عُنُقَهَا كِلَاهُمَا يَقُوْلُ لَيَسْئَلْنَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مَا لَيْسَ عِنْدَهٗ قُلْنَ وَاللهِ لَا نَسْئَلُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم شَيْئًا اَبَدًا لَيْسَ عِنْدَهٗ ثُمَّ اعْتَزَلَهُنَّ شَهْرًا اَوْ تِسْعًا وَّ عِشْرِيْنَ ثُمَّ نَزَلَتْ عَلَيْهِ هٰذِهِ الْاٰيَةُ يَا اَيُّهَا النَّبِىُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِكَ حَتّٰى بَلَغَ لِلْمُحْسِنَاتِ مِنْكُنَّ اَجْرًا عَظِيْمًا قَالَ فَبَدَاَ بِعَائِشَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَقَالَ يَا عَائِشَةُ اِنِّىْ اُرِيْدُ اَنْ اَعْرِضَ عَلَيْكِ اَمْرًا اُحِبُّ اَنْ لَّا تَعْجَلِىْ فِيْهِ حَتّٰى تَسْتَشِيْرِىْ اَبَوَيْكِ قَالَتْ وَمَا هُوَ يَارَسُوْلَ اللهِ فَتَلَا عَلَيْهَا هٰذِهِ الْاٰيَةَ قَالَتْ اَفِيْكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ اَسْتَشِيْرُ اَبَوَىَّ بَلْ اَخْتَارُ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَاَسْئَلُكَ اَنْ لَّا تُخْبِرَ امْرَاَةً مِّنْ نِّسَآئِكَ بِالَّذِىْ قُلْتُ قَالَ لَا تَسْئَلُنِىْ امْرَاَةٌ مِّنْهُنَّ اِلَّا اَخْبَرْتُهَا اِنَّ اللهَ تَعَالٰى لَمْ يَبْعَثْنِىْ مُعَنِّتًا وَّلَا مُتَعَنِّتًا وَّلٰكِنْ بَعَثَنِىْ مُعَلِّمًا مُّيَسِّرًا۔

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله عنهما نه روایت دے چه ابوبکرؓ راغے او اجازت ئے او غوښتو درسول اللهﷺ خواته دحاضریدو او خلق ئے اولیدل چه حضرتؐ په دروازه کښے جمع دی، چاته ددننه تلو اجازت او نۀ شولو، او ابوبکرؓ ته چه هر کله اجازت میلاؤ شو نودننه لاړو، بیا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه راغے اجازت ئے او غوښتو هغویؓ ته هم اجازت میلاؤشو او نبیﷺ ئے او موندو چه حضرتؐ ناست دے او چاپیره ترے خپلے بیبیانےؓ غمژنے ناستے دی چُپ شوے، نو حضرت عمرؓ په خپل زړۀ کښے اووے، چه زه یو داسے خبره کوم چه نبیﷺ او خندوُم پس هغویؓ عرض اوکړو چه یا رسول الله! کاش تاسو اولیده دخارجه لورلره (دا دحضرت عمرؓ بی بی ده) چه دا څمانه خرچ غواړی نو دهغے په خواکښں او دریدو او مرئ ئے ورله خفه کړله، پس رسول اللهﷺ او خندل او ائے فرمائیل چه دا ټولے څمانه هم چاپیره دی څنګه ئے چه

تۀ وینے، او ځمانـه خرچ غواړی پس ابوبکرؓ او دریدو دحضرت عائشے رضی الله عنها مرئ ئے خفه کوله او حضرت عمرؓ دحفصےؓ اوداړو وئیلو (یعنی خپلو خپلو لونړوته) چه تاسو درسول اللهﷺ نه هغه څیز غواړئ کوم چه دَ هغویٔ سره نشته؟ هغویٔ اووے چه قسم په خدائے مونږ به چرته درسول اللهﷺ نه داسے څیز او نۀ غواړو کوم چه دهغویٔ سره نشته دے، بیا حضرتؐ دهغویٔ نه یوه میاشت یا یوکم دیرش ورځے جُدا پاتے شو، بیا په حضرتؐ باندِ دا ایت نازِل شولو، "یَـاَیُّهَا النَّبِیُّ قُلْ لِّاَزْوَاجِکَ" نه دعَظِیْمًا پورے، پس حضرتؐ رومبیٔ دَ جناب عائشے رضی الله تعالی عنها نه دهغے تعمیل شروع کړو او هغے ته ئے او فرمائیل چه اے عائشےؓ زۀ غوارمه چه تاته یوه خبره اوکړم او غوارم چه تۀ په هغے کښں تادی مۀ کوه، دکومے پورے چه مشوره دِنۀ وی اخستی دخپل پلار او مورنه، هغویٔ عرض اوکړو چه یارسول الله! هغه څه خبره ده؟ بیا حضرتؐ په هغویٔ باندِ داایت اولوستو، نو هغویٔ عرض اوکړو چهِستاسو په مقدمه کښے زۀ دهغویٔ نه مشوره اخلمه بلکه اختیاروُم الله لره او دهغه رسول لره اوکور دآخرت لره، او زۀ ستاسو نه سوال کوم چه تاسوّ یوے ښځے لره دِخپلو بیبیانوّ نه خبر نه کړئ ددے خبرے نه کومه چه ما اوکړله حضرتؐ او فرمائیل چه په هغویٔ کښے کومے بی بی ځمانه تپوس اوکړو نو فورا به هغے له خبر ورکوم ، ځکه چه الله تعالی ماله نۀ سختی کونکے بلکه زۀ په اسانیٔ سره خودونکے رالیږلے یم۔

فائده: په دے حدیث کښے چه کوم حضرتؐ جناب عائشے صدیقےؓ ته او فرمائیل چه دخپل پلار مورنه مشوره واخله نو بیا جواب راکړه دا دکمالِ شفقت په لحاظ سره وو چه دحضرتؐ خیال راغے چه کیدے شی دا اوس هم کم عمره ده او ددنیا تجربه نۀ لری داسے نۀ وی چه ځما جدائیٔی ته بیاره شی، مګر الله پاك هغویٔ ته په کم عمریٔ کښے هغه عقل او شعور او دینداری ورکړے وه چه هغه بوداګانو ته هم نصیب نۀ ده، چه دآخرت دکور په غوره کولو کښں او دالله او دهغه رسولؐ لره په اختیار ولو کښے هغویٔ اووے چه دپلار مور مشورے ته څه ضرورت دے، لکه چا وئیلے دی "درکارِ خیر حاجت ئیچ استخاره نیست"۔

غرض دا چه ددے حدیث نه لوئے فضیلت دجناب عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها او

دحضرت ابوبکر رضی الله تعالی عنه او دحضرت عمر رض الله تعالی عنه ثابت شولو، چه شیخینؓ دخپلو لونړو خیال نۀ کؤو بلکه دجناب رسالت مٰاب ﷺ خوشحالی و خاطر دادی ئے مقدم یعنی وړاندې او ګنړله، او هغوئؓ ته ئے تنبیه ورکړه او حضرتؐ ئے او خندوو او محفوظ ئے کړو، او دا دایمان دکمال خبره ده کوم خلق چه په شیخینؓ پسے دطعن خبرے کوی الله دِ هغوئ خلے تورے کړی او ددے احادیثو نه امام مالك او شافعیؒ او ابو حنیفهؒ او احمدؒ اوجمهورو عالمانو استدلال کړے دے چه کوم سړے خپلے ښځے ته او وائی چه تاته اختیار دے که شما سره اوسیږے او که جدا اوسیږے، او هغے دخاوند سره اوسیدل اختیار کړو نو دا طلاق نۀ دی او نۀ په دے سره جدائی راتلے شی، او دغه صحیح مذهب دے، اوددے نه ثابته شوه چه غه الود لره خندول مستحب دی او هغوئ ته خوشحالی رسول دتولو نه خپلولی ده۔

(۱۳۶۹) عَنْ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا اعْتَزَلَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَآءَهُ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَاِذَ النَّاسُ يَنْكُتُوْنَ بِالْحَصٰی يَقُوْلُوْنَ طَلَّقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَآءَهُ وَذٰلِکَ قَبْلَ اَنْ يُؤْمَرُوْنَ بِالْحِجَابِ قَالَ عُمَرُ فَقُلْتُ لَا عْلَمَنَّ ذٰلِکَ الْيَوْمَ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلٰی عَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَقُلْتُ يَا ابْنَةَ اَبِيْ بَكْرٍ اَقَدْ بَلَغَ مِنْ شَانِكِ اَنْ تُؤْذِيَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ مَالِيْ وَمَالَکَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ عَلَيْکَ بِعَيْبَتِکَ قَالَ فَدَخَلْتُ عَلٰی حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ فَقُلْتُ لَهَا يَا حَفْصَةُ اَقَدْ بَلَغَ مِنْ شَانِكِ اَنْ تُؤْذِيَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُحِبُّکِ وَلَوْلَا اَنَا لَطَلَّقَکِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَكَتْ اَشَدَّ الْبُكَاءِ فَقُلْتُ لَهَا اَيْنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ هُوَ فِيْ خِزَانَتِهٖ فِي الْمَشْرُبَةِ فَدَخَلْتُ فَاِذَا اَنَا بِرَبَاحٍ غُلَامِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا عَلٰی اُسْكُفَّةِ الْمَشْرُبَةِ مُدَلِّيْ رِجْلَيْهِ عَلٰی نَقِيْرٍ مِّنْ خَشَبٍ وَّهُوَ جِذْعٌ يَرْقٰی عَلَيْهِ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ يَنْحَدِرُ فَنَادَيْتُ يَارَبَاحُ اسْتَاْذِنْ لِيْ عِنْدَکَ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ رَبَاحٌ اِلَی الْغُرْفَةِ ثُمَّ نَظَرَ اِلَيَّ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ثُمَّ قُلْتُ يَا رَبَاحُ اسْتَاْذِنْ لِيْ عِنْدَکَ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَظَرَ رَبَاحٌ اِلَی الْغُرْفَةِ ثُمَّ نَظَرَ اِلَيَّ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا ثُمَّ رَفَعْتُ صَوْتِيْ فَقُلْتُ يَا رَبَاحُ اسْتَاْذِنْ لِيْ عِنْدَکَ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِنِّيْ اَظُنُّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظَنَّ اَنِّيْ جِئْتُ مِنْ اَجَلِ حَفْصَةَ وَاللهِ لَئِنْ اَمَرَنِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضَرْبِ عُنُقِهَا لَا ضْرِبَنَّ عُنُقَهَا وَرَفَعْتُ صَوْتِيْ فَاَوْمَئٰی اِلَيَّ اَنِ

رِقْهٗ فَدَخَلْتُ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُضْطَجِعٌ عَلٰى حَصِيْرٍ فَجَلَسْتُ فَاَدْنٰى عَلَيْهِ اِزَارَهٗ وَلَيْسَ عَلَيْهِ غَيْرُهٗ وَاِذَا الْحَصِيْرُ اَثَّرَ فِيْ جَنْبِهٖ فَنَظَرْتُ بِبَصَرِيْ فِيْ خِزَانَتِهٖ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِذَا اَنَا بِقُبْضَةٍ مِّنْ شَعِيْرٍ نَحْوَ الصَّاعِ وَ مِثْلِهَا قَرَظًا فِيْ نَاحِيَةِ الْغُرْفَةِ فَاِذَا اَفِيْقٌ مُعَلَّقٌ قَالَ فَابْتَدَرَتْ عَيْنَايَ قَالَ مَا يُبْكِيْكَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ وَمَالِيْ لَا اَبْكِيْ وَ هٰذَا الْحَصِيْرُ قَدْ اَثَّرَ فِيْ جَنْبِكَ وَ هٰذِهٖ خِزَانَتُكَ لَا اَرٰى فِيْهَا اِلَّا مَا اَرٰى وَ ذَاكَ قَيْصَرُ وَ كِسْرٰى فِي الثِّمَارِ وَالْاَنْهَارِ وَاَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ وَصِفْوَتُهٗ وَ هٰذِهٖ خِزَانَتُكَ فَقَالَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ اَلَا تَرْضٰى اَنْ تَكُوْنَ لَنَا الْاٰخِرَةُ وَلَهُمُ الدُّنْيَا قُلْتُ بَلٰى قَالَ وَدَخَلْتُ عَلَيْهِ حِيْنَ دَخَلْتُ وَ اَنَا اَرٰى فِيْ وَجْهِهِ الْغَضَبَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَشُقُّ عَلَيْكَ مِنْ شَاْنِ النِّسَآءِ فَاِنْ كُنْتَ طَلَّقْتَهُنَّ فَاِنَّ اللّٰهَ مَعَكَ وَ مَلٰٓئِكَتُهٗ وَ جِبْرِيْلُ وَ مِيْكَآئِيْلُ وَ اَنَا وَ اَبُوْ بَكْرٍ وَالْمُؤْمِنُوْنَ مَعَكَ وَقَلَّ مَا تَكَلَّمْتُ وَاَحْمَدُ اللّٰهَ بِكَلَامٍ اِلَّا رَجَوْتُ اَنْ يَّكُوْنَ اللّٰهُ يُصَدِّقُ قَوْلِيَ الَّذِيْ اَقُوْلُ وَ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ اٰيَةُ التَّخْيِيْرِ عَسٰى رَبُّهٗ اِنْ طَلَّقَكُنَّ اَنْ يُّبْدِلَهٗ اَزْوَاجًا خَيْرًا مِّنْكُنَّ وَاِنْ تَظَاهَرَا عَلَيْهِ فَاِنَّ اللّٰهَ هُوَ مَوْلٰهُ وَ جِبْرِيْلُ وَ صَالِحُ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَعْدَ ذٰلِكَ ظَهِيْرٌ وَ كَانَتْ عَآئِشَةُ بِنْتُ اَبِيْ بَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا تَظَاهَرَانِ عَلٰى سَائِرِ نِسَآءِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَطَلَّقْتَهُنَّ قَالَ لَا. قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّيْ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ وَ الْمُسْلِمُوْنَ يَنْكُتُوْنَ بِالْحَصٰى يَقُوْلُوْنَ طَلَّقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِسَآءَهٗ اَفَاَنْزِلُ فَاُخْبِرَهُمْ اَنَّكَ لَمْ تُطَلِّقْهُنَّ قَالَ نَعَمْ اِنْ شِئْتَ فَلَمْ اَزَلْ اُحَدِّثُهٗ حَتّٰى تَحَسَّرَ الْغَضَبُ عَنْ وَجْهِهٖ وَ حَتّٰى كَشَرَ فَضَحِكَ وَكَانَ مِنْ اَحْسَنِ النَّاسِ ثَغْرًا ثُمَّ نَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَزَلْتُ اَتَشَبَّثُ بِالْجِذْعِ وَنَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَاَنَّمَا يَمْشِيْ عَلَى الْاَرْضِ مَا يَمَسُّهٗ بِيَدِهٖ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا كُنْتَ فِي الْغُرْفَةِ تِسْعَةً وَّعِشْرِيْنَ قَالَ اِنَّ الشَّهْرَ يَكُوْنُ تِسْعًا وَّعِشْرِيْنَ فَقُمْتُ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ فَنَادَيْتُ بِاَعْلٰى صَوْتِيْ لَمْ يُطَلِّقْ نِسَآءَهٗ وَ نَزَلَتْ هٰذِهِ الْاٰيَةُ وَاِذَا جَآءَهُمْ اَمْرٌ مِّنَ الْاَمْنِ اَوِ الْخَوْفِ اَذَاعُوْا بِهٖ وَلَوْ رَدُّوْهُ اِلَى الرَّسُوْلِ وَاِلٰٓى اُولِى الْاَمْرِ مِنْهُمْ لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْۢبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ فَكُنْتُ اَنَا اسْتَنْبَطْتُ ذَاكَ الْاَمْرَ وَاَنْزَلَ اللّٰهُ اٰيَةَ التَّخْيِيْرِ.

ترجمه: د عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه هر که دوهه اوکره نبی ﷺ د خپلو بیبیانو نه، حضرت عمرؓ وائی چه زهٔ جماعت ته داخل شومه او خلق م اولیدل چه هغوئ ګیتی: لره وی را لروی لکه څنګه چه څوك په لوئے فکر اوتر دود کښے وی لو وائی چه

طلاق ورکړو رسول الله ﷺ خپلو بیبیانو ته او د دې وخته پورې هغوئ ته په پرده کښې د اوسیدو حکم نهٔ وو شوې حضرت عمرؓ وائی چه ما په خپل زړهٔ کښې اووې چه زهٔ د نن ورځ حال معلوم کړم نو داخل شومه زهٔ د جناب عآشې صدیقې رضی الله تعالی عنها په خدمت کښ او ما هغوئ ته اووې چه اې دَ ابوبکرؓ لور! ستاسو دا حال شو چه تاسو ضرر ورکوئ رسول الله ﷺ ته، پس هغوئ اووې چه زما ستا سره او ستا زما سره څه کار دې ات د خطاب ځویه! ته د خپلې عیبیږنې خبر واخله یعنی خپله لور حفصهٔ پوه کړه ما ته څه نصحیت کوې بیا زهٔ د حفصېؓ خوا له ورغلم او ما هغېؓ ته اووې چه اې حفصېؓ ستاسو درجه دې حد ته اورسیده چه رسول الله ﷺ ته ضرر ورکوئ، او په الله قسم ته خبرئې چه جناب رسول الله ﷺ تا لره نهٔ غوښته، او که زهٔ نهٔ وې نو تا له به تر اوسه پورې طلاق درکړې وو رسول الله ﷺ چرته دې؟ هغوئ اووې چه هغوئ په خپله خزانه کښې په خپله کوټه کښې کښې دی، او زهٔ هلته لاړم، نو ما لیدل چه رباح دَ رسول الله ﷺ مرئیې د کمرې په چوکټ باندِ ناست وو او خپلې دواړه خپې ئې د پاسه د یو تو ګلی شوی لرګی چه هغه د کهجورې ډنډه وه، زوړندې کړې ویج، او په هغه لرګی باندِ به رسول الله ﷺ ختلو او کوزیدلو، یعنی هغه د سیړئ په ځائې په کهر کښې کښې لګیدې وو پس ما آواز اوکړو چه اې رباح اجازت واخله ځما د پاره د خپلې خوا چه زهٔ رسول الله ﷺ ته اورسوم اورباح کوټکښې طرفته اوکتل او بیا ئت ما ته اوکتل او څه ئې اونهٔ وې، بیا ما اووې چه اې رباح اجازت واخله ځما د پاره د خپلې خوا چه زهٔ رسول الله ﷺ ته اورسم بیا رباح کوټکښې ته اوکتل او ما ته ئې اوکتل او څه ئې اونهٔ وې، بیا ما په اوچت آواز اووې چه اې رباح زما د پاره اجازت واخله د خپلې خوا چه زهٔ رسول الله ﷺ ته اورسم، او زهٔ ګمان کوم چه کیدې شي رسول الله ﷺ دا خیال فرمائیلې دې چه زهٔ د حفصېؓ د پاره راغلې یم، او زما د په رب قسم وی کچرې رسول الله ﷺ ما ته د هغېؓ د څټ وهلو حکم اوکړی نو زه به د هغې څټ اووهم د دې نه خیلا کول پکار دی د حضرت عمرؓ ایمان او خلوص او محبت ته کوم چه ئې د رسول الله ﷺ سره دې او ضروری دې دغه محبت هر مسلمان لره د رسول الله ﷺ سره او ما خپل آواز پورته کړو پس هغوئ اشاره اوکړه چه را اوخیژه راځه، او زهٔ د رسول الله ﷺ خوا ته داخِل شوم، او حضرتؐ په

یو پوزی بانډِ ملاست وو، او زهٔ کښیناستم او حضرت خپل تهبد پورته کړو او د هغے نهٔ سوا بله یوه کپړه د هغویٔ سره نهٔ وه . او دَ پوزی نشان د هغویٔ په متِه کښے جوړے شوے وو، او د خپل نظر چاپیره اوگرځوؤ د حضرتؐ په خزانه کښې نو په هغے کښې اوگے ته نزدے یو څو موټی وریشے وے ، او د هغے برابر د سلم د وُنے پاڼړے چه په یو گټ د کوټګنې کښے پرتے وے چه په هغے سره څرمنے پخوی او یوه کچه څرمن زوړنده وه چه د هغے د باغے بنه نهٔ وو شوے او زما سترګو چه دا اولیدل نو جوش ئے اوکړو او ما ژړا شروع اوکړه نو حضرتؐ اوفرمائیل چه په څه خبره ژاړے اے د خطاب ځویهٔ !؟ ما عرض اوکړو چه اے د الله نبیؐ ! زهٔ به ولے نهٔ ژارم، او حال دا دے چه په دے پوزکی ستا په مړوندونو مبارکو کښې نخښے کړے دی او دا ستا خزانه ده چه نهٔ وینم په دے کښے مگر دغه وریشے وینمه ، دا قیصر او کسریٰ دی چه په میوؤ او نهرونو کښے ژوند تیروی ، او تاسو د الله تعالی رسول ﷺ او د هغو برگزیده او ستا دا خزانه ده او هغه د الله تعالی دشمنان دی او دومره په عیش او دولتونو کښې دی پس حضرتؐ اوفرمائیل چه اے د خطاب ځویهٔ ! ولے ته راضی نهٔ ئے چه زمونږ د پاره آخرت دے او دَ هغوی د پاره دنیا ده ، او ما اووے ولے رَضا نهٔ یم یعنی راضی یم او حضرت عمر رضی الله تعالی عنه وائی چه هر کله زهٔ داخل شوم نو دغه وخت د حضرتؐ په مخ منوره کښے د غصے اثر وو ، بیا ما عرض اوکړه چه یا رسول الله ﷺ ! تاسوّ ته په بیبیانوّ کښې څه تکلیف دے ، کچرے تاسو هغویٔ له طلاق ورکړی وی نو الله تعالی ستاسوّ سره دے یعنی امداد او فتح او د الله فرښتے او جبرائیل او میکائیل علیه السلام او زهٔ او ابوبکرؓ او تمام مؤمنان ستاسوّ سره دی ، او اکثر چه به هر کله ما خبرے کولے ، او تعریف به مِ کوؤ دَ الله تعالی په کلام کښې نو دا امید مِ لرلو چه الله تعالی به ما رښتونے کړی او تصدیق به اوکړی څما د خبرے کومه چه ما وئیله(د دے نه کمال د نزدیکے او حُسنِ ظن د حضرت عمرؓ الله په بارګاه کښې ظاهر شولو او څنګه چه د هغویٔ گمان وو د خپل پروردګار سره دغه شان په ظهور کښے راغے)او دا آیت تخییر نازل شولو((عَسٰی رَبُّهٗ اِنْ طَلَّقَکُنَّ))نه تر آخره پورے یعنی نزدے دے پروردګار د هغویٔ (یعنی د نبیؐ) چه کچرے طلاق ورکړی هغویٔ تاسو ته نو په بدل کښے به ورکړی الله پاك هغویٔ ته بیبیانے ستاسو نهٔ غوره او کچرت تلسو دواړه په ده بانډِ زورر کویٔ نو

الله پاك د هغوئ ملګرے دے او جبرائیل او نیك خلق د مؤمنانو نه او تمامے فرښتے د هغے نه پس د دوئ په شا ولاړے دی ، او حضرت عائشہؓ د ابوبکرؓ او حفصہؓ دے دواړو زور زور کړے وو د نبی ﷺ په تمامو بیبیانوؓ باندِ بیا حضرت عمرؓ وائی چه ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! ولے تا هغوئ له طلاق ورکړے دی حضرتؐ ورته اوفرمائیل چه نهٔ ، ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله! هر کله چه زهٔ جماعت ته داخل شوم نو مسلمانانو ګیټی الټ پلټه کولے، او وئیل ئے چه رسول الله ﷺ طلاق ورکړو خپلو بیبیانوؓ لره، پس زهٔ کوزیږم او هغوئ خبروُم چه تاسو هغوئ له طلاق نهٔ دی ورکړی، حضرتؐ او فرمائیل چه ها ں، کچرے تهٔ غواړے، بیا ماد هغوئ سره خبرے کولے تر دے پورے چه د هغوئ دَ مخ مبارك نه دغصے اثر لرے شو، تر دے پورے چه دهغوئ غاښونه مبارك کهولاؤ شو او نرئ خندائے اوکړه او دحضرتؐ دغاښونو نرئ خندا دتمامو خلقونه زیاته ښکلی وه، بیا رسول الله ﷺ راکوز شو او زهٔ هم راکوز شوم لو زهٔ دکجورے هغه ډنډه نیولی نیولی راکوزیدم (چه چرته ارتاؤ نهٔ شم) او جناب رسول اللہ ﷺ بے تکلیفه راکوزیدو او چرته ئے هم لاس نهٔ لګوؤ لکه چه څنګه په زمکه روان وو، بیا ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ! تا په بالاخانه کښے یو کم دیرش ورځے تیرے کړے حضرتؐ او فرمائیل چه میاشت ددیرشو ورځو هم وی، او زهٔ دَجماعت په دروازه باندِ او دریدم او په اوچت آواز سره م چغه کړه چه رسول اللہ ﷺ خپلو بیبیانوؓ له طلاق نهٔ دی ورکړی، او داآیت نازل شولو وَاِذَا جَآءَ هُمْ الخ یعنی هر که چه راشی هغوئ ته یو خبر دَامن یاد ویرے نو په دے سره مشوره کوی او کچرے یو سی هغے لره رسول الله ته او امیر المؤمنین خپل ته، نو پو هه شه کوم خلق چه انړولی دی دهغوئ نه ، غرض ددے امر حقیقت لره ما وانړوو او الله تعالی آیت دتخیر نازل کړو۔

(۳۶۹۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یُحَدِّثُ قَالَ مَکَثْتُ سَنَةً وَاَنَا اُرِیْدُ اَنْ اَسْئَلَ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ اٰیَةٍ فَمَا اَسْتَطِیْعُ اَنْ اَسْئَلَهُ هَیْبَةً لَهُ حَتّٰی خَرَجَ حَاجًّا فَخَرَجْتُ مَعَهُ فَلَمَّا رَجَعَ فَکُنَّا بِبَعْضِ الطَّرِیْقِ عَدَلَ اِلَی الْاَرَاکِ لِحَاجَةٍ لَهُ فَوَقَفْتُ لَهُ حَتّٰی فَرَغَ ثُمَّ سِرْتُ مَعَهُ فَقُلْتُ یَا اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ مَنِ اللَّتَانِ تَظَاهَرَتَا عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَزْوَاجِهٖ فَقَالَ تِلْکَ حَفْصَةُ وَعَآئِشَةُ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ قُلْتُ لَهُ وَاللهِ اِنْ کُنْتُ لَاُرِیْدُ اَنْ اَسْئَلَکَ عَنْ هٰذَا مُنْذُ سَنَةٍ فَمَا اَسْتَطِیْعُ هَیْبَةً لَکَ

قَالَ فَلَا تَفْعَلْ مَا ظَنَنْتَ اَنَّ عِنْدِیْ مِنْ عِلْمٍ فَسَلْنِیْ عَنْهُ فَاِنْ کُنْتُ اَعْلَمُهٗ اَخْبَرْتُکَ قَالَ وَقَالَ عُمَرُ وَاللّٰهِ اِنْ کُنَّا فِی الْجَاهِلِیَّةِ مَا نَعُدُّ لِلنِّسَاءِ اَمْرًا حَتّٰی اَنْزَلَ اللّٰهُ فِیْهِنَّ مَا اَنْزَلَ وَقَسَمَ لَهُنَّ مَا قَسَمَ قَالَ فَبَیْنَمَا اَنَا فِیْ اَمْرٍ اَأْتَمِرُهٗ اِذْ قَالَتْ لِیَ امْرَاَتِیْ لَوْ صَنَعْتَ کَذَا وَ کَذَا فَقُلْتُ لَهَا وَمَالَکِ اَنْتِ وَلِمَا هٰهُنَا وَمَا تَکَلُّفُکِ فِیْ اَمْرٍ اُرِیْدُهٗ فَقَالَتْ لِیْ عَجَبًا لَکَ یَا ابْنَ الْخَطَّابِ مَا تُرِیْدُ اَنْ تُرَاجَعَ اَنْتَ وَاِنَّ ابْنَتَکَ لَتُرَاجِعُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰی یَظَلَّ یَوْمَهٗ غَضْبَانًا قَالَ عُمَرُ فَاٰخُذُ رِدَائِیْ ثُمَّ اَخْرُجُ مَکَانِیْ حَتّٰی اَدْخُلَ عَلٰی حَفْصَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا فَقُلْتُ لَهَا یَا بُنَیَّةُ اِنَّکِ لَتُرَاجِعِیْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰی یَظَلَّ یَوْمَهٗ غَضْبَانًا فَقَالَتْ حَفْصَةُ وَاللّٰهِ اِنَّا لَنُرَاجِعُهٗ فَقُلْتُ تَعْلَمِیْنَ اَنِّیْ اُحَذِّرُکِ عُقُوْبَةَ اللّٰهِ وَغَضَبَ رَسُوْلِهٖ یَابُنَیَّةُ لَا تَغُرَّنَّکِ هٰذِهِ الَّتِیْ قَدْ اَعْجَبَهَا حُسْنُهَا وَحُبُّ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِیَّاهَا ثُمَّ خَرَجْتُ حَتّٰی اَدْخُلَ عَلٰی اُمِّ سَلَمَةَ لِقَرَابَتِیْ مِنْهَا فَکَلَّمْتُهَا فَقَالَتْ لِیْ اُمُّ سَلَمَةَ عَجَبًا لَکَ یَا ابْنَ الْخَطَّابِ قَدْ دَخَلْتَ فِیْ کُلِّ شَیْءٍ حَتّٰی تَبْتَغِیَ اَنْ تَدْخُلَ بَیْنَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَبَیْنَ اَزْوَاجِهٖ قَالَ فَاَخَذَتْنِیْ اَخْذًا کَسَرَتْنِیْ عَنْ بَعْضِ مَا کُنْتُ اَجِدُ فَخَرَجْتُ مِنْ عِنْدِهَا وَکَانَ لِیْ صَاحِبٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ اِذَا غِبْتُ اَتَانِیْ بِالْخَبَرِ وَاِذَا غَابَ کُنْتُ اَنَا اٰتِیْهِ بِالْخَبَرِ وَنَحْنُ حِیْنَئِذٍ نَتَخَوَّفُ مَلِکًا مِّنْ مُلُوْکِ غَسَّانَ ذُکِرَ لَنَا اَنَّهٗ یُرِیْدُ اَنْ یَّسِیْرَ اِلَیْنَا فَقَدِ امْتَلَأَتْ صُدُوْرُنَا مِنْهُ فَاَتٰی صَاحِبِی الْاَنْصَارِیُّ یَدُقُّ الْبَابَ وَقَالَ افْتَحْ افْتَحْ فَقُلْتُ جَآءَ الْغَسَّانِیُّ فَقَالَ اَشَدُّ مِنْ ذٰلِکَ اعْتَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَزْوَاجَهٗ قَالَ فَقُلْتُ رَغِمَ اَنْفُ حَفْصَةَ وَعَآئِشَةَ ثُمَّ اٰخُذُ ثَوْبِیْ فَاَخْرُجُ حَتّٰی جِئْتُ فَاِذَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ مَشْرُبَةٍ لَّهٗ یُرْتَقٰی اِلَیْهَا بِعَجَلِهَا وَغُلَامٌ لِّرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَسْوَدُ عَلٰی رَأْسِ الدَّرَجَةِ فَقُلْتُ هٰذَا عُمَرُ فَاُذِنَ لِیْ قَالَ عُمَرُ فَقَصَصْتُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا الْحَدِیْثَ فَلَمَّا بَلَغْتُ حَدِیْثَ اُمِّ سَلَمَةَ تَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاِنَّهٗ لَعَلٰی حَصِیْرٍ مَّا بَیْنَهٗ وَبَیْنَهٗ شَیْءٌ وَتَحْتَ رَأْسِهٖ وِسَادَةٌ مِّنْ اَدَمٍ حَشْوُهَا لِیْفٌ وَاِنَّ عِنْدَ رِجْلَیْهِ قَرَظًا مَّضْبُوْرًا وَعِنْدَ رَأْسِهٖ اُهُبًا مُّعَلَّقَةً فَرَاَیْتُ اَثَرَ الْحَصِیْرِ فِیْ جَنْبِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَبَکَیْتُ فَقَالَ مَا یُبْکِیْکَ فَقُلْتُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ کِسْرٰی وَقَیْصَرَ فِیْمَا هُمَا فِیْهِ وَاَنْتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَمَا تَرْضٰی اَنْ تَکُوْنَ لَهُمُ الدُّنْیَا وَلَکَ الْاٰخِرَةُ ۔ [بخاری،]

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه زَما دیو کال پورے اراده وه چه دحضرتِ عمر رضی الله تعالی عنه نه ددے آیت په باره کښے سوال اوکړم اوډهغوی

دوېرے نه م نۀ شو كولے، تردے پورے چه هغهٔ حج ته اووتو او زۀ هم دهغویٓ سره اووتم، پس هر كله چه واپس شو، او چرته په لاره كښے يو ځل دپيلو دونے په طرف ښكته شو څه حاجت ته او زۀ دهغویٓ دپاره اودريدم تردے پورے چه هغویٓ دخپل حاجت نه فارغ شولو، او زۀ دهغویٓ سره روان شوم او ما اووے چه اميرالمؤمنين هغه دواړه ښځے څوك دی دحضرتؐ دبيبيانو نه چه هغویٓ زور اچولے وو په رسول اللهﷺ باندِ، نو هغویٓ او فرمائيل چه هغویٓ حفصهؓ او عائشهؓ دی پس ما هغویٓ ته عرض اوكړو چه په الله قسم چه زما ديو كال نه په زړۀ كښے ددے خبرے دتپوس كولو اراده وه خو ستا دهيبت نه م تپوس نۀ شو كولے، نو هغویٓ او فرمائيل داسے مۀ كوه كومه خبره چه ستا په خيال كښے راځي چه ماته معلومه ده، دهغے تۀ ځما نه تپوس كوه كچرے ماته معلومه وی نو تاسو ته به ئے ښائيم او بيا حضرت عمر رضی الله عنه او فرمائيل، چه په الله قسم دے چه مونږ مخكښې په جاهليت كښې گرفتار وو، او دښځو مو څه حقيقت نه گنړلو تردے پورے چه نازل كړو الله دښځو دحقوقو اداكولو په باره كښے هغه څه چه نازل ئے كړو، دهغویٓ دپاره ئے حصه مقرر كړه هغه چه مقرر ئے كړه، چنانچه يوه ورځ داسے اوشو چه ما په څه كار كښے مشوره كوله چه ځما ښځے اووے چه تا داسے كولے هغے وكولے نو ښه به وه، نو ما هغے ته اووے چه تاته ځما په كار كښے څه دخل دے دوكومے چه زۀ اراده لرم، پس هغوئ ماته اووے چه حيرانيږم اے دخطاب ځويه! ته خو غواړے چه تاله وهډو څوك جواب درنۀ كړی حالانكه ستا لور رسول اللهﷺ ته جواب وركوی تردے پورے چه هغه توله ورځ غصه وی، حضرت عمرؓ وائی چه بيا ما خپل خادر واخستو او دكوره اووتم او دحفصےؓ كورته داخل شومه او هغویٓ ته م اووے اے ځما وړے لورے تۀ جواب وركوے رسول اللهﷺ ته تردے پورے چه هغویٓ توله ورځ په غصه كښے وی، پس حفصےؓ اووے چه په الله قسم چه زۀ خو هغویٓ له جواب وركوم، پس ما هغےؓ ته اووے چه ته پوهه شه زۀ تالره ويره وم دالله تعالى دعذاب نه او دهغه درسول الله دغضب نه اے ځما لورے ته دهغه ښځے په دهوكه كښے مۀ راځه چه هغویٓ خپل حسن ته او درسو اللهﷺ محبت ته حيرانه ده۔

بيا زۀ دهغه ځاے نه راووتم او ام سلمهؓ ته راغلم په سبب دخپلو لئ كومه چه زما دهغے سره وه،

او ما هغې ته خبره اوکړه او ماته ام سلمه رضي الله تعالى عنهما اووې چه حيرانه يم تاته اے دخطاب ځويهٔ چه ته په هر څه کښې دخل لرے تردے پورے چه ته غواړے چه درسول الله ﷺ او دهغوئ د بيبيانو په مينځ کښې دهم دخل اوکړے، او په ماددوئ ددے خبرے نه داسے غم راغے دغه غم زهٔ د هغه نصيحت کولو نه قلار کړم، کوم چه ماکول غوښتلو. او زهٔ دهغې دخوانه را اووتم او زمايو ملګرے وو دانصارو نه چه هر کله به زهٔ غيب وُم نو هغوئ به ماته خبرا راکوُو او هر کله چه به هغوئ غيب و(درسول الله ﷺ دمحفل نهٔ) نو مابه هغوئ له خبروو، او مونږ په دغه ورځو کښې په ويره کښې وو دغسان په بادشاهانو کښې ديو بادشاه نه، او په مونږ کښې دا خوره شوے وه چه هغه زمونږ په طرف دراتلو اراده لری. او زمونږ سينے ددے خيال نهٔ ډکے شوے وے چه په دے کښې زما هغه دوست راغے او دروازه ئے او ټکوله او ئيل ئے چه بيرته کړه بيرته کړه ما اووے چه ولے غساني راغے هغوئ اووے چه نهٔ ددے نه هم زياته دخفګان خبره ده، چه جناب رسول الله ﷺ دخپلو بيبيانو نه جدا شولو، پس مااووے چه دحفصے او عائشے به پوزه کښې خاؤرے ډکے شه، بيا ما خپلے کپړے راواخستے اوراووتم تر دے پورے چه درسول الله ﷺ په خواه کښې حاضر شوم او حجرت په يوه بالاخانه کښې وو چه هغې ته پورته به دکهجوره په يوے نيله سره ختلو، او يو غلام توررنګے درسول الله ﷺ دهغوئ سيړئ په سر بانډِ وو، پس ما اووے چه دا عمرؓ دے وائی بياما داتوله قيصه رسول الله ﷺ ته بيان کړه بيا چه هر کله زهٔ دام سلمهٔ خبرے ته اورسيدم نو رسول الله ﷺ نرئ خندا اوکړله او هغوئ په پوزى بانډِ وو چه دهغوئ او دپوزى په مينځ کښې بل څه خورشوے نهٔ وو، او دهغوئ دسر لاند دڅرمنے يوه تکيه وه چه دکجورے دپټونونه ډکه شوے وے، او دهغوئ خپو طرفته څه پاڼرے دسلم دونے پرتے وے (چه په هغې سره څرمنو لره پخوی) او دهغوئ سر طرفته يوه کچه څرمن زوړنده شوے وه، او ما اثر او نښے دپوزے درسول الله ﷺ په متهه مبارکه کښې اوليدو او په ژړاشوم حضرتؐ او فرمائيل چه چا اوژړوو تا لره، ما عرض اوکړو چه اے دالله رسوله! بيشکه کسرئ او قيصر څومره عيشونه کوی، او تاسو دالله تعالى رسول يئ بيا حضرت ﷺ اوفرمائيل چه ولے تهٔ راضي نهٔ ئے دهغوئ دپاره دنيا ده، او ستاسو دپاره آخرت دے۔

(۳۶۹۳) عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ اَقْبَلْتُ مَعَ عُمَرَ حَتّٰى اِذَا كُنَّا بِمَرِّ الظَّهْرَانِ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِطُوْلِهٖ كَنَحْوِ حَدِيْثِ سُلَيْمَانَ ابْنِ بِلَالٍ غَيْرَ اَنَّهٗ قَالَ قُلْتُ شَاْنُ الْمَرْاَتَيْنِ قَالَ حَفْصَةُ وَاُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا وَزَادَ فِيْهِ فَاَتَيْتُ الْحُجَرَ فَاِذَا فِيْ كُلِّ بَيْتٍ بُكَاءٌ وَزَادَ اَيْضًا وَكَانَ اٰلٰى مِنْهُنَّ شَهْرًا فَلَمَّا كَانَ تِسْعًا وَعِشْرِيْنَ نَزَلَ اِلَيْهِنَّ. [راجع:۳۶۹۲]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه دغه مضمون مروی دے ، او په دے کښې دا راغلی دی. هغوی ؓ وائی چه زهٔ دحضرت عمرؓ سره راغلمٔ او هر کله چه مونږ مر ظهران ته راغلو (دادیو ځائے نوم دے) او وړاندې اوږد حدیث بیان کړو په مثل دحدیث دسلیمان بن بلال ، او په دے کښې دا دی ما اووے حال دهغه دواړو ښځو (یعنی زهٔ ستانه معلومات کوم) حضرت عمرؓ او فرمائیل چه حفصهٔ او ام سلمهٔ او په دے کښې دا هم دی چه حضرت عمرؓ اووے چه زهٔ دحجرو خواله راغلم او په هر کور کښې ژړا وه (یعنی دپاکو بیبیانو) او دا پکښې هم دی چه رسول الله ﷺ دهغوی سره دیوے میاشتے پورے دنهٔ میلاویدو قسم خوړلے وو، بیا چه هر کله یو کم دیرش ورځے تیرے شوے نو حضرتؐ را کوز شو او دهغوی ؓ په طرف باندې لاړو.

(۳۶۹۴) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ كُنْتُ اُرِيْدُ اَنْ اَسْئَلَ عُمَرَ عَنِ الْمَرْاَتَيْنِ اللَّتَيْنِ تَظَاهَرَتَا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَبِثْتُ سَنَةً مَا اَجِدُ لَهٗ مَوْضِعًا حَتّٰى صَحِبْتُهٗ اِلٰى مَكَّةَ فَلَمَّا كَانَ بِمَرِّ الظَّهْرَانِ يَقْضِيْ حَاجَتَهٗ فَقَالَ اَدْرِكْنِيْ بِاِدَاوَةٍ مِّنْ مَّاءٍ فَاَتَيْتُهٗ بِهَا فَلَمَّا قَضٰى حَاجَتَهٗ وَرَجَعَ ذَهَبْتُ اَصُبُّ عَلَيْهِ وَذَكَرْتُ فَقُلْتُ لَهٗ يَا اَمِيْرَ الْمُؤْمِنِيْنَ مَنِ الْمَرْاَتَانِ فَمَا قَضَيْتُ كَلَامِيْ حَتّٰى قَالَ عَائِشَةُ وَحَفْصَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا. [راجع: ۳۶۹۲]

ترجمه: دابن عباسؓ نه هم دغه مضمون مروی دے مګر په دے کښې دا زیاته ده چه هر کله مرظهران ته اورسیدل نو حضرت عمر رضی الله عنه حاجت ته لاړو او ماته ئے اووے چه بتکے (مشك) واخله او اوبه راوړه، بیا ما بتکے واخستو وړاندې پور ته حدیث پشان مضمون دے.

(۳۶۹۵) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ لَمْ اَزَلْ حَرِيْصًا اَنْ اَسْئَلَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ الْمَرْاَتَيْنِ مِنْ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّتَيْنِ قَالَ اللهُ تَعَالٰى اِنْ تَتُوْبَا اِلَى اللهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا حَتّٰى حَجَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَ حَجَجْتُ مَعَهٗ فَلَمَّا كُنَّا بِبَعْضِ الطَّرِيْقِ عَدَلَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ

وَ عَدَلْتُ مَعَهُ بِالْاِدَاوَةِ فَتَبَرَّزَ ثُمَّ اَتَانِیْ فَسَكَبْتُ عَلٰی یَدَیْهِ فَتَوَضَّأَ فَقُلْتُ یَا اَمِیْرَ الْمُؤْمِنِیْنَ مَنِ الْمَرْاَتَانِ مِنْ اَزْوَاجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اللَّتَانِ قَالَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ لَهُمَا اِنْ تَتُوْبَا اِلَی اللّٰهِ فَقَدْ صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا قَالَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَ اعَجَابًا لَكَ یَا ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ الزُّهْرِیُّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ كَرِهَ وَاللّٰهِ مَا سَئَلَهُ عَنْهُ وَلَمْ كَتَمَهُ قَالَ هِیَ حَفْصَةُ وَ عَآئِشَةُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا ثُمَّ اَخَذَ یَسُوْقُ الْحَدِیْثَ قَالَ كُنَّا مَعْشَرَ قُرَیْشٍ قَوْمًا تَغْلِبُ النِّسَآءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِیْنَةَ وَجَدْنَا قَوْمًا تَغْلِبُهُمْ نِسَآءُهُمْ قَالَ وَكَانَ مَنْزِلِیْ فِیْ بَنِیْ اُمَیَّةَ ابْنِ زَیْدٍ بِالْعَوَالِیْ فَتَغَضَّبْتُ یَوْمًا عَلَی امْرَاَتِیْ فَاِذَا هِیَ تُرَاجِعُنِیْ فَقَالَتْ مَا تُنْكِرُ اَنْ اُرَاجِعَكَ فَوَاللّٰهِ اِنَّ اَزْوَاجَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَیُرَاجِعْنَهُ وَتَهْجُرُهُ اِحْدَاهُنَّ الْیَوْمَ اِلَی اللَّیْلِ فَانْطَلَقْتُ فَدَخَلْتُ عَلٰی حَفْصَةَ فَقُلْتُ اَتُرَاجِعِیْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ نَعَمْ فَقُلْتُ اَتَهْجُرُهُ اِحْدَاكُنَّ الْیَوْمَ اِلَی اللَّیْلِ قَالَتْ نَعَمْ قُلْتُ قَدْ خَابَ مَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ مِنْكُنَّ وَخَسِرَ اَفَتَاْمَنُ اِحْدَاكُنَّ اَنْ یَّغْضَبَ اللّٰهُ عَلَیْهَا لِغَضَبِ رَسُوْلِهٖ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاِذَا هِیَ قَدْ هَلَكَتْ لَا تُرَاجِعِیْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَا تَسْئَلِیْهِ شَیْئًا وَسَلِیْنِیْ مَا بَدَالَكِ وَلَا یَغُرَّنَّكِ اِنْ كَانَتْ جَارَتُكِ هِیَ اَوْسَمَ وَاَحَبَّ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْكِ یُرِیْدُ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَ وَ كَانَ لِیْ جَارٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ قَالَ فَكُنَّا نَتَنَاوَبُ النُّزُلَ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَیَنْزِلُ یَوْمًا وَاَنْزِلُ یَوْمًا فَیَاْتِیْنِیْ بِخَبَرِ الْوَحْیِ وَ غَیْرِهٖ وَاٰتِیْهِ بِمِثْلِ ذٰلِكَ فَكُنَّا نَتَحَدَّثُ اَنَّ غَسَّانَ تُنْعِلُ الْخَیْلَ لِتَغْزُوَنَا فَنَزَلَ صَاحِبِیْ ثُمَّ اَتَانِیْ عِشَآءً فَضَرَبَ بَابِیْ ثُمَّ نَادَانِیْ فَخَرَجْتُ اِلَیْهِ فَقَالَ حَدَثَ اَمْرٌ عَظِیْمٌ قُلْتُ مَا ذَا جَآءَتْ غَسَّانُ قَالَ لَا بَلْ اَعْظَمُ مِنْ ذٰلِكَ وَاَطْوَلُ طَلَّقَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نِسَآءَهٗ فَقُلْتُ قَدْ خَابَتْ حَفْصَةُ وَخَسِرَتْ وَقَدْ كُنْتُ اَظُنُّ هٰذَا كَائِنًا حَتّٰی اِذَا صَلَّیْتُ الصُّبْحَ شَدَدْتُ عَلٰی ثِیَابِیْ ثُمَّ نَزَلْتُ فَدَخَلْتُ عَلٰی حَفْصَةَ وَهِیَ تَبْكِیْ فَقُلْتُ اَطَلَّقَكُنَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَا اَدْرِیْ هَاهُوَ ذَا مُعْتَزِلٌ فِیْ هٰذِهِ الْمَشْرُبَةِ فَاَتَیْتُ غُلَامًا لَهٗ اَسْوَدَ فَقُلْتُ اسْتَاْذِنْ لِعُمَرَ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ اِلَیَّ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهٗ فَصَمَتَ فَانْطَلَقْتُ حَتّٰی انْتَهَیْتُ اِلَی الْمِنْبَرِ فَجَلَسْتُ فَاِذَا عِنْدَهٗ رَهْطٌ جُلُوْسٌ یَبْكِیْ بَعْضُهُمْ فَجَلَسْتُ قَلِیْلًا ثُمَّ غَلَبَنِیْ مَا اَجِدُ ثُمَّ اَتَیْتُ الْغُلَامَ فَقُلْتُ اسْتَاْذِنْ لِعُمَرَ فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ اِلَیَّ فَقَالَ قَدْ ذَكَرْتُكَ لَهٗ فَصَمَتَ فَوَلَّیْتُ مُدْبِرًا فَاِذَا الْغُلَامُ یَدْعُوْنِیْ فَقَالَ فَقَالَ ادْخُلْ فَقَدْ اُذِنَ لَكَ، فَدَخَلْتُ فَسَلَّمْتُ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاِذَا هُوَ مُتَّكِیٌٔ عَلٰی رَمْلِ حَصِیْرٍ قَدْ اَثَّرَ فِیْ جَنْبِهٖ فَقُلْتُ اَطَلَّقْتَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ نِسَآءَكَ فَرَفَعَ رَاْسَهٗ اِلَیَّ فَقَالَ لَا قُلْتُ اَللّٰهُ اَكْبَرُ لَوْ رَاَیْتَنَا یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَكُنَّا مَعْشَرَ

قُرَيْشٍ قَوْمًا تَغْلِبُ النِّسَاءَ فَلَمَّا قَدِمْنَا الْمَدِينَةَ وَجَدْنَا قَوْمًا تَغْلِبُهُمْ نِسَاءُهُمْ فَطَفِقَ نِسَاؤُنَا يَتَعَلَّمْنَ مِنْ نِسَائِهِمْ فَتَغَضَّبْتُ عَلَى امْرَأَتِي يَوْمًا فَإِذَا هِيَ تُرَاجِعُنِي فَأَنْكَرْتُ أَنْ تُرَاجِعَنِي فَقَالَتْ مَا تُنْكِرُ أَنْ أُرَاجِعَكَ فَوَاللَّهِ إِنَّ أَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُرَاجِعْنَهُ وَتَهْجُرُهُ إِحْدَاهُنَّ الْيَوْمَ إِلَى اللَّيْلِ فَقُلْتُ قَدْ خَابَ مَنْ فَعَلَ ذَلِكَ مِنْهُنَّ وَخَسِرَ أَفَتَأْمَنُ إِحْدَاهُنَّ أَنْ يَغْضَبَ اللَّهُ عَلَيْهَا لِغَضَبِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا هِيَ قَدْ هَلَكَتْ فَتَبَسَّمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ دَخَلْتُ عَلَى حَفْصَةَ فَقُلْتُ لَا يَغُرَّنَّكِ أَنْ كَانَتْ جَارَتُكِ هِيَ أَوْسَمَ مِنْكِ وَأَحَبَّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْكِ فَتَبَسَّمَ أُخْرَى فَقُلْتُ أَسْتَأْنِسُ يَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ فَجَلَسْتُ فَرَفَعْتُ رَأْسِي فِي الْبَيْتِ فَوَاللَّهِ مَا رَأَيْتُ فِيهِ شَيْئًا يَرُدُّ الْبَصَرَ إِلَّا أُهَبًا ثَلَاثَةً فَقُلْتُ ادْعُ اللَّهَ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنْ يُوَسِّعَ عَلَى أُمَّتِكَ فَقَدْ وَسَّعَ عَلَى فَارِسَ وَالرُّومِ وَهُمْ لَا يَعْبُدُونَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ فَاسْتَوَى جَالِسًا ثُمَّ قَالَ أَفِي شَكٍّ أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا فَقُلْتُ اسْتَغْفِرْ لِي يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَانَ أَقْسَمَ أَنْ لَا يَدْخُلَ عَلَيْهِنَّ شَهْرًا مِنْ شِدَّةِ مَوْجِدَتِهِ عَلَيْهِنَّ حَتَّى عَاتَبَهُ اللَّهُ قَالَ الزُّهْرِيُّ فَأَخْبَرَنِي عُرْوَةُ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا مَضَى تِسْعٌ وَعِشْرُونَ لَيْلَةً دَخَلَ عَلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَدَأَ بِي فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ أَقْسَمْتَ أَنْ لَا تَدْخُلَ عَلَيْنَا شَهْرًا وَإِنَّكَ دَخَلْتَ مِنْ تِسْعٍ وَعِشْرِينَ أَعُدُّهُنَّ فَقَالَ إِنَّ الشَّهْرَ تِسْعٌ وَعِشْرُونَ ثُمَّ قَالَ يَا عَائِشَةُ إِنِّي ذَاكِرٌ لَكِ أَمْرًا فَلَا عَلَيْكِ أَنْ لَا تَعْجَلِي فِيهِ حَتَّى تَسْتَأْمِرِي أَبَوَيْكِ ثُمَّ قَرَأَ عَلَيَّ الْآيَةَ يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ حَتَّى بَلَغَ أَجْرًا عَظِيمًا قَالَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللَّهُ تَعَالَى عَنْهَا قَدْ عَلِمَ وَاللَّهِ أَنَّ أَبَوَيَّ لَمْ يَكُونَا لِيَأْمُرَانِي بِفِرَاقِهِ قَالَتْ فَقُلْتُ أَوَفِي هَذَا أَسْتَأْمِرُ أَبَوَيَّ فَإِنِّي أُرِيدُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَالدَّارَ الْآخِرَةَ قَالَ مَعْمَرٌ فَأَخْبَرَنِي أَيُّوبُ أَنَّ عَائِشَةَ قَالَتْ لَا تُخْبِرْ نِسَاءَكَ أَنِّي اخْتَرْتُكَ فَقَالَ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللَّهَ أَرْسَلَنِي مُبَلِّغًا وَلَمْ يُرْسِلْنِي مُتَعَنِّتًا قَالَ قَتَادَةُ صَغَتْ قُلُوبُكُمَا قَالَ مَالَتْ قُلُوبُكُمَا.

ترجمه :د عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه ما د مدے نه دا آرزولرله چه د حضرت عمرؓ نه د هغه دوارو بیبیانو د حال تپوس اوکرم، او د نبی ﷺ هغه بیبیانےؓ چه د هغویؓ په باره کښے الله تعالی فرمائیلی دی کچرے تاسو توبه اوباسئ الله تعالی ته نو ستاسو زړونه ښکته شوی دی، تر دے پورے چه حج اوکړو هغویؓ او ما هُم دَ هغویؓ سره ، بیا مونږ په یوه لاره کښ وو چه حضرت عمرؓ دَ لارے نه ډډے ته شو او زهٔ هم د هغویؓ سره

غاړے ته شوم د اوبو بټکے راسره وو ، او هغویٰ پاخانه اوکړه او بیا څما خواله راغے، او ما هغویٰ ته په لاسونو باندِ اوبه واچولے او هغویٰ اودس اوکړو،او ما اووے اے امیر المؤمنین هغه کومے دوه ښځے دی د نبی ﷺ د بیبیانو نه چه دَ هغویٰ په باره کښے الله تعالی فرمائیلی دی کچرے تاوبه اویسته تاسو الله تعالی ته نو ستاسو زړونه ښکته شوی دی ، حضرت عمرؓ الله تعالی اوفرمائیل چه لویه د حیرانیدو خبره ده ات ابن عبهاسهٔ ! (یعنی تر اوسه پورے تا دا معلومات ولے نه کولو) زهری وئیلے دی چه حضرت عمرب ته دوه دا دومره ورځی تپوس نهٔ کول غوره نهٔ شو او څکه غوره نه شو چه دومره ورځی د دے سوال لره ولے پټ اوساتلو بیا ئے اوفرمائیل چه هغه حفصهٔ او عائشهٔ دی بیا ئے په حدیچ بیانولو شروع اوکړه او اوئے وئیل چه مونږ د قریشو ګروپ یو داسے قوم وو چه په ښځو باندِ به غالب اوسیدلو ،بیا چه هر کله مدینے ته راغلو نو داسے ګروپ مو اوموندو چه د هغویٔ ښځے په هغویٔ باندِ غالبے وے،پس زمونږ ښځو دهغویٔ خصلتونه ایزده کول شروع کړو، او څما کور په دغه ورځو د مدینے په لوړه حصّه د بنیٔ امیّه په قبیله کښے وو ، پس یوه ورځ ما په خپله ښځه باندِ غصه اوکړه پس هغے ما ته جواب راکول شروع کړو او ما د جغے جواب راکول بد اوګنړل نو هغے اووے چه ته څما جواب ورکول بد ګنړے ، او په الله دے چه د نبی ﷺ بیبیانے هغویٔ لره جواب ورکوی،او یوه یوه په هغویٔ کښے حضرتؐ لره پریږدی دَ ورځی نه شپے ته ، پس زهٔ لاړم او داخل شومه په حفصهٔ باندِ او ما ورته اووے چه تهٔ جواب ورکوے رسول الله ﷺ ته هغویٰ اووے چه هان!او ما اووے چه په تاسو کښے یوه یوه حضرت لره پریږدی د ورحی نه د شپے پورے ، هغویٰ اووے چه ها ں ما اووے چه محرومے شوے ستاسو نه خوک چه داسے کوی او په لوئے نقصان کښے راغلے ، ولے پتاسو کښ هره یوه ویریږی نه د دے نه چه که الله تعالی به په دے باندِ غصه اوکړی د هغه رسولؐ ته په غصے ورکولو سره او ناڅاپه به هغهٔ هلاکه شی (د دے نه د حضرت عمرؓ د ایمان قوت معلومیږی او کوم عظمت او شان چه دَ هغویٰ ء سینه کښ د رسول الله ﷺ دے په ښه شان له ترے ښکاره دے)بیا حضرے عمرؓ اووے چه تهٔ به هیڅکله جواب نهٔ ورکے رسول الله ﷺ ته ، او دَ هغویٰ نه به د څه څیز طلب نهٔ کوے ، او څه چه ستا زړه غواړی د هغے به ماته فرمائیش کوه

او تهٔ دهوکه مه خوره په هغه بی بی سره چه هغهٔ ستا ګاونډئ یعنی بنه ده چه هغه زیاته ښکلی ده ستا نه او ستا په نسبت زیاته خوږه ده رسول الله ﷺ ته (غرض ته په دے بهروسه کښې مه راځه چه ستا او د هغے برابری نهٔ شی کیدے، په دے کښې اقرار دے د حضرت عمرؓ د حضرت عائشے رضی الله عنها د غوره والی او د مجبوریت) مراد اخستلو هغے عآئشے رضی اللّٰهتعالی عنها لره ۔ او حضرت عمرؓ اووے چه زمونږ یو ګاونډی وو د انصارونه چه مونږ او هغوئ به په نمبر نمبر د رسول الله ﷺ په خدمت کښې حاضر وو ۔ پس یوه ورځ به د هغویؓ راتلو او یوه ورځ به زهٔ، او هغه به ماته د وحی وغیره خبر راکوؤ او ما به هغه ته او په مونږ کښې داخبر خور شوے وو چه دَ غسان بادشاه خپلو اسونو ته نعلونه لګوی چه زمونږ سره جنګ اوکړی، پس یوه ورځ څما دوست لاندِ راغے یعنی د حضرتؓ خواله او بیا ماسختن څما خواله راغے، او څما دروازه ئے اوټکوله او آواز ئے اوکړو او زه را اووتم، هغویؓ او وے لوئے غضب جوړ شو ما اووے ولے د غسان د بادشاه راغے ۔ هغه اووے د دے نه هم لوئے مهم راته پیښ شولو، او ډیر لوړده طلاق ورکړل رسول الله ﷺ خپلو بیبیانوّ ته، ما اووے بے نصیبه شوه حفصهٔ او په لوئے نقصان کښې راغله، او زما دَ مخکښې نه یقین وو چه یوه ورځ داسے راتلونکے ده، تر دے پورے چه هر کله ما د سحر مونځ اوکړو خپلے کپړے واچولے او ښکته راکوز شوم او د حفصےؓ خواله ما اووے ۔ چه طلاق درکړو تا له رسول الله ﷺ؟ پس هغے اووے زهٔ نه یم خبر او هغویؓ خو په دغه شوے په بالاخانه کښې ناسے دے، بیا زهٔ د حضرتؓ د غلام په طرف راغلم چه هغه تور رنګے وو، لو ما ورته اووے چه اجازت واخله د عمرؓ د پاره ۔ او هغه دننه لاړو، او بیا را اووتو او اوئے وئیل چه ما هغویؓ ته ستاسوّ ذکر اوکړو خو حضرتؓ هیڅ اونهٔ وے ۔ بیا زه پستنه شوم تر دے چه منبر ته اورسیدم او هلته کښیناستم، پس هر کله چه څما په خوا کښې ډیر خلق کیښناستو زهٔ لږ ساعت بیا غالب شو په ما بانډِ موندل د هغویؓ اوبیا راغلم غلام ته او ورته م اووے چه د عمر د پاره اجازت غواړم پس هغه غلام ننوتو او بیا رااووتو ما ته او اونت وئیل چه ما ستا ذکر حضرتؓ ته اوکړو او حضرتؓ چپ پاتے شو زهٔ بیا پسته روان شوم چه ناساپه غلام را اوبللم، او اوئے وائیل چه راځه ستا د پاره اجازت اوشو پس زهٔ ننوتم او رسول الله ﷺ ته م سلام اوکړو، او

حضرتؑ دَ یوا پوزی بناوټ بانډِ تکیه لګولے وه، چه هغه بناوټ دَ حضرت په مټ مبارک کښے نښے کړے وے ، بیا ما عرض اوکړو چه ولے تا طلاق ورکړو خپلو بیبیانوّ لره اے د الله رسولهٔ!پس حضرتؑ څما په طرف سر اوچت کړو او اوئے فرمائیل چه نهٔ،بیا ما اووے چه الله اکبر اے د الله رسوله!کاش تاسوّ وینئی چه مونږ خلق قریش یو او داسے قوم وو چهغالب وو په ښځو بانډِ پس هر کله چه مدینے منورے ته راغلونو مونږ داسے قوم اوموندو چه د هغوئ ښځے هم د هغوئ عادتونه ایزده کول شروع کړو او په خپله ښځه بانډِ یوه ورځ غصه شوم و هغے ما ته جوابونه راکول شروع کړو، او ما د هغے په جواب راکولو بد اوګنړل، نو هغے راته اووے چه ته ولے بد ګنړے څما جوب ورکولو سره،څکه چه په الله قسم دے چه د نبی ﷺ بیبیانےؓ هغوئؓ ته جوابونه کښے حضرتؑ لره پریږدی د ورځی نه د شپے پورے ، نو ما اووے چه محرومه شوے لو په نقصان کښے پریوتے چا چه د هغوئؓ نه داسے اوکړو، ولے په تاسو کښں هره یوه بے خوفه شوے ده د دے نه چه د الله تعالی به په هغه بانډِ غضب او غصهاوکړی په سبب د غصے دَ هغه د رسولؐ او هغوئؓ به په هغه د م هلاکے شی، پس رسول الله ﷺ خندا اوکړه او ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ زهٔ داخل شوم د حفصےؓ کورته، او ورته م اووے چه ته د خپلے ښَځ حالت بانډِ دهوکه مهٔ خوره هغه ستا نه زیاته ښکلی او زیاته خوږه ده رسول الله ﷺ دوباره مُسکے شو(په دے خبرو کښے کمال د حضرت عمرؓ د ایمان ثابت شولو او کمال د طرفداریٔ د الله د رسولؐ ثابت شو چه هغوئؓ په هر شان مخکښے او ساتله رضا مندی د رسول الله ﷺ او دغه د ایمان دکمال مقتضاده) بیا ما عرض اوکړو چه څه د زړهٔ د خوشحالولو خبرے اوکړه اے دَ الله رسولهٔ؟ حضرتؑ راته لوفرمائیل هاں، نو زه کښیناستم او سرم اوچت کړو د کور په طرف نو په الله م دِ قسم وی په ما یو څیز هلته داسے اونهٔ لیدلو چه د هغے په لیدو څما نظر څما په طرف واپس شوے وے سوا دَ دریو څمرونه،بیاما عرض اوکړو چه الله رسولهٔ!تاسو د الله تعالی نه دُعا اوکړئ چه ستا امت ته فراغت او فراخی عنایت کړی (دائے د ادب دَ کمال خبره اوکړه چه د خپل څان د پاره کمال خبره لوکړه چه د خپل څان د پاره ئے نه غوښته ، او د اومتِ فراخی طلب کړئ چه هغه سو خدمت کوی او تاسو ترے فارغ البال یئی) څکه چه الله تعالی جل شانه فارس لو روم لره ډیره فراخی

ورکړے دہ۔
حالانکه هغه د الله تعالی عبادت نۀ کوی(بلکه اَتش پرست او نبی پرست دی)نو رسول الله ﷺ پاځیدو او کیښناستو او اوئے وئیل اے ابن خطاب! ولے ته په شك کښے ئے ، هغه خلق خو داسے دی چه هغوئ ته طیبات د دنیا په ژوند کښے ورکړے شوی دی ، بیا ما عرض اوکړو چه د الله نه څما د پاره مغفرت اوغواړئ اے دَ الله رسوله!او کیفیے دا وو چه حضرتؐ قسم خوړلے وو چه د بیبیانوؓ خواله به د یوے میاشتے پورے نه ځم او دا قسم ئے په هغویؓ باندِ د زیاتے غصے په سبب سره خوړلے وو، تر دے پورے چه الله پاك په هغویؓ باندِ عتاب اوفرمائیلو،ز هرئؒ وائی چه خبر راکړے دے ما لره عروهؒ د جناب عآئشے صدیقے رضی الله عنها دخلے نه چه هر که یو کم دیرش شپے تیرے شوے نو راغے ما لره رسول الله ﷺ او مخکښے ما ته هغویؓ بیان کول شروع کړو،یعنی مضمون د تخییر نو ما عرض اوکړو چه اے د الله رسوله ! تا خو قسم خوړلے وو چه زمونږ خواله به دَ یوے میاشتے پورے تشریف نۀ راوړے او اوس دِ په یو کم دیرشم زمونږ خواله تشریف راوړو،او مابرابر شمارلے،(دا عرض کول د هغویؓ په دے غرض سره وو چه کیدے شی د حضرت نه هیر شوی وی) نو حضرتؐ اوفرمائیل چه میاشت د یو کم دیرش ورځو هم وی،بیا ئے اوفرمائیل چه اے عآئشے؏ زۀ تا ته یوه خبره کوم اوتۀ د هغے په جواب راکولو کښے تا دی مۀ کوه تر دے پورے چه مشوره واخلے د خپل پلار مور نه نو په چا څهحرج نشته بیا حضرت دا آیت اولوستلو یَاَیُّهَاالنَّبِیُّ یعنی اے د نبیؐ اووایه تهٔ خپلو بیبیانوؓ ته ، د آخره پورے جناب عآئشے صدیقه رضی الله عنهما فرمائی چه حضرت ته ښه معلومه وه چه څما پلار مور به ما ته چرته هم دَ حضرت نه د جدا کیدو حکم اونۀ کړی بیا فرمائی چه ما عرض اوکړو چه په دے کښے څو مشوره واخلم د خپل پلار مور نه،بیشکه غواړم الله تعالی لره او د هغه رسول لره او دَ آخرے کورلره (دا کمال دَ ایمان او د پوهے دے د ام المؤمنین حضرت عآئشے صدیقے رضی الله تعالی عنهما)معمرؒ وائی چه ما ته او ابو ایوبؒ خبر راکړے دے چه حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها اوفرمائیل چه تاسو خبر مۀ ورکوئ خپلو نورو بیبیانوؓ ته د دے خبرے چه ما تاسو لره اختیار کړے دے ، نو نبی ﷺ هغویؓ ته اوفرمائیل چه الله تعالی زۀ دَ پیغام رسولو د پاره

راليږلے يم نۀ د مشکل جوړولو د پاره.قتادهؒ وئيلے دی (صغت قُلُوبُكُما)معنی دا ده چه بنکته شوی دی زړونه ستاسو۔

فائده: په دے حديث کښے ډيرے فائدے دی.اول دا چه د دے نه حکم د ايلا معلوم شولو او ايلاء په لغے کښ مطلق قسم خوړلو ته وئيلے شی، او د فقهاؤ په اصطلاح کښے خاص دے د پريخودلو د جماع سره.او په دے باندِ د تمامو عالمانو اتفاق دے چه صرف په ايلاء سرجه يعنی دَ جماع دَ پريخودلو په قسم خوړلو سره نۀ فی الحال طلاق پريوزی.نۀ کفاره لازميږی اونۀ بله څه مُطالبه.مګر د د په موده کښے اختلاف دے، د حجاز عالمانو او معظم اصحابوؓ او تابعينوؒ وئيلے دی چه مُوْلِیٰ هغه سړے دے چه هغه د څلورو مياشو قسم ئے اوخوړونو هغه مولی يعی ايلاء کلو والا نۀ دے،او کوفيانو وئيلے دی، چه څوك د څلورو مياشتو يا د دے نه د زيات وخت قسم اوخوروی هغه مُوْلِیٰ دے، او په دے کښے دَ ټولو اتفاق دے چه په ښځجه باند طلاق نۀ واجب کيږی د کومے پورے چه څلور مياشتے تيرے شوے نۀ وی، او په دے کښ هم اتفاق دے چه هر کله ئے په دے موده کښے دننه جماع اوکړه نو ايلاء ختمه شوه او که د څلورو مياشتو پورے ئے جماع اونۀ کړه نو د کوفيانو په نزد طلاق پريوتل.او د عالمانو د حجاز اومِصر او فقهاؤ يا طلاق وورکړه او که هغه نۀ منله نو قاضی به ښځے له طلاق ورکړی او دغه قول دے د اهلِ ظاهرو او دغه مذهب مشهور دے دَ امامِ د شافعیؒ دا دے چه قاضی به ورله طلاق نه ورکوی بلکه زور به پروے راوَلِیٰ په دے خبره چه جماع اوکړی يا طلاق ورکړی، او کچرے هغه نۀ مَنی نو تعزير د ورکړے شی۔

او په کوفيانو کښِ اختلاف دے چه طلاق کوم چه په ده باندِ په سبب دَ ايلاء پريوتے دی هغه بائِن وی يا رجعی ، او نور فقهاء ټول متفق دی چه کوم طلاق خاوندورکوی يا ئے قاضی ورکوی هغه رجعی دی ، مګ د مالكؒ قول دے چه په دے طلاو کښے رجعت جائز نۀ دے په عدت کښے دنه، او قاضی عياضؒ وئيلے دی چه د ۱ شرط دَ چا نه مروی نۀ دے سِوا د مالكؒ نَه.او کچرے درے قروء په کچرے هغه طلاق ورکړی وی نو دعدت تمامو شولو، او جمهورو وئيلے دی، چه بيا به د سره عدت شروع کوی. يعنی ورستو دَ څلورو مياشتو نه۔

دوېمه:فائده د دے حدیث دا ده چه جائز شول په دے سره نوکر ساتل په دروازه باندِ.لکه څنګه چه هغه غلام وو د رسول الله ﷺ په دروازه باندِ، او اکثر به د حضرتؐ په دروازه کښې نوکر اوسیدلو۔

درېمه:فائده دا ده چه واجب دی اجازت اخستل د کور والا نه اګر معلومه وی چه هغه په کور کښې یواځې دے۔

څلورمه:فائده داشوه چه دوباره اجاز طلب کول روا دی اګر که یو ځل اجازت میلاؤ نۀ شی۔

پنځمه:فائده دا شوه چه اولاد له تنبیهه ورکول مستحب دی او ادب ورته ښودل اګر که د واده نه پس وی۔

شپږمه:فائده زهد،درسول الله ﷺ او قناعت د هغویٔ په لړه دنیا باندِ۔

اوومه:فائده ئے دا شوه چه په هغه کمرو کښې چه هغې ته د سیرو ضرورت وی اوسیدل روا دی۔

اتمه:خبره دا ده چه خزانه اوګودام مقررول د کور دَ سَامان د پاره روا دی۔

نهمه :فائده دا ده چه حرص کول د صحابو کرامؓ د علم د طلب کولو د پاره چه د دے د پاره ئے نمبر مقرر وو چه هره ورځ به یو یو اصحابیؓ د حضرت په خدمت کښې راځی او علم به حاصلوی۔

لسمه:فائده دا ثابته شوه چه خبر د یو سړی مقبول دے لکه چه حضرت عمرؓ د هغه انصاری خبر قبول کړو۔

یولسمه فائده :دا ده چه حاصلول د علم د اوچرے درجے والا د کمے درجے والا نه لکه چه حضرت عمر رضی الله عنه چه د هغه انصاریؓ نه روزانه علم حاصلولو،د هغه د نمبر دَ ورځی۔

دولسمه :فائده دا معلومه شوه د دے نه ادب د بزرګانو اوهیبت د هغویٔ ، لکه څنګه چه ابن عباس رضی الله تعالی عنهما د یو کاله پورے د حضرت عمر رضی الله تعالی عنهما نه تپوس نه شو کولے،او دا دَ سعادے مندو ښنه ده۔

دیارلسمه: فائده دا ده چه ترغیب ورکول چه طلب د علم لکه څنګه چه حضرت عمر رضی الله عنه ابن عباس رضی اللهٔ تعالی عنه ته اوفرمائیل چه تا ولے څما نه د دے مسئلے په باره کښې

تپوس او معلومات مخکښې نۀ کول.

باب المطلقة البائن نفقة لها .

د مُطلّقه بائنې د نفقې د نۀ کېدو بیان .

(۳۶۹۷) عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ اَنَّ اَبَا عُمَرَ ابْنَ حَفْصٍ طَلَّقَهَا الْبَتَّةَ وَهُوَ غَائِبٌ فَاَرْسَلَ اِلَيْهَا وَكِيْلُهُ بِشَعِيْرٍ فَسَخِطَتْهُ فَقَالَ وَاللهِ مَالَكِ عَلَيْنَا مِنْ شَيْئٍ فَجَآءَتْ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ لَيْسَ لَكِ عَلَيْهِ نَفَقَةٌ فَاَمَرَهَا اَنْ تَعْتَدَّ فِيْ بَيْتِ اُمِّ شَرِيْكٍ ثُمَّ قَالَ تِلْكَ امْرَاَةٌ يَغْشَاهَا اَصْحَابِيْ اِعْتَدِيْ عِنْدَ ابْنِ اُمِّ مَكْتُوْمٍ فَاِنَّهُ رَجُلٌ اَعْمٰى تَضَعِيْنَ ثِيَابَكِ فَاِذَا حَلَلْتِ فَاٰذِنِيْنِيْ قَالَتْ فَلَمَّا حَلَلْتُ ذَكَرْتُ لَهُ اَنَّ مُعَاوِيَةَ ابْنَ اَبِيْ سُفْيَانَ وَاَبَاجَهْمٍ خَطَبَانِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَّا اَبُوْ الْجَهْمِ فَلَا يَضَعُ عَصَاهُ عَنْ عَاتِقِهِ وَاَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوْكٌ لَا مَالَ لَهُ انْكِحِيْ اُسَامَةَ ابْنَ زَيْدٍ فَكَرِهْتُهُ ثُمَّ قَالَ انْكِحِيْ اُسَامَةَ فَنَكَحْتُهُ فَجَعَلَ اللهُ فِيْهِ خَيْرًا وَّاغْتَبَطْتُ. [ابو داود ، نسائی]

ترجمه: فاطمهؓ د قیس د لور نه روایت دے چه ابو عُمر هغویؓ طلاق ورکړو یعنی طلاق بائن، او هغه په ښهر کښې نۀ وو چرته بهر وتلے را اولیږلو او څه لږے وربشے ئی را اولیږلے ، او فاطمهؓ په هغې باندِ غصه شوله نو وکیل اووے چه په الله قسم دے ستاسو د پاره زمونږ په ذمه هیڅ نشته، یعنی نفقه وغیره بیا د رسول الله ﷺ خواله راغله او د دے خبرے ذکرئے اوکړو، نو حضرتؐ ورته اوفرمائیل چه ستا دَ پاره د هغویٔ په ذمه څه هُم نشته دے، بیائے حکم اوکړو فاطمۓ ته چه ته دام شریك په کور کښ عدت پوره کړه ، بیائے اوفرمائیل چه هغه داسے ښځه ده چه هلته زمونږ اصحابؓ ډیر جمع کیږی ته دَ ابن اِم مکتوم په کور کښے عدے پوره کړه ځکه چه هغهٔ یو روند سړے دے هلته ته خپلے کپړے وستلے شے ، یعنی بے تکلیفه به اوسیږے د پټیدو او پردے کولو تکلیفه به درته نۀ وی بیا چه هر کله ستا عدت پوره شی نا ما به خبر کړے فاطمهؓ وائی چه هر کله څما عدت پوره شولو نو ما حضرتؐ ته ذکر اوکړو چه ما ته معاویهؓ بن ابی سیفانؓ او ابو جهمؓ د نکاح پیغام رالیږلے دے . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ابو جهمؓ خو خپله لختبه د خپلو اوګونه نۀ شی ورکولے، او معاویهؓ مِفلس سړے دے چه د هغه سره مال نشته دے ، تۀ د اسامه بن زیدؓ سره نکاح اوکړه ، او ما ته دا امرنا خوښه شولو ، حضرتؐ بیا اوفرمائیل

چه دَ اسَامۀ سره نکاح اوکړو او الله تعالی په هغه کښې دومره خیر او خوبی راکړه چه ما ته به نورې ښځې خفه کیدلې.

(۳۶۹۸) عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ اَنَّهُ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا فِيْ عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ اَنْفَقَ عَلَيْهَا نَفَقَةً دُوْنٍ فَلَمَّا رَأَتْ ذٰلِكَ قَالَتْ وَاللّٰهِ لَاُعْلِمَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِنْ كَانَتْ لِيْ نَفَقَةٌ اَخَذْتُ الَّذِيْ يُصْلِحُنِيْ وَاِنْ لَمْ تَكُنْ لِّيْ نَفَقَةٌ لَمْ اٰخُذْ مِنْهُ شَيْئًا قَالَتْ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا نَفَقَةَ لَكِ وَلَا سُكْنٰى. [راجع:۳۶۹۷]

ترجمه: د فاطمه بنت قیس رضی الله تعالی عنها نه روایت دے ، وائی چه د هغې خاوند هغوی له طلاق ورکړو د رسول الله ﷺ په زمانه کښې ، او هغهٔ ته ئې څه لږ شان خرچ راولیږلو پس هر کله چه هغې اولیدو نو اوئے وئیل چه قسم دے زهٔ به خبروم رسول الله ﷺ لره پس کچرے زما د پاره نفقه وی نو دومره به ترے اخلمه څومره چه څما د پاره پوره کیږی او کچرے څما د پاره نفقه نهٔ وی نو د دے نه هیڅ هم نهٔ اخلمه بیا ما رسول الله ﷺ ته ذکر اوکړو او حضرتؐ ما ته اوفرمائیل چه نهٔ ستا د پاره نفقه شته او نهٔ مکان.

(۳۶۹۹) عَنْ اَبِيْ سَلَمَةَ اَنَّهُ قَالَ سَاَلْتُ فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ فَاَخْبَرَتْنِيْ اَنَّ زَوْجَهَا الْمَخْزُوْمِيَّ طَلَّقَهَا فَاَبٰى اَنْ يُّنْفِقَ عَلَيْهَا فَجَاءَتْ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَتْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا نَفَقَةَ لَكِ فَانْتَقِلِيْ فَاذْهَبِيْ اِلَى ابْنِ اُمِّ مَكْتُوْمٍ فَكُوْنِيْ عِنْدَهُ فَاِنَّهُ رَجُلٌ اَعْمٰى تَضَعِيْنَ ثِيَابَكِ عِنْدَهُ.[راجع:۳۶۹۷]

ترجمه: د ابو سلمه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما د فاطمے رضی الله تعالی عنها نه تپوس اوکړو نو هغوی ما له خبر راکړو چه د هغے خاوند مخزومیؓ هغے له طلاق ورکړے دی او انکار ئے کړے دے د نفقے ورکولو نه ، بیا هغهٔ دَ رسول الله ﷺ په خدمت کښے حاضره شوه او حضرتؐ ته ئے خبر ورکړو، حضرت ﷺ ورته اوفرمائیل چه تا جلره نفقه نشته،اوته د ابن ام مکتومؓ کور ته لاړهو شه ، ځکه چه هغه بابینا یعنی ړوند دے ، هلته ته خپلے کپړے وستلے شے پس هلته اوسیږه.

(۳۷۰۰) عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ اُخْتِ الضَّحَّاكِ ابْنِ قَيْسٍ اَخْبَرَتْهُ اَنَّ اَبَا حَفْصَةَ ابْنَ الْمُغِيْرَةِ الْمَخْزُوْمِيَّ

طلقها ثلاثًا ثُمّ انطلق الی الْیمن فقال لَهآ اهلُهٗ لیس لکِ علینا نفقةٌ فانطلق خالدُ ابْنُ الْولِید فِیْ نفرٍ فاتو رسُوْل اللہ صلّی اللّٰہُ علیْهِ وسلّم فِیْ بیْتِ میْمُوْنة فقالُوْا اِنّ ابا حفصٍ طلّق امْرأتهٗ ثلاثًا فهلْ لها مِنْ نفقةٍ فقال رسُوْلُ اللہِ صلّی اللّٰہُ علیْهِ وسلّم لیْستْ لها نفقةٌ وّ علیْها الْعِدّةُ وارْسل الیْها انْ لّا تُسْبِقِیْنِیْ بِنفْسِکِ وامرها انْ تنْتقِل الی اُمّ شرِیْکٍ ثُمّ ارْسل اِلیْها انّ اُمّ شرِیْکٍ یّاْتِیْها الْمُهاجِرُوْن الْاوّلُوْن فانْطلِقِیْ الی ابْنِ اُمّ مکْتُوْمٍ الْاعْمٰی فاِنّکِ اِذا وضعْتِ خِمارکِ لمْ یرکِ فانْطلقتْ اِلیْهِ فلمّا مضتْ عِدّتُها انْکحها رسُوْلُ اللہِ صلّی اللّٰہُ علیْهِ وسلّم اُسامة ابْن زیْدِ ابْنِ حارِثة. [راجع:۳٦٩٧]

ترجمه: دابو سلمه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما دفاطمے رضی الله تعالی عنها نه تپوس اوکړو نو هغوی ماله خبر راکړو چه دهغے خاوند مخزومیؓ هغے له طلاق ورکړے دی دا او انکارئے کړے دے دنفقے ورکولو نه، بیا هغهٔ دَ رسول اللهﷺ په خدمت کښے حاضره شوه او حضرتؐ ته ئے خبر ورکړو، حضرتﷺ ورته او فرمائیل چه تالره نفقه نِشته، او تهٔ دابن ام مکتوم کورته لاړه شه، ځکه چه هغه نابینا یعنی ړوندے دے. هلته ته خپلے کپړے وستلے شے پس هلته او سیره دفاطمےؓ لور دقیس خو دضحاك ابن قیسؓ نه روایت دے هغه خبر ورکوی چه ابو حفصؓ هغے له درے طلاق ورکړل او هغه یمن ته لاړو او دهغے خلقو فاطمےؓ ته اووے ستا دپاره چه مونږه باندِ نفقه نشته دے، او خالدؓ دخو تنه خلقو سره درسول اللهﷺ خواله راغے دمیمونےؓ کورته، او عرض ئے اوکړو چه ابو حفصؓ درے طلاقه ورکړے دی. اوے دغے ښځے لره نفقه شته؟ حضرتؐ او فرمائیل هغے لره نفقه نشته دے. او په هغےؓ باندِ نفقه نشته دے، او په هغےؓ باندِ عدت واجب دے، او هغے ته ئے قاصد اولیږو چه ته په نکاح کښے بغیر ځما دصلاح نه سبقت مهٔ کوه. او حکم ئے ورته اوکړو چه دَ ام شریك کورته راشه. بیائے ورته وینا کونکے اولیږو چه دام شریك په کور کښے مهاجرین اولین جمع کیږی پس ته دابن ام مکتومؓ ړانده کورته لاړه شه چه کچرے تهٔ هلته خپله لوپټه دسر نه لرے کړے نو ځوك بـه تانهٔ وینی. پس هغویؓ هغه کورته لاړه. او هر کله چه ئے موده دعدت پوره شوه نو رسول اللهﷺ هغویؓ اسامه بن زیدؓ ته واده کړله.

(۳۷۰۱) عنْ فاطِمة بِنْتِ قیْسٍ رضِی اللّٰہُ تعالٰی عنْها انّها اخْبرتْهُ انّها کانتْ تحْت ابِیْ عمْرِو ابْنِ حفْصِ ابْنِ

الْمُغِيرَةِ طَلَّقَهَا آخِرَ ثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ فَزَعَمَتْ أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْتَفْتِيهِ فِي خُرُوجِهَا مِنْ بَيْتِهَا فَأَمَرَهَا أَنْ تَنْتَقِلَ إِلَى ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ الْأَعْمَى فَأَبَى مَرْوَانُ أَنْ يُصَدِّقَهُ فِي خُرُوجِ الْمُطَلَّقَةِ مِنْ بَيْتِهَا وَقَالَ عُرْوَةُ أَنَّ عَائِشَةَ أَنْكَرَتْ ذٰلِكَ عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا.[راجع:۳۶۹۷]

ترجمه :د فاطمے بنت قيس رضی الله تعالی عنها نه روايت دے ، چه هغه دَ ابو عمرؓ سره وه او هغه ورله درے طلاقه ورکړل، بيا فاطمهؓ وائی چه زۀ د جناب رسول الله ﷺ خواله راغلم او د هغویؒ نه م تپوس اوکړو چه د کور نه دَ وتلو په باره کښے څو تاسو حکم راکړے دے چه دَ ابن ام مکتوم کور ته لاړه شه او مروان د هغے تصديق اونۀ کړو د مطلقے د کورنه په وتلو کښں ، او عروةؓ وئيلے دی چه جناب عائشے صديقے رضی الله تعالی عنها دَ فاطمے بنے قيسؓ دے خبرے لره دَ انکار قابله گنړله۔

(۳۷۰۴) عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُتْبَةَ أَنَّ أَبَا عَمْرِو بْنِ حَفْصِ بْنِ الْمُغِيرَةِ خَرَجَ مَعَ عَلِيِّ ابْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ إِلَى الْيَمَنِ فَأَرْسَلَ إِلَى امْرَأَتِهِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا بِتَطْلِيقَةٍ كَانَتْ بَقِيَتْ مِنْ طَلَاقِهَا وَأَمَرَ لَهَا الْحَارِثَ ابْنَ هِشَامٍ وَّ عَيَّاشَ ابْنَ أَبِي رَبِيعَةَ بِنَفَقَةٍ فَقَالَا لَهَا وَاللهِ مَالَكِ نَفَقَةٌ إِلَّا أَنْ تَكُونِي حَامِلًا فَأَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ لَهُ قَوْلَهُمَا فَقَالَ لَا نَفَقَةَ لَكِ فَاسْتَأْذَنَتْهُ فِي الْانْتِقَالِ فَأَذِنَ لَهَا فَقَالَتْ أَيْنَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ إِلَى ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ وَكَانَ أَعْمَى تَضَعُ ثِيَابَهَا عِنْدَهُ وَلَا يَرَاهَا فَلَمَّا مَضَتْ عِدَّتُهَا أَنْكَحَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُسَامَةَ ابْنَ زَيْدٍ فَأَرْسَلَ إِلَيْهَا مَرْوَانُ قَبِيصَةَ ابْنَ ذُؤَيْبٍ يَسْأَلُهَا عَنِ الْحَدِيثِ فَحَدَّثَتْهُ بِهِ فَقَالَ مَرْوَانُ لَمْ نَسْمَعْ هٰذَا الْحَدِيثَ إِلَّا مِنِ امْرَأَةٍ سَنَأْخُذُ بِالْعِصْمَةِ الَّتِي وَجَدْنَا النَّاسَ عَلَيْهَا فَقَالَتْ فَاطِمَةُ حِينَ بَلَغَهَا قَوْلُ مَرْوَانَ فَبَيْنِي وَ بَيْنَكُمُ الْقُرْآنُ قَالَ اللهُ تَعَالَى لَا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ الْآيَةَ قَالَتْ هٰذَا لِمَنْ كَانَتْ لَهُ مُرَاجَعَةٌ فَأَيُّ أَمْرٍ يَحْدُثُ بَعْدَ الثَّلَاثِ فَكَيْفَ تَقُولُونَ لَا نَفَقَةَ لَهَا إِذَا لَمْ تَكُنْ حَامِلًا فَعَلَامَ تَحْبِسُونَهَا. [ابو داود ، نسائی]

ترجمه:دَا ابو عرمو بن حفصؓ نه روايت دے چه مغيرةؓ د حضرت علیؓ سره يمن ته لاړو، او خپلے ښځے فاطمےؓ ته ئے يو طلاق رااوليږو چه هغه د دے په طلاقو کښں باقی وو، (يعنی دوه ئے مخکښں ورکړی وو)او حارثؓ او عياشؓ دواړو ته ئے خط اوليږو چه دے لره نفقه ورکوئ ، هغویؓ دواړو اووے چه ستا نفقه نۀ رسی د کومے پورے چه ته حامله نۀ ئے بيا هغهؓ د جناب رسول الله

ﷺ خواته حاضره شو، او هغوی ته نے د حارث وغیره د خبرے ذکر اوکړو نو حضرت ﷺ ور اوفرمائیل تا لره نفقه نشته دے. او هغوی بل کور ته د تلو اجازے اوغوښتو حضرت ﷺ اجازت ورکړو، هغوی عرض اوکړو چه یا رسول الله ! زۀ چرته لاړه شم حضرت اوفرمائیل چه دَ ابن ام مکتومؓ کور ته لاړه شه چه هغه ړوند وو، که هلته ته خپلے کپړے هم اوباسے او هغهٔ به تا لره نۀ وینی بیا چه هر کله عدت پوره شولو ،نبی ﷺ هغهٔ اسامهٔ ته په نکاح کړله ، پس مروان دَ فاطمیهٔ په خدمے کښے قبیه بن ذویب اولیږو چه د هغے نه د دے حدیث تپوس اوکړی ، پس فاطمےؓ ورته دغه شان حدیث بیان کړول، پس مروان اووے نۀ دے اوریدلے مونږ دا حدیکث مگر د یوے ښځے نه، او مونږ اسے قوی او معتبر امَرُ ولے نۀ اِختیارَ وو چه په هغے بانډِ مونږ تولو خلقو لره مومو، بیا چه هر کله فاطمےؓ ته دَ مروان دا خبره اِورسیده چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښے قرآن دے ، او الله تعالی فرمائیلی دی چه مۀ اوباسئی ښځو لره د کورونو خپلو نه، نو فاطمےؓ اووے چه دا حکم خو د دے د پاره دے چه چا ته رجعت کیدے شی، او د دریو طلاقونه پس بیا کومه خبره داسے نوی پیدا کیدے شِی، بیا تهٔ ولے وائے چه دے لره نفقه نشته دے ، هر کله چه هغه حَامِله نۀ وی نو بیا هغے لره په کومه بهروسه منع کوے(یںعنی نان و نفقه هم نۀ ورکوے نو بیا ئے څنګه منع کوے)۔

(۳۷۰۵) عَنِ الشَّعْبِیِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰی فَاطِمَةَ بِنْتِ قَیْسٍ فَسَئَلْتُهَا عَنْ قَضَآءِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَلَیْهَا فَقَالَتْ طَلَّقَهَازَوْجُهَا الْبَتَّةَ قَالَتْ فَخَاصَمْتُهُ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِی السُّکْنٰی وَالنَّفَقَةِ قَالَتْ فَلَمْ یَجْعَلْ لِیْ سُکْنٰی وَلَا نَفَقَةً وَامَرَنِیْ اَنْ اَعْتَدَّ فِیْ بَیْتِ ابْنِ اُمِّ مَکْتُوْمٍ. [ابو داود ، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه :د شعبیؒ نه روایت دے وائی چه زه د فاطمه بنت قیس خواله لاړم، او د هغے نه م تپوس اوکړو د رسول الله ﷺ چه د هغے په مقدمه کښے ئے کړے وه نو هغویؓ اووے چه مَا له څما خاوند درے طلاق راکړو،او ما خپله جګړه د حضور ﷺ حضور ته یوړه، د کور د اوسیدو او دَ نفقے دَ پارَه نو هغوی ﷺ مرے نه نۀ ماله په کور کښے اوسیدل واخستو اونۀ نفقه،او ماته ما ته ئے حکم اوکړو چه ته دَ ابن ام مکتومؓ په کور کښے عدت پوره کړه۔

(۳۷۰۷) عَنِ الشَّعْبِیِّ قَالَ دَخَلْنَا عَلٰی فَاطِمَةَ بِنْتِ قَیْسٍ فَتَحَفَتْنَا بِرُطَبِ ابْنِ طَابٍ وَّ سَقَتْنَا سَوِیْقَ سُلْتٍ

فسئلتها عن المطلقة ثلاثا فاذن لی النبی صلی الله علیه وسلم ان اعتد فی اهلی [راجع: ۳۷۰۵]

ترجمه: شعبیؒ وئیلے دی چه مونږ خلق د فاطمے بنت قیسؓ خواله لاړو او هغویؓ په مونږ باند د ابن طاب تر کهجورے (د یو قسم کهجورے نوم دے) اوخوړلے ، او د جوارو ستاون ئے راباند اوڅکول او د هغویؓ نه د دریو طلاؤ د حکم تپوس اوکړو چه هغویؓ عدت کوم ځائے تیر کړے وو، هغویؓ اووے چه څما خاوند ما له طلاق راکړو او رسول الله ﷺ ما ته اجازت راکړو چه زۀ د د خپلو خلقو کره دعدت پوره کولو د پاره لاړ شم۔

(۳۷۰۹) عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا قَالَتْ طَلَّقَنِيْ زَوْجِيْ ثَلَاثًا فَارَدْتُ النُّقْلَةَ فَاَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ انْتَقِلِيْ اِلَى ابْنِ عَمِّكِ عَمْرِو ابْنِ اُمِّ مَكْتُوْمٍ فَاعْتَدِيْ عِنْدَهُ. [راجع: ۳۷۰۵]

ترجمه: دفاطمه بنت قیس رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه زما خاوند ماله درے طلاق راکړواو څما دهغه ځائے نه دتلوار ده وه ، او دحضرتﷺ خواله راغلم، حضرتؐ راته او فرمائیل چه تۀ دخپل ابن عم یعنی دتره ځوی عمرو بن ام مکتوم کورته لاړه شه۔

(۳۷۱۰) عَنْ اَبِيْ اِسْحٰقَ قَالَ كُنْتُ مَعَ الْاَسْوَدِ ابْنِ يَزِيْدَ جَالِسًا فِي الْمَسْجِدِ الْاَعْظَمِ وَمَعَنَا الشَّعْبِيُّ فَحَدَّثَ الشَّعْبِيُّ بِحَدِيْثِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَجْعَلْ لَهَا سُكْنٰى وَلَا نَفَقَةً ثُمَّ اَخَذَ الْاَسْوَدُ كَفًّا مِّنْ حَصًى فَحَصَبَهُ بِهِ فَقَالَ وَيْلَكَ تُحَدِّثُ مِثْلَ هٰذَا قَالَ عُمَرُ لَا نَتْرُكُ كِتَابَ اللهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِقَوْلِ امْرَاَةٍ لَا نَدْرِيْ لَعَلَّهَا حَفِظَتْ اَوْ نَسِيَتْ لَهَا السُّكْنٰى وَالنَّفَقَةُ قَالَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ لَا تُخْرِجُوْهُنَّ مِنْ بُيُوْتِهِنَّ وَلَا يَخْرُجْنَ اِلَّا اَنْ يَّاْتِيْنَ بِفَاحِشَةٍ مُّبَيِّنَةٍ.

[راجع: ۳۷۰۵]

ترجمه: دابو اسحٰقؒ نه روایت دے وائی چه زۀ او شعبیؒ داسودؒ سره وو په لوئے جماعت کښے، پس شعبیؒ دفاطمےؓ حدیث بیان کړو چه رسول اللهﷺ هغےؓ لره نۀ کور ترے او غوښتو او نۀ خرچه، او اسودؒ یو موټے ګیټئ را واخستے او دشعبیؒ په طرف ئے او غورځولے او اوئے وئیل چه تۀ دے لره روایت کوے، دا څه ستا خرابی ده، او حالانکه حضرت عمرؓ فرمائیلی دی چه مونږ نه پریږدو دالله کتاب او سنت دخپل نبیﷺ دیوے ښځے په قول سره چه معلومه نۀ ده کیدے شی چه دهغےؓ نه هیر شوی وی یائے یادوی، او مطلقه ثلاثا نه کور ورکول پکار دی او خرچه هم چه الله

تعالی فرمائیلی دی چه مهٔ او باسی هغوئ لره دهغوئ دکورونو نه مګر هر کله چه هغوئ څه بنکاره بے حیائی اوکړی (یعنے زِنا)۔

(۳۷۱۲) عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا تَقُوْلُ اِنَّ زَوْجَهَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا فَلَمْ يَجْعَلْ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم سُكْنٰى وَلَا نَفَقَةً قَالَتْ قَالَ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم اِذَا حَلَلْتِ فَاٰذِنِيْنِيْ فَاٰذَنَتْهُ فَخَطَبَهَا مُعَاوِيَةُ وَ اَبُوْ جَهْمٍ وَاُسَامَةُ ابْنُ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم اَمَّا مُعَاوِيَةُ فَرَجُلٌ تَرِبٌ لَا مَالَ لَهُ وَاَمَّا اَبُوْجَهْمٍ فَرَجُلٌ ضَرَّابٌ النِّسَآءِ وَلٰكِنْ اُسَامَةَ فَقَالَتْ بِيَدِهَا هٰكَذَا اُسَامَةَ اُسَامَةَ فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم طَاعَةُ اللهِ وَطَاعَةُ رَسُوْلِهٖ خَيْرٌ لَّكِ قَالَتْ فَتَزَوَّجْتُهُ فَاغْتَبَطْتُ.

[ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دفاطمه بنت قیس رضی الله تعالی عنها نه روایت دے ، چه دهغے خاوند هغے لره درے طلاق ورکړل، او جناب رسول الله ﷺ هغے له ترے نهٔ او سیدلی واخستو او نهٔ خرچ ، او وئیلے دی فاطمےؓ چه ماته رسول الله ﷺ او فرمائیل چه هر کله ستا عدت پوره شی نو مابه خبر کړے، نو ما حضرتؐ ته خبر ورکړو، او ماته پیغام راکړے دے مُعاویهؓ او ابو جهم او اسامه بن زید رضی الله تعالی عنهم پس جناب رسول الله ﷺ او فرمائیل چه معاویهؓ خو مفلس دے چه دهغه سره مال نشته، او ابو جهمؓ ښځو لره ډیروهونکے دے مګر اسامهؓ پس هغوئؓ په خپل لاس سره اِشاره اوکړه چه اسامهؓ اسامهؓ، او جناب رسول الله ﷺ هغوئؓ ته او فرمائیل چه دالله تعالی او دهغه درسولؐ تابعداری تالره غوره ده ، بیا ما دهغوئ سره نکاح اوکړو او ښځے به ماته خفه کیدلے۔

(۳۷۱۳) عَنْ اَبِيْ بَكْرِ ابْنِ اَبِي الْجَهْمِ قَالَ دَخَلْتُ اَنَا وَاَبُوْ سَلْمَةَ ابْنُ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَلٰى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ فَسَاَلْنَاهَا فَقَالَتْ كُنْتُ عِنْدَ اَبِيْ عَمْرِو ابْنِ حَفْصِ ابْنِ الْمُغِيْرَةِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَخَرَجَ نَجْرَانَ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ ابْنِ مَهْدِيٍّ وَزَادَ قَالَتْ تَزَوَّجْتُهُ فَشَرَّفَنِيَ اللهُ بِاَبِيْ زَيْدٍ وَكَرَّمَنِيَ اللهُ بِاَبِيْ زَيْدٍ.[راجع: ۳۷۱۲]

ترجمه : دابوبکرؓ نه روایت دے، وائی چه زهٔ او ابو سلمهؓ دفاطمے رضی الله تعالی عنها خواله لاړو، او دهغوئؓ نه مو دهغوئؓ دطلاق وغیره تپوس اوکړو ، هغوئؓ اووے چه زهٔ دابو عمرو

سره وُم، او هغویٰؓ غزوهٔ نجران ته لاړو مخکښې ئې هم دغه مضمون کړو په آخر کښې ئې دا زياته کړه چه الله ماته شرافت او بزرگی راکړه دابو زید سره په نکاح کولو کښې۔

(۳۷۱۶) عَنِ الْبَهِيِّ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ طَلَّقَنِيْ زَوْجِيْ ثَلَاثًا فَلَمْ يَجْعَلْ لِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكْنٰى وَلَا نَفَقَةً .

ترجمه : بهیؒ دفاطمےؓ عنها نه روایت کړے دے وائی چه زما خاوند ماله درے طلاقه راکړل، او رسول الله ﷺ ترے ماله نۀ مکان واخستو او نۀ نفقه۔

(۳۷۱۷) عَنْ هِشَامٍ قَالَ حَدَّثَنِيْ أَبِيْ قَالَ تَزَوَّجَ يَحْيَى ابْنُ سَعِيْدِ ابْنِ الْعَاصِ بِنْتَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ الْحَكَمِ فَطَلَّقَهَا فَأَخْرَجَهَا مِنْ عِنْدِهٖ فَعَابَ ذٰلِكَ عَلَيْهِمْ عُرْوَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالُوْا إِنَّ فَاطِمَةَ قَدْ خَرَجَتْ قَالَ عُرْوَةُ فَأَتَيْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَأَخْبَرْتُهَا بِذٰلِكَ فَقَالَتْ مَالِفَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا خَيْرٌ أَنْ تَذْكُرَ هٰذَا الْحَدِيْثَ.

ترجمه : دهشامؒ نه روایت دے وائی چه ماته څما پلار ذکر اوکړو چه یحیٰی بن سعیدؒ دعبدالرّحمٰن دلور سره نکاح اوکړو او هغے له ئې طلاق ورکړو او دکوره ئې اوویسته، عروهؓ په دے خبره چه فاطمہؓ خو هم دخاوند دطلاقو ورکولو نه پس دخاوند دکورونۀ وتلې وه، پس زۀ دحضرت عائشےؓ خواله لاړم او ما هغویٰؓ له خبرورکړو، هغویٰؓ اووے چه فاطمےؓ لره ددے حدیث بیانول ښه نۀ دی۔

(۳۷۱۸) عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ زَوْجِيْ طَلَّقَنِيْ ثَلَاثًا وَأَخَافُ أَنْ يُقْتَحِمَ عَلَيَّ قَالَ فَأَمَرَهَا فَتَحَوَّلَتْ . [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دفاطمه بنت قیس رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه ما عرض اوکړو چه یا رسول الله ﷺ څما خاوند ماله درے طلاق راکړے دی او ماته ویره ده چه هغه خلق زما سره سختی او بد مزاجی اوکړی، نو حضرتؐ حکم ورکړو چه هغه ډبل کورته لاړه شی۔

(۳۷۱۹) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا أَنَّهَا قَالَتْ مَا لِفَاطِمَةَ خَيْرٌ أَنْ تَذْكُرَ هٰذَا تَعْنِيْ قَوْلَهَا لَا سُكْنٰى وَلَا نَفَقَةَ. [بخاری]

ترجمه:د جناب عآئشے رَضِیَ اللّٰهُ تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه فاطمےؓ لره دا وئیل ښه نۀ

دی،مطلقه ثلاثے لره نۀ مکان شته او نۀ نفقه.

(۳۷۲۰) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ الْقَاسِمِ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قَالَ عُرْوَةُ ابْنُ الزُّبَيْرِ اللهُ تعالىٰ عَنْهُ لِعَآئِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا اَلَمْ تَرَىْ اِلٰى فُلَانَةَ بِنْتِ الْحَكَمِ طَلَّقَهَا زَوْجُهَا الْبَتَّةَ فَخَرَجَتْ فَقَالَتْ بِئْسَ مَا صَنَعَتْ فَقَالَ اَلَمْ تَسْمَعِيْ اِلٰى فَاطِمَةَ فَقَالَتْ اَمَا اِنَّهُ لَا خَيْرَ لَهَا فِيْ ذِكْرِ ذَاكَ. [بخاری]

ترجمه:عبدالرحمن بن قاسمؒ د خپل پلارؒ نه روایت کړے دے چه هغویؒ وئیلے دی چه ابن زبیرؓ حضرت عائشے صدیقے رضی الله عنها ته اووے ، چه تا اولیده فلانئی ښځے لره چه د هغے خاوند هغے له درے طلاق ورکړل او هغه اووتله یعنی دَ خاوند د کور نه،هغویؓ اوفرمائیل چه هغویؒ بد اوکړو،عروه بن زبیر رضی الله تعالی عنه اووے چه تاسوؓ د فاطمےؓ خبره نۀ ده اوریدلے چه هغه څه وائی هغویؓ اوفرمائیل هغےؓ ته د دے قول په بیانولو کښے څه خیر نشته.

فائده:د فاطمے بنت قیسؓ په دے روایتونو کښے چه کوم اختلاف واقع شوے دے چه په کښے ذکر دی چه د هغے خاوند هغے له درے طلاق ورکړل او په څه کښے طلاق البته ذکر دے،چه چا کښں د مطلق طلاق ذکر دے د عدد نشته دے تطبیق په دے کښے داسے دے چه مخکښے د دے نه د هغےؓ خاوند هغےؓ له دوه طلاق ورکړی وو،او دا دریم وار شو چه د دے نه پس هغویؓ جدا شولو ، غرض دا چه د چا طلاق البته ذکر کړے دی ، د هغویؓ مراد هم دغه درے طلاق دی او علمائے کرامؒ په دے کښں اختلاف کړے دے ، چه ښځه مطلقه بائنه چه د هغے عمل نۀ وی هغے ته نفقه او مکان ورکول شته دے یا نشته دے.

پس د عمرؓ بن خطاب او ابو حنیفهؒ او دَ نورو فقهاؤ قول دے چه دے لره نفقه او مکان ورکول د عدت پورے ضروری دی،او ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما او احمدؒ وئیلے دی چه نۀ ورله نفقه شته دے او نۀ کور.او مالکؒ او امام شافعیؒ وئیلے چه کور ورکول ورله واجب دی نۀ نفقه،او د هر یو دلائیل په دلائیل نوویؒ کښے مفصل ذکر دی ، او هغویؒ ته حضرت ﷺ دَ ابن ام مکتوم نابینا په کور کښے دَ اوسیدو چه کوم حکم کړے دے د دے نه محض خلقو استنباط کړے دے چه ښځے لره نظر کول پردی سړی طرفته جائز دی،په خلاف د سړی چه هغه لره پردۍ ښځے طرفته نظر کول روانۀ دی.

او دا مذهب ضعیف دے بلکه صحیح دا دے چه د دواړو لره پردی انسان ته کتل حرام دی ، چنانچه دا ایت صفا په دے بانډِ دلیل دے چه الله پاك فرمائیلی دی ﴿قُلْ لِّلْمُؤْمِنِیْنَ یَغُضُّوْا مِنْ اَبْصَارِهِمْ وَ قُلْ لِلْمُؤْمِنٰتِ یَغْضُضْنَ مِنْ اَبْصَارِهِنَّ﴾ یعنی اووایه ته ات نبی مؤمانو سړو ته چه ښکته کړی نظرونه خپل او اویه مؤمنانو ښځو ته چه ښکته کړی نظرونه خپل ،او په دے بانډِ دلالت د کوی حدیث د نبهان چې د ام سلمۀ غلام وو، چه ام سلمۀ او میمونۀ د نبی ﷺ په خوا کښے حاضرے وے او عبدالله بن ام مکتوم حاضر شولو ،او نبی کریم ﷺ هغوئ ته اوفرمائیل چه پټے شئی ، هغوئ عرض اوکړو چه دے خو ړوند دے حضرتؐ اوفرمائیل چه تاسو خو ړندے نۀ یئی ، او دا حدیث حسن دے چه د ابو داؤدؒ او ترمذیؒ دے لره روایت کړے دے ، او ترمذیؒ دے ته حسن وئیلے دی ،غرض په دے حدیث د فاطمۀ کښے د دے اجازت نشته دے چه ته د عبدالله بن ام مکتوم په طرف نظر کوه ،بلکه صرف دومره خبره ده چه تا له به صرف د هغوئ د نظر نه بچ کیدو ضرورت نه پیښیږی ، لکه څنګه چه د بل یو بینا په کور کښے په اوسیدو سره پیښیږی۔

او حضرتؐ چه کوم دَ ابو جهمؓ او ابو معاویۀ حال اوفرمائیلو دا په غیبت محرومه کښے داخل نۀ دی ، ځکه چه دَ مشورے په وخت د چا ضروری حال بیانول روا دی، چه په دے کښے د بل خیر خواهی ده غرض په دے حدیث فاطمۀ کښے ډیرے فائدے دی۔

اوله فایده: جواز د طلاق غائب لره، دویم: جواز د توکیل حقو په مثل د قبض او د دفعے۔

دریم: نۀ کیدل د نفقے د باسښن د پاره او بعضو وئیلے دی چه نه ورله نفقه شته دے او نۀ کور، څلورم جواز د اوریدو د کلام دا جنبی په ورځو کښ په نظر د ضرورت۔

شپږم: مستحب کیدل زیارت د ښځو صالحاتو سړ ولره هُم مګر په دے شان چه خلوت محرمه واقع نۀ شی ، غرض په دے شان نے نورے هم ډیرے فائدے دی ، چه هغه د مضمون د اوږدیدو د ویرے نه ذکر نه شولے چا ته چه ضرورت شی نووئ ته د رجوع کوی۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷

بَابُ جَوَازِ خُرُوْجِ الْمُعْتَدَّةِ الْبَائِنِ وَالْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا فِى النَّهَارِ لِحَاجَتِهَا.

باب معتده بائن لره او د چا چه خاوند مړ شوے وي هغوئ له د ورځې وتل د ضرورت د پاره روا دي.

(۳۷۲۱) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ طُلِّقَتْ خَالَتِيْ فَاَرَادَتْ اَنْ تَرْجُدَّ نَخْلَهَا فَزَجَرَهَا رَجُلٌ اَنْ تَخْرُجَ فَاَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بَلٰى فَجُدِّيْ نَخْلَكِ فَاِنَّكِ عَسٰى اَنْ تَصَدَّقِيْ اَوْ تَفْعَلِيْ مَعْرُوْفًا. [ابوداود ، نسائي ، ابن ماجه]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے وائی چه څما ترور طلاقه کړے شوه، او هغوئ غوښتل چه د خپل باغ کهجورے اوشوکوی پس یو سړی هغهٔ اورټله د هغوئ په بَهَر وتـلو بانډِ او هغوئ د نبی ﷺ خوا ته حاضره شوه او حضرتؐ ورته اوفرمائیل چه نه ته لاړه شه او د خپل باغ کهجورے اوشوکوه څکه چه کیدے شی ته د هغے نه صدقه ورکړے ته د نورنیکی شے یا نوره څه نیکی کوه(چه ستا نیکی شی).

فائده: د دے حدیث نه معلومه شوه چه معتده بائِن ته دَ ضرورت په وخت په وخت وتـل په حالت د عدت کښے روا دی ، او دغه مذهب دے مالكؒ او شافعیؒ او ثوریؒ او لیثؒ او احمدؒ لو د نـورو خلقو چه دا تول قائل دی چه دَ ورځ د ضرورت د پاره وتل دی دغه شان په تولو عدتونو کښے او پـه وفات د خاونـد کـښ هُم دَ هغویٔ په نزد روا دی،او په عدت وفات کښے ابو حنیفهٔ د هغویٔ موافق دے ، نهٔ په مطلقه بائنه کښے د هغویٔ قول دے چه هغه بَه نهٔ د شپے اوځی او نهٔ دَ ورځے.

او د دے حدیث نـه مـعـلـومـه شوه چـه صدقـه ورکول د کهجورونه هُم مستحب دی د هغے د شوکولو او د صدقے ورکولو اِشاره کول هم خاوند د کهجورو لره مُستحب دی.

بَابُ انْقِضَاءِ عِدَّةِ الْمُتَوَفّٰى عَنْهَا زَوْجُهَا وَغَيْرِهَا بِوَضْعِ الْحَمْلِ.

باب: د حمل په وضع کیدو سره د عدت تمامیدل.

(۳۷۲۲) عَنْ عُبَيْدِ اللهِ ابْنِ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُتْبَةَ اَنَّ اَبَاهُ كَتَبَ اِلٰى عُمَرَ ابْنِ عَبْدِاللهِ ابْنِ الْاَرْقَمِ الزُّهْرِيِّ يَاْمُرُهُ اَنْ يَدْخُلَ عَلٰى سُبَيْعَةَ بِنْتِ الْحَارِثِ الْاَسْلَمِيَّةِ فَيَسْئَلُهَا عَنْ حَدِيْثِهَا وَ عَمَّا قَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ اسْتَفْتَتْهُ فَكَتَبَ عُمَرُ ابْنُ عَبْدِاللهِ اِلٰى عَبْدِاللهِ ابْنِ عُتْبَةَ يُخْبِرُهُ اَنَّ سُبَيْعَةَ اَخْبَرَتْهُ اَنَّهَا كَانَتْ تَحْتَ سَعْدِ ابْنِ خَوْلَةَ وَهُوَ فِيْ بَنِيْ عَامِرِ بْنِ لُؤَيٍّ وَّ كَانَ مِمَّنْ شَهِدَ بَدْرًا فَتُوُفِّيَ عَنْهَا فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ وَهِيَ حَامِلٌ فَلَمْ يَنْشَبْ اَنْ وَّضَعَتْ حَمْلَهَا مِنْ نِفَاسِهَا تَجَمَّلَتْ لِلْخُطَّابِ فَدَخَلَ عَلَيْهَا اَبُو السَّنَابِلِ ابْنُ بَعْكَكٍ رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ عَبْدِالدَّارِ فَقَالَ لَهَا مَالِيْ اَرَاكِ مُتَجَمِّلَةً لَعَلَّكِ تَرْجِيْنَ النِّكَاحَ اِنَّكِ وَاللهِ مَا اَنْتِ بِنَاكِحٍ حَتّٰى تَمُرَّ عَلَيْكِ اَرْبَعَةُ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرٌ قَالَتْ سُبَيْعَةُ فَلَمَّا قَالَ لِيْ ذٰلِكَ جَمَعْتُ عَلَيَّ ثِيَابِيْ حِيْنَ اَمْسَيْتُ فَاَتَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَئَلْتُهُ عَنْ ذٰلِكَ فَاَفْتَانِيْ بِاَنِّيْ قَدْ حَلَلْتُ حِيْنَ وَضَعْتُ حَمْلِيْ وَاَمَرَنِيْ بِالتَّزَوُّجِ اِنْ بَدَالِيْ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَلَا اَرٰى بَاْسًا اَنْ تَتَزَوَّجَ حِيْنَ وَضَعَتْ اِنْ كَانَتْ فِيْ دَمِهَا غَيْرَ اَنَّهُ لَا يَقْرُبُهَا زَوْجُهَا حَتّٰى تَطْهُرَ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه :د عبیدالله بن عبدالله بن عتبه نه روایت دے وائی چه دَ هغوئ پلار عبدالله ته اولیکل چه هغه دِ دَ سبیعهٔ لور د حارث خواله لاړ شی او د هغوئ نه دِ دَ هغوئ د حدیث معلومات اوکړی چه هغوئ ته رسول الله ﷺ څه فرمائیلی وو هر کله چه هغوئ د حضرتﷺ نه فتوی طلب کړے وه،پس عمر بن عبدالله هغوئ ته اولیکل چه سبیعهٔ هغوئ له خبر ورکړے دے چه هغ د سعدٌ په نکاح کښے وه ، او سعدٌ قبیله بن عَامِر بن لوی نهٔ وو، او په غزوهٔ بَدر کښ حَاضر شوے وو، او په حجة الوداع کښ هغوئ وفات اوموندو او دا حَامِله وه ،بیا څه وخت نهٔ وو شوے د هغوئ (یعنی دَ خاوند)د وفات چه هغے حمل اوزیږو ورستو د وفات د خاوند نه،بیا چه هر کله نفاس نه فارغه شوه،نو هغوئ ځان سنګار کړو د پیغام ورکونکو دَ پاره او ابوالسنابل دَ هغوئ خواله راغے،او هغه یو سړے وو دَ قبیله بنی عبدالدار،او هغے ته ئے اووے چه څه سبب دے چه تا له سنګار کړے وینمه کیدے شی ته دَ نکاح اراده لرے؟او په الله(ج)قسم چه تهٔ نکاح نهٔ شے کولے دَ کومے پورے چه په تا څلور میاشتے اولس ورځے تیرے شوے نهٔ وی سبیعهٔ وائی هر کله چه هغوئ ما ته داسے اوے نو ما خپلے کپړے د ځان سره راغونډے کړے او مابنام د رسول الله ﷺ خواله راغلم او د هغوئ ما له دا فتوی راکړه چه تا هغه وخت خپل عدت پوره کړے دے هر کله

چه تا حمل زیږه ولے دے. او حکم ئے اوکړو ما ته د نکاح هر کله چه زۀ غواړم،ابن شهابؒ وئیلے دی چه زۀ په دے کښې هم څه پرواه نه ګڼړم چه يوه ښځه دَ زیږولو نه پس نکاح اوکړی په داسے وخت اګر که هغه وينه د نفاس پرے جاری وی،مګر دومره خبره ضرور ده چه د هغے خاوند به د هغې سره صحبت نۀ کوی د کومے پورے چه پاکه شوے نۀ وی۔

(۳۷۲۳) عَنْ سُلَيْمٰنَ ابْنِ يَسَارٍ اَنَّ اَبَا سَلْمَةَ ابْنَ عَبْدِالرَّحْمٰنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اجْتَمَعَا عِنْدَ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُمَا يَذْكُرَانِ الْمَرْأَةَ تُنْفَسُ بَعْدَ وَفَاتِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عِدَّتُهَا اٰخِرُ الْاَجَلَيْنِ وَقَالَ اَبُوْ سَلْمَةَ قَدْ حَلَّتْ فَجَعَلَا يَتَنَازَعَانِ ذٰلِكَ قَالَ فَقَالَ اَبُوْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَا مَعَ ابْنِ اَخِیْ يَعْنِیْ اَبَا سَلْمَةَ فَبَعَثُوْا كُرَيْبًا مَوْلٰى ابْنِ عَبَّاسٍ اِلٰى اُمِّ سَلْمَةَ يَسْئَلُهَا عَنْ ذٰلِكَ فَجَآءَهُمْ فَاَخْبَرَهُمْ اَنَّ اُمَّ سَلْمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ اِنَّ سُبَيْعَةَ الْاَسْلَمِيَّةَ نَفِسَتْ بَعْدَ وَفَاتِ زَوْجِهَا بِلَيَالٍ وَاِنَّهَا ذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَمَرَهَا اَنْ تَتَزَوَّجَ. [بخاری ، ترمی ، نسائی]

ترجمه:دسليمٰن بن يسارؒ نه روايت دے چه ابو سلمهؓ او ابن عباسؓ دواړه د ابو هريره رضى الله عنه خواته جمع شول،او د هغے ښځے ذکر ئے شروع کړو،چه هغه د خپل خاوند د مرګ نه پس څو شپے ورستو په نفاس کښے شي يعني حمل اوزيږوَی نو ابن عباس رضى الله تعالى عنه اووے چه په دواړو عدتونو چه کوم روستے پوره شی هغه به پوره کوی او ابو سلمهؓ اووے چه هغے دغه وخت عدت پوره کړلو ، او د دے دواړو په خپلو کښې تنازعه شروع شوه،پس ابو هريره رضى اللّٰه تعالىٰ عَنهُ اووے چه زۀ د خپل وراده سره يم يعني د ابو سلمهؓ سره غرض دا چه کريب چه دَ ابن عباس رضى الله عنهما غلام وو هغه ئے دَ ام سلمه رضى الله تعالى عنهما خواته اوليږلو چه د هغے نه تپوس اوکړی پس هغه د هغویؓ خواله راغے او واپس ئے خبر راوړو چه ام سلمهؓ ته نفاس اوشو د هغے : خاوند دَ وفات نه څو شپے ورستو، او بيا هغویؓ جناب رسول الله ﷺ ته ذکر اوکړو او حضرتؐ هغویؓ له د نکاح حکم ورکړو۔

(۳۷۲۴) عَنْ يَحْيَى ابْنِ سَعِيْدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّ اللَّيْثَ قَالَ فِیْ حَدِيْثِهٖ فَاَرْسَلُوْا اِلٰى اُمِّ سَلْمَةَ وَلَمْ يُسَمِّ كُرَيْبًا .[راجع: ۳۷۲۳]

ترجمه:ديحيٰى بن سعيدؒ نه په دغه اسناد سره دغه مضمون مروى دے مګر دَ ليث په روايت کښې

دا دی چه ام سلمهٓ ته ئے څوك اولیږلو ، او د کریب نوم پکښې نشته دے۔

فائده: جمهورو عالمانو سلف او خلف په دے حدیث باندِ اجماع کړے ده ، او وئیلے دی چه عدت د حاملے دغه دے چه حلم اوزیږوی،اگر که د خاوند د وفات نه پس یوه لحظه ورستو ولے نهٔ وی او د خاوند د مرگ د غسل نه مخکښے ولے نهٔ وی او په دغه وخت هغے لره نکاح روا دے او دغه قول دے د مالكؒ او شافعِیؒ او ابو حنیفهؒ او احمدؒ او د امت دعالمانو۔

او کوم چه سِوا د دے نهٔ دے هغه مذهب شاذ دے ، او قابل د التفات نهٔ دے ، او دا آیت د هغوئ ټولو دلیل دے ، چه الله تعالی فرمائی:﴿ وَاُوْلَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ يَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ ﴾یعنی د حملدارو عدت دا دے چه حمل اوزیږوی ، او دا آیت عام دے شامل دے هغه ښځے لره چه هغے ته طلاق ورکړے شِی یا چه د چا خاوند مړ شی ،او مخصص دے هغه آیت لره چه په هغے کښې عدت د وفات څلور میاشتے اولس ورځے ذکر دی ۔نووی ملخصا۔

بَابُ وُجُوْبِ الْاِحْدَادِ فِیْ عِدَّةِ الْوَفَاتِ وَتَحْرِيْمِهٖ فِیْ غَيْرِ ذٰلِكَ اِلَّا ثَلَاثَةَ اَيَّامٍ .

باب سوګ واجب دے په هغه ښځه باندِ چه د هغے خاوند مړ شی په بل یو حالت کښې هم د دریؤ ورځو نه زیات سوګ کول حرام دی .

(۳۷۲۵) عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ اَبِیْ سَلَمَةَ اَنَّهَا اَخْبَرَتْهُ هٰذِهِ الْاَحَادِيْثُ الثَّلَاثَةَ قَالَ قَالَتْ زَيْنَبُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا دَخَلْتُ عَلٰی اُمِّ حَبِيْبَةَ زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِيْنَ تُوُفِّیَ اَبُوْهَا اَبُوْ سُفْيَانَ فَدَعَتْ اُمُّ حَبِيْبَةَ بِطِيْبٍ فِيْهِ صُفْرَةٌ خَلُوْقٍ اَوْ غَيْرِهٖ فَدَهَنَتْ مِنْهُ جَارِيَةً ثُمَّ مَسَّتْ بِعَارِضَيْهَا ثُمَّ قَالَتْ وَاللّٰهِ مَالِیْ بِالطِّيْبِ حَاجَةٌ غَيْرَ اَنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَلَی الْمِنْبَرِ لَا يَحِلُّ لِامْرَاَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ تُحِدُّ عَلٰی مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا عَلٰی زَوْجٍ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا

(۳۷۲۶) قَالَتْ زَيْنَبُ ثُمَّ دَخَلْتُ عَلٰی زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا حِيْنَ تُوُفِّیَ اَخُوْهَا ، فَدَعَتْ بِطِيْبٍ فَمَسَّتْ مِنْهُ ثُمَّ قَالَتْ وَاللّٰهِ مَا لِیْ بِالطِّيْبِ مِنْ حَاجَةٍ غَيْرَ اَنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ عَلٰی مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا عَلٰی زَوْجٍ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا

(۳۷۲۷) قَالَتْ زَيْنَبُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا سَمِعْتُ اُمِّیْ اُمَّ سَلَمَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا تَقُوْلُ جَاءَتِ امْرَاَةٌ

اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ اِنَّ ابْنَتِیْ تُوُفِّیَ عَنْھَا زَوْجُھَا وَقَدِ اشْتَکَتْ عَیْنُھَا اَفَنَکْحُلُھَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَا مَرَّتَیْنِ اَوْ ثَلَاثًا کُلَّ ذٰلِکَ یَقُوْلُ ثُمَّ قَالَ اِنَّمَا ھِیَ اَرْبَعَةُ اَشْھُرٍ وَّ عَشْرًا وَقَدْ کَانَتْ اِحْدَاکُنَّ فِی الْجَاھِلِیَّةِ تَرْمِیْ بِالْبَعْرَةِ عَلٰی رَأْسِ الْحَوْلِ [بخاری، ترمذی، نسائی]

(۳۷۲۸) قَالَ حُمَیْدٌ فَقُلْتُ لِزَیْنَبَ وَمَا تَرْمِیْ بِالْبَعْرَةِ عَلٰی رَأْسِ الْحَوْلِ فَقَالَتْ زَیْنَبُ کَانَتِ الْمَرْأَةُ اِذَا تُوُفِّیَ عَنْھَا زَوْجُھَا دَخَلَتْ حِفْشًا وَّ لَبِسَتْ شَرَّ ثِیَابِھَا وَلَمْ تَمَسَّ طِیْبًا وَّلَا شَیْئًا حَتّٰی یَمُرَّ بِھَا سَنَةٌ ثُمَّ تُؤْتٰی بِدَآبَّةٍ حِمَارٍ اَوْ شَاةٍ اَوْ طَیْرٍ فَتَفْتَضُّ بِشَیْءٍ اِلَّا مَاتَ ثُمَّ تَخْرُجُ فَتُعْطٰی بَعْرَةً فَتَرْمِیْ بِھَا ثُمَّ تُرَاجِعُ بَعْدُ مَا شَآءَتْ مِنْ طِیْبٍ اَوْ غَیْرِہٖ.

ترجمه: د زینب بنت ابی سلمهٔ نه روایت دے چه زهٔ د مؤمنانو دَ مور ام حبیبه رضی الله تعالی عنها خواله لاړم هر کله چه دَ هغوئ پلار ابو سفیانؓ وفات شو، نو ام حبیبهٔ یوه خوشبوئی رااوغوښتـه چه هغه زیړه وه خلوق(یو قسم مرکب خوشبوئی ده) وو یا بله یو قِسم خوشبوئی وه، او یوے جینئ له ئے(په خپلو لاسونو سره)اولګوله، بیائے لاسونه په خپلو اننګو باندِ رابنکودل، او اوئے وئیل چه په الله قسم دے ما ته د خوشبویئی حاجت نشته دے؟ مګر ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلو ئے په ممبر باندِ، حلال نهٔ دی هغه ښځے لره چه هغه یقین لری په الله تعالی باندِ او دقیامت په ورځ باندِ چه سوګ او کړی په چا مړی باندِ ددرے ورځو نه زیات مګر ښځه به دخپل خاوند دپاره سوګ کوی څلور میاشتے اولس ورځے

زینبؓ وائی بیا زهٔ دزینب بنت جحش خواله لاړم کله چه د هغوئ رور مړ شولو، نو هغوئ دغه خوشبوئی را او غوښتـه او اوئے لګوله، بیائے اووے په خدائے قسم چه زما خوشبویئی ته حاجت نهٔ وو، مګر ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو په منبر باندِ، چه نهٔ دی حلال یوے ښځے لره چه هغه یقین لری په الله(ج) باندِ او په ورځ دَ آخرت باندِ چه سوګ اوکړی په یو مړی باندِ د درے ورځو نه زیات، سِوا د هغه ښځے نه چه د هغے خاوند مړ شی، هغه به د څلورو میاشتو او لسو ورځو پورے سوګ کوی، زینبؓ وئیلے دی چه ما د خپلے مور ام المؤمنین ام سلمهٔ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی وو، یوه ښځه راغله رسول الله ﷺ ته او عرض ئے اوکړو چه یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ! زما دَ لور خاوند مړ شوے دے د هغے سترګے سوزیږی، ایا هغے

له رانجه لګوم؟ حضرتؐ اوفرمائیل نهٔ . بیا هغې ښځې دوه یا درې ځله تپوس اوکړو حضرتؐ ورته هر ځل اوفرمائیل چه نهٔ،بیا حضرتؐ اوفرمائیل چه اوس خو د عدت لس ورځې او څلورو میاشتې دی ، په جاهلیت کښې خو به ښځې د یو کاله پُورې پچې ویشتلې،

حمیدؒ کوم چه د دې حدیث راوی دې هغه وائی چه ما د زینبؓ نه تپوس اوکړو چه د دیه څه مطلب دې، زینبؓ اووې (د جاهلیت په زمانه کښې) هر کله چه به د یوې ښځې خاوند مَړ شو نو هغه به په یو ورکوتی کور کښې ننوته،د خرابو نه خرابې کپړې به ئې اغوستلې،خوشبوئی به ئې نهٔ لګوله تر دې پورې چه یو کال به تیر شولو ، بیا به یو ځناور هغه له راوستې شو،خریا بزه یا چرچنړه چه په هغه سره به هغې خپل عدت ماتولو(هغه ځناور به ئې په خپله ځرمن پورې اومښلو یا به ئې خپل لاس په هغه باندې راښکو)داسې به ډیر کم پیښیده چه هغه ځناور به ژوندې پاتې شو(اکثر به مړ کیدو څه د شیطان اثر به وو یا به د هغې په بدن څه ګنده ځیرې د یو تنګ ځائې په اوسیدو سره زهر واره ماده ختلې وه چه په هغه ځناور به ئې اکثر کوؤ)بیا به هغه بهر رااووته یوه پچه به هغې له ورکړې شوه هغه به ئې او ویشته بیا چه به ئې څه غوښتل خوشبوئی وغیره به ئې لګوله۔

فائده :نوویؒ وئیلې دی د دې حدیث نه معلومیږی چه د کومې ښځې خاوند مړ شی هغې له سوګ کول واجب دی او په دې باندې د عالمانو اتفاق دې ، مګر د دې په تفصیل کښې اختلاف دې،نو واجب دی چه دا سوګ په هر هغه ښځه باندې چه خاوند ئې مړ شی ، اګر که د هغې خاوند د هغې سره جماع نهٔ وی کړې ، یا هغه کم عمره وی ، یا وینځه وی،یا کافره وی دغه مذهب دې دَ امام شافعیؒ ، او جمهورو عالمانو او ابو حنیفةؒ او ابو ثورؒ او د ځنې مالِکیَه ؤ په نزد کچرې ښځه دَ اهلِ کتابونه وی نو په هغې باندې دا عدت واجب نهٔ دې بلکه عدت خاص دې دَ مسلمانانو ښځې سره۔دغه شان په وینځه او په مابالِغه ښځه باندې هُم عدت دَ وفات نشته دې ، او په ام ولد باندې خو په اجماع سره عدت نشته دې، او دغه شان په هغه وینځه باندې چه د هغې مالك مړ شی ، انتهٰی مختصرا۔

د دې حدیث نه د سوګ والا ښځې د پاره د رانجو لګولو حرام والې ثابت شو اګر که

ضرورت وی، او په مؤطاء کښې یو حدیث دیه چه په هغې کښې ذکر دی چه د شپې ډ رانجه لګوی او د ورځې ډې صفا کوی او پـه دې دواړو حدیثـونو کښې ئې راجمع کړې دی چه کـه چرې ضـرورت نـهٔ وی نو بالکل ناروا دی، او که ضرورت وی نو هم دَ ورځ لګول نـروا دی ، او د شپې روا دی ، مګر غوره خبره دا ده چه بالکل ئې نهٔ لګوی۔

(۳۷۲۹) عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ تُوُفِّيَ حَمِيْمٌ لِاُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَدَعَتْ بِصُفْرَةٍ فَمَسَحَتْهُ بِذِرَاعَيْهَا وَ قَالَتْ اِنَّمَا اَصْنَعُ هٰذَا لِاَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا يَحِلُّ لِامْرَاَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا عَلٰى زَوْجٍ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا حَدَّثَتْهُ زَيْنَبُ عَنْ اُمِّهَا وَعَنْ زَيْنَبَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْعَنِ امْرَاَةٍ مِّنْ بَعْضِ اَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .[راجع: ۳۷۲۵]

ترجمه :دَ زینب بنتِ ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے،وائی چه دَ ام حبیبه رضی الله تعالی عنها څوك رشتـه دار مړ شو هغوئ زیړه خوشبوئی رااوغوښته او په لاسونو بانډې ئې اولګوله،او بیا ئې اوفرمائیل چه دا کار د دے د پاره کوم چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئې وو، کوم بنده چه یقین لری په الله تعالیٰ بانډې او په ورځ د آخرت بانډې،هغوئ له په یو بنده بانډې دَ دریو ورځو نه زیات سوګ کول روانهٔ دی مګر ښځه به په خپل خاوند بانډې څلور میاشتې اولس ورځې سوګ کوی ، او زینبؓ دغه حدیث لره د خپلې مور(ام سلمه رضی الله تعالی عنها)نه نقل کړے دے،او د ام المؤمنین زینبؓ نه یا دَ بلې یوے بی بیؓ نه د رسول الله ﷺ۔

(۳۷۳۱) عَنْ حُمَيْدِ ابْنِ نَافِعٍ قَالَ سَمِعْتُ زَيْنَبَ بِنْتَ اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا تُحَدِّثُ عَنْ اُمِّهَا اَنَّ امْرَاَةً تُوُفِّيَ زَوْجُهَا فَخَافُوْا عَلٰى عَيْنِهَا فَاَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَاْذَنُوْهُ فِي الْكُحْلِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَتْ اِحْدَاكُنَّ تَكُوْنُ فِيْ شَرِّ بَيْتِهَا فِيْ اَحْلَاسِهَا فِيْ بَيْتِهَا حَوْلًا فَاِذَا مَرَّ كَلْبٌ رَمَتْ بِبَعْرَةٍ فَخَرَجَتْ اَفَلَا اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا. [راجع: ۳۷۲۵]

ترجمه : د حمید بن نافعؒ نه روایت دے وائی چه مَا اوریدلی دی دَ زینبؓ نه چه دَ ام سلمهؓ لور وه هغوی اوریدلی دی د خپلې مور نه،چه د یوے ښځې خاوند مړ شولو او د هغې د سترګو(د بیمارئ)په خلقو کښې ویره شوه،او هغه راغله د رسول الله ﷺ خواله او اجازت ئې لوغوښتو د

رنجو لګولو، حضرتؐ ورته اوفرمائیل چه په تحقیق سره وه به یوه ستاسو نه په خپل خراب کور کښې او خرابو کپړو کښې یا خرابې جامې به ئې اغوستې وې او د کاله پورې به ناسته وه بیا چه به ئې هر کله سپې په خوا تیر شونو په پچو به ئې او ویشتو او بهر به را اووته.اې اوس د څلورو میاشتو اولسو ورځو پورې صبر نۀ شئ کولې۔

(۳۷۳۳) عَنْ اُمِّ سَلَمَةَ وَ اُمِّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا تَذْكُرَانِ اَنَّ امْرَاَةً اَتَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ اَنَّ ابْنَةً لَّهَا تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا فَاشْتَكَتْ عَيْنُهَا فَهِيَ تُرِيْدُ اَنْ تَكْحَلَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ كَانَتْ اِحْدَاكُنَّ تَرْمِيْ بِالْبَعْرَةِ عِنْدَ رَاْسِ الْحَوْلِ وَاِنَّمَا هِيَ اَرْبَعَةُ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا.[راجع: ۳۷۲۵]

ترجمه:د مؤمنانو د مور ام سلمه او مؤمنانو د مور ام حبیبه رضی الله تعالی عنهما نه روایت دې وائی چه یوه ښځه راغله د جناب رسول الله ﷺ خواله او هغې اووې څما د لور خاوند مړ شوې دې او د هغې سترګې سوزی زۀ غواړم چه رانجه ورله اولګوم۔

حضرتؐ ورته اوفرمائیل په تحقیق سره وه به یوه ستاسو نه چه ویشتې به ئې پچو لره به په پوره کیدو دَ یو کال بانډې او دا خو څلور میاشتې اولس ورځې دی۔

(۳۷۳۴) عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ اَبِيْ سَلَمَةَ قَالَتْ لَمَّا اَتٰى اُمَّ حَبِيْبَةَ نَعِيُّ اَبِيْ سُفْيَانَ دَعَتْ فِي الْيَوْمِ الثَّالِثِ بِصُفْرَةٍ فَمَسَحَتْ بِهٖ ذِرَاعَيْهَا وَ عَارِضَيْهَا وَ قَالَتْ كُنْتُ مِنْ هٰذَا غَنِيَّةً سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ سَلَّمَ يَقُوْلُ لَا يَحِلُّ لِامْرَاَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ تُحِدَّ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا عَلٰى زَوْجٍ فَاِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّ عَشْرًا .[راجع:۳۷۲۵]

ترجمه:د زینب بنت ابی سلمه رضی الله تعالی عنهما نه روایت دې هر کله چه ام حبیبہؓ ته د هغې دَ پلار ابو سفیانؓ د مرګ خبر اورَسیدو ،هغوئ په دریمه ورځ زیړه خوشبوئی را اوغوښته او په دواړو لاسونو او اننګو ئې الګوله او اوئې وئیل ما ته د دې حاجت نۀ وو مګر ما اوریدلی دی د جناب رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئې وو ، نۀ دی درست هغه لره څوک چه ایمان راوړی په الله تعالی بانډې او په ورځ د قیامت بانډې دا چه سوګ کوی دَ درې ورځو نه زیات،البته ښځه به په خپل خاوند بانډې د څلورو میاشتو اولسو ورځو پورې سوګ کوی۔

(۳۷۳۵) عَنْ حَفْصَةَ اَوْ عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَوْ عَنْ كِلْتَيْهِمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَاَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ اَنْ تُحِدَّ عَلٰى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ اِلَّا عَلٰى زَوْجِهَا. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه :د مؤمنانو دِ مور حفصے یا مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے یا دَ دواړونه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نهٔ دی حلال یو ے ښځے له چه هغه ایمان راوړی په الله(ج)بانډِ او په ورځ دَ آخرت بانډِ یا ایمان راوړی په الله(ج)او دَ هغه په رسول بانډِ،سوګ کول په یو مړی بانډِ د درے ورځو نه زیات البته ښځه په خپل خاوند کولے شی۔

(۳۷۳۷) عَنْ حَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا زَوْجِ النَّبِیِّ تُحَدِّثُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اللَّيْثِ وَابْنِ دِيْنَارٍ وَزَادَ فَاِنَّهَا تَحِدُّ عَلَيْهِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا. [راجع: ۳۷۲۵]

ترجمه: دحفصے لور دعمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے په دغه مضمون کوم چه پورته تیر شو، په دے کښں دومره زیاتوالے دے چه ښځه به په خپل خاوند بانډِ څلور میاشتے او لس ورځے سوګ کوی۔

(۳۷۳۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَحِلُّ لِامْرَاَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ اَنْ تُحِدَّ عَلٰى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا عَلٰى زَوْجِهَا . [ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عآئشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، کومه ښځه چه یقین لری په الله تعالی او په ورځ دَ قیامت بانډِ، هغے له په یو مړی بانډِ ددرے ورځونه زیات سوګ کول جائز نهٔ دی ، سِوادَ خپل خاوند نه۔

(۳۷۴۰) عَنْ اُمِّ عَطِيَّةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُحِدُّ امْرَاَةٌ عَلٰى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا عَلٰى زَوْجٍ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا وَّلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوْغًا اِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ لَا تَكْتَحِلُ وَلَا تَمَسُّ طِيْبًا اِلَّا اِذَا طَهُرَتْ نُبْذَةً مِّنْ قُسْطٍ اَوْ اَظْفَارٍ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دام عطیه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک ښځه دِ په یو مړی بانډِ ددرے ورځونه زیات سوګ نهٔ کوی، مګر په خپل خاوند بانډِ به دڅلورو

میاشتو او لسو ورځو پورې سوګ کوی او دومره ورځې به رنګینه جامه نۀ اوغوندی مګر دعصب جامه، او نۀ به رانجه لګوی، او نۀ به خوشبو لګوی مګر کله چه دحیض نه پاکه شی نو لږ شان قسط یا اظفار (دا دخوشبو ګانو نوم دے) به استعمال کړی (په اراده دَ پاکوالی نۀ دَزینت)۔

فائده: عصب یمنی څادر ته وئیلے شی چه هغه کربنو والا د(سینکتا) په طور باندِ وی، سور او سپین یا سپین او شین یا سپین او تور، او بعضو وئیلی دی چه عصب یوه ونه ده اغزلی لرونکی او دهغے دپاڼونه رنګ او ځی۔ ابن منذر وئیلے دی، عالمانو اجماع کړے ده چه سوګ والا ښځے لره دکسم رنګ شوے کپړے اغوستل درست نۀ دی نۀ دبل یو رنګ مګر دتورنګ روادی، دغه قول دے دعروه بن الزُّبیرؒ او مالك او شافعیؒ ، او زهریؒ دے ته هم مکروه وئیلے دی او عروۃ عصب ته هم مکروه وئیلے وئیلے دی، او زهریؒ هغے ته جائز وئیلے دی ، او امام مالك دعصب پیرنړه کپړے ته جائز وئیلے ده، او زمونږ دملګرو په نزد دهغے حرمت زیات صحیح دے او دا حدیث دلیل دے دهغه سړی چا چه جائز ګڼړے دے۔

او ابن منذر وئیلے دی چه تولو علماوؤ سپینو کپړوته جائز وئیلے دی، او ځنے متاخرینو مالکیه ؤ پاکو سپینو کپړوته چه په هغے سره ګلکاری وی منع کړے دی ، دغه شان دمزین شوؤ تور کپړونه، او زمونږ ملګرو وئیلے دی چه هغه رنګ روادے چه په هغے دزینت یعنی ښائست اراده نۀ وی، او ریښمی کپړے اغوستل درست دی ، او کالے دسپینو زرو یا دسروزرو اچول درست نۀ دی، دغه شان دموتیانو اچول هم نا جائز دی او یو قول دادے چه دموتیانو اچول درست دی(نوویؒ)

(۳۷۳۲) عَنْ اُمِّ عَطِيَّةَ رَضِىَ تَعَالىٰ عَنْهَا قَالَتْ كُنَّا نُنْهٰى اَنْ نُّحِدَّ عَلٰے مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ اِلَّا زَوْجٍ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّعَشْرًا وَّ لَا نَكْتَحِلُ وَلَا نَتَطَيَّبُ وَلَا نَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوْغًا وَقَدْ رُخِّصَ لِلْمَرْاَةِ فِىْ طُهْرِهَا اِذَا اغْتَسَلَتْ اِحْدَانَا مِنْ مُحِيْضِهَا فِىْ نُبْذَةٍ مِنْ قُسْطٍ اَوْ اَظْفَارٍ . [بخاری]

ترجمه: دام عطیه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے هغوئ وائی چه منع کولے به شو مونږه په یو مړی باندِ ددرے ورځونه دزیات سوګ کولو نه، مګر په خاوند باند دڅلورو میاشتو او لسو

ورځو پورې، او نه به مونږ رانجه لګولو او نۀ خوشبو او نۀ به مونږ رنګینه کپړې اغوستلې او ښځې ته اجازت وو چه هر کله چه دحیض نه پاکه شي او غسل او کړي، نو لږ شان دقسط او اظفار استعمال دِ کوي(دبد بوئې لرې کیدو دپاره)۔

کِتَابُ اللّعَانْ

دلعان بیان

فائده : لعان وئیلې شي هغه ګواهی ته چه هغه دخاوند او ښځې نه اخستلې کیږي۔ هر کله چه خاوند په خپله ښځه بانډِ دزناتهمت اولګوي او ګواه نۀ وي، چونکه په دې کښې دلعنت لفظ وي ځکه ورته لعان وئیلې شي، او دلعان حکم دادې چه په خاوند او ښځه کښې همیشه دپاره جدائي راشي، او بیا هغوئ یو ځائې کیدل په نکاح سره نه شي کیدې۔

(۳۷۴۳) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ اَخْبَرَهُ اَنَّ عُوَيْمِرًا الْعَجْلَانِيَّ جَآءَ اِلٰى عَاصِمِ ابْنِ عَدِيِّ الْاَنْصَارِيِّ فَقَالَ لَهٗ اَرَأَيْتَ يَا عَاصِمُ لَوْ اَنَّ رَجُلًا وَّجَدَ مَعَ امْرَأَتِهٖ رَجُلًا يَّقْتُلُهٗ فَتَقْتُلُوْنَهٗ اَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَسَلْ لِّيْ يَا عَاصِمُ عَنْ ذٰلِكَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَئَلَ عَاصِمٌ رَّسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَرِهَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسَائِلَ وَعَابَهَا حَتّٰى كَبُرَ عَلٰى عَاصِمٍ مَّا سَمِعَ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا رَجَعَ عَاصِمٌ اِلٰى اَهْلِهٖ جَآءَهٗ عُوَيْمِرٌ فَقَالَ يَا عَاصِمُ مَا ذَا قَالَ لَكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ عَاصِمٌ لِّعُوَيْمِرٍ لَّمْ تَأْتِنِيْ بِخَيْرٍ قَدْ كَرِهَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَسْئَلَةَ الَّتِيْ سَئَلْتُهٗ عَنْهَا قَالَ عُوَيْمِرٌ وَاللّٰهِ لَا اَنْتَهِيْ حَتّٰى اَسْئَلَهٗ عَنْهَا فَاَقْبَلَ عُوَيْمِرٌ حَتّٰى اَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَسَطَ النَّاسِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَيْتَ رَجُلًا يَقْتُلُهٗ فَتَقْتُلُوْنَهٗ اَمْ كَيْفَ يَفْعَلُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ نَزَلَ فِيْكَ وَفِيْ صَاحِبَتِكَ فَاذْهَبْ فَاْتِ بِهَا قَالَ سَهْلٌ فَتَلَاعَنَا وَاَنَا مَعَ النَّاسِ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا فَرَغَا قَالَ عُوَيْمِرٌ كَذَبْتُ عَلَيْهَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنْ اَمْسَكْتُهَا فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ اَنْ يَّاْمُرَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَكَانَتْ سُنَّةَ الْمُتَلَاعِنِيْنَ ۔ [بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دسهل بن سعد ساعدیؓ نه روایت دې چه عوئمر عجلانیؓ دعاصم بن عدی انصاریؓ خواله راغې، او هغوئ ته ئې اووې اې عاصمؓ ! کچرې یو سړې دخپلې ښځې سره سړې اووینې، اې هغه به وژنې که بیا به تاسو هغه وژنې یا هغه به څه کوي؟ تۀ ددې مسئلې تپوس اوکړه

درسول اللهﷺ نه ځما دپاره، عاصمؓ درسول اللهﷺ نه تپوس اوکړو، حضرتﷺ ددې قسم سوالونو لره غوره نه کړو او دهغوئ بدوالے ئې بيان کړو عاصمؓ چه څه درسول اللهﷺ نه واوريدل هغه په ده باندې ګرانه تيره شوه، هر کله چه هغه خپلو خلقوته واپس راغے، نو عويمرؓ دهغوئ خواله راغے او تپوس ئې ترې اوکړو چه اے عاصمهٔ! رسول اللهﷺ څه او فرمائيل؟ عاصمؓ عويمرؓ ته اووے تا ماله ښه څيز نۀ وو راوړے رسول اللهﷺ ته ستا دمسئلې تپوس کول نا خوښه شو، عويمرؓ اووے قسم په خدائے زه نۀ قلاريږم دکومے پورے چه ددے مسئلې تپوس دهغوئ نه او نۀ کړم، بيا عويمرؓ راغے درسول اللهﷺ خواله په تولو خلقو کښے، او عرض ئې اوکړو يا رسول الله! تاسو څه فرمايئ چه څوك دخپلې بي بي سره غير مرد يعني پردے سړے اووينی او مړئې کړی بيا به تاسو ده لره وژنئ (يعني په قصاص کښے) هغه به څو کوی؟ حضرتﷺ ورته او فرمائيل، ستا او ستا دبی بی په باب کښے دالله حکم نازل شو (يعني آيت دلعان) تۀ لاړشه او خپله بي بي دځان سره راوله او راشه، سهلؓ وئيلی دی چه بيا دواړو ښځې او خاوند لعان اوکړو، او زۀ دخلقو سره درسول اللهﷺ په خواه کښے موجود وم، هر کله چه هغه فارغ شو نو عويمرؓ اووے يا رسول اللهﷺ که زه چرے اوس دے ښځې لره ساتم نو زۀ دروغجن يم، بيا عويمرؓ هغې لره درے طلاق ورکړل مخکښے درسول اللهﷺ دحکم نه، بيا دلعان کونکو دغه طريقه مقرر شوله۔

فائده: نووی وئيلی دی مراد درسول اللهﷺ هغه سوال دے چه هغه بے ضرورته وی خاص کر چه په هغې کښ د مسلمانانو رسوائی وی، او کچرے ددين ضروری سوال وی نو هغه بدنۀ دے، او داسے سوال خوبه هميشه اصحابوؓ کولو، او حضرتﷺ به دهغې جواب ورکولو او نا خوښه به ئې نۀ ګنړلو، او دعاصمؓ دسوال دبد ګنړلو وجه دلوه چه ددغه وخته پورے دغه قيصه واقع شوے نۀ وه، او نۀ ددے دتپوس څه ضرورت وو، او په دے سره دمسلمانانو رسوائی هم راتلله، او کافروته دخوشحالئ موقعه حاصليدله نووی وئيلی دی علماؤ اختلاف کړے دے چه کچرے يو سړے غير مرد يعني پردی سړی لره دخپلې بي بي په خواه کښے لووينی او دزنا يقين ئې راشی، او بيا هغوئ لره او وژنی، او دحاکم په مخکښې دا بيان اوکړی نو په ده باندې قصاص شته

دے یا نۀ۔ دېرو په نزد به دهغه بیان نه شی قبلولے او قصاص به پرے لازم وی، مګر هر کله چه دزنا ګواه قائم شی یا دمقتول وارثان دهغے اقرار اوکړی نو قصاص به ساقط کړے شی، په شرائط ددے چه مقتول واده کړے وی دکوم چه سزاء په ګټو ویشتل دی۔

دلعان نه پس دجدائی په طریقه کښے دعالمانو اختلاف دے، دمالك او شافعیؒ په نزد پخپله په لعان سره جدائی واقع کیږی، او همیشه دپاره ددغه سړی او ددغه ښځے دیو بل سره نکاح حرامیږی، او دابو حنیفةؒ په نزد بغیر دقاضی دحکم نه جدائی نۀ شی راتلے او کله چه خاوند خپل ځان دروغژون ثابت کړی، نو بیا هغه ښځه پرے حلالیږی، او دمالك او شافعیؒ په نزد چرته هم حلالیدے نۀ شی انتهی مختصر۔

(۳۷۴۴) عَنْ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ اَنَّ عُوَيْمِرًا الْاَنْصَارِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ مِنْ بَنِيْ عَجْلَانَ اَتٰى عَاصِمَ ابْنَ عَدِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ مَالِكٍ وَاَدْرَجَ فِي الْحَدِيْثِ قَوْلَهٗ وَكَانَ فِرَاقُهٗ اِيَّاهَا بَعْدُ سُنَّةً فِي الْمُتَلَاعِنَيْنِ وَزَادَ فِيْهِ قَالَ سَهْلٌ وَكَانَتْ حَامِلًا فَكَانَ ابْنُهَا يُدْعٰى اِلٰى اُمِّهٖ ثُمَّ جَرَتِ السُّنَّةُ اَنَّهٗ يَرِثُهَا وَتَرِثُ مِنْهُ مَا فَرَضَ اللّٰهُ لَهَا .

ترجمه: دسهل بن سعدؓ نه روایت دے چه عویمر انصاریؓ چه دبنی عجلان قبیلے نه وو، دعاصم بن عدیؓ خواله راغے، بیائے بیان کړو حدیث لره په دے شان سره لکه څنګه چه پورته ذکر شولو، او په حدیث کښ ئے دابن شهاب قول هم شریك کړو چه ، بیا جدائی دسړی دښځے ته سنت شوله په لعان کونکو کښ، او دومره ئے زیات کړے دے چه سهلؓ وائی هغه ښځه حامله وه، او دهغے ځوئ به دمور په طرف نسبت سره بللے شو، بیا دا طریقه جاری شوه چه داسے هلك به دخپلے مور وارث وی او هغه به دده وارثه وی دخپلے حصے موافق۔

فائده: یعنی دلعان کړے شوے ښځے ماشوم یعنی هلك به دخپلے مور ترکه مومی، او هغه به دوه ترکه مومی، اګر چه دزنا اولاد ترکه نۀ مومی خود مور په ګمان کښے خو هغه زناکار نۀ دے، ځکه ئے میراث جاری کیږی او نسب به ئے هم دمور دطرفنه قائم وی ۔

(۳۷۴۵) عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ قَالَ اَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ عَنِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ وَعَنِ السُّنَّةِ فِيْهِمَا عَنْ حَدِيْثِ سَهْلِ ابْنِ سَعْدٍ اَخِيْ بَنِيْ سَاعِدَةَ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ جَآءَ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَرَأَيْتَ رَجُلًا وَ ذَكَرَ الْحَدِيثَ بِقِصَّتِهِ وَزَادَ فِيهِ فَتَلَاعَنَا فِي الْمَسْجِدِ وَاَنَا شَاهِدٌ وَقَالَ فِي الْحَدِيثِ فَطَلَّقَهَا ثَلَاثًا قَبْلَ اَنْ يَأْمُرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَارَقَهَا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكُمُ التَّفْرِيقُ بَيْنَ كُلِّ مُتَلَاعِنَيْنِ. [راجع: ۳۷۴۳]

ترجمه: د ابن جریج نه روایت دے وائی چه ما ته ابن شهاب بَیان کړه د مُتلا عِنینو حال او د هغوئ طریقه د سهل بن سعدؓ د حدیث نه چه د بَنِیْ ساعده و نۀ وو هغه وائی چه د انصارو مه یو سړے د رسول الله ﷺ خواله راغے، او عرض ئے اوکړو چه یا رسول اللهؐ تاسو څه واینی کچرے یو سړے د خلیلے بی بی سره پردے سړے اووینی او بیان ئے کړه تو له قصه د حدیث او دومره د جماعت دننه لعان اوکړو او زۀ موجود وُم، او په دے روایت کښے دا هم دی چه هغه سړی خپلے ښځے له درے واره طلاق ورکړل د رسول الله ﷺ د حکم کولو نه مخکښے بیا هغه جدا شو د هغے نه د حضرت ﷺ په مخکښے، حضرتؐ اوفرمائیل دغه جدائی ده په مینځ د لعان کونکو کښ۔

فائده: یعنی پخپله لعان جدائی ده د طلاق حاجت نۀ وو او په یو روایت کښے دی چه تا لره په دے باند هیڅ لار نشته یعنی اوس پکښ ستا ملك یعنی اختیار هیو باقی پاتے نۀ شو نو طلاق بے موقعے دی۔

(۳۷۴۶) عَنْ سَعِيدِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سُئِلْتُ عَنِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ فِي اِمْرَأَةِ مُصْعَبٍ اَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا قَالَ فَمَادَرَيْتُ اِلٰى مَنْزِلِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا بِمَكَّةَ فَقُلْتُ لِلْغُلَامِ اسْتَأْذِنْ لِي قَالَ اِنَّهُ قَائِلٌ فَسَمِعَ صَوْتِي قَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ ادْخُلْ فَوَاللهِ مَا جَآءَ بِكَ هٰذِهِ السَّاعَةَ لَا حَاجَةٌ فَدَخَلْتُ فَاِذَا هُوَ مُفْتَرِشٌ بَرْذَعَةً مُتَوَسِّدًا وِسَادَةً حَشْوُهَا لِيفٌ قُلْتُ يَا عَبْدَالرَّحْمٰنِ الْمُتَلَاعِنَانِ اَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا؟ قَالَ سُبْحَانَ اللهِ نَعَمْ اِنَّ اَوَّلَ مَنْ سَأَلَ عَنْ ذٰلِكَ فُلَانُ ابْنُ فُلَانٍ قَالَ يَا رَسُولَ اللهِ اَرَأَيْتَ اَنْ لَوْ وَجَدَ اَحَدُنَا امْرَأَتَهُ عَلٰى فَاحِشَةٍ كَيْفَ يَصْنَعُ ؟ اِنْ تَكَلَّمَ تَكَلَّمَ بِاَمْرٍ عَظِيمٍ وَاِنْ سَكَتَ سَكَتَ عَنْ مِثْلِ ذٰلِكَ قَالَ فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذٰلِكَ اَتَاهُ فَقَالَ اِنَّ الَّذِي سَأَلْتُكَ عَنْهُ قَدِ ابْتُلِيتُ بِهِ فَاَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ هٰؤُلَاءِ الْاٰيَاتِ فِي سُوْرَةِ النُّوْرِ وَالَّذِينَ يَرْمُونَ اَزْوَاجَهُمْ فَتَلَاهُنَّ عَلَيْهِ وَوَعَظَهُ وَ ذَكَّرَهُ وَاَخْبَرَهُ اَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا اَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْاٰخِرَةِ قَالَ لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا كَذَبْتُ عَلَيْهَا ثُمَّ دَعَاهَا فَوَعَظَهَا وَ ذَكَّرَهَا وَاَخْبَرَهَا اَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا

اهون من عذاب الاخرة قالت لا والذي بعثک بالحق انه لكاذب فبدأ بالرجل فشهد اربع شهدت بالله انه لمن الصادقين والخامسة ان لعنة الله عليه ان كان من الكاذبين ثم ثنى بالمرأة فشهدت اربع شهادات بالله انه لمن الكاذبين والخامسة ان غضب الله عليها ان كان من الصدقين ثم فرق بينهما. [ترمذی، نسائی]

ترجمه :د سعید بن جبیرؓ نه روایت دے چه د معصب بن زبیرؓ په خلافت کښے څما نه د لعان کولو والا د مسئلے تپوس اوشو، زۀ حیران شوم چه څه جواب ورکړم نو زۀ لاړم د عبدالله بن عمرؓ د کور په طرف په مکه کښے ، او د هغوئ غلام ته م اووے څما عرض اوکړه، هغه اووے هغوئ لرام کوی هغوئ څما آواز واؤریدو او اوئے وئیل چه څه د جُبیر څوئ دے؟ما لووے ها!هغوئ لووے دننه راځه په خدائے قسم ته به د څه کار د پاره راغلے ئے،زۀ دننه لاړم نو هغوئ په یو خور کړی شوی کمبل ناست وو او یوے تکیه ته ئے ډډه لګولے وه چه دَ د کهجورو د پتونو نه ډکه وه ما اووے،اے عبدالرحمنه په لعان کونکو کښں جدائی راتلے شی؟ هغوئ اووے،سُبحٰنَ الله بیشکه جدائی راتلے ی، او د تولو نه مخکښں په دے باب کښے فلانی تپوس اوکړو چه دَ فلانی څوئ وو دَ رسول الله ﷺ نه، هغه اوے یا رسول اللهؐ!تاسو څه وایئی کچرے په مونږ کښے څوك خپله ښځه په بد کار کولو اووینی نو څه به کوی که د خلے نه خبره اوباسی نو بده خبره به اوباسی ملو که چپ پاتے کیږی نو په داسے بده خبره سره به څنګه چپ پاتے شی ،رسول الله ﷺ د دے په اوریدو چپ پاتے شو او جواب ئے ورنۀ کړو بیا هغه سړے د حضرتؐ خواله راغی او اوئے وئیل چه یا رسول اللهؐ! د کومے خبرے تپوس چه ما ستا نه کړے دے په هغے کښں زۀ پخپله پرویوتے یم،پس الله تعالی دا ایتونه نازل کړو﴿وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ﴾ دَ اٰخره پورت حضرتؐ دا ایتونه هغه سړی ته واؤره له او هغه ته ئے نصیحت اوکړو او پوه ئت کړو چه د دنیا عذاط دَ آخرت دَ عذاب نه آسان دے(یعنی کچرے تا د دروغو طعن ترلے وی نو اوس اووایه د حدقصف اتیا کوړے هبه دربانږ راشه مګر دا په دوزخ کښیه د سیزلونه آسانه ده) هغه اووے نه قسم دے په هغه الله(ج) چه ته ئے دَ رښتیا وینا سره رالیګلے ئے ما په دے ښځه بانږ طعن نۀ دے لګولے ، بیا حضرتؐ هغه ښځه راوغوښته ملو هغه ئے لوویره وله او پوښه کړه او ورته ئے اوفرمائیل چه دَ دنیا

عذابسلن دے دَ آخرت د عذاب نه هغې اووے نۀ قسم دے په هغه ذات چا چه تۀ په رښتونے رالیږلے نے څما خاوند دروغ وائی،بیا حضرتؐ شروع اوکړه د سړی نه او هغه څلور ځله گواهی ورکړه د الله تعالی په نوم سره او په پنځم ځل ئے دا اووے چه د الله تعالی لعنت دوی په ده بانډِ کچرے دروغ وائی،بیا ئے ښځه رااوغوښتله او هغې د الله تعالی د نوم سره څلور گواهیانے ورکړے چه مقرر دا سړے دروغژن دے او په پنځم وارئے داسے اووے چه د الله تعالی غضب دوی په دے بانډِ کچرے سړے رښتونے وی،د دے نه پس حضرتؐ د دغه دواړو په مینځ کښے جدائی راوسته۔

فائده:یعنی نور چه څوك عیب لگوی په خپلو ښځو او گواه نۀ وی سوا د خپل ځان نه،،نو داست یوه گواهی دِ ورکړی دَ الله(ج)په نوم سره څلور ځله چه مقرر دا سړے رښتونے دے ، او په پنځم ځل دِ داسے اووائی چه دَ الله تعالی لعنت دوی په دے مړی بانډِ کچرت دے دروغژن وی۔او بیا به (قاضی)ښځه ځان له جدا کړی چه داسے گواهی ورکړی څلو ځله دالله پاك دنوم سره چه مقرر دا سړے دروغژن دے او په پنځم ځل به داسے او وائی چه دالله تعالی غضب دِ وی په دے ښځه بانډِ کچرے هغه رښتونے وی، او چرته دِ نۀ وی دالله تعالی فضل او مهربانی په تاسو بانډِ، او دا چه الله تعالی معاف کونکے دے، خاوند دحکمتونو دے هر څه چه وی ۔ (موضح القرآن)

دا دلیل دے دابو حنیفۃ حمۃ الله علیه چه په لعان کښے چه هر کله حاکم جدائی رلولی نو دغه وخت جدائی کیدے شی، او ددے حدیث نه معلومه شوه چه رومبئ خاوند گواهیانے ورکول پکار دی بیا ښځے لره کچرے ښځه رومبی گواهی ورکړی نو لعان په صحیح نۀ وی، او دابو حنیفۃ په نزد صحیح دے۔

(۳۷۴۸) عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِلْمُتَلَاعِنَیْنِ حِسَابُکُمَا عَلَی اللّٰهِ اَحَدُ کُمَا کَاذِبٌ لَا سَبِیْلَ لَکَ عَلَیْهَا قَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَالِیْ؟ قَالَ لَا مَالَ لَکَ اِنْ کُنْتَ صَدَقْتَ عَلَیْهَا فَهُوَ بِمَا اسْتَحْلَلْتَ مِنْ فَرْجِهَا وَاِنْ کُنْتَ کَذَبْتَ عَلَیْهَا فَذَاکَ اَبْعَدُ لَکَ مِنْهَا قَالَ زُهَیْرٌ فِیْ رِوَایَتِهٖ قَالَ حَدَّثَنَا سُفْیَانُ عَنْ عَمْرٍو وَسَمِعَ سَعِیْدَ ابْنَ جُبَیْرٍ یَقُوْلُ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لعان کونکو ته او فرمائیل چه ستاسو دواړو حسان په الله تعالی باندِ دے، چه تاسو کښې یو دروغژن دے. حضرتؓ خاوند ته او فرمائیل! اوس ستا څه وس په ښځه باندِ نشته دے ولے چه هغه ستا نه همیشه دپاره جدا شوله، سړی اووے ځما مال یا رسول الله! کوم چه دے (یعنی ښځے) اخستے دے، حضرتؓ او فرمائیل مال تاته نۀ میلاویږی ولے چه کچرے ته رښتونے ئے نو مال بدله ده دهغے چه دهغه ورج په تا باندِ حلال شوے دے، او که چرے تۀ دروغژن ئے، نو مال نور هم لرے شو، (بلکه په تاندِ وبال راغے ددروغو وئیلو).

(۳۷۴۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ فَرَّقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ اَخَوَىْ بَنِي الْعَجْلَانِ قَالَ اللّٰهُ يَعْلَمُ اَنَّ اَحَدَكُمَا كَاذِبٌ فَهَلْ مِنْكُمَا تَائِبٌ؟ [بخاری، ابو داود، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ جدائی اوکړله دبنی عجلان په ښځه او سړی کښے، او اوئے فرمائیل الله تعالی پوهه دے چه په تاسو کښې کوم یو دروغژن دے، پس ولے ستاسو نه یو توبه کوی؟

(۳۷۵۰) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ سَاَلْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ اللِّعَانِ فَذَكَرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ. [راجع: ۳۷۴۹]

ترجمه: دسعید بن جبیرؓ نه روایت دے چه ما دابن عمرؓ نه دلعان تپوس اوکړو، نو هغویؓ نقل لوکړو دجناب رسول الله ﷺ نه په داسے شان لکه څنګه چه پورته تیر شو.

(۳۷۵۱) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ جُبَيْرٍ قَالَ لَمْ يُفَرِّقْ مُصْعَبٌ بَيْنَ الْمُتَلَاعِنَيْنِ قَالَ سَعِيْدٌ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِعَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ فَرَّقَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ اَخَوَىْ بَنِي الْعَجْلَانِ. [نسائی]

ترجمه: دسعید بن جبیرؓ نه روایت دے چه مصعبؒ به جدائی نۀ کوله په مینځ دلعان کونکو کښې، مادد ے ذکر اوکړو عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما ته، هغویؓ اووے چه جناب رسول الله ﷺ جدائی کړے ده دبنی عجلان (قبی) دسړی او ښځے په مینځ کښے.

(۳۷۵۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَجُلًا لَا عَنِ امْرَاَتَهٗ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَفَرَّقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا وَاَلْحَقَ الْوَلَدَ بِاُمِّهٖ قَالَ نَعَمْ! [بخاری، ابو داود، نسائی،

ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه یو سړی دخپلے ښځے سره لعان اوکړو درسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښ بیا حضرتؐ جداوالے اوکړو په مینځ ددواړو کښ، او دبچی نسب ئے دمور سره او لګوو۔

(۳۷۵۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا لَا عَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بَیْنَ رَجُلٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ وَامْرَاَتِهٖ وَ فَرَّقَ بَیْنَهُمَا ۔

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول اللهﷺ لعان اوکړلو دیو انصاری سړی او دهغه دښځے په مینځ کښ او جدائے کړل دواړو لره۔

(۳۷۵۴) عَنْ عُبَیْدِاللّٰهِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ : [بخاری ،]

ترجمه : ترجمه هم هغه ده کومه چه مخکښ ذکر شوه ۔

(۳۷۵۵)عَنْ عَبْدِاللّٰهِ قَالَ اَنَا لَیْلَةَ جُمُعَةٍ فِی الْمَسْجِدِ اِذْ جَآءَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ لَوْ اَنَّ رَجُلًا وَّجَدَ مَعَ امْرَاَتِهٖ رَجُلًا فَتَکَلَّمَ جَلَدْ تُمُوْهُ او قَتَلَ قَتَلْتُمُوْهُ اَوْ سَکَتَ سَکَتَ عَلٰی غَیْظٍ وَّ اللّٰهِ لَاَسْئَلَنَّ عَنْهُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا کَانَ مِنَ الْغَدِ اَتٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَهٗ فَقَالَ لَوْاَنَّ رَجُلًاوُّ جَدَمَعَ امْرَاَتِهٖ رَجُلًافَتَکَلَّمَ جَلَدْتُّمُوْهُ اَوْ قَتَلَ قَتَلْتُمُوْهُ اَوْسَکَتَ سَکَتَ عَلٰی غَیْظٍ قَالَ اَللّٰهُمَّ فَتَحْ وَ جَعَلَ یَدْعُوْا فَنَزَلَتْ اٰیَةُ اللِّعَانِ وَالَّذِیْنَ یَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ یَکُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّا اَنْفُسُهُمْ هٰذِهِ الْاٰیَاتُ فَابْتُلِیَ بِهٖ ذٰلِکَ الرَّجُلُ مِنْ بَیْنِ النَّاسِ فَجَآءَ هُوَ وَ امْرَاَتُهٗ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاعَنَا نَشْهَدَالرَّجُلُ اَرْبَعَ شَهَادَاتٍ بِاللّٰهِ اِنَّهٗ لَمِنَ الصّٰدِقِیْنَ ثُمَّ لَعَنَ الْخَامِسَةَ اَنَّ لَعْنَةَ اللّٰهِ عَلَیْهِ اِنْ کَانَ مِنَ الْکَاذِبِیْنَ فَذَهَبَتْ لِتَلْعَنَ فَقَالَ لَهَا النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَهْ فَاَبَتْ فَلَعَنَتْ فَلَمَّا اَدْبَرَ قَالَ لَعَلَّهَا اَنْ تَجِیْئَ بِهٖ اَسْوَدَجَعْدًا فَجَآءَ تْ بِهٖ اَسْوَدَ جَعْدًا.[ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه:دعبدالله بن مسعودؓ نه روایت دے چه زۀ د جمعے په شپه په جماعت کښے وُم چه په دے کښے یو انصاری سړی راغے اوائے وئیل کچرے یو سړے د خپلے ښځے سره چا سړی لره اووینی ، او بیائے دَ خلے نه اوباسی نو تاسو به په هغوئ کوړے لګوئ(یعنی د حدقذف)او کچر مړئے کړی نو تاسو به ئے وژنئی(یعنی په قصاص کښے)او کچرے چپ پاتے شی نو په غصه قابو کولو کښے به

چپ وي قسم په خدائے چه زه به درسول الله ﷺ نه تپوس کوم د دے مسئلے په باره کښے په دويمه ورځ دَ رسول الله ﷺ خواله راغے ،اود هغوئ نه ئے تپوس اوکړو چه کچرے څوك د خپلے ښځے سره يو سړے اوموموی او بيائے د خلے نه اوباسی نو تاسو به پرے کوړے لګوئ او که چرے مړئے کړی نو تاسو به دهلره هم وژنئی که چرے چپ پاتے شی نو په خپله غصه څښلو کښے به چپ وی (داخو هم نۀ شی کيدے) حضرتؐ اوفرمائيل ياالله پرانزے (دے مسئلے لره)او دُعائے اوکړه پسد لعان آيت نازل شولو ﴿وَالَّذِيْنَ يَرْمُوْنَ اَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُمْ شُهَدَآءُ اِلَّا اَنْفُسُهُمْ﴾داخره پورے بيائے دخلقو په مخکښے د هغه سړی نه اود هغه د ښځے نه امتحان واخستو او دواړه د رسول الله ﷺ خواله راغلو او لعان ئے اوکړو،رومبئ سړی څلور ځله ګواهی ورکړه چه بيشکه دے(يعنی زۀ)رښتونے دے ، او په پنځم ځل ئے په لعنت سره اووے کچرے دے دروغژن وی نو په هغه باندې دَ الله لعنت وی،بيا ښځه لاړه د لعان کولودپاره حضرتؐ ورته اوفرمائيل اودريږه(او که چرے خاوندۀ رښتونے وی نو د خپل قصور اقرار اوکړه)ليکن هغه اونۀ منل او لعان ئے اوکړو،هر کله چه هغه په شا شوله لاړه نو حضرت ﷺاوفرمائيل چه کيدے شی د دے ښځے بچے تور رنګے ګوګرو ويښتو ولا پيدا شی (د هغه سړی په شکل په چائے د خاوند ګمان وو)بيا هم هغه شان تور او ګکرو ويختو ولا پيدا شولو۔

(۳۷۵۷) عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ سَاَلْتُ اَنَسَ ابْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَاَنَا اُرٰى اَنَّ عِنْدَهٗ مِنْهُ عِلْمًا فَقَالَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى عَنْهُ قَذَفَ امْرَاَتَهٗ بِشَرِيْكِ ابْنِ سَحْمَآءَ وَكَانَ اَخَا الْبَرَاءِ ابْنِ مَالِكٍ لِاُمِّهٖ فَكَانَ اَوَّلَ رَجُلٍ لَاعَنَ فِي الْاِسْلَامِ وَقَالَ فَلَاعَنَهَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبْصِرُوْهَا فَاِنْ جَآءَتْ بِهٖ اَبْيَضَ سَبِطًا قَضِيْئَ الْعَيْنَيْنِ فَهُوَ لِهِلَالِ ابْنِ اُمَيَّةَ وَاِنْ جَآءَتْ بِهٖ اَكْحَلَ جَعْدًا حَمْشَ السَّاقَيْنِ فَهُوَ لِشَرِيْكِ ابْنِ سَحْمَآءَ قَالَ فَاُنْبِئْتُ اَنَّهَا جَآءَتْ بِهٖ اَكْحَلَ جَعْدًا حَمْشَ السَّاقَيْنِ. [نسائی]

ترجمه:د محمدؒ نه روايت دے چه مَا دَ انسؓ بن مالكؓ نه تپوس اوکړو په دے خيال چه دۀ ته معلومه ده ، هغوئ اووے چه هلال بن اميهؓ نسبت دَ زِنا اوکړو خپلے ښځے ته د شريك بن سمحاء سره او هلال ابن اميهؓ دَ براء بن مالكؓ د مور څوئے رور وو،او هغه د تولو نه مخکښے لعان اوکړو په اسلام کښے،راوی وائی چه بيادواړو خاوند او ښځے لعان اوکړو نو رسول الله ﷺ

اوفرمائيل چه دا ښځه د نظر لاندې اوساتئ که چرے د دے بچے په رنګ سپين نيغو ويښتو والا او سره سترګو والا پيداشو نو د هلال بن اميّة دے او کچرے تورو سترګو والا،ګکرو ويښتو والاو نرو پنډو والا پيدا شو نو د شريك بن سحماء دے انس رضي الله تعالى عنه وائي ماته خبر راغے،چه د هغے ښځے هلك تور سترګے ګکرو ويښتو او نرو پنډو والاپيداشو۔

فائده:داحضرتؐ په قيافه سره اوفرمائيل،او د دے حديث نه معلومه شوه چه د قيافے علم صحيح دے ، او د دے موافق ګمان کيدے شي۔

(٣٧٥٨) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّهُ قَالَ ذُكِرَ التَّلَاعُنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَاصِمُ ابْنُ عَدِيٍّ فِيْ ذٰلِكَ قَوْلًا ثُمَّ انْصَرَفَ فَاَتَاهُ رَجُلٌ مِّنْ قَوْمِهٖ يَشْكُوْا اِلَيْهِ اَنَّهُ وَجَدَ مَعَ اَهْلِهٖ رَجُلًا فَقَالَ عَاصِمٌ مَّا ابْتُلِيْتُ بِهٰذَا اِلَّا بِقَوْلِيْ فَذَهَبَ بِهٖ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخْبَرَهُ بِالَّذِيْ وَجَدَ عَلَيْهِ امْرَاَتَهُ وَكَانَ ذٰلِكَ الرَّجُلُ مُصْفَرًّا قَلِيْلَ اللَّحْمِ سَبْطَ الشَّعْرِ وَكَانَ الَّذِيْ ادَّعٰى عَلَيْهِ اَنَّهُ وَجَدَ عِنْدَ اَهْلِهٖ خَدْلًا اٰدَمَ كَثِيْرًا اللَّحْمِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَللّٰهُمَّ بَيِّنْ فَوَضَعَتْ شَبِيْهًا بِالرَّجُلِ الَّذِيْ ذَكَرَ زَوْجُهَا اَنَّهُ وَجَدَهُ عِنْدَهَا فَلَاعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا فَقَالَ رَجُلٌ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فِي الْمَجْلِسِ اَهِيَ الَّتِيْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ رَجَمْتُ اَحَدًا بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ رَجَمْتُ هٰذِهٖ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا لَا تِلْكَ امْرَاَةٌ كَانَتْ تُظْهِرُ فِي الْاِسْلَامِ السُّوْءَ . [بخاري ، نسائي]

ترجمه: دابن عباس رضى الله تعالى عنهما نه روايت دے چه د رسول اللهﷺ په خوا کښے دلعان ذکر اوشو، عاصم بن عديؓ په دے کښے څه اووے، بيا هغوئؓ لاړو، پس د هغوئؓ خواله د هغوئ دقوم يو سړے راغے او شکايت ئے اوکړو چه هغوئ دخپلے بى بى سره يو سړے او ليدو، عاصمؓ وائى زۀ په دے بلا کښے مبتلا شوم دخپلے خبرے په وجه سره، بيا عاصمؓ د هغه سره درسول اللهﷺ خواله راغے، او هغه سړى تول حال حضرتﷺ ته بيان کړو د هغه سړى زير رنګ ، دغونبے نه خوار او نيغو ويښتو والا وو، او په چا چه ئے دعوه کړه وه هغه دغونبے نه آباد ، پنډ ور، غنم رنګے او ښورب وو، جناب رسول اللهﷺ او فرمائيل الله تۀ ئے ښکاره کړه، پس هغه ښځے بچے او زيږوو چه مشابه وو د هغه سړى چه په چا باندې تهمت وو، بيا رسول اللهﷺ د هغوئ دوارو په مينځ کښے لعان اوکړو، يو سړى اووے ، اے ابن عباسؓ اے دا ښځه هغه ښځه وه د چا په

باره کښې چه جناب رسول اللهﷺ فرمائیلي وو کچرې ما چالره بغیر دګواهانو نه سنګسار کولې نو دا ښځه به م سنګسار کړې وه، ابن عباس رضی الله تعالی عنهما اووې نۀ هغه بله ښځه وه چه په مسلمانانو کښې په بدئ سره مشهوره وه(یعنی خلقو به وئیلو چه دا فاحِشه ده نۀ پرې ګواه وو او نۀ پر چا اقرار کړې وو)

(۳۷۵۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّهُ قَالَ ذُكِرَ الْمُتَلَاعِنَانِ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اللَّيْثِ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ كَثِيْرًا الْلَّحْمِ قَالَ جَعْدًا قَطِطًا. [راجع: ۳۷۵۸]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه دتیر شوی پورته روایت په شان روایت دې، په دې کښې دومره زیاته ده چه هغه سړې دچاسره چه تهمت وو خورب او سختو ګکرو وینښتو والا وو.

(۳۷۶۰) عَنِ الْقَاسِمِ ابْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ شَدَّادٍ وَّذُكِرَ الْمُتَلَاعِنَانِ عِنْدَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَقَالَ ابْنُ شَدَّادٍ هُمَا الَّذَانِ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ كُنْتُ رَاجِمًا اَحَدًا بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ لَرَجَمْتُهَا؟ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا لَا تِلْكَ امْرَاَةٌ اَعْلَنَتْ قَالَ ابْنُ اَبِيْ عُمَرَ فِيْ رِوَايَتِهِ عَنِ الْقَاسِمِ ابْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دقاسم بن محمدؒ نه روایت دې دابن عباس رضی الله تعالی عنهما په مخکښې دلعان والا وو ذکر اوشو نو عبدالله بن شداد اووې هم په دغې کښې هغه ښځه وه دچا دپاره چه رسول اللهﷺ فرمائیلي وو کچرې ما چالره بغیر دګواهانو نۀ رجم کولې، نو دا ښځه به م رجم کړې وه، ابن عباس رضی الله تعالی عنهما اووې نۀ هغه ښځه بله ده، کومه چه علانیه بدکاره وه.

(۳۷۶۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ سَعْدَ ابْنَ عُبَادَةَ الْاَنْصَارِیَّ قَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَرَاَیْتُ الرَّجُلَ یَجِدُ مَعَ امْرَاَتِهٖ رَجُلًا یُقْتُلُهٗ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا قَالَ سَعْدٌ بَلٰى وَالَّذِیْ اَكْرَمَكَ بِالْحَقِّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوْٓا اِلٰى مَا یَقُوْلُ سَیِّدُكُمْ. [ابوداود، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه سعد بن عبادهؓ انصاریؓ (دانصارو رئیس) وئیلې دی کچرې یو سړې دخپلې بی بی سره څوك سړې اووینی (په زنا کولو سره) ایا هغه به وژنی؟ رسول اللهﷺ او فرمائیل نۀ، سعدؓ اووې نه به ئې وژنی؟ قسم دې په هغه رب چا چه لره په رښتیا سره عزت در کړې دې، رسول اللهﷺ او فرمائیل (نورو اصحابوؓ ته) واورئ

ستاسو سردار څه وائی ، (یعنی حیران یمه دویٔ ته چه داسے خبره کوی دالله تعالی دحکم په مخکښ طبعیت او غصے لره دخل ورکول نهٔ دی پکار۔)

فائده: دسعدٌ دا وئیل دمخالفت په طور سره نهٔ وو ولے چه مخالفت دپیغمبر ﷺ کفر دے بلکه دطبیعت او غیرت په جوش سره وو۔

(۳۷۶۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ سَعْدَ ابْنَ عَبَادَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ یَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنْ وَّجَدْتُّ مَعَ امْرَاَتِیْ رَجُلًا اُمْهِلُهٗ حَتّٰی اٰتِیَ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ ؟ قَالَ نَعَمْ. [ابوداود]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه سعد بن عبادةؓ اووے چه یا رسول الله ﷺ که زهٔ دخپلے ښځے سره غیر سړے اووینم نو اے هغه ته به مهلت ورکوم دڅلورو گواهانو دحاضرو لو پورے؟ حضرتؐ او فرمائیل هاں۔

(۳۷۶۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ سَعْدُ ابْنُ عَبَادَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَا رَسُوْلَ اللهِ لَوْ وَجَدْتُ مَعَ اَهْلِیْ رَجُلًا لَمْ اَمَسَّهٗ حَتّٰی اٰتِیَ بِاَرْبَعَةِ شُهَدَآءَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ قَالَ کَلَّا وَالَّذِیْ بَعَثَکَ بِالْحَقِّ اِنْ کُنْتُ لَاُعَاجِلُهٗ بِالسَّیْفِ قَبْلَ ذٰلِکَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اسْمَعُوْٓا اِلٰی مَا یَقُوْلُ سَیِّدُکُمْ اِنَّهٗ لَغَیُوْرٌ وَّاَنَا اَغْیَرُ مِنْهُ وَاللهُ اَغْیَرُ مِنِّیْ.

ترجمه: دِ حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نهٔ روایت دے ، چه سعد بن عبادةؓ لووے یَا رَسُوْل الله! چه زهٔ دخپلے ښځے سره څوك سړے اووینم نوزهٔ په هغه لاس نهٔ لگوم دکومے پورے چه م څلور گواهان نهٔ وی راوستے؟ حضرتؐ اوفرمائیل بے شکه!سعداووے هر گز نهٔ ، زهٔ خو قسم کورم په هغه ذات چا چه ته په حقه سره رالیږلے ئے ، د دے نه مخکښ به زرد هغه علاج په توره سره اوکړم،رسول الله ﷺ اوفرمائیل واورئ ستاسو سردار څه وائی هغویؓ ډیر غیرت والا دے او زهٔ د هغویؓ نه زیات غیر تناك یم او الله جل جلاله څمانه زیات غیرت لرونکے دے۔

فائده: یعنی منع کوی خپلو بندیگانو لره دگناهونو نه او بد گنړی گناهونو لره، نوویؓ وئیلے دی دا تاویل ئے څکه اوکړو چه غیرت بندیگانو په حق کښے تغیر او حرکت دے، او دا محال دے دالله جل شانه په حق کښے۔

(۳۷۶۴) عَنِ الْمُغِیْرَةَ ابْنِ شُعْبَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ سَعْدُ ابْنُ عُبَادَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَوْ رَاَیْتُ

رجلًا مع امرأتي لضربته بالسيف غير مصفحٍ عنه فبلغ ذلك النبيَّ صلى الله عليه وسلم فقال أتعجبون من غيرة سعد فوالله لانا اغير منه والله اغير مني من اجل غيرة الله حرّم الفواحش ما ظهر منها وما بطن ولا شخص اغير من الله، ولا شخص احب اليه العذر من الله من اجل ذلك بعث الله المرسلين مبشرين ومنذرين ولا شخص احب اليه المدحة من الله من اجل ذلك وعد الله الجنة. [بخاری]

ترجمه: دمغيره بن شعبه نه روايت دے چه سعد بن عبادهؓ اووے چه كچرے زۀ دخپلے بی بی سره څوك سړے او وينم نو په توره بدنے اووهم چرته به نے هم پرينږدم. دا خبر رسول اللهﷺ ته اورسيدو، حضرتؐ ورته او فرمائيل تاسو دسعدؓ غيرت ته حيرانيږئ. په الله قسم دے چه زۀ دهغویؓ نه زيات غيرتی يم او الله جل شانۀ ځما نه زيات غيرتی دے. حرام كړے دی الله دے شرمی خبرو لره پټے او ښكاره دهغه دغيرت دوجے نه. او يو سړے دالله تعالی نه زيات غيرتی نشته دے او دالله تعالی نه زيات څوك عذرپسند نشته دے. ځكه الله تعالی پيغمبرانو لره راليږلی دی زيرے وركونكی او ويره وُنكی (ددے دپاره چه بنديګان دسزاء نه مخكښے دهغه په درګاه كښے عذر اوكړی او توبه او باسی) او هيڅوك دالله تعالی نه زيات تعريف پسند نشته دے ځكه الله تعالی دجنت وعده كړے ده (ددے دپاره چه بنديګان دهغه تعريف او عبادت اوكړی او جنت حاصل كړی)

(۳۷۶۶) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ مِّنْ بَنِیْ فَزَارَةَ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنَّ امْرَاَتِیْ وَلَدَتْ غُلَامًا اَسْوَدَ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَكَ مِنْ اِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَمَآ اَلْوَانُهَا قَالَ حُمْرٌ قَالَ هَلْ فِيْهَا مِنْ اَوْرَقَ قَالَ اِنَّ فِيْهَا لَوُرْقًا قَالَ فَاَنّٰی اَتَاهَا ذٰلِكَ؟ قَالَ عَسٰی اَنْ يَّكُوْنَ نَزَعَهٗ عِرْقٌ قَالَ وَهٰذَا عَسٰی اَنْ يَّكُوْنَ نَزَعَهٗ عِرْقٌ. [نسائی]

ترجمه: دابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے، چه دبنی فزاره يو سړے درسول اللهﷺ خواله راغے او اوئے ويل چه ځما ښځے يو تور بچی زيږولے دے (نو هغه ځمانۀ معلوميږی ولے چه زۀ تور نۀ يم) رسول اللهﷺ او فرمائيل ستا اوښان شته؟ هغویٔ اووے هاں! حضرتؐ او فرمائيل دهغویٔ رنګ څنګه دے؟ هغویٔ اووے سُرخ دی حضرتؐ او فرمائيل چه هغے كښی يو خاكی هم دے؟ هغه اووے هاں خاكی پكښی هم شته. حضرتؐ او فرمائيل بيا دارنګ دكوم ځائے

نه راغې ؟ هغه اووے چرته يورګ به راښکودے وی حضرتؒ او فرمائيل ستا په بچی کښے به هم چرته يورګ دارنګ راښکودے وی۔

فائده: يعنی صرف درنګ په مختلف کيدو سره ددے خبرے يقين نۀ شی کيدے چه هلك ستانۀ دے، دملك او هوا په مختلف کيدو سره دبچی رنګ مختلف کيږی، او کله دنيکه دکورنو تاثير پرے هم پرے وځی، نوویؒ وئيلے دی کچرے دے پلار مور دواړو رنګ سپين وی او دهلك رنګ توروی، يا پلار او مور دواړه تور وی او هلك سپين وی بيا به هم دهلك نسب دپلار دطرفنه وی او دشك په قذف کولو سره قذف نه شی کيدے، او دغه قول دے دامام شافعیؒ۔

(۳۷۶۷) عَنِ الزُّهرِیّ بِهٰذَ الْاِسْنَادِ نَحْوَ حَدِیثِ ابْنِ عُیَیْنَةَ غَیْرَ اَنَّ فِیْ حَدِیْثِ مَعْمَرٍ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللهِ وَلَدَتِ امْرَاَتِیْ غُلَامًا اَسْوَدَ وَهُوَ حِیْنَئِذٍ یُعَرِّضُ بِاَنْ یُّنْفِیَهُ وَزَادَ فِیْ اٰخِرِ الْحَدِیْثِ قَالَ لَمْ یُرَخِّصْ لَهٗ فِی الْاِنْتِفَاءِ مِنْهُ.[نسائی]

ترجمه: زهریؒ د ابن عيينهؒ د حديث په شان روايت کړے دے په دے کښې دومره فرق دے چه اوئے وئيل اے د الله(ج) رسوله ځما ښځے تور هلك زيږولے دے، او ځما اراده ده چه د هغه نه انکار اوکړم او په دويم حديث کښے دومره زياته ده، چه بيا رسول الله ﷺ هغ: ته د انکار کولو اجازت ورنه کړو۔

(۳۷۶۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ اَعْرَابِیًّا اَتٰی رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللهِ اِنَّ امْرَاَتِیْ وَلَدَتْ غُلَامًا اَسْوَدَ وَاِنِّیْ اَنْکَرْتُهٗ فَقَالَ لَهُ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَکَ مِنْ اِبِلٍ قَالَ نَعَمْ قَالَ مَا اَلْوَانُهَا قَالَ حُمْرٌ قَالَ فَهَلْ فِیْهَا مِنْ اَوْرَقَ؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَنّٰی هُوَ؟ قَالَ لَعَلَّهٗ یَا رَسُوْلَ اللهِ یَکُوْنُ نَزَعَهٗ عِرْقٌ لَهٗ فَقَالَ لَهُ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهٰذَا لَعَلَّهٗ اَنْ یَّکُوْنَ نَزَعَهٗ عِرْقٌ لَهٗ.

[بخاری، ابوداود،]

ترجمه: دابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے، چه رسول الله ﷺ له يو اعرابی راغے او اوئے وئيل يا رسول الله! ځما ښځے تور بچے زيږولے دے او زۀ د هغه نه انکار کوم، نو رسول الله ﷺ هغه ته اوفرمائيل ستاسو سره اوښان شته؟ هغویٰ اووے هان! حضرتؐ اوفرمائيل د هغویٰ رنګ څنګه دے؟ هغه اووے سُور دے حضرتؐ ورته اوفرمائيل چه په هغویٰ کښيه يو تور هم

شته؟ هغه اووے هاں! نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل دا رنګ پکښې د کوم ځائے نه راغے؟ اعرابی اووے چه یا رسول الله ! چرته یو رګ به راښکودے وی ، نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دلته به هم چرته یو رګ (دارنګ)راښکودے وی۔

کِتَابُ الْعِتْقِ .

د غلام ازادولو بیان .

(۳۷۷۰) عَنْ اِبْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِیْ عَبْدٍ فَكَانَ لَهُ مَالٌ یَّبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ قُوِّمَ عَلَیْهِ قِیْمَةُ الْعَدْلِ فَاُعْطِیَ شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَ عَتَقَ عَلَیْهِ الْعَبْدُ وَاِلَّا فَقَدْعَتَقَ مِنْهُ مَا اَعْتَقَ. [بخاری ، ابن ماجه]

ترجمه: د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم بنده چه غلام آزاد کړی د خپلې حصې نه(یعنی چه هغه غلام مشترك وی او یو شراکتی خپل حصّه آزاده کړی)او بیا دَ آزادولو والا سره دومره قدرے مال موجوده وی چه هغه د غلام قیمت ته اورسیٔ،نو د دغې غلام واجبی قیمت به اولګولے شی،او باقی شراکت کونکو ته بَه د هغویٔ د حصې قیمت د هغه دَ مال نه ورکړے شی او غلام به تول د هغه د طرفنه آزاد شی،او کوم چه هغه مالدار نۀ وی نو خومره حصّه چه دَ دغه غلام آزاده شوه دومره بَه آزاد اوسیږی۔

فائده:او د نورو د پاره به هغه غلام د محنت او مزدورئ کولو سره خپل ځان آزادولے شی مګر په ده باندِ به ظلم نۀ وی بلکه خنګه چه په دوئم روایت کښے دی ، او نوویؒ په دے کښے د عالمانو متعدد قولونه ذکر کړے دی۔

(۳۷۷۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِیْ الْمَمْلُوْكِ بَیْنَ الرَّجُلَیْنِ فَیُعْتِقُ اَحَدُهُمَا قَالَ یَضْمَنُ. [بخاری، ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم غلام چه د دوه سړو مشترك وی بیا چه یو د دے دواړو نه خپله حصه آزاده کړی نو هغه به ضامن وی د بل شریك د حصے،(کچرے مالداروی)۔

(۳۷۷۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اَعْتَقَ شِقْصًا لَهُ فِیْ عَبْدٍ

فِخَلاصُهُ فِيْ مَالِهٖ اِنْ كَانَ لَهٗ مَالٌ فَاِنْ لَمْ يَكُنْ لَهٗ اسْتُسْعِيَ الْعَبْدُ غَيْرَ مَشْقُوْقٍ عَلَيْهِ. [راجع : ۳۷۷۲]

ترجمه :د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه خپله حصّه په غلام کښې آزاد کړ د هغه آزادول(یعنی د دویم حصّه هم ازادول)به هم د هغه دا مال نه وی کچرے مالداروی او کچرے مالدار نهٔ وی نو غلام به محنت او مزدوری کوی او په ده باندِ به ظلم نهٔ کیږی۔

فائده:فرض کړه ګلام د زید او عمرو نیم په نیمه مشترك وو زید خپل حصه آزاده کړه نور د زید سره مال نشته نو دَ بردے قیمت به واجبی اولګوی،فرض کړه سل روپئی شوے،اوس دغه غلام به محنت مزدوری اوکړی پنځوس روپئی به عمرو ته ادا کړی نو تول به آزاد شِی ورنه څومره چه ازاد شوے دے دومره آزاد به اوسیږی۔

(۳۷۷۵) عَنْ قَتَادَةَ يُحَدِّثُ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ ابْنِ اَبِيْ عَرُوْبَةَ وَ ذَكَرَ فِي الْحَدِيْثِ قُوِّمَ عَلَيْهِ قِيْمَةَ عَدْلٍ. [راجع: ۳۷۷۲]

ترجمه :قتاده رضی الله تعالی عنه د ابن عروبه د حدیث په مثل روایت کړے دے،او په حدیث کښے ئے دا هم ذکر کړے دی چه د هغه واجبی قیمت به اولګولے شی۔

بَابُ بَيَانِ اَنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ اَعْتَقَ .

باب:ولاء به هغه چا ته میلاویږی چه څوك ئے آزاد کړی .

فائده :والاء یو شرعی حق دے چه هغه ازادونکی ته په خپل غلام باندِ حاصلیږی،او هغه دا دے چه آزاده ونکے د خپل غلام عصبه وارث جوړیږی۔

(۳۷۷۶) عَنْ عَائِشَةَ ؓ اَنَّهَا اَرَادَتْ اَنْ تَشْتَرِيَ جَارِيَةً تُعْتِقُهَا قَالَ اَهْلُهَا نَبِيْعُكِهَا عَلٰى اَنَّ وَلَاءَهَا لَنَا فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا يَمْنَعُكِ ذٰلِكِ فَاِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ اَعْتَقَ. [بخاری، ابوداود ، نسائی]

ترجمه :د مؤمانانو د مور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هغوی ؓ اراده اوکړه دَ یوے وینځے دَ آزادولو،وینځی مالکانو اووے چه مونږ ئے په دے شرط باندِ خرڅوؤ چه دَ ولاء حق به زمونږه وی۔هغوی ؓ رسول الله ﷺ ته بیان اوکړو،حضرتؐ ورته اوفرمائیل تهٔ خپل

کار اوکړه هغه واخله او ولاء هغه چا ته میلاویږي چه څوك ئې آزاده کړي.

(۳۷۷۷) عَنْ عُرْوَةَ اَنَّ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَخْبَرَتْهُ اَنَّ بَرِیْرَةَ جَآءَتْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا تَسْتَعِیْنُهَا فِیْ كِتَابَتِهَا شَیْئًا فَقَالَتْ لَهَا عَآئِشَةُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا ارْجِعِیْ اِلٰی اَهْلِكِ فَاِنْ اَحَبُّوْا اَنْ اَقْضِیَ عَنْكِ كِتَابَتَكِ وَ یَكُوْنَ وَلَاءُكِ لِیْ فَعَلْتُ فَذَكَرَتْ ذٰلِكَ بَرِیْرَةُ لِاَهْلِهَا فَاَبَوْا وَقَالُوْا اِنْ شَآءَتْ اَنْ تَحْتَسِبَ عَلَیْكِ فَلْتَفْعَلْ وَ یَكُوْنُ لَنَا وَلَاءُكِ فَذَكَرَتْ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِبْتَاعِیْ فَاَعْتِقِیْ فَاِنَّمَا الْوَلَآءُ لِمَنْ اَعْتَقَ ثُمَّ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا بَالُ اُنَاسٍ یَشْتَرِطُوْنَ شُرُوْطًا لَیْسَتْ فِیْ كِتَابِ اللّٰهِ مَنِ اشْتَرَطَ شَرْطًا لَیْسَ فِیْ كِتَابِ اللّٰهِ فَلَیْسَ لَهٗ وَاِنْ شَرَطَ مِائَةَ مَرَّةٍ شَرْطُ اللّٰهِ اَحَقُّ وَاَوْثَقُ.[بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دعروه رضی الله عنه نه روایت دے چه بریرهؓ دمومنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها خواله راغله دمدد غوښتلو دپاره په بدل کتابت کښ (او هغے دخپلو لیکلونه څه اداکړی نۀ وو(بلکه ټولے روپئ باقی پاتے وے) حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها هغے ته اووے، تۀ دَ خپلو خلقو ته لاړه شه او کچرے هغوئ ته منظوره وی نو زه به ټولے روپئ ستا دکتابت اداکړم خو بیا به ستا ولاء ماته میلاویږی بریره رضی الله عنها خپلو مالکانو ته اووے خو هغوئ اونۀ منل، او اوئے ونیل کچرے حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها غواړی نو ستا سره دسلوك اوکړی، لیکن ولاء خوبه مونږ اخلو . حضرت عائشےؓ ددے ذکر رسول اللهﷺ ته بیان کړو، حضرتؐ ورته او فرمائیل ته ئے واخله او آزاده ئے کړه . ولاء هغه چاته میلاویږی چه څوك ئے آزاده کړی، بیا رسول اللهﷺ اودریدو او اوئے فرمائیل څه حال دے دخلقو چه هغه هغه شرطونه لګوی چه هغه دالله تعالی په کتاب کښ نشته دے، څوك چه داسے شرط کوی هغه لغوه دے اګر چه سل واره دهغے شرط اوکړی، شرط هغه درست او مضبوط دے کوم چه الله تالی لګولے دے.

فائده : کتابت ونیلے شی دغلام یا وینځی دځه مقرر شوؤ روپو په ادا کولو سره دهغوئ ازادئ معلق کولو ته . مثلاً مالك خپل غلام ته او وائی ، تۀ دومره قدرے روپئ په مکاتب شولو ، او کومے روپئ ئے چه مقرر کړے دی هغه به بدل دکتابت وی.

نووی علیه الرحمة وئیلے دی چه دا حدیث ډیر لوئے حدیث دے، او ددے نه ډیر مسائیل علمائے کرامو را ویستلی دی، بیائے بیان کړی دے تولو لره په ډیر لوئے او ګداوالی سره.

(۳۷۷۸) عَنْ عَآئِشَةَ زَوْجِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ علیه وَسلَّم انها قَالَتْ جآءَتْ بَرِیْرَةُ اِلَیَّ فَقَالَتْ یا عَآئِشَةُ اِنِّیْ کَاتَبْتُ اَهْلِیْ عَلٰے تِسْعِ اَوَاقٍ فِیْ کُلِّ عامٍ اَوْقِیَةٌ بِمَعْنٰی حَدِیْثِ اللَّیْثِ وزادَ فقالَ لا یَمْنَعُکِ ذٰلِکِ مِنْهَا اِبْتَاعِیْ وَاَعْتِقِیْ وَقَالَ فِیْ الْحَدِیْثِ ثُمَّ قَامَ رَسُوْلُ اللهِ صلی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسلَّم فِیْ النَّاسِ فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰی عَلَیْهِ ثُمَّ قَالَ اَمَّابَعْدُ . [بخاری]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عآئشے رضی الله عنها نه روایت دے چه بریره څما خواله راغله او اوئے وئیل چه اے عآئشے ؓ ما دخپلو دمالکانو سره کتابت کړے دے په نهه اوقیه باندِ په هر کال کښ په یوه اوقیه (یعنی خلوینبت)ډرم) هغه شان لکه چه پورته تیر شو، په دے روایت کښ دومره زیاته ده چه جناب رسول ﷺ حضرت عائشے رضی الله عنها ته او فرمائیل دهغوئ په وینا سره تۀ خپله اراده مۀ پریږده واخله ئے او آزاده ئے کړه، او په دے روایت کښے دادی چه بیا جناب رسول الله ﷺ دخلقو په مینځ کښے او دریدو او دالله تعالی حمد وثنائے اوکړه . او ورستو ددے نه ئے او فرمائیل ! څه حال دے دخلقو .... داخره پورے.

(۳۷۷۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَتْ عَلَیَّ بَرِیْرَةُ فَقَالَتْ اِنَّ اَهْلِیْ کَاتَبُوْنِیْ عَلٰی تِسْعِ اَوَاقٍ فِیْ تِسْعِ سِنِیْنَ کُلَّ سَنَةٍ اُوْقِیَّةٌ) فَاَعِیْنِیْنِیْ فَقُلْتُ لَهَا اِنْ شَآءَ اَهْلُکِ اَنْ اَعُدَّهَا لَهُمْ عُدَّةً وَاحِدَةً وَّاُعْتِقُکِ وَیَکُوْنُ الْوَلَآءُ لِیْ فَعَلْتُ فَذَکَرَتْ ذٰلِکَ لِاَهْلِهَا فَاَبَوْا اِلَّا اَنْ یَّکُوْنَ الْوَلَآءُ لَهُمْ فَاَتَتْنِیْ فَذَکَرَتْ ذٰلِکَ قَالَتْ فَانْتَهَرْتُهَا فَقَالَتْ لَاهَا وَاللهِ اِذًا قَالَتْ فَسَمِعَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَاَلَنِیْ فَاَخْبَرْتُهٗ فَقَالَ اشْتَرِیْهَا وَاَعْتِقِیْهَا وَاشْتَرِطِیْ لَهُمُ الْوَلَآءَ فَاِنَّ الْوَلَآءَ لِمَنْ اَعْتَقَ فَفَعَلْتُ قَالَتْ ثُمَّ خَطَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَشِیَّةً فَحَمِدَ اللهَ وَاَثْنٰی عَلَیْهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهٗ ثُمَّ قَالَ اَمَّا بَعْدُ فَمَا بَالُ اَقْوَامٍ یَّشْتَرِطُوْنَ شُرُوْطًا لَیْسَتْ فِیْ کِتَابِ اللهِ تَعَالٰی مَاکَانَ مِنْ شَرْطٍ لَیْسَ فِیْ کِتَابِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ فَهُوَ بَاطِلٌ وَّاِنْ کَانَ مِائَةَ شَرْطٍ کِتَابُ اللهِ اَحَقُّ وَشَرْطُ اللهِ اَوْثَقُ مَا بَالُ رِجَالٍ مِّنْکُمْ یَقُوْلُ اَحَدُهُمْ اَعْتِقْ فُلَانًا وَالْوَلَآءُ لِیْ اِنَّمَا الْوَلَآءُ لِمَنْ اَعْتَقَ .[بخاری]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عآئشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے ، چه بریرهٔ څما

خواله راغله او دائے اووے څما مالکانو زۀ مکاتبه کړے یمه، په نهه او قیه باندې. په هر کال کښے په یوه اوقیه نو تۀ څما مدد اوکړه، ما اووے کچرے ستا مالك راضی وی نو زۀ به دا ټول رقم په یو ځائے درکړم او تا به آزاده کړم. لیکن ستا ولاء به زۀ اخلم. بریره رضی الله تعالی عنها دغه خبرے ذکر خپلو مالکانو ته اوکړو، هغوئ او نۀ منلو. او دائے اووے چه ولاء به مونږ اخلو. بیا بریره څما خواله راغله او دا بیان ئے اوکړو ما هغه او رټله هغوئ اووے قسم په خدائے که داسے نۀ وی، حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وائی دا جناب رسول اللهﷺ واوریدو او څمانه ئے تپوس اوکړو او ما ورته ټول حال بیان کړو حضرتؐ او فرمائیل ته ئے وخله او آزاده ئے کړه او دولاء شرط دهغوئ دپاره اوکړه ولے چه ولاء هغه چاته میلاویږی چه څوك ئے آزاده کړی. ما دغه شان اوکړو، ددے نه پس رسول اللهﷺ دمابنام په وخت خطبه ولوسته او دالله تعالی تعریف او ثنائے بیان کړه لکه څنگه چه هغه لره ښائی بیائے او فرمائیل ورستو ددے نه څه حال دے دخلقو چه هغه هغه شرطونه لگوی چه هغه دالله تعالی په کتاب کښ نشته دے، او کوم شرط چه دالله تعالی په کتاب کښے نشته دے هغه باطل دے. او کۀ که سل ځله ئے شرط کړے وی دالله تعالی کتاب حق او دهغه شرط مضبوط دے څه حال دے ستاسو نه دځنے خلقو په وائی آزاده ئے تۀ کړه او ولاء به ئے مونږ اخلو حالانکه ولاء هغه چاته میلاویږی چه څوك ئے آزاد کړی۔

(۳۷۸۰) عَنْ هِشَامِ ابْنِ عُرْوَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوُحَدِیْثِ اَبِیْ اُسَامَةَ غَیْرَ اَنَّ فِیْ حَدِیْثِ جَرِیْرٍ قَالَ وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا فَخَیَّرَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ یُخَیِّرْهَا وَلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِهِمْ اَمَّا بَعْدُ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: ترجمه ددے دویم روایت هم داسے ده څنگه چه تیره شوه پورته. په دے کښ دومره زیاته ده چه دَ بریره خاوند غلام وو څکه رسول اللهﷺ بریره ته اختیار ورکړو (هر کله چه هغه آزاده شوه خواه که دهغه سره نکاح قاء، ساتی یائے فسخ کوی) هغے خپل نفس لره اختیار کړو(یعنی خاوند ئے غوره نۀ کړو) او کچرے هغه آزادوے نو حضرتؐ به هغے ته اختیار نۀ وو ورکړے، او په دے روایت کښے داما بعد لفظ نشته دے۔

(۳۷۸۱) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ كَانَ فِیْ بَرِیْرَةَ ثَلَاثُ قَضِیَّاتٍ اَرَادَ اَهْلُهَا اَنْ یَّبِیْعُوْهَا

وَيَشْتَرِطُوْا وَلَاءَ هَا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اشْتَرِيْهَا وَاعْتِقِيْهَا فَإِنَّ الْوَلَاءَ لِمَنْ اَعْتَقَ وَعَتَقَتْ فَخَيَّرَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا قَالَتْ وَكَانَ النَّاسُ يَتَصَدَّقُوْنَ عَلَيْهَا وَتُهْدِيْ لَنَا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هُوَ عَلَيْهَا صَدَقَةٌ وَهُوَ لَكُمْ هَدِيَّةٌ فَكُلُوْهُ. [راجع: ۳۷۸۷]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه دبریرهؓ په مقدمه کښې درے خبرے پیداشولے، یوه خودا چه دهغې مالکانو هغې لره خرخول غوښتل او دولاء شرط ئے دځان دپاره کول غوښتل، ما جناب رسول اللهﷺ ته بیان اوکړو، حضرتؐ ماته او فرمائیل تهٔ دولاء شرط دهغوئ دپاره اوکړه او آزاده ئے کړه، ولاء هغه چاته میلاویږی چه آزاده ئے کړی، دویمه دا چه هر کله ما دآزاده کړه، نو رسول اللهﷺ ده لره اختیار ورکړو دخپل خاوند(مغیث) په باب کښې هغې خپل نفس لره اختیار کړو او خاوندئے غوره نهٔ کړو دریمه دا چه خلقو به بریرهؓ ے لهٔ صدقه ورکوله او هغې به مونږ ته په هدیه کښې رالیږله، ماددے ذکر جناب رسول اللهﷺ ته اوکړو حضرتؐ او فرمائیل دا په هغې باندِ صدقه ده او زمونږ دپاره هدیه ده پس خوره دے لره۔

(۳۷۸۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا اِنَّهَا اشْتَرَتْ بَرِيْرَةَ مِنْ اُنَاسٍ مِنَ الْاَنْصَارِ وَاشْتَرَطُوْا الْوَلَاءَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْوَلَاءُ لِمَنْ وَّلِيَ النِّعْمَةَ وَخَيَّرَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ زَوْجُهَا عَبْدًا وَاَهْدَتْ لِعَائِشَةَ لَحْمًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ صَنَعْتُمْ لَنَا مِنْ هٰذَا اللَّحْمِ قَالَتْ عَائِشَةُ تُصُدِّقَ بِهِ عَلٰى بَرِيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا فَقَالَ هُوَ لَهَا صَدَقَةٌ وَلَنَا هَدِيَّةٌ. [راجع: ۳۷۸۸]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هغوئ بریرهؓ دانصارو دخلقو نه واخسته، او دهغې دمالکانو سره ئے دولاء شرط اوکړولو، رسول اللهﷺ او فرمائیل چه ولاء به هغه چاته میلاویږی چه هغه والی شی دنعمت (یعنی آزاده ئے کړی) او اختیار ورکړو جناب رسوا اللهﷺ هغه ته دخپل خواند په مقدمه کښې چه دهغې خاوند غلام وو، او بریرېؓ دحضرت عائشې صدیقې رضی الله تعالی عنها دپاره دغوښې یو ټکړه اولیږله رسول اللهﷺ او فرمائیل، کاش زمونږ دپاره دهم ددے نه څه لږه غوښه جوړه کړے وے،

حضرت عائشےؓ اووے هغه غوښه په صدقه کښے میلاؤ ده بریرےؓ ته (او په تا بانډ صدقه حرامه ده) حضرتؐ او فرمائیل چه بریرةؓ بانډ صدقه ده او زمونږ دپاه هدیه ده (نو مونږ لره ددے خوړل درست دی)۔

(۳۷۸۴) عن عائشة رضی الله تعالی عنها انّها ارادت ان تشتری بریرة للعتق فاشترطوا ولاء ها فذکرت ذٰلک لرسول الله صلّے الله علیه وسلّم فقال اشتریها و اعتقیها فانّ الولاء لمن اعتق و اهدی لرسول الله صلّے الله علیه وسلّم لحم فقالوا للنّبیّ صلّے الله علیه وسلّم هذا تصدّق علی بریرة فقال هو لها صدقة وهو لنا هدیّة و خیّرت فقال عبد الرّحمٰن و کان زوجها حرًّا قال شعبة ثمّ سألته عن زوجها فقال لا ادری.

ترجمه:دَ مؤمنانو د مور د حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه هغویؓ اراده اوکړه دَ بریرةؓ دَ اخستلو او آزادولو د پاره لیکن د هغے مالکانو دَ ولاء شرط اولګوؤ د خپل ځان د پاره،مَا رسول الله ﷺ ته د دے بیان اوکړو،حضرتؐ ما ته اوفرمائیل واخله ئے او آزاده ئے کړه،ولاء هغه چا ته میلاویږی چه څوك ئے آزاده کړی،او رسول الله ﷺ له څه حصه د غوښے راوړے شوه،خلقو اووے یا رسول الله!دا غوښه په صدقه کښے میلاؤ ده بریرةؓ ته حضرتؐ اوفرمائیل د هغےؓ د پاره صدقه ده،او زمونږ د پاره هدیه ده ، او بریرةؓ ته اختیار ورکړے شوے وو د هغے د خاوند په مقدمه کښ، عبدالرحمٰنؒ وائی د هغے خاوند آزاد وو،شعبهؒ بیا ما دَ عبدالرّحمٰنؒ نه د هغےؓ د خاوند دَ حال تپوس اوکړو،هغویؒ اووے ما ته معلومات نشته دے،(نو دَ ازادیدو روایت د اعتبار قابل پاتے نهٔ شو)۔

(۳۷۸۵) عن عائشة قالت کان زوج بریرة عبدًا . [راجع : ۳۷٦۵]

ترجمه:د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه دَ بریرةؓ خاوند غلام وو۔

فائده :نووی علیه الرحمة وئیلے دی چه اجماع ده دَ عالمونو په دے بانډ چه هر که وینځه آزاده شی او د هغے خاوند غلام وی نو وینځی له به اختیار وی که غواړی نکاح فسخ کوی او که باقی ئے ساتی،او کچرے د هغے خاوند آزادوی نو ښځے ته به اختیار نهٔ وی ، دغه قول دے د مالكؒ او شافعیؒ او جمهورو عالمانو،او دَ ابو حنیفهؒ په نزد کچرے خاوند آزادوی خو هم به

ئې ښځې ته اختیار دی،او دلیل د ابو حنیفهؒ هغه روایت دے د مسلم چه په هغې کښې ذکر دی چه د بریرهؓ خاوند آزاد وو،لیکن هغه روایت دَ اعتبار قابل نهٔ دے ،ځکه چه شعبهؒ چه هر کله په دویم ځل د عبدالرحمن نه تپوس اوکړو،نو هغویؒ اووے چه ما ته نهٔ ده معلومه،او مشهورو روایتونو دغه دی ، چه د هغې خاوند غلام وو.حافظانو د حدیث وئیلی دی چه د هغه دَ ازادیدو روایت غلط او شاذ او مردود دے ، او دَ مشهورو او ثقاتو د روایت نه خلاف دے۔

(۳۷۸۶) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ کَانَ فِیْ بَرِیْرَةَ ثَلَاثُ سُنَنٍ خُیِّرَتْ عَلٰی زَوْجِهَا حِیْنَ عُتِقَتْ وَ اُهْدِیَ لَهَا لَحْمٌ فَدَخَلَ عَلَیَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَالْبُرْمَةُ عَلَی النَّارِ فَدَعَا بِطَعَامٍ فَاُتِیَ بِخُبْزٍ وَّ اُدْمٍ مِنْ اُدْمِ الْبَیْتِ فَقَالَ اَلَمْ اَرَ بُرْمَةً عَلَی النَّارِ فِیْهَا لَحْمٌ فَقَالُوْا بَلٰی یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ذٰلِکَ لَحْمٌ تُصُدِّقَ بِهٖ عَلٰی بَرِیْرَةَ فَکَرِهْنَا اَنْ نُّطْعِمَکَ مِنْهُ فَقَالَ هُوَ عَلَیْهَا صَدَقَةٌ وَهُوَ مِنْهَا لَنَا هَدِیَّةٌ وَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْهَا اِنَّمَا الْوَلَآءُ لِمَنْ اَعْتَقَ. [راجع : ۳۷۸۹]

ترجمه:د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دت چه دَ بریرهؓ په وجه سره درے خبرے معلومے شولے،یوه خوا دا چه هغې ته اختیار میلاؤ شو د خپل خاوند په مقدمه کښې هر کله چه آزاده شوه ، دویمه دا چه هغې ته غوښه میلاؤ شونو رسول الله ﷺ ځما خواله راغے او په کټوئ کښې غوښه په اور باندې پرته وه،او حضرتؐ طعام اوغوښتو نو ډوډئ او د کور کچه سالن ورته مخکښې کیښودے شو،حضرتؐ اوفرمائیل غوښه خو په کټوئ کښې په اور باندې پرته وه، خلقو اووے بیشکه یا رسول الله! مګر دغه غوښه دصدقے ده چه بریرهؓ ته میلاؤ شوے ده، مونږ ته ښه نهٔ معلومیده چه ددے نه په تا او خورو وو. حضرتؐ او فرمائیل هغه دهغې دپاره صدقه ده، او دهغې دطرفنه زمونږ دپاره هدیه ده. دریمه دا چه هر کله رسول اللهﷺ او فرمائیل دبریرهؓ په باب کښې چه ولاء به هغه چاته میلاویږی چه څوك ئې آزاده کړی۔

(۳۷۸۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَرَدْتُّ عَآئِشَةُ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنْ تَشْتَرِیَ جَارِیَةً تُعْتِقُهَا فَاَبٰی اَهْلُهَا اِلَّا اَنْ یَّکُوْنَ لَهُمُ الْوَلَآءُ فَذَکَرَتْ ذٰلِکَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا یَمْنَعُکِ ذٰلِکِ فَاِنَّمَا الْوَلَآءُ لِمَنْ اَعْتَقَ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها لراده

اوکړه دیوے وینځے دخستلو او آزادولو دهغه مالکانو او نهٔ منله مګر په دے شرط ئے قبوله کړه چه ولاء به هغوئ ته میلاویږی هغوئ جناب رسول اللهﷺ ته بیان اوکړو، حضرتﷺ او فرمائیل تهٔ دخپلے ارادے نه مهٔ واپس کیږه، او ولاء هغه چاته میلاویږی چه څوک ئے آزاد کړی۔

بَابُ النَّهْيِ عَنْ بَيْعِ الْوَلَآءِ وَهِبَتِهٖ.

باب: دے په بیان دمنع والي دخوځولو دولاء او هبه کولو دهغے نه۔

(۳۷۸۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الْوَلَآءِ وَعَنْ هِبَتِهٖ.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نهٔ روایت دے، چه رسول اللهﷺ منع فرمائیلے ده دولاء دبیعے او هبه کولو ته۔

فائده: نوویؒ وئیلے دی ددے حدیث نه دولاء دبیعے او هبے حرام والے ښکاره شو، او دا ظاهره شوه چه دهغے بیعه او هبه صحیح نهٔ ده، او ولاء دخپل مستحق دطرفنه هیڅ چاته نهٔ منتقل کیږی، بلکه ولاء یوه رشته ده دخاندان درشتے په شکل، او دجمهورو عالمانو دغه قول دے مګر څنے سلفو ددے نقل جائش کړے دے، او کیدے شی دا حدیث هغوئ ته نهٔ وی رسیدلے۔

باب تَحْرِيْمِ تَوَلِّى الْعَتِيْقِ غَيْرَ مَوَالِيْهِ.

باب دخپل آزادونکی نه سوا بل څوک مولی نهٔ شی جوړیدے۔

(۳۷۹۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ كَتَبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى كُلِّ بَطْنٍ عُقُوْلَهٗ ثُمَّ كَتَبَ اَنَّهٗ لَا يَحِلُّ اَنْ يَتَوَلّٰى مَوْلٰى رَجُلٍ مُسْلِمٍ بِغَيْرِ اِذْنِهٖ ثُمَّ اُخْبِرْتُ اَنَّهٗ لَعَنَ فِيْ صَحِيْفَتِهٖ مَنْ فَعَلَ ذٰلِكَ. [راجع: ۳۸۴۴]

ترجمه: دجابر بن عبدالله نه روایت دے چه رسول الله اولیکل چه په هره قبیله بانډِ دے دهغوئ ذیت واجب وی، بیائے اولیکل چه یو مسلمان له داروانهٔ دی چه دبل مسلمان دغلام آقاؤ جوړ شی بغیر دهغوئ داجازت نه، (او په اجازت سره هم درست نهٔ دی او دځنو په نزد درست دی)

نووتی بیا ماته معلومه شوه چه حضرتؐ لعنت اوکړو په هغه چاباندِ څوك چه داسے کوی۔

(۳۷۹۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَوَلّٰی قَوْمًا بِغَیْرِ اِذْنِ مَوَالِیْهِ فَعَلَیْهِ لَعْنَتُ اللّٰهِ وَالْمَلٰئِکَةِ لَا یُقْبَلُ مِنْهُ صَرْفٌ وَّلَا عَدْلٌ.

ترجمه: دابو هریره رضی اللہ تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی چاچه بل څوك موالی اوګرځوؤ بغیر دخپلو مالکانو داجازت نه په هغه باند لعنت دے دالله او دهغه فرښتو نۀ دهغه فرض قبلیږی نۀ نفل ۔

(۳۷۹۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَوَلّٰی قَوْمًا بِغَیْرِ اِذْنِ مَوَالِیْهِ فَعَلَیْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰئِکَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ لَا یُقْبَلُ مِنْهُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ عَدْلٌ وَّلَا صَرْفٌ.[راجع: ۳۳۳۰]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول اللهﷺ فرمائیلی دی، کوم بنده چه مولی جوړ کړی یو قوم لره دخپلو مالکانو نه بے اجازته په هغه باندِ لعنت دے دالله تعالی دفرښتو او دټولو خلقو په ورځ دقیامت باند، نۀ به دهغویٔ فرض قبول شی او نۀ نفل ۔

(۳۷۹۳) عَنْ اِبْرَاهِیْمَ التَّیْمِیِّ عَنْ اَبِیْهِ قَالَ خَطَبَنَا عَلِیُّ ابْنُ اَبِیْ طَالِبٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ مَنْ زَعَمَ اَنَّ عِنْدَنَا شَیْئًا نَقْرَءُهٗ اِلَّا کِتَابَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ وَهٰذِهِ الصَّحِیْفَةَ قَالَ وَصَحِیْفَةٌ مُعَلَّقَةٌ فِیْ قِرَابِ سَیْفِهٖ فَقَدْ کَذَبَ فِیْهَا اَسْنَانُ الْاِبِلِ وَاَشْیَآءُ مِّنَ الْجِرَاحَاتِ وَفِیْهَا قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِیْنَةُ حَرَمٌ مَا بَیْنَ عَوْرٍ اِلٰی ثَوْرٍ فَمَنْ اَحْدَثَ فِیْهَا حَدَثًا اَوْ اٰوٰی مُحْدِثًا فَعَلَیْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰئِکَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ لَا یَقْبَلُ اللّٰهُ مِنْهُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ صَرْفًا وَّلَا عَدْلًا وَذِمَّةُ الْمُسْلِمِیْنَ وَاحِدَةٌ یَّسْعٰی بِهَا اَدْنَاهُمْ وَمَنِ ادَّعٰی اِلٰی غَیْرِ اَبِیْهِ اَوِ انْتَمٰی اِلٰی غَیْرِ مَوَالِیْهِ فَعَلَیْهِ لَعْنَةُ اللّٰهِ وَالْمَلٰئِکَةِ وَالنَّاسِ اَجْمَعِیْنَ لَا یَقْبَلُ اللّٰهُ مِنْهُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ صَرْفًا وَّلَا عَدْلًا.[راجع: ۳۳۲۷]

ترجمه: دابرهیم تیمیؒ نه روایت دے چه هغه دخپل پلارنه اوریدلی دی چه وئیلے ئے وو، خطبه لوستله حضرت علی رضی الله تعالی عنه نو اوئے فرمائیل، کوم سړے چه وائی چه زمونږ سره یو بل کتاب دے چه هغے لره مونږ (اهل بیت) لولو سوادالله تعالی دکتاب نه او دا کتاب او دهغویٔ دتورو چه میان کښے وو، نو هغه دروغ وائی، (ددئے درافضیانو دخیال رد راغے چه رسول اللهﷺ حضرت علیؓ ته هغه) هغه خبرے ښودلے دی چه هغه ئے بل یو اصحابیؓ ته نۀ دی

بنـودلی په دغه کتاب کښې داوښانو دعمرونو بیان وو او دزخمونو ددیت او په هغې کښې داهم وو چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی مدینه حرم دے دعیرنه واخله دثور پورے (ثور خو په مکه کښې دے دا شی احد صحیح وی) کوم بنده چه په دے کښې نوے خبره را او باسی یا چابدعتی له ځائے ورکوی، نو په هغه باندِ لعنت دے دالله تعالی او دفرښتو او دتمامو خلقو دقیامت په ورځ الله تعالی به دقیامت په ورځ الله تعالی به دهغه فرض قبول نۀ کړی نۀ نفل او دمسلمانانو ذمه یوه ده ۔ دلاندِ درجے مسلمان هم ذمه اخستے شی، او کوم بنده چه دخپل پلار مورنه سوا بل څوك پلار مور جوړکړی یا دخپل آقا نه سوا بل څوك آقاجوړکړی نو په هغه باندِ لعنت دے دالله تعالی او دفرښتو او دټولو خلقو دقیامت په ورځ نۀ دهغه فرض قبلیږی او نۀ نفل۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلے دی ددے حدیث شرح دکتاب الحج په آخر کښې تیره شوے ده۔

بَابُ فَضْلِ الْعِتْقِ .

بَابُ: دغلام آزادولو فضیلت

(۳۷۹۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اَعْتَقَ اللهُ بِکُلِّ اِرْبٍ مِّنْهَا اِرْبًا مِّنْهُ مِنَ النَّارِ. [بخاری ، ترمذی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم بنده چه آزاد کړی مسلمان مرئی لره الله تعالی دهغه دهر اندام په بدله دآزادونی هر اندام به آزادکړی ددوزخ داورنه۔

(۳۷۹۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رضی اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ اَعْتَقَ رَقَبَةً مُّؤْمِنَةً اَعْتَقَ اللهُ بِکُلِّ عُضْوٍ مِّنْهَا عُضْوًا مِّنْ اَعْضَائِهٖ مِنَ النَّارِ حَتّٰی فَرْجَهٗ بِفَرْجِهٖ. [راجع : ۳۷۹۰]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نۀ روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائلی دی کوم بنده چه مسلمان غلام آزاد کړی. الله تعالی به دهغه دهر اندام په بدله دآزاده ونکی هر اندام ددوزخ داور نه آزادکړی، تر دے پورے چه شی مگاه دشرم گاه په بدله۔

(۳۷۹۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ مَنْ اَعْتَقَ

رَقَبَةً مُؤْمِنَةً اَعْتَقَ اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِّنْهُ عُضْوًا مِّنَ النَّارِ حَتّٰى يَعْتِقَ فَرْجَهُ بِفَرْجِهِ. [راجع :٣٧٩٥]

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه جناب رسول اللهﷺ فرمائيلی دی، کوم بنده چه آزاد کړی مسلمان غلام لره . الله تعالی به دهغه هر اندام لره دغلام دهر اندام په بدله دجهنم داور نه آزادکړی. تردے پورے چه دهغه شرمګاه لره هم دغلام دشرمګاه په بدله۔

(٣٧٩٨) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا امْرِءٍ مُّسْلِمٍ اَعْتَقَ امْرَأً مُّسْلِمًا اِسْتَنْقَذَ اللّٰهُ بِكُلِّ عُضْوٍ مِّنْهُ عُضْوًا مِّنْهُ مِنَ النَّارِ قَالَ فَانْطَلَقْتُ حِيْنَ سَمِعْتُ الْحَدِيْثَ مِنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَذَكَرْتُهُ لِعَلِىِّ ابْنِ الْحُسَيْنِ فَاَعْتَقَ عَبْدًا لَّهُ قَدْ اَعْطَاهُ بِهِ ابْنُ جَعْفَرٍ عَشَرَةَ آلَافِ دِرْهَمٍ اَوْ اَلْفَ دِيْنَارٍ. [راجع : ٣٧٩٥]

ترجمه:د حضرت ابو هريره رضی اللهتعَالی عنه نهٔ روايت دے ، چه رسول اللهﷺ فرمائيلی دی ،کوم مسلمان چه آزاد کړی مسلمان لره الله تعالیٰ به دَ هغه د هر اندام په بدلهٔ آزادَونکی د هر اندام د جهنم نه خلاص کړی سعيد بن مرجانه وائی د ابو هريرةؓ نه داحديث واؤريدلو او د امام زينب العابدين علی بن حسن عليه و عَلےٰ اٰبائهِ السلام خوالہ لاړم،او هغویؒ ته م دا حديث بيان کړو،هغویٰ يو غلام لره آزاد کړو،دَ چا په بدله چه دَ جعفرؒ خویٰ لس زره ديناره ورکړی وو۔

فائده:سبحان الله اهل بيت رضی الله عنهم څومره عاشقان وو د الله تعالی جل شانهٗ او د هغه د رسول اللهﷺ .نووی وئيلے د دے احاديثو نه دَ آزادَونکو فضيلت معلوميږی.او دا ترے هم را اووته چه آزادول د غوره عملونو نه دی ، او د دے په وجه انسان ته د جهنم دَ اور نه آزادی ميلاويږی.او جنت ورته په لاس راځی.او دا هم د دے حديث نه راووته چه د هغه مونی آزادَول غوره دی چه د هغه تمام اندامونه پوره وی ځو چه خصی يا ړوند يا کونړ يا لاس يا خپے کټ کړے شوے نۀ وی.او د خصی وغيره په آزادَولو کښے هم ثواب دے ليکن کامل فضيلت په دے کښ دے چه د مريی ټول اعضاء صحيح او سالم وی او په قيمت کښے ګران وی.اوس عالمانو اختلاف کړے دے چه دَ مَرَيی آزدول زيات ثواب دے که د وينځی ، څنو وئيلے دی چه دَ وينځی آزادَول غوره دی.او د ډيرو عالمانو په نزد دَ مريی په آزاده ولو کښے زيات ثواب دے ، او دَ مؤمنه د قيد

نه معلومه شوه چه دا فضیلت د مسلمان مریی په ازادولو کښې دے،لیکن په کافر مریی آزادولو کښې هم ثوب دے خو د مسلمان مریی نه کم دے۔

بَابُ فَضْلِ عِتْقِ الْوَالِدِ .

باب د پلار د آزادلو فضیلت .

(۳۷۹۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لا یَجْزِیْ وَلَدٌ وَالِدًا اِلَّا اَنْ یَجِدَهٗ مَمْلُوْکًا فَیَشْتَرِیَهٗ فَیُعْتِقَهٗ. [ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے،وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ځوئے د پلاره حق ادا کولے نهٔ شی مګر په یو صورت کښې چه پلار ه لره د چا غلام اووینی پس واخلی ئے او آزاد ئے کړی۔

فائده: نووی رحمة الله علیه وئیلے دی چه د ظاهر حدیث نه معلومیږی چه د خپلوانو او عزیزانو په اخستو سره به هغه آزاد نهٔ کړی،او جمهورو عالمانو په نزد د هغهٔ اخستو سره آزادیږی او دلیل د هغوئ دوئم حدیث دے۔



كتاب البيوع.

د خرڅولو اخستلو مسئلې.

(۳۸۰۱) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنهٔ ان رسُول الله صلی الله علیه وسلم نهی عن بیع الملامسة و المنابذة. [بخاری ،نسائی]

ترجمه:دَ ابو هُریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده د ملامسه بیعه نه او دَ منابذه بیعے نه.

فائده :نووی وئیلے دی چه په صحیح مسلم کښے د دے تفسیر مخکښے راغی لیکن زمونږ د ملګرو نه په بیعه ملامسه کښے درے قولونه منقول دی.یوه دا چه خرڅونکے یوه کپړه نغښتے ، یا په تیَره کښے واخلی او راشی او خریدار د هغے ته لاس کړی خرڅولو والا دا اووائی چه ما دا کپړه ستا په لاس خرڅه کړه په دے شرط سره چه ستا په دے لاس لګول ستا د لیدو په ځائے دی،او کچرے تهٔ ئے ګورے نو تاله اختیار نشته دے.

دویم دا چه په لاس وروړلو سره بیعه پخپله ورله مقرر کړے شی،مثلاً مالك د مال اخستونکی ته دا اووئی چه هر کله تا لاس وروړلو ستا د لاسه پوره ستا شو.

دریم دا چه په لاس وروړلو سره د مجلس اختیار قطع کړے شی او په درت واړه صورتونو کښے دا بیعه باطِله ده،دغه شان دَ بیعے منابذے هم درے معافی دی،یو خو دا چه د کپړے غورځول بیعه قرار کړے شی دا دَ امام شافعیؒ تا ویل دے.څلورم دا چه د غورځولو نه اختیار قطع کړے شی،دریم دا چه د غورځولو نه مراد د ګیټو غورځول دی،او د دے بیان به انشاء الله تعالی په بیع الحصاة کښں راشی.

(۳۸۰۵) عن ابی هریرة رضی الله تعالی ... انهٔ قال نهی عن بیعتین الملامسة والمنابذة اما الملامسة فانْ یلمس کلُ واحدٍ منهما ثوب صاحبه بغیرِ تامُلٍ والمُنابذة ان ینبذ کلُ واحدٍ منهما ثوبهٔ الی الاخرِ ولم ینظر واحدٌ منهما الی ثوب صاحبه. [بخاری ، ابوداود ، نسائی.]

ترجمه :د حضرت ابو هریره رضی اللهتعالی عنهُ نه روایت دے چه هغویٔ وائی دَ دوه بیعو نه منع والے شوے ے.یو خو د بیع ملامسه نه او دویم د بیع منابذه نه،بیع مسامسه دا ده چه هر

یو د بل کپړے له لاس وروړی بے د سوچ سمجه نه .(او دے کپړے له په لاس وروړلو سره بیعه لازم شی)او بیع منابذه دا ده چه هر یو خپله کپړه دبل په طرف اوغورځوی او یو د بل کپړه اونهٔ ګوری۔

(۳۸۰۶) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیْ رضی اللهُ تعالی عنهُ قال نهانا رَسُوْلُ الله صلّے اللهُ علیْهِ وسلّم عَنْ بَیْعَیْنِ وَلِبْسَتَیْنِ نهی عَنْ مُلامسةِ وَ الْمُنابذةِ فِی الْبَیْعِ وَالْمُلامسةُ لمسُ الرَّجلِ ثوْبَ الاخرِ بیدِه باللّیْلِ اوْ بالنَّهار وَلَا یقلّبُهٗ اِلّا بذٰلِکَ وَالْمُنابذةُ اَنْ یَّنْبِذَ الرَّجُلُ اِلَی الرَّجُلِ بثوْبِه وَ یَنْبِذَ الاخُ اِلَیْهِ ثوْبَهٗ وَ یَکُوْنُ ذٰلکَ بَیْعُهُما عَنْ غَیْرِ نَظَرٍ وَّلَا تَرَاضٍ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه:د ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع کړی یو مونږ رسول الله ﷺ د دوه قسمه بیعونه او د دوه قسمه اغوستلونه یو خوئے منع کړی یو دَ ملامسه نه او منابذه نه په بیعه کښں،ملامسه دا ده چه یو سړے دَ بل کپړه مس کړی په خپل لاس سره د شپے یَا دَ ورځے او التهٔ نهٔ کړی هغے لره مګر د دے د پاره ، او منابذه دا ده چه یو سړے خپله کپړه د بل په طرف اوغورځوی او بل خپله کپړه د ده په طرف اوغورځوی او دغه دَ دوئ بیعه شی بغیر د لیدلو دَ دوئ بیعه شی بغیر د لیدلو او بغیر دَ رضا مندئ نه۔

بَابُ بُطْلَانِ بَیْعِ الْحَصَاةِ وَالْبَیْعِ الَّذِیْ فِیْهِ غَرَرٌ.

باب : د ګیټو بیعه او د دهوکے بیعه باطله ده.

(۳۸۰۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَیْعِ الْحَصَاةِ وَ عَنْ بَیْعِ الْغَرَرِ . [ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دَ ګیټو د بیعے نه او دَ دهوکے دَ بیعے نه۔

فائده:نووی علیه الرحمۃ وئیلے دی د ګیټو د بیعے درے معنے دی،یوه دا چه بائع داسے اووائی ما ستا په لاس هغه کپړے یا د دے ځائے نه واخله د کوم ځائے پورے چه دا ګیټی لاړے شی دومره اسباب به ما خرخ کړے وی۔

دویم دا چه بائع دا شرط اولګوی چه د کومے پورے زهٔ ګیټی غورځوم تا ته اختیار دے

ورستو د دې نه اختيار نشته دے۔

دريم دا چه پخپلج ګنبتهنں غور څول بيعه مقرر کړی مثلاً داسے اوونی چه هر کله زۀ په دې کپړه ګيتهنی اوولم نو هغه هبه په دومره قيمت خرڅولے شی،او ليکن د دهوکے بيعه خو هغه يو اصل عظيم دے د کتاب البيع ، او په دے کښں ډيرے مسئلے دا خلے دی مثلاً بيعه د تختيدلی غلام،اومعدود او مجهول او دا چا په تسليمولو باندِ قدرت نشته دے او په چا چه د بائع ملك پوره نۀ وی شوے،او بيعه د مهی په اوبو کښے ، د ېيُو په غلانزه کښے او بيعه د بچی په ګيډه کښے، او د مرغنی په هو کښے ، دَيو غير معنيے تهيلئی يا کپړے يا بزے وغيره خو دا ټولے بيعے باطلے دی ځکه چه په دے ټولو کښے دهوکه ده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ.

بَاب : د حبل الحبله بيعے ممانعت.

(۳۸۰۹) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ نَهٰى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ.[نسائی]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رَضِی اللّٰہ تعالیٰ عنهُما نه روايت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دَ حبل الحبله د بيعے نه۔

(۳۸۱۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ كَانَ اَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ يَتَبَايَعُوْنَ لَحْمَ الْجَزُوْرِ اِلٰى حَبَلِ الْحَبَلَةِ وَ حَبَلُ الْحَبَلَةِ اَنْ تُنْتَجَ النَّاقَةُ ثُمَّ تَحْمِلُ الَّتِىْ نُتِجَتْ فَنَهَاهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ. [بخاری ، ابوداود]

ترجمه :د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روايت دے وائی چه دَ جاهليت خلقو به دَ اوښں غوښه خرڅوله دَ حبل الحبله پورے او حبل الحبله داده چه اوښه لنګه شی(او بچے راوړی)بيا دغه بچنی حَامله شی او هغه لنګه شی نو جناب رسول الله ﷺ منع کړے ده د دے نه۔

فائده :نووی وئيلے دی دحبل الحبله دغه تفسير مالکؒ او شافعیؒ اختيار کړے دے ، او ځنے وائی چه د حبل الحبله نه مراد دا دے چه د حاملے او بنے(د حمل په دوران کښے)د ګيډے بچے

خرڅ کړی احمد بن حنبل اسحاق بن راهویۀ دغے لره اختیار کړے دے او دا دواړه بیعے باطلے دی
۰ اول په وجه د جهالت د میعاد ۰ او دویم په وجه دمعدودم او مجهول کیدو د بیعے.

باب تحریم بیع الرّجل علے بیع اخیه و سومه و تحریم النّجش و تحریم التّصریة.

باب: دخپل رور په نرخ باند به نرخ نهٔ کوے او نهٔ به د هغه په بیعه باند خرڅ کوے او دهوکه ورکول او په غولانځه کښے پئی ذک ساتل حرام دی.

(۳۸۱۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلّے اللّٰهُ علیه وسلّم قال لا یبِعْ بعضکُمْ علے بیْع بعْضٍ. [راجع: ۳۴۵۴]

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک دِ ستاسو نه د بل په بیعه باندِ بیعه نهٔ کوی.

(۳۸۱۲) عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صلّے اللّٰهُ علیه وسلّم قال لا یبِعْ الرَّجُلُ علے بَیْعِ اخِیْه ولا یخْطُبْ علے خِطْبَة اخِیْهِ الّا اَنْ یّأذن لَهٗ. [۳۴۵۵]

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوک دِ ستاسو نه د خپل رور په بیعه باندِ بیعه نهٔ کوی او نهٔ دِ دَ خپل رور په خبرباندِ خبر ورکوی.مګر د هغوی په اجازت سره.

فائده: نووی ونیلے دی د بیعے په باندِ مثال دا دے چه یو سړے بل ته اووائی تا چه کوم څیز اخستے دے دا واپس کړه زهٔ به درله دغسے د دے نه ارزان درکړمه یا به درله د دے نه ښه څیز په دغه قیمت باندِ درکړمه او دا حرام دی. دغه شان د خپل رور(مسلمان)په خرڅ د پاسه خرڅول هم حرام دی ددے مثال داسے دے چه یو سړے بل ته اووائی تا چه کوم څیز خرڅ کړے دے دغه بیعه فسخ کړه زهٔ به نے درنه د دے نه به زیات قیمت باندِ واخلمه . او د پیام مثال په کتاب النکاح کښے تیر شوے دے

(۳۸۱۳) عَنْ ابِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَسُمِ الْمُسْلِمُ عَلٰی سَوْمِ الْمُسْلِمِ.

ترجمه: دَابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو مسلمان د بل مسلمان په بولئی د پاسه بولی نه کوی.

فائده: نووی وائی دا نهی هَله ده چه بائع او مشتری په بیعه باندِ راضی شوے وی لیکن تر اوسه لا بیعه نهٔ وی شوے چه په دے کښی بل اوونی چه زهٔ دے څیز لره په بولئی اخلم دا ناجائزه ده.لیکن هراج(یعنی په نیلام)کښے قیمت زیاتول هر یو لره درست دی.

(۳۸۱۴) عَنْ ابِیْ هُرَیْرَةَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یَّسْتَامَ الرَّجُلُ عَلٰی سَوْمِ اَخِیْهِ وَفِیْ روایة الدَوْرَقِیِّ عَلٰی سِیْمَةِ اَخِیْهِ.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د خپل رور په خلاصه شوے بیعه د پاسه دبیعے کولو نه.

(۳۸۱۵) عَنْ ابِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یُتَلَقَّی الرُّکْبَانُ لِبَیْعٍ وَلَا یَبِیْعُ بَعْضُکُمْ عَلٰی بَیْعِ بَعْضٍ وَلَا تَنَاجَشُوْا وَلَا یَبِیْعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَلَا تُصَرُّوْا الْاِبِلَ وَالْغَنَمَ فَمَنِ ابْتَاعَهَا بَعْدَ ذٰلِکَ فَهُوَ بِخَیْرِ النَّظَرَیْنِ بَعْدَ اَنْ یَحْلُبَهَا فَاِنْ رَضِیَهَا اَمْسَکَهَا وَاِنْ سَخِطَهَا رَدَّهَا وَصَاعًا مِنْ تَمْرٍ.

[بخاری ، ابو داود ، نسائی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دقافلے سره مه میلاویږئ دبیعے دپاره . او نهٔ دخرڅوی څوك ستاسو نه دبل په بیعه باندِ. او مهٔ دلالی کوئ او نهٔ دِخرسوی ښهر واالا دبهر والا مال لره. او مهٔ بند ساتئ په غولانځه کښے پیٔ داوښے یا دبزے بیا چه څوك واخلی داسے څناور لره (چه دکوم غلام نځه ئے دپیُو نه ډکه کړی وی ددهوکے ورکولو دپاره) نو خریدار ته اختیار دے (هر کله چه هغه پیٔ اولشی او هغه ته معلومه شی چه پیٔ دومره او نهٔ وتل څومره چه دهغه گمان وو)ددوارونه چه ورته کومه ښه معلومه شی هغه ددلوشلو نه پس هغے لره اوکړی. که خوښه ئے شی نو اوږے ساتی او که خوښه ئے نهٔ شی نو هغه څناور دواپس کړی. او یو وؤگے دکهجورو دِدپیو په بدله واپس کړی.

فائده :یعنی مخې له په ورتللو سره دغلې بارونو دقیمت کولو دپاره دبار وړونکو سره مهٔ میلاویږئ،ولې چه په دې کښې دوه نقصانه دی. یونقصان خود پیوفاری دے چه کیدے شي په بازار کښې ئے په زیات قیمت کرخ اوشي، دویم نقصان دتمام ښهر حق تلفی ده، چه کچرے بلزارته مال راشی نو ټول خلق به ئے په قیمت واخلي یعنی بل ته دنقصان ورکولو دپاره قیمت مهٔ سِوا کوئ هر کله چه اخستل منظور نهٔ وی۔

دجابرؓ په روایت کښې دومره زیاته ده، او پریږدوئ خلقو لره چه په خپلو کښې اخستل خرخول اوکړی الله روزی ورکوی یورته یو دنه ، مطلب دحدیث دادے چه که څوك دبهر نه ښهرته مثلا غله دخرخولو دپاره راوړی او دبازار په بهاوئے دخرخولو اراده اوکړی، او دښهر اوسیدونکی هغه ته او وائی ته ئے اوس مهٔ خرخوه څما سره ئے کیږده زهٔ به ئے درله په زیات قیمت خرخ کړم ددے نه حضرتؐ منع فرمائیلے ده ، چه په دے کښې دخلقو نقصان دے او کړے قحط وی نو په اتفاق دعلماؤ حرام دی ورنه مکروه دی امام شافعیؒ او جمهورو عالمانو په ظاهر دحدیث باندِ عمل کړے دے، او ابو حنیفه رحمة الله علیه محض په قیاس سره دحدیثو خلاف حکم کړے دے، حالانکه دهغوئ: اصول دادی چه حدیث ضعیف هم په قیاس دپاسه مقدم دے، او دا حدیث په اتفاق دعلماؤ صحیح دے، او دمعتمد اصحابوؓ نه مروی دے، پخپله دابن مسعود رضی الله تعالی عنه نه په سند صحیح سره بخاریؒ اومسلم روایت کړے دے، په دے واسطه خنفی علمانو لره دمام عظمؒ دا قول په دے باب کښې پریخودل پکاردی. او په حدیث باندِ عمل ضروری دے، او دغه ارشاد دے دامام ابو حنفیهٔ رحم ؤ اوکړی الله تعالی جل شانه په هغوئ باندِ او ؤ بخښی خطا دهغوئ آمین یا رب العالمین۔

(۳۸۱۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ التَّلَقِّیْ وَاَنْ یَّبِیْعَ حَاضِرٌ الْبَادِ وَ اَنْ تَسْئَلَ الْمَرْئَةُ طَلَاقَ اُخْتِهَا وَعَنِ النَّجْشِ وَالتَّصْرِیَةِ وَاَنْ یَّسُوْمَ الرَّجُلُ عَلٰی اسَوْمِ اَخِیْهِ .[بخاری ، نسائی]

ترجمه : دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللهﷺ منع فرمائیلے ده غله راوړونکو ته مخے له دورتلونه (کوم چه ښهر ته غله راوړی) او ښهری لره دبهروالا دمال

خرڅولونه، او یوه بن دبلے بن دپاره دطلا غوښتلونه او دهوکے ورکولونه، او په غلانځه کښے دپیو ساتلونه، او دیورور په قیمت او تول باندِ دقیمت کولونه۔

(۳۸۱۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ النَّجْشِ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده ددلالئ کولونه۔

بَابُ تَحْرِیْمِ تَلَقِّی الْجَلَبِ .

بَابُ مخے له دورتلو او دسوداګروسره دمیلاویدو ممانعت.

(۳۸۱۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ يُتَلَقَّى السِّلَعُ حَتّٰی تَبْلُغَ الْاَسْوَاقَ وَهٰذَا لَفْظُ ابْنِ نُمَيْرٍ وَّقَالَ الْاٰخَرَانِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ التَّلَقِّيْ.[نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده، ومخکښں تللو او داسباب دتجارت سره دمیلاویدلو نه تردے پورے چه هغه بازارته راشی، او په یو روایت کښں دی چه منع ئے فرمائیلے ده دمخے له ورتلو دملاقات نه۔

(۳۸۲۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ نَهٰی عَنْ تَلَقِّی الْبُيُوْعِ.

ترجمه: دعبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ مخے له دورتلو او سوداګرو سره دمیلاویدنه۔

(۳۸۲۲) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُتَلَقَّى الْجَلَبُ.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے ده مخے له دورتلو او دغلے راوړونکو سره دمیلاویدنه۔

(۳۸۲۳) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالیٰ عَنْهُ يَقُوْلُ اِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَلَقَّوُا الْجَلَبَ فَمَنْ تَلَقّٰی فَاشْتَرٰی مِنْهُ فَاِذَا اَتٰی سَيِّدُهُ السُّوْقَ فَهُوَ بِالْخِيَارِ . [نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مه میلاویږئ په مخکښے تلو سره دمالونو دیارونو والا سره (دکومے پورے چه هغوئ بازارته

راغلی نۀ وی او مالونه ولا ته دبازار بهاؤ معلوم نۀ وی) پس کچرے څوك مخے له لاړو او مال ئے واخستو. او بیا دمال مالك بازارته راغلے (او دبهاؤ په تپوس کولو کښے ورته معلومه شوه چه نقصان ئے شوے دے) نو ده لره اختیار دے (که غواړی نو بیعه دفسخ کړی).

فائده :امام نوویؒ وئیلے دی دظاهر حدیث نه ددے حرمت معلومیږی . او دغه قول دے دامام شافعیؒ او مالك او جمهور رعالمانو . او دابو حنیفه او اوزاعیؒ په نزد مخے له ورتلل درست دی په دے شرط چه خلقوته نقصان نۀ وی ، او دنقصان په صورت کښ مکروه دی، او صحیح دجمهورو مذهب دے . او څوك چه دخه بل کار دپاره بهرته اوځی او هلته ورته مال والا میلاؤ شی او مال ترے واخلی نو په دے کښ دوه قولونه دی. صحیح دادے چه حرام دی. (انتهی مختصرا)

بَابُ تَحْرِيمِ بَيعِ الْحَاضِرِ لِلْبَادِىْ.

بَابُ: ښهر والا به دبهر والا مال نۀ خرڅوی۔

(۳۸۲۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالیٰ عَنْهُ یَبْلُغُ بِهِ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یَبِیْعُ حَاضِرٌ لِّبَادٍ، وَقَالَ زُهَیْرٌ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی اَنْ یَّبِیْعَ حَاضِرٌ لِّبَادٍ [راجع ۳۴۵۸]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی نۀ دِ خرڅوی ښهر والا دبهر والا مال. او وئیلے دی زهیرؒ چه نبیﷺ منع فرمائیلے ده دخرڅولو دمقیم مال دمسافر و لره.

(۳۸۲۵) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالیٰ عَنْهُمَا قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یُّتَلَقَّی الرُّکْبَانُ وَاَنْ یَّبِیْعَ حَاضِرٌ لِّبَادٍ قَالَ فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ مَا قَوْلُهٗ حَاضِرٌ لِّبَادٍ قَالَ لَا یَکُنْ لَّهٗ سِمْسَارًا [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول اللهﷺ منع فرمائیلے ده دسورو(چه هغه مال راوړی) مخے ته دوتلو دملاقات نه. او منع کړی ئے دی دښهر اوسیدونکو لره دبهر والا دمال خرڅولو نه. طاوسؒ وئیلے دی ما دابن عباسؓ نه تپوس اوکړو چه ددے څه مطلب دے هغوئ اووے چه ښهر والا له نۀ دی پکار. چه دبهر والا دلال جوړ شی (دهغه

دمال په خرڅولو کښې بلکه هغه به ئے یخله خرڅوی)۔

(۳۸۲۶) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبِيْعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقِ اللهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ. [ابو داود]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نه دې خرڅوی او سیدونکی دښهر مال دښهر نه دبهر خلقو بلکه پریږدی دخلقو لره الله رزق ورکوی یو ته دیو نه۔

(۳۸۲۸) عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَلِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ نُهِيْنَا أَنْ يَبِيْعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ وَإِنْ كَانَ أَخَاهُ أَوْ أَبَاهُ. [بخاری، ابوداود، نسائی،]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے مونږ منع کړے شوی یو ددے خبرے نه چه ښهر والا دِ دبهروالا مالك خرڅ کړی اګر که دهغه رور یا پلار وی۔

(۳۸۲۹) عَنْ أَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ نُهِيْنَا أَنْ يَبِيْعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ. [راجع: ۳۸۲۳]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه منع کړے شوی یو مونږ ددے خبرے نه چه ښهر والا دِ دبهر والا مال خرڅ کړی۔

فائده: نووی علیه الرحمة وائی ددے احادیثو نه دهغه امر حرام والے ثابتیږی او دغه قول دے دشافعیؒ او زیاتو عالمانو ۔ او زمونږ ملګرو وئیلی دی چه مطلب دحدیث دادے چه یو مسافر دبهر نه یادبل ښهر نه مال راوړی راشی دخرڅولو دپاره او ښهر والا هغه ته داسے او وائی چه ته خپل مال څما سره پریږده زهٔ به ئے په قلاره قلاره ګران خرڅوم نو دا منع دی۔ او کچرے ددغه مال ښهر والا وو ته حاجت نهٔ وی نو منع نهٔ دی باوجود دمخالفت که چرے څوك ئے خرڅ کړی نو بیعه صحیح کیږی ۔لیکن حرامه به وی زمونږه دغه مذهب دے، او دځنے مالکیه وُ په نزد دبیعه فسخ کړے شی۔ او دعطاء او مجاهد او ابو حنیفهؒ په نزد دا بیعه درسته ده، ولے چه په دے کښې احسان دے په بهر والا باندِ او دے حدیثونو ته هغوئ منسوخ وئیلی دی۔ او دعوی ئے داده بے لا دلیله ولے چه که احسان هم وی په مال والا باندِ بیا هم بدوالے دے دټولے ښارے داوسیدونکو سره چه هغه به ددے مال نه فائده او ځتوی او نفع به کوی او دعوه دنسخ لغوه ده۔

باب حُکمِ بیعِ المُصرّاۃ.

باب :. دمصراۃ دبیعې بیان.

(۳۸۳۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اشْتَرٰی شَاةً مُصَرَّاةً فَلْیَنْقَلِبْ بِهَا فَلْیَحْلُبْهَا فَاِنْ رَضِیَ حِلَابَهَآ اَمْسَکَهَا وَاِلَّا رَدَّهَا وَمَعَهَا صَاعٌ مِّنْ تَمْرٍ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه دیسو ډکه شوے بزه واخلی بیا لاړشی او دهغے نه پئ اولوشی کچرے دهغے پئ ئے خوښ شولو نو اوساتی دئے او که خوښ ئے نۀ شو نو بزه دواپس کړی او یو وُوګے دکهجورو ورسره ورکړی(دپیو په بدل کښے).

فائده: مصراه هغه څناورته وئیلے شی چه دهغے مالك پئ لوشل دهغے نه موقوف کړی وی ددے دپاره چه تیونه ئے ښه دپیونه ډك ښی چه نو خلق پرے دهوکه او خوری ددے بیان پورته تیر شولو.

(۳۸۳۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ ابْتَاعَ شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ فِیْهَا بِالْخِیَارِ ثَلَاثَةَ اَیَّامٍ اِنْ شَآءَ اَمْسَکَهَا وَاِنْ شَآءَ رَدَّهَا وَرَدَّمَعَهَا صَاعًا مِّنْ تَمْرٍ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم سړی چه دپیو ډکه شوے بزه واخسته هغه له ددرے ورځو پورے اختیار دے، که خوښه ئے شی نو لوئئے ساتی او که خوښه ئے شی واپس دئے کړی، او ورسره دکهجورو یوه کاسه هم ورکړی.

(۳۸۳۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اشْتَرٰی شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِالْخِیَارِ ثَلَاثَةَ اَیَّامٍ فَاِنْ رَدَّهَا رَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِّنْ طَعَامٍ لَا سَمْرَآءَ. [ترمذی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم سړے چه دپیو ډکه شوے بزه واخلی هغه ته ددرے ورځو پورے اختیار دے، پس کچرے واپس کوی ئے نو یوه پیمانه (یعنی کاسه)دغلے دهم ورکړی، لیکن غنم ورکول ضروری نۀ دی.

فائده: په عربو کښې غنم ګران دی او کهجورے او نورے غلے ارزانے دی، نو فرمائیلی ئے دی چه دکجورے یوه کاسه دورکړی یا دبلے یوے غلے لکه جوار مسور وغیره.

(۳۸۳۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اشْتَرٰی شَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِخَیْرِ النَّظَرَیْنِ اِنْ شَآءَ اَمْسَكَهَا وَاِنْ شَآءَ رَدَّهَا وَصَاعًا مِّنْ تَمْرٍ لَا سَمْرَآءَ.[نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی کوم بنده چه دپیو ډکه بزه واخلی نو هغه لره اختیار دے که غواړی او ئې ساتی او که غواړی واپس ئې کړی، او یوه کاسه ډهم دکهجورے ددے سره ورکړی نهٔ دغنمو۔

(۳۸۳۵) عَنْ هَمَّامِ ابْنِ مُنَبِّهٍ قَالَ هٰذَا مَا حَدَّثَنَا اَبُوْهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ اَحَادِیْثَ مِنْهَا وَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا مَآ اَحَدُكُمْ اشْتَرٰی لِقْحَةً مُصَرَّاةً اَوْشَاةً مُصَرَّاةً فَهُوَ بِخَیْرِ النَّظَرَیْنِ بَعْدَ اَنْ یَّحْلُبَهَآ اِمَّاهِیَ وَاِلَّا فَلْیَرُدَّهَا وَصَاعًا مِّنْ تَمْرٍ.

ترجمه: دهمام بن منبهؒ نه روایت دے وائی چه دا هغه احادیث دی کوم چه ابو هریره رضی الله تعالی عنه بیان کړے دی درسول اللهﷺ نه بیائے خو احادیث ذکر کړل چه په هغے کښ یو دا هم وو چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی هر کله چه په تاسو کښ څوك اوښه اخلی چه هغه ئے دپیو ډکه کړے وی یا داسے بزه اخلی نو هغه ته دپیو لو شلونه نه پس اختیار دے چه یا خو هغه او ساتی او یائے واپس کړی او یوه کاسه کهجورو ورسره هم ورکړی۔

فائده: امام نوویؒ وئیلے دی پورته تیر شول چه تصریه (یعنی څناور دپیونه ډکه ول خلقوله ددهوکے ورکولو دپاره) حرام دی او باؤجود دحرام والی نه ددے احادیثونه دا را اووته چه بیعه صحیح کیږی او اخستونکی ته به اختیار وی که خوښه ئے شوه ساتی به ئے او که خوښے ئے نهٔ شولوه نو واپس کوی به ئے، دغه شان دهر مکر او فریب په بیعه کښے اخستونکی ته اختیار دے۔

مثلا چابو ډئ وینځی له وېښته تور کړل یائے ورله ګګر ګګر جوړ کړل یا ددے په شان بل څه، او اختلاف کړے دے زمونږ ملګرو چه دا اختیار به دعلم نه فورلبعد وی یا به ددرے ورځو پورے وی نو څنو وئیلے دی چه ددرے ورځو پورے به وی، او دټولو نه صحیح داده چه خاص دعلم سره به اختیار وی۔

او په حدیث کښے چه کوم ددرے ورځو قید مذکور دے هغه ددے دپاره چه زیات علم په

درے ورځو کښے راځی، ولے چه په یوه نیمه ورځ دپیو کموورکولو په باره کښے دګیاه وغیره دخرابئ ګمان وی، لیکن ددرے ورځو نه پس یقین راځی . بیا چه هر کله داسے څناور واپس کول غواړی که اوښه وی یا بزه یا که غوا وی پئ که دهغے ډیر وی یا لږ په هر حالك کښې دپیو په بدله یوه کاسه کهجوره ورکول کافی دی او دغه مذهب دے زمونږه او مالك او لیث او ابن ابی لیلے او ابو یوسف او او ابو ثور او فقهاؤ محدیثینو او دغه صحیح دے. او زمونږ څنو ملګرو وئیلے دی ، چه په دغه ښهر کښے چه دکومے څیز په خوارك کښې رواج وی دهغے یوه کاسه د ورکړی نا دکهجورے سره خاص نۀ دی.

او امام ابو حنفیه رحمة الله علیه او یو تولی داهل عراق والا او څنے مالکیه ؤ دا وئیلے دی چه هغه څناور دِ واپس کړی او یوه کاسه دکهجورو ورکول ضروری نۀ دی بلکه دپیو قیمت ورکول پکار دی ولے چه قاعده داده چه کچرے مثلی شے تلف کړی نو مثل دِ ورکړی ورنه قیمت دِ ورکړی، او دبل جنس ورکول دقاعدے نه خلاف دی، او جمهور علماؤ دا جواب ورکوی چه هر کله حدیث صفا راغلے دے، نو په عقلی قاعده سره په دے باندِ اعتراض کول نۀ دی پکار. او حکمت په دے کښِ دادے چه په دغه وخت کښِ دعربو خوراك کهجورے وے.

اوصاع یعنی پیمانه(کاسه) په هر صورت کښِ مقرر کړے شوے ده چه طور دحد ، ددے دپاره چه جګړه نۀ وی . او په اکثروکلو او باندو کښے په قیمت کښِ اختلاف وی او فساد پیداکیږی. نو شرع یوه ضابطه مقرر کړے ده. چه دا قسم جګړے مطلق را پیدا نۀ شی او ددے مثال په شرع کښے موجود دے مثلا دبچی دیت یو غلام وغیره (انتهی)

بَابُ بُطْلَانِ بَيْعِ الْمَبِيعِ قَبْلَ الْقَبْضِ.

باب: دقبضے نه مخکښِ خریدار لره دبل په لاس خرخول درست نۀ دی.

(۳۸۳۶) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْهما اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْهما وَاَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ مِثْلَهُ. [بخاری . ابوداود . ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی، دی څوك چه غله واخلی بیا به هغې لره نۀ خرڅوی دکومے پورے چه ده په هغې بانډې قبضه نۀ وی کړے. ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وائی زۀ هر څیز لره په دغے بانډې قیاس کوم.

فائده : او دامام شافعی رحمة الله علیه مذهب دادے چه دغلې څه خصوصیت نشته بلکه دهر یو شی خواه کښې منقوله وی یا غیر منقوله وی کومے پورے چه نے داخستلو قبضه پرے نۀ وی راغلی دهغے پورے نے خرڅول درست نۀ دی

او عثمان بتیّ وئیلے دی دهر شی بیعه دقبضے نه مخکښې درسته ده، او ابو حنیفه رحمة الله علیه وئیلے دی چه صرف دزمکے یا مکان یا باغ وغیره غیر منقوله څیز بیعه دقبضے نه مخکښې ورسته ده او دبل یو څیز هم درسته نۀ ده. او امام مالك وئیلے دی چه سوا دغلې نه نوره دهر څیز بیعه دقبضے نه مخکښې درسته ده ، او اکثرو عالمانو دده سره اتفاق کړے دے، او څنو وئیلے دی چه کوم څیزونه په ناپ او تول سره خرڅیږی په هغے کښے به ددے حدیث په موافق حکم وی، او دباقی څیزونو بیعه دقبضے نه مخکښې درسته ده، لیکن دعثمان بتیّ قول بالکل شاذه او متروك دے. او قابل دعمل او اعتبار نۀ دے (نوویؒ)

(۳۸۳۹) عن ابنِ عبّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تعالی عنهما قال قال رَسُوْلُ الله صلی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسلّم من ابتاع طعاما فلا یبعْهُ حتّی یکْتالهُ فقلْتُ لابْنِ عبّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تعالی عنهما لم فقال الاتراهُمْ یتباعُوْن بالذّهب و الطّعام مُرْجا ولمْ یقلْ ابُوْ کُرَیْبٍ مُرْجا .

ترجمه :دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه غله واخلی هغه به نه خرڅوی هغے لره دکومے پورے چه ئے ناپ کړے نۀ وی.طاؤس وائی ما دَ ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه تپوس اوکړو. چه ولے د دے څه وجه ده؟ هغوئ د سرو زرو او سپینو زرو په بدله په میعاد بانډې خرڅوی.

فائده :نو اوس کچرے دا سرے ئے د قبضے نه مخکښې خرڅ کړی نو مبیعه به د کوم ځائے نه راوړی حالانکه په بعد کښے : مبیعے کیدل ضروری دی.کچرے دا هم په میعاد بانډې خرڅ کړی او کم میعادوی وړومبی میعاد نه نو دغه قباحت دے . او کچرے زیات وی نو دا سے

شوه لکه چه د روپئی بیعه په روپئی سره اوشوه.او دا بے فائدے ده او په دے کښ د سودویره ده.

(۳۸۴۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ. [بخاريم ، نسائی ، ابن ماجه ، ترمذی]

ترجمه :د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه غله واخلی هغه بے نۀ خرخوی د کومے پورے چه ئے پوره وانۀ خلی(یعنی ناپ اوتول بے وانۀ خلی او قبضه پرے اونۀ کړی.

(۳۸۴۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ كُنَّا فِيْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَبْتَاعُ الطَّعَامَ فَيَبْعَثُ عَلَيْنَا مَنْ يَأْمُرُنَا بِانْتِقَالِهِ مِنَ الْمَكَانِ الَّذِيْ ابْتَعْنَاهُ فِيْهِ اِلٰى مَكَانٍ سِوَاهُ قَبْلَ اَنْ نَبِيْعَهُ.[ابو داود ، نسائی ،]

ترجمه :د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه مونږ به د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښے غلے اخستلے بیا به مو یو سړی له زمونږ د طرفنه لیږلے چه هغه به مونږ ته حکم کوو دَ غلے د هغه ځائے نه دَ اوچتولو کوم ځائے چه به مو اخستله د خرخولونه مخکښے(د دے د پاره چه قبضه مو پرے راشی د دے نه پس که غواړئ نو د بل چا په لاس ئے بیعه کړئ).

(۳۸۴۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اشْتَرٰى طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ قَالَ وَ كُنَّا نَشْتَرِى الطَّعَامَ مِنَ الرُّكْبَانِ جُزَافًا فَنَهَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نَبِيْعَهُ حَتّٰى نَنْقُلَهُ مِنْ مَكَانِهِ. [ابن ماجه]

ترجمه :د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چه غلے واخستے نو بیا به هغے لره نۀ خرخوی د کومے پورے چه په هغے ئے قبضه نۀ وی کړے.او مونږ به غلے اخستلے د خاوندانو دَ سورلونه په ډیرو لګولو سره،بیا رسول الله ﷺ مونږ منع کړو د ډیرو د خرخولونه د کومے پورے چه به هغے لره مونږ بل ځائے ته نۀ وو وړی.

(۳۸۴۳) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرٰى طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ وَ يَقْبِضَهُ. [راجع : ۳۸۴۰]

ترجمه :د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ

فرمائیلی دی څوك چه غله واخلی نو نۀ به خرڅوی هغې لره د کومې پورې چه ئې پوره اخستې نۀ وی او قبضه کړې ئې نۀ وی(د پوره اخستو نه مراد دا دې چه د هغې ماپ او تول اوکړی)۔

(۳۸۴۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا أَنَّهُمْ كَانُوْا يُضْرَبُوْنَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اشْتَرَوْا طَعَامًا جُزَافًا أَنْ يَّبِيْعُوْهُ فِيْ مَكَانِهٖ حَتّٰى يُحَوِّلُوْهُ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دې خلقو به د رسول الله ﷺ په زمانه کښې وهل خوړلو په دې خبره باندې چه هغوئ به د غلې ډیری اخستل او بیا به ئې په هغه ځائې باندې خرڅول هغې لره دَ قبضې نه مخکښې۔

فائده :امام نووی رحمة الله علیه وئیلې دی دا حدیث دلیل دې د هغه امر چه حاکم دَ اِسلام فاسه بیعه کونکی والا لره تعزیر ورکولې شی په وهلو سره۔

(۳۸۴۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَدْ رَأَيْتُ النَّاسَ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ابْتَاعُوْا طَعَامًا جُزَافًا يُضْرَبُوْنَ أَنْ يَّبِيْعُوْهُ فِيْ مَكَانِهِمْ ذٰلِكَ حَتّٰى يُئْوُوْهُ إِلٰى رِحَالِهِمْ.

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دې،ما اولیدل خلقو لره د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې وهلی شوی هر کله چه به هغوئ د غلې ډیری واخستل او په هغه ځائې به ئې خپلو کورونو ته دَ وړلو نه مخکښې هغې لره خرڅول۔

فائده :امام نوویؒ رحمة الله علیه فرمائیلی دی چه د دې حدیث نه د غلې ډهیرې اخستل بغیر د ماپ او تول نه جائز شولو او دغه مذهب دې دَ شافعیؒ چه د غنمو یاد کهجورو ډیرې اخستل حرام نۀ دی لیکن په کراهت کښې د دې دوه قولونه دی،صحیح دا دې چه کچرې کراهت دې نو تنزیهی دې او د دویم قول دا ده چه دغه تنزیهی کراهت هم نشته دې۔

(۳۸۴۸) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اشْتَرٰى طَعَامًا فَلَا يَبِيْعُهٗ حَتّٰى يَكْتَالَهٗ وَفِيْ رِوَايَةِ أَبِيْ بَكْرٍ مَّنِ ابْتَاعَ.

ترجمه:د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دې چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ، څوك چه غله واخلی پس نۀ به خرڅوی هغې لره د کومې پورې چه ئې ماپ کړی نۀ وی۔

(۳۸۴۹) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّهٗ قَالَ لِمَرْوَانَ أَحْلَلْتَ بَيْعَ الرِّبَا فَقَالَ مَرْوَانُ مَا فَعَلْتُ فَقَالَ

اَبُو هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْهُ احْلَلْتَ بَيْعَ الصِّكَاكِ وقد نهى رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وسلم عن بيع الطَّعامِ حتَّى يُسْتَوْفَى فخطب مروانُ النّاسَ سُلَيْمٰنْ فنظرتُ الى حرسٍ يَأْخُذُوْنَها من بين ايدى النّاس.

ترجمه:دَ ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هغوئ مروان بن الحکم ته اووے(چه عامل وو دَ مدینے)تا درسته کړه د سود بیعے لره مروان اووے ولے ما څه اوکړو؟ابو هریره رضی الله تعالی عنه اووے تا د سند(پروانه)بیعه جائز کړه حالانکه رسول الله ﷺ منع کړے ده د غلے د بیعے نه په هغے باندِ دقبضے کولو نه مخکښ پس مروان خطبه واؤروله خلقو ته او منع ئے کړو هغوئ د دغے بیعے نه،سلیمان کوم چه ددے حدیث راوی دے دَابو هریره رضی الله تعالی عنه نه هغوئ وائی مَا اولیدو څوکیدار لره هغه به هغه ډیرو لره د خلقو نه اخستلو.

فائده:یعنی کچرے دَ خلقو نه هغوئ اخستی وو د هغوئ دَ قبضے نه مخکښ،دلته مراد د هغه سندونو نه هغه ډیری دی چه هغه دحکومت نه میلاویږی . د سالانه معاش چه په هغے کښ غلے وی او روپئی وغیره ـ نو چه د چا نوم انبار راوځی هغه له پکار دی چه په خپله قبضه کښ ئے واخلی او خرڅوی ئے ،او کچرے د قبضے نه مخکښ ئے خرڅ کړی نو په دے کښ اختلاف دے ، نووی علیه الرّحمة وئیلے دی چه په ټولو کښ صحیح دا ده چه هغه جائز دی ،او یو قول دا دے چه جائز نۀ دی په دلیل د قول دَ ابو هریره رضی اللّٰه تعالیٰ عَنهُ.

او چا چه ورته جائز وئیلے دی هغوئ د ابو هریره رضی الله تعالی عنه د قول تاویل کړے دے په دے شان خو د مروان هغه بیعه ده کوم چه اخستونکی د چا دریم سړی په لاس کړے وی د مشتری یعنی خریدار د قبضے نه مخکښ،نۀ اوله بیعه کوم چه خاوند دمال د خریدار په لاس کړے ده نو دا هم د دوېمے بیعے نه ده ، نۀ دَ اولے بیعے نه چه د صاحب مال مِلك مستقل دے او هغه مشتری نۀ دے،نو د هغه بیعه د قبضے نه مخکښ درسته ده،لکه څنګه چه څوك د ترکے مال د قبضے نه مخکښ خرڅ کړی(انتهی).

(۳۸۵۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تعالى عَنْهُمَا يَقُوْلُ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ابْتَعْتَ طَعَامًا فَلَا تَبِعْهُ حَتَّى تَسْتَوْفِيَهُ.

ترجمه : د جابر بن عبدالله انصاری رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ

فرمائیلی دی ،هر کله ته څه غله واخلے بیا مه خرخوه هغے لره د کومے پورے چه د په قبضه نۀ وی کړے۔

بَابُ تَحْرِيْمِ بَيْعِ صُبْرَةِ التَّمْرِا الْمَجْهُوْلَةِ الْقَدْرِ بِتَمْرٍ .

باب:د کهجورے ډیری لره چه د هغے وزن معلوم نۀ وی د کهجورے په بدله خرخول درست نۀ دی .

(۳۸۵۱) عَنْ جَابِرَ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا يَقُوْلُ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الصُّبْرَةِ مِنَ التَمْرِ لَا يَعْلَمُ مَكِيْلُهَا بِالْكَيْلِ الْمُسَمّٰی مِنَ التَّمْرِ . [نسائی]

ترجمه :د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه منع فرمائیلے ده رسول الله ﷺ د کهجورے دَ ډیری خرخولو نه چه د هغے وزن معلوم نۀ وی د هغه کهجورو په بدله چه د هغے وزن معلوم وی۔

فائده: ولے چه هر کله جنس یو جوی نو برابر خرخول ئے پکار دی ، او دلته احتمال دے چه د یو طرف کهجورے په ماپ کښے زیاتے وی البته کچرے دَ بل جنس په بدله ئے خرخے کړی نو څه قباحت پکښ نشته دے۔

بَابُ ثُبُوْتِ خِيَارِ الْمُجْلِسِ لِلْمُتَبَايِعَيْنَ .

باب خرخونکی اواخوستونکی دواړو لره اختیار دے د کومے پورے چه په هغه مقام کښے وی چرته چه بیعه شوے ده .

(۳۸۵۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْبَيِّعَانِ كُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا بِالْخِيَارِ عَلٰی صَاحِبِهٖ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَ اِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ . [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے ،چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه خرخونکی دواړو ته اختیار دے(د بیع فسخ کولو) هر کله چه دواړه د یو بل نه جدا شوی نۀ وی مګر په هغه بیعه کښے چه په کومے کښ چه دَ اختیار شرط شوے دے۔

فائده:په دے کښ د جدا کیدو نه پس هم اختیار باقی پاتے دے دَ مقرر شوے دے پورے ،

نو علی الرحمة وائی د دے حدیث نه دلیل اخستے شوے دے د مجلس د اختیار په ثبوت باندې د بائع او مشتری دواړو د پاره،تر دے پورے چه هغه دواره د بیعے د مجلس نه جدا شی.(یعنی د هغه ځائے نه چرته بل خوا لاړ شی د خپل جسم نه جدا شی)او د جمهور اصحابوؓ او تابعینوؒ دغه قول دے۔

او د دے په طرف تلی دی ، علیؓ بن ابی طالب او ابن عمرؓ او ابن عباسؓ او ابو هریرةؓ او ابو برزةؓ اسلمی او طاوسؒ او سعیدؒ بن المُسَیّب او عطاءؒ او شریحؒ او حسن بصریؒ اوشعبیؒ او زاعیؒ او ابن ابی ذئبؒ او سفیان بن عینةؒ او شافعیؒ او ابن مبارکؒ او علی بن المدینیؒ او احمد بن حنبلؒ او اسحاقؒ بن راهویهؒ او ابو ثورؒ او ابو عبیدؒ او بخاریؒ اوتمام محدثینؒ او امام ابو حنیفةؒ او مٰلکؒ وئیلے دی چه د مجلس اختیار څه شے نهٔ دے،بلکه هر کله چه په ژبه سره ایجاب او قبول اوشی نو بیعه لازم شوله۔

او ربیعةؒ داسے وئیلے دی او د نخعیؒ هم دغه منقول دی او دَ ثوریؒ نه یو روایت داسے هم دے ، لیکن په صحیح حدیث سره د دغه خلقو مذهب رَدُ کیږی، او د هغوئ سره هیڅ صحیح جواب نشته دے نو صواب هغه دے کوم چه جمهورو عالمانو اختیار کړے دے (انتهی)۔

(۳۸۵۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ اِذَا تَبَایَعَ الرَّجُلَانِ فَکُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا بِالْخِیَارِ مَا لَمْ یَتَفَرَّقَا وَکَانَا جَمِیْعًا اَوْیُخَیِّرُ اَحَدُهُمَا الْاٰخَرَ فَتَبَایَعَا عَلٰی ذٰلِکَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَیْعُ وَاِنْ تَفَرَّقَا بَعْدَ اَنْ تَبَایَعَا وَلَمْ یَتْرُکْ وَاحِدٌ مِّنْهُمَا الْبَیْعَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَیْعُ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه دوه سړی اخستل خرڅول کوی نو هر یو ته اختیار دے(د معاملے ماتولو)د کومے پورے چه دواړه جدا شوی نهٔ وی او په یو ځائے وی یا یو بل ته اختیار ورکړی(د معاملے دَ یو اختیار کولو او د بیعے د پوره کولو اوس کچرے یو اختیار ورکړو بل ته،او اوئے وئیل چه بیعه نافذه کړه)بیا دواړه د بیع په نفاذ باندې راضی شولِ نو بیعه لازمه شوه ، او که بیعے نه ورستو دواړه جدا شو او یو پکښې هم بیع نسخ نهٔ کړه بیا هم بیعه لازمه شوه۔

(۳۸۵۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَذَا تَبَایَعَ الْمُتَبَایِعَانِ

بِالْبَيْعِ فَكُلُّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا بِالْخِيَارِ مِنْ بَيْعِهِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا اَوْ يَكُوْنُ بَيْعُهُمَا عَنْ خِيَارٍ فَقَدْ وَجَبَ زَادَ ابْنُ اَبِيْ عُمَرَ فِيْ رِوَايَتِهٖ قَالَ نَافِعٌ فَكَانَ اِذَا بَايَعَ رَجُلًا فَاَرَادَ اَنْ لَّا يُقِيْلَهٗ قَامَ فَمَشٰى هُنَيْهَةً ثُمَّ رَجَعَ اِلَيْهِ. [نسائی]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی هر کله چه دوه سړی په خپلو کښ خرید و فروخت کوی، نو هر یو ته به اختیار وی د کومے پورے چه جدا شوے نهٔ وی یا د هغویٔ بیعه په خیارِ شرط وی بیا کچرے بیعے له اختیار کړی نو بیعه لازمیږی دَ ابن ابی عمرؓ په روایت کښ دومره زیاته ده چه نافع وائی عبدالله بن عرم په روایت کښ دومره زیاته ده چه نافع وائی عبدالله بن عمرؓ چه به کله بیعه کوله د چا سړی سره او دا به ورته منظوره شوه چه بیعه دِ فسخ نهٔ شی نو لږ شان لرے به لاړو(د بیعے نه پس د دے د پاره چه جدائی راشی)بیا به واپس راغے د هغه خواله۔

فائده :امامِ نووی علیه الرحمة وئیلے دی چه دا روایت دلیل دے د هغه امر چه دَ جدایَئی نه مراد د بدَنونو جدائی ده، نه د ایجاب او قبول سره جدائی ده،لکه چه څنو ئے دغه تاویل کړے دے۔

(۳۸۵۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلُّ بَيِّعَيْنِ لَا بَيْعَ بَيْنَهُمَا حَتّٰى يَتَفَرَّقَا اِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ. [نسائی]

ترجمه:دعبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یوه بیعه نهٔ لازمیږی تر څو چه بائع او مشتری جدا شوی نهٔ وی مگر په بیع خیار کښے۔

فائده :نووی علیه الرحمی وائی دا چه کومه استشناء په حدیث کښے منقول ده((اِلَّا بیع الْخیار))ددے په تفسیر کښے درے قولونه دی، یو دا چه مراد هغه خیار دے چه هغه ورستو دَ اتمام عقد نه وی د مجلس د دجدایئی نه مخکښے،او مطلب دا دے چه دواړو ته به اختیار وی د کومے پورے چه جدا شوے نهٔ وی،اِلا په دے صورت کښے چه هم په دغه مجلس کښے دا اختیار تمام کړی،مثلاً دواړه په یو ځائے بیعے لره نافذه کړی نو بیع به لازم شی او دَ اختیار باقی پاتے کیدل به د جدایَئی پورے نهٔ وی۔دویم دا چه مراد د مستثنیٰ نه هغه بیعه ده چه په هغے کښے د اختیار شرط مقرر شوے وی د درے ورځو پورے یا د دے نه کمُ نو په دے بیعه کښ به د جدایَئی

سره اختیار نۀ ختمیږي، بلکه د شرط کړے شوے مود دے پورے به باقي پاتے وي۔دریم دا چه مراد هغه بیع ده چه هغے کښې د خیار د نفعے شرط وي، په دے صورت کښې به بیع خاص په مجلس کښے لازمیږي او اختیار به نۀ وي ، او دا د اخیر تفسیر به د هغه سړي په مذهب بانډ صحیح وي چه هغه د دے شرط سره بیعے لره جائز ګڼري .او صحیح زمونږ د ملګر په نزد دا ده چه په دے شرط سره بیعه باطلیږي.(انتهی)

(۳۸۵۸) عَنْ حَكِيْمِ ابْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالىٰ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وسلّم قَالَ الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا فَإِنْ صَدَقَا وَ بَيَّنَا بُوْرِكَ لَهُمَا فِيْ بَيْعِهِمَا وَ اِنْ كَذَبَا وَ كَتَمَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا .[بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه:د حکیم بن حزامؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلي دي بائع او مشتري دواړو ته اختیار دے تر څو پورے چه جدا شوی نۀ وي ، بیا کچرے هغه دواړه ربنتیا وائي او بیان کړي(چه کوم څه عیب وي په څیز کښے یا په قیمت کښے)نو دَ هغوئ په بیعه کښے به برکت وي او څوك چه دروغ وائي او پټوي(عیب لره)نو د هغوئ د بیعے برکت به ختم کړے شي، او د دوئ تجارت به چرته وده نۀ کوی۔

فائده:په حقیقت کښے که تجارت وي یا زراعت وي یا نوکري ایمانداری او استبازی هغه شے دے چه د دے په وجه په هر څیز کښے دَ ورځ دو چند او د شپے څلور چنده ترقي کیږي۔

(۳۸۵۹) عَنْ حَكِيْمِ ابْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالىٰ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ قَالَ مُسْلِمِ ابْنُ الْحَجَّاجِ وُلِدَ حَكِيْمُ ابْنُ حِزَامٍ فِيْ جَوْفِ الْكَعْبَةِ وَ عَاشَ مِئَةً وَّ عِشْرِيْنَ سَنَةً. [راجع : ۳۸۵۸]

ترجمه:د دے دویم روایت هم دغه ترجمه ده کومه چه پورته تیره شوه ، امام مسلم علیه الرحمة وائي چه حکیم بن حزامؓ چه راوی دے د دے حدیث هغه خاص دَ کعبے دننه پیدا شوے وو او د یوسل شلو کالو پورے ژوندے وو۔

بَابُ مَنْ يُّخْدَعُ فِى الْبَيْعِ .

باب:کوم سړے چه په بیعه کښې دهوکه خوري .

(۳۸۶۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالىٰ عَنْهُمَا يَقُوْلُ ذُكِرَ رَجُلٌ لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ يُخْدَعُ

فِی الْبُیُوْعِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ بَایَعْتَ فَقُلْ لَا خِلَابَةَ فَکَانَ اِذَا بَایَعَ یَقُوْلُ لَاخِیَابَةَ.

ترجمه :د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ په مخکښې دیو سړی ذکر اوشو چه هغه له خلق فریب(دهوکه)ورکوی په بیع کښې،نو حضرت ﷺ اوفرمائیل هغه سړی ته چه هر کله ته د څه بیعه کوے ، نو ووایه ورته چه فریب مه کوه کچرے ته فریب کوے نو هغه به په ما بانډِ لازِم نهٔ وی)بیا به هغه هر کله چه بیعه کوله نو دغه به ئے وئیلو (مګر دلا خلابة په ځائے به دهغه دخلے نه لا خیابه وتلو ولے چه هغه لام نهٔ شو وئیلے)

(۳۸٦۱) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ دِیْنَارٍ بِهٰذَ الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ وَلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِهِمَا فَکَانَ اِذَا بَایَعَ یَقُوْلُ لَا خِیَابَةَ .[بخاری]

ترجمه : دعبدالله بن دینارؒ نه هم دغه شان روایت مروی دے مګر په دے روایت کښې دانشته دے چه هر کله به ئے خرڅ کوُو نو خیابته به ئے وئیلو۔

فائده: نوویؒ وئیلے دی چه څنو نسخو کښے لا خیانته دے مګر هغه تصحیف دے او په څنو نسخو کښے لا خدا بة دے ، خو صحیح دغه دے لا خیا بة ، او دهغه سړی نوم حسان بن منقذ بن عمرو انصاریؒ وو، چه پلاد دے دیحییٰؒ او واسع بن حبانؒ داحد په جنګ کښې شریك وو، او څنو وئیلے دی چه دهغه پلار منقذ وو چه دهغه عمر یوسل دیرش کاله شوے وو، او په یو جنګ کښې دهغه سر په ګټه زخمی شوے وو ددے په وجه دهغه په عقل او ژبه دواړو کښې تتوالے راغلے وو۔

او دارقطنی وئیلے دی چه هغه ړوند وو، او په یو روایت کښے دی چه ثابت نهٔ دی چه جناب رسول اللهﷺ هغه ته دا فرمائیلی وو چه ته وائیه ماته اختیار دے ددرے ورځو پورے (روایت کړے دے دے لره حاکمؒ په مستدرك کښے او بیهقیؒ په کتاب المعرفه کښې او ابن ماجهؒ په سنن کښے او دار قطنیؒ او بخاریؒ په)تاریخ وسط کښے او ابن ابی شیبهؒ په مصنف کښے او عبدالرزاقؒ په مصنف کښے او عبدالحقؒ په احکام کښې۔

اوس اختلاف کړے دے عالمانو په دے حدیث کښې ، څنوداختیار خاص کړے دے ددغه سړی سره، اووئیلے دی چه نورو خلقو لره اګر که دهغویٔ نقصان وی په بیعه کښې دا اختیار

نشته دے او دغه مذهب دے د امام شافعیؒ او امام ابو حنیفهؒ او دغه صحیح روایت دے د مالك نه.
او بغدادیو مالکیه وائی چاته چه غبن ورکړے شی هغه ته اختیار دے ددے حدیث په رو سره په
دے شرط چه هغه غبن دقیمت دریمے حصے ته رسی، ددے نه په کم کښې به دا اختیار نۀ وی او
صحیح اول مذهب دے ولے چه اختیار دصحیح روایت نه ثابت نۀ شولو. انتهی مختصرا۔

بَابُ النَّهْيِ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ قَبْلَ بُدُوِّ صَلَاحِهَا بِغَيْرِ شَرْطِ الْقَطْعِ.

بَابُ: میوه دګومے پورے چه دهغے دصلاحیت یقین نۀ وی په ونو کښې ئے خرڅول درست نۀ دی بغیر دکټ کولو دشرط نه.

(۳۸۶۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتّٰى يَبْدُوَصَلَاحُهَا نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُبْتَاعَ. [بخاری، ابوداود،]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول اللهﷺ منع کړے ده دمیوؤ دخرڅولو نه (په ونو کښې) تر هغې پورے چه دهغې صلاحیت یقین نۀ وی راغلے، منع کړے ئے دے خرڅونکے دخرڅولو نه او اخستونکے داخستلو نه۔

(۳۸۶۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتّٰى تَزْهُوَ وَعَنِ السُّنْبُلِ حَتّٰى تَبْيَضَّ وَيَأْمَنَ الْعَاهَةَ وَنَهَى الْبَائِعَ الْمُشْتَرِيَ. [ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول اللهﷺ منع فرمائیلے ده کهجورو خرڅولو نه دګومے پورے چه غه سرے یازیړے شوے نۀ وی (ولے چه هر کله سوروالے یا زیړوالے پکښې اولګی نو دسلامتی یقین پرے اوشی) دغه شان منع ئے فرمائیلے ده وږی دخرڅولو نه دګومے پورے چه سپین شوے نۀ وی او دآفت ویره ترے تلی نۀ وی، او منع ئے کړے ده بائع لره دخرڅولو نه، او خریدار لره داخستلو نه۔

(۳۸۶۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْتَاعُوْا الثَّمَرَ حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَتَذْهَبَ عَنْهُ الْاٰفَةُ قَالَ يَبْدُوَ صَلَاحُهَا حُمْرَتُهُ وَصُفْرَتُهُ. [راجع: ۳۸۶۲]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول اللهﷺ فرمائیلی دی مۀ خرڅوئ میوے لره په (ونه کښې) تر هغې پورے چه دهغې دافت دلرے کیدو او دسلامتی

دمعلو میدونه غرض دادے چه سوروالے یا زیړوالے پکښې ښکاره شي۔

(۳۸۶۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ لَا تَبِیْعُوْا الثَّمَرَ حَتّٰی یَبْدُوَ صَلَاحُہٗ.

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ، مه خرڅوئ میوے لره د کومے پورے چه د هغے سلامتی معلومه نۀ وی۔

(۳۸۷۰) عَنْ عَبْدِاللّٰہِ ابْنِ دِیْنَارٍ بِھٰذَا الْإِسْنَادِ وزاد فِیْ حَدِیْثِ شُعْبَةَ فَقِیْلَ لِا ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا مَا صَلَاحُہٗ قَالَ تَذْھَبُ عَاھَتُہٗ. [بخاری]

ترجمه:د عبدالله بن دینارؒ نه هم د دغه روایت پشان روایت دے کوم چه پورته ذکر شو په دے کښې دومره زیاته ده چه خلقو اووے عبدالله بن عمرؓ ته د میوے د سلامتئی نه څه مراد دے هغویؓ اووے د هغے افت ختم شی۔

(۳۸۷۱) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ نَھٰی اَوْ نَھَانَا رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ عَنْ بَیْعِ الثَّمَرِ حَتّٰی یَطِیْبَ.

ترجمه:د جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے منع کړی مونږ لره جناب رسول الله ﷺ دَ میوۀ د خرڅولونه دَ کومے پورے چه هغه پاکے نۀ شِی۔(یعنی دَ آفت نه)

(۳۸۷۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰہِ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا یَقُوْلُ نَھٰی رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ عَنْ بَیْعِ الثَّمَرِ حَتّٰی یَبْدُوَ وصَلَاحُہٗ.

ترجمه:د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنها نه روایت دے منع کړے وه رسول الله ﷺ په وُنه کښے د میوے خرڅولو نه تر دے پورے چه د هغے صلاحیت ظاهر شِی۔

(۳۸۷۳) عَنْ اَبِی الْبَخْتَرِیِّ قَالَ سَاَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْھُمَا عَنْ بَیْعِ النَّخْلِ فَقَالَ نَھٰی رَسُوْلُ اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ عَنْہُ بَیْعِ النَّخْلِ حَتّٰی یَاْکُلَ مِنْہُ اَوْ یُؤْکَلَ مِنْہُ وَ حَتّٰی یُوْزَنَ فَقَالَ رَجُلٌ عِنْدَہٗ حَتّٰی یُحْزَرَ. [بخاری]

ترجمه:دَ ابو البُختری رضی اللّٰہ تعالیٰ عَنهُمَا نه روایت دے(د دوئ نام سعید بن عمران وو) چه ما د ابن عباس رضی اللہ تعالیٰ عنهُمَا نه تپوس اوکړو د کهجورو دَ وُنے د بیعے په باره کښې(یعنی د

میوے د خر خولو) هغوی اووے منع کرے ده رسول الله ﷺ د کهجورو دَ بیعے نه هر کله چه هغه د خوړلو لائقے شی او هر کله چه هغه د شوکولو او ایخودلو لائقے شی۔

(۳۸۷۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْتَاعُوْا الثِّمَارَ حَتّٰی یَبْدُوَ صَلَاحُهَا.

ترجمه: دَ ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنهُ نه روایت دے ، رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مهٔ خرڅوئ میوو لره د کومے پورے چه د هغے صلاحیت معلوم نهٔ وی۔

فائده: نووئ وئیلے دی دا ممانعت په هغه صورت کښ دے چه هر کله د شوکولو شرط نهٔ وی په بیعه کښے ، لیکن زمونږه ملګرو وئیلے دی چه کچرے د شوکولو شرط اوکړے شی،او بیا ئت دے اونهٔ شوکوی بیا هم صحیح کیدے شے،او بائع به زور کوی پهٔ خریدار باندِ د شوکولو د پاره ، البته که دواړه راضی وی په وُنه کښ د پریخودلو د پاره نو جائز دی،او څوك چه ئے په دے شرط خرڅ کړی چه په وُنه کښے ئے دغسے خرڅه کړی نو په اجماع سره دا بیعه باطله دَه،ځکه چه کله میوه تلف کیږی نو خرڅونکے به د خپل رور مال مفت والوزَوی او دا منع دی. دغه شان که بغیر د شرط نے ئے خرڅ کړی بیا هم زمونږ او د جمهورو عالمانو په نزد بیعه باطله ده،او ورستو دَ صلاحیت معلومیدو نه پهٔ هر شان سره بیعه درسته ده۔

بَابُ تَحْرِيْمِ بَيْعِ الرُّطَبِ بِالتَّمْرِ اِلَّا فِى الْعَرَايَا .

باب: شنې کجورے د وُچو کجورو په بدله خرڅول حرام دی،مګر عریه کښی درست دی .

فائده: عریه دا دے چه دَ باغ مالِك د خپلو وُنو نه څه وُنے چا غریب له ورکړی او په دغه ونو کښے شنه میوه لګیدلے وی بیا دے میوے لره هغه غیرب د چا بل چا په لا یا پخپله دَ مالك په لاس دَ وچے میوے په بدله خرڅه کړی،رسول الله ﷺ دے ته جائز وئیلے دی د دے د پاره چه غریبانو ته تکلیف نهٔ وی۔او ځنو وئیلے دی عریه دا ده ، چه غریب سرے چه د هغه سره نقدے روپئی نهٔ وی هغه پخپله او د خپل اهل و عیال د خوراك د پاره دَ وُچو کجورو پهٔ بدله په وُنو کښے شنے کجورے واخلی نو جائز دی ، په دے شرط چه د پنځه وسقو نه کم وی او یو وسق

شپیتـہ کاسـے وی،او دے تـہ مـزابنه وئیلے شی کومه چه ممنوع ده ،مگر عریه لره ترے حضرتؐ مستثنے کړے دے۔

(۳۸۷۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ بَیْعِ الثَّمَرِ حَتّٰی یَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَ عَنْ بَیْعِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ قَالَ ابْنُ عُمَرَ وَ حَدَّثَنَا زَیْدُ ابْنُ ثَابِتٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِیْ بَیْعِ الْعَرَایَا زَادَ ابْنُ نُمَیْرٍ فِیْ رِوَایَتِهٖ اَنْ تُبَاعَ. [نسائی]

ترجمه: د عبدالله بـن عـمـر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله منع فرمائیلے ده د میوؤ د خرڅولـونـه د کـومے پـورے چـه د هغـے صـلاحیـت معلوم نهٔ وی،او په ونه کښے شنے کهجـورے د وُچـو کهـجـورو پـه بـدلـه د خرڅولونه،ابن عمرؓ وئیلے دی چه زید بن ثابتؓ مونږ ته حدیث بیان کړو چه رسول الله ﷺ رخصت ورکړے د عرایا په بیعه کښې(عرایا جمع د عریه ده چه معنی ئے پورته ذکر شوه).

(۳۸۷۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ حَتّٰی یَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَلَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ بِالتَّمْرِ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَ حَدَّثَنِیْ سَالِمُ ابْنُ عَبْدِاللّٰہِ ابْنِ عُمَرَ عَنْ اَبِیْهِ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ سَوَآءً. [نسائی]

ترجمه: دَ ابـو هـریـره رضـی الله تـعـالیٰ عـنـه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مهٔ خرڅـوی پـه وُنـه کښے میـوے د کـومے پورے چـه د هغے صلاحیت ظاهر شوے نهٔ وی او مهٔ خرڅوئ دَ وُنو کهجورے دَ وُچو کهجور په بدل کښی۔

(۳۸۷۸) عَنْ سَعِیْدِ ابْنِ الْمُسَیَّبِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةُ اَنْ یُّبَاعَ تَمْرُ النَّخْلِ بِالتَّمْرِ وَالْمُحَاقَلَةُ اَنْ یُّبَاعَ الزَّرْعُ بِالْقَمْحِ وَاسْتِکْرَآءُ الْاَرْضِ بِالْقَمْحِ قَالَ وَ اَخْبَرَنِیْ سَالِمُ ابْنُ عَبْدِاللّٰہِ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهٗ قَالَ لَاتَبْتَاعُوا الثَّمَرَ حَتّٰی یَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَلَا تَبْتَاعُوا الثَّمَرَ وَقَالَ سَالِمٌ اَخْبَرَنِیْ عَبْدُاللّٰہِ عَنْ زَیْدِ ابْنِ ثَابِتٍ رَّضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهٗ رَخَّصَ بَعْدَ ذٰلِکَ فِیْ بَیْعِ الْعَرِیَّةِ بِالرُّطَبِ او بِالتَّمْرِ وَلَمْ یُرَخِّصْ فِیْ غَیْرِ ذٰلِکَ. [بخاری ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:ابـن شـهـاب روایـت کـړے دے دَ سـعـید ابن المسیب نهٔ چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دَ

مزابنه نه او محاقله نه،مزابنه دا ده چه په وُنه کښې کهجورې دَ وُچو کهجورو په بدله خرڅې کړې شي او محاقله دا ده چه په وږی کښې غنم د غنمو د ډيری په بدله خرڅ کړيشی او منع کړې ده حضرتٌ د زمکې په کرايه بانډِ دَ ورکولونه د غنمو په بدله(يعنی د هغه غنمو په بدله کوم چه په دې زمکه کښې پيدا کيږی)ابن شهاب رضی الله تعالیٰ عنه وئيلې دی ما ته الم بن عبدالله بيان اوکړو چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی مهٔ خرڅوئ ميوې هر کله چه د هغې صلاحيت معلوم نهٔ وی،او مه خرڅوئ په وُنه کښې کهجورې دَ وُچو کهجورو په بدله،او سالمٌ وئيلې دی ما ته عبدالله بَيَان کړې دې هغوئ اوريدلی دی د زيد بن ثابتٌ نه هغویٌ اوريدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه حضرتٌ رخصت ورکړو د دې نه پس په عريه کښِ،او ډوا د عريه نه د بل هيڅ شي اجازې نشته دې۔

(۳۸۷۹) عَنْ زَيْدِ ابْنِ ثَابِتٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لِصَاحِبِ الْعَرِيَّةِ اَنْ يَّبِيْعَهَا بِخَرْصِهَا مِنَ التَّمْرِ.

ترجمه:د زيد بن ثابت رضی الله تعالیٰ عَنهُ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ اجازت ورکړې دې عريه والا ته د هغې دَ خرخولو د کهجورو په بدل کښې په اندازه سَره۔

(۳۸۸۰) عَنْ زَيْدِ ابْنِ ثَابِتٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِيْ الْعَرِيَّةِ يَأْخُذُهَا اَهْلُ الْبَيْتِ بِخَرْصِهَا تَمْرًا يَأْكُلُوْنَهَا رُطَبًا.

ترجمه:د زيد بن ثابت رضی الله تعالیٰ عَنهُ نه روايت دې چه رسول الله ﷺ رخصت ورکړې دې په عُرِيَه کښې او مراد د عريه نه دا دې چه د يو کور خلق په اندازه سره کهجورې ورکړی او د هغې په بدله کښې په وُنه کښې شنې کهجورې خوراك له واخلی۔

(۳۸۸۲)عَنْ يَحْيٰى ابْنِ سَعِيْدٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ وَ الْعَرِيَّةُ النَّخْلَةُ تُجعَلُ لِلْقَوْمِ فَيَبِيْعُوْنَهَا بِخَرْصِهَا تَمْرًا .[راجع: ۳۸۷۸]

ترجمه:د يحيٰی بن سعيد رضی الله عنه نه دغه شان مروی دې،په دې کښِ دا دی چه عريه هغه وُنه ده د کهجورې چه هغه چا له ورکړې شي بيا هغه په اندازه د هغې ميوې لره دَ وُچو کهجورو په بدله خرڅې کړی۔

(۳۸۸۳) عَنْ زَيْدِ ابْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِيْ بَيْعِ الْعَرِيَّةِ بِخَرْصِهَا تَمْراً قَالَ يَحْيَى الْعَرِيَّةُ اَنْ يَّشْتَرِيَ الرَّجُلُ ثَمَرَ النَّخَلاتِ لِطَعَامِ اَهْلِهِ رُطَبًا بِخَرْصِهَا تَمْراً.

ترجمه: د زید بن ثابت رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ رخصے ورکړے دے د عریه په بیعه کښې د اندازے کولو د کهجورے په بدله یحیٰ وائی عریه دا ده چه یو سړے په څو ونو کښې میوے د خپل کور والا د خوراك دَ پاره واخلی دَ وچے کهجورے په بدله کښې په اندازه سره۔

(۳۸۸۴) عَنْ زَيْدِ ابْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي الْعَرَايَا اَنْ تُبَاعَ بِخَرْصِهَا كَيْلًا.

ترجمه: دَ زید بن ثابت رضی الله تعالیٰ عنه نهٔ روایت دے چه رسول الله ﷺ رخصت ورکړے دے په عرایه کښې په اندازه د خرڅولو د ماپ نه۔

(۳۸۸۶) عَنْ نَافِعٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِيْ بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا. [راجع: ۳۸۷۸]

ترجمه: د نافعؒ نه مروی دے چه دغه سند سره چه رسول الله صَلی الله علیه اجازت ورکړے د عرایا د بیعے په اندازه کولو سره۔

(۳۸۸۷) عَنْ بَعْضِ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَهْلِ دَارِهِمْ مِنْهُمْ سَهْلُ ابْنُ اَبِيْ حَثْمَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ وَقَالَ ذٰلِكَ الرِّبَا تِلْكَ الْمُزَابَنَةُ اِلَّا اَنَّهُ رَخَّصَ فِيْ بَيْعِ الْعَرِيَّةِ النَّخْلَةِ وَالنَّخْلَةِ وَ النَّخْلَتَيْنِ يَأْخُذُهَا اَهْلُ الْبَيْتِ بِخَرْصِهَا تَمْراً الْبَيْتِ بِخَرْصِهَا تَمْراً يَأْكُلُوْنَهَا رُطَبًا. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: بشیر بن یسارؒ د رسول الله ﷺ د څنے اصحابوؓ نه روایت کړے دے کوم چه د هغویؓ په کور کښې اوسیدلو چه په هغویؓ کښې یو سهل بن ابی حثمهؓ وو، چه رسول الله ﷺ منع کړے ده چه ونه کښې د لګیدلو کهجورو دَ وچو کهجورو په بدل دَ خرڅولو نه، او فرمائیلی ئے دی دغه سود دیه دغه مزابنه ده، مګر حضرتؑ کښې چه دَ یوے ونے یا دَ دوه ونو کهجورے څوك کور والا(د خپل بال بچ د خوراك د پاره)واخلی او د هغے په بدل کښې په اندازه سره وچے کهجورے

ورکړی، د شنو کهجورو د خوراك په وجه.

(۳۸۸۸) عَنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُمْ قَالُوْا رَخَّصَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ بَيْعِ الْعَرِيَّةِ بِخَرْصِهَا تَمْرًا. [راجع: ۳۸۸۷]

ترجمه: دَ رسول الله ﷺ د اصحابوؓ نه روایت دے هغویؓ وئیلے دی رسول الله ﷺ اجازت ورکړے دے، د عریه په بیعه کښ دَاندازے کولو سره.

(۳۸۹۱) عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ وَّسَهْلِ ابْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا حَدَّثَاهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُزَابَنَةِ التَّمْرِ بِالتَّمْرِ اِلَّا اَصْحَابَ الْعَرَايَا فَاِنَّ هُمْ قَدْ اَذِنَ لَهُمْ. [راجع: ۳۸۸۷]

ترجمه: د رافع بن خدیجؓ او سهل بن ابی حثمهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده، د مزابنه نه، یعنی دَونے شنے کهجورے په بدل دَوچو کهجورو د خرخولو نه مگر عرایه والا ته ئے دے اجازت ورکړے دے.

(۳۸۹۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِيْ بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا فِيْمَا دُوْنَ خَمْسَةِ اَوْسُقٍ اَوْفِيْ خَمْسَةٍ يَشُكُّ دَاوُدُ قَالَ خَمْسَةٌ اَوْ دُوْنَ خَمْسَةٍ. قَالَ نَعَمْ! [بخاری، بوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دَابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رَسول الله ﷺ اجازت ورکړے دے د عرایا په بیعه کښ په اندازے سره په دے شرط چه د پنځه وسَق نه کم وی یا د پنځه وسقه پورے شك دے داوُد بن الحصین ته چه راوی دے د دے حدیث.

(۳۸۹۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُزَابَنَةِ بَيْعُ التَّمْرِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَّ بَيْعُ الْكَرْمِ بِالزَّبِيْبِ كَيْلًا.

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دَ مزابنه نه، او مزابنه وئیلے شی په وُنه کښے کهجورو لره دَوچو کهجورو په بدله خرخولو ته په ماپ سره، او په وُنه کښ انګورو لره دَوچو انګورو په بدله کښ خرخولو ته په ماپ سره.

(۳۸۹۴) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُزَابَنَةُ بَيْعُ تَمْرِ النَّخْلِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَّ بَيْعُ الْعِنَبِ بِالزَّبِيْبِ كَيْلًا وَّ بَيْعُ الزَّرْعِ بِالْحِنْطَةِ كَيْلًا.

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضیَ الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د مزابنه نه، او مزابنه ونیلے شي په وُنه کښے کهجورے دَ وُچو کهجورو په بدله خرڅولو ته او په وُنه کښے انګور دَ وُچو انګورو په بدله خرڅولو ته ماپ سره(په اټکل او اندازه کولو سره)او پټے دَ غنمو د غنمو په بدله خرڅولو ته،(دے ته محاقله هم ونیلے شي)۔

(۳۸۹۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُزَابَنَةُ بَیْعُ تَمْرِ النَّخْلِ بِالتَّمْرِ کَیْلًا وَ بَیْعُ الزَّبِیْبِ بِالْعِنَبِ کَیْلًا وَ عَنْ کُلِّ ثَمْرٍ بِخَرْصِهٖ.

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے منع کړے ده رَسول الله ﷺ دَ مزابنه نه ، او مزابنه بیعه ده په وُنه کښے کهجورے دَ وُچو کهجورو سره د ماپ کولو او په وُنه کښے انګور دَ وچو انګورو سره په ماپ کولو سره په دے شان هره یوه میوه په اندازے سره(د هغے میوے په بدله)۔

(۳۸۹۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُزَابَنَةُ اَنْ یُّبَاعَ مَا فِیْ رُؤُسِ النَّخْلِ بِتَمْرٍ بِکَیْلٍ مُسَمًّی اِنْ زَادَ فَلِیْ وَاِنْ نَّقَصَ فَعَلَیَّ. [بخاری]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے، چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د مزابنه نه او مزابنه دا ده، چه دَ وُنے کهجورے دَ وُچو کهجورو په بدله خرڅے کړے شي ، یعني دَ وچو کهجورو ماپ به معتین وی(مثلاً څلور اوړی یا پنځه اوړی دَ وُچو کهجورو په بدله)او اخستونکے دا ووائي چه د وُنے کهجورے کچرے زیاتے اوختے نو زما به وی او که کمے شولے نو زَمَا به نقصان وی۔

(۳۸۹۸) عَنْ اَیُّوْبَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهٗ. [راجع : ۳۸۹۷]

ترجمه : هغه ده کومه چه مخکښے تیره شوه۔

(۳۸۹۹) عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ اَنْ یَّبِیْعَ ثَمَرَ حَآئِطِهٖ اِنْ کَانَتْ نَخْلًا بِتَمْرٍ کَیْلًاوَّ اِنْ کَانَ کَرْمًا اَنْ یَّبِیْعَهٗ بِکَیْلٍ طَعَامٍ نَهٰی اَنْ ذٰلِکَ کُلِّهٖ وَفِیْ رِوَایَةٍ قُتَیْبَةَ اَوْ کَانَ زَرْعًا. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:دعبدالله رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دت چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د مزابنه نه ،

او هغه داده چه د خپل باغ میوه که کهجوره وی نو دَ وُچے کهجورو په بدله ئے خرخت کړی په ماپ سره،او کچرے انګور خرڅے کړی په ماپ سره ، او کچرے فصل وی نو دَ وُچے غلے په بدله ئے کرڅو تولو خبرونه منع کړے ده.(ولے چه په دے تولو کښے احتمال دے دَ کمی او زیاتی)۔

بَابُ مَنْ بَاعَ نَخْلًا وَّعَلَيْهَا تَمْرٌ .

بَابُ:کوم بنده چه د کهجورے وُنه خرخه کړی او په هغې کښې کهجورے لګیدلی وی .

(۳۹۰۱) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ بَاعَ نَخْلًا اُبِّرَتْ فَثَمَرُهَا لِلْبَائِعِ اِلَّا اَنْ يَّشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ. بخاري ، ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چا چه د کهجورے وُنه خرخه کړه دَ څوکے پیوند کولو نه پس مګر په هغے باندِ میوه د خرڅونکی ده مګر هر کله چه ئے خریدار شرط واخلی۔

فائده: چه میوه به زړه اخلم ، او بائع پرے راضی شِی نو میوه به خریدار ته میلاویږی ، او مالکؒ او شافعیؒ او لیثؒ او د زیاتو عالمانو مذهب د دے حدیث موافق دے،او هغوئ ای چه کچرے د دغے ونے تیغ پیوند شوے نۀ وی نو میوه به د خریدار وی البته کچرے بائع شرط اوکړی چه میوه به زۀ اخلم او اخستونکے پرے راضی شِی نو میوه به خرڅونکی ته میلاویږی۔او دَ امام ابو حنیفهؒ په نزد به په هر صورت کښے میوه د بائع وی ، او دَ ابن ابی لیلیٰ په نزد به دغه میوه په هر حال کښے دَ اخستونکی وی(نوویؒ مختصرا)۔

(۳۹۰۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَيُّمَا نَخْلٍ اشْتُرِيَ اُصُوْلُهَا وَقَدْ اُبِّرَتْ فَاِنَّ ثَمَرَهَا لِلَّذِيْ اَبَّرَهَا اِلَّا اَنْ يَّشْتَرِطَ الَّذِي اشْتَرَاهَا .

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د کومے وُنے زیلے چه څوك واخلی او په هغے کښ تیغ پیوند شوے وی،نو میوه به د هغه چاوی چا چه پکښ تیغ(یعنی قلم)پیوند کړے وی،مګر هر کله چه خریدارئے شرط

اولګوی۔

فائده:د میوے کہ ئے د ځان د پاره شرط اولګوۀ نو ده ته به میلاویږی۔د کهجورے وُنه نر او ماده وی،د مادے تیغ اوڅیری او د نر تیګ پکښ پیوند کړی نو ډیره میوه نیسی،په عربئی کښے دے ته تابیر وئیلے شِی،او مُوبّرٌ هغه ونے ته وئیلے شی د کومے سره چه دا عمل کے شوے وی۔

(۳۹۰۳) عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالیٰ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَیُّمَا امْرِءٍ اَبَّرَ نَخْلًا ثُمَّ بَاعَ اَصْلَهَا فَلِلَّذِیْ اَبَّرَ ثَمَرَ النَّخْلِ اِلَّا اَنْ یَّشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی اللّٰہ تعالیٰ عَنهُمَا نه روایت دے چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلے ئے وو څوك چه دَ کهجورے ونه د تابیر نه پس واخلی نو میوه به د هغے بائع ته میلاویږی مګر هر کله چه مشتری ورسره د میوے شرط اولګوی،او څوك چه یو غلام واخلی او هغه مالداروی نو مال به ئے د بائع وی،مګر هر کله چه مشتری ورسره شرط اوکړی۔

(۳۹۰۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ بِمِثْلِهِ.

ترجمه:دا دویم روایت هم د عبدالله بن عمر رضی الله تعالیٰ عنهما نه هم دغه شان دے لکه چه پورته تیر شولو۔

فائده :امام نوویؒ وئیلے دی په دے حدیث کښے دلالت دے دَ امامِ مالكؒ او شافعیؒ د قدیم مذهب که چرے مالك خپل غلام لره د مال مالك کړی نو د هغه مِلك کیدے شی،لیکن بیا چه هر کله مالك دغه غلام خرڅوی نو هغه به د مالك مالك کیږی۔او نورے قول دَ امامِ شافعیؒ او دَ امامِ ابو حنیفه رحمة الله علیه مذهب دا دے چه غلام دَ څه څیز مالك کیدے نۀ شی،او د حدیث نه مقصود دا دے چه کوم مال د غلام په قبضه کښ وی نۀ د هغه په مِلك کښے هغه مال مال به دَ بائع وی تر دے پورے چه کومے کپړے چه دے غلام اغوستے وی هغه هُم۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷

بَابُ النَّهْيِ عَنْ بَيْعِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَ عَنِ الْمُخَابَرَةِ وَ بَيْعِ الثَّمْرَةِ قَبْلَ بَدْوِ صَلَاحِهَا وَ عَنْ بَيْعِ الْمُعَاوِمَةِ وَهُوَ بَيْعُ السِّنِيْنَ.

باب: د محاقله او مزابنه او مخابره ممانعت او د میوې بیعه مخکښې د صلاحیت نه او د معاومه منع کېدل.

فائده: امامِ نوویؒ وئیلے دی مخابره او مزابنه او د میوے بیعه مخکښې دَ صلاحیت نه د دے ذکر خو پورته ذکر شولو اوس مخابره او مزارعه دواړه نزدے نزدے دی، او د دے معانے دا دی چه زمکے لره په کرایه بانډِ ورکول د هغې د پیداوار په یوه حصّه بانډِ مثلاً په دریمه حِصّه یا څلورمه او یا په نیمه بانډِ، لیکن په مزارعت کښې تخم د زمکے د مالك وی، او په مخابره کښې تخم د زمیندار وی، دغه شان وئیلے دی زمونږ زیاتو ملګرو ، او دَ امامِ شافعیؒ ظاهِر نص دغه دے، او د څنو ملګرو زمونږه۔ او یو جماعت دا وئیلی دی چه مزارعت او مخابرت دواړه یو شان دی او معاومه دا دے چه یو سړے د خپلے وُنے میوه دَ دوه دریو کالو د پاره خرڅه کړی او دا باطله ده چه اجماع سره ځکه چه په دے کښې دهوکه ده، کیدے شی هغه وُنه میوه اونهٔ نیسی، یا څه بل څه آفت پرے رانهٔ شی(انتهی)۔

(۳۹۰۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَعَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهُ وَلَا يُبَاعُ إِلَّا بِالدِّيْنَارِ وَالدِّرْهَمِ إِلَّا الْعَرَايَا. [بخاری، نسائی، وراجع: ۱۷۸۴]

ترجمه: د حضرت جَابر بن عبدالله رضی اللّٰهُ تعالٰی عنهما نه روایت دے رسول الله ﷺ منع کړے ده دَ محاقلے نه او مزابنے نه او مخابره نه او دَ میوؤ دَ بیعے نه د کومے پورے چه د هغې صلاحیت معلوم شوے نهٔ وی ، او نه دِ شی خرڅولے میوے مګر دَ روپو یا اشرفو په بدل کښې البته د عرایا بیعه درسته ده۔

فائده: د دے ټولو لفظونو معانے پورته بَیان شولے۔

(۳۹۱۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُخَابَرَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَ عَنْ بَيْعِ الثَّمْرَةِ حَتّٰى تُطْعَمَ وَلَا تُبَاعُ إِلَّا بِالدِّيْنَارِ وَالدِّرْهَمِ إِلَّا الْعَرَايَا قَالَ عَطَآءٌ فَسَّرَهَا

لَنَا جابِرٌ قَالَ اَمَّا الْمُخَابَرَةُ فَالْاَرْضُ الْبَيْضَآءُ يَدْفَعُهَا الرَّجُلُ اِلَى الرَّجُلِ فَيُنْفِقُ فِيْهَا ثُمَّ يَاْخُذُ مِنَ الثَّمَرِ وَزَعَمَ اَنَّ الْمُزَابَنَةَ بَيْعُ الرُّطَبِ فِى النَّخْلِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَّ الْمُزَابَنَةُ بَيْعُ الرُّطَبِ فِى النَّخْلِ بِالتَّمْرِ كَيْلًا وَّ الْمُحَاقَلَةُ فِى الزَّرْعِ عَلٰى نَحْوِ ذٰلِكَ يَبِيْعُ الزَّرْعَ الْقَآئِمَ بِالْحَبِّ كَيْلًا. [راجع : ۳۹۰۸]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالٰی عَنهُمَا نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د مخابره او محاقله او مزابنه نه او د میوے د بیعے نه د کومے پورے چه د هغه د خوراك لائق نهٔ وی.او نهٔ د شی خرخولے مگر د دینار او درهم په بدله سره البته عرایا(بیعه)درسته ده ، عطاء وائی جابرؓ د دے لفظونو بل سړی ته ورکړی او هغه په دے کښې خرج اوکړی او دَ پیداوار نهٔ ئے حِصّه واخلی،او مزابنه د شنو کجورو بیعَه ده چه هغه په ونه کښې لګیدلی وی دَ وُچو کهجورو په بدله په پیمانه سره او محاقله په پټی کښې هم دغسے دے ، یعنی ولاړ فصل دَ غلے په عوض خرخول په ماپ سره۔

(۳۹۱۱) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَاَنْ يُّشْتَرَى النَّخْلُ حَتّٰى يُشْقِهِ وَالْاِشْقَاهُ اَنْ يَّحْمَرَّ اَوْ يَصْفَرَّ اَوْ يُؤْكَلُ مِنْهُ شَىْءٌ وَالْمُحَاقَلَةُ اَنْ يُّبَاعَ الْحَقْلُ بِكَيْلٍ مِّنَ الطَّعَامِ مَعْلُوْمٍ وَّ الْمُزَابَنَةُ اَنْ تُبَاعَ النَّخْلُ بِاَوْسَاقٍ مِّنَ التَّمْرِ وَالْمُخَابَرَةُ الثُّلُثُ وَالرُّبُعُ وَاَشْبَاهُ ذٰلِكَ قَالَ زَيْدٌ قُلْتُ لِعَطَآءِ ابْنِ اَبِىْ رَبَاحٍ اَسَمِعْتَ جَابِرَبْنَ عَبْدِ اللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَذْكُرُ هٰذَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ نَعَمْ.

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالٰی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلے ده دمحاقله او مزابنه او مخابره نه او دکهجورے دونے دخرخولونه دکومے پورے چه دهغے میوه سره شوے سرخ یا زیړه شوے نهٔ وی یا دخوراك لائقه نهٔ دی۔ او محاقله داده چه ولاړ فصل دغلے په بدله خرڅ کړے شی کوم چه معین دے۔او مزابنه داده چه دکهجورے ونه دکهجورو په بدله خرڅه کړے شی ، او مخابره داده چه په درئمه یا څلورمه حصه پیدا وار بانـد زمکـه ورکـړی (چه هغے ته زمونږ په ملك کښې دهقانی وئیلے شی)زیدؒ وائی ماد عطاء بن ابی رباح نه تپوس اوکړو؟ اے تا دا حدیث دجابرؓ رضی الله تعالی عنه نه اوریدلے دے چه هغوی روایت کوؤ درسول الله صلی الله علیه وسلم نه؟ هغویؓ اووے هاں۔

(۳۹۱۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُخَابَرَةِ وَعَنْ بَیْعِ الثَّمَرَةِ حَتّٰی تُشْقِحَ قَالَ تَحْمَارُ وَتَصْفَارُ وَیُؤْکَلُ مِنْهَا .[بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعال عنهما نه روایت دے وائی چه منع فرمائیلے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم دمزابنه نه او محاقله نه او مخابره نه او دمیؤودبیعے نه دکومے پورے چه هغه سُرخ شوے او زیړے شوے نۀ وی، اود خوړولو قابلے شوے نۀ وی۔

(۳۹۱۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰے عَنْهُمَا قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ وَ الْمُعَاوَمَةِ وَالْمُخَابَرَةِ قَالَ اَحَدُ هُمَا بَیْعُ السِّنِیْنَ هِیَ الْمُعَاوَمَةُ وَعَنِ الثُّنْیَا وَرَخَّصَ فِی الْعَرَایَا . [ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم دمحاقله او مزابنه او معاومه او مخابره نۀ ، ددے حدیث په دوؤ راویانو کښې یو وائی چه معاومه هغه بیعه ده دخو کالو دپاره ، (دخپلے ونے دمیوے) او منع کړے ده حضرت داستثناء کولو نه (یعنی دیو مجهول مقدار دویستلو نه)لکه داسے اووائی ماپتا دادغلے دهیرے خرڅ کړلو مګر لږه به ددے نه او باسمه یا دا باغ م خرڅ کړو مګر په دے کښې م څنے اوبے نۀ دی درخرڅے کړے ولے چه په دے صورت کښے بیع باطلیږی ، او کومه استثناء چه معلومه وی لکه داسے اووائی دا دهیرے دغلے خرخوم مګر څلورمه حصه به ددے نه او باسم نو صحیح ده په اتفاق سره او اجازت ورکړے دے حضرت دعرایا۔

بَابُ كِرَاءِ الْاَرْضِ .

بابُ: زمکے لره په کرایه باندے دورکولو بیان۔

(۳۹۱۶) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كِرَاءِ الْاَرْضِ وَعَنْ بَیْعِهَا السِّنِیْنَ وَعَنْ بَیْعِ الثَّمَرِ حَتّٰی یَطِیْبَ .

ترجمه: دجابر بن عبدالله انصاری رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے ، چه منع کړے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم زمکے لره په کرایه باند ورکولو نه ، اودخو کالو دپاره دبیعے کولو نه، او دمیوے دخرڅولو نه (کومے چه په وُنه کښې وی) دکومے پورے چه هغه پخیدو ته نزد شوے نۀ

وی۔

فائده : نووی وئیلے دی عالمانو په دے مسئله کښ اختلاف کړے دے، نو طاؤس او حسن بصری وئیلے دی چه دزمکے کرایه ورکول مطلقا درست نۀ دی، خواه که دغلے په بدل کرایه ورکوی یا دسروزرو سپینو زرو خواه که دپیدا اوارپه څه حصه باندی وی او دامام شافعیؒ او امام ابو حنیفهؒ او داکثرو علماؤ په نزد دزمکے په کرایه باندی ورکول په سپینو زرو او سروزرو او په پارچه او داشیاؤ په بدل درسته ده، لیکن پخپله ددغے زمکے دپیداوار دیوے حصے په بدل درست نۀ دے، چه ورته مخابره وئیلے شی۔ (او په هندیٔ کښے ورته دهقانی وائی)

او ربیعهؒ وئیلے دی صرف دسروزرو او دپینو زرو په بدل درسته ده، او امام مالك وئیلے دی چه دسروزرو او سپینو زدو او دنورو څیزونو په بدل درسته ده مګر دغلے په بدل درسته نه ده، او دامام احمدؒ او ابو یوسفؒ او امام محمدؒ او دیو مالکی جماعت په نزد دسروزرو او سپینو زرو په بدل او دپیداوار دیوے حصے په بدل هم درسته ده، او دغے ته مزارعت وئیلے شی، او ابن شرع او ابن خزیمهؒ او خطابیؒ او مونږه محققینو ملګرو دغے لره اختیار کړے دے، او دغه راجح دے، او دممانعت دحدیث نے دا تاویل کړے ده چه دا مخالفت په طور دکراهت تنزیهی دے، او په واسطه درغبت ورکولو دے په مفت ورکولو کښ، تمام شو کلام دنوویؒ۔

(۳۹۱۶) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ كِرَآءِ الْاَرْضِ . [نسائی]

ترجمه : دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله صلے الله علیه وسلم منع کړے ده زمکے لره په کرایه باند دورکولو نه۔

(۳۹۱۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهٗ اَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا فَاِنْ لَّمْ يَزْرَعْهَا فَلْيُزْرِعْهَا اَخَاهُ . [نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلے الله علیه وسلم فرمائیلی دی دچاسره چه زمکه خالی وی نو هغه دپکښے زمینداره کوی او کچرے پخپله نۀ کوی نو بل چاته دئے ورکړی (په طور دعادیت بلا کرایه) چه هغه پکښ فصل او

کړی۔

(۳۹۱۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ كَانَ لِرِجَالٍ فُضُوْلُ اَرْضِيْنَ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ فَضْلُ اَرْضٍ فَلْيَزْرَعْهَا اَوْ لِيَمْنَحْهَا اَخَاهُ فَاِنْ اَبٰى فَلْيُمْسِكْ اَرْضَهُ.

[بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما نهٔ روایت دے وائی چه د رسول الله ﷺ د څنې اصحابوؒ وُ سره خالي بنجره زمکه وه(یعنی په هغې کښې به فصَل نه کیدو)نو رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل!د چا سره چه دَ هغه ډ پکښې فصل کوی یا ډ ئے خپل مسلمان رورله ورکړی(د فصل د پاره) کچرئے هغه ئے نهٔ اخلی نو زمکه ډ پخپل ځائے نیولے پریږدی۔

(۳۹۱۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُؤْخَذَ لِلْاَرْضِ اَجْرٌ اَوْ حَظٌّ.

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه منع کړے ده رَسُوْل الله ﷺ دَ د زمکے دَ کرائے یا دَ فائدے اخستلو نه۔

(۳۹۲۰) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَتْ لَهُ اَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ اَنْ يَّزْرَعَهَا وَ عَجَزَ عَنْهَا فَلْيَمْنَحْهَا اَخَاهُ الْمُسْلِمَ وَلَا يُؤَاجِرْهَا اِيَّاهُ. [نسائی]

ترجمه : د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه جناب رَسُوْل الله ﷺ فرمائیلی دی د چا سره چه زمکه وی هغه ډ پکښې فصل کوی او که پخپله کښې د فصل کولو طاقت نهٔ لری نو خپل به رور مسلمان له ډ ئے ورکړی او د هغه نه ډ کرایه نهٔ اخلی۔

(۳۹۲۱) عَنْ هَمَّامٍ قَالَ سَئَلَ سُلَيْمٰنُ ابْنُ مُوْسٰى عَطَاءً فَقَالَ حَدَّثَكَ جَابِرُ ابْنُ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَتْ لَهُ اَرْضٌ فَلْيَزْرَعْهَا اَوْ لِيُزْرِعْهَا اَخَاهُ وَلَا يُكْرِيْهَا؟ فَقَالَ نَعَمْ. [نسائی]

ترجمه: د همامؒ نه روایت دے وائی چه سلیمن بن موسیٰؒ دعطاءؒ نه تپوس اوکړو چه اے تا ته جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما دا حدیث بیان کړے دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د چا سره چه زمکه وی هغه ډ په هغې کښې فصل کوی یا ډ ئے خپل رور له د فصل د

پاره ورکړي،او هغې لره ډېه کرایه بانډ نۀ ورکوي؟هغوئ ب اووے چه هاں!۔

(۳۹۲۲) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنِ الْمُخَابَرَةِ. [نسائی]

ترجمه:د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د مخابره نۀ،(د مخابره معنی پورته تیره شوے ده)۔

(۳۹۲۳) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ کَانَ لَهٗ فَضْلُ اَرْضٍ فَلْیَزْرَعْهَا اَوْ لِیُزْرِعْهَا اَوْ لِیُزْرِعْهَا اَخَاهُ وَلَا تَبِیْعُوْهَا فَقُلْتُ لِسَعِیْدٍ مَا تَبِیْعُوْهَا یَعْنِیْ الْکِرَآءَ قَالَ نَعَمْ.

ترجمه:د جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د چا سره چی زیاتی زمکه وی هغه دِ په هغې کښې فصل کوی یا خپل رورله دِئې د فصل د پاره ورکړي او نۀ دِ خرڅوی هغې لره،سلیم بن حبانؒ وائی چه ما د سعید بن میناۃ نه تپوس اوکړو د خرڅولو نه څه مراد دے اے په کرایه بانډ ورکول هغویؒ اووے هاں۔

(۳۹۲۴) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنَّا نُخَابِرُ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَنُصِیْبُ مِنَ الْقِصْرِیِّ وَمِنْ کَذَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ کَانَتْ لَهٗ اَرْضٌ فَلْیَزْرَعْهَا اَوْ فَلْیُحْرِثْهَا اَخَاهُ وَاِلَّا فَلْیَدَعْهَا.

ترجمه:د جابر رضی اللّٰه تعالیٰ عنهٗ نه روایت دے چه مونږه به مخابره(زمیندلري)کوله د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښې نو حصه به مو اخستله د هغې غلې نه کومه چه د تکولو نه پس به خوشو کښې پاتے کیږي،د هغې نه،بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل دَ چا سرَه چه زمکه وی هغه دِ په هغې کښې فصل کوی او یا دِئے خپل رور(مسلمان)ته دفصل د پاره ورکړي،او که نۀ وی نو د غسے دِئے پریږدی(یعنی په کروایه دِئے نۀ ورکوی)۔

(۳۹۲۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ کُنَّا فِیْ زَمَنِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَاْخُذُ الْاَرْضَ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ بِالْمَاذِیَانَاتِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ ذٰلِکَ فَقَالَ مَنْ کَانَتْ لَهٗ اَرْضٌ فَلْیَزْرَعْهَا فَاِنْ لَّمْ فَلْیَمْنَحْهَا اَخَاهُ فَاِنْ لَّمْ یَمْنَحْهَا اَخَاهُ فَلْیُمْسِکْهَا.

ترجمه:دَ جابر بن عبدالله رَضیَ اللّٰه تعالیٰ عنهما نه روایت دے هغوئ وائی چه مونږ به نهری

زمکه په دریمه یا څلورمه حصه پیداوار باندې(په دهقانئ سره)اخستله پس رسول الله ﷺ اوریدو او اوئے فرمائیل، چا سره چه زمکه وی هغه دِ پخپله په هغې فصل کوی،که نۀ کوی خپل رور لـه دِ ئے مفت ورکړی که هغه هم نۀ کوئ نو بیا دِ ئے هم دغسے پریږدی(او په دهقانئ دِ ئے نۀ ورکوی)۔

(۳۹۲۶) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ كَانَتْ لَهُ اَرْضٌ فَلْيَهَبْهَا اَوْ لِيُعِرْهَا:

ترجمه:د جابر رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے ما دَ رسول ﷺ نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو د چا سره چه زمکه وی هغه دِ هغې لره هبه کړی یا دِ ئے په عاریت ورکړی۔

(۳۹۲۷) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فَلْيَزْرَعْهَا اَوْ فَلْيُزْرِعْهَا رَجُلًا ۔

ترجمه:د اعمش ؒ نه همدغه روایت دے کوم چه پورته تیر شو مگر په دے کښې داسے دی چه پخپله دِ پکښې فصل کوی یا دِ ئے بل چا ته دِ فصل کولو د پاره ورکړی۔

(۳۹۲۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ كِرَاءِ الْاَرْضِ قَالَ بُكَيْرٍ حَدَّثَنِيْ نَافِعٌ اَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا يَقُوْلُ كُنَّا نُكْرِيْ اَرْضَنَا ثُمَّ تَرَكْنَا ذٰلِكَ حِيْنَ سَمِعْنَا حَدِيْثَ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ.

ترجمه:د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دَ زمکے په کرایه باندې دَ ورکولو نه،بکیرؒ وئیلے دی حدیث بیان کړے ئے ماته نافعؒ هغوئ اوریدلی دی د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه،هغوئؒ وائی چه مونږ به خپله زمکه په کرایَه باندې ورکولو،بیا پریخوده مونږ هغې لره هر کله چه د رافع بن خدیجؓ حدیث مونږ واوریدو،(چه مخکښې راغی)۔

(۳۹۲۹) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ اَرْضِ الْبَيْضَاءِ سَنَتَيْنِ اَوْ ثَلَاثًا.

ترجمه :د جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ دَ خالی زمکے د خرڅولو نه دَ دوه یا دریؤ کالو دَ پاره۔

(۳۹۳۰) عَنْ جابرٍ رضی الله تعالی عنهُ قال نهی رسولُ الله صلی الله علیهِ وسلم عَنْ بیعِ السِّنین، وفی روایة ابن ابی شیبةَ عَنْ بیعِ ثمرِ سِنِین. [ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے. وائی چه منع کړے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم دڅو کالو دپاره دبیعے کولو نه (یعنی وُنو لره یا زمکے لره) او دابن ابی شیبهؒ په روایت کښے دی چه منع ئے کړے ده دمیوے دبیعے نه دڅو کالو دپاره.

(۳۹۳۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُ قالَ قال رسُولُ اللهِ صَلَّی اللهُ علیهِ وسلَّمَ مَنْ کَانَتْ لَهُ اَرْضٌ فَلْیَزْرَعْهَا اَوْ لِیَمْنَحْهَا اَخَاهُ فَاِنْ اَبٰی فَلْیُمْسِکْ اَرْضَهُ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول لله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، دچا سره چه زمکه وی هغه دپه هغے کښې فصل کوی یا دے خپل رور (مسلمان) له مفت ورکړی که هغه ئے نهٔ اخلی نو خپله زمکه دهم دغسے شره پریږدی.

(۳۹۳۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُمَا اَخْبَرَهُ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَنْهٰی عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْحُقُوْلِ فَقَالَ جَابِرُ ابْنُ عَبْدِ اللهِ رِضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُمَا الْمُزَابَنَةُ الثَّمَرُ بِالتَّمْرِ وَالْحُقُوْلُ کِرَآءُ الْاَرْضِ. [نسائی]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے هغوی اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه منع ئے فرمائیله دمزابنے او حقول نه جابر رضی الله عنه وئیلی دی مزابنه خودکهجورو بیعه ده (کومے چه په وُنه کښې وی) دکهجورو په بدله، او حقول وئیلے شی زمکے لره په کرایه باند ورکولو ته.

(۳۹۳۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُنَابَذَةِ. [ترمذی]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، وائی چه منع فرمائیلے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم دمحاقلے او مزابنے نه.

(۳۹۳۴) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیْ رَضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُ یَقُوْلُ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُزَابَنَةِ وَالْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ اشْتِرَآءُ الثَّمَرِ فِیْ رُءُ وْسِ النَّخْلِ وَالْمُحَاقَلَةُ کِرَآءُ الْاَرْضِ. [بخاری، ابن

ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو سعید الخدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے منع کړے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم د مزابنه او محاقله نه، نو مزابنه د کهجورو خرخول دی په وُنه کښې، او محاقله زمکے لره په کرایه باندی ورکول دی۔

(۳۹۳۵) عَنْ عَمْرٍو قَالَ سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا يَقُوْلُ كُنَّا لَا نَرَىٰ بِالْخَبْرِ بَأْسًا حَتَّى كَانَ عَامُ أَوَّلٍ فَزَعَمَ رَافِعٌ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهُ .[ابو داود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د عمرو بن دینار نه روایت دے وائی چه ما د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه اوریدلی دی چه هغوئ وئیلے وو مونږ به په مخابره کښے څه بدی نه ګڼړله تر دے پورے چه رومبے کال او شو نو رافع اووے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړے ده د دے نه۔

(۳۹۳۶) عَنْ عَمْرٍو ابْنِ دِيْنَارٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ فِيْ حَدِيْثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ فَتَرَكْنَاهُ مِنْ أَجْلِهِ . [راجع:۳۹۳۵]

ترجمه: د عمرو بن دینار نه بل روایت هم دغسے دے لکه چه پورته تیر شولو، په دے کښې دومره زیاتـه ده چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما اووے چه د دے حدیث په وجه سره مونږ مخابره پریخوده۔

(۳۹۳۷) عَنْ مُجَاهِدٍ قَالَ قَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا لَقَدْ مَنَعَنَا رَافِعٌ نَفْعَ أَرْضِنَا .[راجع:۳۹۳۵]

ترجمه: د مجاهد نه روایت دے وائی چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما اووے چه منع کړو مونږه رافع زمونږ د زمکے امدنئ نه۔

(۳۹۳۸) عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا كَانَ يُكْرِيْ مَزَارِعَهُ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيْ إِمَارَةِ أَبِيْ بَكْرٍ وَعُمَرَ وَعُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمْ وَصَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ مُعَاوِيَةَ حَتَّى بَلَغَهُ فِيْ آخِرِ خِلَافَةِ مُعَاوِيَةَ أَنَّ رَافِعَ ابْنَ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ يُحَدِّثُ فِيْهَا بِنَهْيٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ عَلَيْهِ وَأَنَا مَعَهُ فَسَأَلَهُ فَقَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَى عَنْ كِرَاءِ الْمَزَارِعِ فَتَرَكَهَا ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا بَعْدُ فَكَانَ إِذَا سُئِلَ عَنْهَا بَعْدُ قَالَ زَعَمَ ابْنُ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْهَا. [بخاری ، ابو داود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : دنافع نه روایت دے چه ابن عمر رضی الله تعالی عنهما به خپله ذکروندے زمکه په کرایه باند ورکوله (خلقوته دفصل دپاره او دهغوی نه به ئے دزمکے کرایه اخستله) درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښے، او دحضرت ابوبکر او حضرت عمرؓ او دحضرت عثمان رضی الله تعالی عنهم په زمانه دخلافت کښے، او دحضرت معاویهؓ دخلافت په شروع کښې، تر دے پورے چه معاویهؓ ته دخپل خلافت په آخر دور کښې خبر اورسیدو، چه رافع بن خدیجؓ ددے منع والے بیانوی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه، نو هغویؓ لاړو او زهٔ هم ورسره وم، او دهغوئ نه مونږ تپوس اوکړو، رافع اووے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به منع فرمائیله زمکو لره په کرایه باند دورکولو نه، ددے په اوریدو سره عبدالله بن عمرؓ رضی الله تعالی عنهما په کرایه باندورکول پریخودو، بیا ددے نه پس چه به هر کله چا دهغوئ نه تپوس اوکړو (ددے مسئلے په باره کښې) نو هغوئ به وئیل چه دخدیج ځوئ وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلے ده ددے نه۔

(۳۹۳۹) عَنْ اَيُّوْبَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ وَزَادَ فِيْ حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ قَالَ فَتَرَكَهَا ابْنُ عُمَرَ بَعْدَ ذٰلِكَ فَكَانَ لَا يُكْرِيْهَا. [راجع: ۳۹۳۸]

ترجمه: دایوبؓ نه په دغه اسناد سره په شان دپورته حدیث روایت دے، په دے کښې دومره زیاته ده چه بیا عبدالله بن عمرؓ هغے لره پریخوده او په کرایه به ئے نهٔ ورکولے دفصل زمکو لره۔

(۳۹۴۰) عَنْ نَافِعٍ قَالَ ذَهَبْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اِلٰى رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ حَتّٰى اَتَاهُ بِالْبَلَاطِ فَاَخْبَرَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْ كِرَآءِ الْمَزَارِعِ. [راجع: ۳۹۳۸]

ترجمه : دحضرت نافع نه روایت دے وائی چه زهٔ دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما سره لاړم درافع بن خدیجؓ خواله تر دے پورے چه هغه راغے دهغوئ خواله په بلاط کښې(داد مسجد نبویؐ سره په خوا کښے دیو مقام نوم دے) پس هغوئ اووے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلی ده دفصل زمکو لره په کرایه باند دورکولو نه۔

(۳۹۴۲) عَنْ نَافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا كَانَ يَأْجُرُ الْاَرْضَ قَالَ فَنُبِّئَ حَدِيْثًا عَنْ رَافِعٍ فَانْطَلَقَ بِيْ مَعَهُ اِلَيْهِ قَالَ فَذَكَرَ فِيْهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ نَهٰى عَنْ كِرَآءِ الْاَرْضِ قَالَ فَتَرَكَهُ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ

اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فَلَمْ يَأْجُرْهُ. [راجع : ۳۹۳۸]

ترجمه: دنافع نه روايت دے چه عبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنهما به زمکه په کرايه باند اخستله. بيا هغوئ ته خبر ورکړے شو ديو حديث درافع ؓ نه. نافع ؓ وائی هغوئ زۀ دځان سره کړم دهغوئ خواله لاړو بيا رافع دخپلو ترونو نه نقل اوکړو چه رسول الله صلی الله عليه وسلم منع کړے ده دزمکے دکرائے نه، نافع ؓ وائی پس ابن عمر ؓ پريخودل په کرايه باند اخستل۔

(۳۹۴۳) عَنْ سَالِمِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ أَنَّ عَبْدَ اللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا كَانَ يُكْرِیْ أَرْضَهُ حَتّٰی بَلَغَهُ أَنَّ رَافِعَ ابْنَ خَدِيْجٍ الْأَنْصَارِیَّ كَانَ يَنْهٰی عَنْ كِرَآءِ الْأَرْضِ فَلَقِيَهُ عَبْدُ اللهِ فَقَالَ يَا ابْنَ خَدِيْجٍ مَا ذَا تُحَدِّثُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ كِرَآءِ الْأَرْضِ قَالَ رَافِعُ ابْنُ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ لِعَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَمِعْتُ عَمَّیَّ وَكَانَا قَدْ شَهِدَا بَدْرًا يُحَدِّثَانِ أَهْلَ الدَّارِ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ كِرَآءِ الْأَرْضِ قَالَ عَبْدُ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَقَدْ كُنْتُ أَعْلَمُ فِیْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ الْأَرْضَ تُكْرٰی ثُمَّ خَشِیَ عَبْدُ اللهِ أَنْ يَكُوْنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْدَثَ فِیْ ذٰلِكَ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ عَلِمَهُ فَتَرَكَ كِرَآءَ الْأَرْضِ. [راجع : ۳۹۳۶]

ترجمه: دسالم بن عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه نه روايت دے چه عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما به خپلو زمکو لره په کرايه باند ورکولے تر دے پورے چه هغوئ ته خبر اورسيدو چه رافع بن خديج انصاری ظ ددے ته منع کوی ، نو عبدالله ؓ دهغوئ سره ميلاو شو او ورته ئے لووے ، اے دخديج ځويه ! داتۀ حديث بيانوے درسول الله صلی الله عليه وسلم نه دزمکے په کرايه دورکولو په باره کښے ، رافع بن خديج ؓ اووے ما دخپلو دواړو ترونو نه اوريدلی دی ، او هغوئ دبدر په جنګ کښ شريك وو هغه کور والاؤ ته حديث بيانولو چه رسول الله صلی الله عليه وسلم منع فرمائيلے ده زمکے لره په کرايه باند دورکولو نه. عبدالله وائی چه زۀ پوه يم چه درسول الله صلی الله عليه وسلم په زمانه مبارکه کښے به زمکه په کرايه باندِ ورکولے شوه، بيا عبدالله او ويريدو چه چرته داسے نۀ وی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم په دے باب کښے څه نوے حکم ورکړے وی، چه دهغے خبر دوئ ته نۀ وی شوے، نو هغوئ زمکے لره په کرايه باندِ ورکول پريخودلو۔

(۳۹۴۵) عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُحَاقِلُ الْاَرْضَ عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنُكْرِيْهَا بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ وَالطَّعَامِ الْمُسَمَّى فَجَآءَنَا رَجُلٌ مِّنْ عُمُوْمَتِيْ فَقَالَ نَهَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَمْرٍ كَانَ لَنَا نَافِعًا وَّطَوَاعِيَةُ اللهِ وَرَسُوْلِهٖ اَنْفَعُ لَنَا نَهَانَا اَنْ نُّحَاقِلَ الْاَرْضَ اَنْ يُّزْرَعَهَا اَوْيُزْرِعَهَا وَكَرِهَ كِرَآءَهَا وَمَا سِوٰى ذٰلِكَ. [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: درافع بن خدیجؓ نه روایت دے مونږ به محاقله کوله درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې نو په کرایه به موورکوله زمکے لره په درېمه یا څلورمه حصه پیداوار باندې او معین دغلے دپاسه، پس یو ورځ زمونږ خواله یو دترونو نه راغے او اوئے وئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړو مونږ دهغه کارنه چه په هغے کښې زمونږ فائده وه۔ لیکن دالله او رسول په خوشحالئ کښې مونږ لره زیاته فائده ده، منع ئے کړو مونږ دمحاقله نه یعنی زمکے لره په کرایه باندې دورکولو نه په درېمه حصه یا څلورمه حصه پیداوار باندې او حکم ئے او فرمائیلو چه دزمکے مالك به پخپله په هغے کښې فصل کوی، یا به ئے بل له دفصل دپاره ورکوی، او بدګڼلو حضرت په کرایه باند ورکول یا په بل څه طریقه باندې۔

(۳۹۴۶) عَنْ رَّافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُحَاقِلُ الْاَرْضَ فَنُكْرِيْهَا عَلَى الثُّلُثِ وَالرُّبُعِ ثُمَّ ذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ ابْنِ عُلَيَّةَ. [راجع:۳۹۴۵]

ترجمه: درافع بن خدیجؓ نه روایت دے مونږ به محاقله کوله یعنی کرایه به مونږ ورکوله زمکے لره په درېمه حصه یا څلورمه حصه پیداوار باندې، بیائے بیان کړو حدیث په دے شان لکه چه پورته تیر شولو۔

(۳۹۴۷) عَنْ رَافِعٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اَنَّ ظُهَيْرَ ابْنَ رَافِعٍ وَّهُوَ عَمُّهٗ قَالَ اَتَانِيْ ظُهَيْرٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ لَقَدْ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ اَمْرٍ كَانَ بِنَا رَافِقًا فَقُلْتُ وَمَا ذَاكَ؟ مَاقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَهُوَ حَقٌّ قَالَ سَأَلَنِيْ كَيْفَ تَصْنَعُوْنَ بِمَحَاقِلِكُمْ فَقُلْتُ نُؤَاجِرُهَا يَارَسُوْلَ اللهِ عَلَى الرَّبِيْعِ اَوِ الْاَوْسُقِ مِنْ تَمْرٍ اَوِ الشَّعِيْرِ قَالَ فَلَا تَفْعَلُوْا اِزْرَعُوْهَا اَوْ اَزْرِعُوْهَا اَوْ اَمْسِكُوْهَا [بخاری، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: درافعؓ نه روایت دے چه ظهیر بن رافع هغوئ ته یو حدیث بیان کړو او ظهیرؓ درافعؓ تره وو رافعؓ وائی ظهیر بن رافع ما خواله راغے او اوئے وئیل چه رسول الله صلی الله علیه وسلم

منع او فرمائیله دداسې کارنه چه په هغې کښې زمونږ فائده وه، ما اووې هغه کار څه دې؟ لو رسول الله صلی الله علیه وسلم چه څه فرمائیلي دي هغه حق دي هغوئ اووې حضرت عثمانه تپوس اوکړو چه تاسو دخپلو پټو سره څه کوئ؟ مونږ اووې یا رسول الله ! هغې لره په کرایه بانړ ورکوو، او هغه کرایه داده چه په نهر بانډ چه کوم پیداوار وي هغې لره اخلو یا څوسقه دکهجورو یا دوربشو حضرت او فرمائیل داسې مه کوئ، یا خو تاسو پخپله په هغې کښې فصل کوئ یائې بل چاته بې دکرایئ نه دفصل دپاره ورکوئ یائې هم دغسې (شړ) پاتې کوئ۔

(۳۹۵۱) عَنْ حَنْظَلَةَ ابْنِ قَيْسٍ اَنَّهُ سَئَلَ رَافِعَ ابْنَ خُدَيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ كِرَآءِ الْاَرْضِ فَقَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كِرَآءِ الْاَرْضِ قَالَ فَقُلْتُ اَبِ الذَّهَبِ وَالْوَرِقِ قَالَ اَمَّا بِالذَّهَبِ وَالْوَرَقِ فَلَا بَأْسَ بِهٖ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حنظله بن قیسؒ نه روایت دې چه هغوئ د رافع بن خدیجؓ کرایَه بانډِ ورکول څنګه دي ، هغوئؓ اووې منع فرمائیلي ده رسول الله ﷺ زمکې لره په کرایه بانډِ دَ ورکولو نه،ما اووې د سرو زرو او سپینو زرو په عوض کښې هم کرایه ورکول منع دي هغوئؓ اووې د سرو زرو او دَ سپینو زرو په بدل کښې خو قباحت نشته۔

(۳۹۵۲) عَنْ حَنْظَلَةَ ابْنِ قَيْسٍ الْاَنْصَارِيِّ قَالَ سَئَلْتُ رَافِعَ ابْنَ خَدِيْجٍ عَنْ كِرَآءِ الْاَرْضِ بِالذَّهَبِ وَالْوَرَقِ فَقَالَ لَا بَأْسَ بِهٖ اِنَّمَا كَانَ النَّاسُ لَوَاجِرُوْنَ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمَاذِيَانَاتِ وَاَقْبَالِ الْجَدَاوِلِ وَاَشْيَآءَ مِنَ الزَّرْعِ فَيُهْلِكُ هٰذَا وَ يَسْلَمُ هٰذَا وَ يَسْلَمُ هٰذَا وَ يَهْلِكُ هٰذَا فَلَمْ يَكُنْ لِلنَّاسِ كِرَآءٌ اِلَّا هٰذَا فَلِذٰلِكَ زَجَرَ عَنْهُ وَ اَمَّا شَيْءٌ مَعْلُوْمٌ مَضْمُوْنٌ فَلَابَاْسَ بِهٖ. [راجع: ۳۹۵۱]

ترجمه: د حنظله بن قیس انصاریؒ نه روایت دې چه ما د رافع بن خدیجؓ نه تپوس اوکړو چه زمکه د سرو زرو او سپینو زرو په بدله په کرایه ورکول څنګه دي؟ هغوئؓ اووې په دې کښې څه قباحت نشته دې خلقو به دَ رسول الله ﷺ په زمانه کښې د نهر په غاړو بانډِ او دَ نالو په سرونو بانډِ په کوم پیداوار چه به ئې زمکه په کرایه ورکوله نو بعضې وخت به یو څیز تلف شو دویم به بچ شولو او کله به دې تلف شو هغه بل به بچ شولو بیا به څنو ته څه کرایه نۀ میلاویده مګر هغه چه کومه به بچ شوله،په دې وجه حضرتؐ منع اوفرمائیله د دې نه که دَ کرایئ په بدل

کښې يو معين څيز(لکه روپئی اشرفئی غله وغيره)چه د هغې ذمه واری مقرر کيدے شی نو په دے کښې څه قباحت نشته دے۔

(۳۹۵۴) عَنْ حَنْظَلَةَ الزُّرَقِيِّ اَنَّهُ سَمِعَ رَافِعَ ابْنَ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ كُنَّا اَكْثَرَ الْاَنْصَارِ حَقْلًا قَالَ كُنَّ نُكْرِىْ الْاَرْضَ عَلٰى اَنَّ لَنَا هٰذِهٖ وَلَهُمْ هٰذِهٖ فَرُبَّمَا اَخْرَجَتْ هٰذِهٖ وَلَمْ تُخْرِجْ هٰذِهٖ فَنَهَانَا عَنْ ذٰلِكَ وَ اَمَّا الْوَرَقُ فَلَمْ يَنْهَنَا. [راجع: ۳۹۴۴]

ترجمه:د حنظله زرقیؒ نه روايت دے هغوئ اوريدلی دی دَ رافع بن خديجؓ نه چه هغوئؓ وئيلو په تمامو انصارو کښې زمونږ دلته محاقله زياته وه مونږ به زمکه په کرايه باندِ ورکوله او ورته به مونږ وئيل چه د دے ځائے پيداوار به زمونږه وی او د هغه ځائے به ستاسو وی بيا به کله دلته زرغونه اوشوه او هلته به اونۀ شوه نو رسول الله ﷺ منع کړو مونږ لره د دے نه ، ليکن د سپينو زرو په بدل په کرايه باندِ ورکول خو د دے نه ئے منع نۀ ده کړے۔

(۳۹۵۵) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ السَّآئِبِ قَالَ سَئَلْتُ عَبْدَ اللهِ ابْنَ مَعْقِلٍ عَنِ الْمُزَارَعَةِ فَقَالَ اَخْبَرَنِیْ ثَابِتُ ابْنُ الضَّحَّاكِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُزَارَعَةِ وَ فِیْ رِوَايَةِ ابْنِ اَبِیْ شَيْبَةَ نَهٰى عَنْهَا وَقَالَ سَئَلْتُ ابْنَ مَعْقِلٍ وَلَمْ يُسَمِّ عَبْدَ اللهِ.

ترجمه:دَ عبدالله بن السائبؒ نه روايت دے، چه مَا دَ عبدالله بن معقلؓ نه تپوس اوکړو دَ مزارعَت په باره کښې هغوئؓ اووے ما ته بَيان کړے دے ثابت بن ضحاکؓ چه رَسول الله ﷺ منع کړے ده دَ مزارعت نه۔

(۳۹۵۶) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ السَّآئِبِ قَالَ سَئَلْتُ عَبْدَ اللهِ ابْنَ مَعْقِلٍ فَسَئَلْنَاهُ عَنِ الْمُزَارَعَةِ فَقَالَ زَعَمَ ثَابِتٌ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُزَارَعَةِ وَاَمَرَ بِالْمُوَاجَرَةِ وَقَالَ لَا بَأْسَ بِهَا.

ترجمه:د عبدالله بن السائبؒ نه روايت دے وائی چه مونږ دَ عَبدالله بن معقلؓ خواله لاړو او دَ هغوئؓ نه مونږ دَ مزارعت(د هقانئی)په باره کښې تپوس اوکړو،هغوئؓ اووے ثابتؓ وئيلے دی چه رسول الله ﷺ منع فرمائيلے ده دَ مزارعت نه،او حکم ئے کړے دے دَ مواجری(يعنی په روپو اشرفو باندِ دَ کرائے ورکولو)او ئے فرمائيل چه په دے کښې څه قباحت نشته دے۔

(۳۹۵۷) عَنْ عَمْرٍو اَنَّ مُجَاهِدًا قَالَ لِطَاؤُسٍ اِنْطَلِقْ بِنَآ اِلَى ابْنِ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ فَاسْمَعْ مِنْهُ الْحَدِيْثَ عَنْ

اَبِيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَانْتَهَرَهُ قَالَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ لَوْ اَعْلَمُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهُ مَافَعَلْتُهُ وَلٰكِنْ حَدَّثَنِيْ مَنْ هُوَ اَعْلَمُ بِهٖ مِنْهُمْ يَعْنِيْ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَاَنْ يَمْنَحَ الرَّجُلُ اَخَاهُ اَرْضَهٗ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ اَنْ يَّاْخُذَ عَلَيْهَا خَرْجًا مَّعْلُوْمًا.

[بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: د عمرو رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه مجاهدؒ طاؤسؒ ته اووے چه زمونږ سره لاړ شه د رافع بن خدیجؓ خواله او د هغویؓ نه حدیث واوره کوم چه هغویؓ د خپل پلار نه نقل کوی چه هغویؓ اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه ، نو طاؤسؒ مجاهدؒ او رټلو او ورته ئے اووے قسما خو په الله چه رسول اللهﷺ منع فرمائیلے ده د مزارعت نه نو چرته به م نهٔ وو کړے ، لیکن ما ته حدیث بیان کړے دے هغه سړی چه هغه زیات خبر دار وو د نورو نه په اصحابوؓ کښں یعنی ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنه، چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کچرے پتاسو کښں څوك خپل رور ته زمکه هبه کړی نو غوره ده دا د هغه نه دِ کرایئی دَ اخستلو نه۔

فائده: پس معلومه شوه چه په کرایه بانډِ ورکول منع نهٔ دی ، لیکن مفت ورکول او په خپل رور مسلمان باندِ احسان کول زیات افضل دِی۔

(۳۹۵۸) عَنْ عَمْرٍو وَّ ابْنِ طَآءُوْسٍ عَنْ طَآءُوْسٍ اَنَّهٗ كَانَ يُخَابِرُ قَالَ عَمْرٌو فَقُلْتُ لَهٗ يَا بَاعَبْدِالرَّحْمٰنِ لَوْ تَرَكْتَ هٰذِهِ الْمُخَابَرَةَ وَاِنَّهُمْ يَزْعُمُوْنَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنِ الْمُخَابَرَةِ فَقَالَ اَىْ عَمْرُو اَخْبَرَنِيْ اَعْلَمُهُمْ بِذٰلِكَ يَعْنِيْ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَنْهَ عَنْهَا اِنَّمَا قَالَ يَمْنَحُ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ اَنْ يَّاْخُذَ عَلَيْهَا خَرْجًا مَّعْلُوْمًا. [راجع : ۳۹۵۷]

ترجمه: د عمرو اب ابن طاءوس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے عمروؓ اووے ! چه اے ابا عبدالرحمن (دطاؤس کنیت دے) غوره به وی کچرے تاسو پریږدوئ مخابره لره ولے چه خلق وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړے ده دمخابره نه ، طاؤسؒ اووے اے عمرؓ ماته بیان کړے دے هغه سړی چه هغه په اصحابوؓ کښں زیات خبردار وو یعنی ابن عباس رضی الله تعالی عنهما چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دمخابره نه منع نهٔ ده کړے بلکه داسے ئے فرمائیلی دی چه که چرے ستاسو نه څوك خپل رور ته مفت زمکه ورکړی نو غوره ده په کرایه

اخستو سره دورکولو نه۔

(۳۹۵۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِهِمْ.[راجع:۳۹۵۷]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه دا روایت هم دپورته حدیث په شان دے۔

(۳۹۶۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمْنَحَ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ اَرْضَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ اَنْ يَأْخُذَ عَلَيْهَا كَذَا وَكَذَا بِشَيْءٍ مَعْلُومٍ قَالَ وَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا هُوَ الْحَقْلُ وَهُوَ بِلِسَانِ الْاَنْصَارِ الْمُحَاقَلَةُ . [راجع:۳۹۵۷]

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کچرے ستاسو نه څوك خپل رورته خپله زمکه مفت ورکړی نو غوره ده دهغے نه چه کرایه واخلی دومره دومره په یو شی معلوم سره ابن عباس رضی الله تعالی عنهما وائی دا حقل دے او حقل وئیلے شی دانصارو په ژبه کښے محاقله ته (او دمحاقله معنیٰ پورته تیره شوله)۔

(۳۹۶۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ كَانَتْ لَهُ اَرْضٌ فَاِنَّهُ اَنْ يَمْنَحَهَا اَخَاهُ خَيْرٌ لَهُ.

ترجمه : دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی په تاسو کښ چه دچاسره زمکه وی هغه که ئے چرے خپل رور له مستعلو (بلا کرایه) ورکړی نو دهغه دپاره غوره ده ۔

كِتَابُ الْمُسَاقَاتِ وَالْمُزَارِعَةِ .

دمساقات او مزارعت مسئلې .

(۳۹۶۲) عَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَلَ اَهْلَ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا يَخْرُجُ مِنْهَا مِنْ ثَمَرٍ اَوْ زَرْعٍ [بخاری ، ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم معامله کړے وه دخیبر والاو سره (هر کله چه خیبر فتح شولو نو حضرت صلی الله علیه

وسلم یهودیانو لره دهغه ځائے نه ویستل غوښتل هغوئ اووے مونږ دلته پریږدئ او څنګه چه ستاسو خوښه وی زمونږ سره معامله اوکړی بیا حضرت دا معامله اوکړه) چه کوم پیداواروی میوه یا غله په هغے کښ به نیم زمونږه وی او نیم ستاسو۔

فائده : دمزارعت معنے پورته تیره شوے دے، او مساقات دادے چه خپله وُنه چالله وُرکړی او داورته اووائی چه دااوبښ کوه او خدمت ئے کوه، او میوه چه کومه حاصلیږی په خپلو کښے به ئے ویشو نیم په نیمه یا دریمه یا په څلورمه حصه یا په شان ددے۔ نوویؒ وئیلے دی چه مساقات جائز دے او دغه قول دے دمالك او ثوریؒ او لیثؒ او شافعیؒ او احمدؒ او دجمیع فقهاؤ محدثینو لو اهل ظاهرو او جمهورو علماء وُ ، او دابو حنیفه رحمه الله په نزد جائز نهٔ دے اوس اختلاف کړے دے عالمانو چه مساقات په وُنو کښ درست دے او داودؒ وئیلے دی صرف دکهجورے په وُنو کښے درست دے، او شافعیؒ وئیلے دی چه په کهجور او په انګورو کښ، لو مالك وئیلے دی چه په تمامو وُنو کښے مساقات درست دے، اونتهٰی مختصرا۔

نو په میوه کښے دمساقات او په غله کښے مزارعت شو، ددے حدیث نه استدلال کړے دے امام شافعیؒ لو دهغه ملګرو چه مزارعت بشمول دمساقات درست دے (یعنی دمساقات سره یو ځائے) او جدا درست نهٔ دے۔ او دامام مالكؒ په نزد مزارعت مطلقا درست نهٔ دے مګر په هغه زمکه کښ چه هغه دوُنو په مینځ کښ وی ، او امام ابو حنیفه رحمه الله علیه او زفرؒ وئیلے دی چه مزارعت او مساقات دواړه درست نهٔ دی۔

(۳۹۶۳) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَعْطٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خَیْبَرَ بِشَطْرِ مَا یَخْرُجُ مِنْ ثَمَرٍ اَوْ زَرْعٍ فَکَانَ یُعْطِیْ اَزْوَاجَهٗ کُلَّ سَنَةٍ مِّاْئَةَ وَسْقٍ ثَمَانِیْنَ وَسقا مِّنْ تَمْرٍ وَّعِشْرِیْنَ وَسْقًا مِّنْ شَعِیْرٍ فَلَمَّا وُلِّیَ عُمَرُ قَسَمَ خَیْبَرَ خیّر اَزْوَاجَ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یُّقْطِعَ لَهُنَّ الْاَرْضَ وَالْمَآءَ اَوْیُضْمَنَ لَهُنَّ الْاَوْسَاقَ کُلَّ عَامٍ وَّاخْتَلَفْنَ فَمِنْهُنَّ مَنِ اخْتَارَ الْاَرْضَ وَالْمَآءَ وَمِنْهُنَّ مَنِ اخْتَارَ الْاَوْسَاقَ کُلَّ عَامٍ فَکَانَتْ عَآئِشَةُ وَحَفْصَةُ مِمَّنِ اخْتَارَ الْاَرْضَ وَالْمَآءَ.

ترجمه : دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے ، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خیبر حواله کړو(خیبر والاؤ ته) په دے شرط باند چه څه پیدا کیږی میوه یا غله هغه به

نیمه زمونږ وی او نیمه ستاسو ، نو حضرت خپلو بیبیانوؓ ته به هر کال سول وسق ورکولو، اتیا وسقه دکهجورے او شل وسقه دوربشو ، هر کله چه حضرت عمرؓ په خپل خلافت کښې خیبر لره تقسیم کړو نو دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانوؓ لره ئے اختیار ورکړو چه یا خو تاسو هم دزمکے او اوبو حصه واخلئ او یا که خپل وسق اخلئ نو څنو زمکه او اوبه واخستلے او څنو وسق اخستل منظور کړو، حضرت عائشے او حضرت حفصے رضی الله تعالی عنهما زمکه او اوبه اخستی وو۔

(۳۹۶۴) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَلَ اَهْلَ خَيْبَرَ بِشَطْرِ مَا خَرَجَ مِنْهَا مِنْ زَرْعٍ اَوْ ثَمَرٍ وَّ قَصَّ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ عَلِيِّ ابْنِ مُسْهِرٍ وَلَمْ يَذْكُرْ فَكَانَتْ عَآئِشَةُ وَحَفْصَةُ مِمَّنِ اخْتَارَتَا الْاَرْضَ وَالْمَآءَ وَقَالَ خَيَّرَ اَزْوَاجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُّقْطِعَ لَهُنَّ الْاَرْضَ وَلَمْ يَذْكُرِ الْمَآءَ.

ترجمه: هغه حدیث دے کوم چه پورته ذکر شو مگر په دے روایت کښې دانشته دے چه حضرت عائشےؓ او حضرت حفصےؓ زمکے او اوبو لره اختیار کړو بلکه دادی چه حضرت عمرؓ درسول الله صلی الله علیه وسلم بیبیانو له اختیار ورکړو که غواړی نو هغوئ دزمکه واخلی ، لو داوبو ذکرئے نهٔ دے کړے۔

(۳۹۶۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ لَمَّا فُتِحَتْ خَيْبَرُ سَاَلَتْ يَهُوْدُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُّقِرَّهُمْ فِيْهَا عَلٰى اَنْ يَّعْمَلُوْا عَلٰى نِصْفِ مَا خَرَجَ مِنْهَا مِنَ الثَّمَرِ وَالزَّرْعِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُقِرُّكُمْ فِيْهَا عَلٰى ذٰلِكَ مَا شِئْنَا ثُمَّ سَاقَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ ابْنِ نُمَيْرٍ وَّ ابْنِ مُسْهِرٍ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ وَزَادَ فِيْهِ وَكَانَ الثَّمَرُ وَذَادَ فِيْهِ وَكَانَ الثَّمَرُ يُقْسَمُ عَلَى السُّهْمَانِ مِنْ نِصْفِ خَيْبَرَ فَيَاْخُذُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْخُمُسَ. [ابوداود]

ترجمه : دعبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے هر کله چه خیبر فتح شو نو یهودو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اووے، تا سو مونږ ددے ځاے نه مهٔ شړئ او کوم پیداوار چه وی دمیوے یا دغلے دهغے نه نیم تاسو اخلئ ، حضرتؐ او فرمائیل بنه ده تاسو ته زمکه درکوو مونږ په دے شرط باندی مگر دکومے پورے چه مونږ غواړو(او کله چه مونږ

غوارو تاسو به او باسو)بیانے بیان کړو حدیث په دغه شان لکه چه مخکښې تیرشو، دومره زیات دے چه میوے به ئے دوه حصے کولے پنځمه حصه به دهغے نه رسول الله صلی الله علیه وسلم ویستله (دخپلو بیبیانو دمصارف په واسطه او باقی به ئے په تمامو مسلمانانو باند تقسیمولی)

(۳۹۶۶) عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّهٗ دَفَعَ اِلٰى يَهُوْدِ خَيْبَرَ نَخْلَ خَيْبَرَ وَاَرْضَهَا عَلٰى اَنْ يَّعْتَمِلُوْهَا مِنْ اَمْوَالِهِمْ وَلِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَطْرُ ثَمَرِهَا. [ابوداود ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم دخیبرونو او زمکے لره دیهودو حواله کړله چه هغه دهغے خدمت کوی په خپل مال سره او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته نیمه میوه (دهغے نه) ورکوی۔

(۳۹۶۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَجْلَى الْيَهُوْدَ وَالنَّصَارٰى مِنْ اَرْضِ الْحِجَازِ وَاَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمَّا ظَهَرَ عَلٰى خَيْبَرَ اَرَادَ اِخْرَاجَ الْيَهُوْدِ مِنْهَا وَكَانَتِ الْاَرْضُ حِيْنَ ظَهَرَ عَلَيْهَا لِلّٰهِ عَزَّوَجَلَّ وَلِرَسُوْلِهٖ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ فَاَرَادَ اِخْرَاجَ الْيَهُوْدِ مِنْهَا فَسَاَلَتِ الْيَهُوْدُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُّقِرَّهُمْ بِهَا اَنْ يَّكْفُوْا عَمَلَهَا وَلَهُمْ نِصْفُ الثَّمَرِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُقِرُّكُمْ بِهَا عَلٰى ذٰلِكَ مَاشِئْنَا فَقَرُّوْا بِهَا عَلٰى ذٰلِكَ مَا شِئْنَا فَقَرُّوْا بِهَا حَتّٰى اَجْلَاهُمْ عُمَرُ اِلٰى تَيْمَاءَ اَوْ اَرِيْحَاءَ. [بخاری]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه یهود او نصاریٰ دحجاز دملك نه اوویستل ، او رسول الله صلی الله علیه وسلم چه هر کله په خیبر باند غالب شولو نو حضرتؐ دا غوښتل چه یهود ترے او باسی ولے چه هر کله په دغه مزکه باند حضرتؐ غالب شولو نو هغه دالله او دهغه درسول او دمسلمانانو شوله، ځکه حضرتؐ ترے هغوئ ویستل غوښتلو ، لیکن هغوئ (یعنی یهود و) اووے چه تاسو ترے مونږ مه اوباسئ ، مونږ به دلته محنت کوو او نیمه به اخلو(او نیمه به تا سوله درکوو) رسول اللهصلی الله علیه وسلم او فرمائیل بنه ده مونږ تاسو او سیدوته پریږدو او هر کله چه مونږه او غوارو نو تاسو به او باسو، بیا هغوئ هلته پاتے شولو، او بیا دحضرت عمرؓ په خلافت کښے

لوویستلې شول دتیماء یاریحاء په طرف ـ

فائده : تیماء او ریحاء دواړه کښې دی اگر چه هغه دعربو په ملك کښې دی لیکن په حجاز کښې نهٔ دی ، او دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مقصد هم دغه وو چه کفار دحجاز نه اوویستلې شی حضرت عمر رضی الله تعالی هم دغسې اوکړو۔

بَابُ فَضْلِ الْغَرْسِ وَالزَّرْعِ.

بَابُ :۔ دوُنو لګولو او دفصل کَرلو فضیلت.

(۳۹۲۸) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَامِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا اِلَّا كَانَ مَا اُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ وَّمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ وَمَا اَكَلَ السَّبُعُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ وَّمَا اَكَلَتِ الطَّيْرُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ وَّلَا يَرْزَؤُهُ اَحَدٌ اِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ.

ترجمه: حضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه کوم مسلمان اونه اولګوی او بیا دهغې نه څوك (میوه) او خوری نو لګونی ته دصدقې ثواب میلاویږی او څهنج چه ترې په غلا یوړلې شی په هغې هم دصدقې ثواب میلاویږی او کوم چه ځناور او خوری په هغې هم دصدقې ثواب میلاویږی او کوم چه ځناور او خوری په هغې هم دصدقې ثواب میلاویږی او څه چه ترې مرغۍ او خوری په هغې هم دصدقې ثواب میلاویږی ، او او نه شی کیدے دده څه شے مگر دصدقې ثواب ئې کیږی۔

فائده: امام نوویؒ وئیلې دی ددے حدیث نه او دراتلونو حدیثونه دونو لګولو او دفصل کولو فضیلت معلومیږی ، او دا هم ثابته شوے ده چه دهغې ثواب همیشه جاری وی دکومے چه هغه وُنه او فصل قائم وی، او دقیامته پورے به دهغې نه فائده رسیږی او عالمانو اختلاف کړے دے چه پاکیزه گټه کومه ده څنو وئیلې دی چه تجارت دے او څنو وئیلې دی دی چه صنعت یعنی په لاسونو سره یو کار کول او څنو زمینداری وئیلې ده او دغه صحیح دے۔

(۳۹۲۹) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلٰى اُمِّ مُبَشِّرٍ لَّهَا فَقَالَ لَهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَرَسَ هٰذَ النَّخْلَ؟ مُسْلِمٌ اَمْ كَافِرٌ فَقَالَتْ بَلْ مُسْلِمٌ فَقَالَ لَايَغْرِسُ مُسْلِمٌ غَرْسًا وَّلَا يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَاْكُلُ مِنْهُ اِنْسَانٌ وَّلَا دَابَّةٌ وَّلَا شَيْءٌ اِلَّا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةٌ.

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دام مبشر انصاریهؓ خواله لارو دهغه دکهجورو په باغ کښے نو حضرتؐ او فرمائیل داونے دکهجورچ چالګولی دی مسلمان یا کافر؟ هغوئ اووے مسلمان حضرتؐ او فرمائیل کوم مسلمان چه ونے اولګوی یا فصل اوکری بیا دهغے نه څوك بنده یا څارویے یا بل څه شے خوارك او خوری نودده ته دصدقے ثواب میلاویږی۔

(۳۹۷۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا يَغْرِسُ رَجُلٌ مُسْلِمٌ غَرْسًا وَّلَا زَرْعًا فَيَاْكُلُ مِنْهُ سَبُعٌ اَوْطَآئِرٌ اَوْ شَيْءٌ اِلَّا كَانَ لَهٗ فِيْهِ اَجْرٌ وَّقَالَ ابْنُ اَبِيْ خَلَفٍ طَآئِرٌ شَيْءٌ كَذَا۔

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ما اوریدلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه هغوئ فرمائیلی وو کوم مسلمان چه ونه اولګوی یا فصل اوکری بیا دهغے نه څه څناور یا مرغئ یا بل څه څیز خوراك اوکری نو ده ته به اجر میلاویږی۔

(۳۹۷۱) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى اُمِّ مَعْبَدٍ حَآئِطًا فَقَالَ يَا اُمَّ مَعْبَدٍ مَنْ غَرَسَ هٰذَا النَّخْلَ ؟ مُسْلِمٌ اَمْ كَافِرٌ؟ فَقَالَتْ بَلْ مُسْلِمٌ قَالَ فَلَا يَغْرِسُ مُسْلِمٌ غَرْسًا فَيَاْكُلَ مِنْهُ اِنْسَانٌ وَّلَا دَابَّةٌ وَّلَا طَيْرٌ اِلَّا كَانَ لَهٗ صَدَقَةً اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ۔

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم دام معبدؓ باغ ته لارو، اواوئے فرمائیل اے ام معبدؓ دادکهجورے وے چالګولی دی؟ مسلمان حضرت او فرمائیل بیا مسلمان خو چه څه ونه اولګوی او دهغے نه څوك بنده یا څناور یا مرغئ ترے څخ او خوری نو هغه ته دصدقے ثواب میلاویږی دقیامت دورځے پورے۔

(۳۹۷۳) عَنْ اَنَسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَامِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا اَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا فَيَاْكُلُ مِنْهُ طَيْرًا اَوْ اِنْسَانٌ اَوْ بَهِيْمَةٌ اِلَّا كَانَ لَهٗ بِهٖ صَدَقَةٌ۔ [بخاری، ترمذی]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کوم مسلمان چه ونه اولګوی یا فصل اوکری بیا دهغے نه څه مرغئ یا بنیادم یا څناور او خوری، نو هغه ته دصدقے ثواب میلاویږی۔

(۳۹۷۴) عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ نَبِیَّ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ نَخْلًا لِاُمِّ مُبَشِّرٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا امْرَاَةٍ مِّنَ الْاَنْصَارِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ غَرَسَ هٰذَا النَّخْلَ اَمُسْلِمٌ؟ بِنَحْوِ حَدِیْثِهِمْ. [بخاری]

ترجمه: دانس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دام مبشر باغ ته لاړو چه هغه دانصارو نه یوه ښځه وه، نو حضرتؐ لو فرمائیل چا نهل کړے دی دے دکهجورو ونو لره ؟مسلمان یا کافر؟ خلقو اووے مسلمان دآخر حدیث پورے لکه څنګه چه پورته تیر شولو۔

بَابُ وَضْعِ الْجَوَآئِحِ.

باب: په آفت سره چه کوم نقصان اوشی دهغے مجرا ورکول.

(۳۹۷۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰہِ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَوْ بِعْتَ مِنْ اَخِیْکَ ثَمَرًا فَاَصَابَتْهُ جَآئِحَةٌ فَلَا یَحِلُّ لَکَ اَنْ تَاْخُذَ مِنْهُ شَیْئًا بِمَ تَاْخُذُ مَالَ اَخِیْکَ بِغَیْرِ حَقٍّ .[ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کچرے ته په خپل رور باندی میوه خرڅه کړے، او بیا په هغے څه آفت راشی (چه په هغے سره میوه ختمه شی) نو اوس تاله حلال نۀ دی دهغه نه څه اخستل ته دڅه حیز په بدله دخپل رور مال اخلے؟ ولے چه ناحقه ئے اخلے۔

فائده: امام نوویؒ وئیلے دی کچرے میوه دصلاحیت دمعلو میدونه پس خرڅه کړے شی او خرڅونکے ئے اخستونکی ته حواله کړی، بیا دموقعے نه مخکښ هغه میوه دڅه آفت په وجه تلف کړے شی نو په خرڅونکی به دنقصان ورکول وی یا که نه به وی په دے کښ دعالمانو اختلاف دے۔

دشافعیؒ او ابو حنیفهؒ او لیث په نزد دا نقصان به په خریدار یعنی اخستونکی باندِ وی او دخرڅونکی سره ئے څه غرض نشته دے لیکن مستحب داده چه خرڅونکے دنقصان هومره قیمت واپس کړی او دامام شافعیؒ یو زوړ قول او دعلماؤ دیوے طائفے مذهب دا دے چه

خرخونکی لره دنقصان قیمت ورکول لازم دی۔ او دامام مالکؒ په نزد کچرې نقصان یو دریمې نه کم وی نو قیمت ورکول ضروری نهٔ دی او که څلورمه حصه یا زیات وی نو قیمت ورکول واجب دی۔

(۳۹۷۷) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم نَهٰی عَنْ بَیْعِ ثَمَرِ النَّخْلِ حَتّٰی تَزْهُوَ قُلْنَا لِاَنَسٍ مَازَهْوُهَا؟ قَالَ تَحْمَرُّ وَتَصْفَرُّ اَرَاَیْتُکَ اِنْ مَنَعَ اللّٰهُ الثَّمَرَةَ بِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَ اَخِیْکَ.[بخاری]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلے ده دکهجورو دبیع نه په ونه کښې دکومې پورې چه هغه رنګ نیولے نهٔ وی۔ حمیدؒ وائی مونږ خلقو تپوس اوکړو چه درنګ نیولو څه معنی ده؟ انسؓ اووے چه سُرخ یا زیړه شوے نهٔ وی خبردار! کچرې الله تعالی منع کړی میوؤ لره (یعنی پخې نه شی او تلف شی) نو ته به دڅه شی په بدل دخپل رور مال حلالوے۔

(۳۹۷۸) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم نَهٰی عَنْ بَیْعِ الثَّمَرَةِ حَتّٰی تُزْهِیَ، قَالُوْا وَمَا تُزْهِیَ؟ قَالَ تَحْمَرُّ فَقَالَ اِذَا منعَ اللّٰهُ الثَّمَرَةَ بِمَ تَسْتَحِلُّ مَالَ اَخِیْکَ.[بخاری، نسائی]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلې ده دمیوے دبیع نه ترکومې پورې چه هغې رنګ نیولے نهٔ وی عرض اوشو درنګ نیولو نه څه مراد دے؟ حضرتؐ ورته او فرمائیل تر څو چه سُرخ شوے نهٔ وی او اوئے فرمائیل هر کله چه الله تعالی منع کړے میوے لره، نو بیا دڅه شی په بدله ستاسو نه څوک دخپل رور مال حلالوی۔؟

(۳۹۷۹) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اِنْ لَمْ یُثْمِرْهَا اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ فَبِمَا یَسْتَحِلُّ اَحَدُکُمْ مَالَ اَخِیْهِ.

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کچرې الله تعالی میوے زرغونې نهٔ کړی، نو تاسو به دڅه په بدله دخپل رور مال لره اخلئ۔؟

(۳۹۸۰) عَنْ جَابِرٍ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم اَمَرَ بِوَضْعِ الْجَوَآئِحِ. [ابوداود، نسائی]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم ورکړے دے دافت دنقصان دقیمت ورکولو۔

(۳۹۸۱) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُصِیْبَ رَجُلٌ فِیْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ ثِمَارٍ ابْتَاعَهَا فَکَثُرَ دَیْنُهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَصَدَّقُوْا عَلَیْهِ فَتَصَدَّقَ النَّاسُ عَلَیْهِ فَلَمْ یَبْلُغْ ذٰلِکَ وَفَآءَ دَیْنِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لِغُرَمَائِهٖ خُذُوْا مَا وَجَدْتُّمْ وَلَیْسَ لَکُمْ اِلَّا ذٰلِکَ.

[ابوداود، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو سعید خدری رض الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړی درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې میوه په ونه کښې واخستله او په هغه باند قرض ډیر زیات شولو(دمیوے په تلف کیدو یا دبلے څه وجے نه) بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل ده لره صدقه ورکړئ خلقو هغه له صدقه ورکړله بیا هم دهغه قرض پوره نۀ شولو آخر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه دقرض خواهانو ته او فرمائیل ، بس اوس چه درته څه میلاؤ شو نو واخلئ او ددے نه علاوه نور څه نشته۔

فائده : نووی وئیلے دی چه ددے روایت نه دا اووتل چیه دنیکئ لو احسان دپاره مدد کول پکار دی ، او دمحتاج دزړه ساتنه او اعانت ضروری دے، او څوك چه قرضدارے شی هغه ته صدقه ورکول ضروری دی ، او قرض دار چه هر کله مفلس شی نو په هغه باند تقاضات درست نۀ دی نۀ دهغه گرفتاری نۀ قید، او دغه قول دے دشافعیؒ او مالكؒ او دجمهورو عالمانو او دابن شریح نه دا منقول دی چه دے به قید کوی تر هغے پورے چه هغه قرض اداکړی۔

او دابو حنیفه رحمه الله نه دا منقول دی چه قرض خواه به دهغه نگرانی کوی ، او دا هم ثابته شوه چه دمفلس ټول مال علاوه دضروری کپړو وغیره نه به قرض خواهانو ته حواله کولے شی۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْوَضْعِ مِنَ الدَّیْنِ.

باب: د قرض نه څه معاف کول مستحب دی (که چرے قرضدارے ته تکلیف وی).

(۳۹۸۳) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا تَقُوْلُ سَمِعَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَوْتَ خُصُوْمٍ بِالْبَابِ عَالِيَةً اَصْوَاتُهُمَا وَ اِذَا اَحَدُهُمَا يَسْتَوْضِعُ الْاٰخَرَ وَ يَسْتَرْفِقُهُ فِيْ شَيْءٍ وَهُوَ يَقُوْلُ وَاللّٰهِ لَا اَفْعَلُ فَخَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْهِمَا فَقَالَ اَيْنَ الْمُتَاَلِّيْ عَلَى اللّٰهِ لَا يَفْعَلُ الْمَعْرُوْفَ؟ فَقَالَ اَنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَهُ اَيُّ ذٰلِكَ اَحَبَّ. [بخاری]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ په دروازه باندِ د جګړے آوازواوریدو دواړه آوازونه اوچت وو، یو وئیلو چه ما معاف کړه او څما سره رعایت اوکړه، دویم وئیلو چه په الله قسم دے چرته به ۆ معاف نۀ کړم بیا رسول الله ﷺ بهر تشریف راوړو او اوئے فرمائیل هغه څوك دے چه په الله ئے قسم اوخوړو په نیکئی نۀ کولو باندِ، هغه سړی اووے زۀ یم یارسولالله! حضرتؐ اوفرمائیل ده ته اختیار دے څنګه چه غواړی۔

(۳۹۸۴) عَنْ كَعْبِ ابْنِ مَالِكٍ قَالَ اَخْبَرَهُ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ تَقَاضٰى ابْنَ اَبِيْ حَدْرَدٍ دَيْنًا كَانَ لَهُ عَلَيْهِ فِيْ عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمَسْجِدِ فَارْتَفَعَتْ اَصْوَاتُهُمَا حَتّٰى سَمِعَهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ هُوَ فِيْ بَيْتِهٖ فَخَرَجَ اِلَيْهِمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى كَشَفَ سِجْفَ حُجْرَتِهٖ وَ نَادٰى كَعْبَ ابْنَ مَالِكٍ فَقَالَ يَا كَعْبُ فَقَالَ لَبَّيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَاَشَارَ بِيَدِهٖ اَنْ ضَعِ الشَّطْرَ مِنْ دَيْنِكَ قَالَ كَعْبٌ قَدْ فَعَلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُمْ فَاَقْضِهٖ. [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د کعب بن مٰلكؓ نه روایت دے چه هغه تقاضا اوکړه دَابو حدرد دَ ځوئ نه د خپل قرض د رسول الله ﷺ په زمانه مبارکه کښے په جماعت کښے، نو اوچت شو آوازونه دَدواړو تر دے پورے چه رسول الله ﷺ واوریدل، حضرتؐ په کور کښں وو، حضرتؐ بهر راووتو او دَ هغوئ دواړو خواله راغے اودَ حجرے پرده ئے اوچته کړه او آواز ئے اوکړو اے کعب بن مٰلكؓ! هغویٔ اووے حاضر یم یَا رَسُوْلَ الله! حضرتؐ په لاس سره اِشاره اوفرمائیله چه نیمه قرضه معاف کړه کعبؓ اووے ما معاف کړله یَارسول الله! بیا حضرتؐ ابن حدردؓ ته اووے پاسه او د ده قرضه ادا کړه۔

فائده: یعنی په نیکئی کښے څه زور زیاته نشته مګر د حدیث نه دا را اوځی چه په

نیکنی نهٔ کولو باندِ قسم خوړل مکروه دی او خوك چه ئے اوخوری نو غوره دا ده چه مات ئے کړی او کفاره ورکړی لکه څنګه چه په دویم حدیث کښې دی.

(۳۹۸۶) عَنْ كَعْبِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ لَهُ مَالٌ عَلَى عَبْدِاللهِ ابْنِ اَبِي حَدْرَدٍ الْاَسْلَمِيِّ فَلَقِيَهُ فَلَزِمَهُ فَتَكَلَّمَا حَتَّى ارْتَفَعَتِ الْاَصْوَاتُ فَمَرَّ بِهِمَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا كَعْبُ فَاَشَارَ بِيَدِهٖ كَاَنَّهٗ يَقُوْلُ النِّصْفَ فَاَخَذَ نِصْفًا مِمَّا عَلَيْهِ وَ تَرَكَ نِصْفًا.

ترجمه: د کعب بن مالكؓ نه روایت دے. د هغویؓ قرض راغلے وو په عبدُ الله بنِ حدد باندِ د هغویؓ (دواړو) په لاره کښې میلاؤ شو نو کعبؓ هغویؓ له اونیوؤ بیا دواړو خبرے شروع کړے. تر دے پورے چه آوازونه ئے اوچت شول پس رسول الله ﷺ د هغویؓ په خوا کښې تیریدو او لوئے فرمائیل اے کعبؓ! او اشاره ئے اوکړه په خپل لاس مبارك سره د نیم قرض د پریخودلو پس کعبؓ (د حضرتؐ دَ اشارے موافق) نیم قرض واخستو او نیم ئے معاف کړو.

فائده: نووی وئیلے دی. د دے حدیث نه دا خبره را اووته چه په جماعت کښې قرض غوښتل درست دی. او صلح راوستجل پکښې هم درست دی، او سفارش قبول په شرعی امورو کښې لو اِشاره کول.

بَابُ مَنْ اَدْرَكَ مَا بَاعَهُ عِنْدَ الْمُشْتَرِي وَ قَدْ اَفْلَسَ فَلَهُ الرُّجُوْعُ.

باب: څوک چه اخستونکے مفلس شی. او خرڅونکے د اخستونکی سره هغه خپل څیز بجنسه اوموهی نو واپس ئے ترے اخستے شی.

(۳۹۸۷) عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَدْرَكَ مَا لَهُ بِعَيْنِهٖ عِنْدَ رَجُلٍ قَدْ اَفْلَسَ اَوْ اِنْسَانٍ قَدْ اَفْلَسَ اَوْ اِنْسَانٍ قَدْ اَفْلَسَ فَهُوَ اَحَقُّ بِهٖ مِنْ غَيْرِهٖ. [بخاری ، ابو داود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دَ ابو هریره رضی الله تعالی عنهُ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یا مَا اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلو ئے کوم سړے چه خپل مال بِخنسه د چا سړی یا بنده سره اوموهی او هغه مفلس شوے وی، نو زیات حقدار دے د هغه مال دَ نورو نه.

فائده: نووی وئیلے دی عمالؤ اختلاف کړے دے په دے مسئله کښې چه یو سړی څه

مال واخستو بیا هغه مفلس شو یا مړ شو د هغې د قیمت دَ ادا کولو نه مخکښ،او د ده سره دومره روپئی یا مال نشته چه د هغې قیمت ته پوره شی، او هغه مال کوم چه ئې اخستے وو بجنسه موجود وی،نو دَ امامِ شافعیؒ او د علماء د یوې طائفې او د تمامو قرض خواهانو سره په سر شکن کښې شریکیږی ، او که خوښه ئے وی نو خپ مال د بجنسه واپس واخلی۔او امام ابو حنیفةؒ رحمة الله علیه وئیلی دی چه بائع به د نورو قرض خواهانو برابر په سر شکن کښې شریک وی د مال واپس اخستلو ده ته اختیار نشته۔

او امامِ مالکؒ وئیلے دی چه د ناچارئ په وجه واپس اخستے شی او د مرګ په صورت کښې به د تولو قرض خواهانو برابر وی دَ امامِ شافعیؒ دلیل دا حدیث دے ، او په مرګ کښ هغه حدیث دے کوم چه په سنن ابو داود کښ مروی دے ، او ابو حنیفةؒ د هغه احادیثو تاویل کړے دے چه هغه ضعیف دی ، او دلیل دَ هغویؒ هغه روایت دے کوم چه د حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه او ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه مروی دی،حالانکه هغه روایت د دے دواړو نه ثابت نۀ دے(تمام شو کلام د نوویؒ)۔

(۳۹۸۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ الرَّجُلِ الَّذِیْ یَعْدِمُ اِذَا وُجِدَ عِنْدَهُ الْمَتَاعُ وَلَمْ یُفَرِّقْهُ اَنَّهُ لِصَاحِبِهِ الَّذِیْ بَاعَهُ. [راجع : ۳۹۸۷]

ترجمه :دَ ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د هغه سړی په باره کښې چه هغه ناچاره شِی ، هر کله چه د هغه سره مال د هغه جنس نه وی(کوم چه ده اخستے وو)او هغه په هغې کښ څه تصرف نۀ وی کړے ، نو هغه به د بائع وی۔

(۳۹۹۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اُفْلِسَ الرَّجُلُ فَوَجَدَ الرَّجُلُ مَتَاعَهُ بِعَیْنِهِ فَهُوَ اَحَقُّ بِهِ.

ترجمه :د ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دیګ هر کله چه یو سړے مفلس شِی او خپل مال بِعَیْنِهٖ بل یو سړے د هغه سره لوموی،نو هغه زیات حقدار دے د هغه(په نسبت د نورو قرض غوښتونکو)۔

(۳۹۹۱) عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهُ وَقَالَ فَهُوَ اَحَقُّ بِهِ مِنَ الْغُرَمَآءِ .

ترجمه: د قتاده نه پشان د دے پورته حدیث روایت دے په دے کښې دا دی چه زیات حقدار دے هغه دَ نورو قرض خواهانو نه۔

(۳۹۹۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اُفْلِسَ الرَّجُلُ عِنْدَهُ سِلْعَتَهُ بِعَیْنِهَا فَهُوَ اَحَقُّ بِهَا.

ترجمه: دَ ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، هر کله چه څوك ناچاره شی بیا بل سړی خپل اسباب دَ هغه سره اومومی: نو هغه زیات حقدار دے دَ هغې۔

بَابُ فَضْلِ اِنْظَارِ الْمُعْسِرِ وَالتَّجَاوُزِ فِی الْاِقْتِضَآءِ مِنَ الْمُوْسِرِ وَ الْمُعْسِرِ.

بَابُ: ناچاره ته د مهلت ورکولو او په قرض وصولولو کښې د آسانئ کولو غوره والے۔

(۳۹۹۳) عَنْ حُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ تَلَقَّتِ الْمَلٰئِكَةُ رُوْحَ رَجُلٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ فَقَالُوْا اَعَمِلْتَ مِنَ الْخَیْرِ شَیْئًا؟ قَالَ لَا قَالُوْا تَذَكَّرْ قَالَ كُنْتُ اُدَایِنُ النَّاسَ فَاٰمُرُ فِتْیَانِیْ اَنْ یُّنْظِرُوا الْمُعْسِرَ وَیَتَجَاوَزُ عَنِ الْمُوْسِرِ قَالَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ تَجَوَّزُوْا عَنْهُ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: دحذیفه رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی فرشتے ستاسو نه مخکښې دَ یو بنده روح واخستو او لاړه نو دهغه نه تپوس اوشو نیك کار کړے دکے؟ هغه اووے نهٔ. فرښتو اووے یاد اوکړه، هغه اووے ما به خلقو ته قرض ورکولو او بیا به مې خپلو ځوانانو ته حکم اوکړو چه کوم بنده ناچاره وی هغه ته مهلت ورکوی د هغه نه (د غوښتلو) تقاضه سه کوئ او کوم بنده چه مالدار وی په باندې آسانی کوئ (نرمی کوئ یا په لږ نقصان باندې خیال مهٔ کوئ مثلاً روپئی شلیدلے وی نو اخلئی سختی ډیره مهٔ کوئ) الله تعالیٰ اوفرمائیل (فرښتو ته) تاسو هم په ده باندې آسانی کوئ (او د ده ګناهونه اوبخښئی۔

فائده: ولے چه ده زمَا په بندیګانو باندې آسانی کوله، سبحان الله! د خداوند کریم څومره عنایت دے چه خپلې بندیګانو باندې په لږه شان نیکئی باندې ئے ورته تول ګناهونه آسان کړو اصل

دا دے چه خلوص او عجز او بندگی پکار ده ، دَ خدمت دَ پاره خو په لکونو کروړونو داسے غلامانو موجود دی چه چرته هم نهٔ ستړے کیږی ، بیا کچرے ناست هم وی نو سبحٰن الله څه به اووے ، خو چه د غرور او تکبر او ریَانوم نهٔ وی ورنه هغه خدمت تول لغه دے. دَ داسے عبادت نه کوم چه په غرور کښے او غورځیږی هغه گناه غوره دے چه په هغے باندِ بنده د خپل مالك په مخکښ په ندامت سره اوژاړی او عَاجزی او کړی۔

(۳۹۹۴) عَنْ رِبْعِيِّ ابْنِ حَرَاشٍ قَالَ اجْتَمَعَ حُذَيْفَةُ وَ اَبُوْ مَسْعُوْدٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَالَ حُذَيْفَةُ رَجُلٌ لَقِىَ رَبَّهٗ عَزَّوَجَلَّ فَقَالَ مَا عَمِلْتُ مِنَ الْخَيْرِ اِلَّا اِنِّیْ كُنْتُ رَجُلًا ذَا مَالٍ فَكُنْتُ اُطَالِبُ بِهِ النَّاسَ فَكُنْتُ اَقْبَلُ الْمَيْسُوْرَ وَ اَتَجَاوَزُ عَنِ الْمَعْسُوْرِ قَالَ عَزَّوَجَلَّ تَجَاوَزُوْا عَنْ عَبْدِىْ قَالَ اَبُوْ مَسْعُوْدٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ هٰكَذَا سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ. [راجع : ۳۹۹۳]

ترجمه: د ربعی بن حراشؒ نه روایت دے حذیفهؓ او ابو مسعودؓ دواړه میلاؤ شو نو خذیفه رضی الله تعالیٰ عنه اووے ، چه یو سړے میلاؤ شو دَ خپل پروردګار سره ، نو پروردِګار ترے تپوس اوکړو چه تا څه عمل کړے دے؟ هغه اووے ما هیڅ نیکی نهٔ ده کړے،مګر دا چه زهٔ مالدار سړے وم نو د خلقو نه به م خپل قرض غوښتلو.څوك چه به مالدار وو د هغه د وینا مطابق به م بیعه ماتوله(یعنی په کومه معامله کښے چه به هغه ته نقصان معلومیدو او هغه به دا غوښته چه معامِله دِ فسخ شِی نو ما به فسخ کوله د خپلے نفع دَ پاره به م د هغه نقصان نهٔ کوؤ)او څوك چه به غریب وو هغه به م معاف کوؤ،نو پروردګار(فرښتو ته)اوفرمائیل تاسو هم در ګزر اوکړئ ځما بنده ته ابو مسعودؓ اووے ما د رسول الله ﷺ نه هم دغسے اوریدلی دی۔

(۳۹۹۵) عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ رَجُلًا مَاتَ فَدَخَلَ الْجَنَّةَ فَقِيْلَ لَهٗ مَا كُنْتَ تَعْمَلُ قَالَ فَاِمَّا ذَكَرَ وَ اِمَّا ذُكِّرَ فَقَالَ اِنِّیْ كُنْتُ اُبَايِعُ النَّاسَ فَكُنْتُ اُنْظِرُ الْمُعْسِرَ وَ اَتَجَوَّزُ فِى السِّكَّةِ اَوْ فِى النَّقْدِ فَغُفِرَ لَهٗ فَقَالَ اَبُوْ مَسْعُوْدٍ وَّ اَنَا سَمِعْتُهٗ مِنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[راجع :۳۹۹۳]

ترجمه:د حذیفه رضِیَ اللّٰهُ تعالیٰ عنه نه روایت دے جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی یو سړے مړ شولو،او او وئیلے شو هغه ته چه تا به څه عمل کوؤ پس هغه پخپله یاد کړو یا ورته یاد کړلے شو هغه اووے،ما به(په دنیا کښِ)مال خرڅولونو ناچاره ته به م مهلت ورکولو او په سکه یا

نقدو کښې به م ورته معافی کوله.(د هغې په نقصان یا عیب سره او قبولوله یَه م)د دے وجے نه هغه اوبخښلے شو ابو مسعودؓ ونیلے دی ما داسے اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه۔

(۳۹۹٦) عَنْ حُذَیْفَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُتِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی بِعَبْدٍ مِّنْ عِبَادِہٖ اٰتَاہُ اللّٰہُ مَالًا فَقَالَ لَهُ مَا ذَا عَمِلْتَ فِیْ الدُّنْیَا قَالَ وَ لَا یَکْتُمُوْنَ اللّٰہَ حَدِیْثًا قَالَ یَا رَبِّ اٰتَیْتَنِیْ مَالَکَ فَکُنْتُ اُبَایِعُ النَّاسَ وَ کَانَ مِنْ خُلُقِیَ الْجَوَازُ فَکُنْتُ اَتَیَسَّرُ عَلَی الْمُوْسِرِ وَ اُنْظِرُ الْمُعْسِرِ فَقَالَ اللّٰہُ عَزَّوَجَلَّ اَنَا اَحَقُّ بِذَا مِنْکَ تَجَاوَزُوْا عَنْ عَبْدِیْ فَقَالَ عُقْبَةُ ابْنُ عَامِرِ الْجُهَنِیُّ وَ اَبُوْ مَسْعُوْدِ الْاَنْصَارِیُّ هٰکَذَا سَمِعْنَاہُ مِنْ فِیْ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ.

[راجع:۳۹۹۳]

ترجمه:د حذیفهؓ نه روایت دے الله جل شانه د هغه یو بنده راوستلے شو چه هغه له الله مال ورکړے وو نو الله تعالیٰ د هغه نه تپوس اوکړو تا به په دنیا کښې څه عمل کوو.او د الله تعالیٰ نه یوه خبره هُم نه شی پټیدے، بنده اووے اے څما مالکه!تا خپل مال راکړے وو او ما به په خلپو بانډِ خرخولو او څما دَ پریخودَلو عادت وو(او د معافئی کولو)نو ما به آسانی کوله په مالدار ناچارته ، پس الله تعالیٰ اوفرمائیل، بیا خو زهٔ زیات لائق یم د معاف کولو د پاره ستا نه چه تا در گذر کړ ے دے څما بنده ته ، بیا عقبه بن عامر جهنیؓ او ابو مسعود انصاریؓ وائی،مونږ دغه شان اوریدلی دی د رسول الله ﷺ دَ خلے مبارکے نه۔

(۳۹۹۷) عَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حُوْسِبَ رَجُلٌ مِّمَّنْ کَانَ قَبْلَکُمْ فَلَمْ یُوْجَدْ لَهُ مِنَ الْخَیْرِ شَیْءٌ اِلَّا اَنَّهُ کَانَ یُخَالِطُ النَّاسَ وَ کَانَ مُوْسِرًا فَکَانَ یَاْمُرُ غِلْمَانَهُ اَنْ یَّتَجَاوَزُوْا عَنِ الْمُعْسِرِ قَالَ قَالَ اللّٰہُ تَعَالٰی نَحْنُ اَحَقُّ بِذٰلِکَ مِنْهُ تَجَاوَزُوْا عَنْهُ. [ترمذی ،]

ترجمه :د حضرت ابی مسعود رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول اللہ ﷺ اوفرمائیل ستاسو نه مخکښې دَ یو سړی حساب اوشولو نو د هغه یوه نیکی دا او نهٔ ورته ، مگر دومره چه هغه د خلقو سره معامله کوله او مالدار وو ، نو خپلو غلامانو ته به ئې حکم کوۀ د ناچاره د معاف کولو ،بیا الله اوفرمائیل مونږ زیات حق لرو د معاف کولو ستا نه،او حکم ئے اوکړو چه معاف کړئ د ده گناهونه لره۔

(۳۹۹۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ کَانَ رَجُلٌ یُّدَایِنُ النَّاسَ

فَكَانَ يَقُولُ لِفَتَاهُ إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا فَتَجَاوَزْ عَنْهُ لَعَلَّ اللهَ يَتَجَاوَزُ عَنَّا فَلَقِيَ اللهَ تَعَالَى فَتَجَاوَزَ عَنْهُ. [بخاری، نسائی،]

ترجمه: دَ ابو هریره رضی الله تعالی عنه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه یو سړی به خلقو له قرض ورکولو، او خپلو نوکرانو ته به ئے وئیل چه څوك غریب وی هغه معاف کړئ، کیدے شی چه الله تعالیٰ د دے په بدله کښې مونږ معاف کړی، بیا هغه د الله پاك سره میلاؤ شولو او الله تعالیٰ هغه اوبخښلو۔

(۴۰۰۰) عَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ طَلَبَ غَرِيمًا لَهُ فَتَوَارَىٰ عَنْهُ ثُمَّ وَجَدَهُ فَقَالَ إِنِّي مُعْسِرٌ قَالَ آللهِ قَالَ آللهِ قَالَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ.

ترجمه: د عبدالله بن ابی قتادهؓ نه روایت دے چه ابو قتاده خپل یو قرضدارے تلاش کړو نو هغه پټ شولو بیا ئے هغه اوموندو نو هغه اووے زهٔ ناچاره یم ابو قتادهؓ اووے په الله قسم دے هغه لوے په الله م د قسم وی (چه ناچار یم) ابو قتادهؓ اووے ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیلی ئے وو چه که چا ته دا معلومه وے چه الله خلاصے ورکوی د قیامت په ورځ د سختونه نو هغه به مهلت ورکوو ناچار لره یا به ئے معاف کړو هغه لره۔

بَابُ تَحْرِيمِ مَطْلِ الْغَنِيِّ وَصِحَّةِ الْحَوَالَةِ وَاسْتِحْبَابِ قَبُولِهَا إِذَا أُحِيلَ عَلَى مَلِيٍّ.

باب مالدار لره په قرض ادا کولو کښې وخت تیرول حرام دی، او هر کله چه قرض اوغورځولې شی په مالدار باندے نو د هغې قبلول مستحب دی.

(۴۰۰۲) عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ وَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيٍّ فَلْيَتْبَعْ. [بخاری، ابو داود، نسائی]

ترجمه: ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کوم

سړے چه مالدار وی(یعنی دَ دومره قرضے دَ ادا کولو طاقت لری)بیا هم هغه په قرض ادا کولو کښے سُستی کوی نو هغه ظالِم دے،او هر کله چه څوك ستاسو نه اولګولے شی په مالدار باندِ نو په هغه پسے دِ ځی۔

فائده:اولګولے شی یعنی حواله کړے شی،مثلاً زید دَ عمرو مقروض دے،زید عمرو لره حواله کړو بکر ته،یعنی په بکر بَاندِ ئی خپله قرضه اوغورځوله،د هغه په رضامندیٔ سره ، او د عمرو مقابله ئے اوکړله،نو عمرو لره قبلول پکار دی اوس دا قبول مستحب دی،او ځنو عالمانو وئیلے دی چه مباح دی،اوځنو وئیلے دی چه واجب دی،په وجه د ظاهر حدیثاو دغه مذهب دے دَ داؤد ظاهرئ(نووی)۔

بَابُ تَحْرِيْمِ بَيْعِ فَضْلِ الْمَآءِ الَّذِیْ يَكُوْنُ بِالْفَلَاةِ وَيُحْتَاجُ اِلَيْهِ لِرَعْيِ الْكَلَاءَ وَتَحْرِيْمَ مَنْعِ بَذْلِهِ وَتَحْرِيْمِ بَيْعِ ضِرَابِ الْفَحْلِ .

باب:کومے اوبه چه په ځنګل کښے د ضرورت نه زیاتے وی د هغے خرڅول حرام دی هر کله چه خلقو ته د هغے حاجت وی د غاړے په څرولو کښ او د هغے نه لرے کول منع دی ، او د نسل په ځاروی اجرت اخستل منع دی .

(۴۰۰۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ فَضْلِ الْمَآءِ.[ابن ماجه]

ترجمه: دجابر بن عبدالله نه روایت دے وائی چه منع فرمائیلے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه اوبو دخرڅولو نه کومے چه دضرورت نه زیاتے وی۔

فائده: امام نووی وئیلے دی چه په بل روایت کښے داسے دی چه منع ئے فرمائیلے دزیاتو اوبودبندولو نه ددے دپاره چه ددے په وجه زیات واښه اونۀ شی۔ او په یو روایت کښ داسے دی چه زیاتے اوبه مه خرڅوی چه ددے په وجه زیاته زمکه شنه دی، او ددے دادے مطلب دادے چه دیو سړی په ځنګل کښے کوهے وی ، او په هغے کښ دده دضرورت نه زیاتے اوبه را اوځی او په هغه

ځنګل کښې ورشو هم وی . لیکن اوبه سواد دغه کو هی نه بل ځائے چرته نهٔ وی، نو ځارووالا
به خپل ځاروی په دغه ځنګل کښې نهٔ شی څرولے بغیر ددغه کو هی داوبو دڅښلو نه، اوس که
کو هی والا ددغه کو هی اوبه څښلو ته نهٔ ورکوی یا دهغے قیمت اخلی، اودے په بهانه سره لګه
دوښو دځریدلو هم قیمت اخلی نو دا حرام دی۔

زمونږ ملګرو وئیلے دی چه دضرورت نه زیاتے کومے اوبه چه په ځنګل کښې وی هغه
په څوشرطونو سره مفت ورکول پکاردی یو دا چه هلته بل ځائے اوبه نهٔ وی دویم دا چه دځناورو
دڅښلو دپاره ورکړے شی ، نهٔ دفصل دپاره دریم دا چه دمالك هغے ته حاجت نهٔ وی او مذهب
صحیح دادے چه څوك په خپله ملکی زمکه کښې کو هے یا چینه او کنی نو اوبه به هم دده
ملك وی، او څنو وئیلے دی چه اوبه به دده ملك نهٔ وی لیکن هر کله چه اوبه په خپل لوښی
کښے واخلی نو هغه به دده ملك کیدے شی، او دغه صواب دے، او بعضو په دے باندِ اجماع
نقل کړے ده، انتهی بالاختصار۔

۴۰۰۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَیْعِ ضِرَابِ الْجَمَلِ وَعَنْ بَیْعِ الْمَآءِ وَالْاَرْضِ لِتُحْرَثَ فَعَنْ ذٰلِکَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ .[نسائی]

ترجمه: دحضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه منع فرمائیلے ده رسول
الله صلی الله علیه وسلم اوښ دنسل خرڅولو نه، او داوبو دخرڅولو نه او دزمکے دخرڅولو نه
دفصل دپاره۔

فائده: یعنی دهغے داجرت اخستلو نه، نووی ؒ وئیلے دی چه عالمانو اختلاف کړے دے
په دے کښې چه داوښ یا بل څه ځناوردنسل په حرکت اجرت اخستل څنګه دی، نو دامام شافعیؒ
او امام ابو حنیفهؒ او ابوثورؒ مذهب دادے چه په دے اجرت اخستل حرام دی، او په ماده والا باندِ
څه ورکول واجب نهٔ دی ، او یو جماعت داصحابوؓ او تابعینوؒ او مالك دے ته جائز وئیلے دی دیوے
مدے معلومے او ضربات معین دپاره او دے ته ئے تنزیهی خودلے دے یعنی دمزارعت او ددے
مفصل بیان پورته تیر شوے دے۔

(٤٠٠٦) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَآءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلَاُ. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: دحضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی مهٔ منع کوئ زياتے شوے او به ددے دپاره چه منع شی ددے په وجه سره ورشو۔

(٤٠٠٧) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوْا فَضْلَ الْمَآءِ لِتَمْنَعُوْا بِهِ الْكَلَاُ.

ترجمه: دحضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم او فرمائيل مهٔ منع کوئ هغه اوبه چه ستاسو دضرورت نه زياتے وی دورشو نه دمنع کولو دپاره ۔

(٤٠٠٨) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُبَاعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُبَاعَ بِهِ الْكَلَاُ.

ترجمه: دابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی، نهٔ دِشی خرخولے هغه اوبه کومے چه دضرورت نه زياتے وی ددے دپاره چه ورشو خرخه کړی۔

بَابُ تَحْرِيْمِ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ وَمَهْرِ الْبَغِیِّ وَالنَّهْیِ عَنْ بَيْعِ السِّنَّوْرِ

باب دے په بيان دحرام والی دقيمت دسپی او دنجومی دمهايئ او درنوئ دکتے او دپيشو دخرڅ کښ۔

(٤٠٠٩) عَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِیِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ. [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دابو مسعود انصاری رضی الله تعالی عنه نه روايتے دے وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم منع فرمائيلی ده سپی دقيمت نه او دکونډئ فاحشے ښځے دکټے نه او دنجومی

دمهتابی نه.

فائده: ددے نه معلومه شوه چه دسپی بیعه حرامه ده . او هغه صحیح نۀ ده او دهغه قیمت هم حرام دے او خوك چه یو سپے مړ کړی اګر که دا تعلیم یا فته وی خو بیا هم په ده باندِ دقیمت تاوان نشته دے. او دجمهور عالمانو لکه ابو هریرة او حسن بصری او ربیعه او اوزاعی او حکم او حماد او شافعی او احمد او داؤد او ابن منذر وغیره نورو دغه قول دے. او دابو حنیفه رحمه الله علیه په نزد دهغه سپو بیعه درسته ده چه دهغے نه نفع رسیږی او دهغے په وژلو والا باندِ دقیمت تاوان شته دے. او ابن منذر دجابر او عطاء او نخعی نه دښکاری سپی دبیع جواز نقل کړے دے نۀ دبل سپی.

او دامام مالك نه په دے باره کښے څو روایتونه دی یو خودا چه دهغه بیع جائز نۀ ده لیکن په تلف کونکی ئے دقیمت تاوان شته دے. دویم دا چه بیع ئے جائز ده او په تلف کونکی باندِ تاوان هم. دریم دا چه بیعه ئے نا جائزه او په تلف کولو والا باندِ تاوان هم نشته دے. دجمهورو دلیل دا حدیث دے او کوم چه ددے نه پس راځی او کوم چه هغه حدیث دے چه منع کړے ده حضرتؐ دسپی دقیمت نه مګر دښکاری سپی دقیمت نه. او حضرت عثمانؓ دیو سړی نه دسپی په تاوان کښے شل اوښان غوښتلی وو. او دعمرو بن العاص څوئ دسپے په وژلو کښے دهغے تاوان ورکړے وو. نو دا ټول روایتونه ضعیف دی په اتفاق دحدیث دامامانو او مادے لره په تفصیل سره په شرح مهذب کښں بیان کړے دی (نووی)

او کوم څه چه هغه دزنا په اجرت کښے اخلی هغه حرام دی په اجماع او. فائده او دنجومی دمتهایی نه کوم چه دغیبو په خبرو ښودلو باندِ هغه ته اجرت میلاویږی او داخل دی په دے کښں پندت. اورمل او جفار کوم چه دغیبو خبرے ښائی دهغوئ ګټه ټوله حرامه ده. ښووی وئیلے دی چه بغوی او قاضی عیاض وئیلے دی چه اتفاق کړے دے اهل اسلامو دکاهن په اجرت حرامیدو باندِ ولے چه هغه عوض دے دحرام کار او خوړل دی دخلقو مال لره په فریب او دروغو سره دغه شان اجرت دسندر غاړے او په مړی باندِ دنوحه کونکے ښځے . او دا چه کوم په صحیح مسلم کښے راغلی دی چه دوینځو دګټے نه حضرت منع فرمائیلے ده ددے نه مراد هغه

ګټه ده چه هغه په زنا سره شوې وی نۀ هغه ګټه چه هغه په ګندلو یا کټ کولو سره وی خطابیؒ وئیلې دی دعراف ګټه هم حرامه ده. او په نجومی او عراف کښې دا فرق دے چه نجومی دراتلونکی وخت خبرې ښائی او داسرار دمعرفت دعوه کوی او عراف دغلا شوی مال او دورک شوی څیز پته ښائی دا خطابیؒ دابوداود په کتاب البیوع کښې لیکلی دی. او په آخر دکتاب کښې ئې دا لیکلی دی چه کاهن هغه څوک دے چه هغه دغیب دانئ دوه کوی. او خلقوته دراتلونکی ژوند خبرې ښائی او په عربو کښې څه خلق کاهن وو چه هغوئ به دوه کوله دډیرو خبرونه دواقف کیدلو.

څنو به دهغوئ نه داوئیل چه دهغوئ سره دجناتونه یو ملګرے دے یا یو جن دهغوئ تابع دے چه هغه ورله خبرونه راوړی، څنو به دا وئیل چه دهغوئ سره داسې پوهه ده چه په هغې سره دوئ مخې ته راتلونکې خبرې پیژنی. او بعضو ته دهغوئ نن به ئې عراف وئیلو دا هغه خلق وو چه داسبابو په لیدلو سره به ئې دمقدماتو نه مطلب ویستلو مثلاً څه څیز به ورك یا غلا شولو نو ګمان والا به ئې او نیولو او څنو بن منجم ته کاهن وئیلو او په دے حدیث کښې دغه ټول خلق شامل دی او په دے حدیث سره ددغه خلقو خبره منل او په هغې بندِ یقین کول منع دی. لیکن دطبیب ته به ئې هم کاهن یا عراف وئیلو خو هغه په دے نهی کښې داخل نۀ دی. تمام شو کلام دخطابیؒ. امام ابو الحسن ماوردیؒ دخپل کتاب ((احکم سلطانیه)) په آخر کښې لیکلی دی چه محتسب لره منع کول پکار دی دداسې خلقو دګټې نه لکه نجومی یا بل یو بازئ والا، سزاه ورکول پکار دی ورکونکی ته او اخستونکی ته والله اعلم انتهی.

(۴۰۱۱) عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ شَرُّ الْكَسْبِ مَهْرُ الْبَغِيِّ وَثَمَنُ الْكَلْبِ وَكَسْبُ الْحَجَّامِ.

ترجمه: درافع بن خدیج رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئې وو. بده ګټه ده درنډئ فاحشې ګټه او دسپی قیمت او دښکر لګولو والا مزدوری.

فائده: نوویؒ وئیلې دی په دے حدیث کښې دلیل دے دهغه سړی چه هغه دښکر

لګولو قیمت حرام ګڼري، و په دې کښې دعالمانو اختلاف دې اکثر دسلفو او خلفو په نزد دااجرت حرام نۀ دې، او دغه مشهور مذهب دې دامام احمدؒ ، او په یو روایت کښې دهغوئ نه دادې چه دا حرام دی آزاد لره نۀ غلام لره، او دهغوئ دلیل دې حدیث دابن عباسؓ چه هغې لره روایت کړې دې بخاري او مسلم چه حضرت صلی الله علیه وسلم ښکر لګولې دې او مزدورې ئې ورکړې ده ښکر لګولو والا ته، او دا حدیث محمول دې په تیز په باندې او دهغې مطلب دادې چه دښکر لګولو کسب یو ذلیل کسب دې حتی المقدور بل کسب لره اختیار ول غوره دی۔

(۴۰۱۴) عَنْ رَافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيْثٌ وَكَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيْثٌ. [راجع:٤٠٠١]

ترجمه: رابع بن خدیج رضی الله تعالی عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کړې دې چه حضرتؐ او فرمائیل دسپي قیمت خبیث دې . او دښکر لګولو والا ګټه خبیثه ده۔

(۴۰۱۵)عَنْ اَبِى الزُّبَيْرِ قَالَ سَأَلْتُ جَابِرًا عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ فقال زَجَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذلک.

ترجمه: دابو الزبیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دې وائي چه ما دجابر رضی الله عنه نه دسپي او دپیشو دقیمت په باره کښې تپوس اوکړو ۔ هغوئؓ اووې منع کړې ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې نه۔

فائده: نـووئ وئیلي دی دپیشو دقیمت نه ئې په دې وجه منع فرمائیلې ده چه هغه بې کاره ده یا دانهي تنزیهي ده ددې دپاره چه خلق ددې بچې خلقو له مفت ورکوي په دې باند هم کچرې ددې نه منفعت وی او خوك ئې خرڅه کړی نو بیعه ئې صحیح ده، او زرثمن حلال دې، دا زمونږ مذهب او داکثرو عالمانو مذهب دې مګر ابن منذرؒ دابو هریرهؓ او طاوسؒ او مجاهد او جابر بن زیدؒ نه نقل کړې دی چه ددې بیعه جائز نۀ ده، او حجت دهغوئ دا حدیث دې۔

بَابُ الْأَمْرِ بِقَتْلِ الْكِلَابِ وَبَيَانِ نَسْخِهِ وَبَيَانِ تَحْرِيْمِ اقْتِنَائِهَا إِلَّا لِصَيْدٍ أَوْ زَرْعٍ أَوْ مَاشِيَةٍ وَنَحْوِ ذٰلِكَ.

باب:۔ دسپود قتل حکم یا دهغې منسوخ کېدل او دهغې امر بیان چه

دسپی ساتل حرام دی مګر دښکار یا دفصل یاد خاروود حفاظت دپاره یا دغه شان دبل ځار دپاره .

(۴۰۱۶) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم امر بقتل الکلاب.
[بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړے دسپو دوژلو.

(۴۰۱۷) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما قال امر رسول الله صلی الله علیه وسلم بقتل الکلاب فارسل فی اقطار المدینة ان تقتل .

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړے دے دسپو دوژلو بیا اولیږل حضرتؐ خلقو لره دمدینے په طرف دسپو دوژلو دپاره۔

(۴۰۱۸) عن عبد الله ابن عمر رضی الله تعالی عنهما قال کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یامر بقتل الکلاب فتنبعث فی المدینة واطرافها فلا ندع کلبا الا قتلناه حتی انا لنقتل کلب المرية من اهل البادية یتبعها.

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم فرمائیلے دے دسپو دقتل نو وریسے شو مونږ دمدینے په ښهر کښې او دهغے خلور طرفته دسپونه ، بیا یو سپے هم مونږ داسے پریخودے نۀ وو چه هغه مونږ مړ کړے نۀ وو، تردے پورے چه دپیو والا اوښو سره چه به کوم سپی اوسیدل په بانډو کښې هغه مو هم اوژل۔

فائده : نوویؒ وئیلے دی عالمانو اتفاق کړے دے چه چچولو والا سپے وژل پکار دی، لیکن اختلاف ئے کړے دے دهغه سپی په وژلو کښې چه دهغے نه څه نقصان نۀ وی نو زمونږ دملګرو نه امام الحرمین دا وئیلے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ړومبے دټولو سپو دوژلو حکم کړے وو بیا هغه حکم منسوخ شولو او حضرت منع او فرمائیله دسپو دقتل نه مګر هغه سپے چه هغه تک توروی، بیا دا قاعده مقرر شوه چه دهر سپی قتل منع دے خواه که

هغه توروی یا دبل یورنګ وی کوم چه نقصان نهٔ ورکوی او قاضی عیاض وئیلی دی چه ډیرو علماؤو ددغه حدیثونه تمسك کړے دے کوم چه دسپو دقتل په باره کښے راغلی دی . لیکن مستثنی کړی نے دی ددے نه ښکاری سپو لره او دغه مذهب دے دامام مالك او دهغه دملګرو انتهی مختصرا.

(۴۰۱۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ بِقَتْلِ الْکِلَابِ اِلَّا کَلْبَ صَیْدٍ اَوْ کَلْبَ غَنَمٍ اَوْ مَاشِیَةٍ فَقِیْلَ لِابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ اَبَاهُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ اَوْ کَلْبَ زَرْعٍ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ زَرْعًا. [ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو دسپو دوژلو ، مګر دښکاری سپی یا دبزودرمے دسپی یادنورو څناورو دحفاظت دسپی ، خلقو عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما ته اووے چه ابو هریره رضی الله عنه دپټی سپیٔ لره هم مستثنی کړے دی . عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما اووے . بیشکه دابو هریره رضی الله تعالی فصل هم دے.

فائده: امام نووی وئیلی دی ددے حدیث نه دابو هریره تحقیر منظور نهٔ دے اونهٔ دهغویٔ په روایت کښے څه شك وو. بلکه ددے مطلب دادے چه دابو هریره رضی الله تعالی عنه سره چونکه پټے وو او هغویٔ دهغے دحفاظت دپاره دسپی ساتل ضروری وو. څکه هغویٔ درسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا لفظ یاد کړے وو اوماته یادنهٔ وو. او حاصل دادے چه دپټی لفظ څه یواځے دابو هریرهؓ نه نقل نهٔ دے بلکه داصحابوّ یو جماعت نقل کړے دے . او کړے یواځے ابو هریره رضی الله تعالی عنه نقل کړے وے بیا به هم دهغویٔ روایت مقبول او کافی وو څکه چه اصحابؓ ټول ثقه دی.

او دسپو په ساتنه کښے زمونږ مذهب دادے چه بغیرد ضرورت نه سپے ساتل حرام دی ، او دښکار یا دپټی یا دګډوبزود رمے دحفاظت دپاره درسته وباو دکور دحفاظت دپاره په ساتلو کښے دسپی اختلاف دے دتولو نه صحیح قول دادے چه په دغے باند دقیاس کولو دوجے نهٔ جائز دی انتهی مخلصا.

(۴۰۲۰) عَن جابر ابن عبد الله رضی الله تعالی عنهٔ یقولُ امرنا رسُولُ الله صلّے الله علیه وسلّم بقتلِ الکلاب حتّی انّ المرأة تقدم من البادیة بکلبها فنقتلُهُ ثم نهی النّبیُّ صلّے الله علیه وسلّم عن قتلها وقال علیکُمْ بالاسْوَدِ البهیم ذِی النُّقطتین فانّهٔ شیطانٌ . [ابوداود]

ترجمه : ابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وانی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته حکم کړے دے دسپو دوژلو تردے پورے چه ښځه به دځنګل نه راتله او خپل سپے به ورسره وو نو مونږ هغه هم وژلو . بیا حضرتؐ منع اوکړه دسپو دقتل نه او اونے فرمائیل چه وژنئ یوشان تور سپی لره چه دهغه په سترګه باندې دوه سپینے ټیکے وی هغه شیطان وی.

فائده: یعنی شیر یروی اکثر داسے چیچل کوی تکلیف ورکوی امام احمدؒ او زمونږ ه ځنے اصحابوؒ وئیلے دی چه دداسے سپی ښکار هم درست نهٔ دے ولے چه هغه شیطان دے. او دشافعیؒ او مالکؒ او دجمهورو عالمانو په نزد دهغه هم ښکار درست دے او حکم دهغه په مثل دنورو سپو دے. (نوویؒ)

(۴۰۲۱) عَن ابن مُغفلٍ قَالَ امرَ رَسُولُ الله صَلَّے الله علیه وَسلّم بقتل الکلاب ثُمّ قال ما بالهُم وبالُ الکِلاب ثُمَّ رخَّصَ فِیْ کَلب الصَّید وَکَلب الغنم . [راجع : ۲۵۴]

ترجمه : دابن مغفل نه روایت دے حکم کړے دے رسول الله صلی الله علیه وسلم دسپو دوژلو . بیائے او فرمائیل سپی څه ورانوی دهغوئ . بیائے اجازت ورکړو . دښکاری سپی او دکنډک (یعنی دګډوبزو) دسپی دساتول.

(۴۰۲۲) عَن شُعْبة بهٰذَا الاسْنادِ وقالَ ابْنُ ابیْ حاتم فیْ حدیْثه عَنْ یحیی ورخّص فیْ کلْب الغنم والصَّید والزّرْعِ . [راجع :۶۵٤]

ترجمه : دشعبه نه په دغه اسناد سره کوم چه پورته تیر شو دا روایت دے په دے کښې دادی چه اجازت ورکړے دے حضرتؐ دبزودسپی او دښکاری سپی او دفصل دسپی .

(۴۰۲۳)عَن ابن عُمر رضی الله تعالی عنهُما قال قال رسُولُ الله صلّے الله علیه وسلّم من اقتنی کلْبًا الّا ما شیَة اَوْ صاریًا نُقص من اجره کُلّ یوْم قیْراطان . [بخاری]

ترجمه: دعبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله

علیه وسلم فرمائیلی دی چا چه یو سپے او ساتلو سوا د هغه سپی نه کوم چه دڅناورو دحفاظت دپاره وی یا ښکاری وی نو د هغه ثواب هره ورځ ددوه قیراطو برابر کمولے شی۔

فائده: یو قیراط دېنځۀ وربشوی، اوس عالمانو اختلاف کړے دے چه دانقصان به دتیروشوؤ عمونو دثواب نه وی او که دراتلونکو عملونو او یو قیراط به دشپے دعملونو نه کټ یږی اوکه دورځے یا دیو فرضو نه که دیو نفلونه، او دهغے وجه داده چه په سپی ساتلو سره دفرښتو په راتلو کښ حرج راځی یا راتلونکو او تلونکو والا ته دهغه دخپلو نه تکلیف وی یا دسپی ساتلو والا دکپړو او لوښو دپلیتیدو دوجے نه، نووی۔

(۴۰۲۴) عَنْ سَالِمٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قَالَ مَنِ اقْتَنٰى كَلْبًا اِلَّا صَيْدٍ اَوْ مَاشِيَةٍ نَقَصَ مِنْ اَجْرِهٖ كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطَانِ . [نسائی]

ترجمه: سالم دخپل پلار عبدالله بن عمرؓ نه روایت کوی چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کوم بنده چه سپے او ساتی په شرط ددے چه هغه سپے ښکاری یا دڅناورو دحفاظت دپاره نۀ وی، نو د هغه دثواب نه هره ورځ دوه قیراطه ثواب کیږی۔

(۴۰۲۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مَنِ اقْتَنٰى كَلْبًا اِلَّا كَلْبَ ضَارِيَةٍ اَوْ مَاشِيَةٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهٖ كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطَانِ .

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، کوم سړے چه سپے او ساتی سوا دښکاری سپی یا دکنډك دسپی نه، نو دهغه دعمل هره ورځ دوه قیراطه کمیږی۔

(۴۰۲۶) عَنْ سَالِمِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم قَالَ مَنِ اقْتَنٰى كَلْبًا اِلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ اَوْ كَلْبَ صَيْدٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهٖ كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطٌ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ وَاَبُوْهُرَيْرَةَ اَوْ كَلْبَ حَرْثٍ . [نسائی]

ترجمه: دسالم بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے هغوئ اوریدلی دی دخپل پلار عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوك چه دڅناورو دحفاظت او ښکاری سپی نه علاوه سپے او ساتی نو د هغه دعمل نه هره ورځ یو قیراط کمیږی عبدالله وائی ابو هریره رضی الله عنه ورسره دفصل دپاره سپے زیات کړے دے۔

(۴۰۲۷) عَنْ سَالِمٍ عَنْ اَبِيْه رضى الله تعالى عنهُ عَنْ رَسُوْلِ الله صلى الله عليه وسلم قال من اقتنى كلبًا إلا كَلْبَ ضَارِئٍ اوْ مَاشِيَةٍ نقص من عمله كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطَانِ قال سالم وكان ابو هريرة رضى الله تعالى عنهُ يقُوْلُ او كَلْبَ حَرْثٍ وكان صاحبَ حَرْثٍ . [بخارى ، نسائى]

ترجمه: سالم رضى الله تعالى عنه روايت کړے دے دخپل پلار عبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنهما نه هغوئ دجناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نه چه هغوئ او فرمائيل څوك چه دښکار يادځناورود حفاظت نه علاوه سپے او ساتى نو دهغه دعمل نه هره ورځ دوه قيراطه کميږى . سالم وائى ابو هريره رضى الله تعالى عنه به وئيلو چه يا دفصل دحفاظت دپاره نۀ وى او دهغه پټے هم وو (ددے وجے نه دالفظ دهغوئ يادوو) ۔

(۴۰۲۸) عَنْ سَالِمِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ اَبِيْه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَيُّمَا اَهْلِ دَارٍ اتَّخَذُوْا كَلْبًا إلَّا كَلْبَ مَاشِيَةٍ اَوْ كَلْبَ صَآئِدٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهِمْ كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطَانِ.

ترجمه :سَالِم بن عبدالله رضى الله تعالىٰ عنه د خپل پلار عبدالله بن عمر رضى الله تعالىٰ عنهما نه روايت کړے دے وئى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى،کوم د کور خاوند چه سپے لوساتو علاوه دَ ځناورو د حفاظت يا دَ ښکارى نه،د هغه د عمل نه هره ورځ قيراطه کميږى۔

(۴۰۲۹) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اتَّخَذَ كَلْبًا إلَّا كَلْبَ زَرْعٍ اَوْ غَنَمٍ اَوْ صَيْدٍ يَّنْقُصُ مِنْ اَجْرِهٖ كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطٌ.

ترجمه :د عبدالله بن عمر رضى الله تعالىٰ عنهما نه روايت دے وائى چه رسول الله ﷺ فرمائيلى دى څوك چه سپے ساتى مګر هغه دَ فصل يا د بزو يا د ښکا سَپے نۀ وى،نو د هغه د ثواب نه هره ورځ د يو قيراط برابر ثواب کمولے شى۔

فائده:نـووىؒ وئيلے دى دچا په روايت کښے يو قيراط دے د چا په روايت کښے دوه قيراط دى،کيدے شى مطلب دا وى چه که په مدينه کښے ئے اوساتى نو دوه قيراطه نقصان به ئے وى ولے چه مدينه منوره متبرکه ده او غوره ولے لرى او په نورو ښهرونو فضيلت لرى،پس هلته پے ضرورته سپے ساتل زيات ګناه دے او که د مدينے نه بهر(سپے)اوساتلے شى نو يو قيراط ثواب به ئے کميږى،او څنو وئيلے دى چه دا اختلاف د سپو په قسمونو بانډِ دے کوم سپے چه زيات ضرر

رسونکے وی په دے کښے به ئے دوه قیرطه نقصان وی گنی یو قیراط به وی.

(۴۰۳۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَنٰی کَلْبًا لَّیْسَ بِکَلْبِ صَیْدٍ وَّلَا مَاشِیَةٍ وَّلَا اَرْضٍ فَاِنَّهٗ یَنْقُصُ مِنْ اَجْرِهٖ قِیْرَاطَانِ کُلَّ یَوْمٍ وَّلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِ اَبِی الطَّاهِرِ وَ وَلَا اَرْضٍ. [نسائی]

ترجمه: دَ ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ځوک سپے اوساتی او د هغه ښکار د پاره نهٔ وی نه د زمکے(یعنی پټی د پاره)وی.نو د هغه د ثواب نه هره ورځ یوه قیراطه نقصان کیږی،او د ابو الطاهر په روایت کښې د ولارض لفظ نشته دے.

(۴۰۳۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اتَّخَذَ کَلْبًا اِلَّا کَلْبَ مَاشِیَةٍ اَوْ صَیْدٍ اَوْ زَرْعٍ نِ انْتَقَصَ مِنْ اَجْرِهٖ کُلَّ یَوْمٍ قِیْرَاطٌ قَالَ الزُّهْرِیُّ فَذُکِرَ لِابْنِ عُمَرَ قَوْلُ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَقَالَ یَرْحَمُ اللهُ اَبَا هُرَیْرَةَ کَانَ صَاحِبَ زَرْعٍ. [ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلی دی، ځوک چه سپے اوساتی مگر سپے دَ رمے یا د ښکار د پټی دَ پاره(د دے نه علاوه چه ئے ساتی)نو د هغه په ثواب کښې هره ورځ د یو قیراط ثواب کمیږی.

زهری وئیلے دی ابن عمر رضی الله تعالیٰ عنه دَ قول چه هغه د پټی سپی لره هم مستثنی کوی نو هغویٔ اووے رحم دِ اوکړی الله په ابو هریرهٔ باندِ هغویٔ پټی والاوو.

(۴۰۳۲) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَمْسَکَ کَلْبًا فَاِنَّهٗ یَنْقُصُ مِنْ عَمَلِهٖ کُلَّ یَوْمٍ قِیْرَاطٌ اِلَّا کَلْبَ حَرْثٍ اَوْ مَاشِیَةٍ.

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ځوک چه سپے اوساتی د هغه د عمل نه هره ورځ قیراط ثواب کمولے شی.مگر د پټی د سپی یا د گډو د رمے(د حفاظت د پاره درست دی).

(۴۰۳۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اتَّخَذَ کَلْبًا لَیْسَ بِکَلْبِ صَیْدٍ وَّلَا غَنَمٍ نَقَصَ مِنْ عَمَلِهٖ کُلَّ یَوْمٍ قِیْرَاطٌ.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی،ځوک چه د ښکار نه یا د بزودَ حفاظت نه علاوه سپے ساتی نو د هغه د عمل نه هره ورځ د یو

قیراط نقصان کیږی۔

(۴۰۳۶) عَنْ سُفْیَان ابن ابی زُهَیْرٍ وَ هُو رجلٌ منْ شَنُوءة منْ اصْحاب رَسُوْل الله صلّی الله علیه وسلّم قال سمعتُ رسُوْلَ الله صلّی الله علیه وسلّم یقوْلُ من اقْتنی کلْبًا لایُغنیْ عنه زرْعًا وّلا ضرْعًا نقص منْ عمله کُلّ یوْمٍ قیراطٌ قال انت سمعت هذا سمعت هذا منْ رسُوْل الله صلّی الله علیه وسلّم قال ای و رَبّ هذا الْمسْجد۔[بخاری ، نسائی ،ابن ماجه]

ترجمه :د سفیان بن ابی زهیرؓ نه روایت دے او هغه یو سړے وو د شنوءه قبیلے نه او صحابی وو د رسول الله ﷺ هغوئ وائی ما د جناب رسولالله ﷺ نهٔ اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو څوك چه سپے اوساتی او هغه په کار نهٔ راځی دَ هغه د پټی د فصل یا د غلانځی(یعنی د څناورو د حفاظت د پاره ، نو دَ هغه د عمل نه هره ورځ یو قیراط(ثواب)کمے کیږی،ثائب بن یزید وئیلے دی ، چه ماد سفیانؓ نه تپوس اوکړو چه تا داحدیث دَ رسول الله ﷺ نه اوریدلے دے ، هغویٔ اووے هاں قسم دے د دے جماعت په رب بانڊِ۔

بَابُ حِلِّ أُجْرَةِ الْحَجَامَتْ .

بَابُ:د ښکر لګولو اجرت حلال دے .

(۴۰۳۸) عَنْ حُمَیْدٍ قالَ سُئِلَ انَسُ ابْنُ مالک عنْ کسْب الْحجّام فقالَ حَتجم رسُوْلُ الله صلّی الله علیه وسلّم حجمهُ ابُوْ طیْبة فامرلهُ بصاعیْن منْ طعامٍ وّکلّم اهْلهُ فوضعُوْا عنْهُ منْ خراجه وقال انّ افْضل ما تداویْتمْ به الْحجامةُ اوْهو منْ امْثلِ دوائكُمْ. [ترمذی]

ترجمه:د حمیدؒ نه روایت دے وائی چه د انس رضی اللهُ تعالی عنه نه خلقو تپوس اوکړو د ښکر لګولو والا د ګټے په باره کښے،هغویٔ اووے رسول الله ﷺ ښکر اولګوؤ او ابو طیبه په لاس سَره بیا حکم اوکړو حضرتؐ هغه له دَ دوه اوګی غلے ورکولو هغویٔ بیان کړو دا خپلو خلقو ته نو هغویٔ کم کړو د هغویٔ محصول لره(یعنی هغه خراج لره کوم چه ئے دَ هغویٔ نه اخستلو)او اوئے فرمائیل غوره دَدوایانو نه چه په هغے سره تاسو غلاج کویٔ ښکر لګول دی۔

(۴۰۳۹) عَنْ حُمَیْدٍ قال سُئل انسُ رضی اللهُ تعالی عنْهُ عنْ کسْب الْحجّام فذکر بمثْله غیْر انّهُ قال انّ افْضلَ ما تداویْتُمْ به الْحجامة و الْقُسْطُ الْبحْریُّ فلا تُعذّبُوْ صبْیانکمْ بالْغمْز .

ترجمه: د حمیدؒ نه روایت دے د انس رضی الله تعالیٰ عنه نه تپوس اوکړے شو چه د حجام ګټه څنګه ده؟ بیا ئے بیان کړو حدیث لره په دے شان لکه چه پورته تیر شو په دے کښے دا دی چه جناب رسول الله ﷺ فرمائیلیدی غوره په هغه څیزونو کښ چه په هغے سره تاسو دوائی کوئ حجامت دے (یعنی ښکر لګول) او قسط بحری یعنی دریابی ګوټ او ضررمهٔ رَسَوئ خپلو بچو ته په حلق دبا وهولو سره۔

فائده: کومے ته چه عود هندی وئیلے شی ګرم او خشك دی معه اوزړهٔ او دماغو لره فائده ورکوی او د یخنئی په بیمارو کښے زیات فائده مند دے، غدره یعنی دحلق دَ درد په بیماریٔ کښے، بلکه عود هندی لګول کافی دی یا خوړل۔

(۴۰۴۰) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ دَعَا النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ غُلَامًا لَنَا حَجَّامًا فَحَجَمَهُ فَاَمَرَلَهُ بِصَاعٍ اَوْ مُدٍّ اَوْ مُدَّیْنِ وَ کَلَّمَ فِیْهِ فَخُفِّفَ عَنْ ضَرِیْبَتِهٖ. [بخاری]

ترجمه: د حمیدؒ نه روایت دے ما د انس رضی الله تعالی عنهما نه اوریدلی دی چه هغه وئیلو چه رسول الله ﷺ زمونږ یو غلام رااوغوښتو او هغه حجام وو (یعنی ښکرونه به ئے لګولو) بیا هغویؓ په حضرتؐ ښکرر اولګوؤ او حضرتؐ حکم اوکړو هغویٔ ته د یو اوګی یا یو مُدّ یا ددوه مده غلے ورکولو، او خبرے اترے اوشولے په باب کښے نو کم کړے شو محصول۔

(۴۰۴۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ احْتَجَمَ وَ اَعْطَی الْحَجَّامَ اَجْرَهٗ وَاسْتَعَطَ. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ښکر اولګوؤ او حجام له ئے د هغے مزدورے ورکړه، او په پوزه مبارکه کښے ئے دوای واچوله۔

(۴۰۴۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ حَجَمَ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَبْدٌ لِّبَنِیْ بَیَاضَةَ فَاَعْطَاهُ النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَجْرَهٗ وَکَلَّمَ سَیِّدَهٗ فَخَفَّفَ عَنْهُ ضَرِیْبَتَهٗ وَلَوْ کَانَ سُحْتًا لَمْ یُعْطِهِ النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله تعال عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته ښکر اولګوؤ د بنی بیاضه (داپه انصارو کښے یوه قبیله ده) یو غلام بیا حضرتؐ هغهٔ له اجرت ورکړو،

هغویٓ خپل مالك ته د دے ذکر اوکړو نو هغویٰ د هغه محصول کم کړو(کوم چه هره ورځ د ده نه مقرر وو دے ته مخارجه وائی او دا جائز دی)او کچرے د ښکر لګولو اجرت حرام وے نو حضرتؐ به هیڅ کله ده ته نهٔ وو ورکړے۔

بَابُ تَحْرِيْمِ بَيْعِ الْخَمْرِ .

باب:شراب خرڅول حرام دی .

(۴۰۴۳) عَنْ اَبِیْ سَعِيْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ بِالْمَدِيْنَةِ قَالَ يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی يُعَرِّضُ بِالْخَمْرِ وَ لَعَلَّ اللّٰهَ سَيُنْزِلُ فِيْهَا اَمْراً فَمَنْ كَانَ عِنْدَهٗ مِنْهَا شَیْءٌ فَلْيَبِعْهُ وَالْيَنْتَفِعْ بِهٖ قَالَ فَمَا لَبِثْنَا اِلَّا يَسِيْراً حَتّٰی قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی حَرَّمَ الْخَمْرَ فَمَنْ اَدْرَكَتْهُ هٰذِهِ الْاٰيَةُ وَ عِنْدَهٗ مِنْهَا شَیْءٌ فَلَا يَشْرَبُ وَلَا يَبِيْعُ قَالَ فَاسْتَقْبَلَ النَّاسُ بِمَا كَانَ عِنْدَهُمْ مِنْهَا فِیْ طَرِيْقِ الْمَدِيْنَةِ فَسَفَكُوْهَا .

ترجمه:دحضرت ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ما واؤریدل د رسول الله ﷺ نه چه په خطبه کښې ئے اوفرمائیل چه مدینه منوره کښې چه اے خلقو!الله تعالی اشاره کوی د شرابو دحرام والی او کیدے شی څه حکم د دے په باره کښې نازل شی،پس د چاسره چه شراب وی هغه دِ ئے خرڅ کړی او د هغے د قیمت نه دِ فائده اوچته کړی ابو سعید رضی الله تعالیٰ عنه وائی څو ورځے پس جناب رسول الله ﷺ حرام کړل شرابو لره اوس چه د چا سره شراب وی او هغویٰ ته د دِے حدیث حرمت اٰیت اورسی ،نو هغه دِ نهٔ څښی او نهٔ دِ ئے خرڅوی ابو سعید رضی اللّٰہ تعالی عَنه وائی ، بیا چه د کومو خلقو سره شراب وو هغویٰ هغے لره د مدینے لارے ته راؤړل او توئ ئے کړل۔

فائده : هر کله چه جناب رسول الله ﷺ مدینے ته تشریف راؤړو د دغه وخته پورے شراب حرام نهٔ و خلقو به څښلو،څنے خلقو به د حضرتؐ نه تپوس اوکړو نو دا اٰیت نازل شو يَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ ......دَ آخره پورے۔په دے اٰیت کښے ئے دا وفرمائیل چه په شرابو کښې اګر چه فائده ده مګر ضرر ئے زیات دے په دے سره خلقو شراب پریښودہ نو بل یو سخت اٰیت نازل شولو لَا تَقْرَبُوا الصَّلٰوةَ وَاَنْتُمْ سُكٰرٰی......د آخره پورے۔

په دې آیت مباره کښې ئې د نشې په حالت کښې د مونځ کولو نه منع فرمائیلې ده مگر صفائې شراب څښل نهٔ دی حرام کړی، لیکن جناب رسول الله ﷺ ته چه دا معلومه شوه چه اوس آئنده دَ الله جل جلالهٔ اراده داده چه شراب بالکل حرام کړی نو هلته حضرتؐ دا حدیث اوفرمائیلو۔

نووی علیه الرحمة وئیلي دی د دې حدیث نه دا معلومه شوه چه د کومې پورې دَ یو څیز په باره کښې څه حکم نهٔ وی نازل شوې دهغې پورې دهیڅ شان تکلیف نشته دې، او په دې مسئله کښې خلاف دې دَ اصولو د عالمانو کوم چه مشهور دې صحیح دا دې چه د شرع راتلو نه مخکښې نهٔ حکم دې نه تکلیف ولې چه الله تعالیٰ فرمائیلي دی وَمَا كُنَّا مُعَذِّبِيْنَ حَتّٰى نَبْعَثَ رَسُوْلًا دویم قول دا دې چه په اصل اشیاء کښې حرمت دې دَ کومې پورې چه شرع وارِد نهٔ وی۔

دریم قول دادې چه، ل په اصل اشیاء کښې اباحت دې څلورم قول دادې چه توقف کول پکار دی (انتهی) بیا نوویؒ وئیلي دی چه شراب خرڅول بالا جماع دی او علت دهغې دامام شافعیؒ په نزد دادې چه شراب نجس دی، او هیڅ یو مباح منفعت ددې نه نهٔ شي حاصِلیدې۔ نو پشان دنورو پلیتو لکه غل او دکونترو دَغلو ددې هم بیع حرامه ده، دغه شان دهغه درنده ځناورو چه دهغې نه څه فائده نشته دې، نهٔ هغه دښکار په کار راځي لکه نولې مار وغیره چه ددوئ بیع هم ناجائزه ده۔

او دا چه چه کوم په بل حدیث کښې راغلي دی چه الله تعالیٰ هر کله چه په یو قوم باندې دیو څیز خوړل حرام کړی نو دهغې قیمت هم حرام کړی، مراد ددې نه هغه څیزونه دی چه هغه دخوراك دپاره وی په خلاف دهغه څیزونو چه هغه دنور کار دپاره وی، لکه غلام، خچر، خر، چه ددوئ خوړل حرام دی خو خرڅول ئې حرام نهٔ دی۔

او ددې حدیث نه دا هم معلومه شوه چه دشرابو سرکه جوړول درست نهٔ دی، او کچرې درست وې نو حضرت به حکم فرمائیلې وو بلکه منع به ئې نهٔ کوله دهغې دضائع کولو نه لکه مخکښې دحرمت چه حضرت حکم فرمائیلې وو دهغې دخرڅولو، او لکه څنګه چه ئې دمرې بزې مالکانو ته فرمائیلي وو چه تاسو دهغې مرې بزې دڅرمنې نه فائده ولې او چته نهٔ کړه، دغه

قول دے دشافعی او حمد او ثوری او دمالک په صحیح تر روایت کښې او جائز کړے دی دے لره او زاعی او لیث او ابو حنیفه او مالك په يو روايت کښے

(۴۰۴۴) عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ وَعْلَةَ السَّبَائِيِّ رَجُلٌ مِّنْ اَهْلِ مِصْرَ اَنَّهُ سَاَلَ عَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَمَّا يُعْصَرُ مِنَ الْعِنَبِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَجُلًا اَهْدٰى لِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَاوِيَةَ خَمْرٍ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ عَلِمْتَ اَنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى قَدْ حَرَّمَهَا قَالَ لَا فَسَارَّ اِنْسَانًا فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَ سَارَرْتَهُ فَقَالَ اَمَرْتُهُ بِبَيْعِهَا اِنَّ الَّذِيْ حَرَّمَ شُرْبَهَا حَرَّمَ بَيْعَهَا قَالَ فَفَتَحَ الْمَزَادَةَ حَتّٰى ذَهَبَ مَا فِيْهَا. [نسائی]

ترجمه: دعبدالرحمن بن وعله سبائی نه روایت دے چه دمصر اوسیدونکے وو. هغوی تپوس اوکړو دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه دانګورو دشیرے په باره کښې. ابن عباسؓ اووے یو سړی درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره دشرابو یو مشك په تحفه کښې راوړو، حضرت ورته او فرمائیل تۀ ئې خبر چه الله تعالی حرام کړے دی دے لره. بیا هغوی دبل یو کس سره په غوږ کښې خبره اوکړه حضرت او فرمائیل تاسو څه خبره اوکړم؟ هغوی اووے ما اووے چه خرڅ کړه دے لره حضرت او فرمائیل چا چه ددے څښل حرام کړے دی هغه ددے خرڅول هم حرام کړے دی، ددے په اوریدو سره هغه سړی دمشك خله کھولاؤ کړه او څه چه په هغے کښې وو تول او بهیدل.

(۴۰۴۶) عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ لَمَّا نَزَلَتِ الْاٰيَاتُ مِنْ اٰخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ خَرَجَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاقْتَرَاهُنَّ عَلَى النَّاسِ ثُمَّ نَهٰى عَنِ التِّجَارَةِ فِي الْخَمْرِ. [بخاری. ابوداود. نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے هر کله چه د سورة بقره آخری آیتونه نازل شولو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم را اووتو او هغه ایتونه ئے خلقو ته واوره ول او منع ئے کړل هغویؑ لره د شرابو د سوداګیری نه.

فائده: قاضی عیاض ونیلے دی د شرابو حرمت خو په سوی المائده کښې دے او هغه دسود د آیت نه ډیر مخکښې نازل دے ولے چه دسود ایت دتولو نه په آخر کښې نازل شوے دے نو احتمال دے چه داممانعت د تحـ ـه نه پس وی یا د شرابو د حرام والی په وخت حضرتؐ تجارت د

شرابو هم حرام کړے وی،بیا ئے په دویم ځل بیان کړو ددے د پاره چه ښه مشهور شی ، او کیدے شی چه دغه مجلس کښې داست خلق وو چه هغوئ ته د شرابو د حرام والی خبر نۀ وو شوے.

(۴۰۴۷) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا اُنْزِلَتِ الْاٰیٰتُ مِنْ اٰخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فِی الرِّبَا قَالَتْ خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِلَی الْمَسْجِدِ فَحَرَّمَ التِّجَارَةَ فِی الْخَمْرِ. [راجع: ۴۰۴۶]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی الله تعالیٰ عنها نه روایت دے هر کله چه د سورۍ بقره اخری ایتونه نازل شولو د سود په باره کښې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د جماعت په طرف راووت و او حرامه ئے کړه د شرابو سوداګیری لره.

بَابُ تَحْرِیْمِ بَیْعِ الْخَمْرِ وَالْمَیْتَةِ وَالْخِنْزِیْرِ وَالْاَصْنَامِ.

باب: د شرابو، اومردارے او د سور او د بتانو بیع حرام ده.

(۴۰۴۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ اِنَّ اللهَ وَرَسُوْلَهُ حَرَّمَ بَیْعَ الْخَمْرِ وَالْمَیْتَةِ وَالْخِنْزِیْرِ وَالْاَصْنَامِ فَقِیْلَ یَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَرَاَیْتَ شُحُوْمَ الْمَیْتَةِ فَاِنَّهُ یُطْلٰی بِهَا السُّفُنُ وَ تُدْهَنُ بِهَا الْجُلُوْدُ وَ یَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ فَقَالَ لَا هُوَ حَرَامٌ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذٰلِكَ قَاتَلَ اللهُ الْیَهُوْدَ اِنَّ اللهَ لَمَّا حَرَّمَ عَلَیْهِمْ شُحُوْمَهَا اَجْمَلُوْهُ ثُمَّ بَاعُوْهُ فَاَكَلُوْا ثَمَنَهُ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے ، هغوئ اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه په کوم کال چه مکه فتح شوه نو حضرتؐ اوفرمائیل په مکه کښې چه الله تعالیٰ او د هغه رسول حرام کړے دی شراب او سور او د بتانو بیع لره، خلقو عرض اوکړو چه یا رسول الله د مردارے چربی کو په کشتو کښې لګولے شی ، او د څرمنے سره شریکه وی او خلق د هغے نه رڼرا کوی حضرتؐ اوفرمائیل نۀ هغه حرام دی،بیا ئے دغه وخت اوفرمائیل الله تعالیٰ د تباه کړی یهودو لره هر کله چه الله تعالیٰ په هغوئ باندِ چربی حرامه کړه(یعنی خوړل د هغے)نو هغوئ هغے لره ویلے کړه بیائے خرڅه کړه او د هغے قیمت ئے اوخوړو.

فائده:نوویؒ وئیلی دی داچه کوم حضرتؐ اوفرمائیل چه(نۀ هغه حرام دی)د دے مطلب دا دے چه د دے دا خیال په هیڅ حال کښې درست نۀ دے،ولے چه د هغے بیعه حرامه ده نۀ دا چه د

چربی نه ئے نفع اوچتول حرام دی۔ او د شافعیؒ او د هغه ملګرو مذهب دغه دے چه دَ مردارے د چربئی نه نفع اخستل جَائز دی لکه په کشتو کښے لګول یا په ډیوه کښے رنړا کول وغیره،کوم چه په خوراك کښے داخل نهٔ دی او نهٔ دبنیادم د بند سره لګی ،او دغه قول دے د عطاء بن رباح او د محمد بن جریر طبری۔

او د جمهورو علماؤ په نزد د دے نه یو منفعت اخستل درست نهٔ دی ولے چه دَ مردارے نه د نفع اخستلو ممانعت مطلق دے ، مګر هغه چه خاص کړی شوی دی لکه د باغت نه په رنړا کولو کښے یا په بل څه استعمال کښے سِوا د خوړلو یا په بدن کښې د لګولو نه لکه چه صابون جوړولو یا د څناورو په خوړلو کښې د سلفُ اختلاف دے،لیکن په صحیح مذهب کښې هغه جائز دی او قاضی عیاضؒ دت لره نقل کړے دی دَ امام مالکؒ او ډیرو اصحابوؒ نه،او شافعیؒ او ثوریؒ او ابو حنیفهؒ او د هغویؒ د ملګرو او لیث بن سعد نه،او وئیلے دی چه دغه شان منقول دی د حضرت علیؓ او ابن عُمرؓ نه ، او د هغویؒ ملګرو او لیث وغیره هم د پلیتو تیلو خرڅول هر کله چه د هغے پلیتی بیان کړی جائز کړے دی۔

اودَ عبدالملك بن ماجشون او احمد بن حنبلؒ او احمد بن صالح په نزد په دویٔ کښے د یو څیز نه نفع اوچتول درست نهٔ دیوَاللهُ اعْلَمُ۔عالمانو وئیلے دی چه دَ مردارے په بیعه کښے د کافر د لاش بیعه هم داخله ده هر کله چه هغه په جنګ کښے اووژلے شی او کافران هغے لره اخستل غواړی، او په حدیث کښے راغلے دی په نوفل بن عبدالله لره مسلمانانو په جنګ خندق کښے وژلے وو،بیا کافرو د هغه د لاش د پاره لس زره درهمه رسول الله صَلے اللهُ علیه وسلم ته وړاندِ کړل لیکن حضرتؐ وانهٔ خستل او لاش ئے هغویٔ ته حواله کړو،نو علت د دغه څیزونو د بیع نه دَ منع کیدو پلیتوالے دے،بیا د هر ناپاکه څیز بیعه ناجائزه ده ،او د بت د خرڅولو نه ممانعت څکه دے چه د دے نه څه منفعت نشته دے ، بیا کچرے د هغے د ماتوتکړونه څه منفعت کیږی نو د هغے په بیعه کښے اختلاف دے ، د بعضو په نزد په وجه د نهی د اطلاق منع دے ، او د بعضو په نزد دَ منفعت په صورکے کښے جائز دے هر کله چه څه منفعت نهٔ وی لیکن د مردارے او شرابو او د سو بیعه ، خو په اجماع دَ اهلِ اسلام حرامه ده،انتهٰی۔

(۴۰۵۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ بَلَغَ عُمَرَ اَنَّ سَمُرَةَ بَاعَ خَمْرًا فَقَالَ قَاتَلَ اللهُ سَمُرَةَ اَلَمْ يَعْلَمْ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَعَنَ اللهُ الْيَهُوْدَ حُرِّمَتْ عَلَيْهِمُ الشُّحُوْمُ فَجَمَلُوْهَا فَبَاعُوْهَا.

[راجع:۴۰۴۸]

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته خبر اورسیدو چه سمره شراب خرخ کړل. هغوئ اووے الله دِ اووژنی سمره لره ده ته خبر نشته چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی لعنت کړے دے الله پاك په یهودو باندِ چه په هغوئ باندِ د چربی خوړل حرام شو نو چربی ئے ویلے کړه او بیا ئے هغے لره خرڅه کړه۔

(۴۰۵۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَاتَلَ اللهُ الْيَهُوْدَ حَرَّمَ اللهُ عَلَيْهِمُ الشُّحُوْمَ فَبَاعُوْهَا وَ اَكَلُوْا اَثْمَانَهَا. [راجع:۴۰۵۰]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی الله تعالی دِ یهود تباه کړی الله تعالی حرام کړو په هغوئ باندِ چربیانو لره بیا هغوی هغه (چربیانے) خرڅے کړے او د هغے پیسے ئے اوخوړے۔

بَابُ الرِّبَا.

باب: د سُود بیان.

فائده: نوویؒ علیه الرحمة وئیلے دی، مسلمانو د ربا یعنی د سود په حرام والی باندِ اجماع کړے دے، اگرچه د هغے په جزئیات کښے ئے اختلاف کړے دے، الله تعالی فرمائیلی دی (وَاَحَلَّ اللهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبٰوا) یعنی حلاله کړے ده الله پاك بیعے لره او حرام کړے ئے دے سود لره۔ او حدیثونه په دے باره کښے ډیر او مشهور دی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دغه حدیثو کښ نص کړے دے د سود په حرام والی باندِ په شپږو څیزونو کښ سره زر او سپین زر او غنم اووربشو او کهجور او مالګه کښے، او د اهل ظاهرو دا قول دے چه سِوا د دے څیزونو نه په بل یو شی کښے هم سود نشته دے، ولے چه د هغوئ په نزد قیاس نۀ شی کیدے۔

او باقی تمامو عالمانو دا وئیلے دی چه سود د دے شپږو څیزونو سره خاص نۀ دے بلکه

چرته چه دحرمت علت موندے شی هلته به حرام وی، او اختلاف کړے دے هغوئ په علت کښې ، نو دشافعیؒ په نزد علت ثمن او طعم دے، او دمالك په نزد ثمن اواذخار دے، او دابو حنیفةؒ په نزد وزن او کیل او دسعید بن المسیبؒ او احمدؒ او دإمام شافعیؒ په نزد طمع او وزن یا کیل په دے صورت کښې خربوزه یا سفرجل یا په نورو میوؤکښے چه هغه په ناپ او تول نۀ خرڅیږی سود به حرام نۀ وی۔

اوس اجماع کړے دۀ عالمانو چه بیع سودی دبل سودی په بدله هر کله چه علت مختلف وی نو کمے زیاتے او ادهار په دواړه طرے درست ے، مثلا بیعه دسروزرو دغنمو په بدله یاد سپینو زرو دوربشو په بدله، اوکوم چه جنس یو وی نو کمے اوربشے او ادهار دواړه نادرست دے ، او که چه جنس مختلف دی لیکن علت یو وی، لکه دسروزرو بیعه دسپینو زرو په بدله یا دغنمو بیعه دوربشو په بدله نو ادهار نادرست دے لیکن کمے بیشے درست دے۔(انتهی مختصرا)

(۴۰۵۴) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبِیْعُوْا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَّلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلٰی بَعْضٍ وَّلَا تَبِیْعُوْا الْوَرِقَ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَّلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهَا عَلٰی بَعْضٍ وَّ لَا تَبِیْعُوْا مِنْهَا غَائِبًا بِنَاجِزٍ. [بخاری]

ترجمه: دابو سعید الخدریؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لو فرمائیل مه خرڅوئ سره زر په سروزرو سره مګر برابر برابر او کم زیات مۀ خرڅوئ او مه خرڅوئ سپین زر په بدل دسپینو زرو مګر برابر برابر او کمے زیاتے مۀ کوئ او په ادهارئے مۀ خرڅوئ۔

(۴۰۵۵) عَنْ نَّافِعٍ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ قَالَ لَهٗ رَجُلٌ مِّنْ بَنِیْ لَیْثٍ اَنَّ اَبَا سَعِیْدِ الْخُدْرِیَّ یَاْثُرُ هٰذَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ رِوَایَةِ قُتَیْبَةَ فَذَهَبَ عَبْدُ اللهِ وَنَافِعٌ مَّعَهٗ وَفِیْ حَدِیْثِ ابْنِ رُمْحٍ قَالَ نَافِعٌ فَذَهَبَ عَبْدُ اللهِ وَاَنَا مَعَهٗ وَاللَّیْثِیُّ حَتّٰی دَخَلَ عَلٰی اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ فَقَالَ اِنَّ هٰذَا اَخْبَرَنِیْ اَنَّکَ تُخْبِرُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ نَهٰی عَنْ بَیْعِ الْوَرِقِ بِالْوَرِقِ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَّعَنْ بَیْعِ الذَّهَبِ بِالذَّهَبِ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ فَاَشَارَ اَبُوْ سَعِیْدٍ بِاَصْبَعَیْهِ عَیْنَیْهِ وَاُذُنَیْهِ فَقَالَ اَبْصَرَتْ عَیْنَایَ وَسَمِعَتْ اُذُنَایَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَا تَبِیْعُوْا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ وَلَا تَبِیْعُوْا الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ وَّلَا تُشِفُّوْا بَعْضَهٗ عَلٰی بَعْضٍ وَّلَا تَبِیْعُوْا شَیْئًا غَائِبًا مِّنْهُ بِنَاجِزٍ اِلَّا یَدًا بِیَدٍ.

[باری ، ترمذی ، نسائی ،]

ترجمه: دنافعؒ نه روایت دے دبنی لیث یو سړی عبدالله بن عمرؓ ته اووے ، چه ابو سعیدؓ ده لره نقل کوی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه دقتیبهؒ په روایت کښې دی . ددے په اوریدو سره عبدالله بن عمرؓ لاړو، او نافع دهغوئ سره وو، او دابن رمح په روایت کښې دی نافع وائی چه عبدالله بن عمرؓ لاړو او زهٔ دهغوئ سره وم او دبنی لیث هغه سړے هم راسره وو، تر دے پورے چه دابو سعید خدریؓ خواته اورسیدو، عبداللهؓ اووے ماته دے سړی اووے چه تاسو دا بیان کوئ چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړے ده سپین زر دسپینو زرو په بدله دخرڅولو نه مګر برابر برابر او سروزرو لره دسروزرو په بدله دخرڅولو نه مګر برابر برابر، ددے په اوریدو سره ابو سعیدؓ په خپلو ګوتو سره دخپلو سترګو او غوږونو په طرف اشاره اوکړه بیائے اووے ځما سترګو لیدلی دی او ځما غوږونو اوریدلی دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلو مهٔ خرڅوئ سروزرو لره دسرزرو په بدله او نه سپینو زرو لره دسپینوزرو په بدله مګر برابر برابر او کم زیات مهٔ خرڅوئ او ادهارئے مه خرڅوئ مګر لاس په لاس۔

(۴۰۵۷) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِ نِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبِیْعُوْا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ وَ الْوَرِقَ بِالْوَرِقِ اِلَّا وَزْنًا بِوَزْنٍ مِّثْلًا بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَآءٍ.

ترجمه: دابو سعید خدری رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل مهٔ خرڅوئ سونا د سونے په بدله کښے او نه سپین زر د سپینو زرو په بدله کښې مګر په وزن باند برابر برابر تهیک تهیک۔

(۴۰۵۸) عَنْ عُثْمَانَ ابْنِ عَفَّانَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَبِیْعُوْا الدِّیْنَارَ بِالدِّیْنَارَیْنِ وَلَا الدِّرْهَمَ بِالدِّرْهَمَیْنِ.

ترجمه: د عثمان بن عفان رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی مه خرڅوئ یو دینار لره د دوه دینارو په بدله، او نه یو درم لره دَ دوه درمو په بدله۔

فائده: ولے چه جنس دغه یو دے او په داسے حالت کښے کے او زیاتے حرام دے، اګر که یو مال کهره وی او بل کهوټه وی، او که ضرورت پیښ شی نو سپین زر د سروزرو په بدل خرڅ کړه

بیا د سرو زرو په بدل هغه سپین زر واخله.

(۴۰۵۹) عَنْ مَالِكِ ابْنِ اَوْسِ ابْنِ الْحَدَثَانِ اَنَّهُ قَالَ اَقْبَلْتُ اَقُوْلُ مَنْ يَصْطَرِفُ الدَّرَاهِمَ فَقَالَ طَلْحَةُ ابْنُ عُبَيْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَهُوَ عِنْدَ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَرِنَا ذَهَبَكَ ثُمَّ ائْتِنَا اِذَا جَآءَ خَادِمُنَا نُعْطِيْكَ وَرِقَكَ فَقَالَ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ كَلَّا وَاللهِ لَتُعْطِيَنَّهُ وَرِقَهُ اَوْ لَتَرُدَّنَّ اِلَيْهِ ذَهَبَهُ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا اِلَّا هَآءَ وَهَآءَ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا اِلَّا هَآءَ وَهَآءَ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ رِبًا اِلَّا هَآءَ وَهَآءَ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا اِلَّا هَآءَ وَهَآءَ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه :د مالك بن اوس بن حدثانؓ نه روایت دے وائی چه زۀ راغلم په دے وئیلو سره چه څوك خرڅوی روپو لره د سرو زرو په بدله،نو طلحه بن عبید الله اووے ، او هغه د حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه سره ناست وو او اوئے وئیل چه خپله سونا ماته راکړه،بیا لږ ساعت پس راشه هر کله چه څما نوکر راشی نو روپئی به ستا درکړی،حضرت عمر رضی الله تعالیٰ عنه اووے هیڅکله نۀ،تۀ د دے روپئی په دے وخت ورکړه یا د ده سونا واپس کړه ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د چاندئ خرڅول د سونے په بدل ربا ده مگر لاس په لاس او د غنمو خرڅول د غنمو په بدل سود دے مگر لاس په لاس او دَ وربشو خرڅول د وربشو په بدل سود دے مگر لاس په لاس او د کهجورو خرڅول د کهجورو په بدل سود دے مگر لاس په لاس.

فائده :یعنی دَ دواړو طرفونه مال نقد ورکول پکار دی په دغه مجلس کښے او ادهار ناجائز دے.

(۴۰۶۱) عَنْ اَبِیْ قِلَابَةَ قَالَ كُنْتُ بِالشَّامِ فِیْ حَلْقَةٍ فِيْهَا مُسْلِمُ ابْنُ يَسَارٍ فَجَآءَ اَبُو الْاَشْعَثِ فَجَلَسَ فَقُلْتُ لَهُ حَدِّثْ اَخَانَا حَدِيْثَ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ قَالَ نَعَمْ غَزَوْنَا غَزَاةً وَّعَلَى النَّاسِ مُعَاوِيَةُ فَغَنِمْنَا غَنَائِمَ كَثِيْرَةً فَكَانَ فِيْمَا غَنِمْنَا اٰنِيَةٌ مِّنْ فِضَّةٍ فَاَمَرَ مُعَاوِيَةُ رَجُلًا اَنْ يَّبِيْعَهَا فِیْ اَعْطِيَاتِ النَّاسِ فَتَسَارَعَ النَّاسُ فِیْ ذٰلِكَ فَبَلَغَ عُبَادَةَ ابْنَ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَقَامَ فَقَالَ اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهٰى عَنْ بَيْعِ الذَّهَبِ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرِّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيْرِ بِالشَّعِيْرِ وَالتَّمْرِ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحِ بِالْمِلْحِ اِلَّا سَوَآءً بِسَوَآءٍ عَيْنًا بِعَيْنٍ فَمَنْ زَادَ اَوِ ازْدَادَ فَقَدْ اَرْبٰى فَرَدَّ النَّاسُ مَا اَخَذُوْا فَبَلَغَ ذٰلِكَ مُعَاوِيَةَ فَقَامَ خَطِيْبًا فَقَالَ اَلَا مَا بَالُ رِجَالٍ يَتَحَدَّثُوْنَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَادِيْثَ قَدْ كُنَّا نَشْهَدُهُ وَنَصْحَبُهُ فَلَمْ نَسْمَعْهَا مِنْهُ

فَقَامَ عُبَادَةُ فَاَعَادَ الْقِصَّةَ فَقَالَ لَنُحَدِّثَنَّ بِمَا سَمِعْنَا مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاِنْ كَرِهَ مُعَاوِيَةُ اَوْ قَالَ وَاِنْ رَغِمَ مَا اُبَالِيْ اَنْ لَا اَصْحَبَهُ فِيْ جُنْدِهٖ لَيْلَةً سَوْدَآءَ قَالَ حَمَّادٌ هٰذَا اَوْ نَحْوَهٗ. [ابو داود، ترمذی]

ترجمه: د حضرت ابو قلابهؓ نه روایت دے وائی چه زهٔ په شام دخه خلقو په مینځ کښے ناست وم او په دے خلقو کښے مسلم ابن یسارؒ هم وو چه په دے کښے ابو الاشعث راغلے او زمونږ سره کېښناستو. ما هغوئ ته اووے ته زما دورو نه عباده بن صامتؓ حدیث بیان کړه، هغوئؓ اووے ډیره ښه ده، مونږ یو جهاد اوکړو چه په هغے کښے معاویهؓ زمونږ سردار وو نو ډیرو څیزونه مونږ په غنیمت کښې حاصل کړو چه پکښې دسپینوزرو یو لوښے هم وو، حضرت معاویهؓ رضی الله تعالی عنه حکم اوکړو دهغے دخرڅولو دخلقو په تنخواه باندِ او خلقو تلوار کوله دهغے په اخستلو کښے، دا خبره عباده بن صامتؓ ته اورسیدو هغوئ او دریدواو دا ے اووے چه ما درسول الله صلی الله علیه وسلم ته اوریدلی دی چه هغوئ منع فرمائیله سوے لره دسوے په بدله کښې دخرڅولونه لو چاندئ لره دچاندئ په بدله او غنمو لره دغنمو په بدله او ورېشوله دوریشو په بدله لو کهجوروله دکهجورو په بدله او مالګے لره دمالګے په بدله مګر برابر برابر نقد نقد پس هر هغه چا چه زیاته واخسته یائے زیاته ورکړه نو سود شولو، ددے خبرے په اوریدو چه خلقو څه اخستی وو واپس ئے کړو، پس معاویه رضی الله تعالی عنه ته دا خبر اورسیدو هغه لو دریدو لو خطبه ئے اولوسته چه څه حال دے دخلقو چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه هغه حدیثونه روایت کوی چه هغه مونږ نه دی اوریدلی او مونږ به دهغوئ په صحبت کښې هر وخت حاضر وو، بیا عبادةؓ پاڅیدو او قصه ئے بیان کړه ورستو دهغے نه ئے اووے چه مونږ خو به هغه حدیث ضرور بیانوو کوم چه مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلے دے، اګر که معاویهؓ بدګنړی یائے داسے اووے اګر که دمعاویهؓ رسوائی وی ځما پرواه نشته اګر که دهغه سره نهٔ شم دهغه په لښکر کښے په تیره شپه کښے حماد وئیلی دی یائے دغه شان اووے.

فائده: یعنی هر کله چه دصدقاتو نه حصه میلاؤ شی نو قیمت به دهغے اخلی غرض دا چه دادهلر خرڅولو حکم ئے اوکړو، دمعاویهؓ دا دلیل پوره نهٔ دے ولے چه دحاضر پاتے کیدو او صحبت ساتلو سره دهرے خبرے اوریدل ضروری نهٔ دی، او ددے وجے نه ډیر داسے حدیثونه به یو

اصحابؓ اوریدلی وی چه بل به نهٔ وی اوریدلی۔

(۴۰۶۳) عَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ سَوَآءً بِسَوَآءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هٰذِهِ الْاَصْنَافُ فَبِيْعُوْا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ. [راجع : ۴۰۶۱]

ترجمه :دعباده بن صامتؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله صَلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی خرخوئ سونے لره په بدل د سونے او چاندئ لره په بدل د چاندئ او غنمو لره په بدل د غنمو او وربشو لره په بدل د وربشو او کهجورو لره په بدل د کهجورو او مالگے لره په بدل د مالگے برابر برابر تهیك تهیك نقد نقد بیا چه هر کله قِسم بدل شِی(مثلاً غنم د وربشو په بدله)نو څنګه چه غواړئ خرخوئ(په کمی بیشی)خو نقد کیدل ضروری دی۔

فائده :امام نووی وئیلے دی د دے حدیث نه ثابتیږی چه وربشے او غنم جدا جدا قسم دی ، او دغه مذهب دے د شافعیؒ او ابو حنیفهؒ او ثوریؒ او د فقهاءِ محدثینوؒ او دَ مالكؒ او لیثؒ او زاعیؒ او د اکثرو عالمانو د مدینے ، او د شام د متقدمینو عالمانو په نزد دغه دواړه یو قِسم دی او دغه منقول دی د عمرؓ او سعدؓ او سلفونه ، او اتفاق کړے دے علماو چه باجرایو قسم دے او جوار بل قسم دے او وریجی دریم قسم دے،مګر د لیث او ابن وهب په نزد دا درے واړه په یو قسم کنبے داخل دی۔

(۴۰۶۴) عَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيْرُ بِالشَّعِيْرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ يَدًا بِيَدٍ فَمَنْ زَادَ اَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ اَرْبٰى الْاٰخِذُ وَالْمُعْطِيْ فِيْهِ سَوَآءٌ .

ترجمه:دابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی خرخوئ سونے لره په بدل د سونے کنبں او چاندئ لره په بدل د چاندئ کنبں او غنمو لره په بدل د غنمو کنبں او وربشو لره په بدل دَ وربشو کنبں اوکهجورو لره په بدل د کهجورو کنبں او مالگے لره په بدل د مالگے کنبں برابر برابر نقد انقد پس څوك زیات ورکوی یا زیات اخلی نو سود شولو اخستونکے او ورکونکے برابر دی۔

(۴۰۶۶) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ التَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْحِنْطَةُ بِالْحِنْطَةِ وَالشَّعِیْرُ بِالشَّعِیْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ یَدًا بِیَدٍ فَمَنْ زَادَ اَوِ اسْتَزَادَ فَقَدْ اَرْبٰی اِلَّا مَا اخْتَلَفَتْ اَلْوَانُهٗ. [نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، خرخوئ کهجورے لره د کهجورو په بدله کښیے او غنمو لره د غنمو په بدله او وربشو لره د وربشو په بدله او مالګے لره د مالګے په بدله برابر برابر نقدا نقد بیا چه څوك زیات ورکوی یااخلی نو سود شولو مګر هر کله چه قِسم بدل شی(نو زیاتے او کمے درست دے)۔

(۴۰۶۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَزْنًا بِوَزْنٍ مِثْلًا بِمِثْلٍ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَزْنًا بِوَزْنٍ مِثْلًا بِمِثْلٍ فَمَنْ زَادَ اَوِ اسْتَزَادَ فَهُوَ رِبًا. [نسائی]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی خرخوئ سونے لره د سونے په بدل په وزن سره برابر برابر او چاندئ لره دَچاندئ په بدل په وزن سره برابر برابر،پس څوك چه زیات ورکوی یا زیات اخلی نو سود شولو۔

(۴۰۶۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الدِّیْنَارُ بِالدِّیْنَارِ وَلَا فَضْلَ بَیْنَهُمَا وَالدِّرْهَمُ بِالدِّرْهَمِ لَافَضْلَ بَیْنَهُمَا.

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دینار د دینار په بدله خرخوئ او چه یو زیات نه وی په دے دواړو کښیے او درهم په بدله دَ درهم(خرخوئ)اوچه یو زیات نهٔ وی د یو بل نهٔ۔

(۴۰۷۱) عَنْ اَبِی الْمِنْهَالِ قَالَ بَاعَ شَرِیْکٌ لِیْ وَرِقًا بِنَسِیْئَةٍ اِلَی الْمَوْسِمِ اَوْ اِلَی الْحَجِّ فَجَآئَنِیْ اِلَیَّ فَاَخْبَرَنِیْ فَقُلْتُ هٰذَا اَمْرٌ لَا یَصْلُحُ قَالَ قَدْ بِعْتُهٗ فِی السُّوْقِ فَلَمْ یُنْکِرْ ذٰلِکَ عَلَیَّ اَحَدٌ فَاَتَیْتُ الْبَرَآءَ ابْنَ عَازِبٍ فَسَئَلْتُهٗ فَقَالَ قَدِمَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِیْنَ وَ نَحْنُ نَبِیْعُ هٰذَا الْبَیْعَ فَقَالَ مَا کَانَ یَدًا بِیَدٍ فَلَا بَاْسَ بِهٖ وَمَا کَانَ نَسِیْئَةً فَهُوَ رِبًا وَّاْتِ زَیْدَ ابْنَ اَرْقَمَ فَاِنَّهٗ اَعْظَمُ تِجَارَةً مِنِّیْ فَاَتَیْتُهٗ فَسَئَلْتُهٗ فَقَالَ مِثْلَ ذٰلِکَ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: د ابو المنهال رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے څما یو شریك سپین زر خرخ کړو په

ادهار دَ حج او موسمه پورے هغه څما نه د تپوس کولو د پاره راغے ما اووے چه دا خو روانهٔ دی، هغه اووے ما په بازار کښے خرڅ کړو او هیڅچا منع نهٔ کړم، بیا زهٔ د براء بن عازبؓ خواله راغلم لو د هغویٰ نه م تپوس اوکړو هغویٰ اووے رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینے ته تشریف راوړو او مونږ به داسے بیعے کولے حضرتؐ اوفرمائیل کچرے نقدا نقدوی نو څه قباحت نشته، او که ادهاروی نو سود دے او تهٔ د زید بن ارقمؓ خواله لاړ شه د هغه سوداګری څما نه زیاته ده (نو هغهٔ به د دے مسئلے نه ښه واقف وی) زهٔ دَ هغویٰ خواله لاړم او د هغویٰ نه م تپوس اوکړو نو هغویٰ هم دغه شان اووے۔

(۴۰۷۲) عَنْ اَبِی الْمِنْهَالِ یَقُوْلُ سَاَلْتُ الْبَرَاءَ ابْنَ عَازِبٍ عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ سَلْ زَیْدَ ابْنِ اَرْقَمَ فَهُوَ اَعْلَمُ فَسَئَلْتُ زَیْداً فَقَالَ سَلِ الْبَرَآءَ فَاِنَّهُ اَعْلَمُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَیْعِ الْوَرِقِ بِالذَّهَبِ دِیْنًا.

ترجمه: د ابو المنهالؒ نه روایت دے وائی چه ما د براء بن عازبؓ نه تپوس اوکړو د صرف په باره کښے (یعنی دَ چاندئ یا سونے په بدله چاندی یا سونا بدلول څنګه دی؟) هغویٰ اووے د زید بن ارقمؓ نه تپوس اوکړه هغه زیاته پوَهه دے ، ما دَزیدؓ نه تپوس اوکړو هغویٰ اووے د براءؓ نه تپوس اوکړه هغه زیات پوَهه دے، بیا دواړو اووے منع فرمائیلے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم چاندئ لره د سونے په بدل د ادهار خرخولو نه۔

فائده :کچرے لاس په لاس وی نو څه قباحت نشته دے لکه چه پورته تیر شولو۔

(۴۰۷۳) عَنْ اَبِی بَکْرَةَ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ بِالذَّهَبِ اِلَّا سَوَآءً بِسَوَآءٍ وَ اَمَرَنَا اَنْ نَشْتَرِیَ الْفِضَّةَبِالذَّهَبِ کَیْفَ شِئْنَا وَ نَشْتَرِیَ الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ کَیْفَ شِئْنَا قَالَ فَسَاَلَهُ رَجُلٌ فَقَالَ یَداً بِیَدٍ فَقَالَ هٰکَذَا سَمِعْتُ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: د ابو بکرهؓ نه روایت دے وای چه منع کړے ده رسول الله صلی الله علیه وسلم چاندئ لره د سونے په بدله د خرخولو نه مګر برابر برابر، او حکم ئے اوکړو مونږ ته د چاندئ اخستلو د سونے په بدل څنګه چه مونږ غواړو، او د سونے اخستلو د چاندئ په بدل څنګه چه مونږ غواړو، یو سړی د هغویٰ نه تپوس اوکړو او اوئے وئیل نقدا نقد هغویٰ اووے ما دغه شان اوریدلی دی۔

(۴۰۷۵) عَنْ فُضَالَةَ ابْنِ عُبَیْدِ نِ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ اُتِیَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

وَهُوَ بِخَيْبَرَ بِقِلَادَةٍ فِيهَا خَرَزٌ وَذَهَبٌ وَ هِيَ مِنَ الْمَغَانِمِ تُبَاعُ فَأَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالذَّهَبِ الَّذِي فِي الْقِلَادَةِ فَنُزِعَ وَحْدَهُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَزْنًا بِوَزْنٍ.

ترجمه: د فضاله بن عبید انصاری رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په خیبر کښی تشریف فرما وو حضرتؐ ته یو هار راوړے شو چه په هغے کښے غمے هم وو او سره زر هم وه، هغه د غنیمت مال وو چه خرخیدلو، حضرتؐ حکم اوکړو د دے نه سره زر جُدا کړئ بیا حضرتؐ اوفرمائیل چه اوس سرو زرو لره د سرو زرو په بدل خرخه کړئ په برابر وزن سره۔

فائده: نوویؒ علیه الرحمة وئیلے دی ددے حدیث نه دا راوځی چه هر کله سره زر د یو بل څیز سره لګیدلی وی نو دَ هغے جدا شوے نهٔ وی ، اوس سونے لره د سونے په بدل برابر برابر په تول سره خرڅول پکار دی ، و دَ هغه دویم څیز(کوم چه د سونے نه جدا کړے شو)مالك ته اختیار دے چه په خومره قیمت باندِ غواړی خرڅ ئے کړی ، دغه حکم دے هر کله چه په یو څیز کښی سپین زر لګیدلی وی ، او هغه د سپینو زرو په بدله خرڅ کړی شِی او دغه منقول دی ، د حضرت عمرؓ او ابن عمرؓ او د سلفو د جماعت نه ، او دغه قول دے د شافعیؒ او احمدؒ او اسحقؒ۔او دَ ابو حنیفهؒ او ثوریؒ او حسن بن صلح په نزد د دے جدا کول ضروری نهٔ دی،او د هغے بیعه د دغے د سونے نه دَ زیاتے په بدله کښ خومره چه په دغه شی کښے لګیدلے ده یا د هغه چاندئ نه د زیات په بدله کښے خومره چه په هغے کښے لګیدلی وی درست دی،او د هغے نه کم نه کم یا برابر د سونے او د چاندئ په بدل درست نهٔ دی۔

او دِ امام مالكؒ په نزد کچرے سونا یا چاندی دریمه حصه یا دَ دریمے حصے نه کم وی نو هغه به تابع کیږی او د هغے بیعه په هره طریقه درسته ده،او دَ حماد بن ابی سلیمان په نزد په هر حال کښے درسته ده،او دا غلط دے او د حدیث مخالف دے(انتهیٰ مختصراً)

(۴۰۷۶) عَنْ فَضَالَةَ ابْنِ عُبَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ اشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ دِيْنَارًا فِيْهَا ذَهَبٌ وَ خَرَزٌ فَفَصَّلْتُهَا فَوَجَدْتُ فِيْهَا أَكْثَرَ مِنْ اثْنَيْ عَشَرَ دِيْنَارًا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا تُبَاعُ حَتّٰى تُفَصَّلَ. [ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه:د حضرت فضاله بن عبید رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه ما د خیبر په ورځ یو هار واخستو په دولسو اشرفو کښ، چه په هغے کښں سونا وه او رنګ وو ، هر کله چه مَا ترے سونا جدا کره نو په هغے کښ د دولسو اشرفو نه زیاته سونا راووته،ما دا خبره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان کړ هغوئ اوفرمائیل هار نهٔ شی خرڅیدے د کومے پورے چه د هغے نه سونا جدا شوے نهٔ وی۔

(۴۰۷۸) عَنْ فَضَالَةَ ابْنِ عُبَيْدٍ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ خَيْبَرَ نُبَايِعُ الْيَهُوْدَ الْاُوْقِيَّةَ الذَّهَبَ بِالدِّيْنَارَيْنِ وَالثَّلَاثَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَبِيْعُوْا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ اِلَّا وَزْنًا بِوَزْنٍ.

ترجمه:د فضاله بن عبیدؓ نه روایت دے چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو د خیبر په ورځ او د یهودیانو سره مونږ معامله کوله یوه اوقیه(څلویښت درم)د سونے دَ دوو یا درے دینارو په بدل پس جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل مه خرڅوئ سونا د سونے په بدله مګر په تول(برابر برابر)

(۴۰۷۹) عَنْ حَنَشٍ اَنَّهُ قَالَ كُنَّا مَعَ فُضَالَةَ ابْنِ عُبَيْدٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فِيْ غَزَاةٍ فَطَارَتْ لِيْ وَلِاَصْحَابِيْ قِلَادَةٌ فِيْهَا ذَهَبٌ وَّوَرِقٌ وَّجُوْهَرٌ فَاَرَدْتُّ اَنْ اَشْتَرِيَهَا فَسَئَلْتُ فُضَالَةَ ابْنَ عُبَيْدٍ فَقَالَ انْزِعْ ذَهَبَهَا فَاجْعَلْهُ فِيْ كَفَّةٍ ثُمَّ لَا تَاْخُذَنَّ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ فَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلَا يَاْخُذَنَّ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ. [راجع : ۴۰۷۶]

ترجمه :د حنشؒ نه روایت دے وائی چه زهٔ دَ فضاله بن عبیدؓ سره وُم په یو جهاد کښے نو زمَا او زما دَ ملګرو په حصه کښے یو هار راغے چه په هغے کښں سونا، چاندی او جواهر تول وو ما هغے لره اخستل غوښتلو و دَ فضالهؓ نه م تپوس اوکړو هغوئ اووے چه دَ دے سونا جدا کړه او د تلی په یو چاپړی کښے ئے کیږده ، او خپله سونا په بل چاپړی کښے کیږی بیا مهٔ اخله مګر برابر برابر ، ولے چه مااوریدلی دی دَ رسول‌الله صلی الله علیه وسلم نه چه هغوئ فرمائیل وو څوک چه ایمان لری په الله تعالیٰ باندِ او په ورځ د قیامت باند، پس هغوئ به نهٔ اخلی مګر برابر،برابر۔

(۴۰۸۰) عَنْ مَعْمَرٍ اَنَّهُ اَرْسَلَ غُلَامَهُ بِصَاعِ قَمْحٍ فَقَالَ بِعْهُ ثُمَّ اشْتَرِ بِهٖ شَعِيْرًا فَذَهَبَ الْغُلَامُ فَاَخَذَ صَاعًا وَّزِيَادَةَ بَعْضِ صَاعٍ فَلَمَّا جَآءَ مَعْمَرًا لِمَ فَعَلْتَ ذٰلِكَ انْطَلِقْ فَرُدَّهُ وَلَا تَاْخُذَنَّ اِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ فَاِنِّيْ كُنْتُ اَسْمَعُ

رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الطَّعَامُ بِالطَّعَامِ مِثْلًا بِمِثْلٍ وَكَانَ طَعَامُنَا يَوْمَئِذٍ الشَّعِيْرَ قِيْلَ لَهُ فَإِنَّهُ لَيْسَ بِمِثْلِهِ قَالَ فَإِنِّيْ اَخَافُ اَنْ يُضَارِعَ.

ترجمه:د معمربن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه هغویٔ خپل غلام لره یو ووکے غنم ورکړل او ورته ئے اووے چه داخرڅ کړه او وربشے راوړه. هغه غلام واخستو او لاړو اویو ووګے او څه لږے زیاتے وربشے ئے واخستے هرکله چه دَ معمر خواله راغے او هغه ئے خبر کړونو معمر اووے تا داسے ولے اوکړو، لاړشه او واپس ئے کړه راشه، اوځه اخله مګربرابر برابر ولے چه ما اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه هغویٔ فرمائیلی وودغلے په بدله غلے برابر ورکوئ او په دغه ورځو کښې زمونږه غله وربشے وے. خلقو اووے چه په غنمولو وربشو کښې فرق دے(نو کمے بیشے جائز دے) هغویٔ اووے زهٔ ویریږم که چرته دواړه دیو جنس حکم لری.

فائده :امام نووی علیه الرحمة وئیلے دی چه امام مالکؒ د دے روایت نه دلیل اخستے دے چه غنم او وربشے یو جنس دے او هر کله چه دا د یو بل په بدله خرڅولے شی نو په دے کښې کمے ناجائز دے ،او ځمونږه او دَ جمهورو عالمانو دا قول دے چه غنم او وربشے دواړه جدا جدا قسمونه دی،او په دے کښې کمے او بیشے درست دے لکه په غنمو او وریجو کښې،او دلیل زمونږه هغه دے کوم چه وړاندِ تیر شوے دے، چه حضرتؐ فرمائیلی دی هر کله چه قسمونه بدل شی نو څنګه چه غواړئ خرڅوئ،او ابو داود او نسائی د عباده بن صامتؓ نه روایت کړے دے چه رسول اللهصلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه غنم دَ وربشو په بدله خرڅولو کښې اګر که وربشے زیاتے وی قباحت نشته ، په دے شرط چه لاس په لاس وی.

او د معمر دا روایت د حجت لائق نهٔ دی ولے چه په دے کښې دا کوم ځائے دی چه غنم او وربشے یو جنس دے بلکه معمر کښې دا کوم ځائے دی چه غنم او وربشے یو جنس دے بلکه معمر احتیاطاً دَویرے نه د دے پرهیز کړے دے.

(۴۰۸۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ وَ اَبِیْ سَعِیْدِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا حَدَّثَاهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعَثَ اَخَابَنِیْ عَدِیِّ الْاَنْصَارِیِّ فَاسْتَعْمَلَهُ عَلٰی خَیْبَرَ فَقَدِمَ بِتَمْرٍ جَنِیْبٍ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

وسلم اَكُلُّ تمر خيبر هكذا قال لا والله يا رسول الله انا لنشترى الصاع بالصاعين من الجمع فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ولا تفعلوا ولكن مثلا بمثل او بيعوا هذا و اشتروا بثمنه من هذا و كذلك الميزان. [بخاری ، نسائی]

فائده:امام نووی رحمة الله علیه وئیلي دی کیدے شی هغه عام ته ددغه وخته پورے د دے بیعے حرمت معلوم شوے نهٔ وو ،ولے چه د سود د حرامیدو ږومبنی ورځے وے،یا د بلے څه وجے نه. او په دے روایت سره ز مونږ ملګرو دلیل ورکړے دے په دَ عینه بیعه حرامه نهٔ ده،او هغه یوه حیله ده چه په هغے سره دسود غرض حاصلیږی،او هغه دا ده چه یو سړی ته سل روپۍ اخستل منظور وی،او د سود سره دوه سوه ورکول وی،نو هغه په صفا طور باندِ سل روپۍ قرض نهٔ اخلی بلکه په دوه سوه روپۍ به یو شے د مهاجن(یعنی روپۍ ورکونکی)نه وخلی په قیمت باندِ او په سل روپۍ به ئے بیا په هغه باندِ خرخ کړی،او هغه سل روپئی به په خپل کار راولی .او دوه سوه روپۍ به مهاجن ته پخپل میعاد باندِ ادا کوی ،او دا بیعه د شافعیؒ او نورو عالمانو په نزد حرامه نهٔ ده لیکن امام مالکؒ او احمدؒ ورته حرام وئیلي دی۔

مترجم وائی د شافعیؒ دا مذهب صحیح نهٔ دے،او په نورو حدیثونو کښ دعینه په بیعه باند وعید راغلے دے او هغه دَ سودخورو ایجاد دے او حیله دَ الله تعالیٰ جل جلا له په مخکښ مفید نهٔ ده هغه په نیت اواراده بنه پو هیږی۔

(۴۰۸۲) عن ابی سعیدن الخدریؓ و ابی هریرة رضی الله تعالی عنهما انّ رسول الله صلّے الله علیه وسلّم استعمل رجلا علی خیبر فجآءہ بتمر جنیب فقال له رسول الله صلّے الله علیه وسلّم اکلّ تمر خیبر هکذا قال لا والله یا رسول الله انّا لناخذ الصاع من هذا بالصاعین والصاعین بالثلاثة فقال رسول الله صلّے الله علیه وسلّم فلا تفعل بع الجمع بالدراهم ثمّ ابتع بالدراهم جنیبا. [راجع : ۴۰۸۱]

ترجمه :د ابو سعید خدری او ابو هریره رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے هم هغه شان لکه چه پورته ذکر شو په دے کښ داسے دی چه مونږ یوه پیمانه د هغے دَ دوو پیمانو په بدله او دوه پیمانے د دریو په بدله اخلو ،بیارسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل داسے مهٔ کوه جمع لره د روپو په بدله خرڅوه،بیا په هغه روپو باندِ جنیب واخله۔

(۴۰۸۳) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ یَقُوْلُ جَآءَ بِلَالٌ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ بِتَمْرٍ بَرْنِیٍّ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ اَیْنَ هٰذَا فَقَالَ بِلَالٌ تَمْرٌ کَانَ عِنْدَنَا رَدِیٌّ فَبِعْتُ مِنْهُ صَاعَیْنِ بِصَاعٍ لِمَطْعَمِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذٰلِکَ اَوَّهْ عَیْنُ الرِّبَا لَا تَفْعَلْ وَلٰکِنْ اِذَآ اَرَدْتَ اَنْ تَشْتَرِیَ التَّمْرَ فَبِعْهُ بِبَیْعٍ اٰخَرَ ثُمَّ اشْتَرِ بِهٖ لَمْ یَذْکُرِ ابْنُ سَهْلٍ فِیْ حَدِیْثِهٖ عِنْدَ ذٰلِکَ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دَ ابو سعید خدری رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے، حضرت بلال رضی الله تعالی عنه برنی (یو بنه قسم دے) کهجورے واخستے او رائے ورے، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل داڅ دَ کوم ځائے نه راوړے؟ بلالؓ اووے ځما سره دَ خراب قِسم کهجورے وے، نو ما د هغے دوه پیمانے ورکړے او یوه پیمانــه م د دے ستا د خوراك د پاره واخستــه، جناب رسول اللّٰه صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل افسوس داخو عین سود دے داسے مهٔ کوه، لیکن هر کله چه ته کهجورے اخستل غواړے نو خپلے کهجورے خرڅے کړه بیا د هغے د قیمت په بدله نورے کهجورے واخله۔

(۴۰۸۴) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اُتِیَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ فَقَالَ مَا هٰذَا التَّمْرُ مِنْ تَمْرِنَا فَقَالَ الرَّجُلُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ بِعْنَا تَمْرَنَا صَاعَیْنِ بِصَاعٍ مِّنْ هٰذَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا الرِّبَا فَرُدُّوْهُ ثُمَّ بِیْعُوْا تَمْرَنَا وَاشْتَرُوْا لَنَا مِنْ هٰذَا.

ترجمه: د ابو سعید رضی اللّٰه تعالیٰ عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم له کهجوره راوړے شوه، حضرتؐ اوفرمائیل دا کهجوره زمونږ د کهجورو نه ډیره مزیداره ده، یو سړی اووے یا رسول الله دا مونږ د خپلو کهجورو دوه پیمانے ورکړے او یوه پیمانه مونږ اخستے ده حضرتؐ اوفرمائیل دا خو سود شولو دے لره واپس کړه او رومبئ زمونږ کهجورے خرڅے کړه او بیا د هغے په قیمت سره دا کهجورے زمونږ د پاره واخله۔

(۴۰۸۵) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنَّا نُرْزَقُ تَمْرَ الْجَمْعِ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ الْخِلْطُ مِنَ التَّمْرِ فَکُنَّا نَبِیْعُ صَاعَیْنِ بِصَاعٍ فَبَلَغَ ذٰلِکَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَا صَاعَیْ تَمْرٍ بِصَاعٍ وَّلَا صَاعَیْ حِنْطَةٍ بِصَاعٍ وَّلَا دِرْهَمَ بِدِرْهَمَیْنِ. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو سعید رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے مونږ ته به جمع کهجورے ملبلے

شوے د خوراك د پاره راكولے شوے د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښے، او په هغے کښې تولے کهجورے میلاویږی، نو مونږ به دوه پیمانے د هغے د یوے پیمانے په بدله خرڅولے دا خبر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اورَسیدو حضرتؐ اوفرمائیل د کهجورے دوه پیمانے دَ یوے پیمانے په بدله نهٔ دی خرڅول پکار، دغه شان د غنمو دوه پیمانے د یوے پیمانے په بدله او یو درهم دَ دوو درهمو په بدله نهٔ دی خرڅول پکار۔

(۴۰۸۲) عَنْ اَبِیْ نَضْرَةَ قَالَ سَئَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُما عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ اَیَداً بَیَدٍ قُلْتُ نَعَمْ لَا بَاْسَ بِهٖ فَاَخْبَرْتُ اَبَا سَعِیْدٍ فَقُلْتُ اِنِّیْ سَئَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ وَلَا بَاْسَ بِهٖ قَالَ اَوْ قَالَ ذٰلِکَ اِنَّا سَنَکْتُبُ اِلَیْهِ فَلَا یُفْتِیْکُمُوْهُ قَالَ فَوَاللهِ لَقَدْ جآءَ بَعْضُ فِتْیَانِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِتَمْرٍ فَاَنْکَرَهُ فَقَالَ کَاَنَّ هٰذَا لَیْسَ مِنْ تَمْرِ اَرْضِنَا قَالَ کَانَ فِیْ تَمْرِ الْعَامَ بَعْضُ الشَّیْئِ فَاَخَذْتُ هٰذَا وَزِدْتُّ بَعْضَ الزِّیَادَةِ فَقَالَ اَضْعَفْتَ اَرْبَیْتَ لَا تَقْرَبَنَّ هٰذَا اِذَا رَابَکَ مِنْ تَمْرِکَ شَیْئٌ فَبِعْهُ ثُمَّ اشْتَرِ الَّذِیْ تُرِیْدُ مِنَ التَّمْرِ.

ترجمه: د ابو نضرہؒ نه روایت دے وائی چه مَا د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه تپوس اوکړو د صرف په باره کښے (یعنی د سونے چاندی بیعے لره د سونے، چاندیٔ په بدله) هغویؓ اووے په نقدا نقد کښں مااووے هاں ۔ هغویؓ اووے په نقدا نقد کښں څه قباحت نشته دے، ما ابو سعید رضی الله تعالی عنه ته اووے چه ما د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه تپوس کړے وو په باره دصرف کښں ۔ هغویؓ اووے په نقدا نقد کښے، ما اووے ها د! هغویؓ اووے په نقدا نقد کښں څه قباحت نشته، ابو سعید رضی الله تعالی عنهٔ اووے ۔ اے ابن عباس رَضِیَ اللّٰهُ تعالی عنهمادا سے وئیل دی؟ مونږ ته به نیکی هغویؓ تاسو ته داسے فتویٰ نهٔ شی درکولے او اوئے وئیل قسم په خدائے، یو کس د ځوانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاره کجورے راؤړے راغے حضرتؐ هغے لره نوے اوکتړلے او اوئے فرمائیل دا خو زمونږ د ملك نهٔ دی، هغویؓ اووے سهکال زمونږ د ملك په کجورو کښے نقصان وو نو ما دا کجورے واخستے او ددے په بدله کښے م زیاتے کجورے ورکړے حضرتؐ اوفرمائیل تا زیاتے وکړے حضرتؐ اوفرمائیل تا زیاتے ورکړے سود د ورکړو، اوس د هغه خواله مه څه هر کله چه تا ته په خپلو کجورو کښں څه نقصان معلوم وی نو

هغې لره خرڅوه او بیا چه د کومې کجورې خوښې هغه اخله.

(۴۰۸۷) عَنْ اَبِیْ نَضْرَةَ قَالَ سَئَلْتُ ابْنُ عُمَر و ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تعالٰی عَنْهُما عن الصَّرْفِ فَلَمْ یَرْیَابِهِ بَاْسًا فَاِنِّیْ لَقَاعِدٌ عِنْدَ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ رَضِیَ اللّٰهُ تعالٰی عَنْهُ فَسَئَلْتُهُ عَنِ الصَّرْفِ فَقَالَ مَا زَادَ فَهُوَ رِبًا فَاَنْكَرْتُ ذٰلِکَ لِقَوْلِهِمَا فَقَالَ لَا اُحَدِّثُکَ اِلَّا مَا سَمِعْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ جَآءَهُ صَاحِبُ نَخْلَةٍ بِصَاعٍ مِّنْ تَمْرٍ طَیِّبٍ وَّکَانَ تَمْرُ النَّبِیِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ هٰذَا اللَّوْنَ فَقَالَ لَهُ النَّبِیُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنّٰی لَکَ هٰذَا قَالَ انْطَلَقْتُ بِصَاعَیْنِ فَاشْتَرَیْتُ بِهٖ هٰذَا الصَّاعَ فَاِنَّ سِعْرَ هٰذَا فِی السُّوْقِ کَذَا وَسِعْرَ هٰذَا کَذَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَیْلَکَ اَرْبَیْتَ اِذَا اَرَدْتَ ذٰلِکَ فَبِعْ تَمْرَکَ بِسِلْعَتِکَ اَیَّ تَمْرٍ شِئْتَ قَالَ اَبُوْسَعِیْدٍ فَالتَّمْرُ اَحَقُّ اَنْ یَّکُوْنَ رِبًا اَمِ الْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ قَالَ فَاَتَیْتُ ابْنَ عُمَرَ بَعْدُ فَنَهَانِیْ وَلَمْ اٰتِ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ فَحَدَّثَنِیْ اَبُو الصَّهْبَاءِ اَنَّهٗ سَئَلَ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا بِمَکَّةَ فَکَرِهَهٗ.

ترجمه: د ابونضرهٔ نه روایت دیت وائی چه ما دَابن عمرٌ او دابن عَبَّاس رضی الله تعالی عنهما نه تپوس اوکړو د صرف په باره کښې هغوئ په دې کښې څه قباحت نهٔ وو لیدلے(اګر که کمے بیشے وی په دې شرط چه نقدا نقد وی)بیا زهٔ دَ ابو سعید خدریٌ سره ناست وم نو د هغه نه م د صرف په باره کښې تپوس اوکړو، هغوئ اووے کوم چه زیات وی هغه سود دے ، ما د دے نه په وجه د ابن عمرٌ او ابن عباسٌ دَ وینا انکاراوکړو، هغوئ اووے زهٔ تا ته نهٔ بیانوم مګر څه چه ما اوریدلی دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه، چه هغوئ ته یو کجورے والا یوه پیمانه مزیدارے کجورے راوړے او راغے،اود رسول الله صلی الله علیه وسلم کجوره په دغه قسم وه،بیا ترے رسول الله صلی الله علیه وسلم تپوس اوکړو دا کهجورے ودکوم ځائے نهٔ راوړے هغه اووے ما دوه پیمانے د خپلو کجورو ورکړے او یوه پیمانه د دے کجوروم واخستے ولے چه ددے نرخ په بازار کښې داسے دے او د هغې داسے دے حضرتؐ اه فرمائیل خرابی دوی تا لره دا خو تاسو د ورکړو هر کله چه ته داسے کول غواړے نو حپلے کجورے د څه شی په بدله خرڅے کړه بیا د هغه شی په بدله چه کومه کجوره تهٔ غواړے واخله،ابو سعیدٌ اووے،نو کجورے چه کله د کجورو په بدله کښې ور کړے شی او په هغې کښې سود وی نو چاندی چه کله د چاندئ په بدله ورکړے شی(کم یا

زیات)نو په دې کنبې به سود ضرور وی اګر که نقدا نقدوی)ابو نضرة وائی بیا زهٔ دَ ابن عُمَرؓ خواله راغلم د دې نه پس نو هغوی هم منع اوکړه د دې نه(کیدې شی هغه ته دَ ابو سعید حدیث رسیدلې وی)او دَ ابن عباس خواله زه لانه رم،لیکن ما ته ابو الصهباء حدیث بیان کړو چه هغوی تپوس کړې وو دَ ابن عباسؓ نه نو هغوی ورته مکروه وئیلې وو۔

فائده:مخکښې دَ ابن عمرؓ او ابن عباسؓ دا مذهب وو چه هر کلهنقدا نقد بیعه وی نو په کمی او بیشی سره سود نهٔ راځی،اګر که یو جنس وی ، او جائزبه ئې ګنړله د یو د ِهم بیعه د دوه درهمو په بدله،او دَ یو دینار دَ دوه دینارو په بدله،او یو ې پیمانې کجورو لړه په بدله دَ دوه پیمانو د کجورو،او دغه شان غنم او په تمامو ربوی اجناسو کښې په هغوی کم او زیات خرڅول جائز ګنړلو په دې شرط چه لاس په لاس وی او کچرې په ادهار وی نو سود به ئې ګنړلو بیا دغه دواړو ملګرو د خپل قول نه رجوع کړې ده او په یو جنس کښې د کم او زیات خرڅولو دَ حرام والی قائل شوی دی۔

(۴۰۸۸) عَنْ اَبِیْ صَالِحٍ قَالَ سَمِعْتُ اَبَاسَعِیْدِنِ الْخُدْرِیَّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ الدِّیْنَارُ بِالدِّیْنَارِ وَالدِّرْهَمُ بِالدِّرْهَمِ مِثْلًا بِمِثْلٍ مَنْ زَادَ اَوِزْدَادَ فَقَدْ اَرْبٰی فَقُلْتُ لَه اِنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ غَیْرَ هٰذَا قَالَ لَقَدْ لَقِیْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا فَقُلْتُ اَرَاَیْتَ هٰذَا الَّذِیْ تَقُوْلُ اَشَیْئٌ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَوْ وَجَدْتَّهُ فِیْ کِتَابِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ؟فَقَالَ لَمْ اَسْمَعْهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ اَجِدْهُ فِیْ کِتَابِ اللهِ وَلٰکِنْ حَدَّثَنِیْ اُسَامَةُ ابْنُ زَیْدٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الرِّبَا فِی النَّسِیْئَةِ. [بخاری، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:دَ ابو صالح رضی الله تعالی عنه نه روایت دې وائی چه مَا د ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه اوریدلی دی چه هغویٌ وئیلو چه دینار په بدل د دینار اودرهم په بدل د درهم برابر برابر خرڅول پکار دی،او څوک چه زیات ورکوی یا زیات اخلی نو سود دې ، ما اووې ابن عباسؓ خو نور څه وائی،هغوی اووې زهٔ دَ ابن عباس رضی الله تعالی سره میلاؤ شوم او ورته م اووې نه چه دا څه وائې نو اې دا تا د رسول اللهصلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی یا دِ په قرآن کنبې موندلی دی؟ هغوی اووې نهٔ م د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی او نهٔ م په قرآن

مجید کښې موندلی دی،بلکه ما ته حدیث بیان کړے دے اسامه بن زیدؓ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی سود په ادهار کښې دے(نو ددے نه ما دا اوګڼړله چه که چرے نقدا نقد د کمی او زیاتی سره هم وی خو سود نهٔ دے۔

(۴۰۸۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ اَخْبَرَنِيْ اُسَامَةُ ابْنُ زَيْدٍ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّمَا الرِّبَا فِي النَّسِيْئَةِ. [راجع : ۴۰۸۰]

ترجمه:دَ ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے وائی چه ما ته اسامه بن زیدؓ بیان کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه سود په ادهار کښې دے۔

(۴۰۹۰) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عَنْ اُسَامَةَ ابْنِ زَيْدٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا رِبًا فِيْمَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ. [راجع : ۴۰۸۰]

ترجمه:د عبدالله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما دَاسامه بن زیدؓ نه روایت کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی سود نشته دے په نقدا نقد کښې۔

(۴۰۹۱) عَنْ عَطَاءِ ابْنِ رَبَاحٍ اَنَّ اَبَا سَعِيْدِنِ الْخُدْرِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ لَقِيَ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا فَقَالَ لَهُ اَرَاَيْتَ قَوْلَكَ فِي الصَّرْفِ اَشَيْئًا سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمْ شَيْئًا وَجَدْتَهُ فِيْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا كَلَّا لَا اَقُوْلُ اَمَّا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَنْتُمْ اَعْلَمُ بِهٖ وَ اَمَّا كِتَابُ اللّٰهِ فَلَا اَعْلَمُهُ وَلٰكِنْ حَدَّثَنِيْ اُسَامَةُ ابْنُ زَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّمَا الرِّبَا فِي النَّسِيْئَةِ. [راجع : ۴۰۸۸]

ترجمه :د عطاء هبن ابی رباحؒ نه روایت دے ابو سعید خدریؓ دَ ابن عباس رضی الله عنهما سره میلاؤ شو او د هغویؓ نه ئے تپوس اوکړو چه ته څه د بیع صرف په باب کښې وائے نو ات دا تا اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ، یا د دَ الله تعالیٰ په کلامِ مجید کښ موندلی دی؟ حضرت ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما اووے هر ګز نه زهٔ تا ته نهٔ شم وئیلے، رسول الله صلی الله علیه وسلم خو تهٔ څما نه زیات پیژنے او د الله تعالیٰ په کتاب زهٔ نهٔ پو هیږم(دا ئے د عاجزئی په طور باندِ اووے)لیکن ما ته اسامه بن زیدؓ حدیث بیان کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه سود په ادهار کښې دے۔

فائده: نووی وائی چه ځنې علماء وئیلی دی چه دَ اسامهؓ دا روایت منسوخ دے په نورو حدیثو سره او اجماع کړے ده اهلِ اسلامو چه هغه متروك العمل دے،او بعضو د دے تاویل کړے دے چه هغه محمول دے په هغه مالونو باندِ چه هغه ربوی نۀ دی لکه بیع دَ دَین(یعنی قرضے)سره دَ دَین په میعاد باندِ په دے طریقه باندِ چه یوه کپړه معلوم الصفت قرض وی بیا هغے له د یو غلام معلوم الصفت په بدله خرڅه کړی نو کچرے نقد ئے خرڅه کړی خو جائز ده۔

یا هغه محمول دے چه اجناس مختلفه باندِ ولے چه په دے کښی کمے زیات سود نۀ دے بلکه ادهار سود دے،یا هغه مجمل دے او دَ ابو سعیدؓ او عبادهؓ حدیث مبین دے او عمل په مبین باندِ واجب دے(انتهی مختصرا)

(۴۰۹۲) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اٰکِلَ الرِّبٰو وَمُوْ کِلَهٗ قَالَ قُلْتُ وَ کَاتِبَهٗ وَ شَاهِدَیْهِ قَالَ اِنَّمَا نُحَدِّثُ بِمَا سَمِعْنَا.

ترجمه:دعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی لعنت کړے دے رسول الله صلی الله علیه وسلم په سود خوړلو والا باندِ او په سود خوړلو ولا باندِ،راوی وائی ما تپوس اوکړو د سود په حساب لیکونکی باندِ او د هغے په ګواهانو باندِ،نو هغوئ اووے مونږ دومره حدیث بیانوؤ څومره چه مونږه اوریدلے دے۔

(۴۰۹۳) عَنْ جَابِرٍ رَّضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اٰکِلَ الرِّبٰوا وَ مُوْکِلَهٗ وَ کَاتِبَهٗ وَ شَاهِدَیْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَآءٌ.

ترجمه:د حضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت وئیلے دے په سود خورونکی باندِ او په سود خورَوُنکی باندِ،او د سود په لیکونکی باندِ او د سود په ګواهانو باندِ او فرمائیلی ئے دی چه هغه ټول برابر دی۔

فائده: یعنی په ګناه کښی معاذ الله ، نووی وئیلے دی چه دد ے حدیث نه دا معلومه شوه چه په باطل او حرامو باندِ مدد کول هم حرام دی، اوس چه کوم مولوی او مصنف دسود فیصله کوی، او سود ورکوی ، یا چه کوم اهلکار او منشی چه دسود حساب کتاب لیکی هغه هم ملعون او مردود ددی ددے نه هغوئ لره توبه کول پکار دی او په داسے نو کرئ باندِ خاورے اچول

پکار دی۔

بَابُ أَخْذِ الْحَلَالِ وَتَرْكِ الشُّبُهَاتِ .

باب :. د حلالو حاصلولو او دشك منو څيزونو د پرېښودلو بيان .

(۴۰۹۴) عَنِ النُّعْمَانِ ابْنِ بَشِيْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ وَأَهْوَى النُّعْمَانُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ بِإِصْبَعَيْهِ إِلٰى أُذُنَيْهِ إِنَّ الْحَلَالَ بَيِّنٌ وَّ إِنَّ الْحَرَامَ بَيِّنٌ وَّبَيْنَهُمَا مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَعْلَمُهُنَّ كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَى الشُّبُهَاتِ اسْتَبْرَءَ لِدِيْنِهِ وَعِرْضِهِ وَمَنْ وَّقَعَ فِي الشُّبُهَاتِ وَقَعَ فِي الْحَرَامِ كَالرَّاعِيْ يَرْعٰى حَوْلَ الْحِمٰى يُوْشِكُ اَنْ يَّرْتَعَ فِيْهِ اَلَاوَاِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى اَلَا وَاِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهٗ اَلَا وَاِنَّ فِي الْجَسَدِ مُضْغَةً اِذَا صَلَحَتْ صَلَحَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ وَاِذَا فَسَدَتْ فَسَدَ الْجَسَدُ كُلُّهٗ اَلَا وَهِيَ الْقَلْبُ.

[بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دنعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ، وائی چه ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی،(او اشاره اوکړه) نعمان په خپلو ګوتو سره ددوارو غوږونو په طرف چه حضرتؐ فرمائیلی دی چه بیشکه حلال ښکاره دی او حرام هم ښکاره دی، لیکن دحرامو او حلالو په مینځ کښې داسې څیزونه دی چه هغه ددوارو سره میلاویږی یعنی په هغې شبهه دے چه ډیر خلق یے نۀ پیژنی، پس څوك چه دشبهو نه بچ پاتے شو هغه خپل دین او آبرو سلامته یوړه او څوك چه په شبهو کښې پریوتو هغه آخر په حرامو کښې هم پریوتو لکه هغه څرونکے چه رمه دیوے ممنوعه زمکے په خواؤشا کښې څروی نو دهغه خاروی به په دغه ممنوعه زمکه کښې هم څریږی، خبردار دهر بادشاه یوه رمنه یعنی ممنوعه علاقه وی خبردار دالله تعالی رمنه دهغه حرام کړی شوی څیزونه دی ، یوه شی چه بیشکه په بدن کښې دغوښے یوه ټکړه ده، کچرے هغه ښائسته وه نو ټول بدن به ښائسته وی او کچرے هغه خرابه شوه نو ټول بدن خراب شولو یادساتئ هغه ټکړه زړۀ دے۔

فائده: نـووی علیه الرحمه وئیلے دی علماؤ اجماع کړے ده چه دا حدیث دډیر لوئے کار دے په دے کښې ډیرے فائدے دی، او دا په هغه حدیثونو کښې یو حدیث دے چه په هغې باندې دَاسلام مداردے او یو جماعت وئیلے دی چه دا حدیث داسلام دریمه حصه ده، او دوه په دریو

کښې دا دوه حديث دي (١) اَلاَعْمَالُ بِالنِّيَّتِ (٢) وَمِنْ حُسْنِ اِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَالَا يَعْنِيْهِ . او ابوداؤد سجستاني ونيلي دي چه داسلام مدار په څلورو حديثونو باندې درې دغه چه بيان شول او څلورم دا حديث دې " لَا يُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰى يُحِبُّ لِاَخِيْهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهٖ "او ځينو څلورم دا حديث ونيلي دې "اِزْهَدْفِيْ الدُّنْيَا يُحِبُّكَ اللّٰهُ وَازْهَدْ مَا فِيْ اَيْدِي النَّاسِ يُحِبُّكَ النَّاسُ"

علمائے كرامو ددې حديث دعظمت سبب دا بيان كړې دې چه رسول الله صلى الله عليه وسلم پـه دې كـښې دخوړولـو څښلـو او جامـو وغيـره دتولو درستي بيان كړې ده، او دائې هم فرمائيلي دي چه دشبهې دځيزونو نه پرهيز كول پكار دي ولې چې په دې سره ددين او دآبرو دوارو سلامتـي ده، او پـه شبهـو كښې دغـور ځيـدونـه نـې ويـره كـړې ده او دهغې مثال ئې په رمنه سره ورکړې دې. بيائے بيان او فرمائيلو دهغه ځيز چه دانسان په بدن كښې دتولو ځيزونو نه لوئې دې هغـه څـه دې ((زړۀ)) ددې پـه رنـړا سره تـول بـدن درست كيږي او ددې په ورانيـدو سره تول بدن ورانيګي ، او دا چه كوم حضرتؒ او فرمائيل چه مقرر حلال ښكاره دي، ددې مطلب دادې چه په دنيا كښې درې قسمه كارونه او ځيزونه دي.

يـو خـو دا چـه هغـه صفا او ښكاره په ښكاره حلال دي، لكه ډوډئ ميوه، دزيتون تيل ، شهد، يئ دحلال څناور ، اګئ دحلال څناور اود دې نه سِوا حلال خوراكونه دغه شان خبرې كول ليـدل تلل وغيره دا تول حلال دي، او ددې په حلال والي كښې څه شك نشته دې. دويم هغه چه هغـه صـفـا او ښكاره په ښكاره حرام دي، لكه شراب، اوسور، مرداره، متيازې بهيدلې وينه دغه شان زِنـا او دروغ او غيبت او چغـلـخـوري، او پردئ ښځې ته كتل يا پردي سرې ته كتل او ددې پشان نـور چـه كوم كارونه دي. دريم كهلم كهلا حلال دي او نۀ صفاصفا حرام دي په دې واسطه ډيرو خلقوته دهغې علم نشته دې لكه عواموته ليكن علماء دهغې حِلت يا حرمت په څه دليل سره را اوبـاسـي بيـا چـه هـر كـلـه يـو شـې داسـې وي او پـه هـغـې كښې څه نص يا اجماع نۀ وي نو مجتهد دهغې دپاره اجتهاد كوي، بيا هغې لره دحلالو سره ميلاووي يا دحرامو سره په څه دليل شرعي باندِ. پس كچرې دحلالو سره ميلاؤ شو خو هغه شې حلال شولو.

او كـلـه دحلـت ديـل داسـې وي چـه پـه هـغـې كښې احتمال وي نو تقوىٰ داده چه هغه شې

پریږدے، او هغه په دغه مضمون کښې داخل دے چه چادشبهې خیزونو یا کارونو لره پریخوده هغه خپل دین لو ابروسلامته یوړه، او په کومے کښې چه دمجتهد څه خبره نۀ دی ښکاره نو هغه به حلال وی یا حرام یا به په هغې کښې توقف وی، په دے باب کښې درے مذهبونه دی چه هغې لره قاضی عیاضؒ نقل کړے دی، او ظاهر دادے چه په دے کښې هغه حکم وی کوم چه په نورو اشیاؤ کښې دے، مخکښې دشرع دوارِدکیدونه ، او په دے کښې څلورمذهبونه دی۔ صحیح مذهب دادے چه نۀ به دے ته حرام وئیلے شی نۀ حلال او نۀ صباح ولے چه دحق دخاوندانو په نزد تکلیف خاص دشرع نه ثابتیږی دویم مذهب داده چه دهغه حرام دے دریم دادی چه صباح دے څلورم توقف ، انتهى ما قال النوویؒ۔

(۴۰۹۶) عَنِ النُّعْمَانِ ابْنِ بَشِيْرِ ابْنِ سَعْدٍ صَاحِبِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَخْطُبُ النَّاسَ بِحِمْصَ وَهُوَيَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ زَكَرِيَّا عَنِ الشَّعْبِيِّ إِلَى قَوْلِهِ يُوْشِكُ اَنْ يَّقَعَ فِيْهِ. [راجع : ۴۰۸۶]

ترجمه:دنعمان بن بشیر بن سعدؓ نه روایت دے چه صحابی وو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم او هغه خطبه اوروله خلقو ته په حمص کښې(داد یو ښهر نوم دے په شان کښې)او اوئے وئیل چه مَا اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئے وو حلال ښکاره دی لو حرلم هم ښکاره شوی دی بیا ئے بیان کړو حدیث په دغه شان لکه چه پورته تیر شو "يُوْشِكُ اَنْ يَّقَعَفِيْهِ نږدے دی چه پریوزی پکښې"۔

بَابُ بَيْعِ الْبَعِيْرِوَاسْتِثْنَاءِ رُكُوْبِهِ .

بَابُ:د اوښ خرڅول اود سورلئی شرط تری اخستل .

(۴۰۹۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّهُ كَانَ يَسِيْرُ عَلٰى جَمَلٍ لَّهُ قَدْ اَعْيَا فَاَرَادَاَنْ يُّسَيِّبَهُ قَالَ فَلَحِقَنِيْ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا لِيْ وَضَرَبَهُ فَسَارَ سَيْراً لَمْ يَسِرْ مِثْلَهُ قَالَ بِعْنِيْهِ بِوُقِيَّةٍ قُلْتُ لَا ثُمَّ قَالَ بِعْنِيْهِ فَبِعْتُهُ بِاُوْقِيَّةٍ وَّ اسْتَثْنَيْتُ عَلَيْهِ حُمْلَانَهُ اِلٰى اَهْلِيْ فَلَمَّا بَلَغْتُ اَتَيْتُهُ بِالْجَمَلِ فَنَقَدَنِيْ ثَمَنَهُ ثُمَّ رَجَعْتُ فَاَرْسَلَ فِيْ اَثَرِيْ فَقَالَ اَتُرَانِيْ مَا كَسْتُكَ لِاٰخُذَ جَمَلَكَ خُذْ جَمَلَكَ وَدَرَاهِمَكَ فَهُوَ لَكَ.[بخاری، ترمذی،نسائی]

ترجمه :د جابر بن عبدالله نه روایت دے هغه روان وو په یو اوښ باندِ چه سترے شوے وو، هغوی

غوښتل هغه لره آزادول(یعنی پریخودل په څنګل کښې)جابر رضی الله تعالی عنه وائی رسول الله صلی الله علیه وسلم زما سره راغې میلاؤ شو او زما د پاره ئې دُعا اوکړه او اوښ ئې اووهو، بیا هغه داسې روان وو چه داسې چرته نۀ وو تلې(دا د هغویٌ معجزه وه)حضرتٌ ورته اوفرمائیل دا په مارا خرڅ کړه په یو اوقیه باندې،(په بل روایت کښې پنځه اوقې دی او په یو روایت کښې دوه اوقې او یو درهم یا دوه درهمه دی،او په یو روایت کښې څلور دیناره،او بخاری په یو روایت کښې اته سوه درهم او په یو روایت کښې شل دیناره او په یو روایت کښې ئې څلوراوقې نقل کړې دی)ما اوونۀ ، بیا هغویٌ اوفرمائیل دا په ما را خرڅ کړه،په یوه اوقیه باندې،پس په هغویٌ ئې ورخرڅ کړو او دا شرط ئې ورسره اوکړو چه زه به پرې د کوره پورې سورلی کوم،هر کله چه زۀ خپل کور ته رااورسیدم نو اوښ مې د هغویٌ خواته راوستو او راغلم،حضرتٌ دهغې قیمت ما ته حواله کړو او زۀ واپس شوم،بیا هغویٌ په ما پسې قاصد را ولیږو اواوئې فرمائیل ولې ما ستا نه قیمې کمولو ستا دَ اوښ دَاخستو دِ پاره خپل اوښ واخله څه او روپئی هم ستا شوې۔

فائده : دا ادنی نمونه ده دحضرت دسخاوت او احسان، امام نووی وئیلی دی چه امام احمدّاودهغویٌ موافقینو ددې حدیث نه دلیل نیولې دې ، چه دڅناور بیعه په دې شرط سره درسته ده چه مالك خپله سورلی په هغه باندِکیږدی، او دَامامِ مالِك په نزد دا شرط جائز دې، هر کله چه فاصله دسورلیٔ لږه وی، او دشافعیّ او ابو حنیفهٌ او دباقی علماؤ په نزد دا شرط جائز نه دې خواه که مسافت لږوی یا ډیر او دجابرٌ دحدیث ئې دا تاویل کړې دې چه حضرت صلی الله علیه وسلم ته اخستل منظور نۀ وو صرف په جابرٌ باندِ احسان کول ورته منظور وو۔

(۴۱۰۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ غَزَوْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَلَاحِقَ بِىْ وَتَحْتِىْ نَاضِحٌ لِّىْ قَدْ اَعْيَا وَلَا يَكَادُ يَسِيْرُ قَالَ فَقَالَ لِىْ مَا بَعِيْرُكَ؟ قَالَ قُلْتُ عَلِيْلٌ قَالَ فَتَخَلَّفَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزَجَرَهُ فَدَعَالَهُ فَمَازَالَ بَيْنَ يَدَىِ الْاِبِلِ قُدَّمَهَا يَسِيْرُ قَالَ فَقَالَ لِىْ كَيْفَ تَرٰى بَعِيْرَكَ قَالَ قُلْتُ بِخَيْرٍ قَدْ اَصَابَتْهُ بَرَكَتُكَ قَالَ اَفَتَبِيْعُنِيْهِ فَاسْتَحْيَيْتُ وَلَمْ يَكُنْ لَّنَا نَاضِحٌ غَيْرُهُ قَالَ فَقُلْتُ نَعَمْ فَبِعْتُهُ اِيَّاهُ عَلٰى اَنَّ لِىْ فَقَارَ ظَهْرِهٖ حَتّٰى اَبْلُغَ الْمَدِيْنَةَ قَالَ فَقُلْتُ لَهٗ يَا رَسُوْلَ اللهِ اِنِّىْ عَرُوْسٌ فَاسْتَاْذَنْتُهٗ فَاَذِنَ لِىْ فَتَقَدَّمْتُ النَّاسَ اِلَى الْمَدِيْنَةِ حَتّٰى انْتَهَيْتُ فَلَقِيَنِىْ خَالِىْ فَسَئَلَنِىْ عَنِ الْبَعِيْرِ فَاَخْبَرْتُهٗ بِمَا صَنَعْتُ فِيْهِ فَلَامَنِىْ

فِيهِ قَالَ وَقَدْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِي حِيْنَ اسْتَأْذَنْتُهُ مَا تَزَوَّجْتَ أَبِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا فَقُلْتُ لَهُ تَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا قَالَ أَفَلَا تَزَوَّجْتَ بِكْرًا تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ فَقُلْتُ لَهُ يَا رَسُوْلَ اللهِ تُوُفِّيَ وَالِدِي أَوِ اسْتُشْهِدَ وَلِيْ أَخَوَاتٌ صِغَارٌ فَكَرِهْتُ أَنْ أَتَزَوَّجَ إِلَيْهِنَّ مِثْلَهُنَّ فَلَا تُؤَدِّبُهُنَّ وَلَا تَقُوْمُ عَلَيْهِنَّ فَتَزَوَّجْتُ ثَيِّبًا لِتَقُوْمَ عَلَيْهِنَّ وَتُؤَدِّبَهُنَّ قَالَ فَلَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ غَدَوْتُ إِلَيْهِ بِالْبَعِيْرِ فَأَعْطَانِي ثَمَنَهُ وَرَدَّهُ عَلَيَّ. [راجع : ۴۰۹۸]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے ما جهاد کوو درسول الله صلی الله علیه وسلم سره نو هغوئ څما سره میلاؤ شو (په لاره کښے) او څما په سورلئ کښے یو لوئی وو داوبو هغه ستړے شوے وو او بالکل نۀ شو تللے، حضرتؑ تپوس اوکړو ستا اوښ له څه شوی دی؟ مَا عرض اوکړو چه هغه بیمار دے، ددے په اوریدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم را اوګرځیدو، او هغه اوښ ئے اورټو او دهغه دپاره ئے دُعا اوکړه، بیا به هغه همیشه دټولو اوښانو نه مخکښے روان وو ، پس حضرتؑ او فرمائیل اوس ستا اوښ څنګه دے؟ ما اووے ښه دے ستاسو ددُعا په برکت سره، حضرتؑ او فرمائیل په مائے را خرڅوے ماله شرم راغے او څما سره بل یو اوښ دلوبو دراوړو دپاره نۀ وو آخر ما اووے هاں خرڅوم ئے ، بیا ما هغه اوښ په هغوئؑ ځ بانډ خرڅ کړو په دے شرط چه زۀ به پرے دمدینے پورے سورلی کوم، بیامَا عرض اوکړو چه یا رسول الله! ما اوس اوس واده کړے دے ماته اجازت راکړه (دخلقو نه مخکښے مدینے ته دتلو) حضرتؑ اجازت راکړو او زه دخلقو نه مخکښے شوم مدینے ته را اورسیدم ، هلته زما سره زما ماما میلاؤ شو او داوښ دحال تپوس ئے کړو، ما ورته ټول حال بیان کړو ، هغوئ زۀ ملامته کړم چه دغه یو اوښ وو ستا سره اوکور والاؤ ډیر دی او هغه هم تا خرڅ کړو (او هغوئ ته دا معلومه نۀ وه چه الله تعالی ته دجابرؓ فائده منظوره ده) جابرؓ کله چه ما دحضرتؑ نه اجازت غوښتو نو حضرتؑ لو فرمائیل چه تا جینئ واده کړے ده یا نکاح شوے؟ مَا اووے نکاحی، حضرتؑ او فرمائیل جینئ ولے نۀ کوله؟ چه هغے ستا سره لوبے کولے او تا دهغے سره ما عرض اوکړو یا رسول الله! څما پلار مړدے یا شهید شوے دے څما خو تنه خوندے وړے وړے پاتے دی، نو ماته بده معلومیده چه زۀ دواده اوکړوم او یوه جینئ دکورته راولم دهغوئ برابر چه هغه خونه هغوئ ته ادب

خودلے شی او نۀ ئے دباوولے شی ځکه ما دیوے نکاحی سره واده اوکړو ددے دپاره چه دوئ ته ادب او تمیز اوښائی ، جابرؓ وائی بیا چه هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینے ته تشریف راوړونو ما ورلـه اوښ سحروختی اورسو، حضرتؐ دهغے قیمت ماته راکړو، او اوښ ئے راته هم واپس کړو۔

(۳۱۰۱) عَنْ جَابِرٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَقْبَلْنَا مِنْ مَكَّةَ اِلَى الْمَدِيْنَةِ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاعْتَلَّ جَمَلِيْ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِقِصَّتِهٖ وَفِيْهِ ثُمَّ قَالَ قَالَ لِيْ بِعْنِيْ جَمَلَكَ هٰذَا قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ هُوَ لَكَ قَالَ لَا بَلْ بِعْنِيْهِ قَالَ قُلْتُ لَا بَلْ هُوَلَكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ بَلْ بِعْنِيْهِ قَالَ قُلْتُ فَاِنَّ لِرَجُلٍ عَلَيَّ اُوْقِيَةَ ذَهَبٍ فَهُوَ لَكَ بِهَا قَالَ قَدْ اَخَذْتُهُ فَتَبَلَّغْ عَلَيْهِ اِلَى الْمَدِيْنَةِ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِبِلَالٍ اَعْطِهٖ اُوْقِيَةً مِّنْ ذَهَبٍ وَّزِدْهُ قَالَ فَاَعْطَانِيْ اُوْقِيَةً مِّنْ ذَهَبٍ وَّزَادَنِيْ قِيْرَاطًا قَالَ فَقُلْتُ لَا تُفَارِقُنِيْ زِيَادَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَكَانَ فِيْ كِيْسٍ لِّيْ فَاَخَذَهُ اَهْلُ الشَّامِ يَوْمَ الْحَرَّةِ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے مونږ خلق دمکے نه مدینے ته درسول الله صلی الله علیـه وسلم سره راغلو نو ځما اوښ بیمار شولو او بیان ئے کړو حدیث لره دپورے قصے سره، او په دے روایت کښے دادی چه بیا حضرتؐ لو فرمائیل چه په ماند دا خپل اوښ را خرخ کړه، ما اووے هغه ستاسو دے یا رسول الله! حضرت او فرمائیل نۀ په ما ئے راخرخ کړه، ما اووے نۀ هغه ستاسو دے یا رسول اللهؐ! حضرتؐ او فرمائیل نۀ په ما باندِئے را خرخ کړه، ما اووے، بیشـه په ما بانـدِ دَ دیو سړی یوه اوقیه سونا (قرض) دے تاسو دیوے اوقیے سونے په بدله دااوښ واخلئ ، حضرتؐ او فرمائیل ما واخستو پس چه تۀ اورسے په دے باندِ دمدینے پورے ، جابرؓ وائی هر کله چه زۀ مدینے ته راغلم نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم بلال ته او فرمائیل ده له یوه اوقیـه دسونے ورکړه او څه زیاته ورله ورکړه نو بلالؓ ماته یوه اوقیه دسونے راکړه او یو قیراط ئے زیات راکړو ما اووے دا کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ماته زیات راکړے دیدا به همیشه ځما سره وی (په طور دتبرک) نو په یوه تهیلئ کښے هغه زما سره ووتر دے پورے چه شام والا وو یوم الحره واخستو۔

فائده : یوم الحره هغه ورځ ده، هر کله چه دشام دملك او سیدونکو دیزید به په

بادشاهئ کښې په مدینه منوره باندِ حمله کړې وه او مدینې والاؤ لره ئې قتل او لوټ کړې وو داواقعه په ۶۳ هجری کښې شوې وه۔

(۴۱۰۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَفَرٍ فَتَخَلَّفَ نَاضِحِيْ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ وَقَالَ فَنَخَسَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ لِيْ ارْكَبْ بِسْمِ اللهِ وَزَادَ اَيْضًا قَالَ فَمَازَالَ يَزِيْدُنِيْ وَيَقُوْلُ وَاللهُ يَغْفِرُ لَكَ. [راجع : ۳۶۴۲]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو په سفر کښ او بیان ئې کړو حدیث لره او وائی په دے کښې سوك ورکړو هغه ته رسول الله صلی الله علیه وسلم بیائے ماته اووے دالله تعالی نوم واخله سورشته، او دائے هم زیاته کړې ده چه حضرت به ماته زیات راکولو او په تلو کښې به ئې فرمائیلو الله دِ اوبخښی تالره۔

(۴۱۰۳) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا اَتٰى عَلَيَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ اَعْيَا بَعِيْرِيْ قَالَ فَنَخَسَهُ فَوَثَبَ فَكُنْتُ بَعْدَ ذٰلِكَ اَحْبِسُ خِطَامَهُ لِاَسْمَعَ حَدِيْثَهُ فَمَا اَقْدِرُ عَلَيْهِ فَلَحِقَنِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ بِعْنِيْهِ فَبِعْتُهُ مِنْهُ بِخَمْسِ اَوَاقٍ قَالَ قُلْتُ عَلٰى اَنَّ لِيْ ظَهْرَهُ اِلَى الْمَدِيْنَةِ قَالَ وَلَكَ ظَهْرُهُ اِلَى الْمَدِيْنَةِ قَالَ فَلَمَّا قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ اَتَيْتُهُ بِهِ فَزَادَنِيْ اُوْقِيَّةً ثُمَّ وَهَبَهُ لِيْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.[بخاری]

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایتے دے وائی چه کله رسول الله صلی الله علیه وسلم ځما خواله راغے، او ځما اوبښ کمزورے شوے وو حضرت هغه له ګزار ورکړو هغه په ټوپونو شولو ددے نه پس به ما دهغه واګے را بنکودے چه دحضرت خبرے اورم . لیکن هغه م قابو کولے نهٔ شو(دومره تیز تللو) آخر رسول الله صلی الله علیه وسلم زما سرا راغے میلاؤشو او دا ئې او فرمائیل دا (اوبښ) په ما راخرخ کړه ما دهغوی په لاس خرخ کړو په پنځه اوقیه باندِ او ما ورسره دا شرط اوکړو چه دمدینې منورې پورے به زۀ په دهٔ باندې سورلی کوم حضرت او فرمائیل دمدینې پورے پرے ته سورلۍ شه، هر کله چه زه مدینې ته اورسیدم نو هغه اوبښ م دحضرت په خدمت کښې راوستو راغلم حضرت یوه او قیه بله زیاته راکړه، او اوبښ ئې راته هم او بخښلو۔

(۴۱۰۴) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ سَافَرْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ

بَعْضِ اَسْفَارِهٖ اَظُنُّهٗ قَالَ غَازِيًا وَّ اقْتَصَّ الْحَدِيْثَ وَزَادَ فِيْهِ قَالَ يَا جَابِرُ اَتَوَفَّيْتَ الثَّمَنَ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ لَکَ الثَّمَنُ وَلَکَ الْجَمَلُ لَکَ الثَّمَنُ وَلَکَ الْجَمَلُ. [بخاری]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه ما سفر اوکړو درسول الله صلی الله علیه وسلم سره راوی وائی چه جابرؓ کیدے شی چه دجهاد سفر کړے وی، بیا ئے بیان کړه توله قصه، دومره پکښې زیاته ده چه حضرتؐ او فرمائیل اے جابرؓ تا قیمت او موندو، جابرؓ اووے هاں، حضرتؐ ورته اوفرمائیل قیمت واخله او اوښ هم واخله قیمت واخله او اوښ هم واخله۔

(۴۱۰۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ اشْتَرٰى مِنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيْرًا بِوُقِيَّتَيْنِ وَدِرْهَمٍ اَوْ دِرْهَمَيْنِ قَالَ فَلَمَّا قَدِمَ صِرَارًا اَمَرَ بِبَقَرَةٍ فَذُبِحَتْ فَاَكَلُوْا مِنْهَا فَلَمَّا قَدِمَ الْمَدِيْنَةَ اَمَرَنِىْ اَنْ اٰتِىَ الْمَسْجِدَ فَاُصَلِّىْ رَكْعَتَيْنِ وَوَزَنَ لِىْ ثَمَنَ الْبَعِيْرِ فَاَرْجَحَ لِىْ. [راجع: ۱۶۵۶]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی اللهت عالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو اوښ څمانه واخستو په دوه اوقیه او په یو درهم یا په دوه درهمه بیا چه هر کله حضرتؐ صراء (دادیو مقام نوم دے دمدینے منورے په خوا کښې او خطابی وئیلی دی هغه یو کوهے دے دمدینے نه درے میله بیرته دعراق په لاره باندِ او څنو دے لره په ضرار ضاد معجمه سره لوستلے دے او هغه خطادے) ته اورسیدونو دیوے غوا دذبح کولو حکم ئے اوکړو، هغه ذبح شوه او ټولو خلقو دهغے غوښه او خوړه، هر کله چه حضرتؐ مدینے منورے ته راغے نو حکم ئے اوکړو جماعت دتللو و دوه رکعته مونځ اداکولو، او داوښ قیمت ئے ماته تول کړو او زیات ئے راکړو۔

فائده: نووی وائی ددے حدیث نه معلومه شوه چه غوا ذبح کول اولی دی دنحرنه او نحر یعنی قربانی هم جائز ده، او دا هم معلومه شوه چه څوك دسفرنه واپس راشی هغه له مخکښې جماعت ته تلل او دوه رکعته مونځ اداکول مـ - حب دی، او دا هم معلومه شوه چه دورځی هم دنفلو دغه دوه رکعتونه لوستول پکار دی لکه څنګه چه دشپے، او زمونږه لو دجمهورودغه قول دے، او ددے بیان په کتاب الصلوه کښې تیر شوے دے، او ددے حدیثونونه

ډیرے فائدے معلومے شوے۔

(۱) یوه خرلویه معجزه درسول الله صلی الله علیه وسلم چه کمزورے او مانده اوبن ئے په یودم کښې چاق او جشت کړلو۔

(۲) سوال کول دبیع دشی دمالك نه، (چه دفلانی وخته یا ځائے پورے به ځماوی)۔

(۳) دبیعے خلاصولو جواز۔

(٤) دخپلو ماتحت خلقو دحال تپوس کول او دهغوئ حالت معلومول او هغوئ له نیکه مشوره ورکول۔

(۵) دجینئ سره دنکاح مستحب کیدل (چه مخکښې ئے نکاح نۀ وی شوے)

(٦) دخپلے بی بی سره دلوبو کول استحباب۔

(۷) دجابرؓ فضیلت چه هغوئ دخپل نفس خواهش پریخودو او دخوئندو تعلیم ئے مد نظراو ساتو۔

(۸) دسفرنه دراتلو په موقع رومبے جماعت ته دتللو او دوه رکعته نفل مونځ کول استحباب۔

(۹) دنیکے لارے دخودے استحباب۔

(۱۰) دمعاملے دفیصلے نه پس دزیات قیمت ورکولو ثواب۔

(۱۱) دثمن دوزن اجرت په بائع باند کیدل۔

(۱۲) دصالحینو په اثار سره دبرکت دحاصلولو جواز۔

(۱۳) دلښکر ځنے خلقوته داجازت اخستلو او واپس کیدو جواز۔

(۱٤) دوکالت جواز دحقوقو په ادا کولو کښې، انتهی ما قال النووئ۔

(۴۱۰٦) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهٰذِهِ الْقِصَّةِ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فَاشْتَرَاهُ مِنِّي بِثَمَنٍ قَدْ سَمَّاهُ وَلَمْ يَذْكُرِ الْأُوْقِيَّتَيْنِ وَالدِّرْهَمَ وَالدِّرْهَمَيْنِ وَقَالَ أَمَرَ بِبَقَرَةٍ فَنُحِرَتْ ثُمَّ قَسَمَ لَحْمَهَا. [۱٦۵٦]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت ده دغه قصه کومه چه پورته تیره شوه، په دے کښې دادی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه اوبن ځمانه واخستو په هغه قیمت

بانډ کوم چه هغوئ مقرر کړے وو ، او نه ئے داوقیے ذکر کړے دے نۀ دیو درهم نۀ ددوه دروهمو او ونیلے دی چه حضرت حکم اوکړو دیوے غوا دقربانئ کولو او بیائے دهغے غوښے (په تولو او ویشلے)۔

(۴۱۰۷) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهُ قَدْ اَخَذْتُ جَمَلَكَ بِاَرْبَعَةِ دَنَانِيْرَ وَلَكَ ظَهْرُهُ اِلَى الْمَدِيْنَةِ. [بخاری]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه ، روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ ته او فرمائیل ، ما ستا اوښ په څلور دیناره واخستو او تۀ په دے بانډ سور لاړشه دمدینے پورے۔

بَابُ جَوَازِ اقْتِرَاضِ الْحَيَوَانِ وَاسْتِحْبَابِ تَوْفِيَتِهِ خَيْرًا مِمَّا عَلَيْهِ .

باب دځناورو قرض اخستل درست دی او دهغے نه غوره ورکول مستحب دی

(۴۱۰۸) عَنْ اَبِيْ رَافِعٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اسْتَسْلَفَ مِنْ رَجُلٍ بَكْرًا فَقَدِمَتْ عَلَيْهِ اِبِلٌ مِنَ الصَّدَقَةِ فَاَمَرَ اَبَا رَافِعٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اَنْ يَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ فَرَجَعَ اِلَيْهِ اَبُوْ رَافِعٍ فَقَالَ لَمْ اَجِدْ فِيْهَا اِلَّا خِيَارًا رَبَاعِيًا اِلَّا خِيَارًا رَبَاعِيًا فَقَالَ اَعْطِهِ اِيَّاهُ اِنَّ خِيَارَ النَّاسِ اَحْسَنُهُمْ قَضَآءً. [ابو داود، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو رافعؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دیو سړی نه داوښ بچے قرض واخستو (یعنی دشپږوکالونه کم) بیا حضرتؐ له دصدقے اوښان راغلو حضرتؐ ابو رافع ته حکم اوکړو دهغه داوښ داداکولو ، ابو رافع دحضرتؐ خواله واپس په تلوار راغے او اوئے وئیل چه دصدقے په اوښانو کښے (دهغے شان یو بچے) نشته دهغے نه بهتر پوره داوه کالو اوښان دی، حضرتؐ او فرمائیل دغه ده له ورکړه ، ښه هغه خلق دی چه هغه قرض په ښه طریقه اداکړی۔

(۴۱۰۹) عَنْ اَبِيْ رَافِعٍ مَوْلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اسْتَسْلَفَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرًا بِمِثْلِهِ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فَاِنَّ خَيْرَ عِبَادِ اللهِ اَحْسَنُهُمْ قَضَآءً. [راجع : ۴۱۰۸]

ترجمه: دابو رافعؓ نه روایت دے چه ازاد کړے غلام وو درسول الله صلی الله علیه وسلم وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دیو اوښ ځوان بچے قرض واخستو بیائے بیان اوکړو دوړاندِ په شان، په دے کښ دادی چه حضرتؐ او فرمائیل غوره بندیګان دالله هغه دی چه هغه په ښه شان

سره قرض اداکړی۔

فائده: ۔ نووی علیه الرحمه وئیلی دی چه دځناور په قرض اخستو کښې درے مذهبه دی، یو خودشافعیؒ او مالکؒ او دجمهور علماؤ دے چه دټولو ځناورو قرض اخستل درست دی، مګر وینځے دهغه سړی لره قرض اخستل درست نۀ دی چه هغه دهغے سره جماع کوی ،او چه جماع ئے نۀ وی کړے لکه دهغے محرم یا ښځه خنشی نو درست دی، او دویم مذهب دمزنیؒ او ابن جریرؒ او داود دے چه وینځی له قرض ورکول هم درست دی ، دغه شان دټمامو حیواناتو۔

دریم مذهب دابو حنیفةؒ او هل کوفهؒ چه دیو ځناور قرض اخستل درست نۀ دی او دا حدیث رد کوی دابوحنیفةؒ مذهب لره او دهغوئ دعوه داده چه دا حدیث منسوخ دے بغیر ددلیل نه قبلیدے نۀ شی۔ ددے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه دقرض ادا کولو په وخت دهغے نه زیات ورکول مستحب دی او یو ښکلے صفت دے او دا منع نۀ دی ولے چه بلا شرط دی، او منع هغه دی چه په هغے کښې شرط اوکړے شی ، انتهی مختصرا ۔

(۴۱۱۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ لِرَجُلٍ عَلٰی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَقٌّ فَاَغْلَظَ لَهٗ فَهَمَّ بِهٖ اَصْحَابُ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا فَقَالَ لَهُمُ اشْتَرُوْا لَهٗ سِنًّا فَاَعْطُوْهُ اِیَّاهُ فَقَالُوْا اِنَّا لَا نَجِدُ اِلَّا سِنًّا هُوَ خَیْرٌ مِّنْ سِنِّهٖ قَالَ فَاشْتَرُوْهُ فَاَعْطُوْهُ فَاِنَّ خَیْرَکُمْ اَحْسَنُکُمْ قَضَآءً. [بخاری ، ترمی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے دیو سړی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باند قرض راغلے وو، هغه حضرتؐ ته په سخته اووے ، اصحابوؓ هغه ته دسزا ورکولو اراده اوکړه، حضرتؐ او فرمائیل بیشکه دصاحب حق دپاره وینا پکارده (دا اخلاق دلیل دے دنبوت) بیا حضرتؐ خپلو اصحابوؓ ته او فرمائیل یو اوښ واخلئ ده له ورکړئ هغوئ اووے ، مونږ ته خو دده داوښ نه غوره میلاویږی ، حضرتؐ او فرمائیل ، هغه اخلئ او او ده لره ورکړئ ولے چه بهتر په تاسو کښې هغه خلق دی چه هغه قرض په ښه طریقه ادا کړی۔

(۴۱۱۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اسْتَقْرَضَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ سِنًّا فَاَعْطَاهُ سِنًّا فَوْقَهٗ وَقَالَ خِیَارُکُمْ مَحَاسِنُکُمْ قَضَآءً. [راجع : ۴۱۱۰]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو اوښ قرض واخستو او بیائے دهغه نه غټ یو اوښ ورکړو او بیائے او فرمائیل چه بهتر ستاسو کښې هغه خلق دی چه هغه په ښه طریقه قرض اداکوی۔

(۴۱۱۲) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ يَتَقَاضٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيْرًا فَقَالَ اَعْطُوْهُ سِنًّا فَوْقَ سِنِّهٖ وَقَالَ خَيْرُكُمْ اَحْسَنُكُمْ قَضَآءً. [راجع : ۴۱۱۰]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو سړے رسول الله صلی الله علیه وسلم له دخپل اوښ دتقاضا کولو په باره کښې راغے ، حضرت او فرمائیل دهغے نه غوره اوښ ده له ورکړئ او اوئے فرمائیل ښه په تاسو کښې هغه دے چه هغه قرض په ښه طریقه اداکړی۔

بَابُ جَوَازِ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ مِنْ جِنْسِهٖ مُتَفَاضِلًا .

باب ځناور دځناور په بدل کم زیات خرڅول درست دی۔

(۴۱۱۳) عَنْ جَابِرٍ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ عَبْدٌ فَبَايَعَ النَّبِىَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَلَمْ يَشْعُرْ اَنَّهٗ عَبْدٌ فَجَآءَ سَيِّدُهٗ يُرِيْدُهٗ فَقَالَ لَهُ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعْنِيْهِ فَاشْتَرَاهُ بِعَبْدَيْنِ اَسْوَدَيْنِ ثُمَّ لَمْ يُبَايِعْ اَحَدًا بَعْدَهٗ يَسْئَلَهٗ اَعَبْدٌ هُوَ. [ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دجابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو غلام راغے ، او هغه بیعت درسول الله صلی الله علیه وسلم نه په هجرت باندِ اوکړو حضرتؐ ته معلومه نهٔ وه چه دا غلام دے، بیا دهغه مالك راغے دهغه داخستو دپاره ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمائیل ده لره په ما راخرڅ کړه، حضرتؐ دوه تور غلامان ورکړو او هغه ئے واخستو، ددے نه پس به دهیچا نه حضرتؐ بیعت نهٔ اخستو دکومے پورے چه به ئے ترے دا تپوس نهٔ وو کړے چه غلام دے هغه (یا آزاد)۔

فائده:۔ نووی علیه الرحمه وئیلی دی دهغه مالك به هم مسلمان وو ځکه چه هغه ددوتورو غلامانو په بدله خرڅ کړو او ظاهر داده چه هغه غلام به هم مسلمان وو او نهٔ جائز ده دمسلمان غلام بیع دکافر په لاس ، او احتمال دے چه دهغه مالك کافر وو، او دغه دواړه تورغلامان هم کافر وو، او ددے نه دحضرتؐ صلی الله علیه وسلم داخلاقو کمال ثابتیږی ،

حضرتٔ دا غوره نه کړه چه هغه غلام چاچه بیعت کړے وو او د حضرتٔ صحبت ئے غوښتو نا امیده واپس کړے شی۔

او دا هم ثابته شوه چه دیو غلام بیعه ددوه غلامانو په بدله درسته ده، خواه که قیمت ئے برابروی یا کم زیات، او په دے باندِ اجماع ده دعلماؤ هر کله چه لاس په لاس بیعه وی۔ او دغه حکم دے تمامو څناورو، او که څوك ئے ادهار خرڅ کړی نو هم جائز دی دشافعیؒ او جمهورو علماؤ په نزد، او دابو حنفیةؒ او اهل کوفه ؤ په نزد جائز نهٔ دی۔

بَابُ الرَّهْنِ وَجَوَازِهٖ فِی الْحَضَرِ کَالسَّفَرِ.

باب: ګانړه ایخودل په سفر او حضر دواړو کښے جائز دی۔

(۴۱۱۴) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتِ اشْتَرٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ یَهُوْدِیٍّ طَعَامًا بِنَسِیْئَةٍ فَاَعْطَاهُ دِرْعًا لَهٗ رَهْنًا. [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دیو یهودی نه غله واخسته ادهار نسیا) ، بیا حضرتٔ زغره دهغه سره ګانړه کیښوده۔

(۴۱۱۵) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتِ اشْتَرٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مِنْ یَهُوْدِیٍّ طَعَامًا وَرَهَنَهٗ دِرْعًا مِنْ حَدِیْدٍ . [راجع : ۴۱۱۴]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دیو یهودی نه غله واخسته، او خپله دوسپنے زغره ئے دهغه سره ګانړه کیښوده۔

فائده: نووی علیه الرحمه وئیلے دی ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه دذمی کافرانو سره معامله کول درست دی، دے هغه غیر مسلم کافر چه په اسلامی حکومت کښ اوسی او یو معین تیکس اداکوی او حکومت ئے دمال او سر دحفاظت ذمه واروی)اوکوم مال چه دهغوئ په لاس کښ دے هغه به دهغوئ په ملك کښ وی ،اوداهم بیان دے کوم چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ددنیا کمے وو، او فقیریٔ ته ئے رغبت وو، او دا هم معلومه شوه چه رهن یعنی ګانړه

ايښودل جائز دي، دغه شان جنګي سامان ذمي كافرانوسره رهن كول جائز دي، او رهن په حالت دحضرت كښې جائز دے، او دغه قول دے دشافعيؒ او مالكؒ اوابو حنيفهؒ او احمدؒ اواكثرعلماؤ.

مګر مجاهدؒ او داؤدؒ دا وئيلي دي چه رهن صرف په سفر كښې درست دے په دليل ددے آيت " وَاِنْ كُنْتُمْ عَلٰى سَفَرٍ " دآخره پورے، او دجمهور دليل دا حديث دے، او ديهودي سره ددے معاملے كولو وجه دغه وه چه جواز ددے معلوم وي، يا به دنورو اصحابوؓ سره په دغه وخت دهغوئ دحاجت نه زياته غله نۀ وي او څنو وئيلي دي،ددے وجے نه چه صحابه كرامو دهغوئ رهن نۀ قبلولو او دهغوئ نه ئے قيمت نۀ اخستو، څكه حضرتؐ ديهودي سره معامله كړے وه، او اجماع كړے ده مسلمانانو دا هل ذمه سره دمعاملے كولو په جواز بانډ، ليكن مسلمان له روانه دي دحربي كافرانو په لاس اسلحه او دجنګ سامان خرڅول نۀ دقرآن هديه كول، نۀ مسلمان غلام دكافر په لاس خرڅول.

بَابُ السَّلَمِ .

باب :. دبيع سلم بيان .

فائده: سلم او سلف او قرض هغه بيعے ته وئيلے شي چه په هغے كښې قيمت پيشكي وركولے شي (يعني مخكښې) او دمال وركولو دپاره يو معينه موده وي، يا په دغه وخت اخستلے كيږي او اتفاق كړے دے اهل اسلامو ددے په جواب بانډ.

(۴۱۱۸) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَدِمَ النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ وَهُمْ يُسْلِفُوْنَ فِى الثِّمَارِ السَّنَةَ وَالسَّنَتَيْنِ فَقَالَ مَنْ اَسْلَفَ فِى تَمْرٍ فَلْيُسْلِفْ فِى كَيْلٍ مَّعْلُوْمٍ اِلٰى اَجَلٍ مَّعْلُوْمٍ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضي الله تعالى عنهما نه روايت دے وائي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم مدينے ته تشريف راؤړو او خلقو به سلف كولو په ميوؤ كښې ديوكال دوو دپاره پس حضرت او فرمائيل، څوك چه سلف كوي په كهجورو كښې نو سلف دې كوي په مقرر ماپ كښې يا په تول كښې دميعاده پورے.

فائده: یعنی سلم جائز دے په دے شرط چه دکوم مال دپاره سلم او کړے شی چه دهغے مقدار معلوم وی په ماپ یا تول کا گز یا شمارسره ، ماپ تول په میوؤ او غلو وغیره کښې ، گز په کپړو کښې ، او شمار په څناورو کښې ، دغه شان که میعاد مقرر کړی نو چه هغه هم معلوم وی، ددے نه دا غرض نۀ دے چه دمیعاد کیدل په سلم کښې ضروری دے، بلکه بے دمیعاد نه هم سلم درست دے، دشافعی علیه الرحمه دغه قول دے او دامام مالك او ابو حنیفهؒ په نزد دمیعاد کیدل ضروری دی (نوویؒ مختصرا)

(۴۱۱۹) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَدِمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ يُسْلِفُوْنَ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَسْلَفَ فَلَا يُسْلِفُ اِلَّا فِيْ كَيْلٍ مَّعْلُوْمٍ وَوَزْنٍ مَّعْلُوْمٍ.

[راجع:۴۱۱۸]

ترجمه: دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو او خلقو سلفت کولو نو حضرت صلی الله علیه وسلم او فرمائیل دوئ ته چه څوك سلف کوی هغه دِ په معین ماپ کښې او معین تول کښې کوی۔

بَابُ تَحْرِيْمِ الْاِحْتِكَارِ فِى الْاَقْوَاتِ.

باب: احتكار دانسان او حیوان په خوراك كښې حرام دے.

فائده: داحتکام معنے غله یا اوبنه دانه وغیره اخستل بیا هغے لره ایخودل دگرانئ په وخت کښې دخرڅولو دپاره ، دا حرام دی په هغه څیزونو کښې چه هغه دڅناورو یا دبنیادمو خوراك دی په دے شرط چه دگرانئ په زمانه کښې ئے واخلی او دتجارت دپاره ئے واخلی، او څوك چه ئے دخپل کور والاؤ دپاره واخلی نو حرام نۀ دی ، دغه شان په هغه څیزونو کښې چه هغه دخوراك نۀ دی۔ (نووی مختصراً)

(۴۱۲۲) عَنْ يَحْيٰى وَهُوَ ابْنُ سَعِيْدٍ قَالَ كَانَ سَعِيْدُ ابْنُ الْمُسَيَّبِ يُحَدِّثُ اَنَّ مَعْمَرًا رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ احْتَكَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ فَقِيْلَ لِسَعِيْدٍ فَاِنَّكَ تَحْتَكِرُ قَالَ سَعِيْدٌ اِنَّ مَعْمَرَ الَّذِيْ كَانَ يُحَدِّثُ هٰذَا الْحَدِيْثَ كَانَ يَحْتَكِرُ. [ابو داود ، ترمذی]

ترجمه: د یحیٰ بن سعیدؒ نه روایت دے وائی چه سعید ابن المسیبؒ روایت کولو چه معمر

رضی اللّٰه تعالی عنه بیان کړې دې وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه احتکار کوی هغه گنهگار دې، خلقو سعید ابن المسیبؒ ته اووې چه ته خو پخپله احتکار کوی، هغویؒ اووې مُعمرؓ چا چه دا حدیث روایت کړې دې هغویٔ هُم احتکار کولو۔

فائده: ابن عبدالبرّ وئیلې دی دې دواړو سړو به وئیلو احتکار کولو او هغه حرام نهٔ دې یا ئې هغه اختکار کوو چه کوم جائز دې ، مثلاً هغه وخت چه گرانی یا احتیاج نهٔ وی، ځکه چه دَ ذخیره اندوځئی د حرمت علت دغه دې چه عام مخلوق ته تکلیف نهٔ وی ، اوس که د یو سړی سره غله وی او د خلقو هغې ته حاجت وی مثلاً د دغې نه سِوا نور چرته هم غله نهٔ میلاویږی او هغه ئې نهٔ خرڅوی نو حاکم دَ وخت به ئې ترې په زور خرڅوی۔

(۴۱۲۴) عَنْ مُعْمَرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا یَحْتَکِرُ اِلَّا خَاطِئٌ.

[راجع: ۴۱۲۲]

ترجمه :د معمر بن عبدالله رضی اللّٰه تعالیٰ عنه نه روایت دې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی احتکار به نهٔ کوی مگر گنهگار۔

بَابُ النَّهْیِ عَنِ الْحَلْفِ فِی الْبَیْعِ .

باب:په بیعه کښې د قسم خوړلو ممانعت .

(۴۱۲۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ الْحَلِفُ مَنْفَقَةٌ لِلسِّلْعَةِ مَمْحَقَةٌ لِلرِّبْحِ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی]

ترجمه:د حضرت ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دې وائی چه ما اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئې وو قسم خورونکې دې د اسباب ورانونکې دې د نفع۔

فائده: یعنې اگر چه په قسم خوړلو سره اخستونکې په دهوکه کښې راشی او مال خرڅ شی خو د داسې سړی برکت نهٔ نصیب کیږی او آئنده ئې د نفع په ځائې نه نقصان کیږی، اودکان به ئې بربادیږی۔

(۴۱۲۶) عَنْ اَبِیْ قَتَادَةَ الْاَنْصَارِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ اِیَّاکُمْ

وَكَثْرَةَ الْحَلْفِ فِي الْبَيْعِ فَإِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يَمْحَقُ. [نسائي ، ابن ماجه]

ترجمه :دَ ابو قتاده رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل بچ شئ تاسو دَ ډیرو قسمونو خوړلو نه په بیعه کښے ځکه چه هغه دَ مال نکاسی(یعني ویستل)کوی او ورانوی(یعني لرکوی)(برکت لره)۔

بَابُ الشُّفْعَةِ .

باب:دشفع بیان .

(۴۱۲۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ لَهُ شَرِيْكٌ فِيْ رَبْعَةٍ اَوْ نَخْلٍ فَلَيْسَ لَهُ اَنْ يَبِيْعَ حَتّٰى يُؤْذِنَ شَرِيْكَهُ فَاِنْ رَضِيَ اَخَذَ وَ اِنْ كَرِهَ تَرَكَ.

ترجمه:د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی د چا سره چه څوك شریك وی په زمکه کښں یا په باغ کښں نو هغه له خپله حصه خرخول درست نۀ دی(د بل چا په لاس)د کومے پورے چه خپل شراکتی له خبر ورنۀ کړی پس کچرے هغه راضی وو واخلی به ئے او که ناراضه وو نو پریږدی به ئے۔

فائده :نوویؒ وئیلے دی شراکتی لره د ټولو په نزد دَ شفعے استحقاق دے د کومے پورے چه د جانداد تقسیم نۀ وی شوے،او شفعه خاص ده د جائیداد غیر منقوله سره،او نشته دے شفعه په څناور یا کپړه او مال یا متاع کښں قاضی عیاضؒ وئیلے دی داقول شاذدے چه شفعه په اسباب کښں ده،او دغه روایت دے د عطاءؒ نه ، او په هر یوشی کښں تر دے پورے چه په کپړه کښں هُم او دا ابن منذر د عطاءؒ نه نقل کړے دی او په تقسیم شوی جائداد کښں شفعه په جاوسره ثابتیږی یا نۀ،په دے کښں اختلاف دے۔

دَاِمَام شافعیؒ او احمدؒ او مالكؒ او د جمهورو علماء مذهب دا دے چه په جوء سره شفعه نۀ کیږی،او ابن منذرؒ د عمر ابن خطابؓ او عثمان بن عفانؓ او دَ سعید ابن المسیبؒ او سلیمان بن یسارؒ او د عمر بن عبدالعزیزؒ اوز هریؒ او یحیٰ انصاریؒ او ابو الزنادؒ او ربیعهؒاو مالكؒ اوزاعیؒ او مغیرةؒ او احمدؒاو اسحقؒ اوابو ثورؒ نه دغه شان نقل کړے دی۔

او هغه سری تر دے هم دلیل اخستے دے کوم چه په غیر قابل قسمت کښں هم د شفعے

قائل شوے دے ،او د شريك لفظ عام دے شامِل دے،مسلمان او كافر او ذمی لره په مسلمان باند، دعوه د شفعے كيدے شی،دغه شان مسلمان لره په ذمی باند،دغه قول دے د شافعیؒ او مالكؒ په نزد ذمی سره په مسلمان باندِ شفعه نشته دے او باند،ه چه لره شفعه شته لكه ځنگه چه بنهری لره ده،دغه قول دے دشافعیؒ او ثوریؒ او ابو حنيفه او احمدؒ او اسحقؒ او ابن منذرؒ او جمهورو علماؤ۔

او شعبیؒ وئيلے دی څوك چه په بنهر كښيے نهٔ اوسيږی هغه لره شفعه نشته دے ، او دا چه كوم حضرتؒ اوفرمائيل چه د كومے پورے اطلاع ورنهٔ كړی،نو اطلاع وركول زمونږ په نزد مستحب دی،او بيرد خبرولو نه ئے خرڅول مكروه تنزيهی دی حرام نهٔ دی ، او چه د اطلاع وركولو نه پس شريك اجازے وركړو نو بيا د شفعے دعوه كولے شی،دغه قول دے د شافعیؒ او مالكؒ او ابو حنيفهؒ او د هغوئ د ملګرو۔او د حكمؒ او ثوریؒ او ابو عبيدؒ او د اهلِ حديثو د يو ټولی په نزد بيا دوه نهٔ شی كولے او دَ امام احمدؒ نه دوه روايتونه دی دَ دواړو مذهبونو موافق۔والله اعلم(نوویؒ)۔

(۴١٢٨) عَنْ جابرٍ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَضٰى رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالشُّفْعَةِ فِىْ كُلِّ شِرْكَةٍ لَمْ تُقْسَمْ رَبْعَةٍ اَوْ حَآئِطٍ لَا يَحِلُّ لَهٗ اَنْ يَّبِيْعَ حَتّٰى يُؤْذِنَ شَرِيْكَهٗ فَاِنْ شَآءَ اَخَذَ وَاِنْ شَآءَ تَرَكَ فَاِذَا بَاعَ وَلَمْ يُؤْذِنْهُ فَهُوَ اَحَقُّ بِهٖ. [ابوداود ، نسائی]

ترجمه:د جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روايت دے وائی چه حكم اوكړو رسول الله صلی الله عليه وسلم د شفعے په هرمشترك مال كښ چه ويشتلے شوے نهٔ وی كه زمكه وی يا باغ،يو شريك له درست نهٔ دی چه د بل شريك دَ خبرولو نه بغير خپله حصه خرڅه كړی،بيا بل شريك ته اختيار دے كه غواړی واخلی ئے او كه غواړی نهٔ ئے اخلی ، اوس كچرے بغير د اطلاع نه ئے خرڅ كړی نو هغه شريك زيات حقدار دے(د بل سری نه ئے په دغه قيمت پخپله اخستے شی۔)

(۴١٢٩) عَنْ جابرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الشُّفْعَةُ فِىْ كُلِّ شِرْكٍ فِىْ اَرْضٍ او رَبْعٍ اَوْ حَآئِطٍ لَا يَصْلُحُ اَنْ يَّبِيْعَ حَتّٰى يَعْرِضَ عَلٰى شَرِيْكِهٖ فَيَاْخُذَ اَوْ يَدَعَ فَاِنْ اَبٰى فَشَرِيْكُهٗ اَحَقُّ بِهٖ حَتّٰى يُؤْذِنَهٗ. [[راجع : ۴١٢٨]

ترجمه:د جابر بن عبدالله رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے وائی چه ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے وو،شفعه په هر یو مشترکه مال کښے ده،په زمکه لو کور او باغ کښں،پس یو شراکتی له روا نۀ دی چه خپه حصه خرڅه کړی او دویم شریك ته ئے وئیی نۀ وی پس چه هغه ئے واخلی یا ئے پریږدی،او کچرے او ورته نۀ وائی نو بیا خو دویم شریك زیات حقدار دے د کومے پورے چه هغه ته خبر نۀ وی(او هغه پریخودے نۀ وی-)۔

بَابُ غَرْزِ الْخَشَبِ فِیْ جِدَارِ الْجَارِ.

بَابُ:د ګاونډی په دیوال کښے د لرګی ټك وهلو بیان.

(۴۱۳۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَمْنَعْ اَحَدُکُمْ جَارَهُ اَنْ یَغْرِزَ خَشَبَةً فِیْ جِدَارِهٖ قَالَ ثُمَّ یَقُوْلُ اَبُوْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ مَالِیْ اَرَاکُمْ عَنْهَا مُعْرِضِیْنَ وَاللهِ لَاَرْمِیَنَّ بِهَا بَیْنَ اَکْتَافِکُمْ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی]

ترجمه :د ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی نۀ دِ منع کوی یو دَ تاسو نه خپل ګاونډی لره پخپل دیوال کښے د لرګی ټکو هلو نه(ولے چه دا د مروت نه خلاف ده،او خپل څه نقصان نۀ دے بلکه کچرے ګاونډی هلته چت اوغورځوی نو نور دَ دیوال حفاظت دے)ابو هریره رضی الله تعالی عنه به وئیلو(خلقو ته)زۀ وینم تاسو لره چه مخ اړوئ د دے حدیث نه ، قسم دِ په الله وی چه زۀ به دے لره بیا نو په تاسو خلقو کښں۔

فائده : اصل ترجمه دا ده چه زۀ به اچوم دا حدیث ستاسو په متو کښے یا ستاسو په اطرافو کښے کچرے اکتافکم په نون سره ولوستلے شی،اوس اختلاف کړے دے علماؤ په دے کښے چی آیا دا حکم دَ وجوب د پاره دے یا دَ استحباب د پاره دے،ډیر صحیح دا دے چه استحابله دے او دغه قول دے دَ ابو حنیفهٔ او اهلِ کوفه و،او دَاحمدؒ او ابو ثورؒ او دَ اصحابِ حدیث په نزد باندِ واجب دی۔

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

بَابُ تَحْرِيمِ الظُّلْمِ وَ غَصْبِ الْأَرْضِ وَغَيْرِهَا .

باب: ظلم کول او د بل چا زمکه په زور نیول وغیره حرام دي .

(۴۱۳۲) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدِ ابْنِ عَمْرٍو وابْنِ نُفَيْلٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اقْتَطَعَ شِبْراً مِّنْ اَرْضٍ ظُلْمًا طَوَّقَهُ اللهُ اِيَّاهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنْ سَبْعِ اَرْضِيْنَ.

ترجمه: دَسعید بن زید بن عمرو بن نفیل نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، کوم سړے چه یو بالشت برابر زمکه په ظلم سره واخلی، الله به هغه لره د قیامت په ورځ دَ اووه زمکو طوق وریغاړه کړی۔

فائده: نووی وئیلے دی د دے حدیث نه معلومیږی چه زمکه هم اووه طبقے ده لکه څنګه چه آسمانونه اووه دی او فرمائیلی دی الله تعالیٰ "سَبْعَ سَمٰوَاتٍ وَّمِنَ الْاَرْضِ مِثْلَهُنَّ "او دَ مماثلت تاویل دَ هیأت یاشکل نه خلاف دے په طاره کښی په دے شان سره دَ اووه زمکو نه مراد اووه اقلیمونه مراد اخستل، دالرے ده ورنه د یو اقلیم د یو بالشت برابر زمکه په غصب کولو سره دَ اووه اقلیمو د زمکے د طوق جوړولو څه وجه نۀ وه بر خلاف د دے هر کله چه دَ زمکے اووه طبقے وی، ولے چه د یوے لویشتے برابر هم اووه طبقے وی چه هغه په تابع وی د دے ، او د طوق جوړیدلو نه دا غرض دے چه هغه له به تکلیف ورکولے شی د هغے دَ اوچتولولو او د څټ به اوړدَوالے شی۔ والله اعلم۔

(۴۱۳۳) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدِ ابْنِ عَمْرٍو وابْنِ نُفَيْلٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ اَرْوٰى خَاصَمَتْهُ فِيْ بَعْضِ دَارِهٖ فَقَالَ دَعُوْهَا وَ اِيَّاهَا فَاِنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ اَخَذَ شِبْراً مِّنَ الْاَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهٖ طُوِّقَهُ فِيْ سَبْعِ اَرْضِيْنَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَاَعْمِ بَصَرَهَا وَاجْعَلْ قَبْرَهَا فِيْ دَارِهَا قَالَ فَرَاَيْتُهَا عَمْيَآءَ تَلْتَمِسُ الْجُدُرَ تَقُوْلُ اَصَابَتْنِيْ دَعْوَةُ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ فَبَيْنَمَا هِيَ تَمْشِيْ فِي الدَّارِ مَرَّتْ عَلٰى بِئْرٍ فِي الدَّارِ فَوَقَعَتْ فِيْهَا فَكَانَتْ قَبْرَهَا.

ترجمه: دسعید بن زید بن نفیل نه (چه لوئے اصحابی دے او دعشر مبشره نه دے راضی دوی الله تعالی د هغوئ نه) روایت دے چه د هغوئ سره اروی بنت اوس جګړه کوله دکور په زمکه کښی، پس هغوئ اووے پریږدوه او هغه (زمکه) ئے ورته پریښودہ، (دکومے چه ئے دعوه کوله)

ولے چه ما اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ، چه هغوئ فرمائیلی وو چاچه یوه لویشت زمکه په ناحقه او نیوه الله جل شانه به هغه ته داووه زمکو طوق په غاړه کښې واچوی دقیامت په ورځ یا الله جل شانه کچرے اروی دروغژنه وی نو ته ددے سترګے ړندے کړه او دا کور ددے قبر اوګرځوه ، دی بیا ما اروی لره او لیدله چه ړنده شوے وه دیوالونه به ئے نیولو او وئیل به ئے چه دسعیدٓ بددعاګانے لګیدلے دہ، یوه ورځ هغه روانه وه په خپل کور کښے کوهی ته او غورځیده او هغه کوهے دهغے قبر شولو، (معاذ الله دظلم) او تکلیف رسولو دغه سزاء ده۔

(۴۱۳۴) عَنْ هِشَامِ ابْنِ عُرْوَةَ عَنْ اَبِيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ اَرْوَى بِنْتَ اُوَيْسٍ ادَّعَتْ عَلٰى سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ اَنَّهُ اَخَذَ شَيْئًا مِّنْ اَرْضِهَا فَخَاصَمَتْهُ اِلٰى مَرْوَانَ ابْنِ الْحَكَمِ فَقَالَ سَعِيْدٌ اَنَا كُنْتُ اٰخُذُ مِنْ اَرْضِهَا شَيْئًا بَعْدَ الَّذِيْ سَمِعْتُهُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَمَا سَمِعْتَ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ اَخَذَ شِبْرًا مِّنَ الْاَرْضِ ظُلْمًا طُوِّقَهُ اِلٰى سَبْعِ اَرَضِيْنَ فَقَالَ لَهُ مَرْوَانُ لَآ اَسْئَلُكَ بَيِّنَةً بَعْدَ هٰذَا فَقَالَ سَعِيْدٌ اَللّٰهُمَّ اِنْ كَانَتْ كَاذِبَةً فَعَمِّ بَصَرَهَا وَاقْتُلْهَا فِيْ اَرْضِهَا قَالَ فَمَا مَاتَتْ حَتّٰى ذَهَبَ بَصَرُهَا ثُمَّ بَيْنَا هِيَ تَمْشِيْ فِيْ اَرْضِهَا اِذْ وَقَعَتْ فِيْ حُفْرَةٍ فَمَاتَتْ ۔ [بخاری]

ترجمه : دهشام بن عروه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے هغوی دخپل پلار نه اوریدلی دی چه اروی بنت اویس دعوه اوکړه په سعید بن زیدٓ باندِ چه هغوئ څما دزمکے څه حصه نیولی ده، بیا ئے مروان بن حکم ته جګړه یوړه (چه دمدینے حاکم وو) سعید رضی الله تعالی عنه اووے، عجیبه خبره ده زهٔ ددے زمکه نیسم او ما اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه ، مروان تپوس اوکړو تا څه اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ اووے ما اوریدلی دی چه هغوئ فرمائیلی وو چاچه دیوے لویشتے برابر زمکه دچانه په ظلم سره او نیوه نو الله تعالی به هغه ته داوه زمکو پورے طوق پغاړه کړی، مروان اووے اوس زهٔ ستانه ګواه نهٔ غوارم ، ددے کچرے اروی دروغژنه وی نو ددے سترګے ړندے کړه ، او ددے په زمکه کښے دا مړه کړه، راوی وائی بیا اروی مړه نهٔ شوه تر دے پورے چه ړنده شوله، او یوه ورځ هغه پخپله زمکه کښے روانه وه چه کدے ته او غورځیده او مړه شوله۔

(۴۱۳۵) عَنْ سَعِيْدِ ابْنِ زَيْدٍ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ اَخَذَ شِبْرًا مِّنَ الْاَرْضِ ظُلْمًا

فَإِنَّهُ يُطَوَّقُهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنْ سَبْعِ أَرْضِيْنَ. [راجع : ۴۱۳۴]

ترجمه: دسعيد بن زيدؓ نه روايت دے، وائی چه ما اوريدلی دی درسول الله صلی الله عليه وسلم نه چه اونے فرمائيل څوك چه ديوے لويشتے برابر زمکه په ظلم سره قبضه کړی الله تعالی به هغه له طوق کړی د اوه وُ زمکو نه دقيامت په ورځ۔

(۴۱۳۶) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَأْخُذُ أَحَدٌ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ بِغَيْرِ حَقِّهِ إِلَّا طَوَّقَهُ اللهُ إِلٰى سَبْعِ أَرْضِيْنَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ.

ترجمه: دابو هريره رضی الله تعالی عنه نه روايت دے وائی چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی ، هيڅ يو کس دِدلويشت برابر زمکه په نا حقه سره نهٔ اخلی ورنه الله تعالی به دهغے طوق جوړ کړی (پغاړه دده کښے) داوه زمکو پورے دقيامت په ورځ۔

(۴۱۳۷) عَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ إِبْرَاهِيْمَ أَنَّ أَبَا سَلَمَةَ حَدَّثَهُ وَكَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ قَوْمِهِ خُصُوْمَةٌ فِيْ أَرْضٍ وَأَنَّهُ دَخَلَ عَلٰى عَائِشَةَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهَا فَقَالَتْ يَا أَبَا سَلَمَةَ اجْتَنِبِ الْأَرْضَ فَإِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ ظَلَمَ قِيْدَ شِبْرٍ مِّنَ الْأَرْضِ طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرْضِيْنَ. [بخاری]

ترجمه:دمحمد بن ابراهيمؒ نه روايت دے چه ابو سلمه رضی الله تعالیٰ عنه هغویٔ ته بيان کړے دے چه د هغه او د هغویؓ د قوم په مينځ کښ جګړه وه په يوه زمکه باندِ هغویؓ د حضرت عائشے رضی الله تعالیٰ عنها خواله لاړو،او هغویؓ ته ئے د دے ذکر اوکړو،هغویؓ اووے اے ابو سلمةؓ! ځان اوساته د زمکے نه(يعنی په ناحقه دچا د زمکے قبضه کولو نه)ځکه چه رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی څوك چه ظلم اوکړی د يوے لويشتے زمکے برابر الله تعالیٰ به هغه ته دَاوه زمکه طوق په غاړه کښ واچوی۔

بَابُ قَدْرِ الطَّرِيْقِ إِذَا اخْتَلَفُوْا فِيْهِ.

باب:هر هله چه په لاره کښ اختلاف وی،نو څومره لاره مقرروَل پکار دی.

(۴۱۳۹) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اخْتَلَفْتُمْ فِي الطَّرِيْقِ جُعِلَ عَرْضُهُ سَبْعَةَ أَذْرُعٍ.

ترجمه :دَابو هريره رضی الله تعالیٰ عنه نه روايت دے چه رسول الله صلی الله عليه وسلم

فرمائیلی دی هر کله چه ستاسو په لاره کښې اختلاف راشی نو د هغې پلنوالې اوه لاسه مقرره وی۔

فائده: ولې چه دومره قدرے کافی ده د بنیادمو او څناورو د تلو دَ پاره،نووی علیه الرحمة وئیلې دی دا د اختلاف په صورت کښې حکم دے ، لیکن که د زمکې خاوندان په خپلو کښې متفق دی نو څومره چه غواړی لاره ویسلتے شی په هغوئ باندِ به څه اعتراض نهٔ وی۔

كِتَابُ الْفَرَائِضِ .

فرائض یعنی د ورثه بیان .

(۴۱۴۰) عَنْ أُسَامَةَابْنِ زَيْدٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا يَرِثُ الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دَ اسامه بن زید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی وارث به نهٔ وی کافر دَ مسلمان نه مسلمان دَ کافر۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلې دی په دے باندِ اجماع ده چه کافر به د مسلمان وارث نهٔ وی،لیکن مسلمان نو هغه به هم د کافر وارث نهٔ وی،د جمهورو علماو په نزد،او د یو تولی په نزد به وارث وی ، او دغه مذهب دے د معاذ ابن جبلؓ او معاویهؓ او سعید بن المسیبؒ ،او صحیح دَ جمهورو قول دے او مرتد به هم د مسلمان وارث نهٔ وی او نه به مسلمان د مرتد وارث وی دَامام شافعیؒ او مالکؒ او ربیعةؒ او ابن ابی لیلے په نزد بلکه د هغه مال به د مسلمانانو په لوټ کښې شریکوالے شی۔

او دَامام ابو حنیفةؒ او اهل کوفه و اوزاعیؒ او دَاسحٰق په نزد مسلمان به د مرتد وارث وی، او دغه مروی دی د علیؓ او ابن مسعودؓ او دَ یو جماعت د سلفو نه،لیکن د ثوریؒ او ابو حنیفةؒ په نزد کوم مال چه هغه دَ ارتداد په حالت کښې ګټلے وی هغه به د مسلمان وی او دَ نورو علماؤ په نزد ټول به د هغه واراثان وی کوم چه مسلمان وی،لیکن کافر به په خپلو کښې د یو بل وارثان وی لکه یهودی دَ نصرانی او نصرانی دَ یهودی ، او مجوسی د یهودی یا نصرانی ،او دَ امام مالکؒ په نزد به نهٔ وی۔

امام شافعیؒ وئیلے دی چه حربی به د ذمی وارث نهٔ وی،نهٔ ذمی د حربی ، دغه شان کچرے دوه حربیان په دوو جدا جدا حکومتونو کښں وی هغه به هم په خپلو کښے وارثان نهٔ وی هر کله چه په دغه دواړه حکومتونو کښے جنګ وی انتهیٰ مختصراً۔

(۴۱۴۱) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْحِقُوْا الْفَرَائِضَ بِاَهْلِهَا فَمَابَقِيَ فَهُوَلِاَ وْلٰى رَجُلٍ ذَكَرٍ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ،ابن ماجه]

ترجمه :د عبدالله بن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی حصے والاؤ ته د هغوئ حصے ورکړئ بیا چه کوم بچ پاتے شی هغه د هغه چا دے چه د تولو نه زیات مړی ته نزدے وی۔

فائده :یعنی عصبه وله ئے ورکړئ،لیکن د نزدے عصبه و په موجود والی کښں به لرے عصبه وارثان نهٔ وی ، حصبه والا یعنی اصحاب الفرائض هغه خلق دی چه د هغوئ حصے الله تعالی په خپل کتاب کښں مقرر کړے دی،لکه لور ،مور،پلار،خاوند،ښځه خور وغیره ، اوس د مړی مال چه د قرض د ادا کولو او وصیت نه پس چه کوم پاتے شِی هغه به د حصو موافق رومبے د هغه وارثانو ته میلاویږی د هغے نه پس چه کوم پاتے شی هغه بن نزد دے عصبه ؤ ته ورکولے شِی او په دے بانډِ دمسلمانانو اجماع ده، او دنزدے عصبه په موجودګئ کښے به لرے والا وارثان نهٔ وی، مثلا چالور رور او تره لره پریخودل ، لورته به نیم میلاویږی او باقی رورته او تره ته به څه نهٔ میلاویږی۔

(۴۱۴۳) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَقْسِمُوْ الْمَالَ بَيْنَ اَهْلِ الْفَرَائِضِ عَلٰى كِتَابِ اللهِ تَعَالٰى فَمَا تَرَكَتِ الْفَرَآئِضُ فَلِاَوْلٰى رَجُلٍ ذَكَرٍ . [راجع : ۴۱۴۳]

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی علیه وسلم فرمائیلی دی ، تقسیم کړئ مال په اصحاب فرائض کښے موافق دالله تعالی دکتاب بیا چه کوم بچ پاتیشی دهغوئ نه، هغه دنزدے والا سړی حِصه ده۔ (مثلا دځوئ یا دنمسی ددے نه پس دپلار دهغه نه پس درور یا دنیکه ددوئ پس دوراره یا دوریرے دلونړویا دنمسو، ددوئ نو پس دتره دهغه نه پس) دتره دځامنو دهغوی نهٔ پس دپلار دتره دهغه نه پس دهغه دځامنو،

دھغوئ نه پس دنیکه دتره او دهغه نه پس دهغوئ دځامنو ، علی هذا القیاس او حقیقی به مقدم وی په علاتی بانډ او علاتی رور به مقدم وی په حقیقی وراره بانډ ـ

(۴۱۳۵) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ مَرِضْتُ فَاَتَانِيْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوْبَكْرٍ يَعُوْدَانِيْ مَاشِيَانِ فَاُغْمِيَ عَلَيَّ فَتَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَبَّ عَلَيَّ مِنْ وَضُوْءِهٖ فَاَفَقْتُ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ اَقْضِ فِيْ مَالِيْ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ شَيْئًا حَتّٰى نَزَلَتْ اٰيَةُ الْمِيْرَاثِ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلَالَةِ . [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه زهٔ ناجوړه شوم نه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابوبکرؓ دواړه پیدل څما تپوس له راغلو ، پس په ما بانډ بیهوشی راغله نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس اوکړو بیائے داودس او به زما دپاسه واچولے نو زه په هوش کښ راغلم ما عرض اوکړو چه یا رسول اللهؐ! زهٔ دخپل مال څه فیصله اوکړمه، حضرتؐ څه جواب را نهٔ کړو تردے پورے چه دمیراث آیت نازل شولو، يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ فِي الْكَلَالَةِ دآخره پورے ـ

فائده : امام نووی وئیلے دی ددے حدیث ہ دبیمار دتپوس فضیلت ثابت شولو او داهم معلومه شوه چه دبیمار دتپوس دپاره پیدل تلل غوره دی، او داودس داوبو اچولو نه دا خبره رالوته چه داثار الصلحین نه برکت اخستل روا دی، لکه دهغوئ نه په پاتے شوے غلے یا اوبو وغیره سره او دهغوئ سره یو ځائے په خوړلو او څښلو سره، او زمونږ ملګرو ددے حدیث نه دلیل اخستے دے، چه مستعملے اوبه داودس یا دغسل پاکے دی، او ردئے کړے دے دابو یوسف دقول چه هغه ددے دنجاست قائل دے، حالانکه دا اعتراض کیدے شی چه مراد داودس داوبو نه هغه اوبه وی چه هغه په لوښی کښ داودس دپس بچ پاتے شوے وی ، لیکن زیات برکت خو به په هغه اوبو کښ وی چه هغه دحضرتؐ په اندامونو مبارکو په اودس کښے لګیدلی وی او ددے حدیث نه داهم معلومه شوه چه دمریض وصیت جائز دے اګر که بعضے وخت دهغه عقل کار نهٔ کوی، په دے شرط چه وصیت په حالت دآرام او هوش کښے وی (انتهی مختصرا)

(۴۱۳۶) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا قَالَ عَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ

اللہُ تعالیٰ عنہُ فِی بَنِیْ سَلِمَۃَ یَمْشِیَانِ فَوَجَدَ انِیْ لَا اَعْقِلُ فَدَعَا بِمَآءٍ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ رَشَّ عَلَیَّ مِنْہُ فَاَفَقْتُ فَقُلْتُ کَیْفَ اَصْنَعُ فِیْ مَالِیْ یَارَسُوْلَ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَنَزَلَتْ یُوْصِیْکُمُ اللہُ فِیْ اَوْلَادِکُمْ لِلذَّکَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ الخ. [بخاری]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه زما تپوس دپاره جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوابوبکرؓ په بنی سلمه کښی پیدل راغلو نو زهٔ ئے بیهوشه اولیدم ، حضرتؐ اوبه او غوښتے او اودس ئے اوکړو بیائے دهغه اوبو نه لږے شان په مابانډِ چړکاؤ کړے نو ماته هوشی راغے ما عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زهٔ دخپل مال سره څه اوکړم (یعنی څنګه ئے اوویشم) پس داایات نازل شولو یُوْصِیْکُمُ اللہُ فِیْ اَوْلَادِکُمْ لِلذَّکَرِ مِثْلُ حَظِّ الْاُنْثَیَیْنِ دآخره پورے۔

(۴۱۲۷) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللہِ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا یَقُوْلُ عَادَنِیْ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وَاَنَا مَرِیْضٌ وَمَعَہٗ اَبُوْبَکْرٍ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُ مَاشِیَیْنِ فَوَجَدَانِیْ قَدْاُغْمِیَ عَلَیَّ فَتَوَضَّأَ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ثُمَّ صَبَّ عَلَیَّ مِنْ وَضُوْءِہٖ فَاَفَقْتُ فَاِذَا رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ یَارَسُوْلَ اللہِ کَیْفَ اَصْنَعُ فِیْ مَالِیْ قَالَ فَلَمْ یَرُدَّ عَلَیَّ شَیْئًا حَتّٰی نَزَلَتْ اٰیَۃُ الْمِیْرَاثِ. [بخاری]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے ، وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زما بیمار پرسئ له راغے او زه بیمار وُم ،اودحضرتؐ سره ابوبکررضی الله تعالی عنه هم وو لو دواړه پیدل راغلو اوزهٔ بے به هوشه او موندم، نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اودس لوکړو، او دخپل اودس اوبه ئے په مابانډِ واچولے، ماته هوش راغے ، چه لوم کتل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم موجودوو، ما عرض اوکو چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زه په خپل مال کښی څه اوکړم حضرتؐ څه جواب رانهٔ کړو تردے پورے چه دمیراث آیت نازل شولو۔

(۴۱۲۸) عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللہِ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہُمَا یَقُوْلُ دَخَلَ عَلَیَّ رَسُوْلُ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ وَاَنَا مَرِیْضٌ لَا اَعْقِلُ فَتَوَضَّأَ فَصَبُّوْا عَلَیَّ مِنْ وَضُوْءِہٖ فَعَقَلْتُ فَقُلْتُ یَارَسُوْلَ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا یَرِثُنِیْ کَلَالَۃٌ فَنَزَلَتْ اٰیَۃُ الْمِیْرَاثِ فَقُلْتُ لِمُحَمَّدِ ابْنِ الْمُنْکَدِرِ یَسْتَفْتُوْنَکَ قُلِ اللہُ یُفْتِیْکُمْ فِی الْکَلَالَۃِ قَالَ ھٰکَذَا اُنْزِلَتْ.

ترجمه: د حضرت جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دیت وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ځما خواله راغے او زهٔ بیمار وم بے هوشه وم، حضرت اودس اوکړو خلقو د هغوی داودس اوبه په ما باندِ واچولے نو ماته هوش راغے ما عرض اوکړو یا رسول الله صلی الله علیه وسلم زما ترکه خو به دکلاله وه (کلاله هغه دے چه د هغے اولادنهٔ وی نهٔ پلارنے وی) ددے تفصیل به مخکښے راشی پس دمیراث آیت نازل شو، شعبهٔ وائی ما محمد بن منکدر ته اووے یَسْتَفْتُوْنَکَ قُلِ اللّٰهُ یُفْتِیْکُمْ فِی الْکَلاَلَةِ ، هغوی او دے هم دغه شان نازل شوے دے۔

(۴۱۵۰) عَنْ مَعْدَانَ ابْنَ اَبِیْ طَلْحَةَ اَنَّ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ خَطَبَ یَوْمَ جُمُعَةٍ فَذَکَرَ نَبِیَّ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَذَکَرَ اَبَابَکْرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ ثُمَّ قَالَ اِنِّیْ لَآاَدَعُ بَعْدِیْ شَیْئًا اَهَمَّ عِنْدِیْ مِنَ الْکَلاَلَةِ مَارَاجَعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ شَیْءٍ مَّارَاجَعْتُهُ فِی الْکَلاَلَةِ وَمَا اَغْلَظَ لِیْ فِیْ شَیْ ءٍ مَّااَغْلَظَ لِیْ فِیْهِ حَتّٰی طَعَنَ بِاِصْبَعِهٖ فِیْ صَدْرِیْ وَقَالَ یَا عُمَرُ اَلاَ تَکْفِیْکَ اٰیَةُ الصَّیْفِ الَّتِیْ فِیْ اٰخِرِ سُوْرَةِ النِّسَآءِ وَاِنِّیْ اِنْ اَعِشْ اَقْضِ فِیْهَا بِقَضِیَّةٍ یَقْضِیْ بِهَا مَنْ یَّقْرَأُ الْقُرْاٰنَ وَمَنْ لَّا یَقْرَأُ الْقُرْاٰنَ. [راجع: ۱۲۱]

ترجمه: د معدان بن ابی طلحهٔ نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه خطبه لوستله د جمعے په ورځ نو ذکرئے اوکړو د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او ذکرئے اوکړو د ابوبکر صدیق رضی الله تعالی عنه بیائے اووے ما د خپل ځان ورستو یو مسئله داسے مشکله نهٔ ده پریخودے لکه دکلاله مسئله، او ما یو مسئله داسے بار بار نهٔ ده تپوس کړے د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه لکه دکلالے دمسئلے تپوس چه م کړے دے، (او حضرت هم داسے دسختئ یو خبره نهٔ ده کړے ماته لکه په کلاله کښ چه ئے کړے ده) تردے پورے چه په خپله گوته مبارکه ئے ځما سینه اووهله او اوئے فرمائیل اے عمرؓ! تاله بس نهٔ دے هغه آیت کوم چه د گرمئ په موسم کښ نازل شوے دے د سورن النساء په آخر کښ، بیا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اووے. کچرے زهٔ ژوندے وم نو دکلالے په باب کښے به داسے حکم (صفا صفا) ورکوم چه د هغے موافق هر سړے فیصله کوی چه د هغے موافق هر سړے فیصله کوی چاپه قرآن لوستلے دے او چا چه نهٔ دے لوستلے۔

فائده: حضرت عمرؓ دکلالے په فیصله کښ وخت واخستو ځکه چه هغوئ به به

غور کړے نهٔ وی، او دهغوئ رائے به دهغے پورے قائم شوے نهٔ وی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوئ سره سختی اوکړه ددے دپاره چه هغه بهروسه او نهٔ کړی په هغے باندِ کوم چه راغلے دی په نص کښك او استنباط او غور او فکر پرینږدی حالانکه الله تعالی فرمائی. لَعَلِمَهُ الَّذِيْنَ يَسْتَنْبِطُوْنَهٗ مِنْهُمْ ـ نو استنباط پریخودے شِی نو په ډیرو واقعاتو کښ به فیصله گرانه شی،

اوس دکلالے په اشتقاق کښ خلقو اختلاف کړے دے داکثرو په نزد هغه دتکلل نه وتلے شوے دے چه دهغے معنی په یوه کناره کښے پریوتل، مثلا دتره ځوئ هغه کلاله دے ولے چه دنسب دخط نه یو طرفته پریوتے دے او څنو وئیلے دی چه دتکلل معنے دگهیر ولوده ، اوددغے نه وتلے دے اکلیل چه هغه سرلره گهیره وی، او څنو وئیلے دی کل داشے نه وتلے دے ، هر کله چه هغه شے لرے وی۔

او اختلاف کړے دے علماؤ چه دکلاله نه په آیت کښے څه مراددے په ډیرو اقوالو کښے یو دادے چه دکلالے نه مراد وارث دے هر کله چه دمړی اولادنهٔ وی نهٔ ئے پلار وی، دویم دا چه کلاله دهغه مړی نوم دے چه دهغه نه بچے وی نهٔ پلار ، خواه هغه مړے سړے وی یابنځه دریم دا چه کلاله هغه وارِثانو ته وئیلے شِی چه په هغے کښ نهٔ بچے وی نهٔ پلار، څلورم دا چه کلاله هغه مال موروث ته وئیلے شِی۔

شعیه وائی چه کلاله هغه دے چه دهغه اولاد نهٔ وی اگر که دهغه پلار یا نیکه وی نو هغه رونړو ته میراث ورکوی دپلار سره قاضی عیاضؒ وئیلے دی او دا منقول دی دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه، لیکن دا روایت باطل دے صحیح نهٔ دے، صحیح هغه دے کوم چه جماعت دعلماؤ وئیلے دی او څنو علماؤ اجماع نقل کړے ده په دے بانډِ چه کلاله هغه دے چه دهغه اولاد نهٔ وی نهٔ په دے کښ اختلاف دے، او هر کله چه په وارثانو کښ لوروی نو هغه به دجمهورعلماؤ په نزد دکلاله وی، ولے چه رور خور دلور سره وارث جوړیږی ، او دابن عباس په نزد دلور په موجود والی کښے به خورته څه نهٔ میلاویږی ولے چه الله تعالی فرمائیلی دی ' لَيْسَ لَهٗ وَلَدٌ وَّلَهٗ اُخْتٌ' او دغه مذهب دے دداؤد۔

او شیعه گانو وئیلے دی دلور په موجود والی کښے به وارث کلاله نهٔ وی ولے چه

دهغوئ په نزد دلور په موجودوالی کښې خوئیندو ته څه نۀ میلاویږی او تول مال دلور دے (نوویؒ مختصرًا)

(۴۱۵۲) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اٰخِرُ اٰيَةٍ اُنْزِلَتْ مِنَ الْقُرْاٰنِ يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ فِى الْكَلٰلَةِ .

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے آخر آیت چه کوم نازل شوے دے دادے يَسْتَفْتُوْنَكَ قُلِ اللهُ يُفْتِيْكُمْ فِى الْكَلٰلَةِ .

(۴۱۵۳) عَنِ الْبَرَآءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ اٰخِرُ اٰيَةٍ اُنْزِلَتْ اٰيَةُ الْكَلٰلَةِ وَاٰخِرُ سُوْرَةٍ اُنْزِلَتْ بَرَآءَةٌ . [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے دوئ به وئیلو آخری ایت چه کوم نازل دے دکلاله آیت دے او آخری سورة چه کوم نازل دے سورت براء ت دے۔

(۴۱۵۴) عَنِ الْبَرَاءِ ابْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ اٰخِرَ سُوْرَةٍ اُنْزِلَتْ تَآمَّةً سُوْرَةُ التَّوْبَةِ وَاَنَّ اٰخِرَ اٰيَةٍ اُنْزِلَتْ اٰيَةُ الْكَلٰلَةِ .

ترجمه: دبراء بن عازب رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ، آخری سورت چه کوم پوره نازل شو سورت التوبه دے او آخری آیت چه کوم نازل شوے دے دکلاله آیت دے۔

(۴۱۵۶) عَنِ الْبَرَآءِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اٰخِرُ اٰيَةٍ اُنْزِلَتْ يَسْتَفْتُوْنَكَ . [ترمذی]

ترجمه: دبراء رضی الله تعالی عنه نه روایت دۓ وائی چه آخری آیت چه کوم نازل شوے دے يَسْتَفْتُوْنَكَ دے۔

(۴۱۵۷) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتٰى بِالرَّجُلِ الْمَيِّتِ عَلَيْهِ دَيْنٌ فَيَسْئَلُ هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهٖ مِنْ قَضَآءٍ فَاِنْ حُدِّثَ اَنَّهٗ تَرَكَ وَفَآءً صَلّٰى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاِلَّا قَالَ صَلُّوْا عَلٰى صَاحِبِكُمْ فَلَمَّا فَتَحَ اللهُ عَلَيْهِ الْفُتُوْحَ قَالَ اَنَا اَوْلٰى بِالْمُؤْمِنِيْنَ مِنْ اَنْفُسِهِمْ فَمَنْ تُوُفِّىَ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ فَعَلَىَّ قَضَآؤُهٗ وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهٖ . [بخاری]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم له به جنازه راغله او هغه نه قرض دارے وو ، حضرتؐ به تپوس اوکړو اے ده دومره مال پریخودے دی

چه دده دقرضے دپاره پوره شي كه خلقو به اووے چه هاں پريخودے ئے دے نو مونځ (دجنازے) به ئے پرے اوكړو . او كه خلقو به اووے چه نۀ يے دے پريخودے نو حضرت به او فرمائيل تاسو په خپل ملګرى باندې مونځ (دجنازے) اوكړئ. بيا چه هر كله الله تعالى په هغوئ باندې كهولاؤ كړو مالله نو حضرت اوفرمائيل زۀ زيات عزيز (يعني نژدے) يم مؤمنانو ته پخپله د هغوئ د روحونو نه (انتهائي محبت دے چه پخپله د هغوئ نه زيات د هغوئ دوست شو) اوس چه څوك قرضدارے مړوى نو دقرض اداكول ئے زما په ذمه دى، او څوك چه څه مال پريږدى او مړ شي نو هغه د هغه دوارثانو دے۔

فائده : نووى وئيلے دى چه حضرتﷺ په قرضدارے باندے څكه (دجنازے)مونځ نه لوستلو چه ددے ژوند وخلقو په زړه كښ ويره پيداشي، او هغوئ دقرض په ادا كولو كښ كوشش كوى، چه چرے داسے نوى چه مړ شي او رسول الله صلى الله عليه وسلم پرے مونځ د(جنازے) ادانۀ كړى، او دا په شروع داسلام كښ وو هر كله چه دحضرت صلى الله عليه وسلمسره دومره مال نۀ وو چه دخلقو قرضه ئے دخپل طرفنه ادا كړے وے ، او دا حديث هم دنبى كريم صلى الله عليه وسلم دنبوت يو لوئے دليل دے، سوا د هغوئ نه په بل چا كښ .ورمه حرأت نشته دے چه دخلقو قرضه په خپله ذمه واخلى، او مال د هغوئ وارثانو ته وركړى، او بعضو وئيلے دى چه رسول اللهصلى الله عليه وسلم به دا قرض دمسلمانانو دمال نه وركول،او څنو وئيلے دى چه دخاصدخپل مال نه به ئے ادا كولو ، او څنو وئيلے دى چه دافعل په هغوئ باندې واجب وو. او څنو وئيلے دى چه حضرت به تبرعا داسے كولو۔ اوزمونږ ملګرو اختلاف كړے دے چه هر كله څوك قرضدارے مړشي د هغه قرضه به دبيت المال نه ادا كولے شي يا نۀ (نووى مختصراً)

(۴۱۵۹) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِىِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِىْ نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهٖ اِنْ عَلَى الْاَرْضِ مِنْ مُؤْمِنٍ اِلَّا وَاَنَا اَوْلَى النَّاسِ بِهٖ اَوْضَيَاعًا فَاَنَا مَوْلَاهُ وَاَيُّكُمْ تَرَكَ مَالًا فَاِلَى الْعَصَبَةِ مَنْ كَانَ

ترجمه: د حضرت ابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمائيل قسم دے په هغه ذات د چا په لاس كښے چه دمحمد روح دے په زمكه باندې داسے يو مؤمن نشته چه هغه ته د هر څه زيات زه نزدے يم ، پس څوك چه ستاسو نه قرضه يا

بال بچ پریږدی. نو زهٔ د هغوئ مددګاریم (یعنی د هغه قرضونه اداکول او د هغه د بال بچ پرورش زما په ذمه دے) او څوک چه ستاسو نه مال پریږدی نو هغه د هغه دوارث دے هر څوک چه وی۔

(۴۱۶۰) عن همام ابن منبه قال هذا ما حدثنا ابو هریرة رضی الله تعالی عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکر احادیث منها وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم انا اولی الناس بالمؤمنین فی کتاب الله عزوجل فایکم ما ترک دینا او ضیعة فادعونی فانا ولیه وایکم ما ترک مالا فلیؤثر بماله عصبته من کان .

ترجمه: د همام بن منبهؒ نه روایت دے هغه دادے چه حدیث بیان کړے دے مونږ ته ابو هریرةؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه. او بیان ئے کړل څو حدیثونه چه په هغے کښې یو داهم وو چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل زهٔ زیات نزدے یم د مؤمنانو ته د هغوئ د خپل روحونو نه د الله تعالی د کتاب په موجب (د دے ایت) النبی اولی بالمؤمنین من انفسهم) بیا چه څوک د ستاسو نه قرض یا بال بچ پریږدی پس ما راغواړئ زهٔ د هغوئ ذمه واریم ، او هر هغه څوک چه هغه ستاسو نه مال پریږدی. نو د هغه عصبه دئے واخلی هر څوک چه وی۔

(۴۱۶۱) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال من ترک مالا فلورثته ومن ترک کلا فالینا .

ترجمه : د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه مال پریږدی هغه د هغه دوارثانو دے، او څوک چه څه بوجه پریږدی (قرض یا بال بچ) پس هغه زمونږ په طرف دی۔

كتاب الهبات .

دهبې او صدقې مسئلې .

باب كراهة شرآء الانسان ما تصدقا به ممن تصدق عليه .

باب : چالره چه څه څیز په صدقه کښې ورکړے بیا د هغه نه هغه څیز اخستل مکروه دی .

(۴۱۶۳) عن عمر ابن الخطاب رضی الله تعالی عنه قال حملت علی فرس عتیق فی سبیل الله فاضاعه

صاحبهٔ فظننت انهٔ بائعهٔ برخص فسألت رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم عن ذلک فقال لا تبتعه ولا تعد فی صدقتک فان العائد فی صدقته کالکلب یعود فی قیئه . [بخاری . نسائی . ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما یو مزیدار اس دالله په لاره کښې ورکړو، پس چاله چه م ورکړے وو د هغه نه ډیر خراب شولو. ما دا اوګنړل چه دابه اوس په ارزان قیمت سره خرڅوی، ما درسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو. حضرتؐ اوفرمائیل مهٔ اخله دے لره او مهٔ واپس کوه خپلے صدقے لره ځکه چه صدقه واپس کونکے دسپی پشان دے چه هغه قے اوکړی او بیائے خوری۔

فائده: نوویؒ وئیلے دی دانهی تنزیهی ده نهٔ تحریمی او صدقه واپس کول درست نهٔ دی البته کچرے خپل اولاد ته ئے هبه کړی نو رجوع ورته کولے شی۔

(۴۱۶۵) عَنْ عُمَرَ رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ حَمَلَ عَلٰی فَرَسٍ فِیْ سَبِیْلِ اللہِ فَوَجَدَهٗ عِنْدَ صَاحِبِهٖ وَقَدْ اَضَاعَهٗ وکان قلیل المَالِ فَاَرَادَ اَنْ یَّشْتَرِیَهٗ فَاَتٰی رَسُوْلَ اللہِ صَلَّی اللہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ ذٰلِکَ لَهٗ فقال لا تشتره وانْ اُعْطِیْتَهٗ بِدِرْهَمٍ فَاِنَّ مِثْلَ الْعَائِدِ فِیْ صَدَقَتِهٖ کَمَثَلِ الْکَلْبِ یَعُوْدُ فِیْ قَیْئِهٖ. [راجع : ۴۱۶۱]

ترجمه: دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه هغوئ یو اس ورکړو دالله تعالی په لاره کښې، بیائے چه اولیدو نو هغه چه دچاسره وو هغوئ تباه کړے وو، (دوبنو او دانے دے خبرئ دوجے نه) او هغه نادار یعنی کمزورے وو، نو حضرت عمرؓ دا غوښتل چه بیائے واخلی، او درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغے، او هغوئ ته ئے ذکر اوکړو، حضرتؐ او فرمائیل مهٔ اخله دے لره اګر که په یو درهم بانډ میلاویږی، ولے چه مثال ددے دخپلے صدقے دواپس کولو دے، او مثال ئے پشان دسپی دے چه قے اوکړی او بیاے خوری۔

(۴۱۶۷) عن ابن عمر ان عمر ابن الخطّاب رضی اللہ تعالی عنهٗ حمل علی فرس فی سبیل اللہ فوجدهٗ یُبَاعُ فاراد ان یّبتاعهٗ فسال رَسُوْلَ اللہِ صلی اللہ علیہ وسلم عن ذلک فقال لا تبتعهٗ وَلا تعد فی صدقتک.[بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه حضرت عمرؓ رضی الله تعالی عنه یو اس ورکړو دخدائے په لاره کښې بیائے اولیدو چه هغه اس خرڅیدو حضرت عمرؓ هغے لره اخستل

غوښتل نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ئے تپوس اوکړو حضرت ورته او فرمائیل مهٔ اخله دے لره او مهٔ واپس کوه خپلے صدقے لره۔

(۴۱۶۹) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما ان عمر حمل علی فرس فی سبیل الله ثم رآها تباع فاراد ان یشتریها فسال النبی صلی الله علیه وسلم فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم لا تعد فی صدقتک یاعمر. [راجع: ۴۱۶۵]

ترجمه: د عبدالله ابن عمر رضی الله تعالی عنهما نه د تیر شوی حدیث په شان روایت دے په دے کښې صرف دا سوادی چه مهٔ واپس کیږه په خپله صدقه کښې اے عمرؓ۔

باب تحریم الرجوع فی الصدقة.

باب دے په بیان د حرام والی په واپس کولو د صدقے کښې.

(۴۱۷۰) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال مثل الذی یرجع فی صدقته کمثل الکلب یقیئ ثم یعود فی قیئه فیاکله. [باری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی مثال د هغه کس چه هغه واپس کوی خپلے صدقے لره مثال ئے پشان د سپی دے چه هغه قے اوکړی او بیا هغے لره او خوری۔

(۴۱۷۱) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما یقول سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول انما مثل الذی یتصدق بصدقة ثم یعود فی صدقته کمثل الکلب یقیئ ثم یاکل قیئه. [راجع: ۴۱۷۰]

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه ما اوریدلے دے د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلو ئے مثال د هغه سړی چه هغه صدقه ورکړی او بیائے واپس اخستل غواړی پشان د سپی چه هغه قے اوکړی او بیا اوخوری هغے لره۔

(۴۱۷۲) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما عن النبی صلی الله علیه وسلم انه قال العائد فی هبته کالعائد فی قیئه. [راجع: ۴۱۷۰]

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه هبه کښے د واپس کولو والا مثال داسے دے چه هغه قے اوکړی او

بیانے دخوړلو دپاره ورشی هغه لره.

(۴۱۷۶) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال العائد فی هبته کالکلب یقئ ثم یعود فی قیئه. [بخاری، نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی هتے لره واپس کونکے په مثال د سپی دے چه هغه قے اوکړی او بیا هغے خپل قی لره خوری.

باب کراهیة تفضیل بعض الاولاد فی الهبة.

باب: څنې اولادته کم او څنې ته زیات ورکول مکروه دی.

(۴۱۷۷) عن النعمان ابن بشیر قال ان اباه رضی الله تعالی عنه اتی به رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال انی نحلت ابنی هذا غلاما کان لی فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم اکل ولدک نحلته مثل هذا؟ فقال لا فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم فارجعه. [بخاری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دنعمان بن بشیرؓ نه روایت دے هغویؓ وائی چه زما خپل پلار (بشیرؓ) دځان سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راوستم. او ونیل ما دے خپل هلك ته یو غلام هبه کړے دے. حضرتؐ ترے تپوس اوکړو تا خپلو نورو هلکانو له هم دغه شان یو یو غلام ورکړے دے؟ هغویؓ اوونهٔ. حضرتؐ ورته اوفرمائیل نو د ده نه ئے هم واپس واخله.

فائده: د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه خپل اولاد ته صدقه ورکړے د هغه نه ئے بیا واپس کولے شے. او هغه منع نهٔ دی نوویؒ ونیلی دی د دے حدیث نه دا خبره راووتله چه اولاد ته په ورکولو کښې برابری کول پکاری دی. او هلك جینئ دواړه برابر دی. او څنو د هلك دوه حصے کړے دی او د جینئ یوه. کچرت یو ته زیات وکړی او بل ته کم نو دَ امام شافعیؒ او مالكؒ او دَابو حنیفهؒ په نزد دا مکروه دی او حرام نهٔ دی او هبه صحیح ده. او طاوس او عروه او مجاهد او نوویؒ او احمدؒ او دَ اسحقؒ په نزد حرام دی او هبه باطله ده

(۴۱۷۸) عن النعمان ابن بشیر قال وقد اعطاه ابوه غلاما فقال له النبی صلی الله علیه وسلم ما هذا الغلام قال اعطانیه ابی قال فکل اخوته اعطیته کما اعطیت هذا قال لا قال فارده. [راجع: ۴۱۷۷]

ترجمه: د نعمان بن بشیر نه روایت دے چه د هغوئ پلار د هغوئ ته یو غلام ورکړے و رسول الله صلی الله علیه وسلم ترے تپوس اوکړو داڅنګه غلام دے؟ هغوئ اووے دا زما پلار ماته راکړے دے حضرت د هغوئ پلار ته اووے ایا تا د نعمان ټولو رونړو ته هم دغسے غلام ورکړے دے لکه څنګه چه د نعمان ته ورکړے دے هغوئ اووے نه حضرت اوفرمائیل ته نے د هغه نه هم واپس کړه.

(۴۱۸۱) عن النعمان ابن بشیر قال تصدق علی ابی ببعض ماله فقالت امی عمرة بنت رواحة لا ارضی حتی تشهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فانطلق ابی الی النبی صلی الله علیه وسلم لیشهده علی صدقتی فقال له رسول الله صلی الله علیه وسلم افعلت هذا بولدک کلهم قال لا قال اتقوا الله واعدلوا فی اولادکم فرجع ابی فرد تلک الصدقة. [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے وائی چه څما پلار خپل څه مال ماته هبه کړلو، څما مور عمره بن رواحهؓ اووے زۀ به هله خوشحاله شم چه ته په دے باندِ رسول الله صلی الله علیه وسلم ګواه کړے، څما پلار د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله لاړو، حضرتؐ ترے تپوس اوکړو تا خپل ټول اولاد ته دغه شان (مال) ورکړے دے؟ هغوئ اووے نه، حضرتؐ اوفرمائیل دَ الله جل شانه نه او ویریږه او انصاف اوکړه په خپل مال کښِ بیا څما پلار هغه هبه واپس واخسته.

(۴۱۸۲) عن النعمان ابن بشیر رضی الله تعالی عنهما ان امه بنت رواحة سئلت اباه بعض الموهبة من ماله لابنها فالتوی بها سنة ثم بداله فقالت لا ارضی حتی تشهد رسول الله صلی الله علیه وسلم علی ما وهبت لابنی فاخذ ابی بیدی وانا یومئذ غلام فاتی رسول الله صلی الله علیه وسلم یا رسول الله ان ام هذا بنت رواحة اعجبها ان اشهدک علی الذی وهبت لابنها فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم یا بشیر الک ولد سوی هذا قال نعم قال اکلهم وهبت له مثل هذا قال لا قال فلا تشهدنی اذا فانی لا اشهد علی جور. [راجع: ۴۱۸۱]

ترجمه: د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے چه دَ هغوئ مور د رواحهؓ لور دَ(نعمان)د پلار نه سوال اوکړه چه د خپل مال نه د هغوئ ځوئ ته(یعنی نعمان ته) څه هبه کړی لیکن بشیرؓ د یو کاله پورے په دے خبره څه غور اونۀ کړو، بیا هغوئ تیار شولو هغے کولو ته، نو د نعمانؓ مور اووے زه

راضی نهٔ یم تر هغې پورې چه ته گواه نهٔ کړې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې هبه باند نو زما پلار زهٔ د لاسه اونیوم اوزهٔ په دغه ورځو هلك وُم. او د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو ځما پلار عرض اوکړو یا رسول الله! د ده مور بن رواحهٔ دا غوښتلی دی چه تاسو گواه شئ په دې هبه باند حضرت اوفرمائیل اے بشیر! د ده نه سوا ستا نو هلکان شته دے؟ بشیر اووے هاں! حضرت اوفرمائیلی هغوی ته هم دغه شان هبه تا کړے ده؟ بشیر اووے نهٔ. حضرت اوفرمائیل بیا خو مهٔ گواه کوه ولے چه زهٔ په ظلم باندِ گواه نهٔ شم کیدے.

(۴۱۸۳) عن النعمان ابن بشیر ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال الک بنون سواه؟ قال نعم قال فكلهم اعطيت مثل هذا قال لا قال فلا اشهد على جور. [راجع: ۴۱۸۱]

ترجمه: د حضرت نعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے. جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اے ستا د ده نه سوا نور ځامن شته؟ بشیر اووے هاں حضرت اوفرمائیل! نورو ځامنو ته هم تا دغه شان ورکړے دی. بشیر اووے نهٔ. حضرت اوفرمائیل نو بیا زهٔ گواه نه شم کیدے په ظلم باندِ.

(۴۱۸۴) عن النعمان ابن بشير رضى الله تعالى عنهما ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لابيه لا تشهدني على جور. [راجع: ۴۱۸۳]

ترجمه: دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے. جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د هغوی پلار ته مهٔ گوه کوه ما لره په ظلم باندِ.

(۴۱۸۵) عن النعمان ابن بشير رضى الله تعالى عنهما قال انطلق بى ابى يحملنى الى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال يا رسول الله اشهد اشهد انى قد نحلت النعمان كذاو كذا من مالى فقال اكل بنيك قد نحلت النعمان؟ قال لا قال فاشهد على هذا غيرى ثم قال ايسرك ان يكونوا اليك فى البر سواء؟ قال بلى قال فلا اذا. [راجع: ۴۱۸۱]

ترجمه: دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله ئې یو رمَه. او اوئے وئیل چه یا رسول الله تاسو گواه شئ چه ما نعمانٔ لره فلانے فلانے شے د خپل مال نه هبه کړے دے، حضرت ورته اوفرمائیل! اے تا تولو ځامنو ته دغه

شان وکړی شی لکه چه څنګه نعمانؓ ته ورکوے؟ څما پلار اووے نهٔ، حضرتؐ اوفرمائیل چه بیا ما لره مهٔ ګواه کوه، بل څوك ګواه کړه. او ددے نه پس نے اوفرمائیل، ایے تهٔ خوشحاله نے په دے سره چه سول د برابر وی ستا سره په نیکئ کولو کښ. څما پلار اووے هاں! حضرؐ اوفرمائیل نو بیا داسے مهٔ کوه(یعنی چه یو له ورکوے او بل له نهٔ ورکوے.)

(۴۱۹۶)عن النُّعمان ابن بشیر قال نحلنیْ ابی نحلاً ثُمّ اتی بیْ الی رَسُوْل الله صَلَّے اللهُ علیه وَسَلّم لیُشْهدهٗ فقال اکُلَّ ولدک اعطیتهٗ هذا قال لا قال الَیْس تُرِیْدُ مِنْهُمُ البِرَّ مِثْل ما تُرِیْدُ مِنْ ذا قال بلی قال فانّیْ لا اشْهَدُ قال ابْنُ عوْنٍ فحدَّثْتُ به مُحَمّدا فقالَ اِنّما حُدثْتُ اِنَّهٗ قال قاربُوْا بیْنَ ابْنآءِ کُمْ.

ترجمه :د نعمان بن بشیرؓ نه روایت دے وائی چه زما پلار ما ته څه هبه راکړه بیا ئے د څام سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله بوتلم، حضرتؐ لره ګواه جوړولو د پاره حضرتؐ تپوس اوکړو . ایے تا خپلو ټولو څامنو له دغه شان ورکړے دی څما پلار اووے نهٔ، حضرتؐ اوفرمائیل ولے تهٔ نهٔ غواړے چه ستا ټول څامن د نیکان شی لکه څنګه چه دا هلك غواړے؟ هغویؓ اووے ولے نهٔ، حضرتؐ اوفرمائیل زهٔ نهٔ ګواه کیږی ابن عون وائی ما دا حدیث محمد ته بیان کړو، هغویؓ اووے ما ته نعمانؓ دا بیان کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل برابری کوئ خپل اولاد ته په ورکولو کښ.

(۴۱۹۷) عَنْ جابرٍ رَضِیَ اللهُ تَعالیٰ عَنْهُ قَالَ قَالَتِ امْرَاةُ بَشِیْرٍ انْحَلْ اِبْنِیْ غُلَامَکَ وَاَشْهِدْ لِیْ رَسُوْلَ اللهِ صَلّے اللهُ علیه وسلّم فاتی رَسُوْلَ الله صَلّے اللهُ عَلَیْه وَسَلَّم فَقَالَ اِنَّ بِنْتَ فُلَانٍ سَئَلَتْنِیْ اَنْ اَنْحَلَ ابْنَهَا غلامیْ، وقالتْ اشْهِدْ لیْ رَسُوْلَ اللهِ صَلّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم فَقَالَ اَلَهٗ اِخْوَةٌ قَالَ نَعَمْ اَلَهٗ اخوَةٌ قال نَعَمْ قَالَ افَکُلَّهُمْ اعْطَیْتَ مثْل ما اَعْطَیْتَهٗ؟قالَ لا قالَ فلَیْسَ یَصْلُحُ هذا وَ اِنِّیْ لَا اَشْهَدُ اِلّا عَلٰے حَقٍّ. [ابوداود]

ترجمه:د جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه د بشیرؓ ښځے خپل خاوند ته اووے، چه دا غلام څما څوئ هبه کړه او ګواه کړه په دے باندے جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم لره . هغوئ رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغے اوعرض ئے اوکړو چه د فلانی لور ما ته دا وئیلے دی چه زهٔ د د هغے څوئ ته خپل غلام هبه کړم او تاسو لره ګواه کړم، حضرتؐ ورته اوفرمائیل د ده نور هم رونړه شته؟ هغویؓ اووے هاں شته حضرتؐ اوفرمائیل تا هغوئ ټولو ته

دغه شان(غلام)ورکړې دے کوم چه د ده ته ورکړو" هغوی" اووے نۀ،حضرتؐ اوفرمائیل بیا خودا درست نۀ دی، او زۀ خو گواه نۀ جوړیږم مگر په حق باند.

باب العمرٰی .

باب:د عمری بیان .

فائده : نووی ؒ وئیلے دی عمریٰ وئیلے شی داسے وئیلو ته چه دا کور ما تا ته د عمر د پاره درکړ یا د تول شوند د پاره یا د کومے پورے چه تۀ ژوندے نے،یا باقی پاتے نے۔زمونږ ملگرو وئیلے دی شه د عمرے درے حالتونه دی(۱)یو خو په داسے اووائی چه دا کور ما تا له عمر دَپاره درکړو بیا هر کله چه ته مړ شے نو ستا نه پس به ستا دَ وارثانو یا پس مانده گانو وی،دا عمریٰ خو د خلاف نه بغیر صحیح ده اوپه مثل دَ هبے ده،په دے صورت کښں به د موهوب وارث ئے نۀ وی نو په بیت المال کښے به داخلیږی خو عمریٰ کولو والاته به بیا نۀ میلاویږی۔

(۲)دویم قسم دا ده چه داسے اووائی چه ما تا له د تول عمر د پاره درکړو صرف دومره قدرے نور څه اونۀ وائی،په دے کښے د شافعیؒ دوه قولونه دی ډیر صحیح دا دے چه دا هم صحیح دے او د دے حکم هم دَ اول پشان دے.او دویم قول ئے دا دے چه دا عقد باطل دے او زمونږ څنے ملگرو وئیلے دی چه د شافعیؒ قول قدیم دا دے چه دغه کور به د هغه د ژونده پورے د هغه په قبضه کښں وی او د هغه دَ وفات نه پس به عمریٰ کولو والا ته میلاویږی،او کچرے هغه نۀ وی نو د هغه وارثانو ته به میلاویږی.او څنو وئیلے دی چه قولِ قدیم ئے دا دے چه هغه به د عاریت په مثل وی هر کله چه عمری ورکولو والا غواړی واپس کولے ئے شی ، او که هغه مړ شی نو دا حق به د هغه وارثانو ته حاصل وی.

(۳)دریم دا چه داسے اووائی چه دا کور ما تا ته د عمر بهر د پاره درکړو خو هر کله چه ته مړ شے نو دا کور به زما یا زما د وارثانو وی،د دے صحیح دا ده چه دا عقد هم صحیح دے،او د دے حکم هم د اول په شان دے . او دلیل د دے احادیثِ صحیحه دی،او شروطِ فاسده لغوه دی،او چا ته چه عمری ورکړے شوه هغه به د دغه کور مالك وی،او دَامامِ احمدؒ په نزد عمریٰ مطلق صحیح ده او وخت مقرره پکښں صحیح نۀ دی،او دَ امامِ مالكؒ په نزد په تولو صورتونو کښں په

عمری سره د نفع اخستلو حق به معمرله ته حاصل وی،او ملك د عمری كولو والا به په خپل دستور قائم وی،او د امام ابو حنيفة په نزد كولو والا به په خپل دستور قائم وی ۔او د امام ابو حنيفة په زند عمری صحيح ده،او د هغوی مذهب هغه دے كوم چه د شافعی دے او دغه قول دے د ثوری او حسن بن صالح او دَ ابو عبيد انتهى بلفظ۔

(۴۱۸۸) عَنْ جابر ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعالى عنهما اَنَّ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عليه وسلم قال اَيُّما رَجُلٍ اُعْمِرَ عُمْرى لَهُ وَلِعَقِبِه فَاِنَّها كَلِّذِيْاُعْطِيْها لا تَرْجِعُ الى الّذِىْ اعطاها لانَّهٗ اَعْطٰى عطآءً وقعتْ فيه الْمواريثُ.

ترجمه :د جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روايت دے چه جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی كوم سړی چه عمری اوكړه چا د پاره او د هغه دوارثانو د پاره(يعنے داسے اووائی چه دا كور ما تا ته د تول عمر د پاره دركړواوستا نه وارثانو ته)نو هغه دَ هغه چا شو(يعنے دَمعمرله)او دَ وركونكی په طرف نۀ به واپس كيږی.ځكه چه ده وركړو په دے شان چه په هغے كښی تركه راغله(يعنی دَ وارثانو حق اوګرځيدو۔)

(۴۱۸۹) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّهٗ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ اَعْمَرَ رَجُلًا عُمْرىٰ لَهٗ وَلِعَقِبِه فَقَدْ قَطَعَ قَوْلُهٗ حَقَّهٗ فِيْهَا وَهِىَ لِمَنْ اُعْمِرَ وَلِعَقِبِه غَيْرَ اَنَّ يَحْيٰى قَالَ فِىْ اَوَّلِ حَدِيْثِه اَيُّمَا رَجُلٍ اُعْمِرَ عُمْرىٰ فَهِىَ لَهٗ وَ لِعَقِبِه. [راجع : ۴۱۸۸]

ترجمه:دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روايت دے هغوی وائی ما اوريدلی دی د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم نه چه فرمائيلے ئے وو.څوك چه عمری اوكړی د چا د پاره نوده خپل حق ضائع كړلو اوس به هغه معمرله وی او د هغه دَ وارثانو به وی،د يحيی په روايت كښے داسے دی چه څوك عمرے اوكړی نو هغه د معمرله دے او د هغه د وارثانو۔

(۴۱۹۰) عَنْ جابرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَيُّمَا رَجُلٍ اَعْمَرَ رَجُلًا عُمْرىٰ لَهٗ وَ لِعَقِبِه فَقَالَ لَهٗ قَدْ اَعْطَيْتُكَهَا و عَقِبَكَ مَا بَقِىَ مِنْكُمْ اَحَدٌ فَاِنَّمَا لِمَنْ اُعْطِيَهَا فَاِنَّهَا لَا تَرْجِعُ اِلٰى صَاحِبِهَا مِنْ اَجَلِ اَنَّهٗ اَعْطٰى عَطَآءً وَّقَعَتْ فِيْهِ الْمَوَارِيْثُ. [راجع : ۴۱۸۸]

ترجمه :د جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روايت دے چه جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل كوم سړے چه عمری وركړی بل لره د هغه د ژوندون پورے لو د هغه نه

پس د هغه وارثانو ته او داسے اووائی چه دا ما تاسو له درکړو او ستاسو نه ورستو ستا وارثانو لره، د کومے پورے چه په هغوئ کښے یو ژوندے پاتے وی نو د هغه به وی چا ته عمرٰی ورکړے شوے ده، او عمرٰی ورکولو والا ته به نۀ میلاویږی، ځکه چه ده په دے شان ورکړو چه په هغے کښې میراث راغے۔

(۴۱۹۱) عَنْ جابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تعالٰی عَنْهُ قالَ اِنَّمَا الْعُمْرٰی الَّتِیْ اَجازَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یَّقُوْلَ هِیَ لَکَ وَلِعَقِبِکَ فَاَمَّا اِذَا قالَ هِیَ لَکَ مَا عِشْتَ فَاِنَّهَا تَرْجِعُ اِلٰی صَاحِبِهَا قالَ مَعْمَرٌ وَ کَانَ الزُّهْرِیُّ یُفْتِیْ بِهٖ. [راجع : ۴۱۸۸]

ترجمه: د حضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے ، هغه عمرٰی کومه چه جائز کړے ده جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم داده چه عمرٰی ورکونکے داسے اووائی چه دا ستا ده او ستا دَوارثانو ده، او خوك چه داسے اووائی چه دا ستا ده د کومے پورے چه تۀ ژوندے ئے ، نو هغه به د ده د مرګ نه پس عمرٰی ورکونکی ته لاړه شی معمر وائی چه زهری به هم دغسے فتوٰی ورکوله۔

(۴۱۹۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَضٰی فِیْمَنْ اَعْمَرَ عُمْرٰی لَهٗ وَ لِعَقِبِهٖ فَهِیَ لَهٗ بَتْلَةً لَا یَجُوْزُ لِلْمُعْطِیْ فِیْهَا شَرْطٌ وَّلَا ثُنْیَا قَالَ اَبُوْ سَلَمَةَ لِاَنَّهٗ اَعْطٰی عَطَآءً وَّقَعَتْ فِیْهِ الْمَوارِیْثُ فَقَطَعَتِ الْمَوَارِیْثُ شَرْطَهٗ. [راجع : ۴۱۸۸]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو هغه خوك چه عمرٰی ورکړی یو سړی لره او د هغه نه پس د هغه وارثانو لره نو قطعی دَ مُعمِرُله مِلك کیږی ، اوس څه شرط یا استثناء د عمرٰی ورکولو والا به جائز نۀ وی، ابو سلمهٔ وائی ځکه چه ده هغه ورکړه اوکړو چه په هغے کښې میراث راغے، او میراث هغه شرط لره ختم کړو۔

(۴۱۹۳) عَنْ جابِرٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تعالٰی عَنْهُ یَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَلْعُمْرٰی لِمَنْ وُّهِبَتْ لَهٗ.

ترجمه: د حضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وای چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی عمرٰی هغه چا ته میلاویږی چا له چه ورکړے شی۔

(۴۱۹۶) عن جابرٍ رَضی الله تعالیٰ عنهُ قال رَسُولُ الله صلی الله علیه وسلم امسِکُوا علیکُم اموالکم ولا تفسِدُوها فانّهُ من اعمر عُمریٰ فهی لِلّذی اُعمِرها حیّا وَ میّتا وَ لعقبه.

ترجمه: د حضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی او نیسئی تاسو مالونو خپلو لره او مه فاسد کوئ هغے لره ولے چه څوك عمریٰ اوکړی هغه به د هغه چاوی چا له چه ورکړے شی، که ژوندے وی یا مړ او د هغه وارثانو لره۔

(۴۱۹۷) عن جابرٍ رَضِیَ الله تعالیٰ عنهُ عنِ النّبیّ صلّے الله علیه وَسلّم بمعنٰی حدیثِ ایُّوب مِن الزّیادة قال جعل الانصارُ یُعمِرُونَ المُهاجرینَ فقال رَسُولُ اللهِ صلَّے الله عَلَیهِ وَسلّمَ امسِکُوا علیکُم اموَالکُم [راجع: ۴۱۷۳]

ترجمه: د جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه د پورته روایت پشان روایت دے صرف دومره پکښ زیاتوالے دے چه انصارو عمریٰ کول شروع کړو دَ مهاجرینو دَ پاره، پس رسول الله صلی الله علیه وسلم لوفرمائیل، منع کړئ خپلو مالونو لره۔

(۴۱۹۸) عن جابر رَضی الله تعالیٰ عنهُ قال عُمرتِ امرأة بالمدینة حائطا لّها ابنا لّها ثمّ توفّی وتوفّیت بعدهُ وَ ترک ولدا وّلهٗ اِخوة بنُونَ لِلمُعمِرة رَجع الحَائِطُ اِلینا وَقال بنُو المُعمَرِ بل کان لابینا حیاتهٗ وَموتهٗ فاختصمُوا اِلی طارقٍ مّولیٰ عُثمانَ فدَعا جابراً فشهدَ علٰے رَسُولِ اللهِ صلَّے الله عَلَیهِ وَسلَّمَ بِالعُمریٰ لِصاحِبها فقضی بِذلِکَ طارقٌ ثُمّ کتبَ اِلی عَبدِالمَلِکِ فاَخبَرهُ بذلِکَ واَخبرهُ بِشهادةِ جابرٍ فقالَ عَبدُالمَلِکِ صَدَقَ جابرٌ فامضی ذٰلِکَ طارقٌ فاِنَّ ذٰلِکَ الحَائِطَ لِبَنِی المُعمَرِ حتّی الیَومَ. [نسائی]

ترجمه: د جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے، یوے ښځے په مدینه کښے خپل ځوئ لره یو باغ ورکړو د عمریٰ په طور باندے، بیائے هغه ځوئ مړ شو د هغه نه پس هغه ښځه مړه شوه او اولاد ئے پریخودو او رور، نو د ښځے اولاد اووے باغ بیا زمونږ په طرف راغے، او دَ هلك ځوئ اووے باغ زما د پلار وو د هغه په ژوند او مرګ کښ، بیا دواړو جګړه اوکړله دَ طارق سره چه کوم لزاد کړے غلام وو د عثمان بن عفانؓ هغوئؓ جابرؓ راوغوښتو او جابرؓ ګواهی ورکړه د رسول الله صلی الله علیهٗ وسلم په فرمائیلو باندے چه عمریٰ د هغه چا ده چا له چه ورکړے شی، بیا دغه حکم اوکړو طارق او پس د دے نه ئے عبدالملك بن مروان ته اولیکل چه جابرؓ دغسے ګواهی ورکړے

ده.عبدالملك اووے جابر رضى الله عنه ته ليبا واني بيا طارق هغه حكم جاري كړو.او هغه ابغ د نن ورځے پورے د هغے هلك د اولاد سره دے۔

(۴۱۹۹) عَنْ سُلَيْمَانَ ابْنِ يَسَارٍ اَنَّ طَارِقًا قَضَى بِالْعُمْرَى لِلْوَارِثِ لِقَوْلِ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: د سليمان بن يسارؒ نه روايت دے طارق فيصله اوكړه دَ عمرىٰ د معمر له دَ وارث دَ پاره په وجه د جابرؓ د حديث كوم چه هغوىٰ د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت كړو۔

(۴۲۰۰) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرٰى جَائِزَةٌ. [بخارى ، نسائى]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضى الله تعالى عنهما نه روايت دے رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چه عمرىٰ جَائزه ده۔

(۴۲۰۱) عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ الْعُمْرٰى مِيْرَاثٌ لِاَهْلِهَا. [راجع: ۴۲۰۰]

ترجمه: دحضرت جابر رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى عمرىٰ ميراث دے دهغه چا چاته چه عمرىٰ وركړے شوے وى۔

(۴۲۰۲) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الْعُمْرٰى جَائِزَةٌ [بخارى ،ابوداود ، نسائى]

ترجمه: دابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى چه عمرىٰ جائز ده۔

كِتَابُ الْوَصِيَّةِ.

دوصيَّت بيان.

(۴۲۰۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا حَقُّ امْرِءٍ مُسْلِمٍ لَهٗ شَيْءٌ يُرِيْدُ اَنْ يُوْصِيَ فِيْهِ يَبِيْتُ لَيْلَتَيْنِ اِلَّا وَوَصِيَّتُهٗ مَكْتُوْبَةٌ عِنْدَهٗ. [ابوداود]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضى الله تعالى عنهما نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه

وسلم فرمائیلي دي مسلمان لره لائق نهٔ دي چه د هغه سره څه څیز وي چه د هغې دپاره هغه لره وصیت کول غواړي او دوه شپې تیرې کړي پې د وصیت لیکلونه په نزد هغې۔

فائده: یعنې دکوم بنده سره چه حقوق یا مالونه وي او هغه لره وصیت ضروري وي نو غوره داده چه وصیت لیکلے هر وخت دخپل ځان سره ساتي، داسې نهٔ وي چه مرګ راشي او وصیت او نهٔ لیکلې شي۔

(۴۲۰۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَاحَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْئٌ يُوْصِيْ فِيْهِ يَبِيْتُ ثَلَاثَ لَيَالٍ اِلَّا وَوَصِيَّتُهُ عِنْدَهُ مَكْتُوْبَةٌ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا مَامَرَّتْ عَلَيَّ لَيْلَةٌ مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ذٰلِكَ اِلَّا وَعِنْدِيْ وَصِيَّتِيْ۔

[نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمررضی الله تعالی عنهما نه روایت دے، هغوئ اوریدلي دي درسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه نهٔ دي لائق چا مسلمان لره چه دهغه سره څه شے دوصیت کولو قابل وي او په هغه درے شپے تیرے شي، مګر دهغې وصیت دهغه سره لیکلے کیدل پکار دي، عبدالله بن عمرؓ وائي ما چه دکله نه دا حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي دهغې ورځې نه پس په ما یوه شپه هم داسې نهٔ ده تیره شوې چه څما سره دڅما وصیت نهٔ وي۔

فائده: نووي رحمه الله علیه وئیلي دي اجماع کړې ده مسلمانانو یعنی اهل اسلامو چه وصیت مامور به دے، لیکن زمونږ او دجمهور علماؤ مذهب دادے چه وصیت مستحب دے واجب نهٔ دے، او داؤد او اهل ظاهر وائي چه واجب دے، لیکن کچرے په جابنده باند، قرض وي یا څه حق وي یاورسره دچاامانت وي نو (وصیت)بیا په اتفاق د(علماؤ) سره واجب دے، او غوره دا دے چه اوے لیکي او په هغې باندې ګواه اونیسي، او کوم امر چه نوے وي هغې لره درج کوي، لیکن دا ضروري نهٔ ده چه هره خبره دِ لیکي بلکه داهمو خبرولیکل کافي دي۔

(۴۲۰۹) عَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ عَادَنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ اَشْفَيْتُ مِنْهُ عَلَى الْمَوْتِ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ بَلَغَ بِيْ مَاتَرٰى مِنَ الْوَجَعِ وَاَنَا ذُوْمَالٍ وَلَا يَرِثُنِيْ اِلَّا ابْنَةٌ وَاحِدَةٌ اَفَاَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِيْ قَالَ لَا قَالَ قُلْتُ اَفَاَتَصَدَّقُ بِشَطْرِهٖ قَالَ لَا قُلْتُ الثُّلُثُ كَثِيْرٌ اِنَّكَ اَنْ تَذَرَ

ورثتک اغنیاء خیر من ان تذرهم عالة یتکففون الناس ولست تنفق نفقة تبتغی بها وجه الله الا اجرت بها حتی اللقمة تجعلها فی فی امراتک قال قلت یارسول الله اخلف بعد اصحابی قال انک لن تخلف فتعمل عملا تبتغی به وجه الله الا ازددت به درجة ورفعة ولعلک تخلف حتی ینفع بک اخرون . اللهم امض لاصحابی هجرتهم ولا تردهم علی اعقابهم لکن البائس سعد ابن خولة قال ورثی له رسول الله صلی الله علیه وسلم من ان توفی بمکة . [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه :دسعد بن ابی وقاص رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم څما تپوس له راغے په حجة الوداع کښ . او زهٔ په داسے درد کښے مبتلا وُم چه مرګ ته نزدے شوے وُم ما عرض اوکړو یَا رسول الله! ما ته څنګه درد دے تا ته پته ده.او زهٔ مالدار سړے یم لو زما وارث سوا دیوے لورنه نور څوك نشته دے.ایا زهٔ په دریو کښے دوه حصے مال خیرات کړم حضرتؐ اوفرمائیل نهٔ.ما اووے نیم خیرات کړم حضرتؐ اووے نهٔ.په دریو کښے یوه حصه خیرات کړمه او دا یوه حصه هُم ډیره ده.کچرے تهٔ خپلو وارثانو لره مالدار پریږدے چه د خلقو په مخکښ خواره لاسونه کرځی.او ته په کوم خرچ کوے د الله د رضا منډیٔ د پاره او د هغے ثواب به تا ته مـلاویږی تر دے پورے چه د هغه نمړیٔ هم کومه چه ته د خپلے ښځے په خله کښے او کورځے ما اووے یا رسول الله!والے زهٔ به ورستو پاتے شم د خپلو ملګرو نه.حضرتؐ اوفرمائیل کچرے تهٔ ورستو پاتے شوے(یعنی ژوندے وے)بیا داسے عمل کوے چه په هغے سره د الله(ج)خوشحالی منظوره وی نو ستا درجه به او چتیږی . او زیاتیږی به.او کیدے شی چه تهٔ ژوندے پاتے شے چه فائده به وی ستا نه ځنے خلقو ته.یا الله څما د اصحابو هجرت پوره کړه او مهٔ ګرځوه هغوی لره په پوندو د هغوی بانډ لیکن تباه ناچاره سعد بن خولة دے.د هغویؒ د پاره خفګان اوکړو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دے وجے نه چه هغه مر شو په مکه کښ.

فائده : نووی ونیلی دی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه تپوس(یعنی بیمار پرسی)د مریض مستحب ده.او مال جمع کول جائز دی.زمونږ ملګرو ونیلے دی چه کچرے وارث مالداروی نو په دریو کښ په یوه حصه مال کښے په وصیت کوی او کچرے محتاج وی نو د دریمے حصے نه هم په کم کښ وصیت کول مستحب دی.او اجماع کړے ده علماؤ چه د کوم

سړی وارث موجود وی د هغه وصیت د دریمې حصې نه په زیاته کښې به نه جاری کیږی، مګر دَ وارثانو په اجازت سره،او د چا چه وارث نشته د هغه هم وصیت دَ دریمې حصې مال نه په زیاته کښې صحیح نهٔ دے،زمونږ او دَ جمهور علماؤ په نزد،او د ابو حنیفهٔ او اسحٰق او احمد په نزد په یو روایت کښې صحیح دے۔

د دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه په عزیز بانډِ احسان کول نور زیات ثواب دے لو د علمونو ثواب په نیت سره دے،هر کله چه د الله د فرمانبرداریٔ نیت وی نو په مباح کښې هم ثواب دے،لکه خوړل د غلے د عبادت د پاره د ویخیدو په واسطه،او دَ بی بی سره صحبت کول دَ زِنانه د بچ کیدو د پاره۔یعنی که زهٔ پاتے شم سعدؓ او ویریدو چه چرته په مکه کښې پاتے نهٔ شم،حالانکه د هغه ځائے نه ئے هجرت کړے وو،او اصحابوؓ ه مکه کښې مړه کیدل مکروه ګنړلو د چا د پاره ئے هغے لره پریخودے وه دَ الله تعالی د پاره،قاضی عیاضؒ وئیلے دی د دے نه معلومه شوه چه د هجرت حکم د مکے د فتح کولو نهٔ ورستو هم باقی وو او بعضو وئیلے دی چه دا حکم د هغه خلقو د پاره دے چا چه دَ مکے د فتح نه ورستو هجرت کړے وو ، لیکن چاچه ورستو هجرت کړے دے د هغویٔ دَ پاره دا حکم نشته دے،دَ انحضرت صلی الله علیه وسلم دا فرمانیل صحیح اوختل داو سعد رضی الله تعالی عنه ژوندے پاتے شو تر دے پورے چه عراق ئے فتح کړو،او هم دغسے اوشوه مسلمانانو ته فائده اوشو چه هغه مړه شول او قید شول او د هغویٔ ښځے وینځے جوړے شوے۔

قاضی عیاضؒ وئیلے دی،مهاجر که په مکه کښې مړ شی نو دَ هغه هجرت باطِل نهٔ وی،په دے شرط چه په ضرورت سره وی او څنو وئیلے دی باطلیږی،او څنو وئیلے دی هجرت خاص په اهل مکه و بانډِ فرض شوے وو،دا دراوی قول دے حدیث نهٔ دے،حدیث د دے ځائے پورے دے چه تباه بیچاره سعد بن خولهٔ ، او د سعد بن ابی وقاصؓ کلام دے یَا دَ زهریؒ ،دا سعد بن خولهٔ هغه سړے دے چه ده هجرت نهٔ وو کړے د مکے نه او هم هلته مړ شو۔

او بخاریٔ وئیلے دی چه ده هجرت کړے وو او دَ بدر په جنګ کښې شریك وو بیا مکے ته راغے او مړ شو ، ابن هشامؒ وئیلے دی چه ده دویم هجرت دَ حبشت په طرف کړے وو او په بدر

کښې شریك وو بیا په مکه کښې مړ شو، په حجة الوداع کښې په ۱۰ یا ۷ه کښې، نو د هغه د تبائۍ سبب دغه دے چه د هغه هجرت خراب شو او د کوم ځائے نه چه ئے هجرت کړے وو هلته مړ شو، اګر چه مرګ د هغه په اختیار کښې نۀ وو، د دے نه معلومه شوه چه د کوم ځائے نه هجرت اوکړے شی بیا هلته مړ کیدل بنه نۀ دی او په دے سره د هجرت په ثواب کښې خلل پریوځی۔

(۴۲۱۱) عَنْ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيَّ يَعُوْدُنِيْ بِمَعْنٰى حَدِيْثِ الزُّهْرِيِّ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ سَعْدِ ابْنِ خَوْلَةَ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ وَكَانَ يَكْرَهُ اَنْ يَّمُوْتَ بِالْاَرْضِ الَّتِيْ هَاجَرَ مِنْهَا. [بخاري، نسائي]

ترجمه: د سعد رضی الله تعالی عنه نه روایت دے د پورته روایت په شان په دے کښې د خولهٔ ذکر نشته دے دادی چه هغوئ بد ګنړل مړه کیدل په هغه زمکه کښې د کومے نه چه ئے هجرت کړے دے۔

(۴۲۱۲) عَنْ مُصْعَبِ ابْنِ سَعْدٍ عَنْ اَبِيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ مَرِضْتُ فَاَرْسَلْتُ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ دَعْنِيْ اَقْسِمْ مَا لِيْ حَيْثُ شِئْتُ فَاَبٰى قُلْ فَالنِّصْفُ قَالَ فَاَبٰى قُلْتُ بِالثُّلُثِ قَالَ فَسَكَتَ بَعْدَ الثُّلُثِ قَالَ فَكَانَ بَعْدَ الثُّلُثِ جَآئِزًا.

ترجمه: مصعب بن سعد د خپل پلار نه روایت کړی دے وائی چه زۀ ناجوړه شوم نو ما رسول الله صلی الله علیه وسلم ته قاصد اولیږو چه ماله اجازت راکړه د خپل مال د وېشلو چاله چه غولرم حضرت صلی الله علیه وسلم اونۀ مل، ما اووے دنیم مال د وېشلو اجازت راکړه د حضرت اونۀ منل ما اووے د دریمے حصے مال اِجازت راکړه حضرت چه پاتے شو بیا د دے نه پس دریمه حصه مال وېشل جائز شولو۔

(۴۲۱۳) عَنْ سِمَاكٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فَكَانَ بَعْدَ الثُّلُثِ جَآئِزًا.

ترجمه: د سماك نه د دغه پورته حدیث پشان روایت دے په دے کښې دانشته دے چه بیا د دے نه پس دریمه حصه وېشل جائز شولو۔

(۴۲۱۴) عَنْ مُصْعَبِ ابْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ عَادَنِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ اُوْصِيْ

بمالیْ کُله فقال لا قلت فالنصف فقال لا فقلتُ ابا الثُلث فقال نعم و الثُلث کثیرٌ .

ترجمه: د سعد رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم څما تپوس له راغے. ماعرض اوکړو چه زه وصیت اوکړم د خپل تول مال دَ پاره حضرتؐ اوفرمائیل نهٔ. ما عرض اوکړو چه وصیت اوکړو د خپل نیم مال د پاره. حضرتؐ اوفرمائیل نهٔ. مَا عرض اوکړو دَ درېَمے حصے د پاره. حضرتؐ اوفرمائیل. هاں او درېمه هم ډیره ده.

(۴۲۱۵) عَنْ ثَلاثَةٍ مِّنْ وَلَدِ سَعْدٍ کُلُّهُمْ یُحدِّثُهُ عَنْ اَبِیْهِ رضِیَ اللهُ تعالی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلٰی سَعْدٍ یَعُوْدُهٗ بِمَکَّةَ فَبَکٰی فَقَالَ مَا یُبْکِیْکَ؟ قَالَ قَدْ خَشِیْتُ اَنْ اَمُوْتَ بِالْاَرْضِ الَّذِیْ هَاجَرْتُ مِنْهَا کَمَا مَاتَ سَعْدُ ابْنُ خَوْلَةَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ اشْفِ سَعْداً ثَلاثَ مِرَارٍ قَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ لِیْ مَا لا کَثِیْراً وَّ اِنَّمَا یَرِثُنِیْ اِبْنَتِیْ اَفَاُوْصِیْ بِمَالِیْ کُلِّهٖ قَالَ لا . قَالَ فَالثُّلُثَیْنِ قَالَ لا. قَالَ فَالنِّصْفَ قَالَ لا قَالَ فَبِالثُّلُثِ قَالَ الثُّلُثُ و الثُّلُثُ کَثِیْرٌ اِنَّ صَدَقَتَکَ مِنْ مَالِکَ صَدَقَةٌ وَاِنَّ نَفَقَتَکَ عَلٰی عِیَالِکَ صَدَقَةٌ وَاِنَّ مَا تَاْکُلُ امْرَاَتُکَ مِنْ مَالِکَ صَدَقَةٌ وَاِنَّکَ اَنْ تَدَعَ اَهْلَکَ بِخَیْرٍ اَوْ قَالَ بِعَیْشٍ خَیْرٌ مِّنْ اَنْ تَدَعَهُمْ یَتَکَفَّفُوْنَ النَّاسَ وَقَالَ بِیَدِهٖ.

ترجمه: دسعدؓ درے واړو ځامنو دخپل پلار سعد بن ابی وقاصؓ نه روایت کړے دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو مکے مکرمے ته دهغه دبیمارپرسیٔ دپاره ، هغویٔ په ژړاشو حضرتؐ ترے تپوس اوکړو ولے ژاړے؟ سعدؓ اووے زهٔ ویرېږم چه چرته مر نهٔ شم په هغه زمکه کښں چه دهغے نه ما هجرت کړے وو. لکه څنګه چه سعد بن خوله مړشولو جناب رسول اللهصلی الله علیه وسلم اوفرمائیل یاالله شفاورکړے سعدؓ له درے ځله نے داسے اووے بیا سعدؓ اووے یارسول اللهزما سره ډیرمال دے او څماوارثه یوه لورده.اووے زهٔ دتول مال وصیت اوکړم (دفقراءَ او مساکینو دپاره) حضرت او فرمائیل نهٔ. ما عرض اوکړو بیا دنیم مال حضرت او فرمائیل نهٔ. ما عرض اوکړو ددرېمے حصے حضرت او فرمائیل هاں درېمه او درېمه حصه ډیره ده او ته چه کومه صدقه ورکوے دخپل مال نه هغه خو صدقه ده ، او کوم څه چه خرچ کوے په خپل باب بچ باند هغه هم صدقه ده ، او څه چه ستا بی بی خوری ستادمال نه هغه هم صدقه ده. او څه چه ته خپلو خلقو ته پرېږدی دنیکیٔ او آرام سره (یعنی مالدار او غنی) نو دا غوره ده ددے نه چه ته

پریږدے هغوئ لره دخلقو په مخکښې خواره لاسونه . او اشاره او کړه حضرت په خپل لاس مبارك سره.

(۴۲۱۸) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ لَوْ اَنَّ النَّاسَ غَضُّوْا مِنَ الثُّلُثِ اِلَى الرُّبُعِ فَاِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيْرٌ وَفِيْ حَدِيْثِ وَكِيْعٍ كَبِيْرٌ اَوْ كَثِيْرٌ . [بخاری . نسائی . ابن ماجه]

ترجمه : دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه کاش خلقو ددریمے نه کمه کړے او په خلورمه حصه کښے ئے وصیت کولے ولے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ثلث ډیر دے.

فائده : نودثلث نه په کمه کښې وصیت کول نورزیات غوره دی او دغه قول دے دجمهورو علماؤ . حضرت ابوبکرؓ او حضرت علیؓ په پنځمه حصه کښے وصیت کړے وو. او ابن عمرؓ اسحٰقؒ په خلورمه حصه کښے وصیت کړے وو، او څنو په شپږمه او څنو په لسمه حصه کښے وصیت کړے دے، او دحضرت علیؓ او ابن عباسؓ او دعائشے رضی الله عنهم نه منقول دی چه دچا وارثان ډیر وی هغه لره بالکل وصیت نۀ کول مستحب دی هر کله چه مال لږ وی.

باب وُصُوْلِ ثَوَابِ الصَّدَقَاتِ اِلَى الْمَيِّتِ .

باب: دصدقې ثواب مړی ته رسی .

(۴۲۱۹) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَبِيْ مَاتَ وَتَرَكَ مَالًا وَّلَمْ يُوْصِ فَهَلْ يُكَفِّرُ عَنْهُ اَنْ اَتَصَدَّقَ عَنْهُ قَالَ نَعَمْ . [نسائی]

ترجمه:دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه زما پلار مړ شو او مال ئے پریخودو او وصیت ئے نۀ دے کړے، ایا دهغه گناهونه به او بخښلے شی کچرے زۀ دهغه دطرفنه صدقه ورکړم حضرتؐ او فرمائیل ! هاں .

(۴۲۲۰) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهَا اَنَّ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اُمِّيَ افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَاِنِّيْ اَظُنُّهَا لَوْتَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ فَلِيْ اَجْرٌ اَنْ اَتَصَدَّقَ عَنْهَا؟ قَالَ نَعَمْ. [راجع : ۲۳۲۷]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض اوکړو چه زما مور ناڅاپه مړه شوه او زمونږ ګمان دے چه کچرې هغې خبرې کړې وے نو ضرور به ئے صدقه ورکړے وه نو ماته به ثواب میلاویږی کچرې زۀ د هغې د طرفنه صدقه ورکړم؟ حضرت اوفرمائیل! هاں.

(۴۲۲۱) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَجُلًا اَتَی النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اُمِّیَ افْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَلَمْ تُوْصِ وَاَظُنُّهَا لَوْ تَكَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ اَفَلَهَا اَجْرٌ اِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ.

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عآئشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه یو سړے رسول الله صلی الله علیه وسلم له راغے او اوئے وئیل یا رسول الله! زما مور ناڅاپه مړه شوه، او وصیت ئے اونۀ کړو، او زما یقین دے کچرې خبرې ئے کړے وے نو ضرور به ئے صدقه ورکړے وے اے هغې ته به ثواب میلاویږی کچرې زه د هغې د طرفنه صدقه ورکړم؟ حضرت او فرمائیل، هاں میلاویږی۔

فائده: امام نوویؒ وائی د دے حدیثونه دا معلومه شوه چه د مړی د طرفنه صدقه ورکول مستحب دی او هغه ته ئے ثواب رسی، او صدقه ورکونکی لره هم ثواب دے، او دا حدیثونه خاص کوی دے آیت لره " وَاَنْ لَّیْسَ لِلْاِنْسَانِ اِلَّا مَا سَعٰی " او اجماع کړے ده د مسلمانانو چه په وارث باندِ د مړی د طرفنې صدقه واجب نۀ ده بلکه مستحب ده، او کوم چه قرض وی په مړی باندِ د هغه د ترکے نه ادا کول ئے په وارث باندِ واجب دی، خواه که مړی وصیت کړے وی یا نۀ، او دا قرض به د مال د سرنه ورکولے شی، اوس خواه که هغه قرض د الله وی یا د بنده، لکه د زکوٰة او حج او نذر او کفاره او د روژے فدیه، او کچرې ترکه ئے نۀ وی نو په وارث باندِئے اداکول واجب نۀ دی بلکه مستحب دی۔

بَابُ مَا يَلْحَقُ الْاِنْسَانَ مِنَ الثَّوَابِ بَعْدَ وَفَاتِهٖ.

باب: د مرګ نه پس انسان ته د کوم څیز ثواب رسی.

(۴۲۲۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا مَاتَ الْاِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهٗ اِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ اِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ اَوْ عِلْمٍ يُّنْتَفَعُ بِهٖ اَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَّدْعُوْلَهٗ.[ترمذی، نسائی]

ترجمه : دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی . هر کله چه بنیادم مرشی مګرد دریو څیزونو ثواب ئے جاری وی ، یو دصدقے جاریه بلك دعلم چه دهغے نه خلقو ته فائده رسی دریم نیك بخت اولاد چه هغه دعا کوی دهغه دپاره.

فائده:نووی وائی عالمانو وئیلی دی چه مطلب ددے دادے چه هر کله بنیادم مر شی نو دهغه عمل موقوف شی، او اوس نوے ثواب هغه ته نۀ حاصلیږی . مګرے ددے دریوؤ څیزونو نه ولے چه مړے دهغے سبب پریوځی، اولاد خو خاص دده ګټه ده، دغه شان هغه علم چه هغه ئے په دنیا کښے پریخودے تعلیم وی یا تصنیف وی ، دغه شان صدقه جاریه لکه وقف.

او ددے حدیث نه لوئے فضیلت را اووتو دهغه نکاح چه هغه دولید صالح په امید سره اوشی، او په دے کښی دصحت وقف او دهغے دزیات ثواب دلیل دے او بیان دے دعلم دفضیلت او ترغیب دے دهغے دحاصلولو او خورولو او په دنیا کښے دپریخودلو په تعلیم یا تصنیف یا شرح سره. او ضروری ده چه په تمامو علمونو کښی هغه علم اختیار کړی چه دهرڅه نه زیات مفید دے، بیا دهغے نه ورستو بیا دهغے نه ورستو.

او داهم ثابته شوه چه ددعاء ثواب مړی ته رسیږی ، دغه شان دصدقے او دغه شان دقرض اداکولو، او په دے باندِ اجماع ده، او په دے کښی اختلاف دے لو روژه دمړی ولی دهغه دطرفنه نیولے شی، لیکن قرآن لوستول او ثواب دهغے مړی ته رسول یا مونځ لوستل ، نو دامام شافعیؒ او دجمهور علماؤ مذهب دادے چه ددے څیزونو ثواب مړی ته نۀ شی رسیدے او په دے کښی اختلاف دے او ددے بیان پورته تیر شوے دے.

بَابُ الْوَقْفِ .

دوقف بیان .

(۴۲۲۴) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُمَا قَالَ اصاب عُمَرُ اَرْضًا بِخَيْبَرَ فَاَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَأْمِرُهُ فِيْهَا فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنِّيْ اَصَبْتُ اَرْضًا بِخَيْبَرَ لَمْ اُصِبْ مَالًا قَطُّ هُوَ اَنْفَسُ عِنْدِيْ مِنْهُ فَمَا تَاْمُرُنِيْ بِهٖ قَالَ اِنْ شِئْتَ حَبَسْتَ اَصْلَهَا وَتَصَدَّقْتَ بِهَا قَالَ فَتَصَدَّقَ بِهَا عُمَرُ اَنَّهُ لَا يُبَاعُ وَلَا تُوْرَثُ وَلَا تُوْهَبُ

- متصدق عمر في الفقراء و في القربى وفي الرقاب وفي سبيل الله وابن السبيل والضيف لا جناح على من وليها ان ياكل منها بالمعروف او يطعم صديقا غير متمول فيه قال فحدثت هذا الحديث محمدا فلما بلغت هذا المكان غير متمول فيه قال محمد غير متاثل مالا قال ابن عون وانبانى من قرء هذا الكتاب ان فيه غير متاثل مالا. [بخاری ، ابوداود ، ترمی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته یوه زمکه میلاؤ شوه په خیبر کښې نو هغه په دے باب کښې درسول الله صلی الله علیه وسلم مشوره کولو ته راغے هغوئ اووے یا رسول الله ! ماته په خیبر کښې یوه زمکه میلاؤ شوے ده . داسے مزیدار مال ماته چرته نۀ دے میلاؤ شوے، تاسو دهغے په باب کښې څه حکم کوئ . حضرتؐ او فرمائیل کچرے نۀ غواړے دزمکے ملکیت منع او ساته (یعنی اصل زمکے نړه) او صدقه ورکړه هغے لره (یعنی دهغے نفع لره) بیا حضرت عمرؓ هغے لره صدقه کړه په دے شرط باندې چه اصل زمکه دِنۀ خرخولے شی او نۀ ډاخستلے شی او نه دِهغه دچاپه میراث کښے راځی او نه په هبه کولے شی. او صدقه ئے کړه هغے لره په فقیرانو او رشته دارانو او غلامانو کښے . (یعنی دهغوئ په آزادولو کښے دمدد ورکولو دپاره) او په مسافرو کښے او کمزورو خلقو کښې (یادمیلمه په میلمستیا کښے او خوك په ددے زمکے) انتظام کوی هغه ددے نه ددستورموافق خوری، یاؤ په چا دوست باندِ خوروی لیکن مال دِنۀ جمع کوی (یعنی درو پو یو ځائے کولو په نیت سر به په دے تصرف نۀ کوی).

فائده : نووئ وئیلی دی په دے حدیث کښې دلیل دے دهغه باب چه وقف صحیح دے ، او دغه زمونږه او دجمهورعلماؤ مذهب دے. او اجماع ده دمسلمانانو دجماعتونو په وقف او دسقایو ډ یه وقف باندے. او دوقف کونکی شرطونه صحیح دی او دوقف بیعه یا هبه یا میراث درست نۀ دے. او وقف صدقه جاریه ده.

باب ترک الوصية لمن ليس له شيئ يوصى فيه.

دچاسره چه څه شے دوصیت قابل نۀ وی هغه له وصیت نۀ کول درست دی .

(۴۲۲۷) عن طلحة ابن مصرف قال سألت عبد الله ابن ابی اوفی رضی الله تعالی عنه هل اوصی رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال لا قلت فلم کتب علی المسلمین الوصیة او فلم امروا بالوصیة قال اوصی بکتاب الله . [بخاری ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دطلحه بن مصرف رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ما دعبدالله بن اوفی نه تپوس لوکړو چه ایا رسول الله صلی الله علیه وسلم وصیت کړے دے (دمال وغیره په باره کښے) هغوئ اووے نه ما اووے بیا په مسلمانانو باندِ ولے وصیت فرض شوے دے یا هغوئ ته ولے دوصیت حکم شوے دے، هغوئ اووے حضرت وصیت کړے دے دالله تعالی په کتاب باند دعمل کولو.

فائده : نووی علیه والرحمه وئیلے دی . دا چه نے کوم اووے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم وصیت نهٔ دے کړے ددے مطلب دادے چه درئیمے حصے دمال یادنور څه قدرے مال وصیت نے نهٔ دے کړے ځکه چه دهغوئ سره مال نهٔ وو، یا. مطلب دادے چه حضرت علیؓ یا بل چالره نے خپل وصی نهٔ دے جوړ کړے ، لکه څنګه چه شیعه ګمان کوی. او هغه کومه چه دهغوئ زمکه په خیبر او فدك کښے وه ، نو هغے لره خو حضرتؐ په خپل ژوند مبارك کښے دمسلمانانو دپاره وقف کړے وه، او دا څه چه دویم حدیث کښے دی چه حضرتؐ وصیت کړے دے دالله په کتاب باند دعمل کولو دپاره ، یا داهل بیتو سره دښه سلوك کولو، یا مشرکانو لره دجزیرهٔ عرب نه دویستلو یادسفادت دخاطر کولو ، نو دا په وصیت کښِ داخل نهٔ دی په دے صورت کښے به مخالفت نهٔ کیږی (انتهی)

(۴۲۲۹) عن عائشه رضی الله تعالی عنها قالت ما ترک رسول الله صلی الله علیه وسلم دینارا ولا درهما ولا شاة ولا بعیرا ولا اوصی بشیئ . [ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے . وائی نهٔ دے پریخودے رسول الله صلی الله علیه وسلم دینار او نهٔ درهم او نهٔ بزه او نهٔ اوښ او نهٔ نے وصیت کړے دے (دڅه مال دپاره).

(۴۲۳۱) عن الاسود ابن یزید قال ذکروا عند عائشة رضی الله تعالی عنها ان علیا رضی الله تعالی عنه کان وصیا فقالت متی اوصی الیه فقد کنت مسندته الی صدری او قالت حجری فدعا بالطست فلقد

انحنت فی حجری وما شعرت انه مات فمتی اوصی الیه . [بخاری ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: داسود بن یزیدؒ نه روایت دے وائی چه خلقو دمؤمنانو دمور حضرت عآئشے رضی الله تعالی عنها په خواه کښ ذکر او کړو چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه وصی وو درسول الله صلی الله علیه وسلم ، هغوئ اووے حضرتؐ هغوئ لره کله وصی جوړ کړو، ما خو هغوئ لره دخپلے سینے سره لګولے ناسته وُم یا هغوئ زما په غیږه کښ وو چه په دے کښ حضرتؐ طشت (لاس لوئے) او غوښتو، بیا حضرت او غورځیدو زما په غیږه کښ او زۀ پوهه نۀ شوم چه حضرتؐ انتقال اوکړو، بیا علیؓ ته ئے څنګه وصیت اوکړو۔

فائده: شیعه وائی چه حضرت صلی الله علیه وسلم امیرؓ لره خپل وصی او جانشین جوړ کړے وو، او ددے نه غرض دادے چه دجناب امیرؓ خلافت بلا فصل ثابت کړی، اهل سنت لره دجناب امیرؓ دفضیلت او بزرګئ اوقرابت درسول الله صلی الله علیه وسلم نه انکار نشته دے، مګر کوم کار چه دحدیث صحیح نه ثابت نۀ وی هغه څنګه قبول کړی۔

(۴۲۳۲) عن سعید ابن جبیر قال قال ابن عباس یوم الخمیس وما یوم الخمیس ثم بکی حتی بل دمعه الحصی فقلت یا اباعباس وما یوم الخمیس قال اشتد برسول الله صلی الله علیه وسلم وجعه فقال ائتونی اکتب لکم کتابا لا تضلوا بعدی فتنازعوا وما ینبغی عند نبی تنازع وقالوا ما شانه اهجر استفهموه قال دعونی فالذی انا فیه خیر اوصیکم بثلاث اخرجوا المشرکین من جزیرة العرب واجیزوا الوفد بنحو ما کنت اجیزهم قال وسکت عن الثالثة او قالها فانسیتها قال ابو اسحق حدثنا الحسن ابن بشر حدثنا سفیان بهذا الحدیث . [بخاری ، ابوداود]

ترجمه: دسعد بن جبیرؒ نه روایت دے وائی چه ابن عباس رضی الله تعالی عنه اووے دجمعرات ورځ څه ده دجمعرات ورځ بیائے او ژړل تردے پورے چه داوښکو نه ئے ګیټئ لوندے شولے ، ما لووے اے ابن عباسه دجمعرات دورځے نه څه غرض دے هغوئ اووے په جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم باندِ دبیماری سخته شوه پس حضرتؐ او فرمائیل ، ماله راوړئ (دوات او تختئ) چه زۀ تاسو ته یو کتاب اولیکم ددے دپاره چه تاسو ځمانه ورستو ګمراه نۀ شئ ، ددے په اوریدو خلق په جګړه شو او دپیغمبر په خوا کښے جګړه نۀ ده پکار ، او لوئے ونیل دحضرت صلی الله

علیه وسلم څه حال دے ولے دهغویٔ نه هم لغوه صادر کیدے شی، بیا ځان پوهه کړئ دهغویٔ نه حضرت او فرمائیل لرے شی زما دخوانه، ځکه چه په کوم کار کښې مشغول یم هغه بهتر دے (دهغے نه په کول کښې چه تاسو مشغول یئ دجګړے او دبک بک نه) ځکه تاسو ته ددریو خبرو وصیت کوم، یو خودا چه دجزیرهٔ عرب نه مشرکان او باسئ، دویم کوم سفارتونه چه راځی دهغویٔ خاطر په داسے شان کوئ لکه څنګه چه ماکولو (ددے دپاره چه قومونه خاشحاله وی او اسلام طرفته ئے رغبت وی) او دریمه خبره ابن عباسؓ نه ده کړے یا سعیدؒ وائی چه زما هیر شو۔

فائده : دمسلم په روایت کښے اهجر دے په همزهٔ استفهام او دا صحیح دے دهغه روایت نه چه په هغے کښې هجر یا یهجر دے په اصل کښے معنی دهجر په حم دها سره بذیان او فحش ګوئی ده، او داامر دصحابهؓ و نه بعیددے چه دحضرتؐ په نسبت داسے کلمه دخلے نه اوباسی او خصوصا دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه نه ، نو معنے دامَر داده، چه ولے دحضرت صلی الله علیه وسلم نه هم هذیان کیدے شی یعنی نهٔ شِی کیدے ، دااستفهام انکاری دے نو په بنه شان پوهه شه چه په دے صورت کښے مقصود دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه ردکول وو په هغه خلقو باندِ چاچه دحضرت صلی الله علیه وسلم دمبارك حکم تعمیل لو نهٔ کړو، او داخیال ئے اوکړو چه په حضرتؐ باندِ دبیماری سختی ده معلومه نهٔ ده چه دلوخت حضرت صلی الله علیه وسلم څه فرمائی چه ستاسو دا خیال لغوه دے، او دحضرت نه هذیان صادر کیدل محال دی۔

نوویؒ وئیلے دی کچرے دهجر روایت بغیر همزه نه صحیح وی نو دویونکی خطا ده هغه بغیر دخیال او فکر نه داسے لفظ وئیلی دے ، او دالرے نه ده دپریشانئ او تکلیف لو رنځ په حالت کښې درسول الله صلی الله علیه وسلم دبیماریٔ دوجے نه خو پکار وو داسے وئیل دا دبیماریٔ سختی ده، لیکن دهجر لفظ ئے دڅے نه وتلے دے۔

په نهایه کښے دی اهجر یعنی ولے دحضرتؐ خبرے بدلے شوے دی په وجه دبیماریٔ نو دا استفهام دے نهٔ اخبار چه دهغے معنی دفحش او هذیان کیږی. ولے چه دا دحضرت عمرؓ قول دے او دهغویٔ سره دا ګمان نهٔ شی کیدے چه هغه داسے لفظ درسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره

او وائي ۔ او په مجمع البحار کښې اهجر دے چه دهغې معنی ډېر کيدے شي ولې حضرتﷺ تاسو پريخودئ ، نو هجر ضددے دَوَصَل او په يو روايت کښې اهجرا دے۔ انتهی امام نووی عليه الرحمه وئيلې دی دا خبره پيژندل پکار دی چه حضرت صلی الله عليه وسلم پاك دے ددروغو نه يا دتغير داحکام شرعيه ؤنه په حالت دصحت او مرض دواړو کښې او معصوم دے ددے نه چه دکوم امر درسولو هغوئ ته حکم اوشي او هغوئ ئې اونۀ رسوي ليکن دبيمارئ او تکليف لو دردنه معصوم نۀ دے ، چه په دے کښې دڅه قسم نقص يا دحضرتﷺ ددرجې انحطاط نۀ وي، او نه دشريعت فساد وي۔

او هر کله چه په هغوئ باندې سحر شوے وو نو دحضرتﷺ به دا خيال وو چه ما دا فلانے کار کړے دے حالانکه هغه به ئې نۀ وو کړے مګردانۀ ده شوے چه هغوئ دړومبو احکامو په خلاف څه حکم ورکړے وي۔ هر کله چه دِ دا خبره او پيژندو نو اوس واوره چه علماؤ اختلاف کړے دے په هغه کتاب کښې چه حضرت ته څه ليکل منظوروو، څنو دا وئيلې دی چه حضرت ته دخليفه معين کول منظور وو ددے دپاره چه په راتلونکې وخت کښې جګړه او فساد نۀ وي، او څنو دا وئيلې دی چه دحضرت غرض داوو چه ددين دضرورياتو خلاصه اوليکې چه په راتلونکې وخت کښې دهغوئ په نسبت اختلاف نۀ وي او ټول خلق متفق پاتے شي په منصوص باندې او مخکښې حضرت دهغه کتاب دليکلو اراده اوکړه، هر کله چه ورته معلومه شي چه په دغه کښې مصلحت دے چه کتاب اونۀ ليکلے شي نو حضرت هغه حکم او اراده په څائے کړه۔

او حضرت عمر رضی الله عنه چه کوم دغه وخت اووے چه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې دبيمارئ شدت دے، او ستاسو سره قرآن موجود دے او کافي دے مونږ لره دالله تعالی کتاب دا دليل دے دحضرت عمرؓ دزياتے پوهې او باريك بينئ په دے واسطه چه هغوئ دا خيال اوکړو چه چرے داسے نۀ وي چه حضرت څنې داسے مشکلې خبرے اوليکې چه دهغې تعميل داصحابو نه نۀ شي کيدے او ګنهګار شي، نو هغوئ اووے پوره دے مونږ لره دالله تعالی کتاب او الله تعالی پخپله فرمائي مونږ په کتاب کښې يوه خبره نۀ ده پريخودے ، او فرمائي نن ما ستاسو دين پوره کړلو، نو هغوئ ته معلومه وه چه الله تعالی خپل دين پوره کړے دے لو

دحضرت تہول امت به نهٔ گمرا کیږی، ددے دپاره چه هغوئ درسول الله صلی الله علیه وسلم ته ارام ورکول غوښتلو. دداسے تکلیف په حالت کښې. او حضرت عمرؓ دابن عباس رضی الله عنه نه زیات سمجهودار یعنی پوهه وو. امام بیهقی ددلائل کل النبوه په آخر کښې لیکلی دی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نیت رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راحت ورکول وو دبیمارئ په حالت کښې، او کچرے حضرتؐ ته دا منظوره وے چه کتاب د اولیکلے شی نو ضرور به ئے لیکلے وو،او د اصحابوؓ په اختلاف سره به ئے د الله حکم نهٔ موقوف کوو،ولے چه الله تعالی فرمائیلی دی بلّغ ما اُنزِلَ الیْک ، لکه څنگه چه حضرتؐ د دین په تمامو خبرو رسولو کښے د چا مخالفت یا دَ دشمن دَ دشمنئ خیال نهٔ دے کړے ، لکه څنگه چه د هغه خبرو حکم حضرتؐ پخپله ورکړے دے چه مشرکانو لره د جزیره عرب نه اوباسئی وغیره وغیره بیهقیؒ وائی سفیان بن عیینه دَ علم د خاوندانو نه نقل کړے دی چه حضرت صلی الله علیه وسلم اراده اوکړه چه ابوبکر رضی الله تعالی عنه د خلافت د پاره اولیکی ، لیکن هر کله چه حضرتؐ ته معلومه شوه چه تقدیر دَ اِلهی دغسے دے نو حضرت لیکل پاتے کړو،لکه څنگه چه د بیمارئ په شروع کښے هم هغوئؐ لیکلی غوښتلی وو،بیا ئے اوفرمائیل! هائے شر اولیکل ئے پریخودو،او اوئے فرمائیل انکار کوی الله تعالی او انکار کوی مؤمنان مگر ابوبکرؓ لره،او په گوته ئے کړو حضرت ابوبکرؓ لره د خپل خلافت د پاره ئے هغوئؓ لره په مانځه کښې امام کړو۔

بیهقیؒ وئیلے دی چه کچرے غرض د حضرت صلی الله علیه وسلم دَ دین احکام لیکل وے نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دا خیال اوکړو چه احکام د دین خو پخپله الله تعالی پوره کړے دی،اوفرمائی "الیَوْم اکْملتُ لکُمْ دِینَکُمْ"او څه واقعه به دَ قیامت پورے داسے نهٔ وی چه د هغے د پاره حصه صراحهٔ یا اشارةً په قرآن او حدیث کښې بیان نهٔ وی،نو د دغه د پاره حضرت عمر رضی الله تعالی عنه حضرتؐ صلی الله علیه وسلم ته تکلیف ورکول مناسب نهٔ گڼړل دَ داسے بیمارئ په حالت کښے . او په دے کښې دا غرض هم وو چه د اجتهاد او استنباط دروازه بنده نهٔ شی.

او پخپله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وو هر کله چه حاکم په سوچ سره

حکم ورکړی او بیانے تهیك کړی نو د هغه د پاره دوه اجرونه دی او کوم چه غلطی کوی نو یو اجر دے،دا دلیل دے د هغه امر چه حضرتؐ صلی الله علیه وسلم ډیرو کارونو لره د علماؤ په روائے باندِ پریخودی دی نو حضرت عمرؓ هم د هغے پریخودل په داسے حال کښے مناسب اوګنړل ولے چه په دے کښې درجه میلاویده علماؤ ته او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته هم آرام خاصلیدو،او حضرت صلی الله علیه وسلم هم په دغه امر کښے په حضرت عمر رضی الله تعالی عنه باندِ انکار اونهٔ کړو او خاموش پاتے شو ،دا دلیل دے د هغویؓ درائے سره د موافقت کولو خطابی وئیلی دی د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه قول په دے امر باند، محمول کول نهٔ دی پکار چه هغویؒ د غلطئ خیال کړے دے په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندِ یائے څه بل قِسم ګمان کړے دے چه د هغویؒ سره لائق نهٔ دے،مګر هر کله چه هغویؓ اولیدل چه په حضرت باندِ دَ مرض ډیره سختی ده او وفات ئے ډیرئے نزدے دے،نو د هغویؓ سره ویره پیدا شوه چه کیدے شی حضرتؐ دا خبرے د بیمارئ په حالت کښے بغیر دارادے نه کوی نو منافقانو ته په دین کښې به د اعتراض کولو موقع میلاؤ شی ، او دَ حضرتؐ اصحابوّ به د حضرتؐ سره خبرے اترے کولے په څنے کارونو کښ د کومے پورے چه دَ حضرتؐ اراده قطعی نهٔ وه،لکه څنګه چه ئے د حدیبئے په ورځ ګفتګو اوکړه او د قریشو سره ئے په صلحه کولو کښے خبرے اترے اوکړے،البته هر کله چه به حضرتؐ د څه کار په حتمی طور باندِ حکم کولو نو چا لره به د خبرو اترو مجال نهٔ وو.

او اکثر علماء په دے طرف دی چه د حضرتؐ نه چه هغه کارونو کښے خطا کیدے شی چه هغه صرف پخپله رائے سره ورکړی او د اؤ پاك د طرفنه په هغے کښ څه حکم نازل نهٔ وی.لیکن په دے باند اجماع ده چه حضرتؐ په دغه خطا باندِ ثابت قدم نهٔ شی پاتے کیدے،او دا خبره معلومه ده چه الله تعالی د هغویؒ درجه د تولو مخلوقاتو نه زیاته کړے ده،په دے باند، هم حضرت د بشریت دَلواز ماتونه پاك نهٔ وی،او په مانځه کښ حضرتؐ ته سهوه اوشوه،پس ګمان کیدے شی چه په بیمارئ کښ هم داسے څه خبره پیدا شی ، په دغه خیال سره حضرت عمرؓ دوباره د تپوس کولو حکم اوکړو،خطابیؒ وئیی دی، او حضرت صلی الله علیه وسلم نه مروی

دے چه حضرتؒ فرمائیلی دی، څما د امت اختلاف رحمت دے،نو حضرت عمر رضی الله عنه دغے لره بهر گنړلو،او په دے حدیث باندې صرف دوه سړو اعتراض کړے دے،یو خو یے دینه وو یعنی جاحظ او دویم په حماقت کښې مشهور و اسحاق بن ابراهیم موصلی دہ د خپل کتاب "اغانی" په شروع کښې د اهلِ حدیثو بد وئیلے دی،او دا ئے وئیلے دی چه هغه داسے احادیث روایت کوی چه په هغے پخپله نه پو هیږی،او د دے دواړو اعتراض دا دے چه کچرے اختلاف رحمت وی نو اتفاق به د عذاب وی ، او د هغے جواب دا دے چه دَ اختلاف په رحمت کیدو سره د عذاب اتفاق کیدل ضروری نهٔ دی ، او د داسے لزوم قائل به هم هغه وی کوم چه جاهل دے۔

الله تعالی فرمائیلی دی چه شپه مو ستاسو د پاره رحمت کړو نو ولے د دے نه به ورځ عذاب وی،خطابیؒ وئیلے دی اختلاف چه درے قسمه دے یو خو اختلاف ثابت صانع او د هغه په توحید کښے او د هغے نه انکار کفر دے،دویم د هغه په صفات او مشیت کښې او د هغے نه انکار بدعت دے،دریم په فروعی احکامو کښې لکه د یو شی په پاکوالی یا پلیتیٔ یا په حدیث یا غیر حدث کښے اختلاف پس دے لره الله تعالی رحمت کړے دے او دغه اختلاف مراد د دے په حدیث کښې دی اِخْتِلَافُ اُمَّتِیْ رَحْمَةٌ ،مازریؒ وئیلے دی که څوك اعتراض کوی چه صحابهؓ لره دَ آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره اختلاف په داسے موقعه کښې څنګه جائز شولو حالانکه رسول الله صلی الله علیه وسلم صفا حکم اوکړو چه ما له دوات او کاغذ راوړیٔ چه زهٔ یو کتاب اولیکم نو دا اختلاف نافرمانی ده د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او هغه حرامه ده،د دے جواب دا دے چه هر یو امر دَ وجوب د پاره نهٔ وی او د قرینو نه دا خبره معلومیدے شی،نو اصحابوٓ ته د هغویٓ قرینه معلومه شوے وه چه د حضرتؒ دا حکم اختیاری وو نهٔ وجوبی،بیا هغویٓ اختیار کړو نهٔ لیکلو لره، او د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه رائے دغے لره مقتضی شولو،او کیدے شی هغویٓ دا گنړلے وی چه دا حکم د حضرت صلی الله علیه وسلم نه یے ارادے مصمم صادر شولو او دغه مراد دے د هجر نه،اِنتهی ملخصا۔

مترجم وئیلے دی چه دا حدیث ډیر نازك حدیث دے او شیعه گانو دے لره دلیل گرځولے

دے په حضرت عمر رضی الله تعالی عنه باندِ د طعن کولو دَ پاره ، حالانکه کچرے تسلیم کړے دی چه د حضرت عمرؓ نه خطا شوے ده نو په دے کښې څه اِستعباد دے ، ولے چه مونږ حضرت عمرؓ لره د خطا نه معصوم نۀ ګنړو، او داسے خطا خصوصا دَ داسے غم او پریشانئی په حالت لکه څنګه چه د حضرتؐ په بیمارئ کښے په اصحابو وو باعث د طعن نۀ شی کیدے،اکثر چه هر کله انسان په غم او مصیبت کښې بد خواسه شی نو زړۀ ئے په قابو کښے نۀ پاتے کیږی ، د ړے ذکر شه دے پس په داسے یوه محتمل خبره سره چه د هغے تاویل صحیح هم کیدے شی د حضرت عمرؓ فضائل او مناقب متعدد ده پیخودل او په هغوئ باندِ ملامته وئیل د انتها درجه بے دینی او ناخدا ترسی ده،والله عَلٰی ذٰلِک شَهِیْدٌ۔

نوویؒ وائی اصمعیؒ وئیلے دی جزیره عرب د عدن دَ آخری سر نه واخله د عراقه پورے دے په اوګدوالی کښ،او په پلنوالی د جدے نه واخله د شام دَ اطرافو پورے دے،او هر دی د مالکؒ نه نقل کړے دی چه دَ جزیرهٔ عرب نه مدینه مراد ده ، او صحیح او مشهور د مالکؒ نه دا دے چه مکه او مدینه او یمامه او یمن ترے مراد دے۔

او د دے حدیث نه دلیل اخستے دے مالکؒ او شافعیؒ او علماء او هغوئ د کافرانو ویستلو ته واجب وئیلے دی د عربو نه،او وئیلے ئے دی چه کافرونه ته په عربو کښې د اوسیدو اجازت نۀ دی ورکول پکار،لیکن شافعیؒ دے حدیث لره خاص کړے دے دَ جزیره عرب دَ یوے حصے سره او هغه د حجاز حصه ده . چه په هغے کښ مکه او مدینه او یَمامه داخل دے نۀ یمن وغیره، او علماء وئیلے دی چه کفارو لره د عربو د مسافرئ کولو نه و نۀ شی منع کولے لیکن هلته دَ درے ورځو نه د زیاتو اوسیدو نه و منع کولے شی،حضرت امام شافعیؒ وئیلے دی،چه د دے نه مکه او حرمِ مکه مستثنی دی،هلته به کافرو ته دَ داخلیدو هم اجازت نۀ شی ورکولے،او کچرے داخل شی نو د هغه ویستل فورا واجب دی او کچرے هلته مړ شی او دفن کړے شی نو د هغه لاش به راویستلے شی او لرے کولے به شی د کومے پورے چه پکښ تغیر نۀ وی راغلے،دغه قول دے د جمهورو فقهاؤ،او امام ابو حنیفه رحمة الله علیه کافر لره چه حرم کښ دَ داخلیدو اجازت ورکړے دے،او دلیل د جمهورو قول دے دَ الله تعالی۔

علماء اختلاف کړے دے چه هغه درئمه خبره څه وه، بعضو وئیلي دی چه هغه دَ اسامهٔ د لښکر سامان ورکول دی. او قاضی عیاض وئیلي دی، هغه درئمه خبره دا وه چه څما قبر لره د ثن مـهٔ جوړوئ، لکه څنګه چه د بتانو پرستش کیږی دغه شان څما د قبر پرستش اونهٔ کړئ. او څنو وئیلي دی چه هغه د یهودو ویستل وو

(۴۲۳۳) عن ابن عبّاس رَضِی الله تعالی عنهما انّهٗ قال یوْمُ الْخمِیْسِ وما یوْمُ الْخمِیْسِ ثُمّ جعل تسِیْلُ دمْوْعهٗ حتّی رأیْتُ علی خدّیْهِ انّها نظامُ اللُّؤْلُوءِ قال رسُوْلُ الله صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم ائتُوْنِیْ بِالْکتِفِ والدّواۃِ او اللّوْحِ والدّواۃِ اکْتُبْ لکُمْ کِتابًا لنْ تضِلُّوْا بعْدهٗ ابدًا فقالُوْا انّ رسُوْل اللهِ صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم یهْجُرُ.

ترجمه: د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے هغوئ اووے د پنجشنبے ورځ او څه د پنجشنبے روانے شولے په دواړو اننګو باند لکه د ملغلرو لړئ هغوئ اووے نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ما له هډوکے اودوات راوړئ زهٔ ستاسو د پاره یو کتاب لیکم چه تاسو ګمراه نهٔ شئ ورستو څما نه هـچرے. پس خلقو اووئیل رسول الله صلی الله علیه وسلم د بیمارئ په تکلیف کښی بت اخرباره څه وائی.

(۴۲۳۴) عن ابن عبّاس لمّا حُضِر رسُوْلُ الله صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم وفِی الْبیْتِ رِجالٌ فِیْهِمْ عُمرُ ابْنُ الْخطّابِ رضِی اللهُ تعالی عنْهُ قال النّبِیّ صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم اکْتُبْ لکُمْ کِتابًا لا تضِلُّوْن بعْدهٗ فقال عُمرُ رضِی اللهُ تعالی عنْهُ انّ رسُوْل الله صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم قدْ غلب علیْهِ الْوجعُ وعِنْدکُمُ الْقُرْانُ حسْبُنا کِتابُ اللهِ واخْتلف اهْلُ الْبیْتِ فاخْتصمُوْا مِنْهُمْ منْ یّقُوْلُ قرِّبُوْا یکْتُبْ لکُمْ رسُوْلُ اللهِ صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم کِتابًا لنْ تضِلُّوْا بعْدهٗ و مِنْهُمْ منْ یّقُوْلُ ما قال عُمرُ فلمّا اکْثرُوا اللّغْو والاِخْتِلاف عِنْد رسُوْلِ الله صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم قال رسُوْلُ الله صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم قُوْمُوْا قال عُبیْدُ الله فکان ابْنُ عبّاسٍ یّقُوْلُ انّ الرّزِیّة کُلّ الرّزِیّةِ ما حال بیْن رسُوْلِ الله صلّی اللهُ علیْهِ وسلّم و بیْن انْ یّکْتُب لهُمْ ذٰلِک الْکِتاب مِن اخْتِلافِهِمْ ولغطِهِمْ.

(بخاری)

ترجمه: د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے. هر کله چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د وفات وخت رانزدے شو، نو دغه وخت په حجره دننه څو تنه سړی وو چه پکښی حضرت عمر رضی الله تعالی عنه هم ووی، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل راشئ زهٔ تاسو ته

یو کتاب لیکم چه تاسو گمراه نهٔ شئ د دے نهٔ پس، حضرت عمر رضی اللّٰہ تعالی عنه اووے، چه پـه رسـول الله صـلـی الله عـلیـه وسـلـم بـانـدِ د بیـماریٔ تکلیف دے او ستاسو سره قرآن موجو دے، کافی دے مونږ لره دَ الله کتاب ، او په کور کښ چه کوم خلق وو هغویٔ اختلاف اوکړو چا اووے دوات وغیـره راوړئ چـه رسـول الله صـلـی الله علیه وسلم کتاب اولیکی چه د هغے نه پس تـاسـو گمراه نهٔ شئ او څنو د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دَ رائے مطابق اووے هر کله چه د دغـه خلقو بك بك زيات شول او اختلاف ډیر شو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مخکښ نـو حـضـرتؐ صـلـی الله عـلیـه وسـلـم اوفرمائیل پاسَئی ځئ، عبدالله وائی ابن عباس رضی الله تـعـالیٰ عـنـهـما اووئیل لوئے مصیبت جوړ شولو ئے مصیبت جوړ شو دا چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغه خلقو دَ اختلاف او شور دَ وجے نه کتاب او نهٔ لیکلو۔

فائده: دا د حـضـرت عـمـر رضـی اللّٰہ عنه رائے ده چه هغویٔ د حضرت صلی الله علیه وسـلـم د حال پـه لیـدو سـره ظـاهِـره کړه او د هغویٔ تکلیف ئے برداشت نهٔ کړلو ورنه الله تعالی پـخپله پخپل کلام مجید کښ فرمائی "مَـا اٰتٰکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا "دَ الله کتاب مونږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ اطاعت او تابعداریٔ کولو د پاره حکم کوی، او په یو بل حدیث کښ دی چه اونهٔ موسم زه په تاسو کښے چا لره تکیه کړے شوے په خپل چپرکټ خو چه زمـا حـکـم هـغـه ته اورَسِیٔ او هغه دا اووائی چه زهٔ نهٔ یم خبر خو چا څه د الله په کتاب کښے مونډل دَ هغے پیْروی م کړے ده۔

لو به بل حدیث کښ دی، چه ما د درکړی شوی قرآن مجید او مانند د هغے او په دے کښ څه شك نشته کچرے دغه کتاب ئے لیکلے وے نو د دے نه به هدایت کیدو، خو چه الله تعالی ته څه منظوره وه هغسے اوشوه، او په دے کښ به څه بهتری وی۔

كِتَابُ النَّذْرِ

د نذر مسئلے

(۴۲۳۵) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّهُ قَالَ اسْتَفْتٰی سَعْدُ ابْنُ عُبَادَةَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِیْ نَذْرٍ كَانَ عَلٰی اُمِّهٖ تُوُفِّيَتْ قَبْلَ اَنْ تَقْضِيَهُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاقْضِهٖ عَنْهَا. [بخاری

، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه :د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه سعد بن عباده د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د یوے مسئلے تپوس اوکړو، چه څما په مور باندِ نذر وو .او هغوی د هغے دَ ادا کولو وړاندِ مړه شوله، حضرتؐ ورته اوفرمائیل د هغےؓ د طرفنه ئے ته ادا کړه۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلے دی چه اجماع کړے ده مسلمانانو د نذر په صحت بلند او د هغے د پوره کولو په وجوب باندِ کچرے نذر عبادت وی،او د گناه یا مباح نذر به منعقد نهٔ وی او نهٔ به هغے باندِ کفاره شته دے،او دغه دَ اکثر علماؤ قول دے او دَ امام احمدؒ او یو تولی په نزد باندِ په هغے کښ د قسم کفاره ده،او د مړی د طرفنه مالی حقوق په اتفاق وارث ادا کولے شی او په بدنی کښ اختلاف دے۔

خو د مالی حقوقو ادا کول په هره طریقه واجب دی خواه که مړی وصیت کړے وی یا نهٔ،دَ امامِ شافعیؒ دغه قول دے .او دَ امامِ مالکؒ او امام ابو حنیفهؒ په نزد که د وصیت ئے کړے وی نو واجب دی .او که وصیت ئے نهٔ وی کړے نو واجب نهٔ دی،او د سعدؓ د مور نذر مطلق وو،یا روژے نذر وو یا عتق وو یا صدقه په دے کښ اختلاف دے،لیکن په هر حال کښے په وارث باندِ ایفائے نذر ادا کول هغه وخت واجب دے هر کله چه مړی مال پریخودے وی او کچرے مال ئے نهٔ وی پریخودے نو مستحب دی۔

(۴۲۳۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ اَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَنْهَانَا عَنِ النَّذْرِ وَ یَقُوْلُ اِنَّهٗ لَا یَرُدُّ شَیْئًا وَّاِنَّمَا یُسْتَخْرَجُ بِهٖ مِنَ الشَّحِیْحِ. [بخاری ، ابوداود ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ منع کولو د نذر نه اوفرمائیلو ئے نذر یوے بلاء لره نهٔ واپس کوی(کومه چه په تقدیر کښ راتلونکی وی)لیکن د نذر په وجه د بخیل د طرفنه مال راوځی۔

فائده:یعنی مؤمن لره پکار دی چه عبادت خالص د الله د رضامندئ د پاره اوکړی نه د خپلو مطلبونو او مرادونو په عوض کښ دا خو یو تجارت لوګر ځیدو،او په تقدیر به یقین لری دا اعتقاد به نهٔ لری چه په نذر سره تقدیر بدلیږی، هر کله چه دَ الله تعالی په نذر دا حال شو چه د

دے نه حضرتؐ منع کوله ، نو د نورو بزرګانو نذر به معاذ الله څنګه درست شي او په دے سره به څنګه بلا رد شي ،او د جاهلانو خیال دے الله تعالی د مونږ د هغوئ نه بچ اوساتی۔

(۴۲۳۸) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما عن النبی صلے الله علیه وسلم انه قال النذر لا یقدم شیئا ولا یوخره و انما یستخرج به من البخیل. [راجع : ۴۲۳۷]

ترجمه:د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل نذر څه شی لره نۀ مخکښ کولے شی او نۀ ئے ورستو کولے شی(بلکه کوم وخت چه د کوم کار د پاره په تقدیر کښے لیکلے وی نو هم په هغه وخت به کیږی)بلکه نذر د بخیل د زړۀ نه مال اوباسی۔

(۴۲۳۹) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما عن النبی صلے الله علیه وسلم انه نهی عن النذر وقال انه لا یاتی بخیر و انما یستخرج به من البخیل. [راجع : ۴۲۳۷]

ترجمه:د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روابت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم منع اوفرمائیله د نذر نه،او اوئے فرمائیل د دے نه څه فائده نۀ وی(یعنی یوه راتلونکے بلا نه شی منع کولے او تقدیر نۀ دی بدلولے)بلکه د بخیل د زړۀ نه مال د نذر په سبب سره را اوځی(یعنی بخیل هسے خو خیرات نۀ کوی خو هر کله چه څه آفت راځی نو هم د نذر په بهانه روپئی ورکوی او مسکینانو ته فائده وی او په تحقیق سره د بخیل نه مال جُدا کیږی۔

(۴۲۴۱) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلے الله علیه وسلم انه نهی عن النذر وقال انه لا یرد من القدر وانما یستخرج به من البخیل. [ترمذی ،نسائی]

ترجمه:د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړے ده د نذر نه او فرمائیلی ئے دی په دے سره تقدیر نۀ واپس کیږی،بلکه په دے سره د بخیل نه مال وتلے شی۔

(۴۲۴۳) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلے الله علیه وسلم قال ان النذر لا یقرب من ابن آدم شیئا لم یکن الله عزوجل قدره له ولکن النذر یوافق القدر فیخرج بذلک من البخیل ما لم یکن البخیل یرید ان یخرج.

ترجمه:دَ حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی ،نذر یو داسے څیز لره بنیادم ته نهٔ نزدے کوی کوم چه الله تعالی د هغه په تقدیر کښ نهٔ وی لیکلی،لیکن نذر د تقدیر موافق کیږی،پس اوځی د نذر په وجه سره د بخیل نهٔ هغه مال چه هغے لره هغه ویستل نه غواړی۔

(۴۲۴۵) عن عمران ابن حصین رضی الله تعالی عنه قال کانت ثقیف حلفاء لبنی عقیل فاسرت ثقیفة رجلین من اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم و اسر اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم رجلا من بنی عقیل و اصابوا معهٔ العضباء فاتی علیه رسول الله صلی الله علیه وسلم وهو فی الوثاق قال یا محمد یا محمد فاتاه قال ما شانک قال بم اخذتنی و بم اخذت سابقة الحاج قال إعظاما لذلک اخذتک بجریرة حلفآئک ثقیف ثم انصرف عنه فناداه فقال یا محمد یا محمد وکان رسول الله صلی الله علیه وسلم رحیما و رقیقا فرجع الیه فقال ما شانک قال انی مسلم قال لو قلتها وانت تملک امرک افلحت کل الفلاح ثم انصرف فناداه فقال یا محمد یا محمد فاتاه فقال ما شانک قال انی جآئع فاطعمنی و ظمآن فاسقنی قال هذه حاجتک ففدی بالرجلین قال و اسرت امرأة من الانصار و اصیبت العضبآء فکانت المرأة فی الوثاق وکان القوم یریحون نعمهم بین یدی بیوتهم فانفلتت ذات لیلة من الوثاق فاتت الابل فجعلت اذا دنت من البعیر رغا فتترکه حتی تنتهی الی العضبآء فلم ترغ قال وهی ناقة منوقة فقعدت فی عجزها ثم زجرتها فانطلقت ونذروبها فطلبوها فاعجزتهم قال و نذرت لله عزوجل إن نجاها الله تعالی علیها لتنحرنها فلما قدمت المدینة راها الناس فقالوا العضبآء ناقة رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالت انها نذرت ان نجاها لتنحرنها فاتوا رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکروا ذلک له فقال سبحن الله بئس ماجزتها نذرت لله إن نجاها الله تعالی لتنحرنها لا وفآء لنذر فی معصیة ولا فیما لا یملک العبد وفی روایة ابن حجر لا نذر فی معصیة الله. [ابوداود]

ترجمه:د عمران بن حصین رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه په ثقیف او بنی عقیل کښ دوستی وه دَ حلف سره،نو ثقیف د رسول الله صلی الله علیه وسلم په اصحابوٓ کښے دوه سړی قید کړل،او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اصحابوٓ د بنی عقیل نه یو سړے گرفتار کړو او غضباء(دا نوم دے د حضرت دَ اوښے)ئے هم د هغه سره اونیوه،بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم

د هغه خواله راغے، هغه تړلے شوے وو هغه اووے یَا محمدؐ یا محمدؐ حضرتؐ د هغه خواله راغے او تپوس ئے ترے اوکړو څه وائے ، هغه اووے تاسوّ زه په کوم قصور کښې نیولے یَم،او د حاجیانو سردار(یعنی عضباء لره)،مو په کوم قصور کښے نیولی ده، حضرتؐ اوفرمائیل لوئے قصور دے او ما تۀ نیولے ئے ستا دَ دوست ثقیف دَ قصور په بدله،د دے وینا سره حضرتؐ روان شو هغه بیا آواز اوکړو یا محمدؐ یا محمدؐ!او حضرتؐ زیات رحم دل او مهربانه وو حضرتؐ بیا واپس شو د هغه په په طرف،او تپوس ئے ترِ اوکړو څه وائے، هغه اووے زۀ مسلمان یم حضرتؐ اوفرمائیل کچرے تا هغه وخت دا وئیلے وے کله چه ته د خپل کار مختار وے(یعنی گرفتارشوے نۀ وے)نو بالکل خلاصے به وُ مونډلے وو،بیا حضرتؐ واپس شو هغه ورته بیا آواز اوکړو یا محمدؐ یا محمدؐ حضرتؐ بیا راغے او تپوس ئے اوکړو تاسو څه وایئی، هغه اووے زۀ وږے شوے یَم په ما غله اوخوروَه او تږے یم او به راباندِ او څښوه، حضرتؐ اوفرمائیل دا واخله(یعنی غله اوبه ئے ورته ورکړے)بیا ئے د هغه دواړو سړو په بدله پریخودو کوم چه ثقیف قید کړی وو،راوی وائی په انصارو کښې یوه ښځه قید شوه او عضباء هُم قید شوله،بیا هغه ښځه په بند کښې وه او کافر خپلو څناورو لره د خپل کور مخے ته آرام ورکوۀ، هغه یوه شپه اوتختیدو د قید نه راووتله او دَ اوښانو خواله راغله، هغه چه به د کوم اوښ خواله ورتله هغه به آواز کوۀ هغے به هغه پریخودو تر دے پورے چه د عضباء خواله راغله هغے آواز اونۀ کړو،او هغه ډیره غیربه اوښه وه،ښځه د هغے په شا باندِ کیښناسته او اووهله ئے هغے لره نو هغه روانه شوه،کافرانو ته خبر اوشو، هغو په عضباء پسے ورستو را روان شول(په خپله خپله اوښه باند سواره)لیکن عَضباء هغو لره ستړی کول(یعنی چا هم اونۀ نیوه عضباء داسے تیز رفتاره وه)هغے ښځے د الله نذر اوکړو چه کچرے عضباء ما صحیح اورَسَولَه نو زۀ به دا قربانی کومه، هر کله چه هغه ښځه مدینے ته راغله او خلقو اولیده،نو هغوئ اووے دا خو عضباء ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښه، هغے ښځے اووے ما نذر کړے ده، چه کچرے په عضباء باندِ ماله الله تعالی خلاصے راکړی نو زۀ به دا قربانی کوم ، د دے په اوریدو صحابهٔ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو،او حضرتؐ ته ئے بیان اوکړو حضرتؐ په حیرانتیا سره) او فرمائیل سبحن الله څه بده بدله ورکړه دغه ښځے

عضباء لره (یعنی عضباء خو د هغې روح بچ کړو او هغه دعضباء روح اخستل غواړی) هغې نذر کړے چه که الله پاك دعضباء په شا باندِ هغې له خلاصې ورکړو نو هغه به هم دغه عضباء قربانی کوی، کوم نذر چه دګناه دپاره اوکړے شی هغه به نهٔ شی پوره کولے او نه هغه نذر چه دهغې انسان مالك نهٔ او ، او دابن حجر په روایت کښې دی چه نشته دے نذر دالله تعال په نافرمانئ کښې۔

فائده: نووی علیه الرحمه ونیلے دی ددے حدیث نه دا معلومه شوه، چه که چرے یو کافر قید وی او بیا مسلمان شی نو هغه به نهٔ شی قتلولے ، لیکن هغه به غلام کوی یا به دهغې په بدل روپئ یا بل سړے اخلی، یائے مفت پریخودل درست دی ، او کوم چه دقید نه مخکښې مسلمان وی ، نو هغه به دنورو مسلمانانو په شان بالکل آزادی۔

په دے موقعه باند یو نقل ماته یا دراغلے دے، یو افغان دچاعالم نه تمام علم حاصل کړو ، هر کله چه فارغ شو نو یوه ورځ ئے چړه تیره کړه، او دخپل استا خواله په تنهایئ کښې او رسیدو ، او ورته ئے اووے،تاسو په ما باندِ دومره لوئے احسان کړے دے چه د هغې بدله په دنیا کښې څه نهٔ شی کیدے،مګر یوه بدله ما د ډیر سوچ نه پس غواره کړے ده،استاد اووے هغه څه ده؟شاګرد اووے زهٔ به دے چړه سره تا لره شهید کوم،تاسو به په مزه سره جنت ته اوسپارلے شئ،او زهٔ به دوزخی اوګنړلے شم،استاد ډیر ګهبراؤ شو او د ډیرو سوچ نه پس ئے اووے چه تدبیر خو تاسو ډیر ښه سوچ کړے دے،لیکن لږ صبر اوکړه چه زهٔ غسل اوکړم او کپړے بدلے کړم۔

شاګرد اووے ډیره ښه ده او د حجرے نه بهر را اووتو استاذ د حجرے دروازه بنده کړه او چغې ئے شروع کړے، چه بیا خلقمراشئ ما وژنی،د کلی خلق راجمع شو او هغه شاګرد ئے ملامته کړو، هغه اووے واه عجیبه الټه زمانه ده،ما خو دَ استاد سره نیکئ د پاره د خپل ځان جهنمی کیدل قبول کړی وو چه د هغه عقل داسے الټه دے نو ځما څه غرض دے چه ده ته شهید درجه ورکوم۔

اګر چه څناورو قربانی کول څه ګناه نهٔ دے خو دا د اخلاقو نه لرے خبره ده چه هغه څماور د د سورلئی وی او مزیداره سورلی ورکوی او دَ وخت مطابق په کار راځی هم هغه و

قربانی کوی، د دے نه عِلاوه عضبا دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښه وه، هغه د دغې ښځې مِلك نهٔ وو، بیا د پر دی څناور قربانی کول په ګناه کښې داخل دی۔

نووی علیه الرحمة وائی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه کوم بنده د ګناه کولو نذر اوکړی لکه د شرابو څښلو نو هغه نذر باطل دے، او په هغے کښې کفاره وغیره څه نشته دےدَ مالكؒ او شافعیؒ او ابو حنیفهؒ او داؤد او جمهور علماء دغه قول دے ، او دَ امام احمدؒ په نزد په هغے کښې د قسم کفاره ده۔

(۴۲۴۶) عَنْ اَیُّوْبَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهُ وَ فِیْ حَدِیْثِ حَمَّادٍ کَانَتِ الْعَضْبَآءُ لِرَجُلٍ مِّنْ سَوَابِقِ الْحَآجِّ وَ فِیْ حَدِیْثِهٖ اَیْضًا فَاَتَتْ عَلٰی نَاقَةٍ ذَلُوْلٍ مُجَرَسَةٍ وَ فِیْ حَدِیْثِ الثَّقَفِیِّ وَ هِیَ نَاقَةٌ مُدَرَّبَةٌ. [راجع : ۴۲۴۵]

ترجمه: د ایوبؒ نه په دے اسناد سره په شان د هغے روایت دے او د حماد په روایت کښې دی چه عضباء د بنی عقیل دَ یو سړی وه، او د هغه حاجیانو سره چه به کومے اوښے مخکښے تللے د هغوئ نه وه، او په دے روایت کښې دا دی چه هغه ښځه د یوے اوښے خواله راغله چه هغه نرم مزاجه او غیریبه وه، او د ثقیؒ په روایت کښې دی او هغه اوښه وه غریبه۔

(۴۲۴۷) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ رَاٰی شَیْخًا یُّهَادٰی بَیْنَ ابْنَیْهِ فَقَالَ مَا بَالُ هٰذَا قَالُوْا نَذَرَ اَنْ یَّمْشِیَ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی عَنْ تَعْذِیْبِ هٰذَ نَفْسَهٗ لَغَنِیٌّ وَّ اَمَرَهٗ اَنْ یَّرْکَبَ. [بخاری ، ابوداود، نسائی ،]

ترجمه: د حضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم یو بوډا اولیدلو چه د خپلو دوارو ځامنو په مینځ کښے تکیه لګولے روان وو، حضرتؐ تپوس اوکړو د دځه حال دے؟ خلقو اووے ده نذر کړے دے د پیدل تللو ، حضرتؐ اوفرمائیل الله تعالی بی پرواه دے د دے عذاب ورکولو نه، او حکم ئے اوکړو هغه ته د سوریدلو۔

(۴۲۴۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَدْرَکَ شَیْخًا یَّمْشِیْ بَیْنَ ابْنَیْهِ وَیَتَوَکَّأُ عَلَیْهِمَا فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَا شَاْنُ هٰذَا قَالَ ابْنَاهُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ارْکَبْ اَیُّهَا الشَّیْخُ فَاِنَّ اللّٰهَ غَنِیٌّ عَنْکَ وَ عَنْ نَذْرِکَ وَاللَّفْظُ لِقُتَیْبَةَ وَ ابْنِ حُجْرٍ. [ابن ماجه]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم

بیو بوډا اولیدو چه د خپلو دوه ځامنو په مینځ کښی په تکیه روان وو، حضرتؐ اوفرمائیل څه شوی دَه لره، د هغه ځامنو اووے یا رسول الله په ده بانډې نذر دے(پیدل حج له د تلو)جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل سورِ شه اے بوډا، ولے چه الله تعالی محتاجه نهٔ دے ستا او ستا د نذر ورکولو۔

(۴۲۵۰) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ اَنَّهُ قَالَ نَذَرَتْ اُخْتِيْ اَنْ تَمْشِيَ اِلٰى بَيْتِ اللهِ حَافِيَةً فَاَمَرَتْنِيْ اَنْ اَسْتَفْتِيَ لَهَا رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَفْتَيْتُهُ فَقَالَ لِتَمْشِ وَلْتَرْكَبْ. [بخاری، نسائی]

ترجمه :د عقبه بن عامرؓ نه روایت دے چه ځما نذر اوکړو چه د بیت الله تهٔ به خپے ابله خپے ځمه نو حکم ئے اوکړو ما ته دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د تپوس کولو ، ما تپوس اوکړو نو حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل پیدل دِ هم ځی او سوره دِ هم ځی۔

فائده :نووی علیه الرحمة وئیلی دی،د بوډا حدیث خو محمول دے په دے بانډې چه خوك عاجز شی د تللو نه نو هغه دِ سور شی او یوه قربانی به اوکړی۔او دعقبه د خو د حدیث مطلب دا دے چه د کومے پورے چه طاقت وی نو پیدل دِ ځی بیا چه هر کله ستړے شی نو سوره دِ شی په دے حدیث کښی به هم دم ورکوی،او دغه قول دے د شافعیؒ او دَ یَوُ جماعت علماو د خپے ابله خپو تللو په صورت کښی پیزا په خپلو کول درست دی۔

(۴۲۵۳) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَفَّارَةُ النَّذْرِ كَفَّارَةُ الْيَمِيْنِ. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه :د عقبه بن عامر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. د نذر کفاره هم هغه ده کومه چه د قسم کفاره ده۔

فائده :نووی علیه الرحمة وئیلی دی زمونږ دَ اصحابو په نزد دا محمول دے نذر په اللحاج بانډې د هغے صورت دا دے ، مثلاً خوك اووائی چه که ما د زیدؒ سره خبرے اوکړے نو یو حج کول د خدائے دَ پاره په ما لازم دی،او بیا ورسره خبرے اوکړی نو ده لره اختیار دے خوا که د قسم کفاره ورکوی یا نذر په ځائے راوړی،او دَ امام احمدؒ په نزد محمول دے چه په معصیت بانډې لکه خوك نذر اوکړی د شرابو څښلو یا د بل څه گناه نو هغه به کفاره ورکوی په شان د

کفارے د قسم، او د یو جماعت د فقهاؤ اهلِ حدیثو مذهب دا دے، چه په هر نذر کښے ده ته اختیار دے خواه که نذر پوره کوی خواه که کفاره ورکوی۔

كِتَابُ الْأَيْمَانِ.

د قسم مسئلې.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْحَلْفِ بِغَيْرِ اللهِ تَعَالٰى.

د الله تعالىٰ نه سوا په بل چا د قسم خوړلو ممانعت.

(۴۲۵۴) عَنْ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ تَعَالٰى يَنْهٰكُمْ اَنْ تَحْلِفُوْا بِاٰبَائِكُمْ قَالَ عُمَرُ فَوَاللهِ مَا حَلَفْتُ بِهَا مُنْذُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنْهَا ذَاكِرًا وَّلَا اٰثِرًا. [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت عمر بن خطاب رضی الله تعالىٰ عنه نه روایت د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی الله تعالىٰ منع کوی تاسو لره د پلار نیکه د قسم خوړلو نه، حضرت عمر رضی اللّٰه تعَالیٰ عنه اووے قسم دے په الله بانډِ چه ما قسم نۀ دے خوړلے د پار نیکه هر کله چه ما دا اوریدلی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه، نۀ د خپل طرف نه نۀ د هبل د طرفنه۔

فائده: علمائے کرامو وئیلے دی حکمت د دے ممانعت دا دے چه په قسم سره عظمت یعنی لوئیے والے راخی د هغه سړی په چا چه قسم اوخوړے شِی، او لوئیے والے په حقیقت کښ خاص الله لره دے پس نۀ به شی مشابه کولے د الله سره هیڅوك۔ او دَ ابن عباسؓ نه منقول دی چه کچرے زۀ په الله قسم سل پیرے اوخورم او پوره ئے نۀ کړم نو غوره ده د دے نه چه په بل چا قسم اوخورم او پوره ئے کړم۔

جواب د دے دا دے چه دا په طور د عادت ئے د خلے نه وتلی وو، او هلته ئے د قسم نیت نۀ وو، او الله تعالىٰ چه کوم پخپل مخلقو بانډِ قسم خوری هغه د دے وجے نه چه دَ الله تعالىٰ نه اوچت څوك نشته دے، پس هغه(ج) شرف ورکوی خپل مخلوق لره په یو بل بانډِ په قسم خوړلو سره. نووی علیه الرحمة وئیلے دی زمونږ د علماء په نزد په غیر الله قسم خوړل مکروه

دی حرام نهٔ دی۔

(۴۲۵٦) عَنْ سَالِمٍ عَنْ اَبِيْهِ رضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ سَمِعَ النَّبِیُّ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ وهُوَ يحْلِفُ بِاَبِيْهِ بِمِثْلِ رِوَايَاتِ يُوْنُسَ وَ مَعْمَرٍ .[بخاری ، ترمذی ،نسائی]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے، چه رسول الله صلی الله علیه وسلم واؤریدل د عمرؓ نه قسم خوړل په خپل پلار سره بیا ئے بیان کړے دے حدیث لره پشان د روایت د یونس او معمر۔

(۴۲۵۷) عن عَبْدِاللهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ اَدْرَكَ عُمَرَ ابْنَ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ فِیْ رَكْبٍ وَّ عُمَرُ يَحْلِفُ بِاَبِيْهِ فَنَادَاهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلَا اِنَّ اللهَ يَنْهٰكُمْ اَنْ تَحْلِفُوْا بِاٰبَائِكُمْ فَمَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللهِ اَوْ لِيَصْمُتْ. [بخاری]

ترجمه:د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوموندلو حضرت عمر لره چه څو تنه سوَرو کښې او هغه قسم خوړلو په خپل پلار باندِ،نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته آواز اوکړو خبردار شه،الله تعالی منع کړے دی تاسو لره د خپل پلار نیکه د قسم خوړلو نه ، پس څوك چه ستاسو نه قسم خوړل غواړی هغه دِ په الله تعالی قسم خوری،یا دِ چپ پاتے کیږی(یعنی هدو قسم دِ نهٔ خوری ضرورت څهٔ دے)۔

(۴۲۵۸) عن ابنِ عُمَر قال قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلَا يَحْلِفْ اِلَّا بِاللهِ وَكَانَتْ قُرَيْشٌ تَحْلِفُ بِاٰبَآئِهِم قَالَ لَا تَحْلِفُوْا بِاٰبَآئِكُمْ. [بخاری ، نسائی]

ترجمه :د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کوم بنده چه قسم خوړل غواړی هغه د قسم نهٔ خوری مگر په الله تعالیٰ باندِ ، قریشو به په خپل پلارانو او نیکونو باندِ قسم خوړلو ،نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل مهٔ خوری قسم په خپل پلار نیکه باندِ۔

(۴۲٦۰) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ مِنْكُمْ فَقَالَ فِیْ حَلْفِهِ بِاللَّاتِ فَلْيَقُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهِ تَعَالَ اُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه ستاسو نه قسم اوخوری په لات(او عزی)باندے(دا دواړه بتان وو د جاهلیت په زمانه کښے به ورنه خلقو سجدے کولے)نو هغه د لَآاِلٰهَ اِلاَّ اللهُ اووائی.او څوک چه خپل ملګری ته اووائی راځه چه جواری اوکړو نو هغه د صدقه ورکړی.

فائده:ولے چه ده هغه کار اوکړو کوم چه کافر کوی او د بتانو تعظیم کول کفر دے.نوویؒ وئیلے دی هر کله چه څوک قس اوخوری په لات او عزی باندے یا د بل یو بت یا داسے اووائی کچرے ما داسے اوکړو نو زهٔ به یهودی یم یا به نصرانی یم یا به د اسلام نه وتلے یم یا به د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه منکر یَم نو د هغه قسم به هډو منعقد نهٔ وی،او هغه له استغفار کول او کلمه لوستل پکار دی ، او کفاره به پرے لازم نهٔ وی.

او دَ ابو حنیفهؒ په نزد کفاره لازمیږی،مګر مبتدع یا بری مِنَ النبی صلی اللّٰہ علیه وسلم یا د یهودی یا نصرانی په صورت کښے د دے د پاره چه هغه کفاره شی د ګناه،خطابیؒ وئیلے دی دومره صدقه به ورکوی څومره چه جوارئ کولو والا ورکوی،مګر صحیح دا دے چه د مقدار څه خصوصیت نشته دے،څومره چه ترے کیدے شی دومره صدقه د ورکړی،قاضی عیاضؒ وئیلے دی د دے حدیث نه د جمهورو علماء مذهب صحیح کیږی،چه ګناه هر کله په زړهٔ کښے جم شی نو هغه هم ګناه کیی،او د دے بیان د کتاب په شروع کښں په تفصیل سره تیر شوے دے.(نوویؒ)

(۴۲۶۳) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ سَمُرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لاَ تَحْلِفُوْا بِالطَّوَاغِیْ وَلاَ بِاٰبَائِکُمْ. [نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د عبدالرحمن بن سمره رضی اللّٰہ تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی مهٔ خورئ قسم په بتانو او نه په خپلو پلرونو او نیکونو.

باب ندب من حلف یمینا فرای غیرها خیراً منها ان یّاتی الذی هو خیرٌ ویکفر عن یمینه.

باب دے په بیان څوک چه قسم اوخوری په څه کار باندے او بیا د هغے خلاف اوړه

غوره اوګڼرې نو هغه د اوکړې او د قسم د کفاره ورکړې.

(۴۲۶۳) عَنْ اَبِیْ مُوْسَی الْاَشْعَرِیْ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ اَتَیْتُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فِیْ رَهْطٍ مِّنَ الْاَشْعَرِیِّیْنَ نَسْتَحْمِلُهٗ فَقَالَ وَاللّٰہِ لَا اَحْمِلُکُمْ وَمَا عِنْدِیْ مَا اَحْمِلُکُمْ عَلَیْہِ قَالَ فَلَبِثْنَا مَاشَآءَ اللّٰہُ ثُمَّ اُتِیَ بِاِبِلٍ فَاَمَرَلَنَا بِثَلَاثِ ذَوْدٍ غُرِّ الذُّرٰی فَلَمَّا انْطَلَقْنَا قُلْنَا اَوْ قَالَ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ لَا یُبَارِکُ اللّٰہُ لَنَا اَتَیْنَا رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهٗ فَحَلَفَ اَنْ لَّا یَحْمِلَنَا ثُمَّ حَمَلَنَا فَاَتَوْهُ فَاَخْبَرُوْهُ فَقَالَ مَا اَنَا حَمَلْتُکُمْ وَلٰکِنَّ اللّٰہَ حَمَلَکُمْ اِنِّیْ وَاللّٰہِ اِنْشَآءَ اللّٰہُ لَا اَحْلِفُ عَلٰی یَمِیْنٍ ثُمَّ اَرٰی خَیْرًا مِّنْهَا اِلَّا کَفَّرْتُ عَنْ یَمِیْنِیْ وَ اَتَیْتُ الَّذِیْ هُوَ خَیْرٌ [بخاری، ابوداود، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو موسیٰ اشعری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله د څو اشعریانو سره د حضرتؐ نه د سورلئی غوښتلو د پاره راغلم حضرتؐ اوفرمائیل چه خدائے قسم دے تاسو له ئې درکړم بیا حصار شو مونږ څومره چه الله ته منظوره وه،د دے نه پس جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوښان راغلو،حضرت حکم اوکړو د سپین کو هان دَ درے اوښانو راکولو،هر کله چه مونږ روان شو نو مونږ اووے یا څنو زمونږ نه اووے یا څنو مُونږ نه اووے چه الله برکت جرانهٔ کړو مونږ ته چه مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو او سورلئی مو اوغوښته نو حضرتؐ قسم اوخوړو چه مونږ ته سورلئی نهٔ میلاویږی بیا حضرتؐ مونږ د سورلئی راکړه خلق راغے او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئې راوړے،حضرتؐ اوفرمائیل ما تاسو نهٔ یئی سواره کړی مګر الله تعالی سوله کړیئ، او زهٔ خو که الله غواړی د یوے خبرے قسم به نهٔ خورمه،بیا د هغے نه غوره بل کار اووینم، مګر د خپل قسم کفاره به ورکوم او هغه کار به کوم کوم چه غوره دے۔

فائده: نووی وائی د دے حدیث نه او د دے نه پس چه کوم حدیثونه راغی دا معلومیږی،چه د قسم خوړلو نه پس کچرے د هغے ماتول غوره معلوم شی نو مات دِ ئې کړی او کفاره دِ ورکړی او په دے بانډِ دَ علمائے کرامو اتفاق دے،او کفاره د قسم ماتولو نه مخکښی نهٔ واجبیږی،او دَ ماتولو نه پس کفاره ورکول درست دی لیکن د قسم نهٔ مخکښی کفاره درسته نهٔ ده په دے بانډِ هُم اتفاق دے،او اختلاف دے په دے کښی چه د ماتولو نه مخکښی کفاره ورکول روا

دی یا نهٔ، نو دَ مالكؒ اوزاعیؒ او ثوریؒ په نزد روا دی، او دَ امام ابو حنیفه علیه الرحمة په نزد روانهٔ دی۔

(۴۲٦۴) عَنْ اَبِیْ مُوْسٰی رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَرْسَلَنِیْ اَصْحَابِیْ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَسْئَلُهُ لَهُمُ الْحُمْلَانَ اِذْهُمْ مَعَهُ فِیْ جَیْشِ الْعُسْرَةِ وَهِیَ غَزْوَةُ تَبُوْکَ فَقُلْتُ یَا نَبِیَّ اللّٰهِ اِنَّ اَصْحَابِیْ اَرْسَلُوْنِیْ اِلَیْکَ لِتَحْمِلَهُمْ فَقَالَ وَاللّٰهِ لَا اَحْمِلُکُمْ عَلٰی شَیْئٍ وَّ وَافَقْتُهُ وَهُوَ غَضْبَانُ وَلَا اَشْعُرُ فَرَجَعْتُ حَزِیْنًا مِّنْ مَنْعِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَدْ وَجَدَ فِیْ نَفْسِهِ عَلَیَّ فَرَجَعْتُ اِلٰی اَصْحَابِیْ فَاَخْبَرْتُهُمُ الَّذِیْ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ اَلْبَثْ اِلَّا سُوَیْعَةً اِذْ سَمِعْتُ بِلَالًا یُّنَادِیْ اَیْ عَبْدَاللّٰهِ بْنَ قَیْسٍ فَاَجَبْتُهُ فَقَالَ اَجِبْ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَدْعُوْکَ فَلَمَّا اَتَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خُذْ هٰذَیْنِ الْقَرِیْنَیْنِ وَهٰذَیْنِ الْقَرِیْنَیْنِ اَبْعِرَةٍ نِ ابْتَاعَهُنَّ حِیْنَئِذٍ مِّنْ سَعْدٍ فَانْطَلِقْ بِهِنَّ اِلٰی اَصْحَابِکَ فَقُلْ اِنَّ اللّٰهَ اَوْ قَالَ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَحْمِلُکُمْ عَلٰی هٰٓؤُلَآءِ فَارْکَبُوْهُنَّ قَالَ اَبُوْ مُوْسٰی فَانْطَلَقْتُ اِلٰی اَصْحَابِیْ بِهِنَّ فَقُلْتُ اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَحْمِلُکُمْ عَلٰی هٰٓؤُلَآءِ وَلٰکِنَّ وَاللّٰهِ لَآ اَدَعُکُمْ حَتّٰی یَنْطَلِقَ مَعِیَ بَعْضُکُمْ اِلٰی مَنْ سَمِعَ مَقَالَةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حِیْنَ سَاَلْتُهُ لَکُمْ وَمَنَعَهُ فِیْ اَوَّلِ مَرَّةٍ ثُمَّ اَعْطَاهُ اِیَّایَ بَعْدَ ذٰلِکَ لَا تَظُنُّوْا اَنِّیْ حَدَّثْتُکُمْ شَیْئًا لَمْ یَقُلْهُ فَقَالُوْا لِیْ وَاللّٰهِ اِنَّکَ عِنْدَنَا لَمُصَدَّقٌ لَنَفْعَلَنَّ مَا اَحْبَبْتَ فَانْطَلَقَ اَبُوْ مُوْسٰی بِنَفَرٍ مِّنْهُمْ حَتّٰی اَتَوُا الَّذِیْنَ سَمِعُوْا قَوْلَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْعَهُ اِیَّاهُمْ ثُمَّ اِعْطَاْئَهُمْ بَعْدُ فَحَدَّثُوْهُمْ بِمَا حَدَّثَهُمْ بِهٖ اَبُوْ مُوْسٰی سَوَآءً۔ [بخاری]

ترجمه: دابو موسی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه څما ملګرو زهٔ اولیږلم په رسول الله صلی الله علیه وسلم پسے دسورلئ غوښتلو دپاره، څکه چه دااصحابؓ دهغوئ سره تلی وو په جیش العُسره یعنی په غزوهٔ تبوك کښ، ما عرض اوکړو اے دالله نبی زما ملګروزهٔ رالیږلے یم ستاسو نه دسورلئ غوښتلو دپاره، حضرتؐ او فرمائیل قسم په خدائے زهٔ تاسوله سورلئ نهٔ درکوم، او اتفاق خبره وه چه هر کله ما دا اووے حضرتؐ په غصه کښ وو، ماته معلوم نهٔ وه زهٔ په خفګان سره واپس شوم، او په دوه خبرو زهٔ ډیر خفه وم، یو خو رسول الله صلی الله علیه وسلم په انکار، او دویم په دے خیال سره چه چرته حضرتؐ زما نه خفه شوے نهٔ وی، زهٔ دخپلو ملګرو خواله راغلم، او هغوئ دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیل اوریدلی

وو. لږ ساعت تیر نهٔ وو چه دبلال آواز مې واوریدو چه اے عبدالله بن قیسؓ (دا نوم دے دابو موسیٰ اشعری) څوك ئے؟ ما جواب ورکړو، هغوئ اووے لاړشه رسول الله صلی الله علیه وسلم تالره غواړی زهٔ دحضرتؓ خواله راغلم حضرتؐ او فرمائیل دا جوړه واخله او دا جوړه او داجوړه داوښانو تول شپږ اوښان چه هغے لره حضرتؐ دسعدؓ نه اخستی وو، او دابو څه خپلو یارانو له اوورته اووایه. الله تعالیٰ یادهغه رسولؐ دا سورلئ تاسو له درکړے دی تهٔ سورشه په دے بانو، ابو موسیٰؓ وائی ما اوښان روان کړل او دخپلو ملګرو خواله لاړم او هغوئ ته مې اووے، رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسوله دا سورلئ راکړے دی، لیکن زهٔ تاسو نهٔ پریږدم دکومے پورے چه ستاسو نه څه خلق زما سره دهغه خلقو خواله لارنهٔ شی چاچه د رسول الله صلی الله علیه وسلم وړومبے انکار اوریدلے دے، بیا ورکول دهغوئ خو چه تاسو دا ګمان اونهٔ کړئ چه ما تلوسته څه وئیلے وو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم نهٔ وو فرمائیلی، (چونکه ړومبے رسول الله صلی الله علیه وسلم ابو موسیٰؓ ته دسورلئ ورکولو نه انکار اوکړو او هغوئؓ خپلو ملګروته اووے، روستو ددے نه حضرت سورلئ ورکړے نو ابو موسیٰؓ اوویریدو چه چرته څما ملګری داسے او نهٔ ګنړی چه ده دخپل طرف نه انکار کړے وو او رسول الله صلی الله علیه وسلم انکار نهٔ وو کړے څکه ئے مخامخ کول او غوښتل) څما ملګرو اووے په خدائے قسم دے چه تهٔ زمونږ په نزد رښتوے ئے او څنګه چه تهٔ وائے دغسے په مونږه کؤو (یعنی ستاسو سره به څو) بیا ابوموسیٰؓ دهغوئ نه څوکسان دځان سره دهغه خلقو خواله بوتلو چاچه درسول الله صلی الله علیه وسلم ړومبے انکار او بیا داوښانو ورکول اوریدلی وو، او هغوئ هم هغسے بیان اوکړو دابو موسیٰ ملګروته لکه څنګه چه ابو موسی هغوئ ته بیان کړے وو.

(۴۲۶۵) عَنْ اَبِیْ قِلَابَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کُنَّا عِنْدَ اَبِیْ مُوْسٰی فَدَعَا بِمَائِدَتِهٖ وَعَلَیْهَا لَحْمُ دَجَاجٍ فَدَخَلَ رَجُلٌ مِّنْ بَنِیْ تَیْمِ اللهِ اَحْمَرُ شَبِیْهٌ بِالْمَوَالِیْ فَقَالَ لَهٗ هَلُمَّ فَتَلَكَّاَ فَقَالَ هَلُمَّ فَاِنِّیْ قَدْ رَاَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَاْکُلُ مِنْهُ فَقَالَ الرَّجُلُ اِنِّیْ رَاَیْتُهٗ یَاْکُلُ شَیْئًا فَقَذِرْتُهٗ فَحَلَفْتُ اَنْ لَّا اَطْعَمَهٗ فَقَالَ هَلُمَّ اُحَدِّثُكَ عَنْ ذٰلِكَ اِنِّیْ اَتَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ رَهْطٍ مِّنَ الْاَشْعَرِیِّیْنَ نَسْتَحْمِلُهٗ فَقَالَ وَاللهِ لَا اَحْمِلُكُمْ عَلَیْهِ فَلَبِثْنَا مَاشَآءَ اللّٰهُ فَاُتِیَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِنَهْبِ اِبِلٍ فَدَعَا بِنَا فَاَمَرَلَنَا بِخَمْسٍ

نَوْدِغُرَّى الذُّرٰى قَالَ فَلَمَّا انْطَلَقْنَا قَالَ بَعْضُنَا لِبَعْضٍ اَغْفَلْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمِيْنَهُ لَا يُبَارَكُ لَنَا فَرَجَعْنَا اِلَيْهِ فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا اَتَيْنٰكَ حَلَفْتَ اَنْ لَّا تَحْمِلَنَا ثُمَّ حَمَلْتَنَا اَفَنَسِيْتَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اِنِّىْ وَاللّٰهِ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ لَا اَحْلِفُ عَلٰى يَمِيْنٍ فَاَرٰى غَيْرَهَا خَيْرًا مِّنْهَا اِلَّا اَتَيْتُ الَّذِىْ هُوَ خَيْرٌ وَّتَحَلَّلْتُهَا فَانْطَلِقُوْا فَاِنَّمَا حَمَلَكُمُ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ. [بخاری، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دابو قلابه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه زهٔ دابو موسیٰ سره وم هغوئ خپل دسترخوان رااوغوښتو چه په هغے باندِ دچرګ غوښه وه، یو سړے راغے دبنی تیم الله (او قبیلے) نه سورنګ والا لکه څنګه چه غلام وی، ابو موسیٰ هغه ته اووے راځه (یعنی زمونږ سره خوراك کښې شریك شه) هغه حصار شو، بیا ابو موسیٰ اووے راځه ولے چه ما رسول الله صلی الله علیه وسلم لره په دے غوښه خوړلو لیدلے دے، هغه سړی اووے ما چرګ لره په څه خوړلو او لیدو(یعنی ګندګئ وغیره باندِ) نو ماته کرکه راغله او قسم مِ اوخوړو چه اوس به ددے غوښه نهٔ خورمه ابو موسیٰ اووے راشه شریك شه، زهٔ تاته قسم حدیث هم بیانوم، چه زهٔ درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلم دخپلو څو اشعری ملګرو سره دسورلئ غوښتلو دپاره، حضرت او فرمائیل څما سره سورلئ نشته دے، او په الله قسم دے چه زهٔ تاسو ته سورلئ نهٔ درکوم، بیا دکومے پورے چه الله ته منظوره وه مونږ حصار شو، ددے نه پس رسول الله صلی الله علیه وسلم ته داوښانو لوټ راغے حضرتؐ په مونږ پسے قاصد رالیږلو او دسپین قب پنځه اوښان ئے راکړل، هر کله چه مونږ روان شونو یو بل ته مو اووے چه درسول الله صلی الله علیه وسلم هیر شو هغه قسم چه هغوئ خوړلے وو، (چه مونږ تاسو ته سورلئ نهٔ درکوو او مونږه هغوئ ته یاد نهٔ کړل) نو برکت به نهٔ وی مونږ ته، بیا مونږ واپس هغوئ له لاړو او عرض اوکړو یا رسول الله! مونږ راغلی وو ستاسو نه دسورلئ غوښتلو دپاره نو تاسو قسم خوړلے وو چه تاسو ته سورلئ نهٔ درکوو بیا تاسو مونږ ته سورلئ راکړے او یا رسول الله خپل قسم دهیرولهٔ حضرتؐ او فرمائیل زما خو په الله قسم دے که الله تعالی غواړی یو قسم به او نهٔ خورمه، بیا چه دهغے نه غوره بله خبره او وینم نو کومه چه غوره خبره وی هغه کوم او خپل قسم ماتوم، پس تاسو څئ تاسو له الله تعالی سورلئ درکړے دی، (دغه شان ئې هم خپل قسم مات کړه اودَ

چرګ غوښه چه حلاله ده خوړه هغې لره)

(۴۲۶۸) عَنْ زَهْدَمٍ الْجَرْمِيِّ قَالَ دَخَلْتُ عَلٰى اَبِيْ مُوْسٰى وَهُوَ يَاْكُلُ لَحْمَ الدَّجَاجِ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِهِمْ وَزَادَ فِيْهِ قَالَ اِنِّيْ وَاللّٰهِ مَا نَسِيْتُهَا .

ترجمه: دزهدم جرمی ؒ نه هم دغه روایت دے کوم چه پورته تیر شو، په دے کښې دومره زیاته ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل قسم په خدائے چه زۀ نۀ هیروم قسم لره۔

(۴۲۶۹) عَنْ اَبِيْ مُوْسَى الْاَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَتَيْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ فَقَالَ مَا عِنْدِيْ مَا اَحْمِلُكُمْ ثُمَّ بَعَثَ اِلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَلَاثَةِ ذَوْدٍ بُقْعِ الذُّرٰى فَقُلْنَا اِنَّا اَتَيْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ فَحَلَفَ اَنْ لَّا يَحْمِلَنَا فَاَتَيْنَاهُ فَاَخْبَرْنَاهُ فَقَالَ اِنِّيْ لَا اَحْلِفُ عَلٰى يَمِيْنٍ اَرٰى غَيْرَهَا خَيْرًا مِّنْهَا اِلَّا اَتَيْتُ الَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ . [راجع : ۴۲۶۵]

ترجمه: دابو موسی اشعری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو دسورلئ غوښتلو دپاره حضرت اوفرمائیل څما سره سورلئ نشته دے،او زۀ تاسو ته قسم په خدائے سورلئ نۀ درکوم،بیا جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د دے اوښان راولیږل چه د هغې قبونه ډیر اوچت وو،مونږه اووے مونږ خو د حضرت خواله ورغلی وو د سورلئ غوښتو د پاره،نو هغوئ قسم خوړلے وو چه مونږ له سورلئ نۀ راکوی،بیا مونږ د هغوئ خواله لاړو او هغوئ ته مو بیان اوکړو،حضرت اوفرمائیل زه به په یو خبره قسم نۀ خورم،بیا چه بله خبره غوره اووینم،نو هغه غوره کار کوم(او د قسم کفاره ورکوم)

(۴۲۷۰) عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى قَالَ كُنَّا مُشَاةً فَاَتَيْنَا نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَسْتَحْمِلُهُ بِنَحْوِ حَدِيْثِ جَرِيْرٍ .

ترجمه:دَ ابو موسیٰ نه روایت دے مونږ پیدل وو په سفر کښې نو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د سورلئ غوښتلو دَ پاره راغلو،بیائے بیان کړو حدیث لره په دغه شان لکه چه پورته تیر شو۔

(۴۲۷۱) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اَعْتَمَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ رَجَعَ اِلٰى اَهْلِهِ فَوَجَدَ الصِّبْيَةَ قَدْ نَامُوْا فَاَتَاهُ اَهْلُهُ بِطَعَامِهِ فَحَلَفَ اَنْ لَّا يَاْكُلَ مِنْ اَجْلِ صِبْيَتِهِ ثُمَّ بَدَا لَهُ فَاَكَلَ [illegible] صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلٰى يَمِيْنٍ فَرَاٰى غَ[illegible]

خیراً منها فلیأتها ولیکفر عن یمینه.

ترجمه: دَ ابو هریره رضی الله تعالی نه نه روایت دے وائی چه یو سړی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره(په مجلس کښں) دیر ساعت تیر کړو،بیا چه هغهٔ خپل کور ته لاړو نو بچی ئے اوده شوی وو،د هغه بنځی غله راوړه، هغه قسم اوخوړو چه زهٔ نهٔ خورم دَ خپلو بچو دَ وجے نه بیا هغهٔ ته خوړل مناسب معلوم شولو او اوخوړه ئے ورستو(د قسم)نه،د دے نه پس بیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغے او هغویٔ ته ئے بیَان اوکړو،حضرتؐ اوفرمائیل کوم بنده چه قسم اوخوری په څه خبره بَاندِ بیَا بَله خبره د هغے نه غوره اوګنړی،نو او دِئے کړی او د قسم کفاره دِ ورکړی۔

(۴۲۷۲) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من حلف علی یمین فرای خیراً منها فلیکفر عن یمینه ولیفعل. [ترمذی]

ترجمه :د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، چا چه قسم اوخوړو پَه څه خبره باندِ بیا ئے بَله خبره دَ هغے نه غوره اوګنړله نو د قسم دِ کفاره ورکړی،او هغه غوره خبره دِ اوکړی۔

(۴۲۷۳) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من حلف علی یمین فرای غیرها خیراً منها فلیأت الذی هو خیر ولیکفر عن یمینه.ولیفعل :

ترجمه:د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل خوك چه قسم اوخوری په څه خبره،بیا د هغے خلاف ورته غوره ښکاره شی،نو کوم چه ورته غوره ښکاری هغه دِ اوکړی او دَ قسم دِ کفاره ورکړی۔

(۴۲۷۴) عن سهیل فی هذا الاسناد بمعنی حدیث مالک فلیکفر یمینه ولیفعل الذی هو خیر.

ترجمه :د سهیلؒ نه په دغه اسناد سره روایت دے په دے کښں دا دی چه کفاره دِ ورکړی د قسم او کوم کار چه غوره دے هغه دِ اوکړی۔

(۴۲۷۵) عن تمیم ابن طرفةؒ قال جاء سائل الی عدی ابن حاتم رضی الله تعالی عنه فسئله نفقة فی ثمن خادم او فی بعض ثمن خادم فقال لیس عندی ما اعطیک الا درعی و مغفری فاکتب الی اهلی ان

يُطْعِمُ كَهَا قَالَ فَلَمْ يَرْضَ فَغَضِبَ عَدِيٌّ فَقَالَ وَاللهِ لَا أُعْطِيكَ شَيْئًا ثُمَّ إِنَّ الرَّجُلَ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ فَقَالَ امَا وَاللهِ لَوْ لَا أَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِيْنٍ ثُمَّ رَاى اَتْقَى لِلهِ مِنْهَا فَلْيَأْتِ التَّقْوٰى مَا حَنِثْتُ بِيَمِيْنِيْ. [نسائي ، ابن ماجه]

ترجمه: د تميم بن طرفهٔ نه روايت دے وائي چه يو فقير د عدي بن حاتمؓ خواله راغے او سوال ئے اوکړو د هغوئ نه د يو غلام د قيمت يا د هغه د قيمت د څه حِصے عديؓ اووے څما سره څه نشته دے مګر يوه زغره او د اوسپنے د توپئ نه، خو زهٔ خپل کور والا ته ليکم تاله د دركولو د پاره هغه راضي نهٔ شولو، عديؓ غصه شولو او ورته ئے اووے قسم په خدائے زهٔ تا ته هيڅ نهٔ دركوم بيا هغه سړے راضي شولو، عديؓ اووے كچرے ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دا نهٔ وے اوريدلے چه هغوئ فرمائيلي دی كوم بنده چه قسم اوخوري او بيا بله خبره د هغے نه زياته د پرهيز ګارئ اوګنړي نو هغه خبره د اوكړي، نو ما به خپل قسم نهٔ وو مات كړے (او تا ته به مے څه نهٔ وو دركړي).

(۴۲۷۶) عَنْ عَدِيِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِيْنٍ فَرَاى غَيْرَهَا خَيْرًا مِّنْهَا فَلْيَأْتِ الَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ وَّلْيَتْرُكْ يَمِيْنَهُ. [راجع : ۴۲۷۵]

ترجمه: د عدي بن حاتم رضي الله تعالى عنه نه روايت دے وائي چه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلي دی څوك چه قسم اوخوري او بيا د هغے خلاف كول غوره ګنړي نو هغه د لوكړي، او قسم د پريږيدی.

(۴۲۷۷) عَنْ عَدِيٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَلَفَ أَحَدُكُمْ عَلَى الْيَمِيْنِ فَرَاى خَيْرًا مِّنْهَا فَلْيُكَفِّرْهَا وَالْيَأْتِ الَّذِيْ هُوَ خَيْرٌ. [راجع : ۴۲۷۵]

ترجمه: د عديؓ نه روايت دے وائي چه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم هر كله چه ستاسو نه څوك قسم اوخوري او بيا د هغے نه خلاف كول غوره اوګنړي نو د قسم كفاره د وركړي او كوم كار چه غوره دے هغه دے وكړي.

(۴۲۷۹) عَنْ عَدِيِّ ابْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ وَ اَتَاهُ رَجُلٌ يَسْئَلُهُ مِائَةَ دِرْهَمٍ وَاَنَا ابْنُ حَاتِمٍ وَاللهِ أُعْطِيكَ ثُمَّ قَالَ لَوْ لَا أَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِيْنٍ ثُمَّ رَاى خَيْرًا مِّنْهَا فَلْيَأْتِ

الَّذِیْ هُوَ خَیْرٌ. [راجع : ۴۲۷۵]

ترجمه: د عدی بن حاتم رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یو سړے د هغوی خواله راغے او سل درهمه ئے او غوښتلو هغوی اووے ته ما نه سل درهمه غواړے او زهٔ د حاتم ځوئ یَم قسم په خدائے چه زهٔ ئے تا له نهٔ درکوم، بیا ئے اووے ما به داسے کړے وے (یعنی تا ته به م نه وے درکړے) کچرے ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا نهٔ وے اوریدلے چه فرمائیلی ئے وو څوک چه قسم اوخوری د څه کار او بیا د هغے نه بهتر بل کار اوګنړی نو کوم چه غوره دے هغه دِ اوکړی.

(۴۲۸۰) عَنْ تَمِیْمِ ابْنِ طَرَفَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَدِیَّ رَجُلًا سَئَلَهٗ فَذَکَرَ مِثْلَهٗ وَ زَادَ وَلَکَ اَرْبَعُ مِائَةٍ فِیْ عَطَآئِیْ.

ترجمه: د تمیم بن طرفهٔ نه روایت دے، وائی چه چه ما د عدیؓ بن حاتم نه اوریدلی دی چه یو سړی د هغویؓ نه سوال اوکړو بیا ئے بیان کړو حدیث په دغه شان کښں دا دی چه عدیؓ اووے ته څلور سوه درهمه واخله زما د تنخوانه.

(۴۲۸۱) عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ ابْنِ سَمُرَةَ قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَا عَبْدَالرَّحْمٰنِ ابْنَ سَمُرَةَ رضی الله تعالی عنهُ لَا تَسْئَلِ الْاِمَارَةَ فَاِنَّکَ اِنْ اُعْطِیْتَهَا عَنْ مَّسْئَلَتٍ وُ کِلْتَ اِلَیْهَا وَ اِنْ اُعْطِیْتَهَا عَنْ غَیْرِ مَسْئَلَةٍ اُعِنْ وَ اِذَا حَلَفْتَ غَیْرَهَا خَیْرًا مِّنْهَا فَکَفِّرْ عَنْ یَّمِیْنِکَ وَ اٰئْتِ الَّذِیْ هُوَ خَیْرٌ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی،]

ترجمه: د عبدالرحمن بن سمرهؓ نه روایت دے، وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ما ته اوفرمائیل، اے عبدالرحمن بن سمرهؓ! د حکومت خواهش مهٔ کوه ولے چه که په درخواست بانډِ تا ته حکمت میلاؤ شی نو الله تعالی به ستا مدد نهٔ کوی، او چه بغیر دَ خواهش یعنی غوښتلو نه میلاؤ شی نو الله تعالی به ستا مددګار وی او هر کله چه تهٔ په څه کار بانډِ قسم اوخورے او بیا د هغے نه خلاف غوره اوګنړے نو د قسم کفاره ورکړه او کوم کار چه غوره دے هغه اوکړه.

بَابُ الْیَمِیْنِ عَلٰی نِیَّةِ الْمُسْتَحْلِفِ.

د قسم خوړونکی د نیت مطابق به قسم وی.

(۴۲۸۳) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یمینک علی ما یصدقک علیه صاحبک وقال عمرو یصدقک به صاحبک. [ابو داود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، قسم به ستا په هغه مطلب باندې وی په کوم چه ستا ملګرے تا لره رښتونے اوګڼړی۔

(۴۲۸۴) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَلْیَمِیْنُ عَلٰی نِیَّتِ الْمُسْتَحْلِفِ. [راجع : ۴۲۸۳]

ترجمه: د دې حدیثونو مطلب دا دے چه هر کله قاضی یا بل څوك چه چا له قسم ورکړی او هغه د مکارئ نۀ د خپل ځان د ګناه نه د بچ کولو د پاره قسم اوخوری او د هغې مطلب بل شان وی نو دا مکروه ته فائده نۀ ورکوی اود قسم ګناه به په ده پریوځی او په دې باندې اجماع دهٔ(نوویؒ)

بَابُ الْاِسْتِثْنَاءِ فِی الْیَمِیْنِ وَ غَیْرِهَا.

په قسم کښې انشاء الله وئیل

(۴۲۸۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ کَانَ لِسُلَیْمٰنَ عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ سِتُّوْنَ امْرَاَةً فَقَالَ لَاَطُوْفَنَّ عَلَیْهِنَّ اللَّیْلَةَ فَتَحْمِلُ کُلُّ وَّاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ فَتَلِدُ کُلُّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ غُلَامًا فَارِسًا یُّقَاتِلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَلَمْ تَحْمِلْ مِنْهُنَّ اِلَّا وَاحِدَةٌ فَوَلَدَتْ نِصْفَ اِنْسَانٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَوْ کَانَ اسْتَثْنٰی فَوَلَدَتْ کُلُّ وَاحِدَةٍ مِّنْهُنَّ غُلَامًا فَارِسًا یُّقَاتِلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ.

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه د حضرت سلیمان علیه السلام شپیته بیبیانے وے. هغوئ اووے زۀ به د دے تولو سره په یوه شپه کښې میلاویږم او تولے به حملدارے کیږی بیا به هره یوه د هغوئ نه یو هلك راوړی چه هغه به سوریږی اود الله تعالی په لاره کښے به جهاد کوی. (بیا حضرت سلیمان علیه السلام د هغوئ تولو سره همبستری اوکړه) لیکن یوه هم حامله نۀ شوه سوا د یوے ښځے نه چه هغې هم نیم بچے اوزیږوو (چه د هیڅ کار هم نۀ وو) جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل چه کچرے سلیمان علیه السلام

انشاء الله ونیلے وے نو هرے یوے بنځے به یو هلك زیږولے وو او شاهسوار به وو دالله تعالی په لاره کښ به ئے جهاد کړو.

فائده: نووی علیه الرحمه وائی په دے حدیث کښ څو فائدے دی، یوه خو دا چه کوم کار آینده کولو دپاره وائی نو دانشاء لله سره دِوائی، دویم دا چه هر کله دحلف سره انشاء الله اووئیلے شی نو حلف نهٔ ماتیږی ولے چه حلف هډومنعقد کیږی نه، او څوك چه ورستو اُووائی نو جائز به نهٔ وی، اودطاوسؒ او حسنؒ نه منقول دی چه په دغه مجلس کښ ئے وئیلے شِی.

او سعید بن جبیرؒ واء چه دڅلورو میاشتو پورے ئے وئیلے شی او دابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه نقل دے چه همیشه دپاره ئے وئیلے شِی، هر کله چه ورته یادشِی دغه شان کچرے په طلاق یا عتاق کښے انشآء الله او لګوی نو طلاق او عتاق نهٔ واقع کیږی او ضروری ده چه په ژبه سره ئے او وائی او دځنے مالکیهٔ و په نزد دزړهٔ په نیت سره هم کافی دے ۔ (نووی)

(۴۲۸۷) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ سُلَیْمٰنُ ابْنُ دَاوٗدَ عَلَیْهِمَا الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ لَاَطُوْفَنَّ اللَّیْلَةَ عَلٰی سَبْعِیْنَ امْرَاَةً کُلُّهُنَّ تَاْتِیْ بِغُلَامٍ یُّقَاتِلُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ فَقَالَ لَهٗ صَاحِبُهٗ اَوِ الْمَلَکُ قُلْ اِنْشَآءَ اللّٰهُ فَلَمْ یَقُلْ وَنَسِیَ فَلَمْ تَاْتِ وَاحِدَةٌ مِّنْ نِسَآئِهٖ اِلَّا وَاحِدَةٌ جَآءَتْ بِشِقِّ غُلَامٍ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَلَوْ قَالَ اِنْشَآءَ اللّٰهُ لَمْ یَحْنَثْ وَکَانَ دَرْکًا لَهٗ فِیْ حَاجَتِهٖ. [بخاری]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، حضرت سلیمان بن داؤد علیه السلام پیغمبرؑ اووے زهٔ به په دے شپه داویاؤو بنځو سره یو ځائے کیږم. (په یو روایت کښ لس اتیادی په یو کښ یو کم سل او په یو کښ سل دی) هره یوه به دهغوئ نه یو هلك زیږوی چه هغه به جهاد کوی په پلاره دالله تعالی کښ، دهغوی ملګرے فرښتے اووے، او وایه انشآء الله تعالی، لیکن هغوئ او نهٔ دے هیرئے شولو، پس یوے بنځے هم او نهٔ زیږه وو، البته یوے بنځے او زیږه وو هغه هم نیم بچے ۔ رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل کچرے هغوئ انشآء الله تعالی وئیلے وے نو دهغوئ خبره به نهٔ وه بے ځایه شوے، او دهغوئ مطلب به پوره شوے وو.

(۴۲۸۸) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قَالَ سُلَیْمَانُ ابْنُ دَاوٗدَ عَلَیْهِ

الصلوة والسلام لاطيفن الليلة على سبعين امراة تلد كل امراة منهن غلاما يقاتل في سبيل الله فقيل له قل ان شاء الله فلم يقل فاطاف بهن فلم تلد منهن الا امراة واحدة نصف انسان قال فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لو قال انشاء الله لم يحنث وكان دركا لحاجته. [بخاری ، نسائی]

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے. چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمانیلی دی . وائی چه حضرت سلیمن بن داود علیه السلام اووے. زه به دشپے داویا ښځو سره میلاویږم او هره یوه به یو هلك زیږوی چه هغه به دالله په لاره کښی جهاد کوی. هغوی ته لونیلے شو انشاء الله او وایه . هغوی او نه ونیلو . او شپے له دتولو سره یو ځائے شولو . پس یوے هم او نه زیږه وو مګر یو ښځے او زیږه وو هغه هم نیم بچے. پس رسول الله صلی الله علیه وسلم لوفرمائیل ، کچرے هغوی انشاء الله ونیلے وے نو خبره به ئے نه وه ے ځایه شوے او دهغوی مطلب به پوره شوے وو.

(۴۲۸۹) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال قال سلیمن ابن داود علیهما الصلوة والسلام لاطوفن الليلة على تسعين امراة كلها تاتى بفارس يقاتل فى سبيل الله فقال له صاحبه قل انشاء الله فلم يقل انشاء الله فطاف عليهن جميعا فلم تحمل منهن الا امرءة واحدة فجاءت بشق رجل وايم الذى نفس محمد بيده لو قال انشاء الله لجاهدوا فى سبيل الله فرسانا اجمعون.

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمانیلی دی. حضرت سلیمان بن داود علیهما السلام اووے زه به په دے شپه دلس اتیا بیبیانو سره میلاویږم دهرے یکوے به یو هلك پیدا کیږی چه هغه به سور شی او دالله په لاره کښے به جهاد کوی. دهغوی ملګری (سرے به وو یا فرښته) اووے چه انشاء الله او وایه هغوی او نه وے (هیرئے شو) بیا هغوی دټولو ښځو سره میلاؤ شو لیکن یوه هم حامله نه شوه . یوه حامله شوه هغے هم یوه ټکره دبنیادم لو زیږه وله . قسم دے په هغه ذات دچا په لاس کښے چه دمح د روح دے که چرے هغوی انشاء الله ونیلے وے نو تولو (ښځو به زیږه ولی وو او تولو هلکانو) به جهاد په سورلئ کوؤ په لاره دالله تعالی کښی په جمع سره.

باب النهي عن الاصرار فى اليمين فيما يتاذى به اهل الحالف

مقالیس بحرام .

هر هله چه قسم سره هوروالاړو ته نقصان وی نو قسم نه ماتول منع دی په دے شرط هه هغه کار حرام نه وی.

(۴۲۹۱) عن همام ابن منبهٍ قال هذا ماحدثنا ابوهريرة رضی الله تعالی عنه عن رسول الله صلی الله عليه وسلم فذكر احاديث منها وقال رسول الله صلی الله عليه وسلم والله لان يلج احدكم بيمينه في اهله اثم له عند الله من ان يعطي كفارته التي فرض الله . [بخاری]

ترجمه: د همام بن منبه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه دا احادیث بیان کړے دی مونږ ته ابو هریره رضی الله تعالی عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه په هغے کښې یو دا حدیث دے چه فرمائیلی دی رسول الله صلی الله علیه وسلم قسم په خدائے چه مقرر ستاسو نه دچا کلک اوسیدل په خپل قسم بانډِ چه دخپل کور والا په حق کښے ئے خوړلے وی زیات گناه دے دهغه دپاره دالله په نزد دقسم دکفارے ورکولو نه، کومه چه الله تعالی مقرر کړے وه.

فائده: یعنی د هر قسم قسم پوره کولو غوره دی، لیکن په کوم کښې چه دخپل کورو والاؤ نقصان وی داسے قسم ماتول ضروری دی او خوك چه ئے نهٔ ماتوی هغه به گنهگاروی، په دے شرط چه دقسم ماتول څه دگناه خبره نهٔ وی، مثلا داسے او وائی چه زهٔ به دخپلے بی بی سره غله نهٔ خورم، یا به ورسره خبرے نهٔ کوم، یا به دبازار نه ددے دپاره څه څیز نهٔ راوړم، دداسے قسمنو ماتول او کفاره ئے ورکول غوره دی. او هغه چه دهغے ماتول گناه وی مثلا داسے او وائی چه زهٔ دخپلے بنځے سره شراب نهٔ څښم یا جواری نهٔ کوم نو دداسے قسم پوره کول ضروری دی.

باب نذر الكافر وما يفعل فيه اذا اسلم .

کافر چه دکفر په حالت کښے څه نذر او منی او بیا مسلمان شی.

(۴۲۹۲) عن ابن عمر ان عمر قال يارسول الله انى نذرت في الجاهلية ان اعتكف ليلة في المسجد الحرام قال فاوف بنذرك . [بخاری]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله

تعالی عنه اووے یارسول الله! ما دجاهلیت په زمانه کښې نذر منلے وو چه دکعبے دجماعت دننه به یوه شپه اعتکاف کوم . حضرت او فرمائیل پس پوره کړه خپل نذر لره۔

فائده: نووی وئیلے دی چه دمالك او ابو حنیفه او زمونږ زیاتو ملګرو په نزد دکافر نذر هیڅوصحیح نۀ دے ، او دځینو په نزد صحیح دے په دلیل دے په دلیل ددے حدیث ، او دا هم معلومه شوه چه اعتکاف بغیر دروژے نه صحیح دے،او دغه قول دے دشافعیؒ او حسن بصریؒ او ابو ثورؒ او داوۀؒ او دابن منذرؒ او دغه اصح روایت دے داحمد رضی الله تعالی عنه نه۔

(۴۲۹۴) عَنْ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُما حدَّثَهُ اَنَّ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ سَئَلَ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْجِعِرَّانَةِ بَعْدَ اَنْ رَّجَعَ مِنَ الطَّائِفِ فَقَالَ یَارَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنِّیْ نَذَرْتُ فِیْ الْجَاهِلِیَّةِ اَنْ اَعْتَکِفَ یَوْمًا فِیْ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ فَکَیْفَ تَرٰی قَالَ اذْهَبْ فَاعْتَکِفْ یَوْمًا قَال وکَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَدْ اَعْطَاهُ جارِیَةً مِنَ الْخُمُسِ فَلَمَّا اَعْتَقَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وسلَّم سبایاالنَّاس سمِعَ عمرَ ابنَ الْخطَّاب رضی اللهُ تَعالٰی عَنْهُ اَصْواتَهُمْ یَقُوْلُوْن اَعْتَقَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ علیه وسلَّم فقال ما هٰذا فقالُوْا اعْتق رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وسلَّم وسبَایا النَّاسِ فَقَالَ عُمَرُؓ یا عَبْدَ اللهِ اذهبْ الی تلْک الْجارِیة فخلِّ سَبِیْلَهَا .

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو، او حضرت په جعرانه (چه دیو مقام نوم دے)کښې و . دطائف دواپس کیدونه پس، نو اوئے وئیل یا رسول الله ما په جاهلیت کښې نذر کړے وو چه زۀ به یوه ورځ په مسجد حرام کښې اعتکاف کوم، نو تاسو څه فرمائی؟ حضرت او فرمائیل چه لاړشه او اعتکاف اوکړه . یوه ورځ. حضرت عمرؓ وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دخمس نه یوه وینځه هغویٰ ته عنایت کړے وه، هر کله چه حضرت تولو قیدیانو لره آزاد کړل، نو حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دهغویٰ آوازونه واوریدل چه وئیلوئے رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ آزاد کړو. حضرت عمر رضی الله عنه تپوس اوکړو دا څه وائی؟ خلقو اووے رسول الله صلی الله علیه وسلم آزاد کړے دی قیدیانو لره، حضرت عمرؓ (دخپل ځوئ ته) اووے ، اے عبدالله دهغه وینځے خواله لاړشه، او هغه هم آزاده کړه۔

(۴۲۹۵) عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما قال لما قفل النبيُّ صلى الله عليه وسلم من حُنَينٍ سَئَلَ عُمَرُ رضي الله تعالى عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم عن نذرٍ كان نذره في الجاهلية اعتكاف يوم ثم ذكر بمعنى حديث جرير ابن حازم. [راجع: ۴۲۹۴]

ترجمه: دابن عمر رضي الله تعالى عنهما نه روايت دے. وائي چه هر كله رسول الله صلى الله عليه وسلم دحنين نه واپس شونو حضرت عمر رضي الله تعالى عنه دحضرت نه تپوس اوكړو دهغه نذر په باره كښے چه هغوئ په جاهليت كښے نيولے وو. ديوے ورځ داعتكاف كولو. بيائے دغسے بيان اوكړو لكه څنګه چه پورته تير شولو.

(۴۲۹۶) عَنْ نَافِعٍ قَالَ ذُكِرَ عَبْدِ اللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا عُمْرَةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْجِعِرَّانَةِ فَقَالَ لَمْ يَعْتَمِرْ مِنْهَا قَالَ وَكَانَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نَذَرَ اعْتِكَافَ لَيْلَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حديث جرير ابن حازم ومعمر عَنْ أَيُّوْبَ. [راجع: ٤٢٩٤]

ترجمه: دنافع نه روايت دوے وائي چه دعبدالله بن عمرؓ په خوا كښں درسول الله صلى الله عليه وسلم دعُمرے ذكراوشو دجعرانے نه هغوئ اووے حضرت صلى الله عليه وسلم عمره نۀ ده كړے دجعراد نه.

فائده: نوويؒ وئيلے دى چه عبدالله بن عمر رضي الله تعالى عنهما ته كيدے شي ددے علم نۀ وو. امام مسلمؒ په كتاب الحج كښں دانسؓ نه روايت كړے دے چه حضرت عمره لوتړله دحنين په كال دجعرانے نه او اثبات مقدم دے په نفي باندِ.

بَابُ صُحْبَةِ الْمَمَالِيْكِ.

دغلام وينځى سره څنګه سلوك هول پكار دى.

(۴۲۹۷) عن زاذان ابي عمرٍ قال اتيت ابن عمر رضي الله تعالى عنهما وقد اعتق مملوكا قال فاخذ من الارض عودًا او شيئًا فقال ما فيه من الاجر ما يسوى هذا الا اني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم مَنْ لَطَمَ مَمْلُوْكَهُ اَوْ ضَرَبَهُ فَكَفَّارَتُهُ اَنْ يُعْتِقَهُ. [ابوداود]

ترجمه: دزاذان ابي عمرؒ نه روايت وائي چه زۀ دابن عمرؓ خواله راغلم هغوئ يو غلام آزاد كړے وو. نو دزمكے نه ئے لرګے يا څه څيز اوچت كړو او اوئے وئيل په دے كښں دومره هم ثواب نشته

دے مګر مادرسول الله صلی الله علیه وسلم اوریدلی دی چه فرمائیلی ئے ووکوم بنده چه خپل غلام په سپیره اووهی یائے اووهی نو دهغه کفاره داده چه هغه غلام لره آزاد کړی۔

فائده: داآزاده ول استحبابا دی نهٔ وجوبا او په دے باندِ اجماع ده ۔ (نووی)

(۴۲۹۹) عَنْ زَاذَانَ اَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا دَعَا بِغُلَامٍ لَهُ فَرَاٰی بِظَهْرِهٖ اَثَرًا فَقَالَ اَوْ جَعْتُکَ قَالَ لَا قَالَ فَاَنْتَ عَتِیْقٌ قَالَ ثُمَّ اَخَذَ شَیْئًا مِّنَ الْاَرْضِ قَالَ مَالِیْ فِیْهِ مِنَ الْاَجْرِ مَا یَزِنُ هٰذَا اِنِّیْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ مَنْ ضَرَبَ غُلَامًا لَهُ حَدًّا لَمْ یَاْتِهٖ اَوْ لَطَمَهُ فَاِنَّ کَفَّارَتَهُ اَنْ یُّعْتِقَهُ.[راجع: ۴۲۹۸]

ترجمه: دزاذان رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه حضرت عمر رضی الله عنه خپل یو غلام راوغوښتو او دهغه په شان باندِ نشان اولیدو، نو اوئے وئیل ماتاته تکلیف درکړو هغه اووے نهٔ، حضرت عبدالله اووے ته آزادئے ، بیائے دزمکے نه څه شے اوچت کړو اوئے وئیل چه دده په آزادولو کښے دومره هم ثواب نهٔ دے میلاؤ شوے څکه چه ما اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئے وو، څوك چه په غلام به قصوره حد اولګوی(یعنی په ناحقه ئے اووهی) یا سپیره ورکړی نو دهغے کفاره یعنی اتاریه داده چه هغه آزاد کړی۔

(۴۳۰۱) عَنْ مُعَاوِیَةَ ابْنِ سُوَیْدٍ قَالَ لَطَمْتُ مَوْلًی لَنَا فَهَرَبْتُ ثُمَّ جِئْتُ قُبَیْلَ الظُّهْرِ فَصَلَّیْتُ خَلْفَ اَبِیْ فَدَعَاهُ وَدَعَانِیْ ثُمَّ قَالَ امْتَثِلْ مِنْهُ فَعَفَا ثُمَّ قَالَ کُنَّا بَنِیْ مُقَرِّنٍ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَیْسَ لَنَا اِلَّا خَادِمٌ وَّاحِدَةٌ فَلَطَمَهَا اَحَدُنَا فَبَلَغَ ذٰلِکَ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَعْتِقُوْهَا قَالُوْا لَیْسَ لَهُمْ خَادِمٌ غَیْرُهَا قَالَ فَلْیَسْتَخْدِمُوْهَا فَاِذَا اسْتَغْنَوْا عَنْهَا فَلْیُخَلُّوْا سَبِیْلَهَا . [ابو داود ، ترمذی]

ترجمه: دمعاویه بن سوید رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما خپل غلام په سپیره اووهو ، او بیازهٔ او تختیدم ، او بیازهٔ دماسپخین نه لږز غونډِ مخکښں راغلم او په خپل پلار پسے مِ دمانځه اقتداء اوکړه، هغوئ هغه غلام رااوغوښتو او زهٔ ئے هم رااوغوښتم، بیائے غلام ته اووے دده نه بدله واخله، هغه زهٔ معاف کرم، سوید اووے چه مونږه بنی مقرن درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښں وو زمونږ سره صرف یوه وینځه وه، هغے له زمونږ نه یو کس سپیره ورکړه دا خبر رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اورسیدو، حضرتؐ ا فرمائیل داآزاده کړئ، خلقو اووے ددوئ سره بل څوك دخدمت دپاره نشته دے، حضرتؐ او فرمائیل بنه

ده دوی نه خدمت اخلئ او هر کله چه دوی ته ضرورت پاتے نهٔ شی نو آزاده ئے کړئ۔

فائده : یعنی تهٔ هم دوی په سپیړه او وهه، سبحان الله ! غلام او وینځی ساتل دهغه خلقو حق وو چه داولاد په شان به ئے دهغوئ تعلیم او تربیت کولو. څه چه به هغوئ خوړلو هم هغه به ئے په هغوئ خورولو ، څه چه به دوئ اغوستلو هم هغه به ئے هغوئ ته اغوستولو، دخپل ځان سره به ئے پرے خوړل څنبل کولو دطاقت نه زیات به ئے دهغوئ نه کار نهٔ اخستلو، چرته به ئے هم دهل تکول نهٔ ، که چابه دهغوئ بچے اووهو نو هغه ته به ئے هم هغه سزاء ورکوله، کومه چه به دغه غلام یا وینځی له ورکړے شوے وه، امام نوویؒ وئیلے دی دا دغلام دذړهٔ دخوشحالولو دپاره سویدؓ وائی چه په سپیړه کښ قصاص نشته دے صرف تعزیر ورکول واجب دی۔

(۴۳۰۲) عَنْ هِلَالِ ابْنِ يَسَافٍ قَالَ عَجِلَ شَيْخٌ فَلَطَمَ خَادِمًا لَّهُ فَقَالَ لَهُ سُوَيْدُ ابْنُ مُقَرِّنٍ عَجَزَ عَلَيْكَ إِلَّا حُرُّ وَجْهِهَا لَقَدْ رَأَيْتُنِي سَابِعَ سَبْعَةٍ مِّنْ بَنِي مُقَرِّنٍ مَالَنَا خَادِمٌ إِلَّا وَاحِدَةٌ لَطَمَهَا أَصْغَرُنَا فَأَمَرَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُعْتِقَهَا . [راجع :۴۲۹۳]

ترجمه : دهلال بن یسافؒ نه روایت دوے وائی چه یو سړی تادی اوکړه او خپله وینځه ئے په سپیړه باندِ اووهله ، سوید بن مقرنؓ اووے تاته بل ځائے نهٔ میلاویدو اوگوره زهٔ لووم څوئ وُم دمقرن (یعنی مونږ اوه رونړه وو) او صرف یوه یونځه وه، دتولو نه کشررور زمونږه هغے لره یوه سپیړه ورکړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو دهغه دآزادولو۔

(۴۳۰۳) عَنْ هِلَالِ ابْنِ يَسَافٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَبِيعُ الْبَزَّ فِي دَارِ سُوَيْدِ ابْنِ مُقَرِّنٍ أَخِيَ النُّعْمَانِ ابْنِ مُقَرِّنٍ فَخَرَجَتْ جَارِيَةٌ فَقَالَتْ لِرَجُلٍ مِّنَّا كَلِمَةً فَلَطَمَهَا فَغَضِبَ سُوَيْدٌ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيْثِ ابْنِ إِدْرِيْسَ .

ترجمه : دهلال بن یسافؓ نه روایت دے مونږ کپړه خرڅوله دسوید بن مقرنؓ په کور کښ چه دنعمان بن مقرنؓ رور وو، یوه وینځه راووته او هغے په مونږ کښے یو کس ته څه خبره اوکړه، نو هغه هغے وینځے له سپیړه ورکړه ، سویدؓ غصه شولو او بیائے بیان کړو حدیث په دے شان لکه چه پورته تیر شو ۔

(۴۳۰۴) عَنْ سُوَيْدِ ابْنِ مُقَرِّنٍ أَنَّ جَارِيَةً لَّهُ لَطَمَهَا إِنْسَانٌ فَقَالَ لَهُ سُوَيْدٌ أَمَا عَلِمْتَ أَنَّ الصُّوْرَةَ مُحَرَّمَةٌ فَقَالَ

لقد رأيتني واني لسابع إخوة لي مع رسول الله صلى الله عليه وسلم ومالنا خادم غير واحد فعمد احدنا فلطمه فامرنا رسول الله صلى الله عليه وسلم ان نعتقها. [راجع: ۴۳۰۲]

ترجمه: دسوید بن مقرن نه روایت دے چه دهغوی وینځی له یو سړی سپیړه ورکړ، سویدٌ اووے تاته معلومه نهٔ ده چه په مخ باندِ وهل حرام دی، او ماته اوګوره زهٔ اووم رور وُم درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښې او زمونږ سره صرف یا خادم و هغه له زمونږ درونړو نه یو کس سپیړه ورکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو دهغے دآزاد ولو۔

(۴۳۰۶) عن ابی مسعود ن البدری كنت اضرب غلاما لي بالسوط فسمعت صوتا من خلفي اعلم ابا مسعود فلم افهم الصوت من الغضب قال فلما دنى مني إذا هو رسول الله صلى الله عليه وسلم فاذا هو يقول اعلم ابامسعود ن اعلم ابا مسعود قال فالقيت السوط من يدي فقال اعلم ابا مسعود أن الله اقدر عليك منك على هذا الغلام قال فقلت لا اضرب مملوكا بعده ابدا. [ترمذی]

ترجمه: دابو مسعودبدریؓ نه روایت دے، چه ما خپل غلام وهلو په کوړه سره یو آواز ما دورستونه واؤریدو لکه چه څوك وائی پو هه شه ابو مسعودٌ زهٔ په غصه کښې وم څه پو هه نهٔ شوم هر کله چه هغه آواز راتیردے شو نو څه ګورم چه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ووچه فرمائیل پو هه شه اے ابو مسعودٌ پو هه شه! ابو مسعود ما خپل لخته دلاسنه او غورځوله حضرتؐ او فرمائیل اے ابو مسعودٌ پوه شه چه الله تعالی په تاباندِ زیات قدرت لری ددے نه څومره چه ته په دے غلام باندِ لرے، ما اووے اس به زهٔ څوك غلام نهٔ وهم چرته هُم۔

(۴۳۰۷) عن الاعمش باسناد عبدالواحد نحو حديثه غير ان في حديث جرير فسقط من يدي السوط من هيبته. [راجع: ۴۳۰۶]

ترجمه: د اعمشؒ نه په اسناد د عبدالواحد په شان د پورته حدیث روایت دے په دے کښې دا دی چه دَ حضرت صلی الله علیه وسلم په لیدو سره لخته زمَا د لاس نه اوغورځیده۔

(۴۳۰۸) عن ابی مسعود ن الانصاري رضي الله تعالى عنه قال كنت اضرب غلاما لي فسمعت من خلفي صوتا اعلم ابا مسعود الله اقدر عليك منك عليه فالتفت فاذا هو رسول الله صلى الله عليه وسلم فقلت يا رسول الله هو حر لوجه الله تعالى فقال اما لو لم تفعل للفحتك النار او لمستك النار. [راجع: ۴۳۰۶]

ترجمه: د ابو مسعود انصاریؓ نه روایت دے چه ما خپل غلام لره وهلو چه په دے کښې د شا د طرفه مې یو اواز واؤریدو، یو هم شه ابو مسعودؓ بیشکه الله تعالیٰ زیات قدرت لری د دے نه څومره چه ته په دے غلام بانډې لرې، ما چه ورته په شا اوکتل نو هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم وو، ما اووے یا رسول الله! هغه آزاد دے د الله د پاره، حضرتؐ اوفرمائیل کچرے تا داسے نۀ وے کړے نو د جهنم اور به تا لره سیزلے وو یا به تا ته لګیدلے وو.

(۴۳۰۹) عَنْ اَبِیْ مَسْعُوْدٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ كَانَ يَضْرِبُ غُلَامَهٗ فَجَعَلَ يَقُوْلُ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ قَالَ فَجَعَلَ يَضْرِبُهٗ فَقَالَ اَعُوْذُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَتَرَكَهٗ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاللّٰهِ اَللّٰهُ اَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ قَالَ فَاَعْتَقَهٗ. [راجع: ۴۳۰۶]

ترجمه: د حضرت ابو مسعود رضی تعالیٰ عنه نه روایت دے چه هغویؓ خپل غلام لره وهلو. غلام اووے د الله پناه، هغویؓ نور هم اووهو غلام اووے د رسول الله پناه! ابو مسعود رضی الله تعالیٰ عنه هغه پریخودو، رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، چه په الله قسم دے چه ته دومره په دے غلام بانډې نۀ شی لرلے، ابو مسعودؓ هغه غلام لره آزاد کړلو.

(۴۳۱۰) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ قَوْلَهٗ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَعُوْذُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ. [راجع: ۴۳۰۶]

ترجمه: د شعبهؒ نه د پورته روایت په شان روایت دے خو په دے کښې دا نشته دے چه دالله تعالیٰ پناه او د هغه د رسول پناه.

(۴۳۱۱) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَبُوْ الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَذَفَ مَمْلُوْكَهٗ بِالزِّنَا يُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِلَّا اَنْ يَّكُوْنَ كَمَا قَالَ. [بخاری، ابوداود، ترمذی،]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه په خپل ګلام یا وینځه بانډې دَ زِنا تهمت اولګوی، په هغه به د قیامت په ورځ حد پریوځی، مګر هغه چه هغه رښتونے وی.

فائده: یعنی په دنیا کښې د غلام او وینځی په قذف سره حد نشته ولے چه هغه محصن نۀ وی، لیکن تعزیر په ورکولے شی، خو په آخرت کښې کچرے تهمت غلط وی نو پوره زاء به میلاویږی.

(۴۳۱۲) عن فضيل ابن غزوان بهذا الاسناد و في حديثهما سمعت ابا القاسم صلى الله عليه وسلم نبي التوبة. [راجع:۴۳۱۱]

ترجمه: د فضيل بن غزوان نه په دغه اسناد سره د پورته په شان روايت دے او په دے حديث كښې دي چه ما اوريدلى دى دَ ابو القاسم صلى الله عليه وسلم نه چه دَ توبے نبىّ وو.(دا د حضرتؐ نوم دے ځكه توبه د هغویؓ توبه به هله قبليده هر كله چه به هغه خپل ځان اوو ژلو)

(۴۳۱۳) عن المعرور بن سويدٌ قال مررنا بابى ذرّ رضى الله تعالىٰ عنه بالرّبذة وعليه برد و على غلامه مثله فقلنا يا ابا ذرّ لو جمعت بينهما كانت حلة فقال انه كانت حلة فقال انه كان بينى و بين رجل من اخوانى كلام و كانت امه اعجمية فعيّرته بامه فشكانى الى النبى صلى الله عليه وسلم فقال يا ابا ذرّ انك امرء فيك جاهلية فقلت يا رسول الله من سبّ الرجال سبّوا اباه و امه قال يا ابا ذرّ انك امرء فيك جاهلية هم اخوانكم جعلهم الله تحت ايديكم فاطعموهم مما تأكلون و البسوهم مما تلبسون و لا تكلفوهم ما يغلبهم فان كلفتموهم فاعينوهم. [بخارى ، ابو داود ، ترمذى ، ابن ماجه]

ترجمه: د معرور بن سويدؒ نه روايت دے وائى چه مونږ دَ ابو ذرِ غفارىؓ خواله لاړو په ربذه كښې(ربذه دَ يو مقام نوم دے)او د هغویؓ يو څادر پسَر وو او د هغویؓ د غلام هم د هغے په شان څادر په سَر وو،مونږ اووے اے ابو ذرّ كچرے تا دا دواړه څادرے اخستے وے نو يوه جوړه به ترے جوړه شوے وه،هغویؓ اووے زما او زما درور په مينځ كښے جګړه شوه د هغه مور عجَمى وه،ما هغه ته د مور كنځل اوكړلو هغه زما شكايت رسول الله صلى الله عليه وسلم ته اوكړو.هر كله چه زهٔ دَ حضرتؐ سره ميلاؤ شوم نو حضرتؐ اوفرمائيل اے ابو ذرّہ!په تا كښې جَاهليت دے(يعنى د جاهليت د زمانے اثر دريكښې باقى دے په كومَه زمانه كښے چه به خلقو په خپل پلار او مور به ئے سپك كنړلو)ما اووے يا رسول اللهؐ!څوك چه چا ته كنځل كوى خلو د هغه پلار او مور ته كنځل كوى،حضرتؐ اوفرمائيل اے ابوزرہ!پتا كښے جاهليت دے(يعنى كه هغه تا ته بد رد اوُوے نو د هغے بدله دا وه چه تا هم هغه ته بد وبد رد ونيلے وے نهٔ د هغه پلار او مور ته،)هغه ستا رور دے(د دے معلومَه شوه چه هغه غلام وو مګر ابو ذرّ هغویٔ ته روا اووے ولے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ته روا اووے)الله تعالى ده لره ستا ما تحت كړے دے،(يعنى ستا په ملك

کنبے)نو تهٔ خوروه په ده باندِ څه چه تهٔ خورے او اغوندوه ده ته څه چه اغوندے،او د ده طاقت نه زیات ده لره تکلیف مهٔ ورکوه او کچرے داسے کار ترے اخلے نو تهٔ هم ورسره په هغے کښ شریکیږه۔

(۴۳۱۴) عَنِ الْاَعْمَشِ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَزَادَ فِیْ حَدِیْثِ زُهَیْرٍ وَ اَبِیْ مُعَاوِیَةَ بَعْدَ قَوْلِهٖ اِنَّکَ امْرَأٌ فِیْکَ جَاهِلِیَّةٌ قَالَ قُلْتُ عَلٰی حَالِ سَاعَتِیْ مِنَ الْکِبَرِ قَالَ نَعَمْ وَ فِیْ رِوَایَةِ اَبِیْ مُعَاوِیَةَ نَعَمْ عَلٰی حَالِ سَاعَتِکَ مِنَ الْکِبَرِ وَ فِیْ حَدِیْثِ عِیْسٰی فَاِنْ کَلَّفَهٗ مَا یَغْلِبُهٗ فَلْیَبِعْهُ وَ فِیْ حَدِیْثِ زُهَیْرٍ فَلْیُعِنْهُ عَلَیْهِ وَلَیْسَ فِیْ حَدِیْثِ اَبِیْ مُعَاوِیَةَ فَلْیَبِعْهُ وَلَا فَلْیُعِنْهُ اِنْتَهٰی عِنْدَ قَوْلِهٖ وَلَا یُکَلِّفُهٗ مَا یَغْلِبُهٗ. [راجع: ۴۲۸۹]

ترجمه:دَ اعمشؒ نه د پورته روایت په شان دا روایت هم دے مګر په یو روایت کښے دومره زیاته ده چه هر کله رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل په تا کښے جاهلیت دے،نو ابو ذرؓ اووے،په خپل بوډاوالی کښ بیا حضرتؐ اوفرمائیل هاں!او په یو روایت کښے دا دی چه ستا په دومره بوډاوالی باندِ۔

او په یو روایت کښے دی چه کچرے تهٔ ده لره دَداسے کار تکلیف ورکوے نو ده لره خرڅ کړه۔او په یو روایت کښ دا دی چه ده ته تکلیف مهٔ ورکوه دَ داسے کار بس۔

(۴۳۱۵) عَنِ الْمَعْرُوْرِ ابْنِ سُوَیْدٍ قَالَ رَأَیْتُ اَبَاذَرٍّ عَلَیْهِ حُلَّةٌ وَ عَلٰی غُلَامِهٖ مِثْلُهَا فَسَأَلْتُهٗ عَنْ ذٰلِکَ قَالَ فَذَکَرَ اَنَّهٗ سَابَّ رَجُلًا عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَعَیَّرَهٗ بِاُمِّهٖ قَالَ فَاَتَی الرَّجُلُ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَذَکَرَ ذٰلِکَ لَهٗ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّکَ امْرَءٌ فِیْکَ جَاهِلِیَّةٌ اِخْوَانُکُمْ وَ خَوَلُکُمْ جَعَلَهُمُ اللّٰهُ تَحْتَ اَیْدِیْکُمْ فَمَنْ کَانَ اَخُوْهُ تَحْتَ یَدَیْهِ فَلْیُطْعِمْهُ مِمَّا یَاْکُلُ وَالْیُلْبِسْهُ مِمَّا یَلْبَسُ وَلَا تُکَلِّفُوْهُمْ مَا یَغْلِبُهُمْ فَاِنْ کَلَّفْتُمُوْ فَاَعِیْنُوْهُمْ عَلَیْهِ: [راجع: ۴۳۱۳]

ترجمه :د معرور بن سیدؒ نه روایت دے چه ما ابوذرؓ اولیدو چه هغه یوه جوړه اغوستے وه ، او د هغوی غلام هم هغه شان جوړه اغوستے وه ، ما تپوس اوکړو دا څه دی هغویؓ اووے،څما سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے د یو سړی کنځل وئیل اوشو،ما هغویؓ ته د مور کنځل اوکړو،(نوویؒ وئیلے دی هغه سړے بلال رضی الله تعالی عنه وو) هغویؓ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان اوکړو،حضرتؐ ما ته اوفرمائیل په تا کښ جاهلیت دے،هغه ستا رووړ دے

ستا غلام دے،الله تعالى ده لره ستا د لاسونو نه لاندِ کړے دے،بيا چه د چارو د هغه د لاسونو لاندِ وی هغه به په ده خوروی هغه څه چه پخپله خوری،او اغوستی به پرے هغه څه پخپله ئے اغوندی،او هغوئ ته د هغه کارمهٔ وایئی چه هغه ئے نهٔ،شی کولے،او که ورته وایئی نو پخپله ئے هم مدد کوی.

(۴۳۱۶) عن ابیٔ هُریرة رضی اللهُ تعالی عنهُ عن رسُول الله صلّے اللهُ علیه وسلم انّهٔ قال لِلممْلوک طعامُهٔ وکسوتهٔ ولا یُکلّفُ من العملِ الّا ما یُطیق.

ترجمه :د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه غلام ته غله او کپړه ورکوئ او دومره کار ترے اخلئی د څومره چه په هغه کښے طاقت وی۔

(۴۳۱۷) عَنْ اَبِیْ هُرِیرَةَ رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا صَنَعَ لِاَحدِکُمْ خادمُهٔ طَعامَهٔ ثُمّ جآءَ هٔ بِهٖ وَقَدْ وَلِیَ حَرَّهٗ وَ دُخَانَهٗ فَلْیُقْعِدْهُ مَعَهٗ فَلْیَاْکُلْ فَاِنْ کَانَ الطَّعَامُ مَشْفُوْهًا قَلِیْلًا فَلْیَضَعْ فِیْ یدہ منهُ اُکلةً اوْ اُکلتَیْنِ قَالَ داؤدُ یَعْنِیْ لُقْمَةً اَوْ لُقْمَتَیْنِ. [ابو داود]

ترجمه:د حضرت ابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی،هر کله چه ستاسو نه د چا د پاره د هغوئ خادم غله تیاره کړی او بیا ئے رلوړی،او هغه د ګلے پخولو ګرمی اولوګے څکلے وی،نو هغه د خپل ځان سره کینوئ او غله پرے خوروئ او که چرے غله لږه وی نو یوه نمړئ یا دوه نمړئ دَ هغه د پارَه پریږدئ۔

(۴۳۱۸) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تعالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا نَصَحَ لسیّدہٖ اوْ احسنَ عِبادَةَ اللهِ فَلَهٗ اَجْرُهٗ مرَّتیْنِ. [بخاری ، ابو داود]

ترجمه:د عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی(بنده یا ګلام)چه کله خیر خواهی کوی د خپل مالك او د الله تعالی عبادت هُم په ښه طریقه کوی،نو دَ هغه به دوچند ثواب وی(په نسبت دَ هغه سړی چه هغه آزاد وی)

(۴۳۲۰) عنْ ابیْ هُریْرةَ رضِی اللهُ تعالی عنْهُ قال رسُوْلُ اللهِ صلّے اللهُ علیْهِ وسلّمَ لِلْعَبْدِ الْمَمْلُوْکِ الْمصْلِحِ اجْران والّذیْ نفْسُ ابیْ هُریْرةَ بیدِهٖ لوْ لا الجِهادُ فِیْ سبِیْلِ اللهِ والْحجُّ وبرُّ اُمّیْ لا حبّبْتُ انْ اَمُوْتَ .

انا مملوک قال و بلغنا ان ابا هریرة رضی الله تعالٰی عنه لم یکن یحج حتی ماتت امه لصحبتها قال ابو الطاهر فی حدیثه للعبد المصلح ولم یذکر المملوک : [بخاری]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالٰی عنه نه روایت دے جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، کوم غلام چه نیك وی هغه لره دو چند ثواب دے(یو خو د خپل مالك د خیر خواهی دویم د الله تعالی دَ عبادت)قسم دے په هغه ذات چه د چا په لاس کښې دَ ابو هریره رضی الله تعالی عنه روح دے، کچرے جهاد نهٔ وے او حج او د مور خدمت کول نو زما دا خواهش وو چه غلام شوے مړ شم، او ابو هریره رضی الله تعالی عنه حج نهٔ کوؤ او د خپلے مور خدمت نهٔ ئے کوؤ تر هغے چه تر څو پورے ئے مور وفات شوے نهٔ وه۔

فائده :نووی علیه الرحمة وئیلے دی چه د دے حدیث نه دا خبره را اووته چه په غلام باندِ نهٔ حج شته نهٔ جهاد، او ابو هریره رضی الله تعالی عنه چه کوم حج له نهٔ وو تلے نو هغه حج نفلی وو نهٔ فرضی، ولے چه حج خو ئے د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره کړے وو، او د نفل حج نه د پلار مور خدمت کول زیات ضروری دی۔

(۴۳۲۲) عن ابی هریرة رضی الله تعالٰی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا ادی العبد حق الله وحق موالیه کان له اجران قال فحدثتها کعبا فقال کعب لیس علیه حساب ولا علی مؤمن مزهد.

ترجمه: دَ حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه سلم فرمائیلی دی، هر کله چه بنده(یعنی غلام) د خپلو مالکانو حق ادا کوی او دَ الله تعالی حق ادا کوی نو هغه ته به دو چند ثواب میلاویږی راوی وائی ما دا حدیث کعبؓ ته بیان کړو هغوی اوو د هغه سره حساب هم نشته،(ولے چه د هغه نیکی ډیره ده او ګناه کم) او نهٔ د هغه مؤمن سره چه هغه محتاج وی۔

(۴۳۲۳) عن همام ابن منبه قال هذا ما حدثنا ابو هریرة رضی الله تعالٰی عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم فذکر احادیث منها قال رسول الله صلی الله علیه وسلم نعما للمملوک ان یتوفی یحسن عبادة الله و صحابة سیده نعماله.

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله

علیه وسلم فرمائیلی دی څه بنه دے هغه غلام چه هغه مړ شی او د الله تعالی جل شانه عبادت او د خپل مالك خدمت ئے په بنه شان کړے وی څومره بنه دے هغه۔

(۴۳۲۵) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنِ اعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِیْ عَبْدٍ فَكَانَ لَهُ مَالٌ يَّبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ قُوِّمَ عَلَيْهِ قِيْمَتَ الْعَدْلِ فَاَعْطٰی شُرَكَاءَهُ حِصَصَهُمْ وَ عَتَقَ عَلَيْهِ الْعَبْدُ وَ اِلَّا فَقَدْ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ. [راجع: ۳۷۷۰]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی . کوم سړے چه خپله خصه دا شراکت په غلام کښے آزاده کړی، او دده سره دومره مال وی چه دباقی حصے قیمت پوره کوی، نو تهیك قیمت دباقی (حصے یا) حصون د خپلو شراکتیانو ته ورکړی، او غلام به دده دطرفنه آزاد شی، او که نهٔ وی نو څومره حصه چه دهغه آزاده شوه دومره ب ه وی۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلے دی د دے حدیثونو بیان په کتاب العتق کښی مفصل تیر شوے دے او امام مسلم رحمة الله د خپل عبادت نه خلاف د حدیثونو لړه مکرر یعنی بیا بیا بیان کړلو۔

(۴۳۲۶) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ مِنْ مَمْلُوْكٍ فَعَلَيْهِ عِتْقُهُ كُلُّهُ اِنْ كَانَ لَهُ مَالٌ يَّبْلُغُ ثَمَنَهُ فَاِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ عَتَقَ مِنْهُ مَا عَتَقَ. [راجع: ۳۷۷۱]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی . څوك چه دشراکت په غلام کښے خپله حصه آزاده ول واجب دی، کچرے دهغے (باقی حصے) دقیمت موافق مال لری، ورنه څومره چه آزاد شولو بس دومره آزاد وی۔

(۴۳۲۷) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْتَقَ عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ اٰخَرَ قُوِّمَ عَلَيْهِ فِیْ مَالِهِ قِيْمَةَ عَدْلٍ لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ ثُمَّ عَتَقَ عَلَيْهِ فِیْ مَالِهِ اِنْ كَانَ مُوْسِرًا. [بخاری، ابوداود]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله

علیه وسلم او فرمائیل خوك چه داسې غلام آزاد کړی چه هغه دشراکت وی نو دهغه تهیك قیمت نه به نهٔ کم نهٔ زیات لګوی، او دهغه دمال نه به آزاد یږی کچرې هغه مالداروی۔

(۴۳۳۰) عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم قَالَ مَنْ اَعْتَقَ شِرْكًا لَهُ فِیْ عَبْدٍ عَتَقَ مَا بَقِیَ فِیْ مَالِهٖ اِذَا کَانَ لَهُ مَالٌ یَّبْلُغُ ثَمَنَ الْعَبْدِ .[ابوداود، ترمذی ،نسائی]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، خوك چه خپله حصه آزاده کړی په مرئی کښی نو باقی حصه به هم دهغه په مال سره آزادیږی، کچرې دهغه سره دباقی حصې دقیمت برابر مال وی۔

(۴۳۳۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم قَالَ فِی الْمَمْلُوْكِ بَیْنَ الرَّجُلَیْنِ فَیُعْتِقُ اَحَدُهُمَا قَالَ یَضْمَنُ. [راجع: ۳۷۷۱، ۳۷۷۲]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، کوم غلام چه دشراکت وی او یو شریك خپله حصه آزاده کړی هغه به دبل دحصې قیمت هم ورکوی۔

(۴۳۳۲) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مَنْ اَعْتَقَ شَقِیْصًا مِّنْ مَّمْلُوْكٍ فَهُوَ حُرٌّ مِّنْ مَّالِهٖ . [راجع : ۳۷۷۲]

ترجمه: دشعبةؒ نه په دغه اسناد سره روایت دے چه خوك یوه حصه دغلام آزاده کړی نو هغه به تول آزادیږی دهغه دمال نه۔

(۴۳۳۳) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّم قَالَ مَنْ اَعْتَقَ شَقِیْصًا لَهُ فِیْ عَبْدٍ فَخَلَاصُهُ فِیْ مَالِهٖ اِنْ کَانَ لَهُ مَالٌ وَّ اِنْ لَّمْ یَکُنْ لَهُ مَالٌ نِ اسْتُسْعِیَ الْعَبْدُ غَیْرَ مَشْقُوْقٍ عَلَیْهِ .[راجع:۳۷۶۸]

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی، چاچه خپله حصه په یو غلام کښی آزاده کړه، نو دهغه آزادول هم دهغه دمال نه شو کچرې مال نهٔ وی نو په غلام به محنت مزدوری کولے شی مګر په هغه باندِ به زور نهٔ شی کیدے۔

(۴۳۳۵) عَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَیْنٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا اَعْتَقَ سِتَّةَ مَمْلُوْکِیْنَ لَهُ عِنْدَ مَوْتِهٖ لَمْ یَکُنْ لَهُ

مَالٌ غَيْرُهُمْ فَدَعَا بِهِمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَزَّاهُمْ اَثْلَاثًا ثُمَّ اَقْرَعَ بَيْنَهُمْ فَاَعْتَقَ اثْنَيْنِ وَاَرَقَّ اَرْبَعَةً وَقَالَ لَهُ قَوْلًا شَدِيْدًا. [ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعمرا بن حصینؓ نه روایت دے چه یو سړی دخپل وفات په وخت خپلو شپږو غلامانو لره آزاده کړل، او دهغه سره سیواد هغوئ نه نور هیڅ مال نهٔ وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه (غلامان) رااوغوښتو او دهغے نهٔ پس ئے خسنړے او غورځوۀ، او دکومو دوه غلامانو په نوم چه را اوختو هغه آزاد شولو، او باقی خلورم غلامان پاتے شو، او حضرت ددغه مړی په حق کښے سخت لفظ او فرمائیلو۔

فائده: نوویؒ وئیلے دی هغه سخت لفظ دادے چه حضرت ورته او فرمائیل که چرے مونږ داسے نهٔ کنړلے نو په ده مونږ مونځ (دجنازے) نهٔ لوستو او ددے حدیث نه تمسک کړے مالکاوشافعیؒ اواحمدؒ او إسحاق او داود او ابن جریرؒ او په داسے صورتونو کښے دقرعے اچولو دپاره او ابوحنیفه رحمه الله وائی چه خسنړے باطل دے، او دهریو غلام به یوه حصه په دریو کښے آزادوی، او ددوئ په مذهب کښ دا خبره په صحیح حدیث سره رد ده، ددے مضمون په بنا چه حضرتؒ دوه آزاده کړو او خلور غلامان ئے پریخودو، او شعبیؒ او نخعیؒ او شریحؒ او حسنؒ او دابوحنیفه رحمه الله سره اتفاق کړے دے، او دغه منقول دی دابن مسیبؒ نه (انتهی مختصرًا)

بَابُ جَوَازِ بَيْعِ الْمُدَبَّرِ.

دمدبر بیعه درسته ده.

(مدبر هغه غلام ته وئیلے شی چه هغه ته مالك وئیلے وی چه ته زما دمرگ نه پس آزادئے۔)

(۴۳۳۸) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِ اللهِ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ اَعْتَقَ غُلَامًا لَهُ عَنْ دُبُرٍ لَمْ يَكُنْ لَهُ مَالٌ غَيْرُهُ فَبَلَغَ ذٰلِكَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ يَّشْتَرِيْهِ مِنِّيْ فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ ابْنُ عَبْدِ اللهِ بِثَمَانِ مِائَةِ دِرْهَمٍ فَدَفَعَهَا اِلَيْهِ قَالَ عَمْرٌو سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا يَقُوْلُ عَبْدًا قِبْطِيًّا مَاتَ عَامَ اَوَّلَ. [بخاری]

ترجمه: دجابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دانصارو یو سړی خپل غلام لره آزادکړو دخپل مرگ نه پس، او ددے نه سوا نور څه مال دهغه سره نهٔ وو، دا خبره جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اورسیدو حضرت او فرمائیل دا غلام به څوك واخلی ځمانه؟ نعیم

بن عبداللہؓ هغه لره داته سوه درهمو په بدله واخستو او حضرت هغه غلام هغویؓ ته حواله کړو، عمرو بن دینار وائی هغه غلام قطبی وو او دعبدالله ابن زبیرؓ دخلافت په ړومبی کال مړ شولو۔

فائده : نووی علیه الرحمة وائی دشافعیؒ مذهب دغه دے چه دمدبر بیعه دهغه دمولی دمرګ نه مخکښ درسته ده، او دامام ابو حنیفهؒ او مالكؒ په نزد بانډِ مخکښ درسته نهٔ ده۔

(۴۳۴۹) عَنْ جَابِرٍ يَقُوْلُ دَبَّرَ رَجُلٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ غُلَامًا لَهٗ مَالٌ غَيْرُهٗ فَبَاعَهٗ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَابِرٌ فَاشْتَرَاهُ ابْنُ النَّحَّامِ عَبْدًا قِبْطِيًّا مَاتَ عَامَ الْاَوَّلِ فِيْ اَمَارَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ. [بخاری، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، چه په انصارو کښې يو سړی خپل غلام مدبر کړو، او دهغه سره نورڅه مال نهٔ وو، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه (غلام) لره خرڅ کړو او دنحام ځوئ هغه لره واخستو هغه غلام قبطی وو، او دعبدالله بن زبیرؓ دخلافت په ړومبی کال مړ شولو۔

فائده : نووی وئیلے دی دنحام ځوئ چه کوم په دے روایت کښې ذکر دے، هغه غلط دے او صحیح نحام او نحام لقب دے دنعیم بن عبدالله، ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل زهٔ جنت ته لاړم نو هلته م دنعیم نحمه واوریده او نحمه آوازته وئیلے شی انتهی)

كِتَابُ الْقَسَامَةِ وَالْمُحَارِبِيْنَ وَالْقِصَاصِ وَالدِّيَاتِ .

دقسامه، جنګ، قصاص او دیت مسئلے .

بَابُ الْقَسَامَةِ .

دقسامت بیان .

فائده : قسامت دادے چه هر کله خون داقرار او ګواهئ سره ثابت نهٔ وی، او دمحلے په خلقو بانډِ شك وی نو هغوئ به جمع کړی دقسم په ترے واخلی چه مونږه ده لره نهٔ دے قتل

کړے او نه ز مو بره دده قاتل پیژنو یا دمقتول دوارثانو نه قسم اخستل او ددے بیان مخکښے راغے۔

(۴۳۴۲) عَنْ سَهْلِ ابْنِ اَبِیْ حَثْمَةَ قَالَ يَحْيٰى وَحَسِبْتُ قَالَ وَعَنْ رَّافِعِ ابْنِ خَدِيْجٍ اَنَّهُمَا قَالَ خَرَجَ عَبْدُ اللهِ ابْنُ سَهْلِ ابْنِ زَيْدٍ وَمُحَيِّصَةُ ابْنُ مَسْعُوْدِ ابْنِ زَيْدٍ حَتّٰى اِذَا كَانَا بِخَيْبَرَ تَفَرَّقَا فِيْ بَعْضِ مَا هُنَالِكَ ثُمَّ اِذَا مُحَيِّصَةُ يَجِدُ عَبْدَ اللهِ ابْنَ سَهْلٍ قَتِيْلًا فَدَفَنَهُ ثُمَّ اَقْبَلَ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ وَحُوَيِّصَةُ ابْنُ مَسْعُوْدٍ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ سَهْلٍ وَكَانَ اَصْغَرَ الْقَوْمِ فَذَهَبَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ لِيَتَكَلَّمَ قَبْلَ صَاحِبَيْهِ فَقَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبِّرِ الْكُبْرَ فِي السِّنِّ فَصَمَتَ وَتَكَلَّمَ صَاحِبَاهُ وَتَكَلَّمَ مَعَهُمَا فَذَكَرُوْا لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَقْتَلَ عَبْدِ اللهِ ابْنِ سَهْلٍ فَقَالَ لَهُمْ اَتَحْلِفُوْنَ خَمْسِيْنَ يَمِيْنًا فَتَسْتَحِقُّوْنَ صَاحِبَكُمْ اَوْ قَاتِلَكُمْ، قَالُوْا وَكَيْفَ نَحْلِفُ وَلَمْ نَشْهَدْ قَالَ فَتُبْرِئُكُمْ يَهُوْدُ بِخَمْسِيْنَ يَمِيْنًا قَالُوْا وَكَيْفَ نَقْبَلُ اَيْمَانَ قَوْمٍ كُفَّارٍ فَلَمَّا رَاٰى ذٰلِكَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَعْطٰى عَقْلَهُ. [بخاری، ابو داود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: دسهل بن ابی حثمه نه روایت دے یحیٰی وائی کیدے شی بشیرؓ درافع بن خدیجؓ نوم هم واخستو چه دے دواړو وئیلے دی۔ عبدالله بن سهل بن زیدؓ او محیصه بن مسعود بن زیدؓ دواړه راووتل هر کله چه خیبر ته اورسیدل نو جداجدا شول، بیا محیصهؓ څه ګوری چه عبدالله بن سهلؓ چاوژلے او غورځولے دے، هغویؓ عبدالله لره دفن کړو او بیا درسول الله صلی الله خوااله هغویؓ او حویصه بن مسعودؓ او عبدالرحمن بن سهل راغلو۔ عبدالرحمن په ټولو کښې کشر وو۔ هغویؓ خبره کول غوښتل دخپلو دواړو ملګرونه مخکښې۔ جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل څوك چه په عمر کښے زیات وی د هغویؓ مشری اوکړئ (یعنی هغه خبروکولو ته پریږدئ حالانکه عبدالرحمن دمقتول حقیقی رور وو او محیصهؓ او حویصهؓ ئے دتره ځامن وو خودلت ددعوے غرض نهٔ وو صرف واقعات اوریدل وو) عبدالرحمن چپ پاتے شو۔ او حویصهؓ او محیصهؓ خبرے کولے او عبدالرحمن هم دهغویؓ سره خبرے اوکړے، بیائے بیان کړو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دعبدالله بن سهلؓ دوژلو مقام لره، حضرت هغه درے واړو ته او فرمائیل تاسو به پنځوس قسمونه خورئ، او دخپل مورث خون به حاصلوئی (یعنی قصاص یادیت او وارث خو صرف عبدالرحمن وو لیکن حضرت درے واړو طرفته خطاب اوکړو او غرض داوو چه

عبدالرحمن قسم اوخوری)درے وارو اووے مونږه ولے قسم اوخورو دخون په وخت خو مونږه نهٔ وو، حضرتؐ او فرمائیل بیا خو به یهود پنځوس قسمونه اوخوری او ددے الزام نه به بری شی، هغوئ اووے مونږه دکافرو قسمونه څنګه قبول کړو. هر کله چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حال اولیدو نو دیت ئے ورکړو(دخپل طرفنه)۔

فائده: نووی علیه رحمه وئیلی دی دقسامت په باب کښې دغه حدیث اصل دے اوددے نه تمامو علماؤ اخذ کړے دے سوا دیو جماعت نه چه هغوئ دقسامت نه انکار کړے دے، اوس اختلاف کړے دے علماؤ ددے په کیفیت کښې، او اختلاف ئے کړے دے چه په قسامت سره قصاص کیدے شی یا نهٔ۔

دمالکؒ او لیثؒ او زاعیؒ په نزد په دے سره قصاص کیدے شی او دشافعیؒ قول قدیم هم دغسے دے، اوداهل کوفه ؤ په نزد په دے سره قصاص نشته دے صرف دیت به پرے لازمیږی، او دشافعیؒ هم صحیح قول دغه دے، او اختلاف دے چه په قسامت کښې به څوك قسمونه خوری، نو دمالك او شافعیؒ او دجمهورو علماؤ په نزد به دمقتول وارثان پنځوس قسمونهج خوری، او که هغوئ نهٔ خوری نو په چا بانډې چه شك وی دهغوئ به پنځوس قسمونه اخستے شی. او داهل کوفه ؤ په نزد به قسمونه په دمدعی علیه بانډې وی، او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل طرفنه په هغه مقدمه کښې دیت ورکړو دچا دپاره چه وارث پخپله هم حلف او نهٔ کړو. او نهٔ په حلف اخستلو بانډې راضی شولو. او دا دیت حضرتؐ تبرعا ورکړو، په دے خیال سره چه دعبداللهؓ خون ضائع نهٔ شی، او په یو روایت کښې دی چه دصدقے داوښانو نه حضرت سل اوښان ورکړل. او امام لره په داسے مقدماتو کښې روپئ لګول درست دی۔

(۴۳۴۳) عَنْ سَهْلِ ابْنِ اَبِیْ حَثْمَةَ وَرَافِعِ ابْنِ خَدِیْجٍ اَنَّ مُحَیِّصَةَ ابْنَ مَسْعُوْدٍ وَعَبْدَ اللّٰهِ ابْنَ سَهْلٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا انْطَلَقَا قِبَلَ خَیْبَرَ فَتَفَرَّقَا فِی النَّخْلِ فَقُتِلَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ سَهْلٍ فَاتَّهَمُوْا الْیَهُوْدَ فَجَآءَ اَخُوْهُ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ وَابْنَاعَمِّهٖ حُوَیِّصَةُ وَمُحَیِّصَةُ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمْ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَتَکَلَّمَ عَبْدُ الرَّحْمٰنِ فِیْ اَمْرِ اَخِیْهِ وَهُوَ اَصْغَرُ مِنْهُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَبِّرِ الْکُبْرَ اَوْ قَالَ لِیَبْدَ اِلَّا کُبْرَ فَتَکَلَّمَا فِیْ اَمْرِ صَاحِبِهِمَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ یُقْسِمُ خَمْسُوْنَ مِنْکُمْ عَلٰی رَجُلٍ مِّنْهُمْ

فيَدفعُ برُمّته قالُوا امرٌ لَم نشهدهُ كيف نحلفُ قال فتُبرئكُم يهُود بايمان خمسين منهُم قالوا يا رسُولَ الله قومٌ كُفّارٌ قال فوداهُ رسُولُ الله صلّى اللهُ عليه وسلّم من قبله قال سهلٌ فدخلتُ مربدًا لهُم يومًا فركضتني ناقةٌ من تلك الابل ركضةً برجلها قال حمّادٌ هذا او نحوهُ. [راجع: ۴۳۴۲]

ترجمه: دسهل بن ابی حثمه او رافع بن خدیج نه روایت دے چه محیصه بن مسعود او عبدالله بن سهل دواړه دخیبر په طرف لاړو او دکجورو په ونو کښے جدا شولو، پس عبدالله بن سهل او وژلے شو، خپلقو پـه یهـودو بـانـدِ گـمـان کـوؤ (یعنی چه یهودو بن وژلے وی) بیا دعبدالله رور عبدالرحمن راغے ، او دهغوئ دا تول درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو، عبدالرحمن دخپل رور حال بیانول شروع کړو او دهغوئ عمر په دغه دریو کښ کوم وو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل دمشرمشری اوکړه یا مشر لره ونیل پکار دی، بیا حویصه او محیصه حال بیان کړو دعبدالله بن سهل، پس جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل ستاسو نه به پنځوس سړی دیهودو په یو سړی بانډِ قسم او خوری (چه فلانے قاتل دے) هغه به دخپلے غاړې رسئ ورکړی،(یعنی خپل ځان به او سپاری تاسوته دقتلولو دپاره) هغوئ اووے هر کله چه دا واقعه کیده نو مونږ نهٔ ده لیدلے ، مونږه به څنګه قسم اوخورو، حضرت او فرمائیل نو یهود بن پنځوس قسمونه اوخوری او خپل ځان به پاك کړی، هغوئ اووے یارسول الله! هغوئ خو کافر دی آخر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل طرفنه دیت ورکړو دعبدالله بن سهل، سهل وائی زهٔ دهغه اوښانو دتړلو ځائے ته لاړم نو دهغوئ نهٔ یوے اوښے زه په لته اووهلم۔

فائده: نووی وئیلے دی ددے حدیث نه دا معلومه شوه چه په قسامت سره قصاص هم کیدے شی. ځکه خوئے او فرمائیل چه هغه به دخپلے غاړے رسئ تاسو ته حواله کړی، او دچاپه نزد چه قصاص نهٔ شی کیدے هغوئ داسے وائی چه مراد دادے چه خپل ځان به حواله کړی دیت ورکولو دپاره والله اعلم۔

(۴۳۴۴) عَنْ سَهْلِ ابْنِ اَبِیْ حَثْمَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِنَحْوِهٖ وَقَالَ فِیْ حَدِيْثِهٖ فَعَقَلَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدِهٖ وَلَمْ يَقُلْ فِیْ حَدِيْثِهٖ فَرَكَضَتْنِیْ نَاقَةٌ. [راجع: ۴۳۴۲]

ترجمه: د سهل بن ابي حثمةٌ نه روايت دے د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په دغه شان لکه چه پورته تير شولو په دے کښې دادي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دهغه ديت دخپل طرفنه ورکړو او په دے کښے دا نشته دے چه يو ے اوښے نه په لته باندِ اووهلم۔

(۴۳۴۶) عَنْ بُشَيْرِ ابْنِ يسار اَنَّ عَبْدَ اللهِ ابْنَ سَهْلِ ابْنِ زَيْدٍ مُحَيِّصَةَ ابْنَ مَسْعُوْدِ ابْنِ زَيْدِ الْاَنْصَارِ يَّيْنَ ثُمَّ مِنْ بَنِيْ حارِثة خرجا اِلٰى خَيْبَر فِيْ زَمَانِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم وَهِيَ يَوْ مَئِذٍ صُلْحٌ وَ اَهْلُهَا يَهُوْدُ فَتَفَرَّقَا لِحاجتِهما فقُتِلَ عَبْدُ اللهِ ابْنُ سَهْلٍ فَوُجِدَ فِيْ شَرَبَةٍ مُقْتُوْلًا فَدَفَنَهُ صَاحِبُهٗ ثُمَّ اَقْبَلَ اِلَى الْمَدِيْنَةِ فَمَشٰى اَخُوْ الْمقتُوْل عبد الرحمن ابْنُ سهلٍ وَّمَحِيْصَةُ وَحُوَيْصَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ فَذَكَرُوْا لِرَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عليه وسلم شان عبد الله وحيث قُتل فزعم بُشَيْرٌ وَّهُوَ يُحدّثُ عَنْ مَنْ اَدْرَكَ مِمَّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صلى الله عليه وسلم انه قال لَهُمْ تَحْلِفُوْنَ خمسين يَمِيْنًا وَتَسْتَحِقُّوْنَ قَاتِلَكُمْ اَوْ صَاحِبَكُمْ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللهِ ما شهدنا ولا حضرنا فزعم اَنَّهٗ قَالَ فَتُبْرِئُكُمْ يَهُوْدُ بِخَمْسِيْنَ فَقَالُوْا يَارَسُوْلَ اللهِ كَيْفَ نَقْبَلُ اَيْمَانَ قَوْمٍ كُفَّارٍ فزعم بُشَيْرٌ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَقَلَهٗ مِنْ عِنْدِهٖ [راجع: ۴۳۴۲]

ترجمه: د بشير بن يسار نه روايت دے چه عبدالله بن سهلؓ بن زيدؓ او محيصه بن مسعود بن زيد انصاريؓ چه بني حارثه (دقبيلے نه) وو خيبر ته لاړو، د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کښے، او په دغه ورځوو کښې هلته امن امان وو او يهوديان هلته اوسيدلو، بيا هغوئ دواړه جدا شول خپلو خپلو کارونو ته نو عبدالله بن سهل او وژلے شو او په يو حوض کښې دهغوئ لاش برامد يعني او مونده شو، محيصهؓ هغوئ لره دفن کړو او بيا مدينے ته راغے، او عبدالرحمن بن سهل دمقتول رور، او محيصهؓ او حويصهؓ (دتره ځامن) دے دربوارو جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته دعبدالله حال بيان کړو او کوم ځائے کښې چه قتل شوے وو، نو بشيرؒ روايت کړے دهغه خلقونه چا چه دحضرت دصحابه و نه هغوئ موندليوو چه حضرت او فرمائيل . هغوئ ته تاسو پنځوس قسمونه خورے شئ او خپل قاتل ترے اخلئ، هغوئ اووے يا رسول الله مونږ نهٔ دی ليدلی او نهٔ مونږ هلته موجود وو حضرت او فرمائيل نو بيا خوبه يهود خپله صفائي اوکړي او ستاسو په الزام سره به پنځوس قسمونه او خوري هغوئ اووے يا رسو الله! مونږه دکافرو قسمونه څنګه قبول کړو، بشيرؒ وي چه آخر جناب محمد رسول الله صلى

الله علیه وسلم دعبدالله دیت دخپل طرفنه ورکړو.

(۴۳۴۷) عَنْ بُشَيْرِ ابْنِ يَسَارٍ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَنْصَارِ مِنْ بَنِي حَارِثَةَ يُقَالُ لَهُ عَبْدُ اللهِ ابْنُ سَهْلِ ابْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِ اللَّيْثِ اِلٰى قَوْلِهٖ فَوَدَاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِهٖ قَالَ يَحْيٰى فَحَدَّثَنِيْ بُشَيْرُ ابْنُ يَسَارٍ قَالَ اَخْبَرَنِيْ سَهْلُ ابْنُ اَبِيْ حَثْمَةَ قَالَ لَقَدْ رَكَضَتْنِيْ فَرِيْضَةٌ مِّنْ تِلْكَ الْفَرَائِضِ فِالْمِرْبَدِ. [راجع: ۴۳۴۲]

ترجمه: دبشیرٓ بن یسارٓ نه روقایت دے چه دانصارو یو سړے دبنی حارث قبیلے چه به نے ورته عبدالله بن سهل بن یزید رضی الله تعالی عنه ونیلو ، باقی حدیث دپورته حدیث په شان دے خو په دے کښ دادی چه سهلؓ دااووے چه ماله یوے اوښے دهغه اوښونه لته راکړه په اصطبل کښ.

(۴۳۴۸) عَنْ سَهْلِ ابْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّهُ اَخْبَرَهُ اَنَّ نَفَرًا مِّنْهُمْ انْطَلَقُوْا فِيْهَا فَوَجَدُوْا اَحَدَهُمْ قَتِيْلًا وَّسَاقَ الْحَدِيْثَ وَقَالَ فِيْهِ فَكَرِهَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ يُّبْطِلَ دَمَهٗ فَوَادَهٗ مِائَةً مِّنْ اِبِلِ الصَّدَقَةِ.

ترجمه: دسهل بن ابی حثمهؓ نه روای تدے چه څه خلق دهغوئ دقوم نه خیبر ته لاړو، او دقوم نه خیبر ته لاړو. او هلته جدا جدا شول، بیا یو په هغوئ کښ قتل شوے او موندے شو. او بیان ئے کړو حدیث لره دآخره پورے او وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغه وینه ضائع کیدل بد ګڼړلو. نو سل اوښان ئے ورکړو دصدقے د اوښانونه.

(۴۳۴۹) عَنْ سَهْلِ ابْنِ اَبِيْ حَثْمَةَ عَنْ رِجَالٍ مِّنْ كُبَرَاءِ قَوْمِهٖ اَنَّ عَبْدَ اللهِ ابْنَ سَهْلٍ وَمُحَيِّصَةَ خَرَجَ اِلٰى خَيْبَرَ مِنْ جَهْدٍ اَصَابَهُمْ فَاَتٰى مُحَيِّصَةُ فَاَخْبَرَ اَنَّ عَبْدَ اللهِ ابْنَ سَهْلٍ قَدْ قُتِلَ وَطُرِحَ فِيْ عَيْنٍ اَوْ فَقِيْرٍ فَاَتٰى يَهُوْدَ فَقَالَ اَنْتُمْ وَاللهِ قَتَلْتُمُوْهُ قَالُوْا وَاللهِ مَا قَتَلْنَاهُ ثُمَّ اَقْبَلَ حَتّٰى قَدِمَ عَلٰى قَوْمِهٖ فَذَكَرَ لَهُمْ ذٰلِكَ ثُمَّ اَقْبَلَ هُوَ وَاَخُوْهُ حُوَيِّصَةُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا وَهُوَ اَكْبَرُ مِنْهُ وَعَبْدُ الرَّحْمٰنِ ابْنُ سَهْلٍ فَذَهَبَ مُحَيِّصَةُ لِيَتَكَلَّمَ وَهُوَ الَّذِيْ كَانَ بِخَيْبَرَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمُحَيِّصَةَ كَبِّرْ كَبِّرْ يُرِيْدُ السِّنَّ فَتَكَلَّمَ حُوَيِّصَةُ ثُمَّ تَكَلَّمَ مُحَيِّصَةُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِمَّا اَنْ يَّدُوْا صَاحِبَكُمْ وَاِمَّا اَنْ يُّؤْذِنُوْا بِحَرْبٍ فَكَتَبَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَيْهِمْ فِيْ ذٰلِكَ فَكَتَبُوْا اِنَّا وَاللهِ مَا قَتَلْنَاهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِحُوَيِّصَةَ

وَمُحَيِّصَة وعَبد الرَّحمٰنِ اَتَحلِفُوْنَ وَتَستَحِقُّوْنَ دَمَ صَاحِبِكُمْ قَالُوْا لَا قَالَ فَتَحلِفُ لَكُمْ يَهُوْدُ قَالُوْا لَيسُوْا بِمُسلِمِيْنَ فَوَدَاهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مِائَةَ نَاقَةٍ حَتّٰى اُدخِلَتْ عَلَيهِمُ الدَّارَ فَقَالَ سَهلٌ فَلَقَدْ رَكَضَتْنِيْ مِنْهُ نَاقَةٌ حَمْرَآءُ. [راجع : ۴۳۴۲]

ترجمه: سهل بن ابی حثمهؓ روایت کوی دخپل قوم دمشرانو خلقونه چه عبدالله بن سهلؓ او محیصهؓ دواړو دخیبر په طرف لاړو دتکلیف دوجے نه کوم چه په هغوئ راغے نو محیصهؓ ته چا اووے ، چه عبدالله بن سهلؓ وژلے شوے دے او د هغوئ لاش ئے په چینه یا کوهی کښے غورځولے دے، او هغوئ یهودو خواله راغے، او اووے وئیل قسم په خدائے چه دا تاسو وژلے دے، یهودیانو اووے قسم په خدایے چه مونږ ده لره نۀ دے وژلے، بیا هغوئ دخپل قوم خواله راغے، او هغوئ ته ئے بیان اوکړو، بیا محیصهؓ او دهغه رور حویصهؓ چه دهغه نه مشر وو او عبدالرحمن بن سهل درے واړه راغلو(درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله)محیصهؓ خبرے کول غوښتل چه هغځ خیبر ته تلے وو(عبداللهؓ سره) نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل دمشر مشروالے اوګڼړه او شو خبرو کولو ته پریږده، بیا حویصهؓ خبره اوکړه، دهغځ ته ورستو محیصهؓ تـه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل ، یهود به ستا دملګری دیت ورکوی یا به جنګ کوی، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم یهودوته په دے باره کښے خط اولیکو ، هغوئ په جواب کښے اولیکل قسم په خدائے چه مونږ نۀ دے وژلے هغوئ لره ، بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم حویصهؓ، محیصهؓ ، او عبدالرحمن ته او فرمائیل، تاسو قسم خورئ او دخپل ملګری خون اخلئ، هغوئ اووے نۀ، حضرتؐ ورته او فرمائیل نو یهود قسم خوری ستاسو دپاره هغوئ اووے هغه مسلمانان نۀ دی(دهغوئ دقسم څه اعتبار دے) بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغوئ دیت ډخپل طرفنه ورکړو، او سل اوښان ئے هغوئ ته اولیږلے تردے پورے چه دهغوئ کورته لاړو ، سهل وائی په هغوئ کښے یوے سرے اوښے زۀ په لته اووهلم ۔

(۴۳۵۰) عَنْ رَجُلٍ مِّنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْاَنْصَارِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَقَرَّ الْقَسَامَةَ عَلٰى مَا كَانَتْ عَلَيهِ فِي الْجَاهِلِيَّةِ. [نسائی]

ترجمه: دیو اصحابیؓ نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم قسامت لره په

هغه طریقه باقي پریخودے دے، لکه څنګه چه دجاهلیت په زمانه کښے وو۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلے دی قسامت په اووه صورتونو کښ کیږی، یو خو دا چه مقتول دمرګ په وخت داسے او وائی چه زه فلانی مړ کړے یا زخمی کړے یم، اګر که په ده باندِ نشان نهٔ وی او داقول دمالکؒ او لیثؒ دے۔

دویم دا چه شبه وی، لکه دیو سړی عادل ګواهی وی، یاداسے دڅو خلقو چه هغه عادلان نهٔ وی، دمالکؒ او لیثؒ او شافعیؒ په نزد باندِ۔

دریم دا چه دوه عادلان ګواهی ورکړی چه فلانی زخمی کړے دے، بیا څه ورځے زخمی ژوندے وی او بیا مړ شی لیکن بنه شوے نهٔ وی، دمالکؒ او لیثؒ په نزد اودشافعیؒ او ابو حنیفهؒ په نزد په دے صورت کښ قصاص دے۔

څلورم دا چه مقتول دمتهم په خوا کښ میلاؤ شی یا هغه ته نزدے یا متهم په هغه طرف را روان وی، اود هغه سره دقتل او زاروی یا په هغه باندِ دوینے وغیره نشان وی، او ددرندے هلته ګمان نهٔ وی، یا څو کسه دیو سړی دخوانه جدا شی او هغه وژلے شوے وی په دے صورت کښ به دمالکؒ او شافعیؒ په نزد قسامت کیږی۔

پنځم دا چه دوه ډلے وجنګیږی او په هغوئ کښ یو مقتول میلاؤ شی، نو قسامت به واجبیږی دمالکؒ او احمدؒ او اسحٰقؒ په نزد او دامام مالکؒ نه یو روایت دادے چه هغه دکومے ډلے وی نو د هغه دیت به دبلے ډلے په کسانو باندِ لازم وی او کچرے دیوے ډلے هم نهٔ وی نو په دواړو ډلو باندِ دیت لازمیږی۔

شپږم دا چه په ګڼره ګونړه او هجوم کښ څوك مړ شوے میلاؤ شی دشافعیؒ په نزد دهغه هدر دے او دثوریؒ او اسحٰقؒ په نزد به دهغه دیت دبیت المال نه ورکولے شی۔

اووم دا چه دمقتول لاش په یوه محله یا قبله یا دچا محلے والا په جماعت کښ میلاؤ شی، نو دامام مالکؒ او شافعیؒ او احمدؒ او داود په نزد صرف په دومره خبره به قسامت نهٔ وی، بلکه خون به هدروی، ځکه چه بعضے وخت یو سړے بل مړکړی او دخپلو دشمنانو په محله کښے ئے او غورځوی، ددے دپاره چه هغوئ اونیولے شی، مګر شافعی علیه الرحمه وائی چه

هر کله لاش د هغه د دشمنانو په محله کښې میلاؤ شي لکه څنګه چه د خیبر قصه وه چه په انصارو او یهودو کښې دشمني وه نو قسامت واجبیږي. او د امام احمد نه هم دغه شان منقول دی. او د امام ابو حنیفه او ثوريؒ او اهل کوفه ؤ په نزد قسامت صرف په دغه صورت کښې دے چه لاش د چاپه محله یا کلی کښې میلاؤ شي او په ده باندې دوهلو نشان وی، او په بل یو صورت کښې (قسامت) نشته، او که چرے لاش په جماعت کښې میلاؤ شي نو دمحلے خاوندانو له به قسم ورکوی او دیت به د بیت المان نه ورکولو شي او داهله چه په محلے والا باندې دعوه اوکړے شي. او اوزاعيؒ وائیٔ چه هر کله په محله کښې لاش میلاؤ شي نو قسامت واجبیږي اګر که په هغه (مقتول) باندې دوهلو نشان نهٔ وی انتهی مختصرا۔

(۴۳۵۱) عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهٗ، وَزَادَ وَقَضٰى بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ نَاسٍ مِنَ الْاَنْصَارِ فِيْ قَتِيْلٍ ادَّعَوْهُ عَلَى الْيَهُوْدِ. [راجع: ۴۳۵۰]

ترجمه: د ابن شهابؒ نه هم دغه شان روایت دے خو دومره زیاته ده چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د قسامت حکم اوکړو په مینځ د انصارو دیو مقتول کښې چه هغوئ د قتل دعوه کړے وه په یهودو باندې۔

بَابُ حُكْمِ الْمُحَارِبِيْنَ وَالْمُرْتَدِّيْنَ.

د جنګیدونکو او د اسلام نه د واپس کیدونکو حکم.

(۴۳۵۳) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ نَاسًا مِنْ عُرَيْنَةَ قَدِمُوْا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِيْنَةَ فَاجْتَوَوْهَا فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنْ شِئْتُمْ اَنْ تَخْرُجُوْا اِلٰى اِبِلِ الصَّدَقَةِ فَتَشْرَبُوْا مِنْ اَلْبَانِهَا وَاَبْوَالِهَا فَفَعَلُوْا فَصَحُّوْا ثُمَّ مَالُوْا عَلَى الرِّعَاءِ فَقَتَلُوْهُمْ وَارْتَدُّوْا عَنِ الْاِسْلَامِ وَاسْتَاقُوْا ذَوْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ فِيْ اَثَرِهِمْ فَاُتِيَ بِهِمْ فَقَطَعَ اَيْدِيَهُمْ وَاَرْجُلَهُمْ وَسَمَلَ اَعْيُنَهُمْ وَتَرَكَهُمْ فِي الْحَرَّةِ حَتّٰى مَاتُوْا.

ترجمه: د انس بن مالکؓ نه روایت دے چه څه خلق د عرینه (یوه قبیله ده) د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله مدینے منورے ته راغلو او په هغوئ د هغه ځائے هوا موافق رانهٔ غله، او د استسقاء مرض ورته راغے نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمائیل کچرے

ستاسو زړهٔ غواړی نو دصدقے او ښانو لـه ورشئ (چه هغه دښهر نه بهر په ځنګل کښې اوسیدلو) او دهغوئ پئ او متیازے او څښئ هغوئ دغه شان اوکړو او ښه شول بیا څرونکو ته په قهر شو (کوم چه مسلمانان وو) او هغه ئے اووژل او داسلام نه اوګرځیدل ، او اوښان ئے دځان سره او تختول دا خبرجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اورسیدو، هغوئ پسے ورستو خلق اولیږل او هغه ئے نیولی راوستلو ، بیا حضرت دهغوئ لاسونه اوخپے کټ کړلے، او دهغوئ په سترګو کښې ئے ورله ستنے او منډلے یائے ورله سترګے اوچولے، او په سخته ګرمئ کښې ئے او غورځول تر هغے پورے چه مړه شو۔

فائده : دمالکؒ او احمدؒ ملګرو ددے حدیث نه استدلال کړے دے چه کوم ځناور حلال دے دهغه متیازے او غوشان پاك دی ۔ او زمونږ ملګرو وئیلے دی چه دائے ددوایئ دپاره حکم کړے دے او ددوایئ دپاره دهرے یوے پلیتئ استعمال درست دے سوا دشرابو او مسکرات نه۔ (انتهی قال النوویؒ)

دا حدیث دمحاربیون او مرتدینو په سزا کښې اصل دے او موافق دے ددے آیت ((إِنَّمَا جَزَآءُ الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ)) داخره پورے او اختلاف کړے دے علماؤپه دے خبره کښې ، نو دامام مالکؒ په نزد امام له اختیار دے چه ددے سزاګانو نه کومے چه په آیت کښې ذکر دی (قتل کول) په دار خیژول، لاسونه او خپے پریکول ، قیدکول کومه سزا غواړی ورکړی ، مګر دقتل په صورت کښې دهغه قتلول ضروری دی۔

او دابو حنیفهؒ او دابو مصعب په نزد په هر صورت کښے امام (یعنی قاضی) له اختیار دے ۔او دشافعیؒ او باقی علماؤ په نزد کچرے محاربینو صرف قتل کړے وی او مال ئے نهٔ وی اخستے نو هغه به قتلولے شی، او که قتل ئے هم اوکړو او مال ئے هم واخستو نو قتل کولے به شی او په دار کولے به شی، او چاچه صرف مال واخستو نو لاسونه او خپے به ترے کټ کولے شی، او چاچه صرف ویرول اوکړو او دهمکی ئے ورکړه نو هغوئ به را اوغواړی او سزاء به ورکړی، او دنفی نه دغه مراد دے ، او دا جهکړه عامه ده که په ښهر کښې وی یا په ځنګل کښې ، او دابو حنیفهؒ په نزد په ښهر کښې به دا حکم نهٔ وی، او علماؤ وئیلے دی چه دسترګو چودل دا واقعه

دمثلے دممانعت نه مخکښ وه نو منسوخ ده، او ځنې وائي منسوخ نۀ ده، او حضرت قصاصا داسے اوکړو، ولے چه هغوئ هم دڅرونکو دغه شان کړی وو (نووی)

(۴۳۵۴) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ نَفَرًا مِّنْ عُکْلٍ ثَمَانِیَةً قَدِمُوْا عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَبَایَعُوْهُ عَلَی الْاِسْلَامِ فَاسْتَوْخَمُوا الْاَرْضَ وَسَقِمَتْ اَجْسَامُهُمْ فَشَکَوْا ذٰلِکَ اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَلَا تَخْرُجُوْنَ مَعَ رَاعِیْنَا فِیْ اِبِلِهٖ فَتُصِیْبُوْنَ مِنْ اَبْوَالِهَا وَاَلْبَانِهَا فَقَالُوْا بَلٰی فَخَرَجُوْا وَشَرِبُوْا مِنْ اَبْوَالِهَا وَاَلْبَانِهَا فَصَحُّوْا فَقَتَلُوا الرَّاعِیَ وَطَرَدُوا الْاِبِلَ فَبَلَغَ ذٰلِکَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَبَعَثَ فِیْ اٰثَارِهِمْ فَاُدْرِکُوْا فَجِیْئَ بِهِمْ فَاَمَرَ بِهِمْ فَقُطِعَتْ اَیْدِیْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ وَسُمِّرَ اَعْیُنُهُمْ ثُمَّ نُبِذُوْا فِی الشَّمْسِ حَتّٰی مَاتُوْا وَقَالَ ابْنُ صَبَّاحٍ فِیْ رِوَایَتِهٖ وَاطَّرَدُوا النَّعَمَ قَالَ وَسُمِّرَتْ اَعْیُنُهُمْ. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه: دانس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دعکل (دیوے قبیلے نوم دے) اته سړی درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو، او دحضرت نه ئے په اسلام باندِ بیعت اوکړو، بیا هغوئ له (دمدینے) هوا نا موافق شوله او په بدن بیمار شولو هغوئ جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته شکایت اوکړو حضرتؐ صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل تاسو زمونږ دڅرونکو خواله تلے شی په اوښانو کښِ هلته دهغوئ پیؤ او متیازے او څښئ، هغوئ اووے ډیره ښه ده، بیا هغه لاړو او داوښانو پیؤ او متیازے ئے اوڅښلے او صحت ئے او موندو، بیا هغوئ څرونکی قتل کړو او اوښان ئے تربے واخستل، دا خبر جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اورسیدو، حضرت په هغوئ پسے منډے والا اولیږل او هغه ئے گرفتار کړے راوستو، حضرت صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو لاسونه او خپے ئے ورله کټ کړل سترگے ئے ورله په سلائی سره اوچولے او بیائے په غرمو کښے او غورځول تردے پورے چه مړه شول، او وئیلے دی ابن صباح په روایت ده کښے چه پیما ل کړو دوئ لره څاروو، وائی چه اوویستلے شوے سترگے ددوئ۔

(۴۳۵۵) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ اَبِیْ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَدِمَ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَوْمٌ مِّنْ عُکْلٍ اَوْ عُرَیْنَةَ فَاجْتَوَوُا الْمَدِیْنَةَ فَاَمَرَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِلِقَاحٍ وَاَمَرَهُمْ اَنْ یَّشْرَبُوْا مِنْ اَبْوَالِهَا وَاَلْبَانِهَا بِمَعْنٰی حَدِیْثِ حَجَّاجِ ابْنِ اَبِیْ عُثْمَانَ وَقَالَ سُمِرَتْ اَعْیُنُهُمْ وَاُلْقُوْا فِی الْحَرَّةِ یَسْتَسْقُوْنَ فَلَا یُسْقَوْنَ. [راجع:۴۳۵۴]

ترجمه: دانس بن مالکؓ نه هم دغه مضمون مروی دے کوم چه پورته تیر شولو. مګر دومره زیات دے چه هغه ئے او غور ځول په حره کښې (حره دمدینے منورے یو میدان دے) او اوبه ئے غوښتلے لیکن اوبه ورته نهٔ شوے میلاویدے.

فائده: نووی علیه الرحمه وائی چه په دے حدیث کښې دا نشته دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم داسے حکم کړے وو یائے هغوئ لره داوبو ورکولو نه منع فرمائیلے وو. قاضی عیاضؒ وائی دمسلمانانو اجماع ده په دے مسئله باندِ چه دچا دپاره دقتل حکم لوشی او هغه اوبه و غواړی نو هغه له به به اوبه ورکولے شی او هغه له به په دوه قسمه عذاب نهٔ ورکوی ، یو دتندے او بل دخپ دوهلو.

زهٔ وایم چه په صحیح روایت کښے دادی چه هغوئ ځرونکو لره او وژل او دالسلام نه بهر شول ، اوس دهغوئ څه خاطر پاتے نهٔ شو نهٔ داوبو څښلو نهٔ دبلے څه خبرے، او زمونږ ملګرو دا وئیلے دی چه دچاسره اوبه وی په قدر دطهارت هغه به دغه مرتدله نهٔ ورکوی کچرے دتندے نه مړ کیدلو، البته کچرے ذمی کافر یا څناور وی ، نو په هغه اوبه څکول واجب دی او اودس کول په داسے وخت کښے درست نهٔ دی (نوویؒ)

(۴۳۲۳) عَنْ اَبِیْ قِلَابَةَ قَالَ کُنْتُ جَالِسًا خَلْفَ عُمَرَ ابْنِ عَبْدِ الْعَزِیْزِ فَقَالَ لِلنَّاسِ مَا تَقُوْلُوْنَ فِی الْقَسَامَةِ فَقَالَ عَنْبَسَةُ حَدَّثَنَا اَنَسُ ابْنُ مَالِکٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ کَذَا اَوْ کَذَا فَقُلْتُ اِیَّایَ حَدَّثَ اَنَسٌ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَدِمَ عَلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَوْمٌ وَسَاقَ الْحَدِیْثَ بِنَحْوِ حَدِیْثِ اَیُّوْبَ وَحَجَّاجٍ قَالَ اَبُوْ قِلَابَةَ فَلَمَّا فَرَغْتُ قَالَ عَنْبَسَةُ سُبْحٰنَ اللهِ قَالَ اَبُوْ قِلَابَةَ فَقُلْتُ اَتَتَّهِمُنِیْ یَا عَنْبَسَةُ قَالَ لَا هٰکَذَا حَدَّثَنَا اَنَسٌ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ لَنْ تَزَالُوْا بِخَیْرٍ یَا اَهْلَ الشَّامِ مَا دَامَ فِیْکُمْ هٰذَا اَوْ مِثْلُ هٰذَا [راجع ۴۳۲۲]

ترجمه: دحضرت ابو قلابه رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه زهٔ دعمر بن عبدالعزیز نه ورستو ناست وم پس هغوئ خلقوته اووے دقسامت په باره کښے څه وائی ؟ عنبسهؓ اووے مونږ ته انس بن مالکؓ حدیث بیان کړے دے داسے داسے ما اووے ماته انسؓ دا حدیث بیان کړے دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم له څه خلق راغلو دا خره پورے او بیان ئے کړے حدیث په داسے شان لکه چه پورته تیر شولو، ابو قلابهؓ وائی هر کله چه ما حدیث تمام کړو نو عنبسهؓ

سبحان الله اووے ما اووے ولے په مابند تهمت لګوے (ددروغو)نو عنبسة اووے نۀ ماته هم دغه شان حديث انس رضى الله تعالى عنه بيان کړے دے، اے دملك شام خلقو! تاسو به هميشه په خير سره يئ دکومے پورے چه په تاسو کښ داسے سړى موجود وى (يعنى دابوقلابه دحفظ او يادو تعريف ئے اوکړو) .

(۴۳۵۷) عن انس ابن مالك رَضِىَ اللّٰهُ تعالى عَنْهُ قال قدم على رسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَمَانِيَةَ نَفَرٍ مِّنْ عُكْلٍ بنحوِ حديثِهِمْ وزَادَ فِى الْحَدِيْثِ وَلَمْ يَحسِمْهُمْ . [راجع : ۴۳۵۴]

ترجمه: دانس بن مالكؓ نه دپورته حديث په شان روايت دے، په دے کښ دومره زياته ده چه حضرتؐ هغوئ له داغ ورنۀ کړو(ولے چه داغ دزخم)بندولو دپاره ورکولے شى او هلته دهغے ضرورت نۀ وو.

(۴۳۵۸) عَنْ انسِ ابْنِ مَالِكٍ اَتى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم نَفَرٌ مِّنْ عُرَيْنَةَ فَاَسْلَمُوْا وَبَايَعُوْهُ وَقَدْ وَقَعَ بِالْمَدِيْنَةِ الْمُوْمُ وهو الْبِرْسَامُ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حدِيْثِهِمْ وَزَادَ عِنْدَهُ شَبَابٌ مِّنَ الْاَنْصَارِ قَرِيْبٌ مِّنْ عِشْرِيْنَ فارسلهُمْ اِلَيْهِمْ فَاَنفَا يَقْتَصُّ اَثَرَهُمْ .

ترجمه: دانس بن مالكؓ نه روايت دے وائى چه رسول الله صلى الله عليه وسلم له دعرينه (قبيلے) څه خلق راغلو او مسلمانان شو. هغوئ بيعت اوکړو حضرتؐ نه په مدينه کښ دغه وخت موم يعنى دبرسام بيمارى خوره شوله (نووئ وائى برسام بيهوشى ده يا دسر يا دسينے پرسوب دے، په بحر الجواهر کښ دى برسام پرسوب دے دهغه پردے کومه چه دآينے او معدے په مينځ کښے ده) بيائے بيان کړو حديث لره دهغے په شان دومره ئے پکښ زياته کړه چه حضرت دانصارو شلو نوجوانانو ته نزدے وو، حضرتؐ هغوئ لره په هغو پسے اوزغلول او پيژندونکے ئے هم ورسره کړو چه هغه دهغوئ دقدمونو نښانونه پيژنى .

(۴۳۶۰) عن انسٍ رَضِىَ اللّٰهُ تعالى عنهُ قال انما سمل النَّبِىُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم اَعْيُنَ اُولٰئِكَ لِاَنَّهُمْ سَمَلُوْا اَعْيُنَ الرِّعَآءِ . [ترمذى ، نسائى]

ترجمه: دانس رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم دهغوئ په سترګو کښ سيخونه او وهل ځکه چه هغوئ هم دخرونکو په سترګو کښ سيخونه منډلى

وو.

فائده: پس دا سزا سختي او بې رحمي نهٔ ده، بلکه عين عدل او انصاف دې، کچرې په بدمعاشانو او ډاکوانو باندې څوك رحم اوکړي نو هغه بې رحمي ده په مخلوق دالله باندې :

نکوئی بابداں کردن چناں ست
کہ بدکردن بجائے نیک مرداں۔

بَابُ ثُبُوْتِ الْقِصَاصِ فِيْ الْقَتْلِ بِالْحَجَرِ وَ غَيْرِهٖ مِنَ الْمُحَدَّدَاتِ وَ الْمُثْقَلَاتِ وَ قَتْلِ الرَّجُلِ بِالْمَرْأَةِ .

په ګټه وغيره درونډ څيز سره په قتل کولو قصاص لازميږي دغه شان سړے به د ښځې په بدل قتلولے شي .

(۴۳۶۱) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ يَهُوْدِيًا قَتَلَ جَارِيَةً عَلٰے اَوْ ضَاحٍ لَّهَا فَقَتَلَهَا بِحَجَرٍ قَالَ فَجِيْئَ بِهَا اِلَى النَّبِيِّ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ بِهَا رَمَقٌ فَقَالَ لَهَا اَقَتَلَكِ فُلَانٌ فَاَشَارَتْ بِرَاْسِهَا اَنْ لَا ثُمَّ قَالَ لَهَا الثَّانِيَةَ فَاَشَارَتْ بِرَاْسِهَا اَنْ لَا ثُمَّ سَئَلَهَا الثَّالِثَةَ فَقَالَتْ نَعَمْ وَ اَشَارَتْ بِرَاْسِهَا فَقَتَلَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّے اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ حَجَرَيْنِ . [بخاري ، ابوداود ، نسائي ، ابن ماجه]

ترجمه: د انس بن مالك ؓ نه روايت دے چه يو يهودي يوه جينئي مړه کړله د سپينو زرو د څوټکړو دَ پاره نو په ګټه سره ئې هغه قتل کړله او هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راوړلے شوه، په هغې کښې لږ شان روح باق وو، حضرتؐ د هغې نه پوس اوکړو چه فلاني وژلے ئې؟ هغې اشاره په سر اوکړه نهٔ، بيا ئې دوباره اوفرمائيل فلاني وژلے ئې؟ هغې اشاره په سَر سره اوکړه نهٔ، بيا ئې تريې په دريم ځل تپوس اوکړو نو هغې اووے هان! او اشاره ئې اوکړه په خپل سَر سره، (حضرتؐ هغه يهودي را اوغوښتو او هغه اقرار اوکړو) بيا حضرتؐ هغه لره تل کړو په مينځ د دوه ګټو کښې۔

(۴۳۶۲) عَنْ شُعْبَةَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ نَحْوَهٗ وَ فِيْ حَدِيْثِ ابْنِ اِدْرِيْسَ فَرَضَخَ رَاْسَهٗ بَيْنَ حَجَرَيْنِ . [راجع : ٤٣٦١]

ترجمه: د شعبهٌ نه په دغه اسناد سره د پورته په شان روایت دے په دے کښ دا دی چه حضرتؓ د هغه سَر اوچقه وو ذ دوه ګټو په مینځ کښے۔

(۴۳۶۴) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنَ الْیَهُوْدِ قَتَلَ جَارِیَةً مِّنَ الْاَنْصَارِ عَلٰی حُلِیٍّ لَهَا ثُمَّ اَلْقَاهَا فِی الْقَلِیْبِ وَرَضَخَ رَأْسَهَا بِالْحِجَارَةِ فَاُخِذَ فَاُتِیَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَمَرَ بِهٖ اَنْ یُّرْجَمَ حَتّٰی یَمُوْتَ فَرُجِمَ حَتّٰی مَاتَ ۔[ابوداود ، نسائی ۰]

ترجمه: دَ انس رضی الله تعالٰی عَنهُ نه روایت ے چه یو یهودی دَ څه کالو یوه ماشومه قتل کړه دَ څه کالو د پاره چه هغے اچولی وو بیائے هغے لره کوهی ته اوغورځوله او د هغے سَرئے په ګټه سره اوچقوؤ د دے نه پس هغه اونیولے شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم ته خواته حَاضر کړے شو حضرتؐ حکم اوکړو چه دے په ګټو اوولئی د مرګه پورے، هغه په ګټو او ویشتلے شو تر دے پورے چه مړ شو۔

(۴۳۶۵) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ جَارِیَةً وُّجِدَ رَأْسُهَا قَدْرُضَّ بَیْنَ حَجَرَیْنِ فَسَئَلُوْهَا مَنْ صَنَعَ هٰذَا بِکِ فُلَانٌ فُلَانٌ حَتّٰی ذَکَرُوْا الْیَهُوْدِیَّ فَاَوْمَتْ بِرَأْسِهَا فَاُخِذَ الْیَهُوْدِیُّ فَاَقَرَّ فَاَمَرَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنْ یُّرَضَّ رَأْسُهٗ بِالْحِجَارَةِ ۔ [بخاری . ابوداود ، ترمذی . ابن ماجه]

ترجمه: دَ انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دَ یوے وینځے سر چقیدلے شوے او موندے شوه په دوه ګټو کښ د هغے نه تپوس اوشو چا ستا سره داسے اوکړو فلانی؟ یا فلانی؟ تر دے پورے چه د یو یهودی نوم ئے واخستو هغے اشاره اوکړه په خپل سَر سره هغه یهودی اونیلے شو او هغه اقرار اوکړو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړه د هغه دَ سَر چقولو په ګټو سره۔

فائده: امام نووی علیه الرحمة وئیلے دی د دے حدیث نه څو فائدے را اووتے، یو خو دا چه سړے به د ښځے په بدله کښے قتلولے شی او په دے باندِ جماع ده۔ دویمه دا چه قصدا څوك قتل اوکړی هغه به هم په هغه طریقه باندِ وژلے شی په کومه طریقه چه ده وژلے وی، که په توره سره ئے قتل کړے وی نو په توره به قتلولے شِی، او که په لرګی یا ګټه سره ئے قتل کړے وی نو په لرګی یا ګټه به قتلولے شی، او په دے کښ دَ امامِ ابو حنیفه علیه الرحمة علیه اختلاف ے هغویٰ

ونیلے چه قصاص به صرف په توره سره اخستے شي،دريئم دا چه دروند څيز سره وژل هم قصداً عمداً قتل دے ، لکه په کته يا غټل لرګی سره او په دے باندِ قصاص شته دے،د شافعیؒ او احمدؒ او د جمهورِ علماء دغه قول دے۔

او د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد قصاص په هغه صورت کښ دے هر کله چه ئے په دارو والا څيز سره اووژنی،که وسپنه وی يا کته يا لرګے يا په هغه آله سره چه د قتل د پاره جوړه وی ، لکه ګوپهن وغيره يا په اور کښے په غورځولو سره،او کچرے په داسے آله ئے قتل کړی چه هغه د قتل د پاره نۀ وی جوړه شوے،لکه وړوکے لرګے يا لخته يا سپيړه يا لبينده وغيره ليکن که قصداً ئے پرے اووهی نو هغه هم عمداً قتل دے،او دَ مالکؒ او ليثؒ په نزد په دے کښ هم قصاص واجبيږی ، او دِ شافعیؒ او ابو حنيفةؒ او زاعیؒ او ثوریؒ او احمدؒ او اسحاقؒ او ابو ثورؒ په نزد په دے کښ قصاص نشته دے۔

څلورم دا چه مسلمان لره څوك قتل کړی په هغه باندِ قصاص دے پنځم دا چه د مجروح بيان اوريدل او د هغه نه تپوس کول د دے دَ پاره د چه د قتل پته معلومه شِی او د هغه ګرفتاری اوکړے شی بيا که چرے هغه(قاتل)اقرار اوکړو نو قتل ثابت شو او کچرے اِنکار ئے اوکړو نو ده لره قسم ورکول پکار دی،پس کچرے قسم اوخوری نو بری به شِی،او يوائے د مجروح په وينا سره په ده باندِ خون نۀ ثابتيږی دغه د اکثرو علماؤ قول دے۔

او دَ امامِ مالك رحمة الله عليه په نزد ثابت کيدے شی،د دے حديث دليل دے او دا دليل صحيح نۀ دے ولے چه په دغه حديث کښ په دويم روايت کښ دی چه هغه يهودی اقرار کړے وو(انتهی مَا قال النووی)

بَابُ الصَّائِلِ عَلٰی نَفْسِ الْاِنْسَانِ اَوْ عُضْوِهٖ اِذْ دَفَعَهُ الْمَصُوْلُ عَلَيْهِ فَاَتْلَفَ نَفْسَهٗ اَوْ عُضْوَهٗ لَاضَمَانَ عَلَيْهِ .

هر کله چه څوك د بل په روح يا اندام باند حمله اوکړی او هغه ده لره دفع کوی او په دفع کولو کښی د حمله

څوک چې جان یا اندام ته نقصان اُورسی نو په ده به څه تاوان نهٔ وی،(یعنی پخپله خپل حفاظت څول جرم نهٔ دے).

(۴۳۶۶) عَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَاتَلَ يَعْلَى ابْنِ مُنْيَةَ اَوِ ابْنِ اُمَيَّةَ رَجُلًا فَعَضَّ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَانْتَزَعَ يَدَهُ مِنْ فَمِهِ فَنَزَعَ ثَنِيَّتَهُ وَقَالَ ابْنُ الْمُثَنّٰى ثَنِيَّتَيْهِ فَاخْتَصَمَا اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَيَعَضُّ اَحَدُكُمْ كَمَا يَعَضُّ الْفَحْلُ لَادِيَةَ لَهُ. [بخاری ، ترمذی ، نسائي ، ابن ماجه]

ترجمه: د عمران بن حصین رضی الله تعالی عنه نه روایت دے یعلی بن منبه یع یعلی بن امیه د یو سړی سره اوجنګیدو بیا یو د بل په لاس چق اولګوؤ هغه چه خپل لاس راښکودو نو د هغه د خلے نه غاښونه اوغورځیدل،بیا دواړه په جګړه جګړه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمے کښے حاضر شولو ،حضرتؐ اوفرمائیل تۀ داسے چیچل کوے لکه چه اوښ چیچل کوی،تا لره دیت نشته دے.

فائده:د چا چه غاښونه اوغورځیدل هغه یَعْلی وو یا د هغه نوکر بَهر حال هغه دیت اوغوښتو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم دیت ورنهٔ کړو،ولے چه هغه بل سړی خپل لاس راښکودو،او د لاس راښکودلو حق هغه ته د خپل حفاظت د پاره حاصل وو،بیا د خپل حق په حَاصلولو باندِ د بل د نقصان تاوان ورکول نۀ لازمېږی.

(۴۳۶۸) عَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا عَضَّ ذِرَاعَ رَجُلٍ فَجَذَبَهُ فَسَقَطَتْ ثَنِيَّتُهُ فَرُفِعَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَبْطَلَهُ فَقَالَ اَرَدْتَّ اَنْ تَاْكُلَ لَحْمَهُ. [راجع : ۴۳۶۶]

ترجمه:د عمران بن حصینؓ نه روایت دے چه یو سړی د بل سړی په لاس چق اولګوؤ،هغه خپل لاس راښکودو نو د(چق لګونکی)غاښ اوختل،بیا دا مقدمه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته لاړه،هغویؐ دغه (مقدمه)بَاطِله کړه،او اوئے فرمائیل تا دا غوښتله چه د ده غوښه اوخورے.

(۴۳۶۹) عَنْ صَفْوَانَ ابْنِ يَعْلٰى اَنَّ اَجِيْرًا لِّيَعْلَى ابْنِ مُنْيَةَ عَضَّ رَجُلٌ ذِرَاعَهُ فَجَذَبَهَا فَسَقَطَتْ ثَنِيَّتُهُ فَرُفِعَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَبْطَلَهَا وَقَالَ اَرَدْتَّ اَنْ تَقْضَمَهَا كَمَا يَقْضَمُ الْفَحْلُ. [راجع : ۴۳۶۷]

ترجمه:د صفوان بن یعلیٰؓ نه روایت دے چه د یعلی بن منیه یو نوکر(جګړه اوکړه د یو سړی سره)هغه بل د ده لا په غاښونو او چیچلو هغه خپل لاس راښکودو نو د هغه غاښونه

اوغور ځیدل بیا دا مقدمه رسول الله علیه وسلم ته راغله حضرت دے لره لغه کړه او اوئے فرمائیل تا دا غوښتله چه د ده لاس اوژویلے شے لکه څنګه چه اوښ ژونیل کوی.

(۴۳۷۰) عن عمران ابن حصين رضي الله تعالى عنه ان رجلا عض يد رجل فانتزع يده فسقطت ثنيته او ثناياه فاستعدى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما تأمرني تأمرني ان امره ان يدع يده في فيك تقضمها كما يقضم الفحل ادفع يدك حتى يعضها ثم انتزعها. [نسائی]

ترجمه: د عمران بن حصین رضی الله تعالی عنښ نه روایت دے چه یو سړی د بل په لاس چق الګوؤ هغه خپل لاس راښکودو نو د هغه غاښونه اوختل، د چا چه غاښ وتلی وو هغه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته فریاد اوکړو، حضرتؐ اوفرمائیل تهٔ څه غواړے بولے تهٔ دا غواړے چه زهٔ دِ د هغه ته حکم اوکړم چه هغه خپل لاس ستا په خله کښے درکړی چه ته ئے اوژوئے، لکه څنګه چه اوښ ژوئل کوی، بنه ده تهٔ هم خپل لاس د هغه په خله کښے ورکړه او بیا ئے راکاږه (یعنی که ستا زړهٔ غواړی نو په دے شان قصاص کیدے شی چه تهٔ خپل لاس د هغه په خله کښے ورکړه او بیا ئے راکاږه یا خو به د هغه غاښونه هم مات شی یا به ستا لاس زخمی شی).

(۴۳۷۲) عن يعلى ابن امية عن ابيه رضي الله تعالى عنه قال غزوت مع النبي صلى الله عليه وسلم غزوة تبوك قال و كان يعلى يقول تلك الغزوة اوثق عملي عندي فقال عطآء قال صفوان قال يعلى كان لي اجير فقاتل انسانا فعض احدهما يد الاخر قال لقد اخبرني صفوان ايهما عض الاخر فانتزع المعضوض يده من في العاض فانتزع احدى ثنيتيه فاتيا النبي صلى الله عليه وسلم فاهدر ثنيته. [راجع: ۴۳۶۷]

ترجمه: د یعلی بن امیهٔ نه روایت دے وائی چه ما جهاد اوکړو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په جنګ تبوك کښ او هغه دَ هر څه نه زیات دَ بهرو سے عمل دے ځما، نو زما یو نوکر وو هغه د یو سړی سره اوجنګیدو، او دَ دواړو نه یو د بل لاس په غاښونو سره اوچیچلو، عطاء وائی ما ته صفوان بن یعلیٰ بیان کړے وو چه د چا د چا لاس چیچلو هغه خپل لا راښکودو دَ چیچلو والا د خلے نه د هغه یو غاښ اوغورځیدو او دواړه رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو، حضرت د هغه غاښ لره لغه کړو (یعنی د هغے دیت ئے ورله وانهٔ خستو).

بَابُ اِثْبَاتِ الْقِصَاصِ فِی الْاَسْنَانِ وَمَا فِیْ مَعْنٰهَا .

په غاښونو کښې د قصاص بیان .

(۴۳۷۴) عن انس رَضِیَ اللّٰہُ تعالٰی عنہُ انّ اُخت الرُّبیِّع امّ حارِثۃ خرجتْ اِنْسَانًا فَاخْتَصَمُوْا اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وسلّم اَلْقِصَاص الْقِصَاص ، فقالتْ اُمُّ الرَّبِیْعِ یا رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اَیُقْتَصُّ مِنْ فلانَۃَ واللّٰہِ لا یُقْتَصُّ منھَا فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ سُبْحٰنَ اللّٰہِ یَا اُمَّ الرَّبِیْعِ اَلْقِصَاصُ کِتَابُ اللّٰہِ قَالَتْ لَا وَاللّٰہِ لا یُقْتَصُّ مِنْھَا اَبَدًا قَالَ فَمَا زَالَتْ حَتّٰی قَبِلُوْا الدِّیَۃَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِنْ عِبَادِ اللّٰہِ مَنْ لَوْ اَقْسَمَ عَلَی اللّٰہِ لَاَبَرَّہٗ. [نسائی]

ترجمه: د حضرت انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ام حارثه رضی الله تعالی عنها د ربیعؓ خور (چه د حضرت انس رضی الله تعالی عنه ترور وه) یو انسان زخمی کړو (یعنی د هغه غاښ ئے مات کړو) بیا هغویٔ جګړه یوړه نبی صلی الله علیه وسلم ته، حضرتؐ اوفرمائیل قصاص به اخستلے شی قصاص به اخستلے شی، ام ربیعؓ اووے یا رسول الله صلی الله علیه وسلم! ولے د فلانئی نه به قصاص اخستلے شی؟ (یعنی دا م حارثؓ نه) قسم په خدائے دوے نه به قصاص نۀ شی اخستلے، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل سبحن الله! اے د ربیع مورؓ د الله کتاب حکم کوی د قصاص بیا ام ربیع اووے نۀ قسم په خدائے د دے نه به چرته هم قصاص نۀ شی اخستلے، بیا ام ربیعؓ هم دغه وینا کوئے تر دے پورے چه د چا غاښ ماے شوے وو د هغه خاندان والا په دیت اخستو بانډِ راضی شول، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل څنے دَ الله تعالی بندیګان داسے دی کچرے د هغه په بهروسَه بانډِ قسم اوخوری نو الله تعالی هغه رښتونے کوی.

فائده : په بخاری کښې دی چه زخمی کولو والا پخپله ربیعؓ وو، او د قسم انس بن النضرؓ خوړلے وو، او ام ربیعؓ چه کوم قسم اوخوړو په هغے سره جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د حکم رد کیدل منظور نۀ وو، بلکه مقصود دا وو چه حضرتؐ سفارش اوکړی د مجروح خاندان ته او هغویٔ په دیت بانډِ راضی کړی او قسم ئے اوخوړو دَ الله تعالی په بهروسَه بانډِ، او الله تعالی هغه لره رښتونے کړو.

او د دے حدیث نه دا خبره معلومه شوه چه په ښځه او سړی کښے به قصاص اخستلے شی،په نفس او ما دون انفس دواړو کښں او د جمهورو دغه قسل دے،او د ابو حنیفهؒ په نزد به په نفس کښے قصاص وی او په مادون النفس کښں به نهٔ وی او ځنو په نزد به مطلق قصاص نهٔ وی(نوویؒ مختصراً)

بَابُ مَا يُبَاحُ بِهٖ دَمُ الْمُسْلِمِ .

د مسلمانانو قتل کله درست دے .

(۴۳۷۵) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا یَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ یَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَّا بِاِحْدٰی ثَلَاثٍ وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالتَّارِکُ لِدِیْنِهٖ لِلْجَمَاعَةِ.

[بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:د عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی مسلمان چه دا گواهی ورکوی چه د الله تعالی نه سوا بل ربښتونے معبود نشته دے او زهٔ د هغه پیغمبر یم(یعنی ځما دَ رسالت اقرار اوکړی)نو د هغه وژل درست نهٔ دی مگر دَ دریو نه په یوه خبره باندِ(۱)په نکاح ئے شوے وی او زنا اوکړی(۲)یا دَ روح په بدله روح(یعنی د چا ویره اوکړی)(۳)یا چه د خپل دین نه اوگرځی او دَ مسلمانانو د جماعت نه جدا شی.

فائده :نوویؒ وئیلے دی د دے حدیث نه حنفیانو استدلال کړے دے چه مسلمان به دَ ذمی کافر په بدله وژلے شی،او آزاد به دَ غلام په بدله ،مگر جمهور علماء د دے خلاف دی لکه مالکؒ او شافعیؒ او احمدؒ او لیثؒ،او دا چه کوم حضرتؐ اوفرمائیل چه دَ خپل دین نه اوگرځی نو(دا حکم)شامل دے هر یو مرتد لره بیا به هغه قتلولے شی کچرے توبهٔ نهٔ کړی،او(دا حکم)شامل دے هغه چا لره چه بدعت یا بغاوت اختیار کړی او د مسلمانانو د جماعت نه اوځی،لکه خوارج وغیره وَ اللّٰهُ اَعْلَمُ.

(۴۳۷۷) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ قَامَ فِیْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ وَالَّذِیْ لَآ اِلٰهَ غَیْرُهٗ لَا یَحِلُّ دَمُ رَجُلٍ مُسْلِمٍ یَشْهَدُ وَ اَنِّیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَّا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ التَّارِکُ الْاِسْلَامَ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ اَوِ

الْجماعة شکٌ فِيهِ احمدُ وا الثَّيِّبُ الزَّانِيْ والنَّفْسُ بِالنَّفْسِ. [راجع : ۴۳۷۵]

ترجمه:د عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته د خطبے اورَولو د پاره اودریدو،نو اوئے فرمائیل قسم دے چه هغه ذات چه د هغـه نه سِوا بـل مـعبود نشته دے،چه د مسلمان وینه بهیول درست نهٔ دی چه هغه گواهی ورکوی د دے امر چـه سِوا دَ الله نـه بل معبود نشته دے او زهٔ د هغه رالیږلے شوے یم،مگر درے کسانو لره(وژل درست دی)یو خو هغه چی دین اسلام پریږدی او د مسلمانانو د جماعت نه جدا شی،دویم دا چه نکاح ئے شوے وی او زنا اوکړی ، دریم د روح په بدله روح۔

بَابُ بَيَانِ إِثْمِ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ .

چا چه مخکښ د قتل بنیاد کیښودو د هغه د گناه بیان .

... عن عبدالله قال قال رسولُ الله صلّے الله عليهِ وسلّم لا تُقتلُ نفسٌ ظُلْمًا اِلَّا كان علٰے ابْنِ آدمَ الاوّلِ كِفْلٌ مِّنْ دَمِهَا لِاَنَّهُ كَانَ اَوَّلَ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ. [بخاری ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه :د عبدالله بـن مسـعود رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیـه وسلـم فـرمـائیـلی دی هر کلـه چـه یـو قتـل پـه ظلم سره کیـږی نو دَ آدم پـه رومبی ځوی(قـابیـل)بـاند یو حصه د هغه د خون پرے وُځی(یعنی د گناه)ولے چه هغه رومبئی د قتل کولو لار ویستلے ده۔

فائده :قـابیـل خپـل رور پـه ناحقه وژلے وو،نوویٔ وائی دا حدیث یو قاعده ده د اسلام د قـواعدو نه،یعنی څوك چه څه بده خبره را اوباسی هغه ته به د هغے په وجه د قیامته پورے گناه کیږی او څوك چه د هغے پیروی کوی د هغه د گناه یو حصه به په ایجاد کونکی باندِ پرے وځی د غـه شان څـوك چـه د نـیکـئی بنیاد کیږی نو هغه ته به د قیامته پورے ثواب میلاویږی ، او څوك چه د هغے پیروی کوی نو د دغه نیکئی بنیاد ایخودونکی ته به هم ثواب میلاویږی او دا نمضمون په بل صحیح حدیث کښے موجود دے۔(انتهٰی)

☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆☆

۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷۷

بَابُ الْمُجَازَاةِ بِالدِّمَاءِ فِي الْاٰخِرَةِ وَ اَنَّهَا مَا يُقْضٰى فِيْهِ بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ.

د قيامت په ورځ به د هر څه نه مخکښې د وينې فيصله وی.

(۴۳۸۱) عَنْ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَوَّلُ مَا يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ فِي الدِّمَآءِ. [بخری، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د عبدالله بن مسعود رضى الله تعالى عنه نه روايت دے وائى چه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائيلى دى، د قيامت په ورځ به د هرڅه نه مخکښې دَ خلقو په مينځ کښے دَ وينے فيصله کولے شى۔

فائده: ولے چه د وينے مقدمه زياته سنگينه ده، او دا خلاف نۀ دے د دے حديث چه د هر څه مه مخکښې به د مانځه حساب وى ولے چه د مونځ به په حقوق الله کښې د هر څه نه مخکښې حساب وى او د وينے تويولو په حقوق العباد کښې۔

بَابُ تَغْلِيْظِ تَحْرِيْمِ الدِّمَاءِ وَالْاَعْرَاضِ وَالْاَمْوَالِ.

دخون او عزت او دمال حق څومره سخت دے۔

(۴۳۸۳) عَنْ اَبِىْ بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ اِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللهُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا مِنْهَا اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ثَلَاثَةٌ مُتَوَالِيَاتٌ ذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ وَرَجَبُ شَهْرُ مُضَرَ الَّذِيْ بَيْنَ جُمَادٰى وَشَعْبَانَ ثُمَّ قَالَ اَيُّ شَهْرٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ قَالَ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا اَنَّهُ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ اَلَيْسَ ذَا الْحِجَّةِ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَاَيُّ بَلَدٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ قَالَ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا اَنَّهُ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ اَلَيْسَ الْبَلْدَةَ قُلْنَا بَلٰى قَالَ فَاَيُّ يَوْمٍ هٰذَا قُلْنَا اللهُ وَرَسُوْلُهُ اَعْلَمُ قَالَ فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا اَنَّهُ سَيُسَمِّيْهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ قَالَ اَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ قُلْنَا بَلٰى يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ فَاِنَّ دِمَاءَكُمْ وَاَمْوَالَكُمْ قَالَ مُحَمَّدٌ وَاَحْسِبُهُ قَالَ وَاَعْرَاضَكُمْ حَرَامٌ عَلَيْكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هٰذَا فِيْ بَلَدِكُمْ هٰذَا فِيْ شَهْرِكُمْ هٰذَا وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْئَلُكُمْ عَنْ اَعْمَالِكُمْ فَلَا تَرْجِعُنَّ بَعْدِيْ ضُلَّالًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ لَا لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يُبَلِّغُهُ يَكُوْنُ اَوْعٰى لَهُ مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ ثُمَّ قَالَ

اَلا هَلْ بَلَّغْتُ قَالَ ابْنُ حَبِيبٍ فِي رِوَايَتِهِ وَرَجَبُ مُضَرَ وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ فَلا تَرْجِعُوا بَعْدِيْ. [بخاری]

ترجمه: د حضرت ابوبکره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے زمانه او چورلیده او په خپل اصلی حالت بانډ داسے شوه لکه څنګه چه هغه ورځ وه، هر کله چه الله تعالی زمکه او آسمان جوړ کړی وو، کال ددولسو میاشتو دے په دے کښ څلور میاشتے حرامے دی (یعنی په هغے کښ جنګ وغیره درست نۀ دے) درے میاشتے خو پرله پسے لګیدلی دی ذیقعده (خالی) او ذی الحجه (لوئے اختر او محرم او څلورمه رجب دمضر میاشت چه دجمادی الاخر او شعبان په مینځ کښ ده، ورستو ددے نه ئے او فرمائیل دا کومه میاشت ده؟) مونږ اووے الله تعالی او دهغه رسول ښۀ پوهیږی، بیا حضرت چپ پاتے شو تردے پورے چه مونږ داګنړله چه حضرت ددے میاشتے څه بل نوم ږدی، حضرت او فرمائیل ولے دا ښهر نۀ دے (یعنی دمکے ښهر) مونږ عرض اوکړو هاں، حضرتؐ او فرمائیل دا کومه ورځ ده؟ مونږ عرض اوکړو الله او دهغه رسول ښه پوه دی، حضرتؐ چپ پاتے شو تردے پورے چه مونږ داګنړله چه حضرتؐ ددے ورځ بل څه نوم ږدی حضرت او فرمائیل دا دقربانئ ورځ نه ده؟ مونږ عرض اوکړو یا رسول الله! بیشکه دقربانئ ورځ ده، حضرتؐ او فرمائیل پس ستاسو وینے او ستاسو مالونه او ستاسو عزتونه حرام دی په تاسو بانډ لکه څنګه چه دا ورځ حرامه ده په دے ښهر کښ په دے میاشت کښ (چه ددے په حرمت کښ څه شك نشته دغه شان دمسلمان وینه دولت او عزت هم حرام دے دهغے اخستل بے وشرعی وجے نه درست نۀ دی) او نزدے ده چه تاسو به میلاویږی دخپل پروردګار سره هغه به تپوس تاسو مه کیږئ ورستو څمانه ګمراهان چه دیو بل څټونه وهل شروع کړئ (یعنی په خپلو کښ جنګیږی او یو بل وژنئ دادحضرت آخری نصیحت او ډیر لوئے) اعلے نصیحت وو، افسوس دے چه مسلمانانو دلړو ورځو پورے په هغے عمل اوکړو آخر په آفت کښ ګرفتار شول او عقبی ئے ځان له تباره کړه او حضوك چه حاضر دی هغه ډ دا حکم غائبو ته اورسوی، ولے چه ځنے هغه کس چه چاته ئے رسوی زیات یادساتلو والاد ډوی ددے وخت داوریدلو والا نه، بیائے او فرمائیل اوګوری ما دالله حکم رااورسوؤ.

فائده: دهغه څلورو میاشتو حرمت دمودونه راروان دے خودمکے دکافرانو ستوروو

چه هر کله به هغوئ ته جنګیدل یالوټ کول منظور وو، نو دغه میاشتو لره به ئې بدلې کړې لکه په محرم کښې به ئې جنګ اوکړو نو صفرې ته به ئې محرم اووې، دغه شان هغه کم بختو میاشتو لره ګول مال کړې دې، یو میاشت به صحیح نۀ شوه معلومیدې۔

په کوم کال چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په آخرئ عمر کښې حجة الوداع اوکړه نو دذی الحجه میاشت ددواړو په حساب سره هم برابر راغله په اصل حساب سره هم او دکافرو په حساب سره هم، پس حضرت صلی الله علیه وسلم دحج په موقعه دعرفې په ورځ دزرګونو خلقو په مخکښې داحدیث او فرمائیلو یعنی اوس زمانې ګردش او حوړو په اصل حساب باندې ټهیك شوې ده اوس به څوك دې حساب لره نۀ ورانوی، او دا چه ئې کوم او فرمائیل دمضررجب، نو مضر یو قوم دې په عربو کښې دهغوئ رجب هم وه کومه چه دجمادی الاخر او شعبان په مینځ کښې دی دهغوئ مقابل بل قوم وو ربیعه هغوئ به درمضان میاشتې ته رجب وئیلو نو حضرت او فرمائیل په رجب هم دغه صحیح ده کومې ته چه قتیلۀ مضررجب وائی . او څنو وائیلی دی چه مضربه په نسبت دنورو قومونو درجب دمیاشتې ډیر تعظیم کولو ځکه رجب دهغوئ په طرف منسوب شوله۔ والله اعلم ۔

(۴۳۸۴) عَنْ اَبِیْ بَكْرَةَ عَنْ اَبِیْهِ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ لَمَّا کَانَ ذٰلِکَ الْیَوْمُ قَعَدَ عَلٰی بَعِیْرِهٖ فَاَخَذَ اِنْسَانٌ بخطامه فقال اتدرُوْن اَیَّ یَوْمٍ هٰذا قالُوْا اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ حَتّٰی ظَنَنَّا اَنَّهٗ سَیُسَمِّیْهِ سِوَی اسْمِهٖ فَقَالَ اَلَیْسَ یَوْمُ النَّحْرِ قُلْنا بلی یارَسُوْلَ الله قَالَ فَاَیُّ شَهْرٍ هٰذا قُلْنَا اللهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ قَالَ اَلَیْسَ بِذِی الْحَجَّةِ قُلْنَا بَلٰی یَارَسُوْلَ الله قال فایُّ بلد هٰذا قُلْنا اللهُ ورَسُوْلُهٗ اعْلَمُ قال حَتّٰی ظَنَنَّا اَنَّهٗ سَیُسَمِّیْهِ سِوَی اَسْمِه قَالَ اَلَیْسَ بِالْبَلْدَة قُلْنَا بَلٰی یارسُوْل الله قال فان دمآءَ کُمْ واموالکُمْ واعراضکُمْ علیْکُمْ حرامٌ کحُرْمَةِ یوْمِکُمْ هٰذا فِیْ شَهْرِکُمْ هٰذا فِیْ بلدکُمْ هٰذا فلْیُبَلِّغِ الشَّاهدُ الْغائبَ قال ثُمَّ انْکفأَ الی کَبْشَیْنِ امْلحیْنِ فذبَحَهُمَا وَاِلٰی جُزَیْعَةٍ مِّنَ الْغَنَمِ فَقَسَمَهَا بیْننا . [ترمذی ، نسائی]

ترجمه: دابی بکره رضی الله تعالی نه روایت دې هر کله چه یوم النحر او شولو نو حضرت هم په اوښه کښیناستو او یو سړی دهغې واګې او نیوې حضرتؐ ورته او فرمائیل ته پیژنې چه داکومه ورځ ده . هغوئ اووې الله او دهغه رسول ښه پیژنی تردې پورې چه مونږ پوهه شو چه حضرتؐ

ددے ورځ څه بل نوم اخلی بیا حضرتؐ او فرمائیل ولے دایوم النحر نۀ دے مونږه اووے بیشکه دا یوم النحر دے یا رسول اللهؐ ! حضرتؐ او فرمائیل دا کومه میاشت ده مونږ اووے الله او دهغه رسول ئے ښه پیژنی حضرتؐ او فرمائیل ولے دا ذی الحجه نۀ ده؟ مونږه اووے بیشکه دا ذی الحجه ده یا رسول الله ! حضرت او فرمائیل دا کوم ښهر دے مونږه اووے الله او دهغه رسول ئے ښه پیژنی ، تردے پورے چه مونږ پوهه شو چه حضرت ددے بل څه نوم اخلی حضرتؐ او فرمائیل ولے دا ښهر نۀ دے (یعنی مکه دعربو خلقو به هم دغے ته ښهر دمکے وئیلو) مونږه عرض اوکړو بیشکه ښهر دے یا رسول الله! حضرت او فرمائیل بیشکه ستاسو وینے او ستاسو مال او ستاسو عزتونه حرام دی لکه چه دا ورځ په دے میاشت کښې او په دے ښهر کښے حرامه ده۔

څوك چه حاضر دی هغه دغائبو ته دا خبره اورسوی بیا حضرتؐ متوجه شو ددوه ګډانو په طرف چه چت کبرئ وو ، او ذبح ئے کړل هغوئ لره ، او دبزو دیوے رمے په طرف او هغه ئے په مونږه خلقو اوویشلے۔

(۴۳۸۶) عَنْ اَبِیْ بَکْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ خَطَبَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ یَوْمَ النَّحْرِ فَقَالَ اَیُّ یوم هذا وساقوا الْحدیث مِثْلَ حَدِیْثِ ابْنِ عَوْنٍ غَیْرَ اَنَّهٗ لَا یَذْکُرُ اَعْرَاضَکُمْ وَلَا یَذْکُرُ ثُمَّ انْکَفَأَ اِلٰی کَبْشَیْنِ وما بعده وقال فِی الْحدیث کَحُرْمَةِ یَوْمِکُمْ هٰذا فِیْ شَهْرِکُمْ هٰذا فِیْ بَلَدِکُمْ هٰذا اِلٰی یَوْمِ تَلْقَوْنَ رَبَّکُمْ اَلَا هَلْ بَلَّغْتُ قَالُوْا نَعَمْ قَالَ اللّٰهُمَّ اشْهَدْ . [راجع : ۴۳۸۳]

ترجمه: دحضرت ابوبکره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه اولوسته دیوم النحر نو اوئے فرمائیل دا کومه ورځ ده؟ او بیان ئے کړو دغه حدیث لره لکه چه پورته تیر شولو، مګر په دے کښې دعزتونو ذکر نشته دے نه ددوه ګډانو دحلالولو، او ددے نه دورستو مضمون په دے روایت دادے لکه څنګه چه ستاسو ددے ورځے حرمت په دے میاشت په دے ښهر کښے ددے ورځے پورے هر کله چه میلاؤ شی دخپل پروردګار سره خبردار ما دراورسوو صحابه کرامو اووے هاں تا را اورسوو (دالله تعالی حکم لره) حضرتؐ او فرمائیل اے الله ج تۀ ګواه شه۔

بَابُ صِحَّةِ الْاِقْرَارِ بِالْقَتْلِ وَتَمْكِيْنِ وَلِيِّ الْقَتْلِ مِنَ الْقِصَاصِ وَاسْتِحْبَابِ رِطَلَبِ الْعَفْوِ مِنْهُ.

دقتل اقرار صحیح دے او قاتل به دمقتول ولی ته حواله کوی او دهغه نه دمعافئ درخواست کول مُستحب دی.

(۴۳۸۷) عَنْ عَلْقَمَةَ ابْنِ وَائِلٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ حَدَّثَهُ قَالَ اِنِّيْ لَقَاعِدٌ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا جَاءَ رَجُلٌ يَقُوْدُ اٰخَرَ بِنِسْعَةٍ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ هٰذَا قَتَلَ اَخِيْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَقَتَلْتَهُ؟ فَقَالَ اِنَّهُ لَوْلَمْ يَعْتَرِفْ اَقَمْتُ عَلَيْهِ الْبَيِّنَةَ قَالَ نَعَمْ قَتَلْتُهُ قَالَ كَيْفَ قَتَلْتَهُ؟ قَالَ كُنْتُ اَنَا وَهُوَ نَخْتَبِطُ مِنْ شَجَرَةٍ فَسَبَّنِيْ فَاَغْضَبَنِيْ فَضَرَبْتُهُ فَالْفَاسِ عَلٰى قَرْنِهِ فَقَتَلْتُهُ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ لَكَ مِنْ شَيْءٍ تُؤَدِّيْهِ عَنْ نَفْسِكَ ؟ قَالَ مَالِيْ مَالٌ اِلَّا كِسَائِيْ وَفَاسِيْ قَالَ فَتَرٰى قَوْمَكَ يَشْتَرُوْنَكَ ؟ قَالَ اَنَا اَهْوَنُ عَلٰى قَوْمِيْ مِنْ ذَاكَ فَرَمٰى اِلَيْهِ بِنِسْعَتِهِ وَقَالَ دُوْنَكَ صَاحِبَكَ فَانْطَلَقَ بِهِ الرَّجُلُ فَلَمَّا وَلّٰى قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنْ قَتَلَهُ فَهُوَ مِثْلُهُ وَاَخَذْتُهُ بِاَمْرِكَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَا تُرِيْدُ يَبُوْءَ بِاِثْمِكَ وَاِثْمِ صَاحِبِكَ قَالَ يَانَبِيَّ اللّٰهِ لَعَلَّهُ قَالَ بَلٰى قَالَ فَاِنَّ ذَاكَ كَذَاكَ قَالَ فَرَمٰى بِنِسْعَتِهِ وَخَلّٰى سَبِيْلَهُ .[ابوداود]

ترجمه: دعلقمه بن وائل نه روایت دے دهغوئ پلار وائی چه زهٔ دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په خواه کښې ناست وُم، په دے کښې یو سړے راغے چه بل ئے راښکو دو په تسمه سره اواوئے وئیل چه ده څمارورلره وژلے دے، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمائیل ایے تا دده رورقتل کړے دے، هغه (بل) اووے کچرے دے اقرار نۀ کوی نو زهٔ به په دے باندِ گواه راولم، بیا هغه سړی ووے بیشکه ما قتل کړے دے حضرتؐ او فرمائیل تاولے قتلوؤ؟ هغه اووے ما اوهغه دواړو دونو پانړے جاروکولے په دے کښں ده ماته کنځل او کړو، زه غصه شوم او په تبر سره م دهغه سر اووهو، او هغه مړ شو، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل ستاسره څه مال شته چه دخپل ځان په بدله کښے ئے ورکړے؟ هغه اووے زما سره هیڅ نشته سوا ددے دوړوکے شړی او تبرګی نه حضرتؐ او فرمائیل ستا دقوم خلق به تا خلاص کړی،؟

هغه اووے زما دورمه قدر نشته دے د هغوئ سره بيائے هغه تسمه دمقتول دوارث په طرف او غورځوله . او هغه واخسته لاړو . هر کله چه د هغه شاشوه نو حضرتؐ او فرمائيل کچرے هغه ده لره قتل کړی نو دده برابر به پاتے شي (يعنی نه به ده ته څه درجه ميلاؤ شي او نۀ به هغه ته څه مرتبه حاصله شي ولے چه ده خپل حق هم دغه په دنيا کښے وصول کړو) ددے په اوريدو سره هغه واپس شو او اوئے وئيل يا رسول اللهؐ زۀ خبر شوم چه تاسو اوفرمائيل چه کچرے زۀ ده لره قتل نو د ده برابر به شم او ما خو ده لره ستاسو په حکم سره نيولے دے، حضرتؐ اوفرمائيل تۀ دا نۀ غواړے چه هغه ستا او ستا درور ګناه په جمع سره واخلي، هغه اووے داسے ږ اوشي، حضرتؐ اوفرمائيل ها ں، هغه اووے چه داسے ده نو خير دے،او د هغه تسمه ئے اوغورځوله او هغه ئے پريخودو۔

فائده:نوويؒ وئيلے دی د دے حديث نه دومره خبرے وتلی دی، چه مجرمانو لره تړل او هغوئ لره حاضِره ول د حاکم مخے ته د مدعی مدعا عليه نه مخکښے جوابِ دعوئ اخستل، کچرے هغه اقرار اوکړی نو د ګواهانو ضرورت به نۀ وی، د حاکم درخواست کول د مقتول وارث ته د معافئ د پاره، د معافئ درست کيدل د مقدمے د واپس کيدو نه پس هم د ديت جائز کيدل، په قصدا قتل کښ دَ اقرار صحيح کيدل په قتل کښ،انتهی،قاتل لره د قصاص د پاره دَ مقتول وارث ته حواله کول۔

(۴۳۸۸) عن علقمة ابنِ وائلٍ عن ابيه رضي الله تعالى عنه قال اُوتِيَ رسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم برجلٍ قتل رجلا فاقاد وليُّ المقتولِ منه فانطلق به و في عنقه نسعةٌ يجرُّها فلما ادبر قال رسول الله صلى الله عليه وسلم القاتلُ والمقتولُ في النار قال فاتى رجلٌ ن الرجل فقال له مقالة رسولِ الله صلى الله عليه وسلم فخلى عنه قال اسمعيل ابن سالمٍ فذكرتُ ذلك لحبيب ابنِ ابى ثابتٍ فقال حدثنى ابن اشوع رضي الله تعالى عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم انما سئله ان يعفوا عنه فابى. [راجع : ۴۳۸۷]

ترجمه :د علقمه بن وائلؓ نه روايت دے هغه د خپل پلارؓ نه اوريدلی دی چه د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم خواته يو سرے راوستے شو چه هغه وژلے وو يو سړی لره، حضرتؐ اجازت ورکړو د مقتول وارث ته دَ هغه نه د قصاص اخستلو او د هغه په غاړه کښ يوه تسمه وه، چه په

هغې سره ئې هغه رابنکودو، هر کله چه د هغه شا شوه روان شو نو حضرتؐ اوفرمائل قاتل او مقتول دواړه جهنمي دي.یو سړے لاړو د هغه سره میلاؤ شو او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چه څه فرمائیلي وو هغه ئے ورته بیان کړو، هغه قاتل لره پریښودو،اسمعیل بن سالمؒ وائی چه ما دا حبیب بن ثابتؒ ته بیان کړو هغوئ اووے ما ته ابن اشوع ونیلے دی چه جناب رسول خدا صلی الله علیه وسلم ته فرمائیلی وو د معاف کولو د پاره لیکن هغه د دے نه انکار کړے وو۔

فائده: مراد د قاتل مقتول نهٔ دی بلکه هغه مسلمانان دی چه هغه په خپلو کښ هتیار راواخلي او د یو بل د وژلو د پاره پورته ږي،او په دے موقعه بانډ د دے جملے د فرمائیلو نه دا غرض وو چه د مقتول وارث هم خپل ځان په دے کښے داخل اوګنړي،او په معاف کولو بانډ راضي شي،لکه څنګه چه ئے په رومبي حدیث کښ اوفرمائیل چه کچرے قتل لوکړی نو هغه به د ده په مثل شي،چ د دے یوه معنی دا هم کیدے شي چه هغه به هم د ده پشان جهنم ته ځي،حالانکه دا مقصود نهٔ دے لوے چه هغه خو د حضرتؐ په حکم سره د خپل حق د پاره وژلو،په عربئ کښ داسے کلاف ته تعریض وئیلے شي او دا جائز دے چه څه مصلحت سره په دے شرط چه ربنتونے وی،ولے چه په انبیاؤ بانډ کذب محال دے بلکه علماؤ وئیلے دی،چه د مصلحت په لحاج سره تعریض مستحب دے۔

مثلاً خون کولو والا وی او د دے مسئلے تپوس اوکړی چه دَ خون کونکی توبه درسته ده،او هغه د دے په جواب کښے داسے اووائی چه دَ ابن عباسؓ نه په صحت سره منقول دی چه د قاتل توبه درسته نهٔ ده ، اګر که د مفتی په نزد دَ ابن عباس رضی الله تعالی عنه دغه قول صحیح نهٔ وی(مختصرا نووی)

بَابُ دِيَةِ الْجَنِيْنِ وَ وُجُوْبِ الدِّيَةِ فِيْ قَتْلِ الْخَطَأِ وَ شِبْهِ الْعَمْدِ عَلٰى عَاقِلَةِ الْجَانِيْ .

د ګیډے د بچی دیت او د قتل خطاء او د شبه عمد د دیت بیان .

(۴۳۷۹) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ امْرَاَتَیْنِ مِنْ هُذَیْلٍ رَمَتْ اِحْدَاهُمَا الْاُخْرٰی فَطَرَحَتْ جَنِیْنَهَا فَقَضٰی فِیْهِ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِغُرَّةٍ عَبْدٍ اَوْ اَمَةٍ. [بخاری، نسائی]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه د هذیل دَ دَوه ښځو د جنګ وو او یوے هغه بله او ویشتله پس د هغے بچے اولویدو پس جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو دَ یوَ غلام یا وینځی دَ ورکولو۔

فائده: خواه که ځوئے وی یا لور،نووی علیه الرحمة وئیلے دی دا حکم په هغه صورت کښې دے هر کله چه بچرے مړ پیدا شی او که چرے ژوندے را اوځی او بیا مړ شی نو په دے سره پوره دیت واجبیږی یعنی سل اوښان د سړی د پاره او پنځوس د ښځے د پاره،او دا دیت به په عاقله باندِ وی،نهٔ د مجرم په ذات باندِ،دغه قول دَ شافعیؒ او ابو حنیفهؒ او اهلِ کوفه ، او دَ مٰلکؒ او اهلِ بصرةؒ و په نزد به د مجرم په ذات باندِ وی،او د شافعیؒ په زند په جرم باند، کفاره هم وی،لودَ مالکؒ او ابو حنفه رحمة الله علیه په نزد کفاره نهٔ وی(انتهی نوویؒ)

(۴۳۹۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ قَضٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فِیْ جَنِیْنِ امْرَاَةٍ مَیِّتًا بِغُرَّةٍ عَبْدٍ اَوْ اَمَةٍ ثُمَّ اِنَّ الْمَرْاَةَ الَّتِیْ قُضِیَ عَلَیْهَا بِالْغُرَّةِ تُوُفِّیَتْ فَقَضٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِاَنَّ مِیْرَاثَهَا لِبَنِیْهَا وَ زَوْجِهَا وَ اَنَّ الْعَقْلَ عَلٰی عَصَبَتِهَا. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د بنی لحیان(د یوے قبیلے نوم)د یوے ښځے د کیډے د بچی(په دیت)کښې د یو غلام یا د یوے وینځے حکم اوکړو پس د کومے ښځے د پاره چه د غلام ورکولو حکم اوو هغه مړه شوله،حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د دے ترکه به د دے ځامنو او خاوند ته میلاویږی،او دیت د وهلو والا په خاندان باندِ دے۔

(۴۳۹۱) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اقْتَتَلَتِ امْرَاَتَانِ مِنْ هُذَیْلٍ فَرَمَتْ اِحْدَاهُمَا الْاُخْرٰی بِحَجَرٍ فَقَتَلَتْهَا وَ مَا فِیْ بَطْنِهَا فَاخْتَصَمُوْا اِلٰی رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَضٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ دِیَةَ جَنِیْنِهَا غُرَّةٌ عَبْدٌ اَوْ وَلِیْدَةٌ وَ قَضٰی بِدِیَةِ الْمَرْاَةِ عَلٰی عَاقِلَتِهَا وَ وَرَّثَهَا وَلَدَهَا وَ مَنْ مَعَهُمْ فَقَالَ حَمَلُ ابْنُ النَّابِغَةِ الْهُذَلِیُّ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ کَیْفَ اَغْرَمُ مَنْ لَا شَرِبَ وَلَا اَکَلَ وَلَا نَطَقَ وَلَا اسْتَهَلَّ فَمِثْلُ ذٰلِکَ یُطَلُّ فَقَالَ

رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هٰذَا مِنْ إِخْوَانِ الْكُهَّانِ مِنْ اَجْلِ سَجْعِهِ الَّذِىْ سَجَعَ. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه :دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه دوه ښځو د هذیل(دا یوه قبیله ده)جنګ اوکړو یوے بلے لره په ګټه او ویشتنه،نو هغه هم مړه شوه او د هغے بچے هم مړ شولو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو چه د دے بچی دیت یو غلام دے یا یوه وینځه،او د ښځے دے دَ ویشتلو والا ښځے وارث به د هغے هلك وی،او کوم وارث چه د هغے سره وی،حملؒ بن نابغه اووے یا رَسول الله مونږه څنګه تاوان ورکړو د هغه چا چه هغه نۀ څه څښلی دی نۀ ئے خوړلی دی نۀ ئے خبرے کړے دی او نۀ ئے ژړلی دی دا خو لاړو راغے(یعنی لغوه دے)پس رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دا د کاهِنانو رور دے،دَ داسے قافیه دار عبارت وئیلو په وجه۔

فائده :یعنی د ګیډے بچے:په دویم روایت کښې دی چه دَ دیرے په لرګی سره ئے اووهو،نووی علیه الرحمة وائی چه مراد ترے وړوکے ګټه او وړوکے لرګے دے چه په هغے سره اکثر سړے نۀ مری دغه شبه عمد دے،په دے کښې په خاندان والاؤ باندِ دیت لازمیږی،او په مجرم باندِ قصاص نۀ وی او نۀ د هغه په ذات باندِ دیت راځی دَ امامِ شافعیؒ او جمهور علماؤ دغه قول دے۔

علماء وائی حضرتؐ د هغه بد اووے په دوه وجوه سره یو خو دا چه هغه د شرعی حکم د باطلولو د پاره داسے تقریر اوکړو،دویم دا چه په تقریر کښے ئے تکلیف اوکړو او بناوټ ئے اوکړو او د دے قسم سجع مذموم ده،نۀ هغه سجع کومه چه په حدیث کښے راغلی ده او خلافِ شرعه نۀ وی۔

(۴۳۹۲) عَنْ اَبِىْ هُرَيْرَةَ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ اقْتَتَلَتِ امْرَأَتَانِ وَسَاقَ الْحَدِيْثَ بِقِصَّتِهٖ وَلَمْ يَذْكُرْ وَوَرَّثَهَا وَلَدَهَا وَ مَنْ مَعَهُمْ وَ قَالَ فَقَالَ قَائِلٌ كَيْفَ نَعْقِلُ وَلَمْ يُسَمِّ حَمَلَ ابْنَ مَالِكٍ. [ابوداود، ترمذی، نسائی]

ترجمه:د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه دا بل روایت هم دغسے دے،مګر په دے کښې دا نشته دے چه د هغے ښځے وارث به د هغے هلك وی،او نۀ پکښې نوم شته د حمل بن مالك بن نابغهؒ،بلکه دا دی چه چا اووے مونږه څنګه دیت ورکړو د داسے کس چه هغه نۀ څښلی دی نۀ ئے

خوړلی دی نۀ ئے خبرے کړی نۀ ئے ژړلی دی، دا خو لاړو راغے۔

(۴۳۹۳) عن المغیرۃ ابن شعبۃ قال ضربت امراۃ ضرتها بعمود فسطاط وهی حبلٰی و فقتلتها قال و احداهما لحیانیۃ فقال فجعل رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم دیۃ المقتولۃ علی عصبۃ العاقلۃ و غرۃ لما فی بطنها فقال رجل من عصبۃ القاتلۃ انغرم دیۃ من لا اکل ولا شرب ولا استهل فمثل ذلک یطل فقال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم اسجع کسجع الاعراب و جع علیهم الدیۃ۔

ترجمه:د مغیره بن شعبهؓ نه روایت دے یوے ښځے خپلے بنے لره د دیرے په لرګی سره اووهله هغه حامله وه مړه شوه، په دوئ کښ یوه د بنی لحیان(قبیلے)ښځه وه، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د مقتولے دیت د قاتلے دَ خاندان نه رااوغوښتو او دَ ګیډے د بچی دیت ئے یوه برده مقرر نه اووے مونږه ولے تاوان ورکړو د هغه چا چه هغه نۀ ښنبلی وی نۀ ئے خوړلی وی او نۀ ژړلی وی دغسے لاړو راغے، حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د بدویانو پشان قافعیه دار عبارت لولی، او واجب ئے کړو په هغوئ باندِ دیت لره۔

(۴۳۹۴) عن المغیرۃ ابن شعبۃ قال ان امراۃ قتلت ضرتها بعمود فسطاط فاتی فیه رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم فقضی علی عاقلتها بالدیۃ و کانت حاملا فقضی فی الجنین بغرۃ فقال بعض عصبتها من لا طعم و لا شرب ولا صاح فاستهل و مثل ذلک یطل قال سجع کسجع الاعراب۔ [راجع : ۴۳۹۳]

ترجمه: د مغیره بن شعبهؓ نه روایت دے وائی چه یوے ښځے خپله بَنُ د خیمے په لرګی سره اووژله بیا دا مقدمه د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راوړے شوه، حضرتؐ اوفرمائیل د قاتلے کور والا به دیت ورکوی ، او د مقتول شوے ښځے ګیډه وه، حضرتؐ د ګیډے دَ بچی دیت یو غلام مقرر کړو د قاتلے د کور والاؤ نه یو سړی اووے مونږه څنګه دیت ورکړو د هغه چا چه هغه نه څه خوړلی دی نۀ ئے ښنبلی او نۀ ئے ژړلی دی او نۀ ئے آزاد کړے، دا خو لاړو حضرتؐ اوفرمائیل د بانډه چه پشان مسجع او مقفی خبرے کوی۔

(۴۳۹۷) عن المسور ابن مخرمة قال استشار عمر ابن الخطاب رضی اللہ تعالی عنه الناس فی ملاص المرأة قال المغیرة ابن شعبة رضی اللہ تعالی عنه شهدت النبی صلی اللہ علیہ وسلم قضی فیه بغرة عبد او امة قال فقال عمر رضی اللہ تعالی عنه ائتنی بمن یشهد معک قال فشهدله محمد ابن مسلمة۔

[ابو داود، ابن ماجه]

ترجمه :د مسور بن مخرمهؓ نه روایت دے وائي چه حضرتؓ عمر رضی الله تعالی عنه مشوره واخسته د خلقو نه د ګیډے د بچی دَ دیت په باره کښې مغیره بن شعبهؓ اووے رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم کړے دے په دے کښې د یوے بر دے(غلام)حضرت عمر رضی الله تعالی عنه مغیرهؓ ته اووے،بل یو سړے راوله چه ستا سره ګواهي ورکړی بیا مُحمّد بن مسلمهؓ د مغیرهؓ د بیان موافق بَیَان اوکړو۔

فائده :هر چند مغیرهؓ رښتونے وو،مګر حضرتِ عُمرؓ احتیاطاً یوه بله ګواهی طلب کړه۔

كِتَابُ الْحُدُوْدِ حَدُالسَّرِقَةِ وَنِصَابِهَا .

د غلا حد او د هغې نصاب بَيَان .

(۴۳۹۸) عَنْ عَـآئِشَةَ قَـالَـتْ كَـانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْـهِ وَسَلَّمَ يَقْطَعُ السَّـارِقَ فِىْ رُبْعِ دِيْنَـارٍ فَصَاعِدًا.[بخاری ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه:د مؤمنانو د مور حضرت عائشے رضی اللّٰہ تعالی عنها نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم به د غل لاس په څلور دیناره یا زیات مال کښے کټ کولو۔

فائده :نووىؒ وئیلے دی د غل لاس به په اجماع سره کټ کولے شی،لکن د غلا په نصاب کښې د عالمانو اختلاف دے،دَ اهل ظاهرو په نزد څه نصاب شرط نۀ دے بلکه د لږ یا ډیر د هر څیز په غلا کښې به لاس کټ کولے شك،او دغه قول دے دَ ابن بنت شافعیؒ او دغه منقول دے د حسن بصریؒ او خوارجونه او د جمهور علماؤ په نزد نصاب شرط دے،اوس اختلاف دے د هغے په مقدار کښې،نو دَ امامِ شافعیؒ په نزد نصاب څلور دیناره دی د سرو زیرو یا د دے هومره مالیت بل څه څیز او د مالكؒ او احمدؒ او سحٰقؒ په نزد څلوره دیناره یا درے درهمه اودَ ابن شبرمهؒ او دَ ابن ابی لیلیٰؒ په نزد پنځه درهمه او دَ امام ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد لس درهمه ،او صحیح د شافعیؒ قول دے ، او باقی قولونه صحیح نۀ دی او دَ صریح حدیث مخالف دی(مختصراً)

(۴۴۰۰) عن عائشة رضی الله تعالی عنها عن رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لا تقطع ید السارق إلا فی ربع دینار فصاعدا. [بخاری، ابوداود، نسائی.]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشې صدیقې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دغل لاس به نۀ شی کټ کولے مګر په څلورو دینارو یا په زیاته غلا کښې.

(۴۴۰۱) عن عائشة رضی الله تعالی عنها سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول لا تقطع الید إلا فی ربع دینار فما فوقه. [نسائی]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشې صدیقې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے، هغوئ د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی چه فرمائیلی وو، دغل لاس به نۀ شی کټ کولے مګر په څلورو دینارو یا زیاته (غلا) کولو سره.

(۴۴۰۴) عن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت لم تقطع ید سارق فی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فی اقل من ثمن المجن حجفة او ترس وکلاهما ذو ثمن. [بخاری.]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها نه روایت دے دغل لاس د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښې نۀ وو کټ شوے دډهال نه په کم قیمت کښې که حجفه وی یا ترس دادواړه قیمت والا دی حجفه په تقدم حائے مهلمه مفتوحه بیا جیم مفتوحه او ترس دواړه ډهال ته وئیلے شی، دغه شان مجن هغې ته وئیلے شی چه په هغې سره پناه اخستے شی.

(۴۴۰۶) عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قطع سارقا فی مجن قیمته ثلثة دراهم. [بخاری، ابوداود، نسائی.]

ترجمه: دعبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دیو غل لاس کټ کړلو دډهال په غلا کښې چه دهغې قیمت درے درهمه وو.

فائده: دا حدیث دلیل دے دامام مالکؒ او احمدؒ او اسحٰقؒ او شافعیؒ ددے تاویل دا کړے دے چه په دغه وخت کښې به درے درهمه دڅلورو دینارو وو.

(۴۳۰۸) عن ابی هریرة رضی الله تعالیٰ عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لعن الله السارق یسرق البیضة فتقطع یده ویسرق الحبل فتقطع یده. [نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل لعنت دوی دالله تعالی په غل باندې چه هغه پټوی اګۍ لره او بیا کټ شی لاس دهغه، او پټوی رسۍ لره بیا کټ کیږی لاس د هغه.

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه په غیر معین باندې لعنت کول درست دی، لکه یو سړے او وائی لعنت دې وی په ظالم باندې یا لعنت دې وی په دروغژن یا په بے ایمانه باندې او دچانوم وانهٔ خلی، او څنو په معین باندې هم لعنت لره درست کړے دے دکومے پورے چه په هغه باندې حدنهٔ وی لګیدلے، او هر کله چه حد پرے اولږی نو درست نهٔ دی ولے چه په حد سره هغه پاکیږی.

بَابُ قَطْعِ السَّارِقِ الشَّرِيفِ وَغَيْرِهِ وَالنَّهْيِ عَنِ الشَّفَاعَةِ فِي الْحُدُوْدِ.

غل اګر که شریف وی دهغه لاس کټ کول او په حدونو کښې سفارش نهٔ کول.

(۴۳۱۰) عن عائشة ان قریشا اهمهم شان المرأة المخزومية التي سرقت فقالوا من يكلم فيها رسول الله صلى الله عليه وسلم فقالوا ومن يجترئ عليه الا اسامة رضی الله تعالی عنه حب رسول الله صلى الله عليه وسلم فكلمه اسامة رضی الله تعالی عنه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اتشفع في حد من حدود الله ثم قام فاختطب فقال ايها الناس انما اهلك الذين قبلكم انهم كانوا اذا سرق فيهم الشريف تركوه واذا سرق فيهم الضعيف اقاموا عليه الحد وايم الله لو ان فاطمة رضی الله تعالی عنها بنت محمد صلى الله عليه وسلم سرقت لقطعت يدها وفي حديث ابن رمح انما هلك الذين من قبلكم. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه

دقریشـو سـره فکر پیدا شو دمخزومی ښځې په غلا کولو سره (ولې چه هغه دشریف قوم نه وه) هغوئ اووے په دے باره کښے به رسول الله صلی الله علیه وسلم ته څوك او وائی ؟ خلقو اووے دومره جرأت خو په هیچا کښی نشته . البته اسامهؓ چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته زیات محبوب دے که هغه وائی نو ونیلے شی.(ولې چه اسامهؓ دزیدؓ ځوئ وو او زیدؓ درسول الله صلی الله علیه وسلم پاللے شوے ځوئ وو) آخر اسامهؓ جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اووے . حضرتؐ او فرمائیل اے اسامهؓ ته دالله تعالی په حد کښی سفارش کوے،(هر کله چه دامامه پورے دحد مقدمه اورسی نو سفارش کول درست نهٔ دی البته دامام دتلو نه مخکښی دبعضو په نزد جائز دی. په دے شرط چه مجرم شر پسند نهٔ وی) بیا حضرتؐ اودریدو او خطبه ئے واؤرَوله او اوئے فرمائیل اے خلقو!ستاسو نه مخکښی خلق په دغه رواجونو بانډِ تباه شوی دی،چه هر کله چه به یو شریف سړی په هغوئ کښے غلا اوکړه نو هغه به ئے پریخودو او هر کله چه به یو کمزوری بے وسیلے داسے اوکړو نو په هغه به ئے حَدُ قائِمولو،په خدائے مِ دِ قسم وی که فاطمهؓ لور د محمد(صلی الله علیه وسلم)غلا اوکړی نو د هغے نه به هم لاس کټ کوم۔

فائده : ولې چه کومه قاعده او قانون جوړ شوے دے په هغے بانډِ لِحاظه تلل پکار دی ورنه ملك به بربادیږی او حکومت به تباه کیږی،افسوس دے چه مسلمانان کوم چه دټولو نه زیات په زمانه کښی دقانون او خاصکر دقانون الهی پابند وو، اودس دټول قومونو نه زیات بے قانونه او بے قاعدے شوی دی ، په دغه خلقو کښی نهٔ مذهبی قانون باقی پاتے دے نهٔ مُلکی، هر سړے بے مهاره اوښ دے. او ځنے بے وقوف دے لره آزادی او حریت خیال کوی، حالانکه حریت دغه دے چه انسان دقانانو په پابندئ کښے په خپلو خپلو منافع حاصلولو کښی بلا خوف دخطر مشغول شی. او په زبر دستئ سره ټول فرمانبردار او غاړه ایخودونکی دقانون وابسته شی۔

دا حدیث هم دعقلمند په نزد دحضرت صلی الله علیه وسلم دنبوت یو ښکاره دلیل دے دومره عدل او انصاف او داسے خالص خدا پسرتی او راست بازی په داسے نا تربیت یا فته قوم کښی لکه چه هغه زمانه کښی چه عرب وو بغیر دخداوند کریم دتعلیم (چه قرآن دے او دهغه دامدادنه په یو هه کښی نهٔ شی راتلے)۔

(۴۴۱۱) عن عائشة رضی الله تعالی عنه زوج النبی صلی الله علیه وسلم ان قریشا اهمّهم شان المرأة التی سرقت فی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم فی غزوة الفتح فقالوا من یکلم فیها رسول الله صلی الله علیه وسلم فقالوا من یجتری علیه الا اسامة ابن زید رضی الله تعالی عنهما حِبُّ رسول الله صلی الله علیه وسلم فاتی بها رسول الله صلی الله علیه وسلم فکلمه فیها اسامة ابن زید فتلوّن وجه رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال اتشفع فی حدّ من حدود الله فقال له اسامة رضی الله تعالی عنه استغفرلی یارسول الله فلما کان العشیّ قام رسول الله صلی الله علیه وسلم فاختطب فاثنی علی الله تعالی بما هو اهله ثم قال اما بعد فانما اهلک الذین من قبلکم انهم کانوا اذا سرق فیهم الشریف ترکوه واذا سرق فیهم الضعیف اقاموا علیه الحدّ وانی والذی نفسی بیده لو ان فاطمة رضی الله تعالی عنها بنت محمد سرقت لقطعت یدها ثم امر بتلک المرأة التی سرقت فقطعت یدها قال یونس قال ابن شهاب قال عروة قالت عائشة رضی الله تعالی عنها فحسنت توبتها بعد وتزوجت وکانت تاتی بعد ذلک فارفع حاجتها الی رسول الله صلی الله علیه وسلم. [بخاری، ابوداود، نسائی]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه بی بی وه درسول الله صلی الله علیه وسلم چه دقریشو سره فکر پیدا شو دهغه ښځے په باره کښے چا چه درسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښې هر کله چه مکه فتح شوه غلا اوکره. خلقو اووے څوك به او وائی په دے باب کښې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته، هغوی اووے دومره جرأت څوك کولے شی. دحضرتؐ په مخکښې سوا داسامه بن زیدؓ نه چه درسول الله صلی الله علیه وسلم زرۀ ته نیزدے دے، آخر هغه ښځه درسول الله صلی الله علیه وسلم خواته حاضره کرے شوه او اسامه ئے سفارش اوکړو. دحضرت دمخ مبارك رنګ بدل شو(دغصے نه) او اوئے فرمائیل ته دالله تعالی په حد کښې سفارش کوے. اسامهؓ اووے یارسول اللهؐ! تاسو زما دپاره دمعافئ دعا او غواړئ پس هر کله چه مابښام شو نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او دریدو، او خطبه ئے او لوسته، او بیائے دالله تعالی تعریف اوکړو لکه څنګه چه دهغه سره ښائی بیائے او فرمائیل ورستو ددے نه ستاسو نه مخکښې خلقو لره تباه کرے دی دغے خبرے هر کله چه به په هغوی کښې شریف (یعنی عزتمند) سری غلا لوکړه نو هغه به ئے پریخودلو او هر کله

چه به غریب او کمزوری سړی غلا اوکړه نو په هغه به ئے حد قائمولو، او زما خو دقسم وی په هغه ذات چه د هغه په لاس کښې ځما روح دے کچرے فاطمه رضی الله تعالی عنها دمحمد (صلی الله علیه وسلم لور هم غلا اوکړی نو د هغے لاس به کټ کوم. حضرت) عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها فرمائی دلاس دکټ کولو نه پس هغه غلاکونکے ښځه ښه شوله او بیا هغے نکاح اوکړو بیا به هغه ځما خواله راتله او مابه د هغے مطلب لره جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض کوو.

(۴۴۱۲) عن عآئشة رضی الله تعالٰی عنها قالت کانت امرأة مخزومیة تستعیر المتاع و تجحده فامر النبی صلی الله علیه وسلم بقطع یدها فاتی اهلها اسامة فکلموه فکلم رسول الله صلی الله علیه وسلم فیها ثم ذکر نحو حدیث اللیث و یونس. [ابوداود]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه یوه مخزومی ښځه چه اسباب به ئے په خواست سره واخستو نو بیا به پرے منکره شوه رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم او فرمائیلو دهغے دلاس کټ کولو دپاره دهغے خلقو اسامه ته سفارش اوکړو اسامه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته اووے بیائے په دغه شان بیان اوکړو لکه چه پورته تیر شو.

باب حد الزنا.

دزنا دحد بیان.

(۴۴۱۳) عن عبادة ابن الصامت رضی الله تعالٰی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم خذوا عنی خذوا عنی فقد جعل الله لهن سبیلا البکر بالبکر جلد مائة و نفی سنة و الثیب بالثیب جلد مائة و الرجم. [ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دعباده بن صامت رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل زده کړئ ځما نه زده کړئ ځمانه (دشرع خبرے) الله تعالی دښځو دپاره یوه لاره او ویسته، هر کله چه یے واده زنا اوکړی دے واده سره نو سل کورے ئے او وهئ او دیو کال دپاره ئے دملك نه بهر کړئ. او چه دواده ده خاوند دواده ښځے سره زنا اوکړی نو سل کورے ئے اوهئ او

بيانې په کتو ويشتلو سره مړ کړئ۔

فائده:يعنې دا هم د هغې عادت وو نۀ دا چه لاس ئې په دغه جرم کښې کټ شولو،ولې چه اختسل او منکريدل غلا نۀ ده،بلکه خيانت دے،د اکثرو عالمانو هم دغه قول دے،او د احمدؒ او اسحقؒ په نزد به په دے کښې هم لاس کټ کولې شي۔

نووي عليه الرحمة وئيلې دي بغير واده نه هلك چه زنا اوکړي د نا واده شوے جينئ سره يا دَ واده شوے جينئ سره نو په هر حال کښے به دغه بغير واده نه لکه سل کوړے وهلې شي او د يو کال د پاره به وطن پريږدی،او واده شوے لره به رجم کوی۔

دغه شان.....دَ واده خاوند کچرے زِنا اوکړي د نا واده جينئ سره نو دغه دَ واده ځلمے به رجم کيږي او دغه نا واده شوے جينئ به سل کوړے وهلے شي،او د يو کاله پورے به دَ وطن نه ويستلې شي، او د بکر نه مراد يعنې د نا واده شوے نه مراد هغه سړے يا ښځه ده چه هغه په صحيح نکاح سره جماع نۀ وي کړے،او هغه آزاد او عاقل او بالغ وي اګر که کافر وي،او علماؤ اجماع کړے ده، چه نا واده شوے زنا کار به سل کوړے وهلے شي،او واده شوے به رجم کيږي،او په دے کښې د چا اختلاف نشته دے،البته دَ خوارِجو او ځنې معتزله و نۀ منقول دي، چه هغوئ د رجم نه انکار کړے دے۔

او واده شوي زنا کار ته به مخکښې کوړے لګولے شي او بيا به رجم کولے شي،دَ اسحقؒ او داودؒ او اهل ظاهروهم او د ځنې شافعیؒ ملګرو هم دغه قول دے،او د جمهور علماؤ په نزد صرف رجم کافي دے،او نا واده شوي به د يو کال د پاره جلا وطن کيږي که سړے وي يا ښځه دَ امام شافعیؒ او دَ جمهور علماؤ دغه قول دے او د حسنؒ په نزد نفي واجب نۀ ده ، او مالكؒ اوزاعي وئيلې دي چه په ښځو باندِ نفي نشته دے،انتهى مختصراً۔

(۴۴۱۶) عَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللّٰهُ تَعالىٰ عنه قَالَ كَانَ نَبِيُّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اُنْزِلَ عَلَيْهِ الْوَحْيُ كُرِبَ لِذٰلِكَ وَ تَرَبَّدَ لَهُ وَجْهُهُ قَالَ فَاُنْزِلَ عَلَيْهِ ذَاتَ يَوْمٍ فَلُقِيَ كَذٰلِكَ فَلَمَّا سُرِّيَ عَنْهُ قَالَ خُذُوْا عَنِّيْ قَدْ جَعَلَ اللّٰهُ لَهُنَّ سَبِيْلًا اَلثَّيِّبُ بِالثَّيِّبِ وَالْبِكْرُ بِالْبِكْرِ اَلثَّيِّبُ جَلْدُ مِائَةٍ ثُمَّ رَجْمٌ بِالْحِجَارَةِ وَالْبِكْرُ جَلْدُ مِائَةٍ ثُمَّ نَفْيُ سَنَةٍ. [راجع: ۴۴۱۴]

ترجمه:د عباده بن صامت رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه په جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم باندِ چه به کله وحی نازلیده نو حضرتؐ ته به سختی معلومیده،او په مخ مبارك به ئے د خاورے رنګ راغے،یوه ورځ په حضرتؐ باندِ وحی نازله شوه او هغویٔ ته دغسے سختی محسوسه شوه هر کله چه وحی موقوف شوه نو حضرتؐ اوفرمائیل،زده کړئ زما نه الله تعالی د ښځو د پاره لاره جوړه کړه،کچرے ثیب د ثیب سره زنا اوکړی او بِکر د بکر سره نو ثیب به د سلو کوړونه پس سنګسار کولے شی او بکر به د سلو کوړو لګولو نه پس د وطن نه بهر کولے شی دَ یو کاله پورے۔

(۴۴۱۷) عَنْ قَتَادَةَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ غَیْرَ اَنَّ فِیْ حَدِیْثِهِمَا الْبِکْرُ یُجْلَدُ وَ یُنْفٰی وَالثَّیِّبُ یُجْلَدُ وَ یُرْجَمُ لَا یَذْکُرَانِ سَنَةً وَّلَامِائَةً. [راجع: ۴۴۱۴]

ترجمه:د قتادةؒ نه هم دغه شان روایت دے لکه پورته تیر شولو،په دے کښ د یو کال دَ مُدے او دَ کوړو شامر نشته دے۔

(۴۴۱۸) عَنْ عَبْدِاللّٰهِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ عُمَرُ ابْنُ الْخَطَّابِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَهُوَ جَالِسٌ عَلٰی مِنْبَرِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللّٰهَ بَعَثَ مُحَمَّدًا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِالْحَقِّ وَ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلَیْهِ اٰیَةَ الرَّجْمِ قَرَأْنَاهَا فَرَجَمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَرَجَمْنَا بَعْدَهٗ فَاَخْشٰی اِنْ طَالَ بِالنَّاسِ زَمَانٌ اَنْ یَّقُوْلَ قَائِلٌ مَا نَجِدُ الرَّجْمَ فِیْ کِتَابِ اللّٰهِ فَیَضِلُّوْا بِتَرْکِ فَرِیْضَةٍ اَنْزَلَهَا اللّٰهُ وَ اِنَّ الرَّجْمَ فِیْ کِتَابِ اللّٰهِ حَقٌّ عَلٰی مَنْ زَنٰی اِذَا اُحْصِنَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَآءِ اِذَا قَامَتِ الْبَیِّنَةُ اَوْ کَانَ الْحَمَلُ اَوِ الْاِعْتِرَافُ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه:د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے وائی چه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په ممبر باندِ ناست وو هغویٔ اووے الله جل شانه محمد صلی الله علیه وسلم رالیږلے وو د حق سره او په هغویٔ باندِ ئے کتاب نازل کړے وو چه په هغے کښ درجم آیت وو" اَلشَّیْخُ وَالشَّیْخَةُ اِذَا زَنَیَا فَارْجُمُوْهُمَا "لیکن د هغے تلاوت موقوف شولو او حکم ئے باقی دی)مونږ دغه آیت پوهٔ شو پرے،نو رجم کړے دے جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او مونږ هم د هغویٔ نه ورستو رجم کړے دے زهٔ ویریږم چه د زیاتے

مودے تیریدونه پس څوک دا اونۀ وائی چه مونږ ته د الله په کتاب کښی رجم نۀ میلاویږی بیا به هغه گمراه شی د دے فرضو په پریخودو سره چه الله تعالی رالیږلی دی،(دا وینا د حضرتِ عمرؓ صحیح شوله او خوارجو دغسے اووے او گمراه شول)بیشکه رجم حق دے د الله تعالی په کتاب کښی په هغه سړی او ښځه بانذِ چه هغه محصن وی او زِنا اوکړی، هر کله چه گواه قائم وی په زنا بانذِ یا ئے حمل ښکاره شی یا پخپله اقرار اوکړی۔

فائده:نوویؒ وئیلے دی دا د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه مذهب دے چه د ښځے هر کله چه خاوند او اقا نۀ وی او حمل ئے ښکاره شی نو په هغے به دَ زِنا حَد لګولے شِی،او دَ مالکؒ هم دغه قول دے په دے شرط چه په زور جماع کول ثابت نۀ وی،او هغه ښځه نا اشنا نۀ وی چه هغه دا اووائی چه حمل ئے د خاوند نه دے یا دَ اَقا نه دے،او دَ شافعیؒ او ابو حنیفۃؒ او جمهور علماؤ په نزد صرف د حمل په ښکاره کیدو سره حد نه پرے وځی د کومے پورے چه په زنا ئے گواه نۀ وی یا دَ زنا اقرار پخپله اونۀ کړی۔

(۴۴۲۰) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهٗ قَالَ اَتٰی رَجُلٌ مِّنَ الْمُسْلِمِیْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِیْ الْمَسْجِدِ فَنَادَاهُ فَقَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ زَنَیْتُ فَاَعْرَضَ عَنْهُ فَتَنَحّٰی تِلْقَآءَ وَجْهِهٖ فَقَالَ لَهٗ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّیْ زَنَیْتُ فَاَعْرَضَ عَنْهُ حَتّٰی ثَنّٰی ذٰلِکَ عَلَیْهِ اَرْبَعَ مَرَّاتٍ فَلَمَّا شَهِدَ عَلٰی نَفْسِهٖ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍ دَعَاهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبِکَ جُنُوْنٌ؟قَالَ لَا قَالَ فَهَلْ اَحْصَنْتَ؟قَالَ نَعَمْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اذْهَبُوْا بِهٖ فَارْجُمُوْهُ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ فَاَخْبَرَنِیْ مَنْ سَمِعَ جَابِرَ ابْنَ عَبْدِاللّٰهِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا یَقُوْلُ فَکُنْتُ فِیْمَنْ رَجَمَهٗ فَرَجَمْنَاهُ بِالْمُصَلّٰی فَلَمَّا اَذْلَقَتْهُ الْحِجَارَةُ هَرَبَ فَاَدْرَکْنَاهُ بِالْحَرَّةِ فَرَجَمْنَاهُ [بخاری]

(۴۴۲۱) قَالَ مُسْلِمٌ وَّرَوَاهُ اللَّیْثُ اَیْضًا عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ خَالِدِ ابْنِ مُسَافِرٍ عَنِ ابْنِ شِهَابٍ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ مِثْلَهٗ.

ترجمه: دابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے یو سړے دمسنانانو نه راغے درسول الله صلی الله علیه وسلم خواه له په جماعت کښ، او چغے ئے کړے حضرتؐ ته اوئے وئیل یا رسول اللهؐ! ما زنا کړے دے، حضرتؐ د هغه دطرفنه مخ واړوو، هغه دبل طرفنه راغے او اوئے وئیل چه یا رسول الله ما زنا کړے دے حضرت د هغه دطرفنه مخ واړوو تردے پورے چه څلور ځله هغه اقرار

اوکړو، هر کله چه څلور ځله اقرار ئې اوکړنو حضرت صلی الله علیه وسلم هغه راواوغوښتو او تپوس ئې ترې اوکړو چه ته لیونے خو نۀ ئې؟ هغه اووے نه، حضرتؐ او فرمائيل چه ته محصن ئې؟ (یعنی واده دِ کړے دے) هغه اووے هاں، بیا حضرت اصحابوؓ ته او فرمائيل دے بوځئ او سنګسارئے کړئ) ددے معلومه شوه چه دامام پخپله شریکیدل ضروری نۀ دی جابرؓ وائی مونږ هغه سره رجم کړو په عیدګاه کښ (یا په جنازګاه کښ نوویؒ وائی ددے نه دا معلومه شوه چه داختر او دجنازے دمونځ دپاره چه کوم میدان وی دهغے حکم دجماعت نۀ دے) هر کله چه دګټو تیزی هغه ته معلومه شوه نو او تختیدو بیا مونږ هغه لره په حره کښ او موندو او هلته مو په ګټو سره او وژلو۔

فائده: دابو حنیفةؒ او اهل کوفه او احمدؒ دغه قول دے، چه زِنا نۀ شی ثابتیدے دکومے پورے چه څلور ځله اقرار او نۀ کړی، او دامام مالکؒ او شافعیؒ په نزد یو ځل اقرار هم پوره دے په دلیل ددوئم حدیث او دابن ابی لیلے په نزد په څلورو مجلسونو کښ څلور ځله اقرار کول پکار دی، ځکه چه کیدے شی اوس هم دخپل قول نۀ واپس شی او دمسلمان روح سلامت پاتے شی۔

په یو روایت کښ دی حضرتؐ دهغه قوم والا نه دهغه دحال تپوس اوکړو، هغوئ اووے چه هغه بنه صحیح هنبیار سړے دے۔ ددے نه دا خبره معلومه شوه چه دلیونی اقرار صحیح نۀ دے، او نه په هغه باندِ حد واجب دے، او په دے باندِ دامت اجماع ده، (نوویؒ)۔

نوویؒ وائی دشافعیؒ او احمدؒ په نزد چاچه دزِنا اقرار کړے وی او هغه دګټو ویشتلو په وخت او ښتی، نو هغه له پریخودل پکار دی، بیا کچرے هغه داقرارنه واپس شی نو پریږدی به ئې ورنه رجم به ئې کړی، او ددمالکؒ په نزد په هغه پسے ورستو تلل او وژل پکار دی۔

دحضرت امام شافعیؒ دلیل هغه دے کوم چه دابوداؤد په روایت کښ دے حضرت او فرمائیل تاسو هغه لره پریخودو ولے نه کیدے شی هغه توبه وسیتلے وے او الله تعالی ئې توبه قبوله کړے وے (انتهی مختصرًا)

(۴۴۲۴) عن جابر ابن سمرة رضی الله تعالی عنه قال رأیتُ ما عزابن مالک رضی الله تعالی عنه حِیْنَ جِیْئَ به الی النبیّ صلے الله علیه وسلم رجل قصیر اعضل لیس علیه رِداءٌ فشهد علی نفسه اربع مرّات انه

رسا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم فلعلك قال لا والله انه قد زنى الآخر قال فرجمه ثم خطب فقال الا كلما نفرنا في سبيل الله خلف احدهم له نبيب كنبيب التيس يمنح احدهم الكثبة اما والله إن يمكنني من احدهم لانكلنه عنه . [ابوداود]

ترجمه: دجابر بن سمره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ما ماغز بن مالك اولیدو هر کله چه هغه درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راوستے شو، بند کړے شوے لغړ په هغوئ باندِ څادر نۀ وو (یعنی په هغه وخت دهغه بدن لغړوو) هغوئ څلور ځله دزنا اقرار اوکړو، نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمائیل کیدے شی تا (بنکل کړی وی یا دِ پرے لاس لګیدلے وی) ما غزّ اووے تهٔ قسم په خدائے چه دے نا لائق زنا کړے ده، هر کله چه حضرت هغوئ لره رجم کړو بیائے اوفرمائیل هر کله چه مونږ او ګودجهاد دپاره دالله تعالی په لاره کښے نو څوك ورستو پاتے شی او آواز کوی دبزے پشان آواز (لکه څنګه چه بزه دجماع چاته لږ شلن پیئ)(یعنی جماع کوی دپیو نه مراد منی ده) قسم په خدائے کچرے ماته قدرت راکړی په داسے چاباندِ نوزهٔ به هغه له سزاء ورکوم (ددے دپاره چه نوروته عبرت شی۔)

فائده : بنکل کړے به ډِوی یا به ډِلاس وروړے وی، مقصود دحضرت صلی الله علیه ولسم دا وو چه هغه دخپل اقرارنه واپس شی، او دهغوئ روح بچ شی، ددے حدیث نه دا معلوم شوه چه څوك دزنا اقرار اوکړی امام ډهغوئ ته په دے شان تعلیم ورکوی، کچرے هغه واپس شی نو دهغه نه ډمواخذه نۀ کوی، او دا تعلیم په حقوق العباد کښِ درست نۀ دے نۀ واپس کیدل په دے کښِ صحیح دی۔

(۴۴۲۵) عن جابر ابن سمرة رضي الله تعالى عنه قال اتى رسول الله صلى الله عليه وسلم برجل قصير اشعث ذي عضلات عليه ازار وقد زنى فرده مرتين ثم امر به فرجم فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم كلما نفرنا غازين في سبيل الله تخلف احدكم ينب نبيب التيس يمنح احداهن الكثبة ان او لا يمكنني من احد منهم الا جعلته نكالا او نكلته قال فحدثته سعيد ابن جبير فقال انه رده اربع مرات . [ابوداود]

ترجمه : دجابر بن سمره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو نیولے شوے سړے په مضبوط څادر تړلے شوے راغے، هغه زنا کړے وو، حضرتٌ دوه

څله دهغه خبره رد کړله بیانے حکم اوکړو او هغه سنګسار کړلے شو، ددے نه پس حضرت صلی الله علیه وسلم او فرمائیل هر کله چه مونږ او څو په جهاد کښے دالله ج په لاره کښں نو یونه یو ستاسو نه ورستو پاتے کیږی او دبزے په شان آواز کوی. څوك ښځے ته لږ شان پئ ورکوی بیشکه الله تعالیٰ چه هر کله څما په قابو کښں داسے انسان راکړو، نو زهٔ به هغه له داسے سزا ورکوم چه هغه نصیحت وی دنور دپاره، راوی وائی ما دا حدیث سعید بن جبیرؒ ته بیان کړو هغوئ اووے حضرت څلور څله دهغه خبره رد کړے وه.

(۴۴۲۷) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِمَاعِزِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَحَقٌّ مَابَلَغَنِيْ عَنْكَ قَالَ وَمَا بَلَغَكَ عَنِّيْ قَالَ بَلَغَنِيْ اَنَّكَ وَقَعْتَ بِجَارِيَةِ اٰلِ فُلَانٍ قَالَ نَعَمْ فَشَهِدَ اَرْبَعَ شَهٰدٰتٍ ثُمَّ اَمَرَ بِهٖ فَرُجِمَ. [ابوداود، ترمذی]

ترجمه: دعبدالله ابن عباس رضی الله تعالیٰ عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دماعز بن مالكؓ نه تپوس اوکړو کوم خبر چه ما ستا مطابق اوریدلے دے هغه رښتونے دے؟ حضرت او فرمائیل تا جماع کړے ده دفلانو خلقو دوینځی سره، ماعزؓ اووے هان رښتیا دی بیا هغوئ څلورواره اقرار اوکړو بیا حضرت صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو دهغه درجم کولو.

(۴۴۲۸) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِّنْ اَسْلَمَ يُقَالُ لَهٗ مَاعِزُ ابْنُ مَالِكٍ اَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِنِّیْ اَصَبْتُ فَاحِشَةً فَاَقِمْهُ عَلَیَّ فَرَدَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِرَارًا قَالَ ثُمَّ سَالَ قَوْمَهٗ فَقَالُوْا مَا نَعْلَمُ بِهٖ بَاْسًا اِلَّا اَنَّهٗ اَصَابَ شَيْئًا يُرٰى اَنَّهٗ لَا يُخْرِجُهٗ مِنْهُ اِلَّا اَنْ يُّقَامَ فِيْهِ الْحَدُّ فَرَجَعَ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَمَرَنَا مِنْ نَّرْجُمَهٗ قَالَ فَانْطَلَقْنَا بِهٖ اِلٰى بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ قَالَ فَمَا اَوْثَقْنَاهُ وَلَا حَفَرْنَا لَهٗ فَرَمَيْنَاهُ بِالْعِظَامِ وَالْمَدَرِ وَالْخَزَفِ قَالَ فَاشْتَدَّ وَاشْتَدَدْنَا خَلْفَهٗ حَتّٰى اَتٰى عُرْضَ الْحَرَّةِ فَانْتَصَبَ لَنَا فَرَمَيْنَاهُ بِجَلَامِيْدِ الْحَرَّةِ يَعْنِي الْحِجَارَةَ حَتّٰى سَكَتَ قَالَ ثُمَّ قَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَطِيْبًا مِّنَ الْعَشِيِّ قَالَ اَوَ كُلَّمَا انْطَلَقْنَا غُزَاةً فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ تَخَلَّفَ رَجُلٌ فِیْ عِيَالِنَا لَهٗ نَبِيْبٌ كَنَبِيْبِ التَّيْسِ عَلَیَّ اَنْ لَّا اُوْتٰى بِرَجُلٍ فَعَلَ ذٰلِكَ اِلَّا نَكَّلْتُ بِهٖ قَالَ فَمَا اسْتَغْفَرَ لَهٗ وَلَا سَبَّهٗ. [ابوداود]

ترجمه: دابو سعید رضی الله تعالیٰ عنه نهٔ روایت دے چه داسلم دقبیلے یو سړے چه نوم ئے

ماعز بن مالكؓ وو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغې او اوئې وئیل څمانه ګناه شوې دې نو مالکه سزاء راکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم څو ځله دهغه خبره رد کړله، بیا حضرت دهغه دقوم نه تپوس اوکړو دهغه دحال () او وایې: چه لیونې خونۀ دې) هغوئ اووې ده ته څه بیماری نشته دې، مګر دهغه نه داسې کار شوې دې هغه پوهه دې او څه علاج ئې نشته سوا دحد قائمولو نه بیا هغه واپس راغې درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله او حضرت حکم اوکړو دهغه درجم کولو مونږ هغه دڅان سره کړو او دبقیع العرقد(دا دمدینې قبرستان دې یاالله زما مدفن په بقیع کښ اوکړې) په طرف لاړو نه مونږ هغه لره اوتړلو او نه مود هغه دپاره ږوغل او کنستو، مونږ هغه ویشتلو په هډوکو او لوټو او کودرو سره هغه منډې کړې او تختیدو، مونږه هم وریسې ورستو منډې کړې حتی کښې چه حره ته راغې هلته را اولویدو نو مونږ دحره په ګټو سره او ویشتو او یخ شو (یعنی ساه ئې ورکړو) بیا ماښام رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبه لوستلو ته او دریدو او اوئې فرمائیل هر کله چه مونږ څو دالله ج په لاره کښې دجهاد دپاره نو یو ته یو زمونږ په زنانو کښ پاتې شي دبزې آواز کوی، په ما بانډې ضروری ده چه کوم سړې داسې کوی او څما خواله راوستې شي نو زۀ به ورله سزاء ورکوم، بیا نۀ حضرتؐ دهغه دپاره دعا اوکړو او نۀ ئې ورته بد اووې، (دُعائې ددې دپاره او نۀ کړه چه بل څوك په دې طمع سره ددې کار دپاره پاتې نۀ شي او بدئې ورته ځکه او نۀ وې چه دهغه دګناه تدارك او شو او توبه ئې قبوله شوه)

فائده: تړل خود هیڅا په نزد ضروری نۀ دی. په ږوغل کنستو کښ دعالمانو اختلاف دې. دمالكؒ او ابو حنیفهؒ او احمدؒ په نزد دسړی یا دښځې دهیڅا دپاره ږوغل کنستل نۀ دی پکار او دقتادهؒ او ابو ثورؒ او ابویوسفؒ په نزد ددواړو دپاره ږوغل کنستل پکار دی او داوبو حنیفه رحمه الله علیه نه هم یو روایت دغسې دې.

او دمالکیؒ ملګرو په نزد چه دچارجم په شهادت سره وی دهغه دپاره به ږوغل کنستلې شي او دچارجم چه په اقرار سره وی دهغه دپاره به نۀ شي کنستلې۔

او دامام شافعیؒ په نزد به دسړی دپاره نۀ شي کنستلې، لیکن دښځې په باره کښې درې

قولونه دی، یو دا چه بنځې له دسینې پورې دوغل کنستل مستحب دی ددې دپاره چه سترنې بنکاره نهٔ شی دویم قول دادې چه نه مستحب دی نهٔ مکروه بلکه دحاکم درائې خبره ده، دریم دا چه دګواهئ په صورت کښې مستحب دی او داقرار په صورت کښې مستحب نهٔ دی، ددې دپاره چه هغې ته دتختیدو موقع میلاو شی، (نووی مختصرًا)

(۴۴۲۹) عَنْ دَاوٗدَ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَ مَعْنَاهُ وَقَالَ فِي الْحَدِيْثِ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْعَشِيِّ فَحَمِدَ اللّٰهَ وَأَثْنٰى عَلَيْهِ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَمَا بَالُ أَقْوَامٍ إِذَا اغْزَوْنَا يَتَخَلَّفُ أَحَدُهُمْ عَنَّالَهُ نَبِيْبٌ كَنَبِيْبِ التَّيْسِ وَلَمْ يَقُلْ فِيْ عِيَالِنَا. [راجع: ۴۴۱۹]

ترجمه: داودؒ نه هم دغه روایت دے کوم چه پورته تیر شولو مګر په دے کښې دادی چه حضرت مانښام دخطبې دپاره او دریدو نو دالله تعالی ثنا او تعریف ئې اوکړو بیائې او فرمائیل ورستو ددے نه ، څه حال دے دخلقو هر کله چه مونږه جهاد له ځونو ددوئ نه یو ورستو پاتې کیږی او داسې آواز لوباسی لکه دبزے ، آخره پورے۔

(۴۴۳۱) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ جَآءَ مَاعِزُ ابْنُ مَالِكٍ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَهِّرْنِيْ فَقَالَ وَيْحَكَ ارْجِعْ فَاسْتَغْفِرِ اللّٰهَ وَتُبْ إِلَيْهِ قَالَ فَرَجَعَ غَيْرَ بَعِيْدٍ ثُمَّ جَآءَ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ طَهِّرْنِيْ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذٰلِكَ حَتّٰى إِذَا كَانَتِ الرَّابِعَةُ قَالَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْمَ أُطَهِّرُكَ؟ قَالَ مِنَ الزِّنَا فَسَئَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبِهٖ جُنُوْنٌ؟ فَأُخْبِرَ أَنَّهٗ لَيْسَ بِمَجْنُوْنٍ فَقَالَ أَشَرِبَ خَمْرًا فَقَامَ رَجُلٌ فَاسْتَنْكَهَهٗ فَلَمْ يَجِدْ مِنْهُ رِيْحَ خَمْرٍ... كَانَ النَّاسُ فِيْهِ فِرْقَتَيْنِ قَائِلٌ يَقُوْلُ لَقَدْ هَلَكَ لَقَدْ أَحَاطَتْ بِهٖ خَطِيْئَتُهٗ وَقَائِلٌ يَقُوْلُ مَا تَوْبَةٌ أَفْضَلَ مِنْ تَوْبَةِ مَاعِزٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ أَنَّهٗ جَآءَ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهٗ فِيْ يَدِهٖ ثُمَّ قَالَ اقْتُلْنِيْ بِالْحِجَارَةِ قَالَ فَلَبِثُوْا بِذٰلِكَ يَوْمَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً ثُمَّ جَآءَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُمْ جُلُوْسٌ فَسَلَّمَ ثُمَّ جَلَسَ فَقَالَ اسْتَغْفِرُوْا لِمَاعِزِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ فَقَالُوْا غَفَرَ اللّٰهُ لِمَاعِزِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ تَابَ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ أُمَّةٍ لَوَسِعَتْهُمْ قَالَ ثُمَّ جَآءَتْهُ امْرَأَةٌ مِّنْ غَامِدٍ مِّنَ الْأَزْدِ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ طَهِّرْنِيْ فَقَالَ وَيْحَكِ ارْجِعِيْ فَاسْتَغْفِرِي اللّٰهَ وَتُوْبِيْ إِلَيْهِ فَقَالَتْ أَرَاكَ تُرِيْدُ أَنْ تُرَدِّدَنِيْ كَمَا رَدَّدْتَ مَاعِزَ ابْنَ مَالِكٍ قَالَ وَمَا ذَاكِ؟ قَالَ إِنَّهَا حُبْلٰى مِنَ الزِّنَا فَقَالَ أَنْتِ؟ قَالَتْ نَعَمْ فَقَالَ لَهَا

حتی تضعی ما فی بطنک قال فکفلها رجل من الانصار حتی وضعت قال فاتی النبی صلی الله علیه وسلم فقال قد وضعت الغامدیة فقال اذا لا نرجمها وندع ولدها صغیرا لیس له من یرضعه فقام رجل من الانصار فقال الی رضاعه یارسول الله قال فرجمها . [ابوداود]

ترجمه: دبریده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه ماعز بن مالکؓ درسول اللهصلی الله علیه وسلم خواله راغے، او اوئے وئیل یا رسول اؤ پاك کړه مالره، حضرت او فرمائیل عجیبه ده څما دالله تعالی نه بخښنه غواړه اوتوبه او باسه ، هغه واپس لږ غونډ لاړو بیا راغے لو اوئے وئیل یا رسول الله ! پاك کړه مالره ،حضرت ورته هم هغه شان او فرمائیل هر کله چه په څلورم ځل راغے، نو حضرتؐ ورته او فرمائیل زهٔ دڅه نه پاك کړم تالره؟ ماعزؓ اووے دزِنانهٔ ، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم (دخلقونه) تپوس اوکړو، ایے دے لیونے دے؟ معلومه شوه چه لیونے نهٔ دے، بیا حضرتؐ او فرمائیل ایے ده شراب څښلی دی، یو سړے اودریدو او دهغه خله ئے بوئ کړی، نو دشرابو بوئ بښکښ اونهٔ موندے شو بیا حضرت او فرمائیل (ماعزؓ ته)ولے تا زِنا کړے دے؟ هغه اووے هاں، حضرتؐ حکم اوکړو او هغه په ګټو سره اوویشتلے شو، اوس دهغه په بلړه کښ خلق دوه ډلے شول . یوے ډلے به داوے ماعزؓ تباه شو او ګناه هغه لره ګهیر کړلو، او دوئمے ډلے به داوے چه دماعزؓ دتوبے نه بله غوره یوه توبه نشته څکه چه هغه درسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغے، او خپل لاس ئے دحضرتؐ په لاس کښ کیخودو، او اوئے وئیل ما په ګټو سره مړ کړئ ددوه دریوورځو پورے به خلقو دغه وینا کوله ، ورستو ددے نه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم تشریف راوړو او صحابهٔ ناست وو، حضرتؐ سلام اوکړو بیا کیښناستو او اوئے فرمائیل دُعا او غواړئ دماعزؓ دپاره صحابهؓ ؤ اووے الله دِ اوبخښی ماعز بن مالك لره جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل ماعزؓ داسے توبه ویستلی ده چه کچرے هغه توبه دیو امت په خلقو کښے تقسیم کړے شی نو تولو ته به کافی شِی -

ددے نه پس حضرت صلی الله علیه وسلم ته یوه ښځه راغله دغامد (چه یو شاخ دے) ازد (ا زد یوه مشهوره قبیله ده) او اوئے وئیل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم پاکه کړه مالره ، حضرتؐ او فرمائیل عجیبه ده څه او دُعا او غواړه دالله نه دبخښنے او توبه اوباسه دهغه په درګاه

کښې ښځې اووے تاسو ما واپس کول غواړئ لکه څنګه چه تاسو ماعزؓ واپس کړو وو، حضرتؐ ورته او فرمائيل تاله څه شوی دی؟ هغې اووے زما ګيډه شوے ده دزِنانه حضرتؐ او فرمائيل تۀ پخپله؟ هغې اووے هاں۔

حضرتؐ او فرمائيل ښه ده صبر اوکړه دحمل دزيږولو پورے (ولے چه حامله نۀ شی رجم کيدے او نۀ پرے کوړے لګولے شی او په دے باندِ اجماع ده۔ دحمل زيږولو پورے) بيا يو انصاری سړیؓ دهغے خبر ګيری په خپله ذمه واخسته، هر کله چه هغے حمل اوزيږوو، نو انصاریؓ دجناب رسول الله صلی الله عليه وسلم خواله راغې او عرض ئے اوکړو چه غامديه حمل زيږولے دے۔ حضرتؐ او فرمائيل اوس خو مونږ هغې لره نۀ شو رجم کولے، او دهغې بچے به دپيو نه نۀ شو پريخودلے يو انصاریؓ اووے يارسول اللهؐ! زۀ به بچی ته پئ ورکوم بيا حضرت هغې لره رجم کړه۔

فائده: نوویؒ وئيلے دی چه ددے حديث نه دا معلومه شوه چه په حد سره ګناه ختميږی او دا صراحه موجوددے، دعباده بن صامتؓ په روايت کښې دی چه چا داسے يو ګناه اوکړو او بيا په دنيا کښې سغه ته دهغے سزا ميلاؤ شوه نو دغه ئے کفاره شوله، او مونږ نۀ ګنړو دچا اختلاف په دے کښې۔

او داهم ثابته شوه چه کبيره ګناه په دغه توبه سره معاف کيږی، او په دے باندِ دمسلمانانو اجماع ده، او په قتل کښې دابن عباس رضی الله تعالی عنه خلاف دے۔ سبحٰن الله! دا غامديه ښځه په همت او جرأت کښې دسرونه زياته وه الله تعالی دهغې لره او بخښی۔

(۴۴۳۲) عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ مَاعِزَ ابْنَ مَالِكٍ الْاَسْلَمِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَتٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّىْ قَدْ ظَلَمْتُ نَفْسِىْ زَنَيْتُ وَاِنِّىْ اُرِيْدُ اَنْ تُطَهِّرَنِىْ فَرَدَّهُ فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ اَتَاهُ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ! قَدْ زَنَيْتُ فَرَدَّهُ الثَّانِيَةَ فَاَرْسَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلٰى قَوْمِهِ فَقَالَ تَعْلَمُوْنَ بِعَقْلِهِ بَاْسًا ؟ تُنْكِرُوْنَ مِنْهُ شَيْئًا فَقَالُوْا مَانَعْلَمُهُ اِلَّا وَفِىَّ الْعَقْلِ مِنْ صَالِحِيْنَا فِيْمَا نُرٰى فَاَتَاهُ الثَّالِثَةَ فَاَرْسَلَ اِلَيْهِمْ اَيْضًا فَسَاَلَ عَنْهُ فَاَخْبَرُوْهُ اَنَّهُ لَا بَاْسَ بِهِ وَلَا بِعَقْلِهِ فَلَمَّا كَانَ الرَّابِعَةَ حَفَرَ لَهُ حُفْرَةً ثُمَّ اَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ قَالَ فَجَاءَتِ الْغَامِدِيَّةُ فَقَالَتْ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! اِنِّىْ زَنَيْتُ فَطَهِّرْنِىْ وَاَنَّهُ رَدَّهَا فَلَمَّا كَانَ الْغَدُ قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لِمَ تَرُدُّنِىْ؟ لَعَلَّكَ اَنْ تَرُدَّنِىْ كَمَا رَدَدْتَ مَاعِزًا فَوَاللّٰهِ اِنِّىْ لَحُبْلٰى قَالَ اِمَّا لَا فَاذْهَبِىْ حَتّٰى تَلِدِىْ قَالَ فَلَمَّا

ولدت اتته بالصبي في خرقة قالت هذا قد ولدته قال اذهبي فارضعيه حتى تفطميه فلما فطمته اتته بالصبي في يده كسرة خبز فقالت هذا يا رسول الله! قد فطمته وقد اكل الطعام فدفع الصبي الى رجل من المسلمين ثم امر بها فحفر لها الى صدرها وامر الناس فرجموها فيقبل خالد ابن الوليد بحجر فرمى راسها فتنضح الدم على وجه خالد فسبها فسمع النبي صلى الله عليه وسلم سبه فقال مهلا يا خالد فوالذي نفسي بيده لقد تابت صاحب مكس لغفر له ثم امر بها فصلى عليها و دفنت . [ابوداود]

ترجمه: د حضرت بریده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ماعز بن مالك اسلمیؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغے او اوئے وئیل یا رسول الله! ما ظلم اوکړو چه په خپل ځان باندې او زِنا م اوکړو، زۀ غوړم چه تاسو ما لره پاك کړئ، حضرتؐ هغهٔ لره واپس کړو، په صبا بیا راغے او عرض ئے اوکړو یا رسول الله! ما زِنا کړے دے حضرت هغویٰ لره واپس کړو لو بعد د دے نه ئے د هغهٔ قوم ته یو کس اولیږو او تپوس ئے اوکړو چه د هغویٰ په عقل کښے څه فرق شته او تاسو پکښې څه خبره لیدے ده؟ هغویٰ اووے مونږ خو پکښې څه فرق نۀ دے لیدلے د کومے پورے چه مونږ ته علم دے نو عقل ئے ډیر ښه دے په دریم وار بیا ماعزؓ راغے حضرتؐ بیا د هغویٰ قوم ته قاصد اولیږلو (او دغه معلومات ئے اوکړو) هغویٰ اووده ته څه بیماری نشته لو نۀ د ده په عقل کښې څه فرق شته، هر کله چه په څلورم وار هغه راغے (او هغویٰ دغه اووے ما زنا کړے دے ما لره پاك کړئ حالانکه په توبه سره هم پاکیدلے شو، مگر ماعزته دا شك شو چه کیدے شی توبه قبوله نۀ شی) نو حضرت دهغه دپاره یو ډوغل او کنستو بیائے حکم اوکړو او هغه رجم کړے شو، ددے نه پس دغامد (قبیلے) یوه ښځه راغله او عرض ئے اوکړو یا رسول اللهؐ! ما زِنا کړے دے ما لره پاکه کړه، حضرتؐ هغے لره واپس کړه، په دوئمه ورځ هغے بیا لووے یا رسول اللهؐ! تاسو ما ولې واپس کوئ، کیدے شی تاسو داسے واپس کول غواړئ لکه څنګه چه ماعزؓ واپس شوے وو، په خدائے قسم زۀ خو حامله یم (نو اوس په زنا کښے څه شك دے) حضرتؐ لو فرمائیل ښه ده چه تۀ نۀ واپس کیدل نۀ غواړې بلکه دغه ددنیا سزا غواړې) نو څه لاړه شه او دحمل زیږولو نه پس راشه، هر کله چه هغه بچے پیدا شو نو هغه ئے په یوه کپړه کښې نغښتے راوړو، حضرتؐ او فرمائیل دے لره تا لوزیږوو، څه لاړه شه لوده لره پئ ورکوه چه دپیو موده پوره شی بیا

راشه (دشافعیؒ او احمدؒ او اسحٰق دغه قول دے چه ښځه به دزیږولو نه پس تر هغې پورے نۀ رجم کیږی دکومے پورے چه ئے دبچی دپیوبندوبست شوے نۀ وی ورنه دپیو دمودے پورے به انتظار کوی. اوداامام ابو حنیفه او مالکؒ په نزد به دزیږدلو سره رجم کولے شی) هر کله چه دملشوم دپیو موده پوره شوه نو هغه بچے ئے راواخستو او په لاس کښ ئے دډوډئ ټکړه نیولې راغله او عرض ئے اوکړو اے الله نبی ملادابچے دتی نه پریکړلو اوس دے غله نوری لګیادے. حضرتؐ هغه بچے یو مسلمان ته ورکړو دپرورش دپاره. بیاے حکم اوکړو او یو ډوغل او کنستلے شو دهغې دسینے پورے او خلقوته ئے دهغې دسنګسار کولو حکم اوکړو. خالد بن الولید رضی الله تعالی عنه یوه ګټه راوخسته او راغې او هغه ئے په سر باندِ اووشته، نو دوینے څاڅکے دخالد په مخ باندِ او لګیدو. خالدؓ هغې ته بد اووے، دا وئیل دهغې په باره کښ رسول الله صلی الله علیه وسلم واؤریدو. حضرت او فرمائیل خبردار اے خالده. (داسے مۀ وایه) قسم دے په هغه ذات چه دچا په لاس کښ ځما روح دے دے ښځے داسے توبه ویستلے ده چه کچرے ناجائز محصول اخستولووالا (چه هغه په خلقو باندِ ظلم کوی او په حقوق العباد کښ ګرفتار وی او مسکینانو لره تنګوی) داسے توبه او باسی نو دهغه ګناه به هم او بخښلے شی. (حالانکه په بل حدیث کښ دی چه داسے بنده جنت ته نۀ شی تللے) بیا حکم اوکړو حضرتؐ او په هغې باندِ دجنازے مونځ اوکړے شو او دفن شوله.

فائده: نوویؒ وئیلے دی چه ددے حدیث نه دا ثابته شوه چه دزِنا کار په توبه سره حدنۀ ساقط کیږی او دغه شان دغل او شرابی په توبه سره لو دغه صحیح قول دے. او یو قول زمونږدمذهب دے. او دمالکؒ مذهب دادے. چه په توبه سره حد ساقط کیږی. او ډاکو کچرے دګرفتارئ نه مخکښ توبه او باسی نو دټولو په نزدئے حد ساقط کیږی. او دابن عباسؓ په نزدئے حدنۀ ساقط کیږی.

په بل روایت کښ دی چه حضرت صلی الله علیه وسلم پخپله په دغه ښځه باندِ مونځ او لوستو. حضرت عمرؓ اووے یا رسول الله! تاسو په دے باندِ مونځ کوئ او دا زنا کاره وه. او اختلاف کړے دے عالمانو په دے باره کښ دمالکؒ او احمدؒ په نزد به امام او بزرګ خلق پرے

دجنازے مونځ نۀ کوی (په دغه زنا کار مړی باندِ) او باقی خلق به پرے کوی، او دامام شافعیؒ په نزد به پرے ټول خلق مونځ دجنازے کوی، او دزهریؒ په نزد به پرے هیڅوك مونځ دجنازے نۀ کوی . او دقتادهؒ په نزد به په ولدِ زنا باندِ مونځ دجنازے نۀ کوی تردے پورے چه په فاسقانو فاجرانو او دحدودو په خاوندانو باندِ هُم . او دغے ښځے خو داسے کار کړے وو چه دسړونه هم نۀ شی کیدے. او زما په نزد خوددغے ښځے درجه او مرتبه دحضور صلی الله علیه وسلم دمانځه په طفیل سره ددے زمانے داولیائے کرام واو صلحاؤنه هم وراندِ ده ، والله اعلم بالصواب .

(۴۴۳۳) عَنْ عِمْرَانَ ابْنِ حُصَيْنٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ امْرَاَةً مِنْ جُهَيْنَةَ اَتَتْ نَبِیَّ اللهِ اَصَبْتُ حَداً فَاَقِمْهُ عَلَیَّ فَدَعَا نَبِیُّ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيَّهَا فَقَالَ اَحْسِنْ اِلَيْهَا فَاِذَا وَضَعَتْ فَاْتِنِیْ بِهَا فَفَعَلَ فَاَمَرَ بِهَا نَبِیُّ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشُكَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا ثُمَّ اَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ ثُمَّ صَلَّی عَلَيْهَا فَقَالَ لَهُ عُمَرُ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ تُصَلِّیْ عَلَيْهَا يَا رَسُوْلَ اللهِ وَ قَدْ زَنَتْ؟قَالَ لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِيْنَ مِنْ اهلِ الْمَدِيْنَةِ لَوَسِعَتْهُمْ وَهَلْ وَجَدْتَ تَوْبَةً اَفْضَلُ مِنْ اَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا لِلّٰهِ تَعَالٰی . [ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه :د عمران بن حصین رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه یوه ښځه د جهینه(قبیلے)د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغله او هغه د اِنا نه حامله وه،هغے عرض اوکړو اے د الله نبیؐ!ما د حد کار کړے دے،تاسو په ما باندِ حد اولګوئ،رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغے ولی را اوغوښتو او ورته ئے اوفرمائیل دا تۀ په ښه طریقه اوساته،او هر کله چه حمل لوزیږوی نو بیا ئے ما ته حاضره کړه، هغه داسے اوکړو،بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اوکړو چه د دے ښځے کپړے مضبوطے اوتړئ(د دے د پاره چه سترئے ښکاره نۀ شی،نوویؒ وائی یو هغه ښځه به ناستے رجم کولے شی او سړے به په ولاړے،دَ جمهورو دغه قول دے،او د مالكؒ په نزد به سړے هم په ناستے رجم کوی او څنو وئیلی دی چه امام لره اختیار دے)بیا (حضرتؐ)حکم اوکړو او هغه رجم کړے شوه،ورستو د دے نه ئے په هغے باندِ مونځ د جنازے ادا کړو،حضرت عمر رضی الله تعالی عنه اووے یا رسول الله!تۀ په دے باندِ مونځ کوے دے خو زِنا کړے وو؟حضرتؐ اوفرمائیل دے توبه هم ویستلی ده او داسے توبه ئے ویستلی ده چه کچرے د مدینے په اویا سړو بلندِ تقسیم کړے شی نو ټولو ته به پوره شی،او تا د دے نه غوره توبه کومه لیدلے ده،چه دے

خپل روح د الله جل شانه ذ رضا د پاره ورکړو.

فائده: سبحان الله! ذ داسې به څه اووې، الله تعالی دِ هغې لره اوبخښي او د هغې درجې دِ بلندې کړي، او په خپل رحمت سره دِ زمونږ ګنهګارو او مختورنو هُم مغفرت اوکړي. کوم کار چه هغه ښځې کړے دے، هغه په دے وخت کښې د ښو ښو بزرګانو او عالمانو او درویشانو نه هم نهٔ شی کیدے. روح ورکول خو ډیر لوئے کار دے. لره شان بے عزتی یا د دنیا تکلیف او سختی هم د دین د کار د پره نهٔ شی برداشت کولے، او ذ دنیا دارو په خوشامندو او چا پلوسئی کښې داسې غرق دی چه دین لره ئے په تاخ کښې ایخودے دے.

(۴۴۳۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَ زَیْدِ ابْنِ خَالِدِنِ الْجُهَنِیِّ اَنَّهُمَا قَالَ اِنَّ رَجُلًا مِّنَ الْاَعْرَابِ اَتٰی رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُوْلَ اللّٰهِ اَنْشُدُکَ اللّٰهَ اِلَّا قَضَیْتَ لِیْ بِکِتَابِ اللّٰهِ فَقَالَ الْخَصْمُ الْاٰخَرُ وَهُوَ اَفْقَهُ مِنْهُ نَعَمْ فَاقْضِ بَیْنَنَا بِکِتَابِ اللّٰهِ فَأْذَنْ لِّیْ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قُلْ فَقَالَ اِنَّ ابْنِیْ کَانَ عَسِیْفًا عَلٰی هٰذَا فَزَنٰی بِامْرَاَتِهٖ وَ اِنِّیْ اُخْبِرْتُ اَنَّ عَلَی ابْنِیْ الرَّجْمَ فَافْتَدَیْتُ مِنْهُ بِمِائَةِ شَاةٍ وَّ وَلِیْدَةٍ فَسَاَلْتُ اَهْلَ الْعِلْمِ فَاَخْبَرُوْنِیْ اَنَّمَا عَلَی ابْنِیْ جَلْدُ مِائَةٍ وَّ تَغْرِیْبُ عَامٍ وَّ اَنَّ عَلٰی امْرَاَةِ هٰذَا الرَّجْمَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَاَقْضِیَنَّ بَیْنَکُمَا بِکِتَابِ اللّٰهِ الْوَلِیْدَةُ وَالْغَنَمُ رَدٌّ وَ عَلَی ابْنِکَ جَلْدُ مِائَةٍ وَ تَغْرِیْبُ عَامٍ وَّاغْدُ یَا اُنَیْسُ اِلَی امْرَاَةِ هٰذَا فَاِنِ اعْتَرَفَتْ فَارْجُمْهَا قَالَ فَغَدَا عَلَیْهَا فَاعْتَرَفَتْ فَاَمَرَ بِهَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَتْ. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی، ابوداود]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه او د زید بن خالد جنهیؒ نه روایت دے دویٔ وائی چه یو بانډه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغے، او عرض ئے اوکړو زهٔ تاسوٚ څما فیصله د الله کتاب موافق اولړیٔ. بل د هغه مخالف چه هغه د ده نه زیات پو هه وو، اووے ډیره ښه ده تاسوٚ د الله کتاب موافق حکم اوکړیٔ، او اجازت راکړیٔ ما ته د خبرے کولو، حضرتؐ اوفرمائیل وایه، هغه اووے څما څویٔ د ده په کور کښې نوکر وو، هغه زِنا اوکړو د ده د بی بی سره ما ته خلقو اووے ستا په څویٔ بانډِ رجم دے، ما د هغې بدل ورکړو سل بزے او یوه وینځه بیا مَا د عالمانو نه تپوس اوکړو، هغویٔ لووے ستا څویٔ لره سل کوړے او د یو کال د پاره جلا وطن کول پکار دی او د ده په بی بی بانډِ رجم دے، جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل زهٔ به ستاسو ذ

دواړو فیصله د الله تعالی د کتاب موافق کوم، وینځه او بزې د واپس واخله، او ستا په ځوئ به سل کوړې لګولې شی او د یو کال پورې به د وطن نه بهر وی، او اے انیسؓ (بن ضحاك اسلمی چه اصحابی دے) سحر له ته د هغې ښځې خواله لاړ شه کچرې هغې د زنا اقرار اوکړو نو هغې لره رجم کړه، هغه (صحابی) سحر له د هغې خواله لاړو (او تپوس ئې اوکړو) هغې اقرار اوکړو، حضرتؐ حکم اوکړو او هغه رجم کړے شوه۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلی دی چه انیسؓ لره ئې ځکه اولیږو چه هغه ښځې لره خبر کړی چه دے سړی د خپل ځوئ سره په تا باندِ د زنا تهمت لګولے دے، او ته په هغه حدِ قصف لګولے شے، مګر هر کله چه د زنا اقرار اوکړی نو حدِ قصف به واجب نۀ وی، بلکه په ښځه باندِ د زِنا حد اولګی، او دا تاویل ضروری د چا د پاره چه د زنا حد د پره د انسی لیږل ضروری نۀ وو، بلکه کچرے زنا کار اقرار اوکړی بیا هم د هغه تعلیم وغیره مستحب دے لکه چه پورته تیر شولو۔

۴۴۳۸) عَنْ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُمَا اَخْبَرَهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِیَهُوْدِیٍّ وَّ یَهُوْدِیَّةٍ قَدْ زَنَیَا فَانْطَلَقَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰی جَآءَ یَهُوْدُ فَقَالَ مَا تَجِدُوْنَ فِی التَّوْرَاةِ عَلٰی مَنْ زَنٰی قَالُوْا نُسَوِّدُ وُجُوْهَهُمَا وَ نُحَمِّلُهُمَا وَ نُخَالِفُ بَیْنَ وُجُوْهِهِمَا وَ یُطَافُ بِهِمَا قَالَ فَاْتُوْا بِالتَّوْرَاةِ اِنْ كُنْتُمْ صَادِقِیْنَ فَجَآءَ وْ بِهَا فَقَرَءُ وْهَا حَتّٰی اِذَا مَرُّوْا بِاٰیَةِ الرَّجْمِ وَضَعَ الْفَتَی الَّذِیْ یَقْرَءُ یَدَهٗ عَلٰی اٰیَةِ الرَّجْمِ وَ قَرَاَ مَا بَیْنَ یَدَیْهَا وَمَا وَرَآءَهَا فَقَالَ لَهٗ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ سَلَامٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ وَهُوَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَلْیَرْفَعْ یَدَهٗ فَرَفَعَهَا فَاِذَا تَحْتَهَا اٰیَةُ الرَّجْمِ فَاَمَرَ بِهِمَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَرُجِمَا قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ ابْنُ عُمَرَ كُنْتُ فِیْمَنْ رَجَمَهُمَا فَلَقَدْ رَاَیْتُهٗ یَقِیْهَا مِنَ الْحِجَارَةِ بِنَفْسِهٖ۔

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله یو یهودی سړے راغے، او یوه یهودی ښځه راغله دواړو زنا کړے وو، نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د یهودو خواله تشریف یوړلو او تپوس ئې اوکړو په تورات کښ د زنا څه سزاء ده، هغوئ اووے مونږه د دواړو مخ تورَوو (په لوښ د پاسه) د یو مخ د یخوا او د بل مخ آخوا (یعنی د دواړو شا ګانې میلاؤ وی د دے د پاره چه خلق د دواړو مخونه او وینی،) بیا هغوئ لره

چکـر ورکولے شی، حضرتؐ اوفرمائیل بنه ده تورات راوړئ کچرے تاسو ربښتیا وایئ، هغوئ تورات راوړو او لوستل ئے شروع کړو، هر کله چه دَ رجم آیت راغے نو کوم سړی چه لوستلو هغه خپل لا په دغه آیت باندِ کیښودو، او وراندِ ورستو مضمون ئے تربے اولوستو، عبدالله بن سلامؓ (د یهودیانو عالم چه مسلمان شویے وو) هغهؓ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو، هغوئؓ اووے تاسوَ دے سړی تـه اووایئ چه خپل لاس اوچت کړی . هغه لاس اوچت کړو نو رجم آیت د لاس لاندِ رااووتو، بیا حضرتؐ حکم ورکړو، او هغه دواړه رجم کړے شول، عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه وائی زهٔ په هغه خلقو کښ وُم چا چه رجم کولو ما لیدل چه سړی به ښځے لره بچ کوله پخپل ځان سره د ګتونه یعنی ګتے به ئے پخپل ځان اخستے د محبت نه۔

فائده:نووی علیه الرّحمة وائی د دے حدیث نه د معلومه شوه چه په کافر باندِ د زِنا حد واجب د او د هغـه سره نکاح صحیح دے، ورنه محصن به څنګه وی، او په کافر باندِ د فروعِ دین هـم حکـم دے ، او د کـفارو مـقـدمـه چـه هـر کله مسلمان له راشِی، نو دَ د شریعت موافق حکم ورکـول پـکـار دی، او حـضـرتؐ د یهودونه نه معلومات اوکړو هغوئ ته دَ الزام ورکولو د پاره نهٔ د دے وجے نه چه د هغوئ تقلید منظور وو، (انتهی مختصراً)

(۴۴۳۸) عـن ابـن عـمـر رضی الله تعالی عَنهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَمَ فِیْ الزِّنَا یَهُوْدِیَّیْنَ رجلاً وَ امرأةً زنیا فاتت الْیَهُوْدُ الی رَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِهِمَا وَ سَاقُوْا الْحَدِیْثَ بِنَحْوِهِ . [ابوداود . ترمذی]

ترجمه :د عبدالله بـن عـمـر رضـی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علـیـه وسـلـم پـه زنـا کـښـے رجـم وکـړو دوه یهودیانو لره چه یو سړے وو او یوه ښځه وه، نو یهود د جنـاب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغلو، بیائے بیان کړو حدیث په هغه شان لکه چه پورته تیر شولو۔

(۴۴۴۰) عن الْبـراءِ ابـن عـازِب قال مُرَّ عَلے النَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِیَهُوْدِیٍّ مُحَمَّمًا مَجْلُوْدًا فَدَعَاهُمْ فـقـال هـکـذا تـجدُوْن حدَّ الزَّانِیْ فِیْ کِتَابِکُمْ؟فَقَالُوْا نعم فدعا رَجُلًا مِّنْ عُلَمَآئِهِمْ فَقَالَ اَنْشُدُکَ بِاللهِ الَّذِیْ اَنْزَلَ التَّوْرٰةَ علے مُوْسٰی عَلَیْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ اَهٰکَذَا تَجِدُوْنَ حَدَّ الزَّانِیْ فِیْ کِتَابِکُمْ؟قَالَ لَا وَلَوْ اَنَّکَ

أَنْشُدُ تُنِيْ بِهٰذَا الَمْ أُخْبِرْكَ نَجِدُهُ الرَّجْمِ وَلٰكِنَّهُ اَكْثَرَ فِيْ اَشْرَافِنَا فَكُنَّا،اِذَا اَخَذْنَا الضَّعِيْفَ اَقَمْنَا عَلَيْهِ الْحَدَّ قُلْنَا تَعَالَوْا فَلْنَجْتَمِعْ عَلٰى شَيْئٍ نُقِيْمُهُ عَلَى الشَّرِيْفِ وَالْوَضِيْعِ فَجَعَلْنَا التَّحْمِيْنَ وَالْجَلْدَ مَكَانَ الرَّجْمِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَوَّلُ مَنْ اَحْيٰى اَمْرَكَ اِذْ اَمَاتُوْهُ فَاَمَرَ بِهِ فَرُجِمَ فَاَنْزَلَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ يَا اَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ اِلٰى قَوْلِهِ اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ يَقُوْلُ اِئْتُوْا مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاِنْ اَمَرَكُمْ بِالتَّحْمِيْمِ وَالْجَلْدِ فَخُذُوْهُ وَاِنْ اَفْتَاكُمْ بِالرَّجْمِ فَاحْذَرُوْا فَاَنْزَلَ اللهُ تَعَالٰى وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكَافِرُوْنَ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ وَ مَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَا اَنْزَلَ اللهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ فِي الْكُفَّارِ كُلُّهَا. [ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه: د براء بن عازبؓ نه روايت دے وائي چه د رسول الله صلى الله عليه وسلم په مخکښې يو يهودي تير شو، چه په کوئلے سره تور شوے وو او کوړے ئے خوړلے وے، حضرتؐ يهوديان را اوغوښتل او ورته ئے اوفرمائيل ، اے تاسو په کتاب کښې د زنا کار د پاره دغه سزا ده؟ هغوئ اووے هان،بيا حضرتؐ د هغوئ د عالمانو نه يو سړے را اوغوښتو او ورته ئے اوفرمائيل زهٔ تا له په هغه الله قسم درکوم چا چه تورات په موسٰى عليه السلام نازل کړے دے،اے ستاسو په کتاب کښې د زنا دغه حد دے؟ هغه اووے نهٔ،او کچرے ما ته دا قسم نهٔ وے راکړے نو ما درته نهٔ وئيلو،زمونږ په کتاب کښې خو د زنا حد رجم دے ليکن په مونږ کښې عزتمندو خلقو ډير زنا کول شروع کړو،نو هر کله چه به يو غټ سړے په زنا کښې اونيوۀ نو هغه به مو پريخودو او هر کله چه به مونږ غريب سړے اونيوو نو په هغه به مو حد جاري کولو،آخر مونږه اووے چه ټول راجمع شو او يوه سزا مقرر کړو چه شريف او رزيل ټولو له ورکولے شي،بيا مونږ په کوئله سره مخ توره ول او کوړے لګول د رجم په بدله مقرر کړل،پس رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل،اے الله د هر څه نه مخکښې زهٔ ستا حکم ژوندے کوم، هر کله چه خلقو هغه لره په کوړو اووَهو بيا حضرتؐ حکم اوکړو او رجم کړے شو بيا الله تعالى دا ايت نازل کړو" يٰاَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِي الْكُفْرِ "تر دے پورے چه اوئے فرمائيل " اِنْ اُوْتِيْتُمْ هٰذَا فَخُذُوْهُ "يعنے يهود دا وائي چه د محمد صلى الله عليه وسلم خواله ځئ، کچرے هغوئ د مخ تورَولو او کوړو لګولو حکم درکوی نو په هغے باندِ عمل کوئ،او که دَ رجم کولو فتوئ درکوئ نو ځان ترے اوساتئ(يعنی

مۀ نے منی)بیا اللہ تعال دا ایتونه نازل کړو. څوك چه د الله تعالی د رالیږلی شوی(قانون)موافق فیصله نۀ کوی هغه کافران دی. څوك د الله تعالی د رالیږلی شوی(قانون)موافق فیصله نۀ کوی هغه ظالمان دی. څوك چه د الله تعالی د رالیږلی(کتاب)موافق فیصله نۀ کوی هغه فاسقان دی. دا ټول ایتونه د کافرانو په حق کښے نازل شوی دی.

(۴۴۴۲) عَنْ جَابِرِ ابْنِ عَبْدِاللهِ رضی الله تعالی عنه يَقُوْلُ رَجَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَسْلَمَ وَ رَجُلًا مِّنَ الْيَهُوْدِ وَامْرَاَتَهُ. [ابوداود]

ترجمه: د جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلم (د قبیلے) یو سړے رجم کړو، او د یهودو نه یو سړی او یوے ښځے لره.

فائده: او غامدیه یو ښځے لره چه د ازد (قبیلے) نه وه.

(۴۴۴۴) عَنْ اَبِیْ اِسْحٰقَ الشَّيْبَانِيِّ قَالَ سَاَلْتُ عَبْدَ اللهِ ابْنَ اَبِیْ اَوْفٰی رضی الله تعالی عنه هَلْ رَجَمَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَقُلْتُ بَعْدَ مَا اُنْزِلَتْ سُوْرَةُ النُّوْرِ اَمْ قَبْلَهَا؟ قَالَ لَا اَدْرِیْ. [بخاری]

ترجمه: د ابو اسحق شیبانی ؒ نه روایت دے ما د عبدالله بن ابی اوفیٰ ؓ نه تپوس اوکړو ایے رسول الله صلی الله علیه وسلم رجم کړے دے؟ هغوئ اووے هاں، ما اووے د سوره نور د نازلیدو نه وروستو یا مخکښں؟ هغوئ اووے د دے ماته علم نشته.

فائده : ابو اسحق رضی الله تعالی عنه دا تپوس څکه اوکړو چه په سوره النور کښں د زنا حد سل کوړے ذکر دی، مګر مراد د دے نه هغه زانی او زانیه دی چه هغه محصن نۀ وی (یعنی واده ئے نۀ وی شوے) وره رجم کولے به شی او په دے بانډِ اجماع ده. د علماؤ لکه چه پورته تیر شو.

(۴۴۴۵) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رضی الله تعالی عنه اَنَّهٗ سَمِعَهٗ يَقُوْلُ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ اِذَا زَنَتْ اَمَةُ اَحَدِكُمْ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ اِنْ زَنَتْ فَلْيَجْلِدْهَا الْحَدَّ وَلَا يُثَرِّبْ عَلَيْهَا ثُمَّ اِنْ زَنَتِ الثَّالِثَةَ فَتَبَيَّنَ زِنَاهَا فَلْيَبِعْهَا وَلَوْ بِحَبْلٍ مِّنْ شَعَرٍ. [بخاری]

ترجمه: د ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه بیشکه اوریدلی دی ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئے وو، پتاسو کښں چه د چا وینځه زِنا اوکړی او د هغے

زنا ثابت شي (په گواهانو سره يا په اقرار سره)نو هغې ته به حد كوړے لگوئ اگر كه دهغې نكاح شوے وى . ولے چه په وينځه او غلام باندِ رجم نشته دے. او نه به رټئ هغوئ لره بيا كچرے زنا ترے او شو نو بيا به پرے دحد كوړے او لگوئ او نۀ به رټئ هغوئ لره . بيا كه په دريم وار ترے زنا اوشى او دهغے زنا ثابت شي نو هغے لره خرڅه كړئ اگر كه دويښتو رسئ قدرے دهغے قيمت راشي-

فائده : نووى عليه الرحمه وائى ددے نه معلومه شوه چه مالك په خپله وينځه غلام حد لگولے شي ، دشافعیؒ او مالكؒ او جمهورو علماؤ قول دے او دابو حنيفة په نزد دادحاكم كار دے. او ددريم وار په زنا كښ هم حد لگول پكار دى، كچرے څوكرته ئے زنا اوكړو ليكن حد پرے او نۀ لگيدو نو ددغه ټولو دپاره يو حد كافي دے. او دخرڅولو حكم دجمهورو په نزد استحبابا دے. اود داودؒ او اهل ظاهرو په نزد واجب دے (انتهى مختصراً)

(۴۳۴۷) عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْاَمَةِ اِذَازَنَتْ وَلَمْ تُحْصِنْ قَالَ اِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوْهَا ثُمَّ اِنْ زَنَتْ فَاجْلِدُوْهَا ثُمَّ بِيْعُوْهَاوَلَوْ بِضَفِيْرٍ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ لَا اَدْرِیْ اَبَعْدَ الثَّالِثَةِ اَوِ الرَّابِعَةِ وَقَالَ الْقَعْنَبِیُّ فِیْ رِوَايَتِهٖ قَالَ ابْنُ شِهَابٍ وَالضَّفِيْرُ الْحَبْلُ . [بخارى ، ابوداود ، ترمذى ، ابن ماجه]

ترجمه: دابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه دجناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نه تپوس اوكړے شو. وينځه چه واده نۀ وى او زنا اوكړى نو څه سزا به ئے وى حضرتؐ او فرمائيل هغه په كوړو او وهئ . كه بيائے زنا وكړو بيائے اووهئ او كه بيائے زنا اوكړو نو بيا پرے كوړے او لگوئ . بيا هغے لره خرڅه كړئ اگر كه ديوے رسئ قيمت پرے راشي ، ابن شهابؒ ته شك دے چه دخرڅولو حكم حضرتؐ ددريم ځل نه پس وركړو ، او كه دڅلورم ځل نۀ پس .

(۴۳۵۰) عَنْ اَبِیْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ خَطَبَ عَلِیٌّ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهٗ فَقَالَ يَا اَيُّهَا النَّاسُ اَقِيْمُوْ عَلٰی اَرِقَّائِكُمُ الْحَدَّ مَنْ اَحْصَنَ مِنْهُمْ وَمَنْ لَّمْ يُحْصِنْ فَاِنَّ اَمَةً لِّرَسُوْلِ اللهِ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زَنَتْ فَاَمَرَنِیْ اَنْ اَجْلِدَهَا فَاِذَاهِیَ حَدِيْثُ عَهْدٍ بِنِفَاسٍ فَخَشِيْتُ اِنْ اَنَا جَلَدْتُّهَا اَنْ اَقْتُلَهَا فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِلنَّبِیِّ صَلَّے اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَحْسَنْتَ . [ترمذى]

ترجمه: دابو عبدالرحمنؒ نه روایت دے واتی چه حضرت علی کرم الله وجهه خطبه لوستله نو اوئے فرمائیل، اے خلقو! په خپلو وینځو او غلامانو باندِ حد لګوئ، خواه که هغه محصن وی یا غیر محصن ولے چه درسول الله صلی الله علیه وسلم یوے وینځے زنا اوکړو حضرتؐ ماته په هغے دحد لګولو حکم اوکړو، چه اوم کتل نو هغے بچے زیږولے وو. زهٔ او ویریدم چه کچرے دا په کوړو اووهم او مړه شی. پس ما جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بیان اوکړو نو حضرتؐ او فرمائیل تا ښه اوکړو (نو په دغه وخت ئے کوړے لګول پاتے کړو)۔

(۴۴۵۱) عَنِ السُّدِيِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَلَمْ يَذْكُرْ مَنْ اَحْصَنَ مِنْهُمْ وَمَنْ لَّمْ يُحْصِنْ وَزَادَ فِي الْحَدِيْثِ اُتْرُكْهَا حَتّٰى تَمَاثَلَ.

ترجمه: دسدیؒ نه په دغه اسناد سره روایت دے لکه چه پورته تیرشولو مګر دومره زیاته ده، چه زهٔ دے لره پریږدم دهغے پورے چه ښه شی (یعنی دنفاس پاکه شی دغه حکم دے دناجوړه په ده به هم حد نهٔ لګوی تر څو چه صحت مند شوے نهٔ وی۔)

بَابُ حَدِّ الْخَمْرِ.

د شرابو د حد بیان.

(۴۴۵۲) عَنْ اَنَسِ ابْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُتِيَ بِرَجُلٍ قَدْ شَرِبَ الْخَمْرَ فَجَلَدَهٗ بِجَرِيْدَتَيْنِ نَحْوَ اَرْبَعِيْنَ قَالَ وَ فَعَلَهٗ اَبُوْبَكْرٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ فَلَمَّا كَانَ عُمَرُ اسْتَشَارَ النَّاسَ فَقَالَ عَبْدُالرَّحْمٰنِ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَخَفَّ الْحُدُوْدِ ثَمَانِيْنَ فَاَمَرَ بِهٖ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: د انس بن مالكؓ نه روایت دے، چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړے حاضر کړے شو چه هغه شراب څښلی وو، حضرتؐ هغه لره په دوه لختو سره څلویښت واره اووهو او دغه شان به حضرت ابوبکر رضی الله عنه هم کولو. هر کله چه دَ حضرت عمر رضی الله تعالی عنه زمانه شوه نو هغویؓ دَ خلقو نه مشوره واخسته، عبدالرحمن بن عوف اووے په ټولو حدونو کښں نرےاتیا کوړے دی (یعنی حدٌ قذف کوم چه قرآن کښں راغلے دے) بیا حضرت عمر رضی الله تعالی عنه دَ اتیار کوړو حکم ورکوؤ (د شرابی د پاره)

(۴۴۵۴) عن انس ابن مالك رضی الله تعالى عنه ان نبیّ الله صلی الله علیه وسلم جلد فی الخمر بالجرید والنعال ثمّ جلد ابوبكر رضی الله تعالى عنه اربعین فلمّا كان عمر رضی الله تعالى عنه ودنا الناس من الریف والقرى قال ما ترون فی جلد الخمر؟ قال عبدالرحمن ابن عوف رضی الله تعالى عنه ارى ان تجعلها كاخفّ الحدود قال فجلد عمر ثمانین. [بخاری، ابن ماجه]

ترجمه: د انس بن مالك رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په شراب څښلو كښې وهشتلو په ښاښونو او پیزارونو سره،بیا به ابوبكرؓ څلوېښت كوړے وركولے هر كله چه د حضرت عمرؓ زمانه شوله او خلق نزدے شول ورشوګانو ته او كلو ته نو هغویؓ اووے ستاسو څه رائے دے دَ شراوبو په حَد كښې،عبدالرحمن بن عوف اووے څما رائے خو دا دے چه تاسو دے لره د ټولو نه دَ كمزوری حد برابر اوساتئ،بیا به حضرت عمرؓ اتیا كوړے لګولے۔

(۴۴۵۶) عَنْ اَنَسٍ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ كَانَ یَضْرِبُ فِی الْخَمْرِ بِالنِّعَالِ وَالْجَرِیْدِ اَرْبَعِیْنَ ثُمَّ ذَكَرَ نَحْوَ حَدِیْثِهِمَا وَلَمْ یَذْكُرِ الرِّیْفَ وَالْقُرٰى. [راجع: ۴۴۵۴]

ترجمه: دَ انس رضی الله تعالی عنه نه روایت دے،چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم به د شرابو په(حد)كښې څلوېښت ګذاره وركولو په ښاښونو او پیزارونو سره،بیا نے ذكر كړو په مثل د حدیث د دے دواړو،او نهٔ نے دی ذكر كړی ورشوګانے او كلی۔

(۴۴۵۷) عن حضین ابن المنذر ابو ساسان قال شهدت عثمان ابن عفّان رضی الله تعالى عنه اتی بالولید قد صلّى الصبح ركعتین ثمّ قال ازیدكم فشهد علیه رجلان احدهما حمران انّه شرب الخمر و شهد اخر انّه راٰه یتقیّا فقال عثمان انّه لم یتقیّا حتّى شربها فقال یا علیّ رضی الله تعالى عنه قم فاجلده فقال علیّ قم یا حسن فاجلده فقال الحسن ولّ حارها من تولّى قارّها فكانّه وجد علیه فقال یا عبدالله ابن جعفر قم فاجلده فجلده و علیّ رضی الله تعالى عنه یعدّ حتّى بلغ اربعین فقال امسك ثمّ قال جلد النبیّ صلّى الله علیه وسلّم اربعین و ابوبكر رضی الله تعالى عنه اربعین و عمر رضی الله تعالى عنه ثمانین و كلّ سنّة و هذا احبّ الیّ زاد علیّ ابن حجر فی روایته قال اسمعیل وقد سمعت حدیث الدناج منه فلم احفظه. [ابوداود ،ابن ماجه]

ترجمه: د حصین بن منذرؒ نه روایت دے وائی چه زهٔ د عثمان بن عفان رضی الله تعالی عنه سره موجود وُم چه ولید بن عقبه راوستے شو، هغوی د سحر(مونځ)دوه رکعته ادا کړی وو بیا ئے اووے زهٔ زیات کوم ستاسو د پره،نو دوه سړو په ولید باندِ ګواهی ورکړه،یو حمران اووے چه ده شراب څښلی دی،دویم دا ګواهی ورکړه چه ده څما په مخکښ د شرابو قے کولو، حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه اووے،کچرے ده شراب څښلے نهٔ وے نو د شرابو قے به ئے د کوم ځائے نه کول ، پس حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه حضرت علیؓ ته اووسه پاسَه او په ده حد اولګوه،(دا حضرت عثمانؓ حضرت علی کرم الله وجهه د عزت او عظمت د زیاتولو د پاره حکم ورکړو،او امام لره دا امر جائز دے) حضرت علی کرم الله وجهه حضرت امام حسن رضی الله تعالی عنه ته اوفرمائیل،اے حسنہ!پاسَه او ده ته کوړے اولګوه،امام حسن رضی الله تعالی عنهٔ اووے،حضرت عثمانؓ د خلافت یخ والے ئے اخستے دے نو ګرمی هم په ده باندِ کیږده،حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه په دے خبره باندِ امام حسن رضی الله تعالی عنه ته غصه شولو،او اوئے وئیل اے عبدالله بن جعفره پاسه او ولید ته کوړے ورکړه،هغوی پاڅیدو لو په ولید ئے کوړے اولګولے او حضرت علی کرم الله عجهه به شمارلے هر کله چه ئے څلویښت کوړے اولګولے پس حضرت علی کرم الله وجهه اووے،بس اودریږه بیا ئے رسول الله صلی الله علیه وسلم څلویښت کوړے لګولی دی،او حضرت ابوبکر رضی الله عنه هم څلویښت لګولی دی،او حضرت عمر رضی الله عنه اتیا لګولی دی،او ټول سنت دی او څما په نزد څلویښت لګول غوره دی۔

فائده : پس د شرابو په قے باندِ ګواهی ورکول لکه د شرابو په څښلو باندِ ګواهی ورکول دی،نو دوه ګواهان د شرابو څښلو شول،نوویؒ وائی په دے کښے دلیل دے دَ امامِ مالکؒ چه کوم سړے د شرابو قے اوکړی په هغه به حد لګولے شی۔

او زمونږ مذهب دا دے چه یواځی په قی کولو سره حد نهٔ لازمیږی ولے چه احتمال دے چه ده د ناپوهئ نه څښلی وی یا پرے په زور سره چا څښلی وی،او دلیل دَ امامِ مالکؒ قوی دے ولے چه اصحابوؓ اتفاق اوکړو په ولید باند دَ حَدُ لګولو دَ پارَه۔

یعنی د خلافت مزے روئ لوټ کړے اوس چه کومے د تکلیف خبرے دی هغه هم دوئ ته پریږده،دا امام حسن علیه السلام د صلاح او مشورے په طور حضرت علی رضی الله تعالی عنه ته اووے، چه مونږ ته څه ضرورت دے چه کورے خو د مونږ ورکوۀ ،او د خلقو سره دشمنی د مونږ کوۀ .او د خلافت خوند دِ حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه اوڅټوی۔

نووی وائی د دے حدیث نه دا معلومه شوه چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د احکامو ښه عظمت کولو .او د هغوئ حکم او قول لره ئے سنت ګنړلو .دغه شان د حضرت ابوبکرؓ هُم .او رد راغے د شعیه ګانو چه حغ د دے برخلاف ګنړی۔

او دا هم ثابته شوه چه د خلفائے راشدینو فعل او قول د دین په خبر کښ سنت دے اګر که مونږ ته د هغے دلیل معلوم نۀ وی،او په بل حدیث کښ صفا راغلے دی، چه څما په سنتو باندِ عمل کوئ او د خلفائے راشیدینو په سنتو باندِ۔

او د مسلم د روایت نه ثابتیږی، چه حضرت علی رضی الله تعالی عنه ولیدؓ ته څلویښت کوړے اولګولے .لیکن دَ صحیح بخاری د روایت نه معلومیږی چه اتیا کوړے ئے اولګولے حالانکه دا واقعه بس دغه لیوه ده

قاضی عیاضؒ وئیلے دی مشهور مذهب د حضرت علی کرم الله وجهه دا دے، چه د شرابو حد اتیا کوړے هغوئ وائی که شراب ئے لږ څښلی وی یا ډیر . په دے کښ اتیا کوړے دی او د هغوئ نه منقول دی نجاشی ته اتیا کوړے لګول،او دا هم مشهوره ده چه حضرت علی رضی الله تعال عنه حضرت عمر رضی الله تعالی عنه ته په شرابو کښے دَ اتیا کورو دَ حد لګولو صلاح ورکړے وه ،او د دے خبرو نه د بخاری روایت ته ترجیح کیږی او دا اختلاف په دے شان لرے کیدے شی چه د هغه کوړے دوه سرونه وی نو دڅلویښتو نه اتیا شولے ، او دا هم احتمال دے چه دا " هٰذا اَحَبُّ اِلَیَّ" چه کوم په حدیث کښ دی ددے نه مراد اتیا کوړے وی ، مګر په دے صورت کښ دڅلویښتو نه پس ئے داودریدلو ولے حکم ورکړو ، والله اعلم انتهی مع زیادة۔

امام نووی علیه الرحمه وئیلے دی ، چه مسلمانانو اتفاق کړے دے دشرابو په حرام والی

بانډِ ، او دهغے په څښلو والا بانډِ په حد لګولو کښے خواه که لږ او څښي يا ډير ، او اجماع ئے کړے ده چه شراب څکونکے به نهٔ قتليږي ، اګر که بيا بيائے او څښي او قاضي عياضؒ ديو طائفه شاذه نه نقل کړے دی چه څلور ځله به ورته کوړے لګوی او په پنځم ځل به ئے وژنی ، په وجه ددے حديث چه په دے کښ د" فَاقتُلُوهُ "لفظ دے ، او دا حديث منسوخ دے چه ناسخ ددے هغه حديث دے کوم چه پورته تير شولو" لَا يَحِلُّ دَمِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِاِحْدٰی ثَلٰثٍ " دآخره پورے ، او دلالت کوی په نسخ بانډِ ددے په خلاف بانډِ اجماع کيدل۔

او اختلاف کړے ددے علماؤ چه دشرابو حد څومره کوړے دی ، نو دشافعیؒ اوابو ثورؒ او داودؒ او اهل ظاهر څلويښت کوړے دی ، او دمالکؒ او ابو حنيفهؒ اوزاعیؒ او ثوریؒ او احمدؒ او اسحٰقؒ په نزد اتيا کوړے دی ، او اجماع کړے ده علماؤ چه دا څلويښت يا اتيا ځله خواه که په کوړه سره وهی يا پيزار سره خواه که په لخته سره ، خوا په کپړه سره ، او ځنو دکوړے نه علاوه په نورځيزونو سره جائز نهٔ دی ګرځولی او دا غلط فاحش دے ولے چه دصحيح احاديثو خلاف دے (انتهٰی مختصرًا)

(۴۴۵۸) عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ مَا كُنْتُ اُقِيْمُ عَلٰى اَحَدٍ حَدًّا فَيَمُوْتُ فِيْهِ فَاَجِدُ مِنْهُ فِيْ نَفْسِيْ اِلَّا صَاحِبَ الْخَمْرِ لِاَنَّهٗ لِاَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَسُنَّهٗ . [بخاری ، ابو داود ، ابن ماجه]

ترجمه : دحضرت علی رضی الله تعالی عنه نه روايت دے فرمائی که چرے زهٔ په چا بانډِ حد قائم کړم او هغه مړ شی په هغے کښ نو ځما څه پرواه نهٔ وی ، مګر دشرابو په حد کښے کچرے څوک مړ شی نو زهٔ دهغے دِيَتْ ورکوم ولے چه حضرت صلی الله عليه وسلم دے لره بيان نهٔ دے فرمائيلے ۔

فائده: يعنی په دے کښ څه حد معين نشته ، نوویؒ وائی علماؤ اجماع کړے ده چه په چا بانډِ دشرع حدواجب شی ، بيا امام ياد هغه جلاد په هغه حد اولګوی او هغه پکښ مړ شی نو نهٔ ئے ديت شته نهٔ کفاره ، نهٔ په امام بانډِ نهٔ په جلاد بانډِ او نهٔ په بيت المال بانډِ او څوك چه په تعزيز سره مړ شِی نو په هغے کښ ديت او کفاره ده ، ليکن ديت دامام به په عاقله بانډِ وی نه کفاره به خاص دهغه دمال نه ورکيدے شِی ، او دځنو په نزد په بعزيز کښے هم څه تاوان ورکول

نشته، نۀ په امام نۀ دهغه په عاقله او نۀ بیت المال باندِ انتهی۔

بَابُ قَدْرِ اَسْوَاطِ التَّعْزِيْر .

په تعزیر کښې دڅومره کوړو پورې لګول جائز دی .

(۴۴۶۰) عَنْ اَبِیْ بُرْدَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ اَنَّہٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ یَقُوْلُ لَایُجْلَدُ اَحَدٌ فَوْقَ عَشْرَۃِ اَسْوَاطٍ اِلَّا فِیْ حَدٍّ مِّنْ حُدُوْدِ اللّٰہِ . [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دابوبرده رضی الله تعالی عنه نه روایت دے، هغوئ اوریدلی دی درسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئے وو هیڅوک دنۀ شی وهلے دلسو کوړونه زیات مګر په حد کښے دالله تعالی دحدونو نه۔

فائده : دامام احمد رحمه الله دغه مذهب دے، او دجمهور علماؤ په نز دلسو نه زیاتے هم صحیح دی لیکن دامام مالك رحمه الله علیه په نزد دهغے څه حد نشته، تردے پورے چه امام ئے مناسب اوګنړی، اګر که دحد نه هم زیاتے وی ولے چه حضرت عمرؓ داسے کړے دی، او دابو حنیفه رحمه الله په نزد دڅلویښتو نه زیاتے کوړے ورکول روائۀ دی، او دشافعی رحمه الله په نزد . آزاد لره دڅلویښتو نه او غلام لره دشلو نه زیات لګول درست نۀ دی . او صحیح دامام احمد رحمه الله مذهب دے۔

بَابُ الْحُدُوْدُ كَفَّارَاتٌ لِاَهْلِهَا .

په حد لګولو سره ګناه ختمیږی .

(۴۴۶۱) عَنْ عُبَادَۃَ ابْنُ صَامِتٍ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْہُ قَالَ کُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ مَعَ مَجْلِسٍ فَقَالَ تُبَایِعُوْنِیْ علی اَنْ لَّا تُشْرِکُوْا بِاللّٰہِ شَیْئًا وَّلَا تَزْنُوْا وَلَا تَسْرِقُوْا وَلَا تَقْتُلُوْا النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللّٰہُ اِلَّا بِالْحَقِّ فَمَنْ وَفٰی مِنْکُمْ فَاَجْرُہٗ عَلَی اللّٰہِ وَمَنْ اَصَابَ شَیْئًا مِّنْ ذٰلِکَ فَعُوْقِبَ بِہٖ فَھُوَ کَفَّارَۃٌ لَّہٗ وَمَنْ اَصَابَ شَیْئًا مِّنْ ذٰلِکَ فَسَتَرَہُ اللّٰہُ عَلَیْہِ فَاَمْرُہٗ اِلَی اللّٰہِ اِنْ شَآءَ عَفَا عَنْہُ وَاِنْ شَآءَ عَذَّبَہٗ . [بخاری، ترمذی، نسائی]

ترجمه: دعباده بن صامتؓ نه روایت دے وائی چه مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو حضرت صلی الله علیه وسلم او فرمائیل بیعتؓ اوکړئ ځما نه په دے اقرار باندِ چه

دالله تعالی سره به هیڅ لره شریك نۀ ګرځوئ، او زنا او غلا او ناحقه وینه تویول څه چه الله تعالی حرام کړے دی هغه به نۀ کوئ، پس هر هغه چا چه خپل اقرار پوره کړو د هغے ثواب به په الله تعالی بانـدِ وی، او څوك چه یو كار ددے کارونو نه کوی هغه ته به سزاء په دے دنیا کښے ورکیدے شی (یعنی حد به پرے لګی)نو دغه دده ګناه کفاره ده، او چا چه په دنیا کښے دالله تعالی دے کار لره پټ کړونو(په آخرت کښے) الله تعالی لره اختیار دے که خوښه ئے شی معاف به ئے کړی او که خوښه ئے شی عذاب به ورکړی۔

فائده: امام نووی رحمه الله وئیلے دی ، څوك چه یو كار ددے کارونو نه کوی مراد ددے نه هغه ګناهونه دی کوم چه سوا دشرك نه ذکر شول ، ولے چه دشرك بخښنه نشته دے او نۀ دهغے څه کفاره شته دے۔

(۴۴۶۲) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ وَزَادَ فِی الْحَدِیْثِ فَتَلٰی عَلَیْنَا اٰیَةَ النِّسَآءِ اَنْ لَّا یُشْرِکْنَ بِاللّٰهِ شَیْئًا الْاٰیَةَ .[راجع : ۴۴۶۱]

ترجمه: دزهریؒ نه دپورته روایت به مثل روایت دے په دے کښې دومره زیاته ده چه حضرت ؐدښځو دا ایات اولوستو " اَنْ لَّا یُشْرِکْنَ بِاللّٰهِ شَیْئًا" دآخیره پورے۔

(۴۴۶۳) عَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ قَالَ اَخَذَ عَلَیْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ کَمَا اَخَذَ عَلَی النِّسَآءِ بِاللّٰهِ شَیْئًا وَلَا وَلَا نَسْرِقَ وَلَا نَزْنِیَ وَلَا نَقْتُلَ اَوْ لَا دَنَا وَلَا یَعْضُهُ بَعْضُنَا بَعْضًا فَمَنْ وَفَا مِنْکُمْ فَاَجْرُهٗ عَلَی اللّٰهِ وَمَنْ اَتٰی مِنْکُمْ حَدًّا فَاُقِیْمَ عَلَیْهِ فَهُوَ کَفَّارَتُهٗ وَمَنْ سَتَرَهُ اللّٰهُ عَلَیْهِ فَاَمْرُهٗ اِلَی اللّٰهِ اِنْ شَآءَ عَذَّبَهٗ وَاِنْ شَآءَ غَفَرَلَهٗ . [ابن ماجه]

ترجمه: د عباده بن صامت رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ سرونه هم هغه شان بیعت واخستو لکه څنګه چه ئے د ښځو نه اخستے وو په دے خبرو بانـدِ چه مونږ به د الله تعالی سره شریك نه ګرځوؤ هیڅ شی لره او نه به غلا کوؤ نۀ به زنا کوؤ نه به خپل اولاد وژنو نۀ به په یو بل طوفان جوړوو(یا جادو کوو)پس هر هغه چا په پوره کړو ستاسو نـه د څـه حد کار اوکړی او حد اولګی په هغه بانـدِ نو دغه ئے د ګناه کفاره ده،او کوم چه الله تعالی پټ کړی د هغه ګناه لره(نو د قیامت په ورځ)الله تعالی ته اختیار دے که خوښه ئے شوه

په عذاب به ئے کړی او که خوښه ئے شوه او به ئے بخښی۔

(۴۴۶۴) عَنْ عُبَادَةَ ابْنِ الصَّامِتِ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ قَالَ اِنِّیْ مِنَ النُّقَبَآءِ الَّذِیْنَ بَایَعُوْا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ بَایَعْنَاهُ عَلٰی اَنْ لَّا نُشْرِکَ بِاللّٰهِ شَیْئًا وَّلَا نَزْنِیَ وَلَا نَسْرِقَ وَلَا نَقْتُلَ النَّفْسَ الَّتِیْ حَرَّمَ اللّٰهُ بِالْحَقِّ وَلَا نَنْتَهِبَ وَلَا نَعْصِیَ فَالْجَنَّةُ اِنْ فَعَلْنَا ذٰلِکَ فَاِنْ غَشِیْنَا مِنْ ذٰلِکَ شَیْئًا کَانَ قَضَآءُ ذٰلِکَ اِلَی اللّٰهِ تَعَالٰی وَقَالَ ابْنُ رُمْحٍ کَانَ قَضَآءُهٗ اِلَی اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ. [بخاری]

ترجمه: د عباده بن صامت رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے،فرمائی چه زهٔ د هغه سردارانو نهٔ وُم چا چه بیعت کړے وو دَ جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نهٔ، هغویٔ فرمائی چه مونږ بیعت کړے وو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په دے شرطونو باندِ چه هیڅ شے به د الله سره شریك نهٔ گرځوو،نه به زنا کوو نهٔ غلا،نهٔ به په ناحقه وینے تویوو چه هغے لره الله تعالی حرام کړے دی مگر د حق په بدله(یعنے په قصاص یا حد کښے)نه به لوټ کوو نه به نافرمانی کوو(د الله جل شانه په دے کښں ټول گناهونه راغلو)کچرے مونږ داسے کوو نو زمونږ د پاره جنت دے،او کچرے د دے کارونو نه یو کار اوکړے شی نو د هغے فیصله د الله په طرف ده(که هغه اوغواړی معاف به ئے کړی او که هغه اوغواړی عذاب به ورکړی)۔

بَابُ جُرْحِ الْعَجْمَاءِ وَالْمَعْدِنِ وَالْبِئْرِ جُبَارٌ اَیْ هَدَرٌ.

هغه څناور څوك اووهی یا ځان یا کوهی ته څوك ارتاؤ شی نو د هغے دیت نهٔ لازمیږی.

(۴۴۶۵) عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ قَالَ الْعَجْمَآءَ جُرْحُهَا جُبَارٌ وَّالْبِئْرُ جُبَارٌ وَّ فِی الرِّکَازِ الْخُمُسُ. [بخاری، ترمذی]

ترجمه: د ابو هُریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی،د څناور زخمی کول لغوه دی(یعنی د هغے تاوان به په چا نهٔ وی)او کوهے لغوه دے او کان لغوه دے،او په رِکاز کښں پنځمه حصه ده۔

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلے دی څناورو کچرے نقصان اوکړی د شپے یا دَ ورځے

لیکن د هغه د مالك څه قصور نۀ وی یا مالك د هغه څناور سره نۀ وی نو څه تاوان به پرے نۀ وی لیکن که د څناور سره شرلو والا وی یا رانیولو یا پرے سور وی او هغه په لاس یا خپو سره یا خپو سره څه نقصان اوکړی نو تاوان به وی او د داوؤ او اهلِ ظاهر په نزد به په یو حال کښی هم تاوان نۀ وی مگر په هغه صورت کښی چه مالك پخپله څناورو لره غصّه کړی (لکه سپے چه په چا پسے اوزغلوی وغیره)

او دَ امام مالكؒ په نزد په مالك باندِ تاوان دے او شافعیه ؤ هم وئیلے دی چه د کوم څناور نقصان رَسول مشهور شی په هغے کښی به تاوان وی ، ولے چه په مالك باندِ د هغه څناور ترل ضروری وو ، او که د شپے نقصان اورسوی نو دَ مالكؒ په نزد پرے تاوان شته۔ او دَ امام شافعیؒ په نزد په هغه صورت کښی تاوان دے، هر کله چه مالك د هغه په حفاظت کښے کوتاهی اوکړی، ورنه نۀ به وی، او د ابو حنیفةؒ په نزد د څناورو دَ نقصان په یو حال کښی هم تاوان نشته، خواه که د شپے خواه که دَ ورځے وی، او دَ جمهورو په نزد په ورځ کښی د خوړلو ضمانت نشته، او دَ لیثؒ او سحنونؒ په نزد ضمانت شته دے او دَ کان په باره کښے ئے چه کوم فرمائیلی دی چه لغوه دے د هغے مطلب دا دے چه کچرے څوك په خپله ملکی زمکه کښے کان اوکنی یا په بنجر زمکه کښی، او بیا څوك په لاره تلونکے په هغے کښی اوغورځیږی او مړ شی، یا مزدور په مزدوریٔ کولو کښے هلته هلاك شی، نو د هغه تاوان نشته دے، دغه شان کچرے په ملکی یَا بنجر زمکه کښی کوهے اوکنی او په هغے کښی څوك اوغورځیږی او هلاك شی، یا دَ کوهی کنستلو والا مزدور پکښی هلاك شی نو په دے کښی څۀ تاوان نشته دے۔ البته کچرے په لاره کښی کوهے اوکنِیٔ یا د بل چا په زمکه کښی بغیر د هغه دَ اجازت نه او په هغه کوهی څوك هلاك شی نو تاوان پرے شته دے۔

او دا چه ئے کوم اوفرمائیل چه په رکاز کښی پنځمه حصّه ده ، نو رکاز به وئیلے شو د جاهلیت په زمانه کښی خزانے ته زمونږه او دَ حجاز دَ اوسیدونکو دغه مذهب دے ، او د جمهورو عَالمانو هم دغه قول دے۔ او ابو حنیفه رحمة الله او د عراق اوسیدونکو وئیلے دی چه دَ رِکاز نه مراد کان دے او د دے حدیث نه د هغے رَد کیږی ولے چه رکاز ئے د کان نه جدا بیان کړو۔

(۴۴۶۸) عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عن رسول الله صلی الله علیه وسلم انه قال البئر جرحها جبار والمعدن جرحه جبار والعجماء جرحها جبار وفی الرکاز الخمس.

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه د کوهی زخم لغوه دے او د کان زخم لغوه دے او د څناور زخم لغوه دے او په رکاز کښې پنځمه حصه ده.

كتاب الاقضية.

د احکامو او فیصلو مسئلے.

باب اليمين على المدعى عليه.

په مدعی علیه باند قسم راځی.

(۴۴۷۰) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم قال لو یعطی الناس بدعواهم لا دعی ناس دماء رجال واموالهم ولکن الیمین علی المدعی علیه. [بخاری، ابوداود، ترمذی، نسائی، ابن ماجه]

ترجمه: د عبدالله ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی کچرے خلقو ته ورکړے شی هغه څه چه دعوه ئے کوی، نو بعضے به د نورو جان او مال واخلی، لیکن مدعی علیه ته قسم ورکول پکار دی۔

(۴۴۷۱) عن ابن عباس رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قضی بالیمین علی المدعی علیه. [راجع: ۴۴۷۰]

ترجمه: د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم ورکړے دے د قسم مدعی علیه ته.

فائده: په بل روایت کښې دی چه گواه په مدعی باند دے، دا حدیث یوه لویه قاعده کلیه ده، چه په دے سره د زرگونو جگړو فیصله کول معلوم شولو، هر کله چه څوك دعوه اوکړی او مدعی علیه منکر شی نو مدعی نه به گواه غوښتلے شی، کچرے هغه گواه نهٔ شی

پیدا کولے،نو مدعی علیہ لہ بہ قسم ورکوی،پس کچرے ھغہ قسم اوخوری نو دعوہ پاکہ شوہ،او کچرے قسم اونۂ خوری نو دعوہ ثابتہ شوہ۔

او د دے حدیث نہ د شافعیؒ او جمھور علماؤ مذھب ثابتیږی چہ د ھر مدعیٰ علیہ نہ بہ قسم اخستلے شی،خواہ کہ د مدعی سرہ ئے تعلق او احتلاط وی یا نۂ وی۔او دَ امام مالکؒ او د فقھائے سبعہ د مدینے دا قول دے چہ د مدعی علیہ نہ بہ ھغہ وخت قسم اخستے شی ھر کلہ چہ د دہ سرہ او د مدعی سرہ څہ معاملہ یا کاروبار یا تعلق وی،ورنہ د ھر یو سپک خویہ او پاجی شریف او د لویو سرونہ کہ بیا بیا قسم واخلی مگر د دے خبرے څہ دلیل پہ کتاب(یعنی قرآن)یا سنت(یعنی حدیث)یا اجماع سرہ نشتہ دے(نوویؒ)

بَابُ القضاء باليمين والشاهد

پہ یو گواہ او یو قسم باندے فیصلہ کول .

(۴۳۷۲) عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَّضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضٰى بِيَمِيْنٍ وَّ شَاهِدٍ . [ابوداود . ابن ماجه]

ترجمہ :د عبداللہ بن عباس رضی اللہ تعالی عنھما نہ روایت دے چہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم بہ فیصلہ کولہ پہ یو گواہ او یو قسم باندِ .

فائدہ : د جمھور علماؤ لکہ د مالکؒ او شافعیؒ او احمدؒ دغہ قول دے چہ ھر کلہ د مدعی سرہ صرف یو گواہ وی نو قاضی بہ ھغہ لہ قسم ورکری او د ھغے مطابق فیصلہ بہ اوکری،او دَ ابو حنیفہؒ او زاعیؒ پہ نزد او د لیثؒ پہ نزد پہ یو گواہ او یو قسم سرہ دعوہ نۂ ثابتیږی۔

لیکن د ھغوئ قول مخالف دے د دے حدیث او دا حدیث مروی دے د حضرت علیؓ او ابن عباسؓ او زید بن ثابتؓ او جابرؓ او ابی ھریرۃؓ او عمارہ بن حزمؓ او سعید بن عبادۃؓ او عبداللہ بن عمرو العاصؓ او دَ مغیرہ بن شعبہ رضی اللہ تعالی عنھم اجمعین نہ،او د ټولو نہ زیات صحیح ابن عباس رضی اللہ تعالی عنھما روایت دے او د ھغے پہ صحت باندِ اتفاق دے د محدثینو،پس د امام ابو حنیفہ رحمۃ اللہ علیہ قول پریښودل او پہ حدیث باندِ عمل کول

ضروری دی۔

باب اَنَّ الْحُكْمِ الْحَاكِمِ لَا يُغَيِّرُ الْبَاطِنَ .

د حاکم په فیصله سره به امر واقعی غلط نهٔ وی .

(۴۴۷۳) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّكُمْ تَخْتَصِمُوْنَ اِلَيَّ وَ لَعَلَّ بَعْضَكُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ فَاَقْضِيَ لَهُ عَلٰى نَحْوٍ مِمَّا اَسْمَعُ مِنْهُ فَمَنْ قَطَعْتُ لَهُ مِنْ حَقِّ اَخِيْهِ شَيْئًا فَلَا يَاْخُذْهُ فَاِنَّمَا اَقْطَعُ لَهُ بِهِ قِطْعَةً مِّنَ النَّارِ . [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی ، ابن ماجه]

ترجمه : د مؤمنانو د مور ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه تاسو ما ته مقدمه راوړئ او ستاسو نه يو بل نه زياته خپله خبره ثابتوی او زهٔ د هغې موافق حکم ورکوم، پس چا ته چه زهٔ د هغه د رور څه حق ورکړم (او په نفس الامر کښې هغه د ده حق نهٔ وی) نو هغه دِ نهٔ خلی ولے چه زه دَ دوزخ يوه ټکړه ده لره ورکوم۔

(۴۴۷۵) عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَلَبَةَ خَصْمٍ بِبَابِ حُجْرَتِهٖ فَخَرَجَ اِلَيْهِمْ فَقَالَ اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ وَ اِنَّهُ يَاْتِيْنِي الْخَصْمُ فَلَعَلَّ بَعْضَهُمْ اَنْ يَّكُوْنَ اَبْلَغَ مِنْ بَعْضٍ فَاَحْسِبُ اَنَّهُ صَادِقٌ فَاَقْضِيَ لَهُ فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِحَقِّ مُسْلِمٍ فَاِنَّمَا هِيَ قِطْعَةٌ مِّنَ النَّارِ فَلْيَحْمِلْهَا اَوْ يَذَرْهَا . [راجع :۴۴۷۳]

ترجمه: د مؤمنانو د مور ام سلمه رضی الله تعالی عنها نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د جګړه کونکو شور واوریدو د خپلے حجرے دَ دروازے مخے ته نو را اووتو لو اوئے فرمائیل چه زهٔ يو بنيادم يم، او ما ته چه څوك مقدمے والا راشي، او يو د بل نه غوره خبره کوی، زهٔ دا اوګنړم چه دا رښتونے دے او د هغې موافق فيصله اوکړم پس چا ته چه دَ يو مسلمان حق ورکوم ،نو هغه دَ انګار يوه ټکړه ده که هغې لره واخلی يائے پريږدی۔

فائده : نووی علیه الرحمة وائی دا چه څه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه زهٔ بنيادم يم د دے نهٔ دا غرض دے چه د هغوئ جالت هم د نورو بنيادمو پشان وو، او هغوئ ته غلم غيب نهٔ وو مګر کومه خبره چه به الله تعالی هغوئ ته اوښودله هغه به ورته معلومه شوه۔

او دا هم معلومه شوه چه په احکامو او فيصلو کښ چه کوم امر د نورونه کيږی هغه د

حضرتؐ نه هم کیدے شی ، او حضرتؐ به په ظاهر باندِ حکم کولو،او د پټو خیرونه صرف الله تعالی خبر دے نو د حضرتؐ به هم په گواه او قسم باندِ فیصله کوله،او چه الله تعالی به غوښتله نو په هره مقدمه کښے به ئے حضرتؐ ته اصلی خبره ښودَله .مگر منظوره دا وه چه حضرتؐ دِ هم د امت په شان په ظاهر حال باندِ حکم کوی،د دے د پاره چه امت هم د هغویؐ پیروی اوکړی او کومو خلقو چه د حضرت په اجتهاد کښے خطا جائز کړے ده هغه هم دا وائی چه حضرتؐ به په خطا باندِ قائم نهٔ شو پاتے کیدلے،پس داسے حکم چه دَ دلیل موافق وی اگر که دَ واقعے خلاف وی خطا نهٔ دے بلکه هغه حکم صحیح دے.

او د دے حدیث نه د جمهورو علماؤ لکه د مالکؒ او شافعیؒ او احمدؒ مذهب ثابتیږی چه د حکم سره په باطن څه اثر نهٔ پریوځی،او څه حرام هم د حاکم په فیصله سره نهٔ حلالیږی،او د ابو حنیفه رحمة الله علیه په نزد فرج حلالیدے شی لیکن مال نهٔ شی حلالیدے،او دا مخلاف دے د صحیح حدیث او دَ اجماع(انتهی مختصرا)

(۴۴۷۶) عَنِ الزُّهْرِیِّ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَ حَدِیْثِ یُوْنُسَ وَ فِیْ حَدِیْثِ مَعْمَرٍ قَالَتْ سَمِعَ النَّبِیُّ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ بِبَابِ اُمِّ سَلَمَةَ. [راجع: ۴۴۷۳]

ترجمه : د زهریؒ نه په دغه اسناد سره د پورته حدیث پشان کوم چه تیر شو روایت دے،په دے کښں دا دی چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د جګړه کونکو چغے واوریدے دَ ام سلمه رضی الله تعالی عنها په دروازه کښے،بیا ئے بیان کړو حدیث په دغه شان لکه چه پورته تیر شو.

بَابُ قَضِیَّةِ هِنْدٍ .

د هندےؓ،او ابو سفیانؓ د بی بی فیصله .

(۴۴۷۷) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰہُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَ دَخَلَتْ هِنْدُ بِنْتُ عُتْبَةَ امْرَأَةُ اَبِیْ سُفْیَانَ عَلٰی رَسُوْلِ اللّٰہِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ اِنَّ سُفْیَانَ رَجُلٌ شَحِیْحٌ لَا یُعْطِیْنِیْ مِنَ النَّفَقَةِ مَا یَکْفِیْنِیْ وَ یَکْفِیْ بَنِیَّ اِلَّا مَا اَخَذْتُ مِنْ مَالِهٖ بِغَیْرِ عِلْمِهٖ فَهَلْ عَلَیَّ فِیْ ذٰلِکَ مِنْ جُنَاحٍ؟فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّے اللّٰہُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ خُذِیْ مِنْ مَالِهٖ بِالْمَعْرُوْفِ مَا یَکْفِیْکِ وَ یَکْفِیْ بَنِیْکِ .

ترجمه : د مؤمنانو د مور حضرت عآئشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے ، فرمائیلی چی

هندهٔ لور د عُتبه دَ ابو سفیانؓ بی بی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغله او عرض ئې اوکړو چه یا رسول الله! ابو سفیانؓ بخیل دے ما له دومره خرچه نهٔ راکوی چه هغه ما ته او څما بچو ته پوره شی، مګر زهٔ د هغه د مال نه لګوم او هغه ترے خبر نهٔ وی نو ایا د دے ګناه به وی په ما باندې؟ جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل، تهٔ د دستور موافق د هغه د مال نه اخله، خو مره چه تا ته او ستا بچو ته پوره کیږی۔

فائده: نووی رحمة الله ونیلی دی د دے حدیث نه معلومه شوه چه کچرے د یو انسان په بل باندې څه حق وی او هغه ئې نهٔ ورکوی، یا دا چه هغه ترے خبر کړی نو نهٔ ئې شی ترے اخستے، نو د هغه د مال نه بغیر د هغه دَ اجازت د خپل حق موافق اخستل روا دی، او زمونږه مذهب هم دغه دے، او ابو حنیفه او امام مالك رحمة الله علیهما دے ته ناجائیز ونیلے دی۔

او دا هم معلومه شوه چه د پردیٔ ښځے خبره اوریدل د ضرورت د فیصلے په وخت یا د حکم یا د بل څه کار د پاره روا دی او د ښځے د کورنه وتل بغیر دَ خاوند د اجازت نه روا دی هر کله چه دا معلومه وی چه خاوند به ئې نهٔ ګنړی۔

او دا هم معلومه شوه چه قضاء علے الغائب درسته ده، خو په دے کښی د عالمانو اختلاف دے، دَ ابو حنیفهؒ او اهلِ کوفه ؤ په نزد جائز نهٔ دی، او د شافعیؒ او جمهور علماؤ په نزد په حقوق الناس کښے جائز دی نه په حقوق الله کښے، انتهی مختصراً۔

(۴۴۷۹) عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ جَآءَتْ هِنْدُ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَاللّٰهِ مَا کَانَ عَلٰی ظَهْرِ الْاَرْضِ اَهْلُ خِبَآءٍ اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ اَنْ یُذِلَّهُمُ اللّٰهُ مِنْ اَهْلِ خِبَآئِکَ وَمَا عَلٰی ظَهْرِ الْاَرْضِ اَهْلُ خِبَآءٍ اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ اَنْ یُعِزَّهُمُ اللّٰهُ مِنْ اَهْلِ خِبَآئِکَ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وَاَیْضًا وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ ثُمَّ قَالَتْ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اَبَا سُفْیَانَ رَجُلٌ مُمْسِکٌ فَهَلْ عَلَیَّ حَرَجٌ اَنْ اُنْفِقَ عَلٰی عِیَالِهٖ مِنْ مَالِهٖ بِغَیْرِ اِذْنِهٖ ؟ فَقَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ لَا حَرَجَ عَلَیْکِ اَنْ تُنْفِقِیْ عَلَیْهِمْ بِالْمَعْرُوْفِ . [ابوداود]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائی چه هنده دابو سفیانؓ ښځه (چه دعتبه لور وه، او لویه دشمنه وه دحضرت صلی الله علیه وسلم دهغے پلار او تره په جنګ بدر کښی دامیر حمزةؓ په لاس وژلی شوی وو، او په دغه دشمنیٔ سره

هغے د امیر حمزةؓ زړۀ داحد په جنګ کښے ویستلے او په غابښونو سره ژوولے وو، بیا هغه مسلمانه شوه او الله تعالی ورته هدایات نصیت کړو) دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله راغله او عرض ئے اوکړو، یارسول الله په تول ه زمکه باندِ دیوے دیرے خلق داسے نۀ وو چه دهغوئ په حق کښں به ما دا غوښتله چه الله دهغوئ تباه کړی ستاسو ددیرے والاؤنه زیات، او اوس په تول ه زمکه باندِیوے دیرے والا داسے نشته دے چه دهغوئ په باره کښے زۀ دا غوړم چه چه الله ج دهغوئ له عزت ورکړی ستاسو ددیرے ولا نه زیات، (مطلب دادے چه مخکښے ستانه او ستا دملګرونه زیاته څما څوك دشمن نۀ وو او اوس تاسو او ستاسو ملګری ماته دهر څه نه زیات خواږه دی) جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته او فرمائیل اوس به نورهم زیات ستا زمونږ سره محبت شی، (هر کله چه داسلام نور ستا په زړۀ کښں ځائے اونیسی) قسم دے په هغه ذات دچاپه لاس کښں چه څما روح دے، بیا هندےؓ اووے یا رسول الله! ابو سفیانؓ بخیل دے نوایے ماته به څه ګناه وی کچرے زۀ دهغه رویئ دهغه په بال بچ باندِ لګوم بغیر دهغه داجازت نه؟ حضرت ورته او فرمائیل په تا باندِ څه ګناه نشته کچرے ته ددستور موافق خرج کوے، (دا نه چه دهغه مال لوټ کوے او بے ځایه ئے خرج کوے.)

بَابُ النَّهْيِ عَنْ كَثْرَةِ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةِ الْمَالِ .

دډیرو تپوسونو او دمال تباه کولونه ممانعت .

(۴۴۸۱) عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ يَرْضٰى لَكُمْ ثَلٰثًا وَيَكْرَهُ لَكُمْ ثَلٰثًا فَيَرْضٰى لَكُمْ أَنْ تَعْبُدُوْهُ وَلَا تُشْرِكُوْا بِهِ شَيْئًا وَّ أَنْ تَعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيْعًا وَّلَا تَفَرَّقُوْا وَيَكْرَهُ لَكُمْ قِيْلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ .

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمانیلی دی، الله تعالی خوشحالیږی ستاسو نه په درے خبرو سره، او ناراضه کیږی ستاسونه په درے خبرو سره خوشحالیږی ستاسونه په دے سره چه تاسو دهغه بندګی کوئ او دهغه سره شریك مۀ کرځوئ هیڅ شی لره، او دا چه منګلے اولګوئ په رسئ (ددین) دالله پاك باندِ (چه قرآن دے) او تفریقے مۀ جوړوئ او ناراضه کیږی په بے فائدے وئیلو راوئیلو

سره، او په ډيرو تفوسونو سره (يعني دهغه مسئلو تپوسونه کول چه دهغې ضرورت نۀ وي يا دهغه خبرو چه دهغې حاجت نۀ وي او دهغه خبرو تپوسونه کول چه به بل بدې لګي) او دمال دتباه کولونه (يعنې بې فائدې دمال لګولونه چه هغه نۀ په دنيا کښې پکار راځي او نۀ په آخرت کښې لکه په پتنګ بازئ او اتش بازئ وغيره کښې لګول)

(۴۴۸۲) عَنْ سُهَيْلٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَيَسْخَطُ لَكُمْ ثَلَاثًا وَلَمْ يَذْكُرُوْا وَلَا تَفَرَّقُوْا .

ترجمه: دسهيل نه دپورته تير شوي روايت په شان روايت دے په دے کښې دادي چه په درے خبرو غصه کيږي او دتفريقې بيان ئې نۀ دے کړے.

(۴۴۸۳) عَنِ الْمُغِيْرَةَ ابْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوْقَ الْأُمَّهَاتِ وَوَأْدَ الْبَنَاتِ وَمَنْعًا وَّهَاتِ وَكَرِهَ ثَلَاثًا قِيْلَ وَقَالَ كَثْرَةَ السُّؤَالِ وَإِضَاعَةَ الْمَالِ . [بخاري]

ترجمه: دمغيره بن شعبه رضي الله تعالى عنه نه روايت دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمائيل چه بيشکه الله تعالى عزت او بزرګئ والا حرام کړے دي په تاسو باندِ نافرماني دميندو او ژوندي خښول دجينکو (لکه چه به کفارو کولو) او نۀ ورکول (هغه لره چا ته په ورکول دي دمالدارئ سره) او غوښتل (دهغه څيز چه دهغې دغوښتلو حق نشته) او نلراضه کيږي په درے خبرو باندِ (لېکن دومره ګناه نۀ دے څومره چه مخکښې په داسې خبرو کښې دے) بې فائدې خبرے کول، ډير تپوسونه کول او بې ځايه مال بربادول.

(۴۴۸۴) عَنْ مَنْصُوْرٍ بِهٰذَا الْإِسْنَادِ مِثْلَهُ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ وَحَرَّمَ عَلَيْكُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ . [راجع: ۴۴۸۳]

ترجمه: دمنصورؒ نه دپورته روايت په شان روايت دے په دے کښې دادي چه رسول الله صلى الله عليه وسلم حرام کړے دي په تاسو باندِ، او دا پکښې نشته دے چه الله تعالى حرام کړے دي په تاسو باندِ.

(۴۴۸۵) عَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ حَدَّثَنِيْ كَاتِبُ الْمُغِيْرَةِ ابْنِ شُعْبَةَ قَالَ كَتَبَ مُعَاوِيَةُ إِلَى الْمُغِيْرَةِ ابْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمَا اُكْتُبْ إِلَيَّ بِشَيْءٍ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَتَبَ إِلَيْهِ أَنِّيْ سَمِعْتُ رَسُوْلَ

الله صلى الله عليه وسلم يقول ان الله كره لكم ثلاثا قيل وقال و اضاعة المال وكثرة السؤال . [راجع: ۴۴۸۳]

ترجمه: د شعبی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه معاویهٔ مغیرهٔ ته اولیکل چه ما ته داسے خبره اولیکه چه هغه تا د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی وی،مغیرهٔ اولیکل چه ما اوریدلی دی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئے وو الله تعالی ستاسو د پاره درے خبرو لره نهٔ غوره کوی،یو بے فائدے خبرو لره(چه فلانے داسے وو او فلانے داسے دے)دوئم مال تباه کولو لره،او دریم ډیرو تپوسونو لره

(۴۴۸۶) عن وراد قال كتب المغيرة رضى الله تعالى عنه الى معاوية رضى الله تعالى عنه سلام عليك اما بعد فانى سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول ان الله حرم ثلاثا و نهى عن ثلاث حرم عقوق الوالد و وأد البنات ولا وهات و نهى عن ثلاث قيل و قال و كثرة السؤال و اضاعة المال . [راجع: ۴۴۸۳]

ترجمه: د وراد نه روایت دے چه مغیره رضی الله تعالی عنه معاویهٔ ته اولیکل سلام دوی په تاسو باندې،بعد د دے ډ درته معلومه شی چه ما اوریدلی دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم چه فرمائیلی ئے وو الله حرام کړے دی درے خبرو لره او منع کړی ئے دی درے خبرو لره،حرام کړی ئے دی د پلار نافرمانئ لره او د ژوندو جینکو ښخولو لره او نهٔ ورکول چا ته چه ورکول دی،او غوښتل د چا نه چه نهٔ دی غوښتل پکار،او منع کړی ئے دی بے فائدے خبرو اترو لره او د ډیرو سوالونو د تپوسونو نه،او د مال تباه کولو نه.

باب بيان اجر الحاكم اذا اجتهد فاصاب او اخطأ .

هر کله چه حاکم فیصله اوکړی اګر که غلطه وی د هغے ثواب .

(۴۴۸۷) عن ابى قيس مولى عمرو ابن العاص انه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اذا حكم الحاكم فاجتهد ثم اصاب فله اجران و اذا حكم فاجتهد ثم اخطأ فله اجر . [بخاری ، ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه: د ابو قیسؒ نه روایت دے چه د عمرو بن العاصؓ ازاد کړے غلام وو،هغویٔ اوریدلی دی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه فرمائیلی ئے وو هر کله چه حاکم په سوچ سره

حکم اوکړی بیا ئے صحیح کړی نو هغه له دوه اجرونه دی،او کچرے په سوچ سره حکم اوکړی او غلطی اوکړی نو هغه له یو اجر دے.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلے دی مراد هغه حاکم دے چه هغه عالم وی نو د حکم لائق دے او جاهل لره حکم ورکول درست نهٔ دی،او کچرے هغه حکم اوکړو نو گنهګار شولو .اګر که د هغه حکم اتفاقاً صحیح راشی،او دغه حکم دے د مجتهد.لیکن دا چه هر مجتهد مصیب دے یا یو مصیب دے او باقی مخطی دی لیکن محطی لره هُم ثواب او اجر دے،ځکه چه ده کوشش کړے دے او محنت ئے کړے دے د حق په حاصلولو کښے.

د دے حدیث نه ثابته شوه چه دَ امت محمدیؐ صَاحبهَا الصّلوٰة والسلام کښے چه څو مره علماء مجتهدین تیر شوی دی،لکه امامِ شافعیؒ،اِمَامِ مَالکؒ،اِمَام ابو حنیفه کوفیؒ،امامِ احمد بن حنبلؒ،امام داودظاهریؒ،امام سفیان ثوریؒ،امام او زاعیؒ،امام اسحٰق بن راهویهؒ،امامِ بخاریؒ،امامِ اشهبؒ،امام سَهنونؒ،امام ابن المبارکؒ،امام ابن شبرمهؒ،امام ابِن ابی لیلےؒ،امامِ وکیعؒ،امام ابو یوسفؒ،امامِ محمدؒ،امام زفرؒ،امامِ مزنیؒ،امامِ طحاویؒ،امام ابو ثورؒ،امام ابنِ منذرؒ،امام لیث بن سعدؒ،امام ابن تیمیهؒ،امام ابن جریر طبریؒ،امامِ شوکانیؒ دے تولو خلقو د پاره په هر یوه مسئله اختلافی کښں اجر او ثواب شوے دے،اګر که دَ هغویٔ نه خطا او غلطی شوی وی د دے وجے نه د هر یو مجتهد او امام احسان منل پکار دی چه هغویٔ د خدائے د پاره په دین کښے کوشش کړے دے او په هغویؒ پسے د بدو وئیلو او بد ګویٔ نه ځان ساتل پکار دی،راضی دِ وی الله د دغه تولو بزرګانو نه،آمین یا رَب العٰلمین.

باب کراهة قضاءِ القاضی وهو غضبان.

د غضب په حالت کښں فیصله کول مکروه دی.

(۴۴۹۰) عَنْ عَبْدِالرَّحمٰن ابن ابیْ بَکْرة رضی الله تعالی عنهُ قَالَ کتَبَ اَبیْ و کَتَبْتُ لَهُ عُبَیْدِالله ابْن اَبِیْ بَکْرةَ وَهُوَ قَاضیْ سِجسْتَانَ انْ لَا تَحْکُمْ بیْنَ ثْنیْن و اَنْتَ غُضْبَانُ فَانیْ سَمِعْتُ رَسُوْل الله صَلَّی الله عَلَیْه وسَلَّمَ یقُوْلُ لا یحْکُمْ احدٌ بیْن ثْنیْنِ غضْبَانُ. [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، نسائی]

ترجمه: د عبدالرحمن بن ابی بکرةؓ نه روایت دے وائی چه څما پلار ما ته وئیل او ما اولیکلو

عبیداللہ بن ابیٰ بکرہ ته،او هغه د سجستان قاضي وو چه حکم مهٔ کوه،هر کله چه ته په غصه کښې یې ولې چه ما اوریدلي دي د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه چه هغویٰ فرمائیلي وو،فیصله دِ نهٔ کوي څوك دَ دوه تنو په مینځ کښې هر کله چه هغه په غصه کښې وي۔

فائده: نووي علیه الرّحمة ونیلي دي او دا هم حکم دے هر کله چه وږے وي یا تږے وي سخت یا ئے ډیره ګیده ډکه شوے وي یا پرے ډیر غم وي یا پرے ډیره خوشحالي وي،ولې چه په دے حالاتو کښې فهم درست نهٔ وي،او زړهٔ بل طرفته متـه جه وي،په دغه حالت کښې هم کچرے فیصله اوکړے نو هغه فیصله به درسته وي،ولې چه حضرت صلی الله علیه وسلم هم د حره نهر فیصله کړے وه،د غصے په حالت کښې،انتهٰی۔

بَابُ نَقْضِ الْاَحْکَامِ الْبَاطِلَةِ وَرَدِّ مُحْدَثَاتِ الْاُمُوْرِ.

د غلطو خبرو او نوؤ خبرو د ابطال بیان په دین کښې راویستلې شي .

(۴۴۹۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مَنْ اَحْدَثَ فِیْ اَمْرِنَا هٰذَا مَا لَیْسَ مِنْهُ فَهُوَرَدٌّ. [بخاري ، ابوداود ، ابن ماجه]

ترجمه: د مؤمنانو د مور حضرت عآشے صدیقے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے،فرمائي چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل،کوم انسان چه زمونږ په دین کښې هغه خبره را اوباسي چه هغه په دے کښې نهٔ وي(یعني بے دلیله هغه رَدّ ده)

فائده: یعنی لغوه دے او مردود دے د هغے نه بچل کیدل پکار دي،او په هغے باندِ عمل نهٔ دنې کول پکار،دا حدیث جامع دے د ټمامو بدعاتو او مخترعاتو چه خلقو په دین کښې شامل کړے دي،او په دویم حدیث کښې د دے نه هم زیات صفا دي۔

(۴۴۹۳)عَنْ عَآئِشَةَ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَیْسَ عَلَیْهِ اَمْرُنَا فَهُوَرَدٌّ. [راجع: ۴۴۹۲]

ترجمه: دمؤمنانو دمور حضرت عائشے رضی الله تعالی عنها نه روایت دے فرمائي چه جناب

رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل څوك چه داسې كار اوكړی چه دهغې دپاره زمونږ حكم نهٔ وی (یعنی په دین كښې داسې عمل رااوباسی) نو هغه مردود دے۔

فائده: یعنی هغه عمل لغوه دے په هغې كښې څه ثواب نشته بلكه عذاب دے، ثواب په هغه عمل كښې دے كوم چه الله او دهغه رسول خوښ دے او بندیګانو ته ئے دهغې دكولو حكم وركړے دے ، په دے حدیث سره دبدعتیانو توله ډها نچه ماته شوله او كورنے ویران شو، ولے چه كچرے هغوئ پخپله څنے كارونه نهٔ دی راویستلی نو څه كیږی دهغوئ مشرانو راویستلی دی او حدیث خو په تولو بانډ رد كوی۔

بَابُ بَيَانِ خَيْرِ الشُّهُوْدِ .

دښو ګواهانو بیان .

(۴۴۹۴) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِ نِ الْجُهَنِيِّ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلا اُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ الشُّهَدَآءِ الَّذِيْ يَاْتِيْ بِشَهَادَتِهٖ قَبْلَ اَنْ يُّسْئَلَهَا . [ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دزید بن خالد جهنی ؓ نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل ! زهٔ تاسو ته او نهٔ وایم چه غوره ګواه څوك دے؟ هغه چه خپله ګواهی اداكړی دتپوس كولو نه مخكښې۔

فائده : یعنی هر كله چه دچا حق ضائع كیږی یائے ونه تلف كیږی، او حق والا ته دهغې ګواه معلومه نهٔ وی ، نو بے دبللو نه ګواهی وركول پكاردی، او دا حدیث دهغه حدیث خلاف نهٔ دے، چه په هغې كښې راغلی دی چه قیامت ته نزدے خلق به داسې پیداشی چه دهغوئ ګواهی به نهٔ شی غوښتلے كیدے او هغه به ګواهی وركوی ، ولے چه هلته مراد هغه ګواهی ده چه هغه بے ضرورته وی یا ددرغووی یا چه لائق نهٔ وی او ګواهی وركړی الله اعلم بالصواب۔

بَابُ اخْتِلَافِ الْمُجْتَهِدِيْنَ .

دمجتهدینو داختلاف بیان .

(۴۴۹۵) عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ ؓ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَيْنَمَا امْرَاَتَانِ مَعَهُمَا ابْنَاهُمَا جَآءَ الذِّئْبُ

فذهب بابن احدهما فقالت هذه لصاحبتها انما ذهب بابنك انت فتحاكما الى داؤد عليه الصلوٰة والسلام فقضى به للكبرىٰ فخرجتا على سليمٰن ابن داوٗد عليهما السلام فاخبرتاه فقال ائتونى بالسكين اشقه بينكما فقالت الصغرىٰ لا يرحمك الله هو ابنها فقضى به للصغرىٰ قال قال ابوهريرة رضى الله تعالى عنه واﷲ ان سمعت بالسكين قط الا يومئذ ما كنا نقول الا المدية .

ترجمه: دابو هريره رضى الله تعالى عنه نه روايت دے چه جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم او فرمائيل دوه ښځے روانے وے خپل خپل بچے ورسره وو، چه په دے کښې شرمخ راغے او ديوے بلے ته اووے ستا ځوئ ئے يوړلو، آخر دواړه دخپلے فيصلے کولو دپاره د داود عليه السلام خواله راغلے، هغوئ هغه بچے هغه مشرے ښځے ته ورکړلو(ددے وجے نه چه بچے به د هغه په شان وو يا به د هغوئ په شريعت کښې به داسے صورت کښې مشر ته ترجيح ورکيدے شوه يا به بچے د هغے په لاس کښې وو) بيا هغه دوه دسليمان عليه السلام خواله راغلے او هغوئ ته ئے تول حال بيان کړلو. سليمنؑ اروے چړه راوړئ زه دا بچے دوه ټکړے کوم چه تاسو دواړوله ئے درکړم (ددے خبرے نه دبچى پريکول مقصد نۀ وو بلکه دحقيقى مور معلومول ئے مقصدوو) هغه کشرے اووے الله دے په تا رحم اوکړی مۀ پريکوه بچى لره دا ددے غټے بچے دے، حضرت سليمن هغه بچے کشرے ته ورکړو(نو حضرت سليمن دَ حضرت داود خلاف حکم ورکړو ځکه چه دواړه مجتهدوو او پيغمبران هم وو، او مجتهد لره دبل مجتهد خلاف درست دے په اجتهادى مسائلو کښې اگر چه حکم ماتول درست نۀ دى مگر کيدے شى حضرت داود دغه فيصله پريکړے نۀ وه . يا صرف په طور دفتوے وه) ابو هريرهؓ وئيلے دى په دے حديث کښې ما دسُکين لفظ اوريدلے دے چه هغه چړے ته وئيلے شى مونږ خوبه ورته مديه وئيلو .

باب استحباب اصلاح الحاكم بين الخصمين .

حاکم لره په دواړو فريقو کښې صلح کول غوره دى .

(۴۴۹۷) عن همام ابن منبه قال هذا ما حدثنا ابوهريرةؓ عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكر احاديث منها وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اشترىٰ رجل من رجل عقارا له فوجد الرجل الذى اشترى العقار فى عقاره جرة فيها ذهب فقال له الذى اشترى العقار خذ ذهبك منى انما اشتريت منك الارض

وَلَمْ ابْتَعْ مِنْكَ الذَّهَبَ فَقَالَ الَّذِیْ بَاعَ الْاَرْضَ اِنَّمَا بِعْتُكَ الْاَرْضَ وَمَا فِیْهَا قَالَ فَتَحَاكَمَا اِلٰی رَجُلٍ فَقَالَ الَّذِیْ تَحَاكَمَا اِلَیْهِ اَلَكُمَا وَلَدٌ ؟ فَقَالَ اَحَدُهُمَا لِیْ غُلَامٌ وَقَالَ الْاٰخَرُ لِیْ جَارِیَةٌ قَالَ اَنْكِحُوْا الْغُلَامَ الْجَارِیَةَ وَاَنْفِقُوْا عَلٰی اَنْفُسِكُمَا مِنْهُ وَ تَصَدَّقَا . [بخاری]

ترجمه: دهمام بن منبهؒ نه روایت دے وائی چه دا هغه حدیثونه دی کوم چه ابو هریره رضی الله تعالی عنه مونږ ته بیان کړے دی او دحضور صلی الله علیه وسلم نه ئے اوریدلی دی بیائے بیان کړل څو حدیثونه چه په هغے کښ یو داهم وو، چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل یو سړی دبل سړی نه زمکه واخستله ، پس چا چه زمکه اخستے وه هغه دسروزرو منګوټے په هغے کښ بیا موندو، پس دزمکے اخستونکی (خرڅونکی ته) اووے ته خپله زمکه واپس واخله ما خوستا نه زمکه اخستے ده، سرۀ زر مے نۀ دی اخستی ، چاچه دغه زمکه خرڅه کړے وه هغه اووے، ما په تا زمکه خرڅه کړے ده او څه چه پکښ وو هغه هم (نو سونا یعنی سره زر هم ستادی سبحن الله ! خرڅونکے او اخستونکے څومره دښه نیت او ایمانداریٔ خاوندان وو) بیا دواړو دیو بنده نه فیصله او غوښته ، هغه اووے ستاسو او لادشته؟ یو اووے څما یو هلك شته ، بل اووے څمایو لور شته دے هغه اووے ښه ددے هلك نکاح ددغه جینیٔ سره اوکړئ، او دغه سره زر په دواړو باندِ خرچه کړئ، او دخدائے تعالی په لاره کښے ئے هم ورکړئ (غرض دا چه صلحه ئے اوکړه ورله ، او دا مستحب دی ددے دپاره چه دواړه خوشحاله شی)

كِتَابُ اللُّقَطَةِ .

دپریوتی څیز دملاؤېدو مسئلی .

(۴۴۹۸) عَنْ زَیْدِ ابْنِ خَالِدِ الْجُهَنِیِّ رَضِیَ اللهُ تَعَالٰی عَنْهُ اَنَّهُ قَالَ جَآءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَسَئَلَهُ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ اعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَآءَ هَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَاِنْ جَآءَ صَاحِبُهَا وَاِلَّا فَشَانُكَ بِهَا قَالَ فَضَالَّةُ الْغَنَمِ قَالَ لَكَ اَوْلِاَخِیْكَ اَوْ لِلذِّئْبِ قَالَ فَضَالَّةُ الْاِبِلِ قَالَ مَا لَكَ وَلَهَا مَعَهَا سِقَآءُ هَا وَ حِذَآؤُهَا تَرِدُ الْمَاءَ تَاْكُلُ الشَّجَرَ حَتّٰی یَلْقَهَا رَبُّهَا قَالَ یَحْیٰ اَحْسِبُ قَرَاْتُ عِفَاصَهَا . [بخاری - ابوداود ، ترمذی]

ترجمه: د زید بن خالد جهنیؓ نه روایت دے چه یو سړے د رسول الله صلی الله علیه وسلم خواله

راغبے.او تپوس ئے اوکړو د لقطے په باره کښې.حضرتؐ اوفرمائیل چه اوښایه د هغې تهیلۍ او د هغې سَرُ د یو کاله پورے.بیا که چرے د هغې مالك راغے نو ورته ئے کړے.ورنه تا ته اختیار دے(که غواړے نو ځان له ئے اولګوه)بیا ئے تپوس اوکړو د هیرے تیرے بزے څه حکم دے؟حضرتؐ اوفرمائیل خو ستا دے یا ستا درور دے یا د شرمخ دے.بیا هغه تپوس اوکړو.د هیر تیر اوښ څه حکم دے؟حضرتؐ اوفرمائیل د هغه نه ستا مطلب دے دَ هغه سره د هغه مشك دے(په ګیډه کښې چه په هغې کښې د څو ورځو اوبه ډکوی)او د هغه پیزار هم د هغه سره دے.اوبه څښی.وُنه خوری تر دے پورے چه د هغه مالك هغه لره پالی.

فائده : نووی علیه الرحمة وائی لقطه یعنی دَ پریوتی څیز اوچتول واجب دی یا مستحب دی په دے کښې د علماؤ اختلاف دے.لیکن صحیح دا دے چه مستحب دی واجب نهٔ دی او دوئم قول دا دے چه واجب دی.او دریم قول دا دے چه کچرے هغه ځائے داسے وی چه هلته امن وی نو اوچتول ئے مستحب دی ورنه واجب دی.د دے د پاره چه دَ مسلمان مال تلف نهٔ شِی.او د یو کاله پورے هغې لره ښودل او شناخت کول واجب دی بِالاتفاق کچرے هغه کمزورے شے نهٔ وی.او دا هله دی چه دَ اوچتولو والانیت د هغې د مالك کیدو وی.او که صرف د حفاظت نیت ئے وی د هغې د مالك د پیدا کیدو پورے نو شناخت واجب نهٔ دے.او صحیح دا ده چه په دغه صورت کښې هم واجب دے د دے د پاره چه د هغې مالك پیدا شی.او د کمزوری شی د پاره دومره ورځے خودل کافی دی چه یقین راشی چه اوس د هغې مالك نهٔ راځی او دَ ښودلو صورت دا دے چه کوم ځائے دغه څیز میلاؤ شوے دے هلته او په بازارونو او جماعتونو او مجمعو کښې آواز اوکړی چه که د چا نه څه شے ورك شوے وی هغه دِ ما خواله راشی.بیا که چرے دَ مودے دننه د هغې مالك راشی او خپل شے او پیژنی نو هغه شے به هغه ته حواله کړے شی۔

دغه شان کچرے د وخت تیریدونه پس راشی.مګر د موندلو والا نه په خپل مالك کښے دَ داخلولو نه مخکښې کچرے په هغې کښې زیاتوالے راغلے وی لکه څو رب یا اولاد وغیره۔

او کچرے ئو سرے راشی او خپله دعوه ثابته نهٔ کړی او موندونکے ئے کچرے تصدیق اونهٔ کړی نو ورکول ئے درست نهٔ دی.اوٌ که تصدیق ئے اوکړو نو ورکول ئے درست دی.او د کومے

پورے چه گواه قائم نهٔ وی د هغه وخته پورے دی چه موندلو والا د هغې مالك شوے نهٔ وی.لیکن که د کاله پورے ئے اوښائی او مالك ئے میلاو نهٔ شی نو موندلو والا لره اختیار دے خواه که هغې لره پخپل حفاظت کښې همیشه ساتی یا د هغې مالك جوړیږی که امیر وی یا غریب،او د مالك جوړیدلو دا شکل دے چه په ژبه سره اووائی زهٔ د دے مالك شوم یا په هغې کښې تصرف اوکړی،یا صرف نیت د ملك اوکړی،اوس که د دے نه پس چرے مالك راشی نو هغه شے به د خپلے نه سره د زیاتوالی اخلی،او کچرے ورستو د مالك کیدونه هغه شے د موندونکی سره تلف شی نو د هغې تاوان به لازم وی،او دَ داودؒ په نزد به لازم نهٔ وی۔

او په بزه او اوښ کښې حضرتؒ فرق اوکړو د څه د پاره چه بزه د حفاظت محتاجه ده او اوښ محتاج نهٔ دے،پس کچرے بزه واخلی او د کاله پورے ئے اوښائی او د هغې نه پس ئے حلاله کړه او اوئے خوړه.بیا ئے مالك راغے نو تاوان به ئے ورکوی،دَ ابو حنفیهؒ او مالكؒ اورحمة الله علیها په نزد به پرے تاوان نهٔ وی(انتهٰی مختصراً)

(۴۴۹۹) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِنِ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ تَعَالٰى عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ عَرِّفْهَا سَنَةً ثُمَّ اعْرِفْ وِكَآءَ هَا وَ عِفَاصَهَا ثُمَّ اسْتَنْفِقْ بِهَا فَاِنْ جَآءَ رَبُّهَا فَاَدِّهَا اِلَيْهِ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَضَآلَّةُ الْغَنَمِ قَالَ خُذْهَا فَاِنَّمَا هِيَ لَكَ اَوْلِاَخِيْكَ اَوْ لِلذِّئْبِ قَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَضَآلَّةُ الْاِبِلِ قَالَ فَغَضِبَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى احْمَرَّتْ وَجْهُهُ ثُمَّ قَالَ مَالَكَ وَلَهَا مَعَهَا حِذَآؤُهَا وَ سِقَآؤُهَا حَتّٰى يَلْقَهَا رَبُّهَا. [راجع: ۴۴۹۸]

ترجمه: د زید بن خالد جهنی رضی الله تعالٰی عنه نه روایت دے چه یو سړی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د موندلی شوی څیز په باره کښې تپوس اوکړو،حضرتؐ اوفرمائیل د یو کاله پورے د هغې خود نه کوه،بیا ئے اوپیژنه او کیږده ئے د هغې سر او د هغې تهیلئ،(دا دوئمه پیژندګلی ده د یو کال نه پس د دے د پاره کچرے مالك ئے راشی نو دا به اوپیژنی نو تاوان به ورکرم،او یوه پیژندګلی دَ موندلو نه پس ده دَ مالك د تلاش د پاره)بیا خرچ کړه هغې لره بیا کچرے مالك ئے راشی نو ادا ئے کړه هغه لره،یو سړی عرض اوکړو یا رسول الله!د هیرے تېرے بزے څه حکم دے؟حضرتؐ اوفرمائیل هغه اونیسه ستا د پاره ده یا ستا درور د پاره یا د شرمخ د

پاره ده بیائے اووے یا رسول اللهؐ! د هیر تیر اوبن څه حکم دے د دے په اوریدو سره رسول الله صلی الله علیه وسلم په غصه شولو تر دے پورے چه د هغویؐ د مخ مبارك رنگ سور شولو، بعد د دے نه ئے اوفرمائیل دَ اوبن سره ستا څه کار دے د هغه سره د هغه پیزاروی مشك وی تر دے پورے چه د هغه مالك ته هغه میلاؤ شی۔

(۴۵۰۱) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِنِ الْجُهَنِيِّ يَقُوْلُ اُوْتِيَ رَجُلٌ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَ حَدِيْثِ اسْمٰعِيْلَ ابْنِ جَعْفَرٍ غَيْرَ اَنَّهُ قَالَ فَاحْمَارَّ وَجْهُهُ وَ جَبِيْنُهُ وَ غَضِبَ وَزَادَ بَعْدَ قَوْلِهِ ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَاِنْ لَّمْ يَجِئْ صَاحِبُهَا كَانَتْ وَ دِيْعَةً عِنْدَكَ. [راجع: ۴۴۹۸]

ترجمه: د زید ابن خالد جهنیؓ نه د پورته روایت په شان روایت دے په دے کښں دا دی چه د حضرتؐ مخ اوتندے سور شولو او حضرتؐ غصّه شولو، او د دے نه پس ئے زیاته کړه چه د یو کاله پورے ئے ښایه، بیا کچرے دَ هغے مالك رانهٔ غے، نو هغه به ستا سره امانت وی۔

(۴۵۰۲) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِنِ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ صَاحِبَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ الذَّهَبِ اَلْوَرَقِ فَقَالَ اعْرِفْ وِكَاءَهَا وَ عِفَاصَهَا ثُمَّ عَرِّفْهَا سَنَةً فَاِنْ لَّمْ تَعْرِفْ فَاسْتَنْفِقْهَا وَالْتَكُنْ وَ دِيْعَةً عِنْدَكَ فَاِنْ جَآءَ طَالِبُهَا يَوْمًا مِّنَ الدَّهْرِ فَاَدِّهَا اِلَيْهِ وَ سَئَلَهُ عَنْ ضَآلَّةِ الْاِبِلِ فَقَالَ مَا لَكَ وَلَهَا دَعْهَا فَاِنَّ مَعَهَا حِذَآءَهَا وَ سِقَآءَهَا تَرِدُ الْمَآءَ وَتَاْكُلُ الشَّجَرَ يَجِدُهَا رَبُّهَا وَ سَئَلَهُ عَنِ الشَّاةِ فَقَالَ خُذْهَا فَاِنَّمَا هِيَ لَكَ اَوْلِاَخِيْكَ اَوْ لِلذِّئْبِ. [راجع: ۴۴۹۸]

ترجمه: د زید بن خالد جهنیؓ نه روایت دے چه اصحابیؓ وو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم وائی چه تپوس اوکړے شو دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د موندلی څیز په باره کښے، حضرتؐ اوفرمائیل د هغے ډهکن اتهیلئ د پیژندو د پاره کیږده، بیا د پوره کاله پورے د خلقو نه تهٔ معلومات کوه، کچرے چا اونهٔ پیژندو نو خرچ ئے کړه، لیکن هغه به ستا سره امانت وی(او د لګولو نه ورستو هر کله چه د هغے مالك راغے، نو تاوان به ورکول وی)بیا چه هر کله د هغے مالك په کومه ورځ چه هم راغے نو هغه ته ئے ورکړه او د اوبن په باره کښے ئے تپوس اوکړو کوم چه هیر تیر شوے وی، حضرتؐ اوفرمائیل د هغے سره ستا څه کار دے؟ د هغه څنګه د هغه پیزار دے مشك دے اوبه څښی او دَ ونو پانړے خوری تر دے پورے چه د هغه مالك او مومی

هغه لره. او د بزے په باره کښې ئے د حضرتؐ نه تپوس اوکړو، حضرتؐ اوفرمائیل هغې لره اخله ولې چه بزه خو ستا ده یا ستا د رور ده یا د شرمخ ده۔

(۴۵۰۳) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِ الْجُهَنِيِّ اَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم عَنْ ضَآلَّةِ الْإِبِلِ زَادَ رَبِيْعَةُ فَغَضِبَ حَتَّى احْمَرَّتْ وَجْنَتَاهُ وَاقْتَصَّ الْحَدِيْثَ بِنَحْوِ حَدِيْثِهِمْ وَزَادَ فَاِنْ جَآءَ صَاحِبُهَا فَعَرَفَ عِفَاصَهَا وَعَدَدَهَا وَوِكَآءَ هَا فَاَعْطِهَا اِيَّاهُ وَاِلَّا فَهِيَ لَكَ .

ترجمه: دزید ابن خالد جهنیؓ نه دپورته روایت په مثل روایت دے، خودومره پکښې زیاته ده چه تۀ به تپوس اوکړے دهغه نه دتهیلۍ (چه هغه څنګه ده) اود شمار (چه څومره روپۍ دی) او دهکن یعنی سرلره (چه هغه څنګه دے) بیا کچرے هغه بیان لوکړو نو ورئے کړه هغه ته، ورنه هغه ستادی۔

(۴۵۰۴) عَنْ زَيْدِ ابْنِ خَالِدِنِ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ اللُّقَطَةِ فَقَالَ عَرِّفْهَا سَنَةً فَاِنْ لَّمْ تُعْتَرَفْ فَاعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِكَآءَ هَا ثُمَّ كُلْهَا فَاِنْ جَآءَ صَاحِبُهَا فَاَدِّهَا اِلَيْهِ .[ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه: دزید بن خالد جهنی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے وائی چه درسول الله صلی الله علیه وسلم نه دموندلی شوی څیز په باره کښې تپوس او شو، حضرت او فرمائیل دیو کاله پورے ئے معلومات کوه، بیا کچرے څوك ئے نۀ پیژنی نو دهغې تهیلۍ او ډهکن یا دکیړه ، او خوره ئے (یعنی خرچ کوه ئے) هر کله چه دهغې مالك راشی نو بیا ورته ورکړه۔

عَنِ الضَّحَّاكِ ابْنِ عُثْمَانَ بِهٰذَا الْاِسْنَادِ وَقَالَ فِي الْحَدِيْثِ فَاِنْ عُتِرِفَتْ فَاَدِّهَا وَاِلَّا فَاعْرِفْ عِفَاصَهَا وَوِعَاءَ هَا وَعَدَدَهَا . [راجع : ٤٥٠٤]

ترجمه : دضحاك بن عثمان رضی الله تعالی عنه نه دپورته حدیث په شان روایت دے په دے کښې دادی چه کۀ چا او پیژندو خوورئے کړه او که اوئے نۀ پیژندو نو یادساته دهغې ډهکن (یعنی سر) او دهغې تسمه او دهغې تهیلۍ او دهغې شمار۔

(۴۵۰۶) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ كُهَيْلٍ قَالَ سَمِعْتُ سُوَيْدَ ابْنَ غَفْلَةَ قَالَ خَرَجْتُ اَنَا وَزَيْدُ ابْنُ صُوْحَانَ وَسَلْمَانُ ابْنُ رَبِيْعَةَ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُمْ غَازِيْنَ فَوَجَدْتُ سَوْطًا فَاَخَذْتُهُ فَقَالَا لِيْ دَعْهُ فَقُلْتُ لَا لٰكِنِّيْ اُعَرِّفُهُ فَاِنْ جَآءَ

صاحِبَهٔ وَاِلَّا اسْتَمْتِعْتُ بِهٖ قَالَ فَاَبَیْتُ عَلَیْهِمَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ غَزَاتِنَا قُضِیَ لِیْ اَنِّیْ حَجَجْتُ فَاَتَیْتُ الْمَدِیْنَةَ فَلَقِیْتُ اُبَیَّ ابْنَ کَعْبٍ رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنْهُ فَاَخْبَرْتُهٗ بِشَاْنِ السَّوْطِ وَبِقَوْلِهِمَا فَقَالَ اِنِّیْ وَجَدْتُ صُرَّةً فِیْهَا مِائَةُ دِیْنَارٍ عَلٰی عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَاَتَیْتُ بِهَا رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ عَرِّفْهَا حَوْلًا قَالَ فَعَرَّفْتُهَا فَلَمْ اَجِدْ مَنْ یَّعْرِفُهَا ثُمَّ اَتَیْتُهٗ فَقَالَ عَرِّفْهَا حَوْلًا فَعَرَّفْتُهَا فَلَمْ اَجِدْ مَنْ یَّعْرِفُهَا ثُمَّ اَتَیْتُهٗ فَقَالَ عَرِّفْهَا حَوْلًا قَالَ فَعَرَّفْتُهَا فَلَمْ اَجِدْ مَنْ یَّعْرِفُهَا فَقَالَ احْفَظْ عَدَدَهَا وَوِعَاءَهَا وَوِکَاءَهَا فَاِنْ جَاءَ صَاحِبُهَا وَاِلَّا فَاسْتَمْتِعْ بِهَا فَلَقِیْتُهٗ بَعْدَ ذٰلِکَ بِمَکَّةَ فَقَالَ لَا اَدْرِیْ بِثَلَاثَةِ اَحْوَالٍ اَوْ حَوْلٍ وَّاحِدٍ . [بخاری، ابوداود، ترمذی، ابن ماجه]

ترجمه: دحضرت سلمة بن کهیل رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه ما دسوید بن غفله رضی الله تعالی عنه نه اوریدلی دی هغه وئیلو زهٔ او زید بن صوحانؓ او سلمه بن ربیعهؓ جهادته او وتلو. ما یوه کوړه په لاره کښے پریوتے او مونده هغه مِ اوچته کړه زیدؓ او سلمانؓ اووے او غورځوه ما اووے نهٔ غورځوم. بلکه زهٔ به ددے معلومات کوم، پس کچرے ددے مالك راغے نو خیر ورنه به خپل کار کښے به ئے اولګوم هغوئ وئیلو چه او غورځوه خومانهٔ منلو، مونږ چه دجهاد نه واپس شونو په اتفاق سره ماحج اوکړو او مدینے ته لاړم. هلته دابیٔ بن کعب رضی الله تعالی عنه سره میلاؤ شوم ما هغوئ ته دکوړے (یعنی لختے) حال بیان

کړواو څه چه زیدؓ او سلمانؓ وئیلے وو، هغوئ اووے ما یوه تهیلئ او مونده دسلو اشرفو دجناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښں. ما هغے لره دحضرت خواله راؤړه، حضرت او فرمائیل دکاله پورے ددے دمالك معلومات کوه، ما معلومات اوکړو څوك پیژندلو والا میلاؤ نهٔ شو. بیا زه حضرت خواله راغلم حضرت او فرمائیل یو کال ئے نور معلومات کوه، ما بیا معلومات اوکړو څوك میلاؤ نهٔ شو، آخر حضرت او فرمائیل دے لره شمارکړه اوددے تهیلئ اوډهکن په زړه کښے یاداوساته پس که مالك ئے راغے نو خیر. ګنی پخپل خرچ کښے ئے اولګوه، ما هغے لره خرچه کړو، راوی ته شك دے په دے حدیث کښں چه ددرے کالو دمعلوماتو دپاره ئے او فرمائیل یادیو کال دپاره.

(۴۵۰۷) عَنْ سَلَمَةَ ابْنِ کُهَیْلٍ اَوْ اَخْبَرَ الْقَوْمَ وَ اَنَا فِیْهِمْ قَالَ سَمِعْتُ سُوَیْدَ ابْنَ غَفَلَةَ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ زَیْدٍ

ابن صوحان و سلمان ابن ربیعة رضی الله تعالی عنهما فوجدتُ سوْطًا وقصّ الحدیث بمثله الی قوْلِهٖ فاسْتمْتعْتُ بهاقال شُعْبة فسمِعْتُهٗ بعْد عشْرِ سِنِیْن یقُوْلُ عرّفْها عامًا وّاحِدًا.

ترجمه: د سلمه بن کهیل ؒ نه د پورته حدیث په شان روایت دے په دے کښې دا دی چه شعبه رضی الله تعالی عنه اووے، چه زهٔ د سلمهٔ سره میلاؤ شوم لس کاله پس،نو هغویؒ اووے د یو کاله پورے ئے خودلے دے۔

فائده :امام نووی رحمة الله علیه وئیلے دی چه کومو روایتونو کښې چه دَ دریو کاله پورے دَ معلوماتو کولو د پاره منقول دی دا د راوی غلطی ده،یا دَ درے کالو پورے معلومات کول غوره دی،مګر د علماو اتفاق دے په دے خبره باندِ چه د یو کاله پورے معلمات کول پوره وی۔

(۴۵۰۹) عنْ عبْدالرّحْمٰنِ ابْنِ عُثْمان التّیْمِیِّ رضِی اللهُ تعالی عنْهُ انّ رسُوْل اللهِ صلّے اللهُ علیْهِ وسلّم عنْ لُقطةِ الحاجِّ. [ابوداود: ۱۷۱۹]

ترجمه: د عبدالرحمن بن عثمان تیمی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم منع فرمائیلے ده،د حاجیانونه د پریوتلی څیز دَ اخستلو نه۔

فائده : په واسطه د ملك نۀ په واسطه د حفاظت (نوویؒ)

(۴۵۱۰) عنْ زیْدِ ابْنِ خالِدِا الْجُهنِیِّ رضِی اللهُ تعالی عنْهُ عنْ رسُوْلِ اللهِ صلّے اللهُ علیْهِ وسلّم قال منْ اٰوی ضالّةً فهُو ضالٌّ مّا لمْ یُعرِّفْها.

ترجمه: دَ زید بن خالد جهنی رضی الله تعالی عنه نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چا چه ورك شوے څیز اوساتلو نو هغه ګمراه دے د کومے پورے چه ئے د هغے د مالك معلومات نۀ وی(د دے نه معلومه شوه چه دَ موندلی څیز رَسَوَل اوښودَل ضروری دی،)

باب تحْرِیْمِ حلْبِ الْماشِیةِ بِغیْرِ اِذْنِ مالِکِها.

د څناور نه پئ لوشل بغیر د مالك د اجازت نه حرام دی.

(۴۵۱۱) عنِ ابْنِ عُمر رضِی اللهُ تعالی عنْهُما انّ رسُوْل اللهِ صلّے اللهُ علیْهِ وسلّم قال لا یحْلُبنّ احدٌ ماشِیة احدٍ الّا باِذْنِهٖ ایُحِبُّ احدُکُمْ انْ تُؤْتٰی مشْربتُهٗ فتُکْسر خِزانتُهٗ فیُنْتقل طعامُهٗ فاِنّما تخْزُنُ لهُمْ ضُرُوْعُ مواشِیْهِمْ اطْعِمتهُمْ فلا یحْلُبنّ احدٌ ماشِیة احدٍ الّا باِذْنِهٖ. بخاری، ابوداود]

ترجمه: د عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما نه روایت دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی. ستاسو نه دِ څوك د بل څناور پئ نهٔ لوشی مگر دَ هغه په اجازت سره. ایے په تاسو کښې څوك دا غواړی چه د هغه کوټے ته دِ څوك راشی او د هغه خزانه ما ته کړی او د هغه د خوراك غله را اوباسی یوسی، دغه شان دَ څناورو په غولانځه کښې دِ هغوئ خزانے دی د خوراك د پاره. نو څوك دِ نه لوشی د چا څناور نه پئ بغیر د هغه دَ اجازت نه. (مگر څوك چه د لوږے نه مری هغه په قدر د ضرورت د بل خوراك بغیر دَ اِجازت نه خوړلے شی. لیکن د قیمت ورکول به پرے لازِم وی. او دَ ځنے سلفو او محدثینو په نزد نهٔ لازمیږی. کچرے مرداره هُم موجود وی نو په دے کښے اختلاف دے د ځنو په نزد دِ مرداره اوخوری او د ځنو په نزد دِ د بل خوراك لره اوخوری) .

بَابُ الضِّيَافَةِ .

د میلمستیا بیان .

(۴۵۱۳) عَنْ اَبِیْ شُرَیْحِ الْعَدَوِیِّ اَنَّهٗ قَالَ سَمِعَتْ اُذُنَایَ وَ اَبْصَرَتْ عَیْنَایَ حِیْنَ تَکَلَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَنْ کَانَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْیُکْرِمْ ضَیْفَهٗ جَآئِزَتَهٗ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ یَوْمُهٗ وَ لَیْلَتُهٗ وَالضِّیَافَةُ ثَلَاثَةُ اَیَّامٍ فَمَا کَانَ وَرَآءَ ذٰلِکَ وَهُوَ صَدَقَةٌ عَلَیْهِ وَقَالَ مَنْ کَانَ یُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَلْیَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْیَقُلْ خَیْرًا اَوْ لِیَصْمُتْ . [راجع: ۱۷۵]

ترجمه: د ابو شریح عدویؓ نه روایت دے وائی چه زما غوږونو اوریدلی او ځما سترګو لیدلی دی. هر کله چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل! څوك چه یقین لری په الله تعالی باندِ او په ورځ د قیامت باندِ، هغه له پکار دی چه دَ تکف سره د خپل میلمه عزت مدار اوکړی خلقو اووے تکلف به د کومے پورے کوی یا رسول الله! حضرتؐ ورته اوفرمائیل تکلف د یوے شپے ورځے پورے دے (یعنی د یوے شپے ورځے پورے پرے د خپل طاقت مناسب ښه خوراك خوړول پکار دی) او میلمستیا دَ درے ورځو پکار ده (یعنی دوه ورځے پرے دَ معمول مطابق خوړول پکار دی) بیا د دے نه پس میلمستیا ورکول صدقه ده. او څوك چه یقین لری په الله تعالی او په ورځ د قیامت باندِ هغه له پکار دی چه نیکے خبرے کوی یا چُپ پاتے شی.

فائده: نووی علیه الرحمة وئیلي دي د دې حدیث نه د میلمستیا تاکید وتلې دې، او د شافعيؒ او مالكؒ او ابو حنیفه رحمه الله تعالی او د جمهورو علماؤ دا قول دې، چه میلمستیا سنت ده واجب نۀ ده، لیکن د لیث او امام احمد رحمهما الله په نزد دَ یوې شپې او دَ یوې ورځې پرې واجب ده، او امام احمد رحمه الله تعالی وئیلي دي چه میلمستیا واجب ده د ځنګل او کلي په اوسیدونکو باندې (چه هلته مسافرو ته په بازار کښې غله نۀ شي میلاویدې) او د ښهر په اوسیدونکو باندې واجب نۀ ده.

دا حدیث شریف داسې د لوئې درجې حدیث دې چه په دې باندې په عمل کولو سره انسان د تمامو افتونو او بلاګانو نه محفوظ پاتې کیږي، او دا حدیث شریف دَ اخلاقو د علم زیله ده، دَ اخلاقو علم زیله ده، دَ اخلاقو علم د انسان د روح صحیح کولو د پاره ضروري دې، لکه څنګه چه دَ طب علم د بدني صحت دَ حاصلولو دَ پاره ضروري دې.

تمامې دَ شر او بدې خبرې او آفتونه دَ انسان د حرکتونو نه پیدا کیږي، "از ماست که بر ماست" او د حرکاتو مصدر غالبًا درې څیزونه دي، ژبه، لاسونه، او خپې او شرمګاه، پس چا چه دې دریو لره د عقل سلیم او شرع مستقیم په قابو کښې اساتلو هغه مراد ته اورسیدو او دَ تمامو اخلاقو خلاصه په یوه جمله کښې موجود ده، او هغه دا ده، چه یو حرکت د ژبې یا دبدن علاوه د فکر او غور او د مطابقت شرعي نه اوئۀ کړ شي، د کومې پورې چه بنیادم خاموشه وي نو څه فکر نشته، او چرته چه څه خبره دول غواړي یا څه کار کول غواړي نو مخکښې سوچ کول ضروري دي چه په خبره یا کار کښې څه خرابي اوس یا بیا خو به نۀ پیدا کیږي کچرې په غور سره دا امر ثابت شي نو پرواه نشته دې په شرط د دې چه د هغې خبرې یا کار ضرورت وي ورنه په هر حال خاموشي او آرام غوره دې، فقط.

(۴۵۱۳) عَنْ اَبِیْ شُرَیْحِ الْخُزَاعِیِّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ الضِّیَافَةُ ثَلَاثَةُ اَیَّامٍ وَ جَآئِزَتُهُ یَوْمٌ وَ لَیْلَةٌ وَلَا یَحِلُّ لِرَجُلٍ مُسْلِمٍ اَنْ یُّقِیْمَ عِنْدَ اَخِیْهِ حَتّٰی یُؤْثِمَهُ قَالُوْا یَا رَسُوْلَ اللهِ! وَ کَیْفَ یُؤْثِمُهُ؟ قَالَ یُقِیْمُ عِنْدَهُ وَلَا شَیْئَ لَهُ یَقْرِیْهِ بِهٖ. [راجع: ۱۷۵]

ترجمه: دَ ابو شریح خزاعيؓ نه روایت دې فرمائي چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي

دی چه میلمستیا دَ دریے ورځو پورے ده او تکلف نے د یوے شپے او یوے ورځی پورے دے،او هیڅ یو مسلمان لره دا جائز نهٔ ده، چه دَ خپل رور سره پاتے شی تر دے پورے چه هغه په ګناه کښے اخته کړی اصحابوؔ عرض اوکړو چه یا رسول الله! څنګه به هغه ګنهګار کوی؟ حضرتؐ ورته اوفرمائیل! چه هغه سره حصار شی او د هغه سره د خوراك د پاره څه نهٔ وی۔

فائده: هر کله چه میلمه حصار شی او د کور به په کور کښے څه نهٔ وی نو خامخا به د دغه میلمه غیبت کوی چه غټ بے حیا بنده دے یا به د چرته نه حرام خوراك راوړی او په ده به خوروی،په هر حال به ګنهګاربږی۔

غرض دا چه د دریے ورځو نه زیات په میلمستیا کښں پاتے کیدل جائز نهٔ دی،البته کچرے کور به ئے پخپله خوښه پاتے کړی دا یقین وی چه د دے نه په زیاتو کیدو سره هغه نهٔ خفه کیږی نو بیا څه قباحت نشته دے۔ (نوویؒ)

(۴۵۱۵) عَنْ شُرَيْحٍ انِ الْخُزَاعِيِّ يَقُوْلُ سَمِعَتْ اُذُنَایَ وَ بَصُرَ عَيْنِيْ وَوَعَاهُ قَلْبِيْ حِيْنَ تَكَلَّمَ بِهٖ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ بِمِثْلِ حَدِيْثِ اللَّيْثِ وَ ذَكَرَ فِيْهِ وَلَا يَحِلُّ لِاَحَدِكُمْ اَنْ يُقِيْمَ عِنْدَ اَخِيْهِ حَتّٰى يُؤْثِمَهُ بِمِثْلِ مَا فِيْ حَدِيْثِ وَكِيْعٍ۔ [راجع : ۱۷۵]

ترجمه: د ابو شریح خزاعیؓ نه د پورته ذکرشوی روایت په شان روایت دے ، په دے کښں دا دی چه ځما غوږونو اوریدلی دی او سترګو لیدلی دی او زړهٔ یاد ساتلی دی هر کله چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلو۔

(۴۵۱۶) عَنْ عُقْبَةَ ابْنِ عَامِرٍ اَنَّهٗ قَالَ قُلْنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّكَ تَبْعَثُنَا فَنَنْزِلُ بِقَوْمٍ فَلَا يَقْرُوْنَنَا فَمَا تَرٰى فَقَالَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنْ نَزَلْتُمْ بِقَوْمٍ فَاَمَرُوْا لَكُمْ بِمَا يَنْبَغِيْ لِلضَّيْفِ فَاقْبَلُوْا فَاِنْ لَّمْ يَفْعَلُوْا فَخُذُوْا مِنْهُمْ حَقَّ الضَّيْفِ الَّذِيْ يَنْبَغِيْ لَهُمْ۔ [بخاری ، ابوداود ، ترمذی ، ابن ماجه]

ترجمه : د عقبه بن عامر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے وائی چه مونږ عرض اوکړو چه یا رسول الله صلی الله علیه وسلم تاسوؔ چه مونږه لره اولیږئ خو چه مونږه کوز شو د یو قوم سره نو هغه زمونږه میلمستیا نهٔ کوی،حضرتؐ اوفرمائیل کچرے تاسو دَ یو قوم سره کوز شئ او هغه ستاسو د پاره هغه سامان اوکړی کوم چه د میلمه دَ پاره پکار دے نو تاسو ئے قبلوئ،کچرے

هغه ئے اونۀ کړی نو د هغوئ نه د میلمستیا حق څنګه په میلمه لره پکار دے اخلئ۔

فائده :امام احمد رحمة الله علیه او لیث دے حدیث لره لره په خپل ظاهر باندِ ایخے دے،او جمهورو تاویل کرے دے، چه دا حدیث د مضطر په باب کښے دے چه هغه دلوږے د وجے نه مړ کیږی،نو د هغه میلمستیا واجب ده،کچرے خلق ئے نۀ کوی،نو هغه دِ د خپل حَاجت موافق د هغوئ د مال نه په زور واخلی۔

یا مراد دا دے چه تاسو د هغوئ نه دا حق وصول کړئ په ژبه سره د هغوئ شکایت بیان کړی،یا دا حدیث په اول د اسلام کښ وو د میلمه میلمستیا واجب وه،ورستو د هغے نه منسوخ شوله،حضرت صلی الله علیه وسلم صلح کړے وه د کافرو سره په دے شرط باندے چه هغوئ به د مسلمانانو میملستیا کوله،خو دا دواړه تاویلونه ضعیف او باطِل دی ، ولے چه د نسخ څه دلیل پکار دے،او صلح په دغه شرط باندِ د حضرت عمر رضی الله تعالی عنه په زمانه کښ شوے ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه مبارکه کښے نۀ ده شوے (نوویؒ)

بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمُوَاسَاتِ بِفُضُولِ الْمَالِ .

کوم مال چه د خپل حاجت نه زیات وی هغه د رور مسلمان په خاطر داریٔ کښے اولګوه .

(۴۵۱۷) عَنْ اَبِیْ سَعِیْدِنِ الْخُدْرِیِّ قَالَ بَیْنَمَا نَحْنُ فِیْ سَفَرٍ مَعَ النَّبِیِّ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذْ جَآءَ رَجُلٌ علی رَاحِلَةٍ لَّهٗ قال فجعل یضرب یمینًا وَّ شمالًا فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَ اٰلِهٖ وَسَلَّمَ مَنْ کَانَ مَعَهٗ فَضْلُ ظَهْرٍ فَلْیَعُدْ بِهٖ علی مَنْ لَّا ظَهْرَ لَهٗ وَمَنْ کَانَ لَهٗ فَضْلٌ مِّنْ زَادٍ لَهٗ فَلْیَعُدْ بِهٖ عَلٰی مَنْ لَّا زَادَ لَهٗ قَالَ فَذَکَرَ مِنْ اَصْنَافِ الْمَالِ مَا ذَکَرَ حَتّٰی رَاَیْنَا اَنَّهٗ لَا حَقَّ لِاَحَدٍ مِّنَّا فِیْ فَضْلٍ . [ابوداود]

ترجمه: د ابو سعید خدری رضی الله تعالی عنه نه روایت دے فرمائی چه مونږه په سفر کښے د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وو چه په دے کښ یو سړے په اوښه باندِ سور دَ حضرتؐ خواله راغے اوښئ طرفته او ګس طرفته ئے کتلو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل د چا سره چه سِوا سورلئ وی هغه دِ ئے ورکړی هغه چا ته د چا سره چه سورلئ نشته،او د چا سره چه زیاتی توښه وی هغه دِ ئے ورکړی هغه چا ته د چا سره چه توښه نشته بیا

حضرتؓ د ډیر قسمه مال بیان اوکړو تر دے پورے چه مونږ په دے پوهه شو چه په مونږ کښے د یو کس حق نشته دے په هغه مال کښے چه هغه د دوئ د حاجت نه سوا وی۔

فائده: بلکه هغه مال چه د هغه مسلمان حق دے چا ته چه د هغے حاجت وی او دا حکم استحبابی دے نۀ د وجوبی ولے چه په بل حدیث شریف کښی راغلے دی چه په مال کښی د زکوة نه سوا بل حق نشته دے۔

بَابُ اسْتِحْبَابِ خَلْطِ الْأَزْوَادِ إِذَا قَلَّتْ وَالْمُوَاسَاتِ فِيْهَا.

هر کله چه توښے کمے وی نو ټولے توښے یو ځائے کول مُستحب دے.

(۴۵۱۸) عَنْ إِيَاسِ ابْنِ سَلَمَةَ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ فَاَصَابَنَا جَهْدٌ حَتّٰى هَمَمْنَا اَنْ نَنْحَرَ بَعْضَ ظَهْرِنَا فَاَمَرَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجَمَعْنَا تَوَادَنَا فَبَسَطْنَا لَهُ نِطَعًا فَاجْتَمَعَ زَادُ الْقَوْمِ عَلَى النِّطَعِ قَالَ فَتَطَاوَلْتُ لِاَحْزُرَهُ كَمْ هُوَ فَحَزَرْتُهُ كَرَبْضَةِ الْعَنْزِ وَنَحْنُ اَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً قَالَ فَاَكَلْنَا حَتّٰى شَبِعْنَا جَمِيْعًا ثُمَّ حَشَوْنَا جُرُبَنَا فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ مِنْ وَضُوْءٍ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ بِاِدَاوَةٍ فِيْهَا نُطْفَةٌ فَاَفْرَغَهَا فِيْ قَدَحٍ فَتَوَضَّأْنَا كُلُّنَا نُدَغْفِقُهُ دَغْفَقَةً اَرْبَعَ عَشْرَةَ مِائَةً قَالَ ثُمَّ جَاءَ بَعْدَ ذٰلِكَ ثَمَانِيَةٌ فَقَالُوْا هَلْ مِنْ طَهُوْرٍ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَغَ الْوَضُوْءُ.

ترجمه: د اياس بن سلمهؓ نه روايت دے هغوئ اوريدلی دی د خپل پلارؓ نه. هغوئؓ فرمائی چه مونږ د جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم سره او وتلو په يو جنګ (يعنی غزا کښے) هلته مونږ ته (د خوړلو څښلو) تکليف شو تر دے پورے چه مونږ اراده اوکړه د سوُلو قربانی کولو پس نبی کريم صلی الله عليه وسلم حکم اوکړو، نو مونږ خپلے توښے را جمع کړے او يوه څرمن مو اوغوړوله او په هغے د ټولو خلقو توښے جمع کړے، سلمه رضی الله تعالی عنه وائی زۀ ور اوږد شوم د هغے د ناپ کول د پاره نو ناپ م کړو هغه دومره وو لکه په څومره ځائے کښی چه بزه کښيني، او مونږ خلق (د لښکر) څوارلس سوه کسان وو. او بيا دغه زمونږ ملګرو

ښه په مړه ګیډه اوخوړه.او دَ خوراك نه پس ئے خپل خپل د توښے لوښی هم ډك کړلو.بیا جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم او فرمائیل.دَ اودس کولو د پاره اوبه شته . یو سړی په یو ډول کښے لږے شان اوبه راوړے راغے حضرتً هغے (اوبو) له په یو منجګی کښں وا چولے.او مونږ ټولو خلقو په هغه اوبو سره اودس اوکړو او ښه به مو (په اندامونو) بیهولے.د څوارلس سوه کسانو دَ اودس نه پس اته سوه کسان نور راغلو او هغوئ اووے دَ اودس د پاره اوبه شته جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اودس اوشولو.

فائده: امامِ نووی رحمة الله وئیلے دی چه په دے حدیث شریف کښں د جناب نبی کریم صلی الله علیه وسلم دوه معجزے وی،یو خو دَ غلے (یعنی خوراك) زیاتیدل .او دویم د ابو سِوا کیدل. مازری رضی الله تعالی عنه وئیلے دی،دا معجزه په دے شان سره وه چه کوم جز د غلے ـ د اوبو به صرف کیدو الله تعالی به د هغے په عوض دویم جُز بل پیدا کوۇ تر دے پورے چه ټول خلق ماړه شولو.او د حضرت صلی الله علیه وسلم معجزے په دوه قسمه دی یو خو قرآن مجید چه په تواتر سره ثابت دے،دوئم لکه غله سِوا کیدل یا اوبه زیاتیدل یا نورے دغسے معجزے.او دا کچرے متواتر نهٔ دی خو معنا متواتر دی.لکه د حاتم سخاوت یا دَ احنف بن قیس حلم (صبر) او بله دا چه د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم سکوت.دَ داسے معجزے دَ بیانیدو په وخت دَ هغے د صحیح والی دلیل دے.

تَمّ بعَوْنِ اللّٰهِ والحمد لله حمدًا كثيرًا طيبًا مباركا فيه



مترجم مولوی **حضرت علی** حنفی ابن حاجی هادی

ناشر فیضی کتب خانه قصه خوانی پشاور